فتاوي رحمانية

مکمل پښتو

په اسانه اوروانه کندهاري پښتو

المكتبة النعمانية



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

شمېره د فتاوی رحمانیه د دریم ټوک د مضامینو فهرست صفحه

بسم الله الرحمن الرحیم

باب مایتعلق باحکام المفقود

باب ثبوت النســـــب

باب الحضانت

باب النفقـــات

متفرقات النکاح

کتاب الطلاق

باب الظهار

کتاب الايمان والنذور

باب الایمان

باب النـــذور

کتاب السرقة

کتاب الحدود والتعزیرات

كتاب القصاص والديات

كتاب الجهاد

كتاب الامارة والقضآء

بيت المال

كتاب اللقطه

كتاب الوقف

باب مايتعلق باحكام الوقف

باب ما يتعلق باحكام المساجد

كتاب احياآء الموات

كتاب الهــــبه

كتاب البيوع

باب مایجوز بیعه ومالایجوز

باب الربوا

باب الرهن

باب السلم

باب الشرکة

باب الدیون

باب الاحتکار

باب المضاربت

باب الحواله

باب الامانات

باب الضمان

باب الاجـارة

باب الغصب

باب الشفعه

متفرقات البیوع

کتاب الذبائح

کتاب الاضحیه

کتاب الحظر والاباحة

باب الاکل والشرب

باب الضيافات

باب التداوي والمعالجه

باب الرشـــوة

باب الحقوق والمعاشرة

باب المعاصي والتوبة

باب حقوق الزوجين

فصل في الجماع و متعلقاته

باب السلام و المصافحة

باب الستروالحجاب

باب اللباس والزینة

باب الاسماء

باب خصال الفطرة

باب الصلوة علی رسول الله والتعویذات

باب التصاویر

باب الموسیقي

باب الملاهي والالعاب

باب المعاملات مع الكفار

متفرقات الحظر والاباحة

كتاب الفرائض

باب مایتعلق باحکام المفقود

دمفقود دښځي څه حکم دی ؟

سوال ۱: یو کس خپل ورور ته کوزده کړېده اوس یې وروړ تقریبا نهه کاله کیږي چي ورک دی دژوند او مرګ درک یې معلوم نه دی ددغه کس دښځي چاره په شریعت کښې څه ده ؟او تر څه وخته باید دغه ښځه ناسته وي ؟

جواب : دمفقود دښځي دپاره اصل حکم دادی چي په عفت او عصمت سره خپل ژوند او زندګي تېره کړي . لیکن که چیري دغه ښځه دخپل ورک خاوند دنکاح څخه خلاصون غواړي نو د لاندي لیکل سوي صورت په اختیارولو سره یې شرعا ګنجایش سته

ددغه ورک سړي ښځه دي خپله مقدمه (صورت دعوه) دیو مسلمان قاضي په عدالت کښې پیش کړي او په شاهدانو سره دي داثابته کړي چي زما نکاح دفلانکي شخص سره چي اوس لادرکه دی سوېده . بیا دي په شاهدانو سره ددغه ورک سړي ورکېدل ثابت کړي . ددې څخه وروسته دي قاضي خپله په خپل طرز او طریقه سره ددغه مفقود (ورک سړي) هلته تفتیش و تلاش وکړي چیري چي دده دتللو غالبه ګمان وي هلته دي سړي واستوي . او چیري چي دده دتللو غالبه ګمان نه وي فقط احتمال وي نو هلته دي خط ولیږي . او که درسنیو په ذریعه سره دپیداکولو امید وو نودي درسنیو په ذریعه سره اعلانونه شائع کړي . الغرض په تفتیش او تلاش کښې دي پوره کوشش وکړي. او هر کله چي یې دپیداکولو څخه مایوسه سو نو به قاضي و دغه ښځي ته تر څلورو کالو پوري نور دانتظار حکم ورکړي . او که بیا په دغه څلور کالو کښې یې هم درک معلوم نه سو . نودي دغه ښځه وقاضي ته دوهم وارخپل درخواست (مقدِمه) پیش کړي پر دغه درخواست باندي به قاضي دهغه ورک سړي دمرګ فیصله وکړي .

ددې څخه وروسته به دغه ښځه څلور میاشتي او لس ورځي ددغه خاوند دمرګ عده تېره کړي . وروسته بیا دغه ښځه بل ځای دنوي نکاح دکولو اختیارلري .

او که چیري دغه ښځه د زنا او په بدکارۍ کښې داخته کېدو شدیده او سخته خطره ښکاره کړي نو په داسي صورت کښې د څلورو کالو دانتظار کولو حکم ضروري نه دی . بلکي دې ته کتل کیږي چي دخاوند دورکېدو دوخته څخه تر اوسه پوري کم تر کمه یو کال وخت تېر سوی دی که نه دی ؟ که تېر سوی وو نو قاضي يي ځای پر ځای باندي هم نکاح ورختم کولای سي . همداشان که چیري ددغي ښځي په زنا کښې دمبتلا کیدلو خطره نه وه لیکن مفقودتر شا دومره مال نه دی پرې ایښی چي ددغه ښځي دنفقې دپاره په څلورو کالو کښې کافي سي ، یا ددغي ښځي دپاره د مفقود دماله څخه نان او نفقه حاصلول مشکل معلومېدی نو په داسي صورت کښې که چیري دغه ښځي دنان او نفقې څخه بغیر کم تر کمه یوه میاشت وخت تېر کړی وو نو هم قاضي ددوی نکاح ورختمولای سي . لیکن په دغه آخري دوو صورتو کښې به دا ښځه دوفات دعدې پر ځای باندي دطلاق عده تېروي چي دقاضي دفیصلې دوخت څخه یې موده شروع کیږي .

یادونه : ددغي مسئلې اصلي مأخذ دشیخ الاسلام حضرت مولانا مفتي تقي عثماني دامت برکاته مشهوره فتاوی فتاوي عثماني ده البته دتایید دپاره مو دنورو کتابونو حوالې ورته ورکړي دي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى فى البحر الرائق شرح كنزالدقائق : وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا) أَيْ وَبَيْنَ زَوْجَتِهِ لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – فِي امْرَأَةِ الْمَفْقُودِ «إنَّهَا امْرَأَتُهُ حَتَّى يَأْتِيَهَا الْبَيَانُ» وَقَوْلِ عَلِيٍّ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – فِيهَا هِيَ امْرَأَةٌ أُبْتُلِيَتْ فَلْتَصْبِرْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ مَوْتٌ أَوْ طَلَاقٌ .... وفى شرح الجليل على مختصر الخليل :فيؤجل اربع سنين ان دامت نفتها ..... فان لم ندم نفقتها من ماله فلها التطليق لعدم النفقة بلا تاجيل ، وكذا ان خشيت على نفسها الزنا فيزاد على دوام نفقتها عدم خشيتها الزنا .... وفي حاشية الدسوقي : (فَيُؤَجَّلُ) أَيْ الْمَفْقُودُ الْحُرُّ أَرْبَعَ سِنِينَ ان دامت نفقتهامن ماله ولا طلق عليه لعدم النفقة اه .... وفي شرح الصغير : والا فلها التطليق عليه لعدم النفقة ....

(وَدَامَتْ نَفَقَتُهَا) : أَيْ وَلَمْ تَخْشَ الْعَنَتَ وَإِلَّا فَتَطْلُقُ عَلَيْهِ لِلضَّرَرِ فَهِيَ أَوْلَى مِنْ مَعْدُومَةِ النَّفَقَةِ كَذَا قَالَ الْأَشْيَاخُ.

وفى الفقه الاسلامي وادلته للشيخ الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى : ورأى المالكية والحنابلة جواز التفريق للغيبة إذا طالت، وتضررت الزوجة بها، ولو ترك لها الزوج مالاً تنفق منه أثناء الغياب؛ لأن الزوجة تتضرر من الغيبة ضرراً بالغاً، والضرر يدفع بقدر الإمكان، لقوله صلّى الله عليه وسلم: «لا ضرر ولا ضرار» وجعلوا حد الغيبة الطويلة سنة فأكثر على المعتمد، وفي قول: ثلاث سنوات.

وفى الأحوال الشخية للشيخ محمد أبو زهرة: والتفريق للتضرر من الغياب هو مذهب مالك وأحمد، لأن المرأة قد تقع فى جريمة دينية با همالها.. ولابد للتفريق بالغياب ان تمضى مدة تستوحش فيها الزوجة وتتضرر فعلا، لأن الفرقة بسبب ذلک هى للضرر الواقع لاللتضرر المتوقع فقط، وقد جعل أحمد أدنى مدة يجوز أن تطلب التفريق بعدها ستة أشهر....أمامذهب مالک رضى الله عنه فقد اختلف فى الحد الأدنى للتضرر، فقيل: ثلاث سنين، وقيل: سنة،وبهذا أخذ القانون أهـ (ص: ۳۹۰)

وفى الشرح الصغير: وتعتد زوجة المفقود حرة أو أمة صغيرة أو كبيرة فى أرض الاسلام متعلق بالمفقود عدة وفاة على ماتقدم، ابتداءها بعد الأجل اهـ (ج:۲ ص:۶۹۴)

وفى شرح منح الجليل: ثم بعد التلوم وعدم وجدان النفقة والكسوة طلق وان كان غائبا.... يعنى ان الغائب البعيد الغيبة وليس له مال او له مال لايمكنها الوصول اليه الابمشقة حكمه حكم العاجز الحاضر آهـ.

وفيه: وله أى الزوج المطلق عليه لعدم النفقة الرجمعة للزوجة المطلقة لأنه طلاق رجعى، ابن عرفة. (ج:۲ ص:۴۴۳)

وفى اخر فتوى العلامه هاشم رحمه الله مفتى المالكية بالمديمنة المنورة زادها الله شرفا: وهذا (التطليق) بعد التلوم بنحو شهر أو باجتهاده عند المالكية (يعني فى صورة عدم

النفقة)..... وان كان لخوفها الزنا وتضرر ها بعدم الوطى والعنانة مع وجود النفقة والغنا فبعد صبرها سنة فاكثر عند جل المالكية اهـ. (الحيلة الناجزة ص:١٢٤).

(البحر الرائق شرح كنزالدقائق ج ۵ ص ۱۷۸ کتاب المفقود بیروت چاپ مکتبه شامله / في شرح الجليل علي مختصر الخليل ج ۲ ص ۳۸۵ بیروت چاپ مکتبه شامله / حاشية الدسوقي ج ۲ ص ۴۷۹ باب المفقود بیروت چاپ مکتبه شامله / شرح الصغير ج ۲ ص ۶۹۴ الزوج المفقود في دارالاسلام بیروت چاپ مکتبه شامله / الفقه الاسلامي وادلته للشيخ الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالي ج ۹ ص ۵۰۰ کتاب المفقود بیروت چاپ مکتبه شامله / فتاوی عثماني ج ۲ ص ۵۱۴ کتاب الطلاق مکتبة العلوم دینیه پښتو / اردو ج ۲ ص ۴۴۸ کتاب الطلاق مکتبه معارف القرآن کراچي / الفتاوی الهندية ج ۲ ص ۲۹۹ ج۶ ص ۴۵۶ / المبسوط ج ۱۱ ص ۳۸ / الدرالمختار ج۴ ص ۲۹۲ / فتاوی محموديه ج ۱۳ ص ۲۱۱ / كفايت المفتي ج۸ ص ۴۹۹ / الموسوعة الفقهية ج ۳۸ ص ۲۶۷ بحث المفقود / فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۷۴ بحث المفقود / فتاوی عباد الرحمن ج ۳ ص ۶۱۱ بحث المفقود / قاموس الفقه ج۵ ص ۱۳۲ / جدید فقهي مسائل ج ۲ ص ۳۱۷ بحث المفقود / الاحوال الشخصية للشيخ محمد ابو زهرة ص ۳۹۰ / الشرح الصغير ج ۲ ص ۶۹۴ / الحيلة الناجزة تالیف حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ص ۱۲۴ اردو وعربي)

باب ثبوت النســــب

تر واده یې اووه میاشتي وروسته اولاد پیداسو

سوال ۱: د یو کس د خپلي ښځي سره تر یوي میاشتي د واده وروسته اړیکي خرابي سوي او طلاقه یې کړه د واده د ورځي څخه نیولي پر اوومه میاشت د دې ښځي اولاد پیدا سو آیا د غه ماشوم اوس د دغه سړي دي چي د غه خپلي ښځي ته یې طلاق ورکړی دی او که د ده څخه یې نسب نه ثابتیږي؟

جواب: شرعاً دغه ماشوم د دغه کس اولاد دی کوم شخص چي و دغه ښځي ته طلاق ورکړی دی او د ده څخه ثابت النسب دی او د ده رواه وارث دی ځکه چي د ماشوم د پیدا ینبت اقله موده شرعاً شپږ میاشتي ده.

لمافي الهندية : وَإِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ امْرَأَةً فَجَاءَتْ بِالْوَلَدِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مُنْذُ تَزَوَّجَهَا لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ، وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ فَصَاعِدًا يَثْبُتُ نَسَبُهُ مِنْهُ اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ أَوْ سَكَتَ،

فَإِنْ جَحَدَ الْوِلَادَةَ تَثْبُتُ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ تَشْهَدُ بِالْوِلَادَةِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَلَوْ وَلَدَتْ أَحَدَ الْوَلَدَيْنِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ وَقْتِ النِّكَاحِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۶۴۰ مکتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۳۶ مکتبه رشيدية / الهداية ج ۲ ص ۴۱۱ مکتبه حنفيه / فتاوی عثماني ج ۲ ص ۵۵۶ پښتو)

د مسافرښځي د زناڅخه کوچني پيداسودهغه نسب.

سوال ۲: يو کس په کلو کلو د خپله کوره څخه مسافر وو او خپلي ښځي ته يې خرڅ راليږي د دې ښځي د زنا په وجه د بل چا څخه هلک پيدا سو هغه اصلي خاوند اوس راغلی دی د دغه هلک نسب د چا څخه ثابت دي د پلار ه څخه او که د دغه زنا کاره څخه؟

جواب: په حديث شريف کښي راځي (الولد للفراش وللعاهر الحجر (الحديث) کوچني د هغه چا دی د چا چي فراش وي يعني د چا په نکاح کي چي دا ښځه وي او د زاني لپاره ډبره ده يعني هغه محروم دی سزا به ورکول کيږي لهذا د کوچني نسب د دغه ښځي د اصلي خاوند څخه ثابت دی دغه د امام صاحب رحمه الله تعالی فيصله ده چي خاوند هرځای وي د کوچني نسب ځني ثابتيږي که څه هم په حقيقت کښي دغه کوچنی ولد الزنا دی مګر موږ ته حکم دا دی چي و ده ته حرام ونه وايو.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار: ان الفراش على اربع مراتب وقداكتفوابقيام الفراش بلادخول كتزوج المغربي لمشرقية بينهمامسافة فولدت لستة اشهرالخ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۶۸۴ مکتبه رشيديه / مشکوة المصابيح ج ۱ ص ۲۸۷ / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۳۶ مکتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۱۱ ص ۱۴ پښتو / فتاوی حقانية ج ۴ ص ۱۳۲ پښتو)

ښځه په عده کي وه يو چا نکاح ورسره وکړه د اولاد نسب يې ؟

سوال ۳: يو کس د د اسي ښځي سره واده وکړی چي هغه په عدة کښي وه عدة يې لا نه وه ختم سوې په دې دوران کښي يې کوچنی او حمل په نس سو ايا دا نکاح جايزده که يا او دغه کوچنی حلال دی که يا؟

جواب: دغه مذکوره نکاح ناجایزه او باطله ده او نسب د اولادې ثابت دی د ده څخه حرامي به نه ورته وایو.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : أَنَّ الدُّخُولَ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ مُوجِبٌ لِلْعِدَّةِ وَثُبُوتِ النَّسَبِ، وَمَثَّلَ لَهُ فِي الْبَحْرِ هُنَاكَ بِالتَّزَوُّجِ بِلَا شُهُودٍ وَتَزَوُّجِ الْأُخْتَيْنِ مَعًا، أَوْ الْأُخْتِ فِي عِدَّةِ الْأُخْتِ، وَنِكَاحِ الْمُعْتَدَّةِ وَالْخَامِسَةِ فِي عِدَّةِ الرَّابِعَةِ وَالْأَمَةِ عَلَى الْحُرَّةِ. اهـ.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۶۵۹ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۶۵۱ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۷۷ ـ ۲۷۸ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۱ ص ۳۳ پښتو / فتاوی حقانیة ج ۴ ص ۱۳۷ پښتو)

ترشپږومیاشتوپه کمه موده کي کوچني پیداکېدل ثابت النسب نه دی.

سوال ۴: یو کس واده وکړی پنځمه میاشت یې لور پیدا سوه ایا دغه نکاح ماته ده که نه ده او د دغي انجلي نسب د خپلي مور د اصلي مېړه څخه ثابت دی که یا؟

جواب: نکاح شرعاصحیح او برقرار ده په نکاح کښي هیڅ فرق نه راځي لیکن دغه انجلۍ چي ترشپږ میاشتي په کمه او اقله موده کښي پیدا سوه د خپلي مور د مېړه څخه یې نسب نه دی ثابت بلکي دا دهغه چا څخه ده چي د هغه د نطفې څخه پیدا ده او د دغه پلار میراث هم نه سي وړلای.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَيَثْبُتُ النَّسَبُ) احْتِيَاطًا بِلَا دَعْوَةٍ (وَتُعْتَبَرُ مُدَّتُهُ) وَهِيَ سِتَّةُ أَشْهُرٍ (مِنْ الْوَطْءِ، فَإِنْ كَانَتْ مِنْهُ إلَى الْوَضْعِ أَقَلُّ مُدَّةِ الْحَمْلِ) يَعْنِي سِتَّةَ أَشْهُرٍ فَأَكْثَرَ (يَثْبُتُ) النَّسَبُ (وَإِلَّا) بِأَنْ وَلَدَتْهُ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ (لَا) يَثْبُتُ، وَهَذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ وَبِهِ يُفْتَى

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۶۷۶ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۴ ص ۲۶۳ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۵۳۶ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۱ ص ۳۰ پښتو / فتاوی حقانیة ج ۴ ص ۱۲۵ پښتو)

نسب په زناسره نه ثابتيږي .

سوال ۵: يو کس ديوې ښځي سره ناجايزتعلقات درلودل هغه دده څخه حامله سول او بيا يې وروسته دغه ښځه په نکاح واخيسته په دغه صورت کښي دا کوچنی حلال سو که حرام او دغه دزنا او نکاح څخه ګډ پيدا سوی ماشوم ددغه پلار په ميراث شريک دی که يا ؟

جواب: ددغه سړي نکاح ددغي حاملي ښځي سره صحيح ده ليکن کوم حمل چي دنکاح څخه مخکښي وو هغه ثابت النسب نه دی او کوم کوچنی چي پيدا سو هغه ولد الحرام دی او وارث نه دی حديث شريف دی چي ماشوم دمور دی او زاني لره ډبره يعني سزا ده.

وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ: أَنَّ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ مِنِّي فَاقْبِضْهُ إِلَيْكَ فَلَمَّا كَانَ عَامُ الْفَتْحِ أَخَذَهُ سَعْدٌ فَقَالَ: إِنَّهُ ابْنُ أَخِي وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ: أَخِي فَتَسَاوَقَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَعْدٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَخِي كَانَ عَهِدَ إِلَيَّ فِيهِ وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ: أَخِي وَابن وليدة أبي وُلِدَ على فراشه فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ» ثُمَّ قَالَ لِسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ: «احْتَجِبِي مِنْهُ» لِمَا رَأَى مِنْ شَبَهِهِ بِعُتْبَةَ فَمَا رَآهَا حَتَّى لَقِيَ اللَّهَ وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: «هُوَ أَخُوكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِ أَبِيهِ» مشكوةالمصابيح

(مشکوة المصابيح ج ۱ ص ۲۸۷ باب اللعان الفصل الاول / فتح القدير ج ۴ ص ۱۷۸ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۵۴۰ مکتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۱۱ ص ۲۵ پښتو / ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۶ ص ۱۶۴ اردو)

باب الحضانت

ښځه چي کونډه سي نو داولادونو دپرورش حقداره يې څوک دی ؟

سوال ۱ څه فرمايي علماء کرام په دغه مسئله که چيري ديوې ښځي خاوند وفات سوی وي او يو زوی چي د دوولسو کالو عمر لري او يوه لور چي د دېارلسو کلونو عمر لري دا ښځه ددغه هلک او انجلۍ سره پر خپل کور يا دورور پر کور باندي کښېنستلای سي او دغه يتيم هلک او انجلۍ اکاګان ځيني بېولای سي که يا ؟

الجواب باسم ملهم الصواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي هلک به تر هغه وخته دمور په حضانت او پالنه کي وي تر څه وخته چي دمور د خدمت او پرورش څخه بې پرواه او بې احتیاجه کیږي چي اندازه یې اوه کلونه دي او انجلۍ تر هغه وخته پوري دمور په پالنه کي او سېدلای سي چي حیض ورته راځي چي اندازه د بلوغ يې دفقهاوو په نزد نهه کلونه دي . لهذا په صورت مسئوله کي که چیري دغه اکاګانو په ایمانداری سره د دغه ماشومانو پر نګرانۍ باندي قدرت درلودی نو هغوی ته به حواله کیږي یعني اکاګان کولای سي چي خپل وراره او وریره د حفاظت او ښه پالني دپاره دمور څخه بوزي همدا سي حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالی په امداد الفتاوی کي لیکلي دي .

لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى فى الدرالمختار :(وَالْأُمُّ وَالْجَدَّةُ) لِأُمٍّ، أَوْ لِأَبٍ (أَحَقُّ بِهَا) بِالصَّغِيرَةِ (حَتَّى تَحِيضَ) أَيْ تَبْلُغَ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ. وَلَوْ اخْتَلَفَا فِي حَيْضِهَا فَالْقَوْلُ لِلْأُمِّ بَحْرٌ بَحْثًا.(وَغَيْرُهُمَا أَحَقُّ بِهَا حَتَّى تُشْتَهَى) وَقُدِّرَ بِتِسْعٍ وَبِهِ يُفْتَى................ قَالَ فِي الْمِنْهَاجِ لِلْعُقَيْلِيِّ: وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِلصَّبِيِّ أَبٌ وَانْقَضَتْ الْحَضَانَةُ فَمَنْ سِوَاهُ مِنْ الْعَصَبَةِ أَوْلَى الْأَقْرَبُ فَالْأَقْرَبُ،

لما قال العلامة علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ٥٩٣هـ) فى الهداية في شرح بداية المبتدي : والأم والجدة أحق بالغلام حتى يأكل وحده ويشرب وحده ويلبس وحده ويستنجي وحده وفي الجامع الصغير حتى يستغني فيأكل وحده ويشرب وحده ويلبس وحده " والمعنى واحد لأن تمام الاستغناء بالقدرة على الاستنجاء.

ووجهه أنه إذا استغنى يحتاج إلى التأدب والتخلق بآداب الرجال وأخلاقم والأب أقدر على التأديب والتثقيف والخصاف رحمه الله قدر الاستغناء بسبع سنين اعتبارا للغالب " والأم والجدة أحق بالجارية حتى تحيض " لأن بعد الاستغناء تحتاج إلى معرفة آداب النساء والمرأة على ذلك أقدر وبعد البلوغ تحتاج إلى التحصين والحفظ والأب فيه أقوى وأهدى وعن محمد رحمه الله أنها تدفع ألى الأب إذا بلغت حد الشهوة لتحقق الحاجة إلى الصيانة

(الهداية ج ۲ ص ۲۸۳ باب الولد من احق به مكتبه شامله / ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۵۵۵ / ۵۱۷ باب الحضانة مكتبه شامله / اللباب في شرح الكتاب ج ۳ ص ۱۰۱ كتاب الحضانة مكتبه شامله / امدادالفتاوی ج ۲ ص ۵۵۴ پښتومكتبه الحرم)

د کوچني شيدې پر مور دي که پرپلاردي؟

سوال ۲: د ماشوم او بچي شيدې پر چا دي د پلار ذمه داري ده که د مور؟

جواب: شيدې ورکول د پلار ذمه داري ده يعني که چيري مورتی نه ورکوي نو پلار به شيدې ورکوونکې ورته مقرروي چي هغه يې د مور سره ورسره وي او تی به ورکوي ليکن که پلار مسکين وي او موريې څه عذر هم نه لري نو بيا د مور لپاره وکوچني ته تی ورکول ضروري دي.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَلَا تُجْبَرُ) مَنْ لَهَا الْحَضَانَةُ (عَلَيْهَا إلَّا إذَا تَعَيَّنَتْ لَهَا) بِأَنْ لَمْ يَأْخُذْ ثَدْيَ غَيْرِهَا أَوْ لَمْ يَكُنْ لِلْأَبِ وَلَا لِلصَّغِيرِ مَالٌ بِهِ يُفْتَى خَانِيَّةٌ

(الدرالمختارمع ردالمحتار ج ۲ ص ۶۹۰ مكتبه رشيديه / صحيح البخاري ج ۲ ص ۸۰۷ قديمي / تفسير القرطبي ج ۱ ص ۱۵۳ / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۱۱ ص ۶۷ پښتو / ستاسومسائل او دهغوی حل ج ۶ ص ۳۲۰ اردو)

ترموروروسته دماشوما نودپالني حق دچادی؟

سوال ۳: په شريعت کښې د مورڅخه وروسته د ماشوما نو د پالني او تربيې حق چا ته حاصل دی انا ته که خاله ته؟

جواب: د ماشومانو د پالني او تربيي حق ترمور وروسته وانا ته حاصل دی په شريعت کښې يعني د مور مور که هغه نه وه بيا د پلار د مور دی او بيا حق د خاله دی که هغه نه وه بيا حق د عمه دی.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار: (ثُمَّ) أَيْ بَعْدَ الْأُمِّ بِأَنْ مَاتَتْ، أَوْ لَمْ تَقْبَلْ أَوْ أَسْقَطَتْ حَقَّهَا أَوْ تَزَوَّجَتْ بِأَجْنَبِيٍّ (أُمُّ الْأُمِّ) وَإِنْ عَلَتْ عِنْدَ عَدَمِ أَهْلِيَّةِ الْقُرْبَى (ثُمَّ أُمُّ الْأَبِ وَإِنْ عَلَتْ)

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۶۹۲ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۴ ص ۲۸۳ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۴۱ مكتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۱۱ ص

۶۸ پښتو / فتاوی حقانية ج ۳ ص ۶۱۱ پښتو)

انجلۍ چي داناسره اوسيږي تربلوغ مخکښي يې څوک نسي بېولای.

سوال ۴: يوه انجلۍ چي دخپلي اناسره اوسيږي ترحايضه کېدو مخکي مخکي بې ددې درضااوخوښۍ څخه يوبل قريب لکه ماماد غه انجلۍ دانا څخه بېولای سي که يا؟

جواب: دغه انجلۍ ترهغه وخته څوک نسي بېولای ددې دانا څخه ترڅه وخته چي دحيض دمودي ووخت ته نه وي رسېدلې.

لما في الهداية : فان لم تكن له ام فام الام اولي من ام الاب والام والجدة لام اولاب احق بالجارية حتي تحيض

(الهداية ج ۲ ص ۴۱۳ ـــ ۴۱۴ باب حضانة الولد مکتبه حنفيه / فتاوی دارالعلوم ديوبندج ۱۱ ص ۶۸ پښتو)

په خاله اواکاکښي دپالني حق دچادي؟

سوال۵: ديوې نابلغي انجلۍ موراوپلار مړه دي يوازي يې خاله او اکا سته په دغه صورت کښي د دغي انجلۍ دپالني حق دچادی؟

جواب: په دغه صورت کښي دنابلغي دپالني حق دخاله دی اودنکاح ولي يې اکادی يعني دنکاح سرپرستي يې داکاسره ده.

لمافي الهداية : ثم الخالات أولى من العمات " ترجيحا لقرابة الأم " وينزلن كما نزلنا الأخوات " معناه ترجيح ذات قرابتين ثم قرابة الأم

ولماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار: الولي في النكاح الخ العصبته بنفسه علي ترتيب الارث والحجب

(الهداية ج ۲ ص ۴۱۳ مکتبه حنفيه / الدرالمختارعلي هامش ردالمحتارج ۲ ص ۳۲۷ مکتبه رشيديه / فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۱۹۳ مکتبه يوسفيه / فتاوی دارالعلوم ديوبندج ۱۱ ص ۷۱ پښتو)

دپالني موده څوده اوترپالني وروسته څه حکم دی؟

سوال۶: دنابالغه ماشومانودپالني موده دمورسره څومره ده اوڅومره موده وروسته پلارخپل بچي دمورڅخه اخيستلای سي چي هغې ته يې طلاق ورکړی وي؟

جواب: د هلک د پالنې حق او وه کاله او د انجلۍ د پالنې حق د حيض تر راتلو پورې دی کومه چې فقهاء کرامو نهه کاله ښوولې ده د ذکر سوي مودې وروسته پلار خپل بچي اخيستلای سي.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار: (وَالْحَاضِنَةُ) أُمًّا، أَوْ غَيْرَهَا (أَحَقُّ بِهِ) أَيْ بِالْغُلَامِ حَتَّى يَسْتَغْنِيَ عَنْ النِّسَاءِ وَقُدِّرَ بِسَبْعٍ وَبِهِ يُفْتَى لِأَنَّهُ الْغَالِبُ. وَلَوْ اخْتَلَفَا فِي سِنِّهِ، فَإِنْ أَكَلَ وَشَرِبَ وَلَبِسَ وَاسْتَنْجَى وَحْدَهُ دُفِعَ إلَيْهِ وَلَوْ جَبْرًا وَإِلَّا لَا (وَالْأُمُّ وَالْجَدَّةُ) لِأُمٍّ، أَوْ لِأَبٍ (أَحَقُّ بِهَا) بِالصَّغِيرَةِ (حَتَّى تَحِيضَ) أَيْ تَبْلُغَ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ. وَلَوْ اخْتَلَفَا فِي حَيْضِهَا فَالْقَوْلُ لِلْأُمِّ بَحْرٌ بَحْثًا.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۶۹۵ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۵۴۲ مکتبه رشيديه / فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۱۹۴ مکتبه يوسفيه / فتاوی دارالعلوم ديوبندج ۱۱ ص ۷۵ پښتو / فتاوی حقانية ج ۳ ص ۶۱۲ پښتو)

باب النفقـــات

په پښو شله ښځه پر خاوند دنفقې حق لري که يا ؟

سوال ۱: که چيري يوه ښځه په پښو شله وي نو بيا دا پر خپل خاوند باندي د نفقې او ډوډۍ حق لري که يا ؟

جواب: تر څه وخته چي خاوند او ښځه يو د بل په نکاح کښې وي سره نو د شريعت د طرفه څخه خاوند مکلف دی چي خپلي ښځي ته نفقه او ډوډۍ ورکړي ځکه چي نفقه د ښځي حق دی، او تر څه وخته چي هغه نافرمانه او سرکشه نه وي نو پر ده باندي نفقه ورکول لازمي ده . او مريضي يو داسي شی دی چي په دې کښې خپله د ښځي کوم قصور او دخل نسته داد الله جل جلاله د طرفه څخه د خپلو بندګانو امتحان اخيستل دي . لهذا پر دغه خاوند باندي د دغي ښځي نفقه ورکول لازم ده .

وفی الفتاوی الهندية : تَجِبُ عَلَى الرَّجُلِ نَفَقَةُ امْرَأَتِهِ الْمُسْلِمَةِ وَالذِّمِّيَّةِ وَالْفَقِيرَةِ وَالْغَنِيَّةِ دَخَلَ بِهَا أَوْ لَمْ يَدْخُلْ كَبِيرَةً كَانَتْ الْمَرْأَةُ أَوْ صَغِيرَةً يُجَامَعُ مِثْلُهَا كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ سَوَاءٌ كَانَتْ حُرَّةً أَوْ مُكَاتَبَةً كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۵۵۰ الْبَابُ السَّابِعُ عَشَرَ فِي النَّفَقَاتِ وَفِيهِ سِتَّةُ فُصُولٍ (الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي

نَفَقَة الزَّوجَة) / خير الفتاوى ج ۴ ص ۵۶۲ قسم بين الزوجات)

ايا دنافرماني ښځي نفقه دخاوند پر ذمه لازمه ده ؟

سوال ۲: (۱) يوه ښځه چي د خپل خاوند خبره نه مني (۲) او بېله اجازې د مېړه د كوره ځخه وزي د خپل پلار كره ځي (۳) او د مېړه د زوجيت حق هم نه اداء كوي (۴) او كله كله د مېړه د اجازې ځخه بغير نورو ځايونو ته هم ځي لكه د بل كورو ته يا بازار ته بېله كوم ضرورته (۵) او اوس د پلار پر كور ناسته ده د خاوند ځخه نفقه غواړي يعني خپل خوراكه آيا د شريعت د نګاه ځخه داسي ښځه پر خپل خاوند د نفقې او خوراكې حق لري كه يا ؟

جواب: دغه ښځه شرعًا دغه حق نه لري چي د پلار پر كور ناسته وي او نان او نفقه د خاوند ځخه وغواړي پر دغه ښځي شرعًا لازمه ده چي د خاوند مكان ته راسي د زوجيت حقوق يې اداء كړي او كه د خاوند په غوښتنه هم رانه غله نو دا ښځه ناشزه او نافرمانه ده د نفقې مستحقه نه ده . كه چيري دغه ښځه و خاوند ته د صحبت كولو اجازه نه وركوي نو هم يو قول د علماؤ دا دی چي پر خاوند يې نفقه نه ده واجب.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (لَا) نَفَقَةَ لِأَحَدِ عَشْرَ: مُرْتَدَّةٌ، وَمُقَبِّلَةُ ابْنِهِ، وَمُعْتَدَّةُ مَوْتٍ،وَمَنْكُوحَةٌ فَاسِدًا وَعِدَّتُهُ، وَأَمَةٌ لَمْ تُبَوَّأْ، وَصَغِيرَةٌ لَا تُوطَأُ، وَ (خَارِجَةٌ مِنْ بَيْتِهِ بِغَيْرِ حَقٍّ) وَهِيَ النَّاشِزَةُ حَتَّى تَعُودَ وَلَوْ بَعْدَ سَفَرِهِ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۷۰۲ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۴۵ مكتبه رشيديه / قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۴۲۶ مكتبه رشيديه / الهداية ج ۲ ص ۴۱۶ مكتبه حنفيه / فتاوى محموديه ج ۱۳ ص ۴۴۴ اردو / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۷۶ پښتو)

دعدې د تيرولو دوخت نفقه پر خاوند لازمه ده .

سوال ۳: يو كس خپلي حاملې ښځي ته د حمل په حالت كښي طلاق وركړی او دكوره يې ويستها اوس دغه ښځه دكوچني تر زېږولو پوري دنفقې او خرځ حق لري كه يا ؟

جواب: فقهاء كرامو ليكلي دي چي په دغه صورت كښې دښځي خرڅه او نفقه پر خاوند واجب ده تر هغه پوري چي ماشوم زېږوي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار :وتجب لمطلقة الرجعي والباين

والفرقة بلامعصية كخيار العتق النفقة والسكنى والكسوة ان طالت المدة.
(رد المحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۶۰۹ مطلب في نفقة المطلقة مكتبه شامله /فتاو دارالعلوم ديو بند ج ۱۰ ص ۷۴)كتاب الطلاق رشيديه / تبيين الحقائق ج ۳ ص ۳۰۱ رشيديه / الهداية ج ۲ ص ۴۲۱ باب النفقة / فتاوی محموديه ج ۱۳ ص ۴۳۴ باب النفقة مكتبة الفاروق اردو)

متفرقات النکاح

په اسلام کښي په يو وخت دڅوښځو سره دنکاح حکم او دهغه شرطونه.

سوال ۱ : په اسلام کښي ديوه سړي لپاره په يوه وخت کښي په نکاح کښي دڅو ښځو دجمع کولو اجازه سته: او کوم شرائط لري که يا؟

جواب: اسلام ويوه نارينه ته په يوه وخت کښي دڅلورو ښځو اجازه ورکړېده او په يوه وخت کښي يې دڅلورو څخه دزياتو ښځو په نکاح کښي جمع کول حرام او ناجائز ګرځولي دي البته دڅه شرائطو پربنا باندي اجازه سته هغه شرائط دادي چي ددوی په مينځ کښي عدل او انصاف به کوي يعني دخوراک چيښاک شيان ، داستوګني کور ، دشپې دتېرولو نوبت داهغه شيان دي چي پر يو خاوند دا لازم دي چي په دغو ذکر سوو شيانو کښي به دعدل او انصاف څخه کار اخلي او که يو کس دذکر سوو شيانو اهتمام په صحيح طور سره نسي کولای نو دده لپاره تر يوې ښځي زياتي کول نه دي پکار ځکه چي دعدم مساوات په صورت کښي شرعاً خاوند ظالم بلل کيږي او دظالم ځای دوزخ دی

(ضروري يادونه) که چيري ديوه کس په نکاح کښي څلور ښځي وي او په دا څلورو ښځو کښي يې ويوې ښځي ته طلاق ورکړی نو نوموړی کس دبلي ښځي سره نکاح تر هغه وخته نسي کولای ترڅو چي ددغي طلاقي سوي ښځي عده پوره نسي ځکه چي دکومي ښځي چي عده پوره نوي نو هغه ښځه په مکمله توګه سره ددغه کس دنکاح څخه وتلې نه ده نو که چيري نوموړی کس بله نکاح وکړي نو دا دده پنځمه ښځه سوه کومه چي په اسلام کښي حرامه او ناجائزه ده

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : تحت قوله ولو من طلاق بائن) وَأَشَارَ إلَى أَنَّ مَنْ طَلَّقَ الْأَرْبَعَ لَا يَجُوزُ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ امْرَأَةً

قَبْلَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهِنَّ، فَإِنْ انْقَضَتْ عِدَّةُ الْكُلِّ مَعًا جَازَ لَهُ تَزَوُّجُ أَرْبَعٍ، وَإِنْ وَاحِدَةً فَوَاحِدَةً بَحْرٌ.

(وفى الهندية) وَمِمَّا يَجِبُ عَلَى الْأَزْوَاجِ لِلنِّسَاءِ الْعَدْلُ وَالتَّسْوِيَةُ بَيْنَهُنَّ فِيمَا يَمْلِكُهُ وَالْبَيْتُوتَةُ عِنْدَهَا لِلصُّحْبَةِ وَالْمُؤَانَسَةِ لَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَهُوَ الْحُبُّ وَالْجِمَاعُ...... فَيُسَوِّي بَيْنَ الْجَدِيدَةِ وَالْقَدِيمَةِ وَالْبِكْرِ وَالثَّيِّبِ وَالصَّحِيحَةِ وَالْمَرِيضَةِ وَالرَّتْقَاءِ وَالْمَجْنُونَةِ الَّتِي لَا يُخَافُ مِنْهَا وَالْحَائِضِ وَالنُّفَسَاءِ وَالْحَامِلِ وَالْحَائِلِ وَالصَّغِيرَةِ الَّتِي يُمْكِنُ وَطْؤُهَا

(ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۸ فصل في المحرمات مكتبه حبيبيه / فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۳۴۰ الباب الحادی عشر في القسم مكتبه رشيديه / تنویرالابصار مع الدرالمختار ج ۳ ص ۲۰۱ کتاب النكاح سعید چاپ / البحرالرائق ج ۳ ص ۲۱۸ کتاب النکاح سعید چاپ / فتاوی عبادالرحمن ج ۳ ص ۴۱۴ کتاب النکاح)

هغه ښځه چې دوه میړونه یې کړي وي په آخرت کښې به دکوم میړه سره وي ؟

سوال ۲: که چیري دیوې ښځې خاوند مړسي او هغه ښځه دوهمه نکاح وکړي دبل کس سره نو په آخرت کښې به دکوم خاوند سره وي ؟

جواب: په دغه باره کښې دوه قولونه دعلماء کرامو څخه نقل سوي دي یوقول دادی چې دغه ښځه به په آخرت کښې دآخري خاوند سره وي اوراجح قول هم دغه دی: (وهو المرجح لان النبى صلى الله عليه وسلم تزوج من مات ازواجهن) دوهم قول دعلماوو دادی چې دغې ښځې ته به الله جل جلاله اختیار ورکړي چې دهر میړه سره کیږي دهغه سره به وي.

(مجموعة الفتاوى اللكهنوى ج ۳ ص ۲۵۶ کتاب المتفرقات / فتاوی فریدیه ج ۵ ص ۲۳۴ معجم طبراني ومسند بزار)

دمخطوبې هغه ښځه چې یوڅوک مرکه ورته کوي ښځې مخ ته کتل رواه دي که یا ؟

سوال ۳: که چیري یو کس وغواړي دیوې ښځې سره کوزده اوواده وکړي ایا تر کوزدې مخکې هغې ته یو نظر کتل رواه دي که یا ؟

جواب: دټولو فقهاوو پردغه خبره باندي اتفاق راغلی دی چې یو شخص ته دا رواه ده چې هغه ښځې ته یو نظر وګوري دکومې سره چې دی دنکاح کولو اراده اوعزم لري

.وروسته تر جواز بيا حنفي اوشافعي او مالکي مذهب دادی چي دغه کتل دنکاح کوونکي شخص ودغي ښځي ته يو مستحب کار دی ځکه چي په حديث شريف کښي ددغه کتلو امر راغلی دی . او علت يي دابيان سوی دی چي کيدای سي چي دغه کتل ددوی تر مينځ يو قسم محبت او الفت زيات کړي ، او بل دا چي په راتلونکي کي به دپښېمانۍ څخه خلاص وي .

دحضرت مغيرة ابن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دی: چي ما ويوې ښځي ته دنکاح مرکه وکړه نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم راته وفرمايل : ايا تا هغې ته يو نظر کتلي دي ؟ نو ما عرض وکړ چي يا ، نو بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم راته وفرمايل چي ورته وګوره ځکه چي دا خبره مناسبه او لائقه ددې ده چي ستاسي تر مينځ محبت او الفت راپيدا سي .

همدا شان هغه ښځي ته دا رواه ده چي هغه شخص وګوري کوم شخص چي ددې سره دنکاح اراده لري.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ، فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ» ، قَالَ: فَخَطَبْتُ جَارِيَةً فَكُنْتُ أَتَخَبَّأُ لَهَا حَتَّى رَأَيْتُ مِنْهَا مَا دَعَانِي إِلَى نِكَاحِهَا وَتَزَوُّجِهَا فَتَزَوَّجْتُهَا رواه ابوداود (بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلَى الْمَرْأَةِ وَهُوَ يُرِيدُ تَزْوِيجَهَا .

(الموسوعة الفقهية ج ۱۹ ص ۱۹۶ / ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۶ ص ۲۶۲ / ج ۵ ص ۲۳۷ بيروت چاپ / ابوداود شريف ج ۲ ص ۲۲۸ بيروت چاپ / مشکوة شريف ج ۲ ص ۲۶۸)

نکاح کول نصف او نيم دين دی .

سوال ۴ : موږ اوريدلي دي چي نکاح يې نه وي کړې نو يې ايمان نيمی دی او چي واده او نکاح وکړي نو ايمان يې مکمل دی ددې څه مطلب دی ؟ .

جواب : دنبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی : چا چي نکاح وکړه نو هغه خپل دين پوره او مکمل کړی نو اوس هغه ته پکار ده چي دنور نيم ايمان په باره کښې هم دا الله جل جلاله څخه ويريږي .

دحديث شريف شرح : دانسان په جسم کښې دوه شيان داسي دي چي په عمومي طور

سره د فساد او نقصان سبب جوړيږي يو (د شرم اندامونه ، نس) لهذا د حديث مطلب دا دی چي کوم شخص نکاح وکړه نو د شرمګاه د فتنې او فساد څخه يې نجات پيدا کړی، نو هغه ته پکار ده چي د نس د فتنې او فساد څخه ځان ليري وساتي او د الله جل جلاله څخه وبيريږي . يعني د حلالي روزی، او حلال کسب په ذريعه سره خپل د ځان او د خپل اهل او عيال کفايت وکړي دد ې د پاره چي په دين کښې پوره ښيګڼه ورته حاصله وي .

وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الدِّينِ فَلْيَتَّقِ اللَّهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِي . رواه البيهقى فى شعب الايمان .

وفى مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح : (وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: إِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ») أَيْ: الْمَرْءُ («فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الدِّينِ») أَيْ: كَمَّلَ نِصْفَ دِينَهُ، وَيَجُوزُ رَفْعُهُ أَيْ: يَكْمُلُ نِصْفُهُ وَهُوَ عَطْفٌ عَلَى الشَّرْطِ وَجَزَاؤُهُ قَوْلُهُ («فَلْيَتَّقِ اللَّهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِي») أَيْ: فِي بَقِيَّةِ أُمُورِ دِينِهِ، وَجَعَلَ التَّزَوُّجَ نِصْفًا مُبَالِغَةً لِلْحَثِّ عَلَيْهِ. وَقَالَ الْغَزَالِيُّ: الْغَالِبُ فِي إِفْسَادِ الدِّينِ الْفَرْجُ وَالْبَطْنُ - وَقَدْ كَفَى بِالتَّزَوُّجِ أَحَدَهُمَا، وَلِأَنَّ فِي التَّزَوُّجِ التَّحَصُّنَ عَنِ الشَّيْطَانِ، وَكَسْرَ التَّوَقَانِ، وَدَفْعَ غَوَائِلِ الشَّهْوَةِ، وَغَضَّ الْبَصَرِ، وَحِفْظَ الْفَرْجِ.

(مشكاة المصابيح ج ٢ ص ٢٦٨ كتاب النكاح / مرقاة المفاتيح ج ٥ ص ٢٠ ٤٩ كتاب النكاح / مظاهر حق ج ٣ ص ٢٥١ اردو)

کونډه د خپل سرا و خپل اختيار ده که نکاح کوي او که يې نه کوي .

سوال ٥ : پوښتنه دا ده چي کونډه په شريعت کښې د خپل سر او خپل اختيار ده که يا ؟ او که يې اختيار د ليورو سره دی، چي خامخا به په هغوی کښې يو کوي او يا به د هغوی په خوښه څوک کوي ؟ .

جواب : ښځه چي کونډه سي او بالغه وي نو په شريعت کښې دا د خپل اختيار ده که ميړه کوي او که کښېني هيڅوک نه سي کولای چي دا په زور سره يو چا ته ورکړي .

لما فى صحيح لمسلم رحمه الله تعالى : عن ابن عباس، أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «الثيب أحق بنفسها من وليها، والبكر تستأمر، وإذنها سكوتها.

(الصحیح لمسلم ج ۲ ص ۱۰۳۷ باب استئذان الثیب في النکاح بالنطق، والبکر بالسکوت مکتبه شامله / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۲۲ کتاب النکاح باب الولي / فتاوی دارالعلوم دیوبندج ۸ ص ۸۶ / بدرالفتاوی ص ۸۱ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۱۷ کتاب النکاح)

ایا یوه پېغله ښځه دنکاح دپاره یوه ځوان ته کتلای سي که یا ؟

سوال ۶ : ایا په شریعت کښې د دې اجازه سته چي کله یوه ښځه دیو ځوان سره نکاح کول غواړي او بیا ورته وګوري دغه کتل د دې ښځي و دغه ځوان ته دنکاح په خاطر رواه دي که یا ؟

جواب : شریعت مطهره داسي یو جامع او کامل شریعت چي دژوند په هر اړخ کښې یې دهر انسان دجذباتو او احساساتو خیال دیو سلیم فطرته سره ساتلی دی .نو یوه اساني دشریعت دآسانتیاوو څخه داده چي نارینه کله دیوې ښځي سره نکاح کول غواړي یا یوه ښځه دیوه نارینه سره نکاح کول غواړي دواړوه ته دا اجازه حاصله ده چي یو اوبل ته په دغه غرض سره وګوري . چي د دې لیدلو غرض فقط او فقط دنکاح دغه تصمیم ته لاره هوارول وي نه دا چي مقصد یې شهوت پرستي وي او دا فقط یوه لاره وهغه ته وګرځوي .

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار علی الدرالمختار :
وَهَلْ يَحِلُّ لَهَا أَنْ تَنْظُرَ لِلْخَاطِبِ مَعَ خَوْفِ الشَّهْوَةِ لَمْ أَرَهُ وَالظَّاهِرُ: نَعَمْ لِلِاشْتِرَاكِ فِي الْعِلَّةِ الْمَذْكُورَةِ فِي الْحَدِيثِ السَّابِقِ، بَلْ هِيَ أَوْلَى مِنْهُ فِي ذَلِكَ لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ مُفَارَقَةُ مَنْ لَا يَرْضَاهَا بِخِلَافِهَا. وعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ، فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ» ، قَالَ: فَخَطَبْتُ جَارِيَةً فَكُنْتُ أَتَخَبَّأُ لَهَا حَتَّى رَأَيْتُ مِنْهَا مَا دَعَانِي إِلَى نِكَاحِهَا وَتَزَوُّجِهَا فَتَزَوَّجْتُهَا

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۶۲ فصل في النظر والمس / فتاوی اللکنوی ص ۳۹۳ / حلال او حرام ص ۱۹۵ ابوداود شریف ج ۲ ص ۲۲۸ باب الرجل ینظر الي المرءة وهو یرید تزوجها)

ایا دطلاقي سوي او کونډې ښځي سره نکاح مکروه ده ؟

سوال ۷ : ځیني کسان په دې موجوده معاشره کښې په دغه نظر او عقیده دي چي د

طلاقې سوې ښځې سره او کونډې ښځې نکاح ګناه او يو د عيب کار او بد کار دی او دغه کار ته دوی د عيب په نظر ګوري نو داسې نظريې او عقيدې شرعًا کوم حيثيت لري که يا ؟

جواب: د کونډې سره نکاح کولو ته عيب ويل او د طلاقې سوې ښځې سره نکاح کولو ته بد ويل د شريعت د نګاه څخه سخته ګناه او جهالت دی هر څوک چې داسې عقيده لري توبه دې وباسي آينده دې داسې عقيده نه ساتي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم اوله نکاح د کونډې سره کړې ده يعني د حضرت خديجة الکبری رضي الله عنها سره او خپله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ځيني لوڼو پس له طلاقه دوهمه نکاح کړې ده .

قال الله تعالى :وانحوالايامى منكم : و في معجم الفقهاء : الايامى جمع الايم .... من النساء: من لا زوج لها، بكرا ، كانت أو مطلقة أو أرملة من الرجال: من لا امرأة له، تزوج من قبل أم لم يتزوج.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ: مِنَ السُّنَّةِ إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سبعا وَقسم إِذا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَسَمَ. قَالَ أَبُو قِلَابَة: وَلَو شِئْت لَقلت: إِن أَنَسًا رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(نصب الراية ج ۳ ص ۲۱۵/ ردالمحتار ج ۲ ص ۴۳۴ كتاب النكاح / معجم اللغة الفقهاء ص ۹۹ مكتبه شامله / فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۷ ص ۴۵ پښتو / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۵۳۶ پښتو / مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۹۶۴ مكتبه شامله)

دانجلۍ د کوزدې او واده تر مېنځ بايد څومره فاصله وي ؟

سوال۸: د يوې انجلۍ د کوزدې او د واده تر مابين فاصله څومره وخت جائز ده کال دوه کاله چې هېڅ معقول او شرعي عذر هم نه وي صرف دا عذر دی چې تر اوسه يې ما کور نه دی کړی فلانکی شی مي نه دی کړی؟

جواب: شريعت د کوزدې او واده تر مابين کومه فاصله نه ده مقرره کړې البته د ژر تر ژره واده کولو حکم او ترغيب يې بيان کړی دی او دا چې صرف د کور يا د سامان د نه کولو د وجې په واده کې تاخير او ځنډ غلط رسم او رواج دی.

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَقَدْ صَرَّحُوا عِنْدَنَا بِأَنَّ الزَّوْجَةَ إذَا كَانَتْ صَغِيرَةً لَا تُطِيقُ الْوَطْءَ لَا تُسَلَّمُ إلَى الزَّوْجِ حَتَّى تُطِيقَهُ. وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ غَيْرُ مُقَدَّرٍ بِالسِّنِّ بَلْ يُفَوَّضُ إلَى الْقَاضِي بِالنَّظَرِ إلَيْهَا مِنْ سِمَنٍ أَوْ هُزَالٍ. وَقَدَّمْنَا عَنْ التَّتَارْخَانِيَّة أَنَّ الْبَالِغَةَ إذَا كَانَتْ لَا تَحْتَمِلُ لَا يُؤْمَرُ بِدَفْعِهَا إلَى الزَّوْجِ أَيْضًا، فَقَوْلُهُ لَا تَحْتَمِلُ يَشْمَلُ مَا لَوْ كَانَ لِضَعْفِهَا أَوْ هُزَالِهَا أَوْ لِكِبَرِ آلَتِهِ. وَفِي الْأَشْبَاهِ مِنْ أَحْكَامِ غَيْبُوبَةِ الْحَشَفَةِ فِيمَا يُحَرِّمُ عَلَى الزَّوْجِ وَطْءَ زَوْجَتِهِ مَعَ بَقَاءِ النِّكَاحِ قَالَ: وَفِيمَا إذَا كَانَتْ لَا تَحْتَمِلُهُ لِصِغَرٍ أَوْ مَرَضٍ أَوْ سُمْنَةٍ. اهـ.

وَرُبَّمَا يُفْهَمُ مِنْ سِمَنِهِ عِظَمُ آلَتِهِ. وَحَرَّرَ الشُّرُنْبُلَالِيُّ فِي شَرْحِهِ عَلَى الْوَهْبَانِيَّةِ أَنَّهُ لَوْ جَامَعَ زَوْجَتَهُ فَمَاتَتْ أَوْ صَارَتْ مُفْضَاةً، فَإِنْ كَانَتْ صَغِيرَةً أَوْ مُكْرَهَةً أَوْ لَا تُطِيقُ تَلْزَمُهُ الدِّيَةُ اتِّفَاقًا. فَعُلِمَ مِنْ هَذَا كُلِّهِ أَنَّهُ لَا يَحِلُّ لَهُ وَطْؤُهَا بِمَا يُؤَدِّي إلَى إضْرَارِهَا فَيَقْتَصِرُ عَلَى مَا تُطِيقُ مِنْهُ عَدَدًا بِنَظَرِ الْقَاضِي أَوْ إخْبَارِ النِّسَاءِ، وَإِنْ لَمْ يَعْلَمْ بِذَلِكَ فَبِقَوْلِهَا وَكَذَا فِي غِلَظِ الْآلَةِ، وَيُؤْمَرُ فِي طُولِهَا بِإِدْخَالِ قَدْرِ مَا تُطِيقُهُ مِنْهَا أَوْ بِقَدْرِ آلَةِ الرَّجُلِ مُعْتَدِلِ الْخِلْقَةِ، وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۴۳۳ مکتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۸۷ مکتبه رشيديه / ترمذي شريف ج ۱ ص ۳۳۲ / مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۲۷۱ مکتبه حنفيه / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۶ ص ۱۰۷ اردو)

په کشر عمر کي دهلک او انجلۍ ودونه کول څنګه دي ؟

سوال ۹ : په بعضي ځايو کي د انجلۍ او هلک واده سره وکړي او حال دا دی چي د هلک عمر ۱۶، يا **۱۵** کاله وي، او په دغه کشر عمر کي د هلک او انجلۍ واده سره کول ډېري غلطي نتېجې ورکړي دي چي بيان يې ممکن نه دی آيا په داسي کم عمر کي نکاح يا واده کول جائز دی؟

جواب: د هلک او انجلۍ تر بلوغ رسېدو وروسته که چيري يو شرعي عذر او خاص مشکل نه وي واده کول جائز دی شرعًا بلکه د فتنې او د بې حيايې او عريانۍ په معاشره او ټولنه کي مصلحت هم په دغه کي دی چي ژر تر ژره اولاد وته که نر وي که ښځه ودونه وسي، باقي د حلال کار په مخ کي چي کومي غلطي نتېجې راسي هغو ته نظر کول او هغه د نه واده په صورت کي چي دوی په يو حرام عمل کي اخته کېدل

مثلا زنا هغو ته نظر نه کول دا هم د نظر او فکر غلطي ده .

وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَابْنِ عَبَّاسٍ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «من وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَلْيُحْسِنِ اسْمَهُ وَأَدَبَهُ فَإِذَا بَلَغَ فَلْيُزَوِّجْهُ فَإِنْ بَلَغَ وَلَمْ يُزَوِّجْهُ فَأَصَابَ إِثْمًا فَإِنَّمَا إثمه على أَبِيه.

وعن عمر بن الخطاب وأنس بن مالك رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " في التوراة مكتوب: من بلغت ابنته اثنتي عشرة سنة ولم يزوجها فأصابت إثما فإثم ذلك عليه «. رواهما البيهقي في» شعب الإيمان "

(مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۹۳۹ مکتبه شامله / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۵ ص ۲۰۶۴ باب الولي في النكاح واستئذان المرأة مکتبه شامله / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۶ ص ۱۲۵ اردو)

که یو نر او ښځه دمسخرو ایجاب او قبول سره وکړي .

سوال ۱۰: که یو کس یوې ښځې ته و وایې ما ستا سره نکاح وکړه د مسخرو څخه او ښځه هم و وایې د مسخرو څخه چې ما ته قبول کړی یې، همدارنګه په رانیولو او خرڅولو کي دوه کسان د مسخرو څخه و وایې دا شی ما در باندي خرڅ کړی هغه بل و وایې چې ما در څخه رانیوی قصد او اراده د یوه لانه ده رانیولو وي او نه د خرڅولو آیا دغه نکاح او بیع صحت لري که یا؟

جواب: د نکاح ایجاب او قبول که څه هم د مسخرو څخه وي چې د شاهدانو په مخکښې وسي نکاح صحت پیدا کوي او تړل کېږي، په حدیث شریف کښې راځي (ثلاث جدهن جد وهزلهن جد) درې شیان داسي دي چې قصد او مسخرې یې دواړه قصد دی، نکاح، رجوع، طلاق) لهذا نکاح درست او صحیح ده د رانیولو او خرڅولو ایجاب او قبول چې په مسخرو کښې وسي او حقیقةً رانیول او خرڅول مقصود نه وي رانیونکی او خرڅونکی دواړه دا اعتراف او اقرار کوي چې موږ مسخرې کولې نو دا بیع صحیت نه لري.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " ثَلَاثٌ جَدُّهُنَّ جَدٌّ، وَهَزْلُهُنَّ جَدٌّ: النِّكَاحُ، وَالطَّلَاقُ، وَالرَّجْعَةُ "(رواه ابي داؤد)

(ردالمحتارج ۳ ص ۱۲ مکتبه شامله / سنن ابي داؤدج ۱ ص ۱۴۲ / سنن ابن ماجه ج ۱ ص ۶۵۸ / مشکوة المصابيح ج ۲ ص ۲۸۴ / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۴۹۱ اردو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۵۱ پښتو)

که یو شخص نکاح او واده ونه کړي نو څه دی ؟

سوال ۱۱: که چیري یو کس نکاح او واده ونه کړي نو د شریعت له نظره ګناهګاره دی؟ او دغه کس پر دغه قدرت هم لري چي خپل ځان په قابو کښي کړي د خواهشاتو څخه. شریعت په دغه معامله کي څه حکم کوي؟

جواب: د اعتدال په وخت کښي نکاح کول سنت کار دی د قدرت او ضرورت باوجود که یو کس نکاح نه کوي واده نه کوي، نو هغه کس د دغه سنت څخه محروم دی، او د سنت څخه محرومي د شفاعت څخه د محرومۍ سبب ګرځي، او د شهوت او د جذباتو د غلبې او ډېرېدو په صورت کښي واده او نکاح واجب ده، او که د ښځي د حقوقو پر اداء کولو قدرت نه وي او د ظلم خطره وي نکاح کول منع او ناروا ده دغه مختلف صورتونه دي.

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَيَكُونُ وَاجِبًا عِنْدَ التَّوَقَانِ) فَإِنْ تَيَقَّنَ الزِّنَا إلَّا بِهِ فُرِضَ نِهَايَةٌ وَهَذَا إنْ مَلَكَ الْمَهْرَ وَالنَّفَقَةَ، وَإِلَّا فَلَا إثْمَ بِتَرْكِهِ بَدَائِعُ (وَ) يَكُونُ (سُنَّةً) مُؤَكَّدَةً فِي الْأَصَحِّ فَيَأْثَمُ بِتَرْكِهِ وَيُثَابُ إنْ نَوَى تَحْصِينًا وَوَلَدًا (حَالَ الِاعْتِدَالِ) أَيْ الْقُدْرَةِ عَلَى وَطْءٍ وَمَهْرٍ وَنَفَقَةٍ وَرَجَّحَ فِي النَّهْرِ وُجُوبَهُ لِلْمُوَاظَبَةِ عَلَيْهِ وَالْإِنْكَارِ عَلَى مَنْ رَغِبَ عَنْهُ (، وَمَكْرُوهًا لِخَوْفِ الْجَوْرِ) فَإِنْ تَيَقَّنَهُ حَرُمَ ذَلِكَ

(الدرالمختارمع ردالمحتارج ۲ ص ۲۸۲ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۴۰ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۶۷ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۴۷۲ اردو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۱۳)

کتـــاب الطـــلاق

د ګونګي طلاق واقع کیږي که یا ؟

سوال ۱ : ایا په شریعت مطهره کښې ګونګی کس وخپلې ښځې ته طلاق ورکولای سي که یا ؟ او د ورکولو طریقه یې فقهاء کرامو څنګه بیان کړېده ؟

جواب : فقهاء کرامو د امام ابوحنیفه رحمه الله تعالی د مذهب او فقهي د کتابونو په حواله لیکلي دي چي د ګونګي کس طلاق شرعا واقع کیږي البته په نویشته یا په اشاره سره .

لما قال العلامة محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: ۴۸۳ هـ) فى المبسوط : وَإِذَا طَلَّقَ الْأَخْرَسُ امْرَأَتَهُ فِي كِتَابٍ، وَهُوَ يَكْتُبُ جَازَ عَلَيْهِ مِنْ ذَلِكَ مَا يَجُوزُ عَلَى الصَّحِيحِ فِي كِتَابِهِ؛ لِأَنَّ الْأَخْرَسَ عَاجِزٌ عَنْ الْكَلَامِ، وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى الْكِتَابِ فَهُوَ وَالصَّحِيحُ فِي الْكِتَابِ سَوَاءٌ، وَالْأَصْلُ أَنَّ الْبَيَانَ بِالْكِتَابِ بِمَنْزِلَةِ الْبَيَانِ بِاللِّسَانِ؛ لِأَنَّ الْمَكْتُوبَ حُرُوفٌ مَنْظُومَةٌ تَدُلُّ عَلَى مَعْنًى مَفْهُومٍ كَالْكَلَامِ أَلَا تَرَى أَنَّ النَّبِيَّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – كَانَ مَأْمُورًا بِتَبْلِيغِ الرِّسَالَةِ، وَقَدْ بَلَّغَ تَارَةً بِالْكِتَابِ وَتَارَةً بِاللِّسَانِ .

(المبسوط للسرخسي ج ۶ ص ۱۶۷ باب طلاث الاخرس مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۴۳۳ مکتبه رشیدیه / الهدایة ج ۳ ص ۱۴۱ مکتبة البشری / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۳۸ مکتبه جدید / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۵۴ کتاب الطلاق)

دمکره (په زوره ورکړل سوی) طلاق حکم.

سوال ۲ : که چیري پر سړي باندي په زور ؛جبر او اکراه باندي طلاق واچول سي نو ایا په دې سره طلاق واقع کیږي که یا ؟

جواب : په صورت مسئوله کښې داحنافو په نزد د مکره (هغه څوک چي جبر او زور پرې وسي طلاق په واخیستل سي) طلاق یې واقع کیږي له دې وجهې په دې صورت کښې ښځه طلاقه ده .

(قال العلامة الحصكفي رحمه الله) وَيَقَعُ طَلَاقُ كُلِّ زَوْجٍ بَالِغٍ عَاقِلٍ........ وَلَوْ عَبْدًا أَوْ مُكْرَهًا

(وقال العلامة المرغيناني رحمه الله) وطلاق المكره واقع

(وقال العلامة ابن الهمام تحت قوله المكره) قُلْنَا: وَكَذَلِكَ الْمُكْرَهُ مُخْتَارٌ فِي التَّكَلُّمِ اخْتِيَارًا كَامِلًا فِي السَّبَبِ إلَّا أَنَّهُ غَيْرُ رَاضٍ بِالْحُكْمِ؛ لِأَنَّهُ عَرَفَ الشَّرَّيْنِ فَاخْتَارَ أَهْوَنَهُمَا عَلَيْهِ، غَيْرَ أَنَّهُ مَحْمُولٌ عَلَى اخْتِيَارِهِ ذَلِكَ وَلَا تَأْثِيرَ لِهَذَا فِي نَفْيِ الْحُكْمِ، يَدُلُّ عَلَيْهِ «حَدِيثُ حُذَيْفَةَ وَأَبِيهِ حِينَ حَلَّفَهُمَا الْمُشْرِكُونَ، فَقَالَ لَهُمَا – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – نَفِي لَهُمْ بِعَهْدِهِمْ وَنَسْتَعِينُ اللَّهَ عَلَيْهِمْ» فَبَيَّنَ أَنَّ الْيَمِينَ طَوْعًا وَكَرْهًا سَوَاءٌ، فَعُلِمَ أَنْ لَا تَأْثِيرَ لِلْإِكْرَاهِ فِي نَفْيِ الْحُكْمِ الْمُتَعَلِّقِ بِمُجَرَّدِ اللَّفْظِ عَنْ اخْتِيَارٍ،

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۲۳۵ کتاب الطلاق سعید چاپ/ فتح القدير شرح الهداية ج ۳ ص ۴۸۸ فصل ويقع الطلاق كل زوج بيروت چاپ مکتبه شامله/الهداية ج ۱ ص ۲۲۴ فصل ويقع الطلاق كل زوج بيروت چاپ مکتبه شامله/فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۳۵۳ فصل فيمن يقع الطلاقه وفيمن لايقع طلاقه مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۳۶ کتاب الطلاق)

د درواغو اقرار يې وکړی چې زما ښځه طلاقه ده.

سوال ۳: که يو سړي د درواغو بل سړي ته وويل چې ما خپل ښځي ته طلاق ورکړی دی آيا دغه طلاق شرعًا واقع کېږي که يا؟

جواب: کتاب د دغسې مسئلې صورت داسي بيان کړی دی چې يو کس وبل کس ته وويل چې ته خپلي اولي ښځي ته طلاق ورکړه، نو زه به د خپلي لور نکاح ستا سره وکړم هغه بل په درواغو ورته وويل چې ما خپل ښځي ته طلاق ورکړی او په حقيقت کښي يې نه وُ ورکړی نو بيا هغه بل کس خپل لور ورکړه دغه نکاح د دغې ښځي ورسره صحيح ده او طلاق د يانة بينه وبين الله نه واقع کېږي او قضاء واقع کېږي.

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَلَوْ أَقَرَّ بِالطَّلَاقِ وَهُوَ كَاذِبٌ وَقَعَ فِي الْقَضَاءِ اهـ.

وَصَرَّحَ فِي الْبَزَّازِيَّةِ بِأَنَّ لَهُ فِي الدِّيَانَةِ إمْسَاكُهَا إذَا قَالَ أَرَدْت بِهِ الْخَبَرَ عَنْ الْمَاضِي كَذِبًا، وَإِنْ لَمْ يُرِدْ بِهِ الْخَبَرَ عَنْ الْمَاضِي أَوْ أَرَادَ بِهِ الْكَذِبَ أَوْ الْهَزْلَ وَقَعَ قَضَاءً وَدِيَانَةً

(البحرالرائق ج ۳ ص ۴۲۸ مکتبه رشیدیه / ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵۷ مکتبه رشیدیه / التاتارخانیه ج ۳ ص ۲۶۲ ادارة القران کراچي / فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۲۳۷ اردو / عزیزالفتاوی ج ۱ ص ۴۷۸ اردو)

دټلیفون په ذریعه طلاق واقع کیږي که یا ؟

سوال ۴ : که چیري یو خاوند وخپلي ښځي ته پرټلیفون باندي طلاق ورکړي دغه طلاق په شریعت کښې واقع کیږي که یا ؟

جواب : د طلاق ورکولو دپاره دښځي حاضریدل ضروروي نه دي خاوند چي هر ځای او په هر وقت کښې دخپلي ښځي طرف ته په نسبت کولو سره طلاق ووایي یا یي ولیکي نو طلاق واقع کیږي . نو ځکه که یو سړی دټیلیفون یا ټیلي ګراف دلاري وخپلي ښځي ته طلاق ورکړي نو هم طلاق واقع کیږي . البته په ټلیفون کښې ځیني وختونه اواز نه پیژندل کیږي نو په داسي صورت کښې که چیري خاوند ددې خبري څخه انکار وکړي چي ما ټلیفون نه دی کړی نو بیا طلاق نه واقع کیږي . او ښځي ته ادرواه ده چي وخاوند ته خپل ځان وروسپاري او که خاوند درواغ وویل نو دالله جل جلاله په نزد به ډیر سخت مجرم وي او زناکار به حسابیږي . او که چیري دخاوند پر دغه ټلیفون کولو باندي دوه شاهدان تیرسي نو بیا به طلاق واقع کیږي .

وفی الدرالمختار: كِتِبَ الطَّلَاقُ، وَإِنْ مُسْتَبِينًا عَلَى نَحْوِ لَوْحٍ وَقَعَ إنْ نَوَى، وَقِيلَ مُطْلَقًا، لما

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَلَوْ قَالَ لِلْكَاتِبِ: اُكْتُبْ طَلَاقَ امْرَأَتِي كَانَ إقْرَارًا بِالطَّلَاقِ وَإِنْ لَمْ يَكْتُبْ .

(جدید فقهي مسایل ص ۱۹۱ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۴۰ / درالمختار وردالمحتار ج ۲ ص ۴۶۵ کتاب الطلاق رشیدیه)

دنابالغه یعني کوچني هلک طلاق واقع کیږي که یا ؟

سوال ۵ : دداسي هلک طلاق و ماینې ته ورکول چي تراوسه لابلوغ ته نه وي رسېدلی واقع کیږي که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي دکوچني یعني نابالغه طلاق شرعا نه واقع کیږي .

وفی الهداية شرح بداية المبتدی : لايقع طلاق الصبی والمجنون والنائم وهكذا فی الدرالمختار وردالمحتار والفتاوی الهندية .

(الهداية كتاب الطلاق ج ۲ ص ۳۳۷ / فتاوی دارالعلوم ديو بند ج ۹ ص ۵۱ كتاب الطلاق)

ایا ښځه وخپل خاوند ته طلاق ورکولای سي ؟

سوال ۶ : اي ښځه دا اختيار په شريعت کښې لري چي وخپل خاوند طلاق ورکړي ؟

جواب : په شريعت مقدسه کښې د طلاق مالک او اختيارمند سړي دي نه ښځي لهذا که چيري يوې ښځي وخپل خاوند ته داسي وويل چي زه نوره ستا ښځه نه يم ياته پرما طلاق يې په دې سره طلاق نه واقع کيږي .

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ سَيِّدِي زَوَّجَنِي أَمَتَهُ، وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنِي وَبَيْنَهَا، قَالَ: فَصَعِدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنْبَرَ، فَقَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، مَا بَالُ أَحَدِكُمْ يُزَوِّجُ عَبْدَهُ أَمَتَهُ، ثُمَّ يُرِيدُ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَهُمَا، إِنَّمَا الطَّلَاقُ لِمَنْ أَخَذَ بِالسَّاقِ»رواه ابن ماجة

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فی الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (لَا يَقَعُ طَلَاقُ الْمَوْلَى عَلَى امْرَأَةِ عَبْدِهِ) لِحَدِيثِ ابْنِ مَاجَهْ «الطَّلَاقُ لِمَنْ أَخَذَ بِالسَّاقِ» إلَّا إذَا قَالَ زَوَّجْتهَا مِنْك عَلَى أَنَّ أَمْرَهَا بِيَدِي أُطَلِّقُهَا كَمَا شِئْت فَقَالَ الْعَبْدُ: قَبِلْت، وَكَذَا إذَا قَالَ الْعَبْدُ: إذَا تَزَوَّجْتهَا فَأَمْرُهَا بِيَدِك أَبَدًا كَانَ كَذَلِكَ خَانِيَّةٌ –

(الدرالمختار مع ردالمحتار كتاب الطلاق ج ۲ ص ۴۶۲ رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۹ص ۱۰۳ كتاب الطلاق /ابن ماجة ج ۱ ص ۶۷۲ باب طلاق العبد)

که تا دغه ډوډۍ تيره کړه نو ته پرما باندي طلاقه يې .

سوال ۷ : يو کس وخپلي ښځي ته وويل که چيري تا دغه ډوډۍ تيره کړه نو ته پرما باندي طلاقه يې که چيري دغه ښځه دغه ډوډۍ تيره کړي نو طلاقيږي که يا ؟ .

جواب : داسي طلاق ته دفقهاوو په اصطلاح کښې طلاق معلق وايي د دې حکم دادی چي که چيري هغه شرط موجود سي نو طلاق واقع کيږي لهذا که چيري دغې ښځي داډوډۍ وخوړه نو يو طلاق باندي واقع کيږي .

وفی الهداية شرح بداية المبتدي : وإذا أضافه إلى شرط وقع عقيب الشرط مثل أن يقول

لامرأته إن دخلت الدار فأنت طالق " وهذا بالاتفاق لأن الملك قائم في الحال والظاهر بقاؤه إلى وقت وجود الشرط فيصح يمينا أو إيقاعا " ولا تصح إضافة الطلاق إلا أن يكون الحالف مالكا أو يضيفه إلى ملك " لأن الجزاء لا بد أن يكون ظاهرا ليكون مخيفا فيتحقق معنى اليمين وهو القوة والظهور بأحد هذين والإضافة إلى سبب الملك بمنزلة الإضافة إليه لأنه ظاهر عند سببه "

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۵۹۳ کتاب الطلاق باب التعليق مکتبه امداديه ملتان / الهداية ج ۲ ص ۳۶۴ باب الايمان في الطلاق)

دټولي دنيا ښځي پر ده باندي طلاقي دي .

سوال ۸ : که چيري يو کس داسي ووايي چي دټولي دنيا ښځي پرده باندي طلاقي دي نو بيا دده نکاح ديوې ښځي سره صحيح کيږي که يا ؟

جواب : په داسي ويلو سره پر دغه کس باندي هيڅ ښځه هم نه طلاقيږي ځکه چي تعين دلته نسته چي دغه ښځه يا ددغه کور ښځي او کومو ښځو ته چي ده نسبت دطلاق کړی دی هغه تر اوسه دده په نکاح کښې راغلي هم نه دي . لهذا دغه کس دهري ښځي سره چي وغواړي نکاح کولای سي .

وفی الدرالمختار : قَالَ: نِسَاءُ الدُّنْيَا أَوْ نِسَاءُ الْعَالَمِ طَوَالِقُ لَمْ تَطْلُقْ امْرَأَتُهُ، بِخِلَافِ نِسَاءِ الْمَحَلَّةِ وَالدَّارِ وَالْبَيْتِ:

وفی بذال المجهود : ان النبی صلی الله علیه وسلم قال : لا طلاق الا فیما تملک ولا عتق الا فیما تملک . وهم منقول عن علی وابن عباس وعائشة رضي الله تعالی عنهم . ومذهبنا انه اذا اضاف الطلاق الی سببية الملک صح کما اذا قال لاجنبية : ان نکحتک فانت طالق فاذا وقع النکاح وقع الطلاق .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۲۹۴ مکتبه شامله / بذل المجهود في حل ابي داود ج ۴ ص ۶۵ باب في الطلاق قبل النكاح / تبيين الحقائق ج ۳ ص ۱۰۹ کتاب الطلاق باب التعليق بيروت چاپ / النهر الفائق ج ۲ ص ۳۸۵ کتاب الطلاق / فتاوی محموديه ج ۱۲ ص ۲۵۵ باب وقوع الطلاق / فتاوی هاديه ج ۲ ص ۴۸۸ مکتبه حقانيه)

خاوند دغصې په حالت کښې وخپلي ښځي ته وويل چي زما دکوره وزه .

سوال ۹ : که چيري خاوند وښځي ته دغصې او جګړې په حالت کښې ووايي چي ځه زما دکوره ووزه نو په دغه الفاظو سره پر ښځي باندي کوم طلاق واقع کيږي ؟

جواب : دغه الفاظو ته دشريعت په اصطلاح کښې دکنايي طلاق الفاظ ويل کيږي. دنيت او دلالت حال (دجګړې حالت) څخه پرته طلاق نه واقع کيږي . خو بيا هم دجنګ او جګړې په حالت کښې لکه څرنګه چي دلالت حال موجود دی ددې دپاره پر ښځي باندي طلاق بائن واقع کيږي کوم چي دنکاح په نوي کولو سره بېرته له منځه ځي .

قال العلامة التمرتاشى رحمه الله تعالى : اخرجي ، واذهبى ، قومي ...... ففي حالة الرضاتتوقف الاقسام على نية .....

وقال العلامة قاضي خان رحمه الله تعالى : اخرجي ، واذهبى ، قومي .... لايقع الطلاق الا بالنية واذا قال لم انوى الطلاق كان مصدقا الخ ..

(تنويرالابصار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۵۰۴ باب الكنايات / فتاوى قاضيخان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۴۸۶ فصل في الكنايات والمدلولات / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۷۵ الفصل الخامس فيي الكنايات / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۵۶ كتاب الطلاق)

يو چا خپل کور والا ته وويل که زماتر کور ووتې پرماحرامه يي .

سوال ۱۰ : که چيري يو کس خپلي ښځي ته وويل که زما بېله اجازې زما ترکور ووتې اودمور اوپلار کره ولاړې نوپرما حرامه يي په دغه صورت کښي طلاق واقع کيږي که يا ؟

جواب: په دغه صورت کښې که ښځه ددغه سړي دپلار کره ولاړه نوپر خاوند حراميږي اوطلاق باين ورته واقع کيږي خاوند ته په کار ده چي په نوي مهر دوهم وار نکاح ورسره وکړي.

لما فى الفتاوى الهندية : وإذا أضافه إلى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقا مثل أن يقول لامرأته: إن دخلت الدار فأنت طالق

(الفتاوي الهندية ج ۱ ص ۴۲۰ الفصل الثالث في تعليق الطلاق بكلمة إن وإذا وغيرهما رشيديه / فتاوای دارالعلوم ديوبند ج۱۰ ص ۶۴ كتاب الطلاق رشيديه / البحر الرائق ج ۴ ص ۵ رشيديه / خلاصة الفتاوی ج ۲ ص ۱۶۹ / فتاوی محموديه ج ۱۳ ص ۲۴ مكتبة الفاروق اردو / الهداية ج ۲ ص ۳۸۵)

يوازي دزړه په وسوسې سره طلاق واقع كيږي كه يا ؟

سوال ۱۱: يو كس صرف په زړه كښي تصور د طلاق وكې په خوله يې تلفظ نه دی په كړی نه كرا رنه په زوره ايا صرف دزړه په تصور او خيال سره طلاق واقع كيږي كه يا ؟

جواب: طلاق كه چيري صرف دزړه په تصور او خيال سره وي او په ژبه يې تلفظ نوي په كړی نه كرار او نه هم په زوره نو طلاق نه واقع كيږي ترڅو چي الفاظ د طلاق په خوله سره ونه وايي او نه هم تجديد د نكاح غواړي ځكه په مسلم شريف كښي حديث دی نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي چي بېشكه الله پاک زما وامت ته ترهغه څه ورتيريږي چي د دوی په نفسو كښي راپيدا سي ترهغه وخته چي دوی عمل يا تكلم نه وي په كړی نو ددې حديث شريف څخه دا معلومه سوه چي محض دزړه په تصور يا خيال راتلو سره طلاق نه واقع كيږي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ تَجَاوَزَ لِأُمَّتِي عَمَّا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا، مَا لَمْ تَعْمَلْ، أَوْ تَكَلَّمْ بِهِ»الحديث

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(قَوْلُهُ وَرُكْنُهُ لَفْظٌ مَخْصُوصٌ) هُوَ مَا جُعِلَ دَلَالَةً عَلَى مَعْنَى الطَّلَاقِ مِنْ صَرِيحٍ أَوْ كِنَايَةٍ... وَبِهِ ظَهَرَ أَنَّ مَنْ تَشَاجَرَ مَعَ زَوْجَتِهِ فَأَعْطَاهَا ثَلَاثَةَ أَحْجَارٍ يَنْوِي الطَّلَاقَ وَلَمْ يَذْكُرْ لَفْظًا لَا صَرِيحًا وَلَا كِنَايَةً لَا يَقَعُ عَلَيْهِ كَمَا أَفْتَى بِهِ الْخَيْرُ الرَّمْلِيُّ وَغَيْرُهُ،

(الصحيح لمسلم ج ۱ ص ۷۸ كتاب الايمان قدمي چاپ/ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۳ ص ۲۳۰ كتاب الطلاق سعيد چاپ/مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ص ۲۱۹ كتاب الصلوة قدمي چاپ/كفايت المفتي ج ۷ ص ۵۶۹ الفصل الثاني فيمن لايقع طلاقه /فتاوی فريديه ج ۵ ص ۲۵۲ كتاب الطلاق)

درې طلاقه دمخه ترواده كولو وښځي ته وركول څنګه دي ؟

سوال ۱۲: که چیري یو سړی وخپلي ښځي ته دنکاح څخه وروسته او ددخول څخه مخکي طلاق ورکړی او دطلاق ورکولو وروسته یې بیا دنکاح کولو خواهش وي نوپه داسي صورت کښي هغه ته څه کول پکار دي؟

جواب: دطلاق دواقع کېدو لپاره دنکاح ملک ضروري دی نوله دې وجهي له دخول څخه مخکښي هم دطلاق دوقوع لپاره کومه مانع نسته لېکن که چیري یې درې طلاقونه متفرق یعني جلا جلا ورکړي وي اویا یې یوازي یو طلاق ورکړی وي نوپه دغو دواړوصورتوکښي منکوحه مطلقه ګرځي یعني طلاقه ده خوبیا دښځي توب او خاوند توب لپاره یوائي تجدید دنکاح کافي ده اوکه یې پریوه ځای درې طلاقونه ورکړي وي نوبیا منکوحه مطلقه مغلظه ګرځي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :قَالَ لِزَوْجَتِهِ غَيْرِ الْمَدْخُولِ بِهَا أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًاوَقَعْنَ وَإِنْ فَرَّقَ بَانَتْ بِالْأُولَى وَلَمْ تَقَعْ الثَّانِيَةُ بِخِلَافِ الْمَوْطُوءَةِ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۲ ص ۴۹۲ كتاب الطلاق باب طلاق غير مدخول بها سعيدچاپ/فتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۷۳ كتاب الطلاق الفصل الرابع في الطلاق قبل الدخول رشيديه /الهداية علي صدر فتح القدير ج ۳ ص ۳۹۱ كتاب الطلاق فصل في التشبيه الطلاق ووصفه رشيديه/فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۴۹ كتاب الطلاق /فتاوى فريديه ج ۵ ص ۳۰۲ كتاب الطلاق / كفايت المفتي ج ۷ ص ۵۳۵ كتاب الطلاق)

که څوک په خوله طلاق ووايي خو په زړه کي يې طلاق نه وي ؟

سوال ۱۳: که چیري یو شخص خپلي ښځي ته دطلاق الفاظ ووایي خوپه زړه کي یې دطلاق اراده نه وي نو په دې صورت کي طلاق واقع کیږي که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي څه وخت دطلاق صریح الفاظ ذکر سي نوپه دې کي دزړه ارادې اونیت لره اعتبار نسته نولهذا که څوک په خوله دطلاق الفاظ ووایي هغه طلاق واقع کیږي .

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَالْحَاصِلُ أَنَّ قَوْلَهُمْ الصَّرِيحُ لَا يَحْتَاجُ إلَى النِّيَّةِ إنَّمَا هُوَ فِي الْقَضَاءِ أَمَّا فِي الدِّيَانَةِ فَمُحْتَاجٌ إلَيْهَا لَكِنَّ وُقُوعَهُ فِي الْقَضَاءِ بِلَا نِيَّةٍ إنَّمَا هُوَ بِشَرْطِ أَنْ يَقْصِدَهَا بِالْخِطَابِ. . . إلَخْ هَذَا، وَفِي الْقُنْيَةِ عَنْ الْمُحِيطِ رَجُلٌ دَعَتْهُ جَمَاعَةٌ إلَى شُرْبِ الْخَمْرِ فَقَالَ إنِّي حَلَفْت بِالطَّلَاقِ أَنِّي لَا أَشْرَبُ وَكَانَ كَاذِبًا فِيهِ ثُمَّ شَرِبَ طَلُقَتْ، وَقَالَ صَاحِبُ التُّحْفَةِ لَا تَطْلُقُ دِيَانَةً اهـ.

(البحرالرائق ج ۳ ص ۴۵۰ مکتبه رشيديه / ردالمحتار ج ۲ ص ۴۶۶ مکتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ص ۳۵۳ مکتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۹ ص ۴۲ پښتو / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۳۶ پښتو)

ايا د زور طلاق واقع کيږي که يا ؟

سوال ۱۴ : که چيرې پريو شخص باندې د نورو خلکو له خوا جبر او زور راسي او د دغه زور په خاطر نوموړی شخص خپلې ښځې ته طلاق ورکړي نو په دغه صورت دغه د زور طلاق واقع کيږي که يا ؟

جواب : د امام ابو حنيفه رحمه الله په مذهب کې د هغه چا طلاق چې په زور او جبر سره يې ياد کې واقع کيږي نو لهذا د دغه شخص طلاق شرعا واقع دی . البته که چيرې دغه مُکرِه کس ظالم وو نو په دې باره کې فقهاء کرام څه نظر لري خصوصا د مجاهدينو په اړه باندې .

لماقال الامام علاءالدين الحصكفي رحمه الله في الدرمختار : (وَيَقَعُ طَلَاقُ كُلِّ زَوْجٍ بَالِغٍ عَاقِلٍ) وَلَوْ تَقْدِيرًا بَدَائِعُ، لِيَدْخُلَ السَّكْرَانُ (وَلَوْ عَبْدًا أَوْ مُكْرَهًا) فَإِنَّ طَلَاقَهُ صَحِيحٌ لَا إقْرَارَهُ بِالطَّلَاقِ

ولماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله فى البحر : قَوْلُهُ: (وَلَوْ مُكْرَهًا) أَيْ وَلَوْ كَانَ الزَّوْجُ مُكْرَهًا عَلَى إنْشَاءِ الطَّلَاقِ لَفْظًا خِلَافًا لِلْأَئِمَّةِ الثَّلَاثَةِ لِحَدِيثِ: «رُفِعَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأُ، وَالنِّسْيَانُ وَمَا اُسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ» وَلَنَا مَا أَخْرَجَهُ الْحَاكِمُ وَصَحَّحَهُ «ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ» كَمَا قَدَّمْنَاهُ وَمَا رَوَوْهُ مِنْ بَابِ الْمُقْتَضَى وَلَا عُمُومَ لَهُ فَلَا يَجُوزُ تَقْدِيرُ الْحُكْمِ الشَّامِلِ لِحُكْمِ الدُّنْيَا، وَالْآخِرَةِ بَلْ إمَّا حُكْمُ الدُّنْيَا وَإِمَّا حُكْمُ الْآخِرَةِ، وَالْإِجْمَاعُ عَلَى أَنَّ حُكْمَ الْآخِرَةِ وَهُوَ

الْمُؤَاخَذَةُ مُرَادُ فَلَا يُرَادُ الْآخِرَةُ مَعَهُ وَإِلَّا يَلْزَمُ عُمُومُهُ أَطْلَقَهُ فَشَمِلَ مَا إِذَا أُكْرِهَ عَلَى التَّوْكِيلِ بِالطَّلَاقِ فَوَكَّلَ فَطَلَّقَ الْوَكِيلُ فَإِنَّهُ يَقَعُ.

(الدرمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵۶ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۳ ص ۴۲۸ مکتبه رشيديه / الفتاوى الهنديه ج ۱ ص ۳۵۳ مکتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ۱۲ ص ۲۲۵ اردو / کفايت المفتي ج ۷ ص ۵۵۴ اردو / فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۳۶ پښتو)

که څوک خپل ورور ته د خپلې ښځې د طلاق اختيار ورکړي څنګه دی ؟

سوال ۱۵ : يو شخص خپل مشر ورور ته اختيار ورکړ چې زما ښځې خديجې ته طلاق ورکول او نه ورکول ستا په اختيار کښې دي که يې ورکوې که يې نه ورکوې مشر ورور يې را ولاړ سو دستي يې طلاق ورکړ ايا دغه طلاق واقع سو که يا ؟

جواب: په دغه ذکر سوي صورت کښې طلاق واقع سو . کذا في الکتب الفقه

و فی الفتاوی الهندية : ولو قال أمر امرأتي بيد فلان شهرا فهو على الشهر الذي يليه ويبطل بمضيه بلا علم كذا في الكافي.

(الفتاواي الهندية ج ۱ ص ۳۹۲ الفصل الثاني في الامر باليد رشيديه / فتاوای دار العلوم ديوبند ج ۱۰ ص ۶۷ کتاب الطلاق رشيديه / خلاصة الفتاوی ج ۲ ص ۸۹ / ردالمحتار مع الدر المختار ج ۲ ص ۵۱۷ رشيديه / الهداية ج ۲ ص ۱۹۱ / فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۷۲ باب الطلاق)

که څوک په خوله طلاق ووايي خو په زړه کې يې طلاق نه وي ؟

سوال ۱۶ : که چيرې يو شخص خپلې ښځې ته د طلاق الفاظ ووايي خو په زړه کې يې د طلاق اراده نه وي نو په دې صورت کې طلاق واقع کيږي که يا ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي چې څه وخت د طلاق صريح الفاظ ذکر سي نو په دې کې د زړه ارادې او نيت لره اعتبار نسته نو لهذا که څوک په خوله د طلاق الفاظ ووايي هغه طلاق واقع کيږي .

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَالْحَاصِلُ أَنَّ قَوْلَهُمْ الصَّرِيحُ لَا يَحْتَاجُ إِلَى النِّيَّةِ إِنَّمَا هُوَ فِي الْقَضَاءِ أَمَّا فِي الدِّيَانَةِ فَمُحْتَاجٌ إِلَيْهَا لَكِنَّ وُقُوعَهُ فِي الْقَضَاءِ بِلَا نِيَّةٍ إِنَّمَا هُوَ بِشَرْطِ أَنْ يَقْصِدَهَا بِالْخِطَابِ. . . إلَخْ هَذَا، وَفِي الْقُنْيَةِ عَنْ الْمُحِيطِ

رَجُلٌ دَعَتْهُ جَمَاعَةٌ إِلَى شُرْبِ الْخَمْرِ فَقَالَ إِنِّي حَلَفْت بِالطَّلَاقِ أَنِّي لَا أَشْرَبُ وَكَانَ كَاذِبًا فِيهِ ثُمَّ شَرِبَ طَلُقَتْ، وَقَالَ صَاحِبُ التُّحْفَةِ لَا تَطْلُقُ دِيَانَةً اهـ.

(البحرالرائق ج ۳ ص ۴۵۰ مکتبه رشيديه / ردالمحتار ج ۲ ص ۴۶۶ مکتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ص ۳۵۳ مکتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۹ ص ۴۲ پښتو / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۳۶ پښتو)

ښځه په کوم صورت کښي دطلاق غوښتنه کولاي سي ؟

سوال ۱۷: ښځه په کوم صورت کښې د طلاق غوښتنه د خپل خاوند څخه کولای سي ایا شریعت کومه اندازه ورته بیان کړېده؟

جواب: که چیري د میړه او ماینې په مېنځ کښې بي اتفاقي وي او هیڅ یو صورت داتفاق نه وي او حقوق د طرفینو څخه نه سي اداء کیدلای نو شرعاً ښځه د طلاق غوښتنه کولای سي ورسته تر غوښتني په طلاق ورکولو کښې د ښځي هیڅ اختیار نسته خاوند ته اختیار دی چي هغه طلاق ورکوي یا یي نه ورکوي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: (ولا بأس به عند الحاجة) للشقاق بعدم الوفاق (بما يصلح للمهر)

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار: للشقاق) أي لوجود الشقاق وهو الاختلاف والتخاصم. وفي القهستاني عن شرح الطحاوي: السنة إذا وقع بين الزوجين اختلاف أن يجتمع أهلهما ليصلحوا بينهما، فإن لم يصطلحا جاز الطلاق والخلع. اهـ. ط، وهذا هو الحكم المذكور في الآية. وان خفتم شقاق بينهما فابعثوا حكما من اهله وحكما من اهلهاان يريدا اصلاحا يوفق الله بينهما.سورة النساء

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۳ص ۴۴۱ باب الخلع مكتبه شامله / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۹ ص ۳۵ كتاب الطلاق رشيديه)

په زړه کي وخپلي ښځي ته په طلاق ورکولو سره طلاق نه واقع کيږي

سوال ۱۸: یو کس د خپل ژوند او ګذارې څخه ډیر په تنګ سویو ورځ یي دا خیال په زړه کښې ورغی چي زما حال د فقیری دی ما وا ده څه کوی په زړه کي یې دا خیال

وربیداسو چي ما خپلي ښځي ته دري طلاقه ورکړي دي لیکن په ژبه یې هیڅ یوه خبره هم نه ده کړې ایا په دغه صورت سره طلاق واقع سو که یا؟

جواب: په صحیح حدیث شریف کښې راغلي دي چي الله جل جلاله عفوه او درګذر کړیدی زما امت ته دهغه وسوسو چي ددوی په زړونو کښې راځي ترڅه وخته چي یې په عمل کښې نه وي راوړي یایي خبره نه وې په کړي: (الحدیث) ددې حدیث څخه معلومه سوه چي په دغه صورت کښي طلاق نه دی واقع پردغه ښځه باندي.

عن أبي هريرة، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن الله عز وجل تجاوز لأمتي عما حدثت به أنفسها، ما لم تعمل، أو تكلم به»

لما قال العلامة ابن النجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى فى البحر الرائق شرح كنز الدقائق : فقد افاد ان ركنه اي الطلاق اللفظ الدال علي ازالت المحلية.

(البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج ۳ ص ۲۵۲ كتاب الطلاق رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۹ ص ۳۶ كتاب الطلاق رشيديه / كفايت المفتي ج ۷ ص ۵۶۹ مكتبة الفاروق اردو / فتاوى فريديه ج ۵ ص ۲۵۲ صحيح مسلم شريف ج ۱ ص ۱۱۶ باب تجاوز الله عن حديث النفس والخواطر بالقلب، إذا لم تستقر مكتبه شامله)

د درد او قهر په حالت کښي طلاق ورکول

سوال ۱۹: که چیري یو کس په دومره درد وقهراوغضب سي چي دده په ظاهري اقوالو اوافعالو کښي لیونتوب راپیداسي هیڅ په ځان نه پوهیږي اوبي حواسه ګڼل کیږي خپل ښځي ته طلاق وکړي دده طلاق صحیح کیږي که یا؟

جواب: چي ددغه کس دظاهري اقوالوا وافعالو څخه دده دبیهوښۍ اولیونتوب اثرات معلوم سي چي لېوني دی په سد کي نه دی نوښکاره خبره ده چي دده دطلاق دواقع کیدو حکم به نه کیږي او چي داسي وي صرف دبیهوښۍ دعوه کوي او په حقیقت کې بېهوښه او بېحواسه نه وي نو بیادده قول نه دی معتبر طلاق به واقع کیږي کذا في الشامي.

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار:قلت: وللحافظ ابن القيم الحنبلي رسالة في طلاق الغضبان قال فيها: إنه على ثلاثة أقسام:

أحدها أن يحصل له مبادئ الغضب بحيث لا يتغير عقله ويعلم ما يقول ويقصده، وهذا لا إشكال فيه. والثاني أن يبلغ النهاية فلا يعلم ما يقول ولا يريده، فهذا لا ريب أنه لا ينفذ شيء من أقواله.

الثالث من توسط بين المرتبتين بحيث لم يصر كالمجنون فهذا محل النظر، والأدلة على عدم نفوذ أقواله. اهـ. ملخصا من شرح الغاية الحنبلية، لكن أشار في الغاية إلى مخالفته في الثالث حيث قال: ويقع الطلاق من غضب خلافا لابن القيم اهـ وهذا الموافق عندنا لما مر في المدهوش

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ص ۲۴۴ کتاب الطلاق مطلب في تعريف السكران وحكمه/ فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۵۳ کتاب الطلاق رشیدیه /فتح القدیر ج ۳ ص ۳۴۳ رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۳۰۹ کتاب الطلاق مکتبة الفاروق اردو)

په طلاق کې د ط پرځاي ت ويل يعني تلاق يا د ق پرځاي ک ويل يعني طلاک.

سوال ۲۰: که یو کس دلفظ طلاق پر ځاي تلاق وو ايي یعني د (ط) پرځای (ت) وو ايي یا د (ق) پرځای (ک) وو ايي ايا طلاق واقع کيږي که يا ؟

جواب: په دي کښې هيڅ فرق نسته که طلاق وو ايي که تلاق وو ايي که طلاک وو ايي طلاق په دي ټولو صورتونو کښې واقع کيږي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار:ويقع الطلاق بهذاه الالفاظ ومابمعناها من الصريح ويدخل نحو طلاق وطلاق وطلاغ وطلاع وطلاك او طّ ق بلافرق بين عالم وجاهل وان قال تعمدتة تخويفاً لم يصدق قضاءً.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ص ۴۶۶ ، ۴۶۷ کتاب الطلاق باب صريح الطلاق رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۵۰ کتاب الطلاق رشیدیه /الفتاوی الهندیة ج ۱ص ۳۴۹ رشیدیه / فتاوی دارالعلوم زکریا ج ۴ ص ۱۱۲ کتاب الطلاق / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۳۳ کتاب الطلاق)

د حيض په حالت کښې طلاق واقع کيږي که يا؟

سوال ۲۱: که چيري يو شخص د حيض په حالت کښې وخپلي ښځي ته طلاق ورکړي طلاق واقع کيږي شرعاً که يا ؟

جواب: د حیض په حالت کښې چې ښځې ته طلاق ورکړه سي هغه طلاق واقع کیږي لیکن رجوع ورته کول خپلې ښځې ته واجب ده.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: أو) واحدة في (حيض موطوء.....(وتجب رجعتها) على الأصح (فيه) أي في الحيض رفعا للمعصية

(الدرالمختار علي ردالمحتار ج ۳ ص ۲۳۳ باب رکن الطلاق مکتبه شامله / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۴۴ کتاب الطلاق رشیدیه /الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۴۹ رشیدیه / فتح القدیر ج ۳ ص ۳۲۹ رشیدیه / فتاوی دارالعلوم زکریا ج ۴ ص ۱۱۲ کتاب الطلاق اردو / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۳۳ کتاب الطلاق)

ایا د لیکلو په طلاق سره هم طلاق واقع کیږي ؟

سوال ۲۲: که چیري یو کس وخپلې ښځې ته په خط کښې لیکلی طلاق راواستوي مثلاً په خطه کښې لیکلي دي چې ما خپل دغه ښځه طلاقه کړې ده ایا دغه د لیکلو طلاق په شریعت کښې معتبر دي که یا؟

جواب: د لیکلو طلاق چې تحریري طلاق یي بولي دا هم واقع کیږي شرعاً که یي خپله ولیکي او که یي په بل ولیکي فرق نه کوي په دي سره هم طلاق واقع کیږي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار: كتب الطلاق ان مستبيناً علي نحولوح وقع ان نوي وقيل مطلقاً

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار: لوقال لكاتب اكتب طلاق امراتي كان اقرارً بالطلاق وان لم يكتب

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ص ۴۶۵ کتاب الطلاق رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۴۱ کتاب الطلاق رشیدیه /الفتاوی الهندیة ج ۱ص ۳۷۹ رشیدیه /فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۴۰ کتاب الطلاق)

ښځه چې دشریعت تابع نه وي طلاق ورکول څنګه دی ؟

سوال ۲۴: که چیري یوه ښځه د هرقسم پند او نصیحت باوجود خپل اخلاق درست نه کړي او کفري او شرکي رسمونه او خبري نه پریږدي او خاوند د دې بیا د شریعت متبع او پابنده دی او دی په دغه اخلاقو د ښځي ډیر په تکلیف دی ایا طلاق ورکړي؟

جواب: وداسي ښځي ته په دغه صورت کښې طلاق ورکول واجب نه دی لیکن که طلاق ورکړه سي نوصحیح دی اوبهتره داده چي خاوند نصیحت ورته وکړي اوطلاق ورنه کړي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار : وفي آخر حظر المجتبى لا يجب على الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفاجر إلا إذا خافا أن لا يقيما حدود الله فلا بأس أن يتفرقا .... وقولهم الأصل فيه الحظر، معناه أن الشارع ترك هذا الأصل فأباحه بل يستحب لو مؤذية أو تاركة صلاة غاية، ومفاده أن لا إثم بمعاشرة من لا تصلي

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار جلد ۳ ص ۵۰ ، ۲۲۸ کتاب الطلاق فروع طلق امرأته تطليقتين ولها منه لبن فاعتدت فنكحت صغيرا فأرضعته فحرمت عليه فنكحت آخر فدخل بها مكتبه شامله / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۳۷ کتاب الطلاق رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج۵ ص ۳۷۲ رشیدیه / فتاوی اللکنوي ص ۱۶۳ / فتاوی محمودیه ج ۱۲ ۱۶۵ باب الطلاق مکتبة الفاروق اردو)

که چا وویل د نړۍ ټولي ښځي زما مندي دي

سوال۲۵: یو کس یو وار داسي خبره وکړي چي دد نیا ټولي ښځي زما مندي دي ا یا دغه کس د کومي میرمني یا ښځي سره نکاح کولا ي سي که یا؟

جواب: دغسي وینا شرعاً لغو اوبې معنی ده د کومي میرمني سره چي یې نکاح زړه غواړي کولای یې سي ماسوا د محرماتو څخه.

لما في تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق : (إنَّمَا يَصِحُّ فِي الْمِلْكِ كَقَوْلِهِ لِمَنْكُوحَتِهِ إنْ زُرْت فَأَنْتِ طَالِقٌ أَوْ مُضَافًا إلَيْهِ) أَيْ إلَى الْمِلْكِ (كَإِنْ نَكَحْتُك فَأَنْتِ طَالِقٌ فَيَقَعُ بَعْدَهُ) أَيْ يَقَعُ الطَّلَاقُ بَعْدَ وُجُودِ الشَّرْطِ وَهُوَ الزِّيَارَةُ فِي الْأَوَّلِ وَالنِّكَاحُ فِي الثَّانِي.

(تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ۳ ص ۱۰۹ کتاب الطلاق ، باب التعلیق بیروت چاپ / دارالعلوم دیوبند ج۱۰ ص ۱۱۴ کتاب طلاق رشیدیه / النهر الفائق ج ۲ ص ۳۸۵ / ۳۸۶ کتاب الطلاق ، باب التعليق رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۲۵۴ باب وقوع الطلاق وعدم وقوعه مکتبة الفاروق)

د نا بالغ هلک پېغله ښځه بل ځای واده کولای سي که یا؟

سوال ۲۶: د زید ښځه د یوه کال څخه پیغله ده او زید کوچنی دی دوه کاله نورهم د بلوغ امید نسته. پوښتنه دا ده که چیري دزید پر ځای باندي دهغه پلار، یاورور، یا اکا دزید وښځي ته طلاق ورکړي صحیح دی که یا؟

جواب: دغه ښځه به شرعاً د زید تر بلوغ پوري انتظار کوي نه یې د اکا طلاق ورکول شرعاً معتبر دی د زید له طرفه او نه خپله د زید طلاق معتبر دی ځکه چي زید نا بالغه دی. کما وردفي الحدیث الطلاق لمن اخذ بالساق.

حدیث شریف دی چي د طلاق اعتبار او اختیار تر بلوغ پوري دی یعني چي بلوغ ته نه وي رسیدلي د طلاق اختیار نه لري.

عن ابن عباس، قال: أتى النبي صلى الله عليه وسلم رجل، فقال: يا رسول الله، إن سيدي زوجني أمته، وهو يريد أن يفرق بيني وبينها، قال: فصعد رسول الله صلى الله عليه وسلم المنبر، فقال: «يا أيها الناس، ما بال أحدكم يزوج عبده أمته، ثم يريد أن يفرق بينهما، إنما الطلاق لمن أخذ بالساق»

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار باب الكفآءة ج ۲ ص ۳۴۵ رشيديه / سنن ابن ماجة ج ۱ ص ۶۷۲ باب طلاق العبد مكتبه شامله / شرح سنن ابن ماجة للسيوطي ج ۱ ص ۱۵۱ / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۶ ص ۳۹۶ رشيديه / نيل الاوطار ج۶ ص ۲۸۲ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۱۰ ص ۱۱۴ کتاب طلاق رشیدیه)

یو کس بل کس دطلاق وکیل جوړ کړی اوهغه وکیل درې طلاقه دده ښځي ته ورکړه

سوال ۲۷: یو کس خپل د طلاق ورکولو وکیل بل کس جوړ کړی هغه وکیل راولاړسو دده ښځي ته یې درې طلاقه ورکړه اوس دښځي خاوند وایي چي ماخو دی دیوه طلاق وکیل جوړ کړی وو او ده درې طلاقه ورکړه په دغه صورت کښې د شریعت څه حکم دی؟

جواب: په دغه صورت کښې د ښځي دخاوند قول معتبر دی نه دطلاق دوکیل قول اوبل دا چي دخاوند ظاهري الفاظ هم درجعي طلاق تقاضا کوي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار :

صريحه مالم يستعمل الا فيه كطلقتك بها الخ ..... واحدة رجعية وان نوي خلا فيها.

(الدرالمختار علي ردالمحتار ج ۳ ص ۲۴۷ باب صريح الطلاق مكتبه شامله / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۱۰ ص ۱۰۸ كتاب الطلاق رشيديه /البحر الرائق ج ۳ ص ۴۴۵ رشيديه / تبيين الحقائق ج ۳ ص ۴۰ رشيديه)

زناكاري ښځي ته طلاق وركول ضروري دی كه يا؟

سوال ۲۸: كه ديو كس ميرمن زنا وكړي او ده هم دغي زنا څخه يې بچی پيدا سي نو طلاق وركول ضروري دی كه يا ؟

جواب: كه دغه ميرمن توبه گاره سي پر خپل دغه ناوړه او ناروا عمل باندي توبه وباسي نو طلاق وركول او له ځان څخه جلاكول يې ضروري نه دی نكاح يې دخپل سړي سره ثابته او قايمه پاته ده خرابه سوې نه ده . درمختار كښې راغلي دي چي دميړه پر ذمه وه فاجري ښځي ته طلاق وركول لازم نه دی .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار : وفي آخر حظر المجتبى لا يجب على الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفاجر إلا إذا خافا أن لا يقيما حدود الله فلا بأس أن يتفرقا.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار جلد ۳ ص ۵۰ فروع طلق امرأته تطليقتين ولها منه لبن فاعتدت فنكحت صغيرا فأرضعته فحرمت عليه فنكحت آخر فدخل بها مكتبه شامله / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۱۰ ص ۱۰۴ كتاب الطلاق رشيديه / الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۷۲ رشيديه / فتاوى اللكنوي ص ۱۶۳ / فتاوى محموديه ج ۱۲ ۱۶۵ باب الطلاق مكتبة الفاروق اردو)

وخپلي ښځي ته درې شگي اوډبري غورځول طلاق دی كه يا؟

سوال ۲۹: په يوې علاقه كښې دغه دوداو رواج دی چي دطلاق دوركړې پرمهال صرف دميرمني اوښځي پرلوري درې شگي او ډبري وغورځوي په ژبه هيڅ نه وايي ايا فقط په دغه شگو ورغورځولو سره طلاق واقع كيږي كه يا ؟

جواب: فقط په شگو اوډبرو ورغورځولو سره طلاق نه واقع كيږي ترڅه وخته چي يي الفاظ دطلاق صراحةً او كنايةً په ژبه سره نه وي ويلي او څه وخت چي يې په الفاظو سره وويل بيا طلاق واقع كيږي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : وبه

ظهر ان من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلثة احجار ينوي الطلاق ولم يذكر لفظاً لاصريحا ولاكناية لايقع عليه.

(ردالمحتارعلي الدرالمختار جلد ۳ ص ۲۳۰ باب ركن الطلاق مكتبه شامله / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۱۰ ص ۱۰۱ كتاب الطلاق رشيديه /الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۵۷ رشيديه / فتح القدير ج ۳ ص ۳۸۷ رشيديه)

كه مي نفقه وخپلي ښځي ته ورنه كړه نودنكاح څخه وتلې او طلاقه ده

سوال۳۰: يو شخص وويل چي كه ما خپلي ښځي ته نفقه ورنه كړه نو دا بيا زما د نكاح څخه وتلې ده اوس او وه مياشتي تيري سوي دي چي ده يو ه دغنم دانه هم نه ده وركړې ايا دغه ښځه پر ده طلاقه ده كه يا ؟

جواب: فقهاء كرامو ليكلي دي چي په دغه صورت كښې يو طلاق باين واقع سو دده پر ښځي باندي لهذا دعدي ترختمېدو ورسته دبل چا په نكاح كيدلاى سي.

لما فى الفتاوى الهندية : وإذا أضافه إلى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقا مثل أن يقول لامرأته: إن دخلت الدار فأنت طالق

(الفتاواي الهندية ج ۱ ص ۴۲۰ الفصل الثالث في تعليق الطلاق بكلمة إن وإذا وغيرهما رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۱۰ ص ۸۸ كتاب الطلاق رشيديه / البحر الرائق ج ۴ ص ۵ رشيديه / خلاصة الفتاوى ج ۲ ص ۱۶۹ / فتاوى محموديه ج ۱۳ ص ۲۴ مكتبة الفاروق اردو / الهداية ج ۲ ص ۳۸۵)

يو چا خپلي ښځي ته د طلاق وويل خوانشاءالله يي هم وويل

سوال ۳۱: كه يو چا خپلي ښځي ته د طلاق وويل چي ته طلاقه يې خو انشاءالله يې متصل ورسره وويل طلاق واقع كيږي كه يا ؟

جواب : فقهاء كرامو ليكلي دي چي په دغه صورت كښې چي دغه كس لفظ دان شاء الله متصل ورسره وو ايه حكم دطلاق ساقط دى لهذا دغه ښځه پر ده نه ده طلاقه.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار : قال لها انت طالقٌ ان شاءالله تعالى متصلاً الخ ..... لايقع.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۵۵۲ باب التعليق ، مطلب مسائل الاستثناء والمشية مكتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۱۰ ص ۸۵ كتاب الطلاق رشيديه / الهداية ج ۲ ص ۳۶۸ /

تبيين الحقائق ج ۳ ص ۱۳۰ رشيديه / فتاوی محموديه ج ۱۳ ص ۱۱۳ باب الطلاق مكتبة الفاروق اردو)

كه مي فلانكي مړنه كي نوښځه دي راباندي طلاقه وي.

سوال ۳۲: زيد په خبرو كښې داسي وويل كه مي عمر مړ نه كړى نو زما ښځه دي په درو طلاقو راباندي طلاقه وي او داهم نه ده معلومه چي دده نيت څنګه ؤ او اوس دهغه كس پروژلو قدرت نه لري نو داسي طلاق واقع كيږي كه يا؟

جواب: په داسي قسم كي طلاق دژوند په اخرنۍ حصه كي واقع كيږي ځكه چي امكان سته چي ترمړيني مخكي داكارترسره سي په دغه شرط چي وخت اونښه يي نه وي معلومه كړې.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : حلف (ليأتينه) فهو أن يأتي منزله أو حانوته لقيه أم لا (فلو لم يأته حتى مات) أحدهما (حنث في آخر حياته) وكذا كل يمين مطلقة.

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : أي لا خصوصية للإتيان، بل كل فعل حلف أن يفعله في المستقبل وأطلقه ولم يقيده بوقت لم يحنث حتى يقع اليأس عن البر مثل ليضربن زيدا أو ليعطين فلانة أو ليطلقن زوجته وتحقق اليأس عن البر يكون بفوت أحدهما ولذا قال في غاية البيان: وأصل هذا الحالف في اليمين المطلقة لا يحنث ما دام الحالف والمحلوف عليه قائمين لتصور البر فإذا فات أحدهما فإنه يحنث. اهـ

(ردالمحتار مع الدرالمختار جلد ۳ ص ۷۵۷ فروع حلف لا يساكن فلانا فساكنه في عرصة دار مكتبه شامله / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۱۰ ص ۸۰ كتاب الطلاق رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۴۲۰ رشيديه / خلاصة الفتاوی ج ۲ ص ۱۶۹ / فتاوی محموديه ج ۱۳ ص ۲۵ كتاب الطلاق مكتبة الفاروق اردو)

باب الظهار

که چیري یو کس خپلي ماینې ته په خور سره ووایي .

سوال ۱ : که چیري یو کس وخپلي ښځي ته په خور سره ووایي چي ای خوري یا ته زما خوریې او نیت یې د طلاق نه وي بلکي د شفقت او ګرنوالي دوجي څخه ورته ووایې په دې سره خو به ظهار یا طلاق نه واقع کیږي ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي په داسي الفاظو سره نه ظهار واقع کیږي او نه هم طلاق واقع کیږي دا ځکه چي د ظهار د وقوع دپاره تشبیه لازمي ده او هغه دلته نیستي ده . د تشبیه معنی داده چي ددې (دخپلي ښځي) د یوې عضوې تشبیه دخپل محرماتو داعضاوو سره ورکول لکه داسي چي ووایي ته پر ما داسي یې لکه زما دخور شا یا زما دمور شا . او د طلاق دپاره دقهر او غصې وخت یا نیت د طلاق ضروري دی او هغه دلته نیستي دي . البته داسي الفاظ وخپلي ښځي ته ویل مکروه دي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وَيُكْرَهُ قَوْلُهُ أَنْتِ أُمِّي وَيَا ابْنَتِي وَيَا أُخْتِي وَنَحْوَهُ .... وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : جَزَمَ بِالْكَرَاهَةِ تَبَعًا لِلْبَحْرِ وَالنَّهْرِ وَالَّذِي فِي الْفَتْحِ: وَفِي أَنْتِ أُمِّي لَا يَكُونُ مُظَاهِرًا، وَيَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ مَكْرُوهًا، فَقَدْ صَرَّحُوا بِأَنَّ قَوْلَهُ لِزَوْجَتِهِ يَا أُخَيَّةُ مَكْرُوهٌ. وَفِيهِ حَدِيثٌ رَوَاهُ أَبُو دَاوُد «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ لِامْرَأَتِهِ يَا أُخَيَّةُ فَكَرِهَ ذَلِكَ وَنَهَى عَنْهُ» وَمَعْنَى النَّهْيِ قُرْبُهُ مِنْ لَفْظِ التَّشْبِيهِ، وَلَوْلَا هَذَا الْحَدِيثُ لَأَمْكَنَ أَنْ يُقَالَ هُوَ ظِهَارٌ لِأَنَّ التَّشْبِيهَ فِي أَنْتِ أُمِّي أَقْوَى مِنْهُ مَعَ ذِكْرِ الْأَدَاةِ، وَلَفْظُ " يَا أُخَيَّةُ " اسْتِعَارَةٌ بِلَا شَكٍّ، وَهِيَ مَبْنِيَّةٌ عَلَى التَّشْبِيهِ، لَكِنَّ الْحَدِيثَ أَفَادَ كَوْنَهُ لَيْسَ ظِهَارًا حَيْثُ لَمْ يُبَيِّنْ فِيهِ حُكْمًا سِوَى الْكَرَاهَةِ وَالنَّهْيِ، فَعُلِمَ أَنَّهُ لَا بُدَّ فِي كَوْنِهِ ظِهَارًا مِنْ التَّصْرِيحِ بِأَدَاةِ التَّشْبِيهِ شَرْعًا، وَمِثْلُهُ أَنْ يَقُولَ لَهَا يَا بِنْتِي، أَوْ يَا أُخْتِي وَنَحْوَهُ. اهـ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۴۷۰ باب الظهار مكتبه شامله بيروت چاپ / البحر الرائق ج ۴ ص ۱۶۵ باب الظهار مكتبه رشيديه / فتح القدير ج ۲ ص ۲۵۲ باب الظهار مصطفي البابي الحلبي

مصر چاپ / الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۱۶۶ الفصل الرابع والعشرون في مسائل الظهار مكتبه فاروقيه / تبيين الحقائق ج ۳ ص ۱۹۷ باب الظهار بيروت چاپ / فتاوى محموديه ج ۱۳ ص ۳۱۹ باب الظها را والايلاء مكتبه فاروقيه كراچي)

كتاب الايـمان والنـــذور

باب الايـمان

ماديو كار دنه كولو قسم كړی ؤ خوپه هېره هغه كار راڅخه وسو ؟

سوال ۱ : ما قسم كړی ؤ چي فلانكی كار به نه كوم خوپه هېره بيا هغه كار راڅخه وسو اوس پوښتنه دا ده چي دغه قسم چي ما په هېره مات كړی پردې باندي كفاره سته كه يا ؟

جواب : د حنفي فقهي په كتابونو كي راغلي دي چي كه يوڅا ديو كار دنه كولو قسم كړی ؤ بيا هغه كار په هېره ځني وسو نو دا شخص په دې قسم سره حانث كيږي حتى كه چيري د بې هوښۍ يا جنون په حالت كي هغه كار ځني وسي لاهم كفاره باندي لازميږي .

لماقال ابن عابدين شامي رحمه الله في ردالمحتار (قَوْلُهُ فِي الْيَمِينِ أَوْ الْحِنْثِ) مُتَعَلِّقٌ بِقَوْلِهِ وَلَوْ مُكْرَهًا أَوْ نَاسِيًا أَيْ سَوَاءٌ كَانَ الْإِكْرَاهُ أَوْ النِّسْيَانُ فِي نَفْسِ الْيَمِينِ وَقَدْ مَرَّ ، أَوْ فِي الْحِنْثِ بِأَنْ فَعَلَ مَا حَلَفَ عَلَيْهِ مُكْرَهًا أَوْ نَاسِيًا لِأَنَّ الْفِعْلَ شَرْطُ الْحِنْثِ وَهُوَ سَبَبُ الْكَفَّارَةِ وَالْفِعْلُ الْحَقِيقِيُّ لَا يَنْعَدِمُ بِالْإِكْرَاهِ وَالنِّسْيَانِ

وفي الهدايه : ومن فعل المحلوف عليه مكرها أو ناسيا فهو سواء لأن الفعل الحقيقي لا ينعدم بالإكراه وهو الشرط وكذا إذا فعله وهو مغمى عليه أو مجنون لتحقق الشرط حقيقة ولو كانت الحكمة رفع الذنب فالحكم يدار على دليله وهو الحنث لا على حقيقة الذنب

والله تعالى أعلم بالصواب

(ردالمحتار ج ۵ ص ۴۹۹ مكتبه رشيديه /فتاوى هنديه ج ۲ ص ۵۲ مكتبه رشيديه /الهدايه ج ۲ ص ۴۷۹ مكتبه شركة علميه ملتان /الفتاوى تاتارخانيه ج ۴ ص ۴۳۶ مكتبه ادارة القرءان كراچي/ كفايت المفتي ج ۹ ص ۱۲۴ كراچي /فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۸۱ / قاموس الفقه ج ۵ ص ۳۵۵ اوردو)

هرواري قسم واخلي مات يې کړي څومره كفارې غواړي.

سوال ۲ :يو كس څوواره قسم واخيستې اوڅوواره حانث سو اوس پوښتنه داده چي ډيرو قسمو لپاره يوه كفاره كفايت كوي اوكه به دهرقسم لپاره جلا جلا كفاره اد اكوي؟

جواب: كله چي يو كس ډېر قسمونه واخلي اوپه ټولو كښې حانث سي نو د داسي كس دكفارو په هكله دعلماء كرامو دوه قوله دي (۱) علامة ابن عابدين رحمه الله اوبعضي نور علماء كرام فرمايي چي كله يو كس ډېر قسمونه اخيستي وي نو دده لپاره صرف يوه كفاره كفايت كوي يعني كه يوه كفاره اداکړي نو دټولو قسمولپاره كفايت كوي (۲) بعضي نور علماء كرام بيا فرمايي چي ډيرو قسمولپاره به جلا جلا كفاره وركوي اول قول اسان او دوهم قول بنا بر احتياط دى البته دضرورت په وخت كښې پر تداخل دعمل كولو ګنجائش هم سته .

وَفِي الْبَحْرِ عَنْ الْخُلَاصَةِ وَالتَّجْرِيدِ: وَتَتَعَدَّدُ الْكَفَّارَةُ لِتَعَدُّدِ الْيَمِينِ، وَفِي الْبُغْيَةِ: كَفَّارَاتُ الْأَيْمَانِ إذَا كَثُرَتْ تَدَاخَلَتْ، وَيَخْرُجُ بِالْكَفَّارَةِ الْوَاحِدَةِ عَنْ عُهْدَةِ الْجَمِيعِ. وَقَالَ شِهَابُ الْأَئِمَّةِ: هَذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ. قَالَ صَاحِبُ الْأَصْلِ: هُوَ الْمُخْتَارُ عِنْدِي. اه. مَقْدِسِيٌّ، وَمِثْلُهُ فِي الْقُهُسْتَانِيِّ عَنْ الْمُنْيَةِ :

وفي التحرير المختار للرافعي (قوله قال صاحب الاصل:هوالمختار عندي)لايخفى ان الكلام من البغية والمنية للزاهدي؛ومعلوم ان ماانفرد به لايعول عليه فلايعتمدعلى القول با التداخل؛بل يعتمدعلى ماذكره غيره من عدم تداخل حتى يوجدتصحيح لخلافه ممن يعتمد عليه فى نقله اه

(ردالمحتار ج ۳ ص ۵۷ مطلب تعددالكفارة لتعدداليمين مكتبه حبيبيه/ تقريرات رافعي علي ردالمحتار ج ۳ ص ۱۳ مكتبه امداديه ملتان /البحرالرائق ج ۴ ص ۴۷۹ كتاب الايمان رشيديه/

موسوعة الفقهية ج ۳۵ ص ۴۸ کویټ/ فتاوی دارالعلوم زکریا ج ۴ ص ۵۰۳ کتاب الایمان/فتاوی عثماني ج ۲ ص ۴۹۷ /ستاسو مسائل اودهغوی- حل ج ۵ ص ۵۴۱ /امدادالفتاوی ج ۲ ص ۵۴۶ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۷۶)

دقسمونو قسمونه په شریعت کښې څو دي ؟

سوال ۳ : نن سبا زموږ په ټولنه کښې خلګ مختلف قسمونه اخلي زما پوښتنه دا ده چي په شریعت کښې د قسم څو قسمونه دي او د هر قسم حکم او ګناه څومره ده ؟

جواب : دقدوري شریفي مصنف رحمة الله علیه فرمایلي دي : چي د قسم درې قسمونه دي : اول :**قسم غموس** ، دوهم : **قسم منعقده** ، دریم **قسم لغوه** .

یمین غموس یا قسم غموس هغه قسم دی چي یو څوک په دروا غوسره دتیري زمانې پریوې خبري باندي قصدا قسم پورته کړي .(مثلا دی قندهار ته تیره هفته نه وو تللی نو بیایې داسي قسم پورته کړی چي والله چي زه تیره هفته قندهار ته ولاړم) ددې قسم حکم دادی چي ددې پورته کوونکی او خوړونکی ګناهګاره دی یعني کبیره ګناه ده . ځکه چي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی: چاچي ددرواغو قسم وخوړی نو هغه به الله جل جلاله په جهنم کښې واچوي . او ددغه قسم دپاره د توبې او استغفار څخه علاوه بله کومه کفاره نسته .

یمین منعقده ، یاقسم منعقده هر هغه قسم دی چي یو څوک په آینده زمانه کښې دیوکار پر کولو باندي یا پرنه کولو باندي قسم پورته کړي مثلا (یو کس داسي وایي چي والله زه به قندهار ته بیا نه ځم خو اخر دی ولاړی ، یا یې وویل چي والله زه نن قندهار ته ځم خو بیا نه ولاړی) ددې قسم حکم دادی که چیري دغه کس په دغه کار کښې حانث سو نو پرده باندي د قسم کفاره لازمیږي .

یمین لغوه یا قسم لغوه : دې ته وایې چي یو څوک دتیري زمانې پر یو کار باندي قسم پورته کړي په دغه نیت چي زه په دغه قسم اخیستلو کښې پر حقیقت او رشتیا باندي یم . مثلا (یو کس قسم پورته کړی چي والله احمد پرون درس ته راغلی وو او حال داچي هغه نه وو راغلی . نو په دغه صورت کښې ددې خبري امید الله جل جلاله ته سته چي د قسم اخیستونکي سره به الله جل جلاله مواخذه او حساب ونه کړي ځکه

چي دده دا یقین یا غالبه ګمان وو چي هغه کار سوی دی. دیمین لغو یا قسم لغو نور تعریفونه هم ددغه تعریف څخه علاوه علماوو کړي دي چي تفصیل یي د فقهي په کتابو نو کښې ذکر دی.

فائده: د قسم کفاره په شریعت کښې یو څو شیان دي چي هغه به په قسم کښې حانث شخص اداء کوي او یو ددغو څخه اداء کول واجب دي. اول: مریی ازادول. دوهم: او که یې خوښه وه نو دي لسو مسکینانو ته کالي او جامې ورکړي. دریم او که یې خوښه وه نو دي لسو مسکینانو ته دسهار او ماښام درمیانه او متوسطه ډوډۍ ورکړي. او که چیري یو شخص په دغه درو کښې دیوه دا داء کولو قدرت هم نه درلودی نو دي دري ورځې پرله پسې روژې ونیسي او که یې طاقت درلودی روژه نیول کفایت نه کوي.

لما قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى فى الهداية شرح بداية المبتدي : الأيمان على ثلاثة أضرب اليمين العموس ويمين منعقدة ويمين لغو فالغموس هو الحلف على أمر ماض يتعمد الكذب فيه فهذه اليمين يأثم فيها صاحبها.......... والمنعقدة ما يحلف على أمر في المستقبل أن يفعله أو لا يفعله وإذا حنث في ذلك لزمته الكفارة.............

واليمين اللغو أن يحلف على أمر ماض وهو يظن أنه كما قال والأمر يخلافه فهذه اليمين نرجو أن لا يؤاخذ الله بها صاحبها "

ولما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وكفارته) (تحرير رقبة أو إطعام عشرة مساكين) (أو كسوتهم بما) يستر عامة البدن) (وإن عجز عنها) (صام ثلاثة أيام ولاء).

(الهداية ج ٢ ص ٤٥٧ كتاب االايمان مكتبه حنفيه / فتح القدير ج ٥ ص ٥٩ كتاب الايمان بيروت چاپ / الجوهرة النيرة شرح القدوری ج ٢ ص ١٩٠ بيروت چاپ / الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ٣ ص ٧٥٧ كتاب الايمان مكتبه شامله)

که یو کس شتمن او غني وي او دقسم په کفاره کښې روژه نیسي

سوال ۴: که چیري د قسم په کفاره کښې مالداره او شتمن کس روژه ونیسي

او مسکینان ماړه نه کړي ایا کفاره یې صحیح سوه که یا ؟

جواب: داسي کس چي دلسو مسکینانو پر کالو اوډوډۍ ورکولو باندي قدرت او طاقت ولري او بیا هم د قسم کفاره په روژي سره داء کوي کفاره یې نه د صحیح .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الل تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : قوله ان عجز قال اشاره الى انه لوكان عنده واحد من الاصناف الثلاثة لايجوز له الصوم .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۶۷ / فتاواي درالعلوم ديوبند ج ۱۲ ص ۵۱ احكام اليمين مكتبه رشيديه / تاتارخانية ج ۶ ص ۳۰۱ / فتاوی محموديه ج ۱۴ ص ۵۵ باب الايمان / مجمع الانهر ج ۲ ص ۲۶۴ / الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۶۱)

په زړه کښې مي قسم واخیستي چي دا کار به کوم .

سوال۵: ما په زړه کښې قسم واخیستی او په زړه کښې مي وعده وکړه چي دغه فلانکی کار به نه کوم مګر آخر هغه کار را څخه وسو آیا کفاره سته که یا ؟

جواب: په زړه کښې قسم کول او وعده او عهد کول په دې سره قسم نه کېږي او نه کفاره غواړي او نه دا یو قسم ګناه ده، تر څه وخته چي هغه الفاظ د قسم په ژبه او خوله سره ادا نه سي قسم نه دی شرعًا .

لماقال علامه ابن نجيم رحمه الله في البحر : وَرُكْنُهَا اللَّفْظُ الْمُسْتَعْمَلُ فيها وَشَرْطُهَا الْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ

ولماقال الامام الحصكفي رحمه الله في درمختار : وشرطها الإسلام والتكليف وإمكان البر وحكمها البر أو الكفارة وركنها اللفظ المستعمل فيها

(الدرمختار علي هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۵۰ مكتبه رشيديه البحرالرائق ج ۴ ص ۳۰۰ مكتبة الشامله مجمع الانهر ج ۲ ص ۲۶۰ مكتبة الشامله مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۸ ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۵۴۸ اردو)

ایا په قرآن کریم باندي قسم اخیستل قسم شمارل کیږي که یا ؟

سوال٦ : که چیري یو کس په قران باندي قسم واخلي ایا داسي قسم شرعا واقع کیږي که یا ؟

جواب : که یې قرآن کریم په لاس کښې واخیستی ، یا یې لاس پر کښېښووي یو خبره یې وکړه لیکن قسم یې وا نخستی ،یا یې داسي وویل چې په دغه قرآن مي دي قسم

وي په دغه صورت نو کی شرعاً قسم نسته، البته که يې د قرآن کريم طرف ته اشاره ونه کړه ويې ويل چي په قرآن مي دي قسم وي، يا يې وويل په کلام الله مي دي قسم وي، يا يې قرآن ته اشاره وکړه چي په دغه کي د ننه چي کم د الله جل جلاله کلام دی په هغه مي دي قسم وي نو قسم کېږي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَقَالَ الْعَيْنِيُّ إلَخْ) عِبَارَتُهُ: وَعِنْدِي لَوْ حَلَفَ بِالْمُصْحَفِ أَوْ وَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهِ وَقَالَ: وَحَقِّ هَذَا فَهُوَ يَمِينٌ وَلَا سِيَّمَا فِي هَذَا الزَّمَانِ الَّذِي كَثُرَتْ فِيهِ الْأَيْمَانُ الْفَاجِرَةُ وَرَغْبَةُ الْعَوَامّ فِي الْحَلِفِ بِالْمُصْحَفِ اهـ وَأَقَرَّهُ فِي النَّهْرِ. وَفِيهِ نَظَرٌ ظَاهِرٌ إذْ الْمُصْحَفُ لَيْسَ صِفَةً لِلَّهِ تَعَالَى حَتَّى يُعْتَبَرَ فِيهِ الْعُرْفُ وَإِلَّا لَكَانَ الْحَلِفُ بِالنَّبِيِّ وَالْكَعْبَةِ يَمِينًا لِأَنَّهُ مُتَعَارَفٌ، وَكَذَا بِحَيَاةِ رَأْسِك وَنَحْوِهِ وَلَمْ يَقُلْ بِهِ أَحَدٌ. عَلَى أَنَّ قَوْلَ الْحَالِفِ وَحَقِّ اللَّهِ لَيْسَ بِيَمِينٍ كَمَا يَأْتِي تَحْقِيقُهُ، وَحَقِّ الْمُصْحَفِ مِثْلُهُ بِالْأَوْلَى، وَكَذَا وَحَقُّ كَلَامِ اللَّهِ لِأَنَّ حَقَّهُ تَعْظِيمُهُ وَالْعَمَلُ بِهِ وَذَلِكَ صِفَةُ الْعَبْدِ، نَعَمْ لَوْ قَالَ أُقْسِمُ بِمَا فِي هَذَا الْمُصْحَفِ مِنْ كَلَامِ اللَّهِ تَعَالَى يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ يَمِينًا (قَوْلُهُ وَلَوْ تَبَرَّأَ مِنْ أَحَدِهَا) أَيْ أَحَدِ الْمَذْكُورَاتِ مِنْ النَّبِيِّ وَالْقُرْآنِ وَالْقِبْلَةِ.

(ردالمحتار ج ۳ ص ۵۶۵ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۴ ص ۴۸۲ مکتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ۲۲ ص ۵۲۳ اردو / احسن الفتاوی ج ۵ ص ۴۸۸ اردو)

يو کس ديو چا غيبت کوي او بيا قسم اخلي چي ما دفلانکي غيبت نه دی کړی

سوال ۷ : يو کس ديو بل کس غيبت وکړی او بيا يې وروسته قسم هم باندي واخيستی چي ما دفلانکي غيبت نه دی کړی پو ښتنه داده چي دغه کس گناهگاره دی که نه دی ؟ .

جواب : ښکاره خبره ده کله چي دغه کس د خپل مسلمان ورور غيبت وکړي دا خويوه گناه سوله چي د شريعت دنګاه څخه په کبيره گناهو نو کښې داخله ده . او بله گناه داسوه چي دد رواغو قسم يې باندي پورته کړی کوم چي دفقهاوو په اصطلاح کښې يمين غموس بلل کيږي او دا بله لويه گناه ده د شريعت دنګاه څخه .

داسي کس ته پکاره ده چي د دغه مسلمان وررور څخه دهغه کړي غيبت معافي واخلي او دالله جل جلاله په دربار کښې دي پر دغه درواغ خوړلي قسم باندي استغفار او د مغفرت طلب وکړي .

وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ (١٢) سورة الحجرات

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الْغِيبَةُ؟ قَالَ: "ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ". قِيلَ: أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ؟ قَالَ: "إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ بَهَتَّهُ".

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا! -قَالَ غَيْرُ مُسَدَّدٍ: تَعْنِي قَصِيرَةً-فَقَالَ: "لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَتْ بِمَاءِ الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ". قَالَتْ: وَحَكَيْتُ لَهُ إِنْسَانًا، فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ إِنْسَانًا، وَإِنَّ لِي كَذَا وَكَذَا".

وفى مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر : (وَهِيَ) أَيْ الْيَمِينُ (ثَلَاثٌ) بِاعْتِبَارِ الْحُكْمِ فَإِنَّهَا بِاعْتِبَارِ الْعَدَدِ أَكْثَرُ مِنْ أَنَّ تُعَدَّ (غَمُوسٌ) هُوَ فَعُولٌ بِمَعْنَى فَاعِلٍ وَهُوَ الْحَلِفُ عَلَى إِثْبَاتِ شَيْءٍ أَوْ نَفْيِهِ فِي الْمَاضِي أَوْ الْحَالِ يَتَعَمَّدُ الْكَذِبَ فَهَذِهِ الْيَمِينُ يَأْثَمُ فِيهَا صَاحِبُهَا لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «الْيَمِينُ الْغَمُوسُ تَدَعُ الدِّيَارَ بَلَاقِعَ وَمَنْ حَلَفَ كَاذِبًا أَدْخَلَهُ اللَّهُ النَّارَ.

(تفسير ابن كثير ج ٧ ص ٣٧٩ بيروت چاپ يورة الحجرات / مجمع الانهر شرح ملتقي الابحر ج ١ ص ٥٣٩ كتاب الايمان / تبيين الحقائق كتاب الايمان ج ٣ ص ٤٢٠ سعيد چاپ / الفتاوى التاتارخانيه كتاب الايمان الفصل الثاني في الفاظ اليمين ج ٤ ص ٤١٦ ادارة القرآن كراچي)

دبېري قرآن اوقسم کول اواخيستل

سوال ۸ : يو کس دبل سره مسخرې او ټوکي کولې اخر ديوه دخولې څخه دهغه بل لپاره بې ځايه خبره ووتل هغه هم پسې راټينګ کړی خوده انکار وکړی چي ما دغه

خبره نه ده کړې د خپل بي عزته کيدلو په خاطر يې قرآن کريم په لاس کښې واخيستی قسم يې وکړي دروغ يې وويل داسي شخص ته په شروع کښې کوم عذاب ګوري ايا د دغي ګناه د کمېدو يو صورت سته که يا ؟.

جواب : دروغ قسم اخيستل په شريعت مطهره کښې کبيره ګناه ده او بيا قرآن کريم په لاس کښې اخيستل قسم کول نوره سخته او دخطري خبره ده. ځيني وختونه د اخرت دعذاب څخه ماسوا پر دي دنيا هم د داسي جرم سزا الله پاک بنده ته ورکوي د مريضي يا دنورو پريشانيو په صورتې. قرآن کريم په لاس کي اخيستل دروغ قسم خوړل د خپل عزت دساتني او خلاصون په خاطر د داسي کس لپاره د خدای جل جلاله په مخکښې پر دغه نالايقه او نازيبا حرکت باندي په انتهايې پښيمانۍ سره توبه او استغفار ضروري دی اميد سته چي الله پاک به يې معاف کړي.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الكَبَائِرُ: الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَاليَمِينُ الغَمُوسُ " رواه البخاري

(صحيح البخاري ج ۸ ص ۱۳۷ مكتبه شامله / جامع الترمذي ج ۵ ص ۲۳۶ مكتبه شامله / سنن النسائي ج ۷ ص ۸۹ مكتبه شامله / سنن ابي داؤد ص ۴۶۲ / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۷ / فتاوی محموديه ج ۱۴ ص ۳۳ اردو / ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۵۲۷ اردو)

ديو کار دنه کولو څخه قسم کول بيا هغه کار کول

سوال ۹ : يو کس ديو کار پر نه کولو باندي قسم واخيستی چي دغه کار به نه کوم خو آخر هغه کار ده وکړی پوښتنه داده چي اوس به دغه کس څه کوي ؟

جواب : کله چي دغه شخص هغه کار وکړی دکوم په باره کي چي ده قسم کړی وو چي دا به نه کوم نو شرعا پر دغه کس باندي د قسم کفاره ادا کول لازمه ده. کوم چي عبارت د درو شيانو څخه يو شی کول دي چي هغه لسو مسکينانو ته ډوډۍ ورکول دي يا لسو مسکينانو ته جامې ورکول دي، يا درې ورځي پرله پسې روژې نيول دي.

لما قال العلامة إبراهيم بن محمد بن إبراهيم الحَلَبي الحنفي رحمه الله تعالى (المتوفى: ٩٥٦هـ) في مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر : ومنعقدة وَهِي حلفه على فعل أَو ترك فِي الْمُسْتَقْبل وَحكمهَا وجوب الْكَفَّارَة إِن حنث .

ولما في الدرالمختار : (وَكَفَّارَتُهُ) (تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ أَوْ إطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ) أَوْ كِسْوَتُهُمْ (وَإِنْ عَجَزَ عَنْهَا) (صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وِلَاءً)

(مجمع الأنهر في شرح ملتقي الأبحر ج ١ ص ٢٦١ كتاب الايمان مكتبه شامله بيروت چاپ / الفتاوى الهنديه ج ٢ ص ٥٢ كتاب الايمان ، الباب الاول / تبيين الحقائق ج ٣ ص ٤٢٢ كتاب الايمان دارالكتب العلمية / فتاوى محموديه ج ١٤ ص ٥٢ باب الايمان / النهرالفائق ج ٣ ص ٥٠ كتاب الايمان امداديه ملتان / الدرالمختار ج ٣ ص ٧٢٥ كتاب الايمان مكتبه شامله بيروت)

په ایمان سره قسم اخیستل رواه دی که یا؟

سوال ١٠: یا یوه مسلمان لره دارواه ده چي په ایمان سره قسم واخلي چي زمادي په ایمان سره قسم وي او که نه ده رواه؟

جواب: د مسلمان لپاره په کارده چي قسم د الله جلّ جلاله په ذات او صفاتو سره واخلي نه په بل شي لکه په کعبه اورسول او خلقه (خرقه) سره پرته او ماسوا د الله جلّ جلاله د ذات او صفاتو څخه په بل شي سره قسم اخیستل نه دي په کار او نه هم صحیح کیږي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : ولايقسم بغيرالله تعالي كالنبّي والقُرآن و الكعبة اي لاينعقدالقسم بغير اسماء وصفاته بل يحرم.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ٣ ص ٥٦ كتاب الايمان رشيديه /الفتاوى الهندية ج ٢ ص ٥٢ مكتبه رشيديه / مجمع الانهر ج ٢ ص ٢٦٠ / البحر الرائق ج ٤ ص ٤٨٠ ، ٤٨٢ رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديو بند ج ١٢ ص ٣٧ باب الايمان رشيديه / فتاوى محموديه ج ١٤ ص ٣٥ باب الايمان مكتبه فاروقيه اردو)

د بل پر کار باندي قسم اخیستل .

سوال ١١: زید و احمد ته وویل چي په خدای مي دي قسم وي چي ته به دا کار کوې او احمد بیا هم دغه کار ونه کړي نو ایا زید په خپل قسم کښې حانث دی که یا؟ او د

بل پر فعل په قسم کښې سړی حانث کیږي که یا ؟

جواب: زید په دغه قسم کښې حانث دی شرعاً ځکه چې احمد دا کار ونه کړی لهذا زید حانث سو .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : وفيه الكفارة ان حنث.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۶۱ کتاب الایمان مکتبه رشیدیه / فتاوی دارلعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۴۱ رشیدیه)

د کلمې په ویلو سره قسم اخیستل

سوال ۱۲ : که سړي داسي قسم واخستي لااله الاالله محمد رسول الله خداي شاهد دی که به ماداکار کړی وي زه دي د رسول الله د شفاعته نا امیده سم که داکار وکړم اوبیا هم داکار وکړي ایا دغه سړي حانث سو که یا؟

جواب: په درمختار کښې راغلي دي چې په دغه الفاظو قسم نه صحیح کیږي البته ګناه په کښې سته لهذا توبه او استغفار دي ووایي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : وفيه اشهدالله لاافعل يستغفر الله ولاكفارة الخ لعدم العرف .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار جلد ۳ ص ۵۳ باب الایمان / فتاوادارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۴۱ باب الایمان / الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۵۵ / خلاصة الفتاوی ج ۲ ص ۱۲۶ / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۱۸۵)

د ځان د هلاکت یا دبې عزتۍ او بې ابرويۍ د بیري درواغ قسم اخیستل

سوال ۱۳ : که چیري یو کس یو ځاي بند راسي پرخپل ځان او بي عزتۍ باندي وبیریږي نو غلط او درواغو قسم اخستل ورته رواه دی که یآ

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چې دغلط قسم او درواغو د قسم اجازه شرعا سته خو په شرایطو سره هغه دا چې انسان پر خپل ځان ،مال او ناموس وبیریږي او دبي عزتۍ او دبې ابرو کیدو ځاي او محل وي نو بیا درواغ رواه دي مګر ښکاره درواغ به نه وي بلکي تعریضا او اشارة به وي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :

الکذب مباح لاحیاء حقه ودفع الظُلم عن نفسه والمراد التعریض لان عین الکذب حرام)
(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج۵ ص ۳۰۳ مکتبه رشیدیه / فتاواي دارالعلوم دیوبندج ۱۲ ص ۷۷ باب الایمان / فتاوی محمودیه ج۱۸ ص ۴۷۱ مکتبه فاروقیه / تاتارخانیة ج۶ ص ۲۶ / الموسوعة الفقهیة ج ۳۴ ص ۲۱۱)

که پیغمبر هم راسي خو لا دا کار به ونه کړم (العیاذ بالله).

سوال ۱۴: که یو شخص داسي وینا وکړي په یو کار کښي وو ایي که پیغمبر هم راسي خو دا کار به ونه کړم او په اخر کښې توبه وباسي پښیمانه سي او هغه کار هم وکړي نو کفاره به څه شي ورکوي او په دغه الفاظو سره قسم صحیح دی که یا؟

جواب: په داسي الفاظو سره قسم نه دی صحیح او نه یې د کار په کولو څه کفاره لازمیږي لیکن د داسي الفاظو ویل و مسلمان ته هیڅکله هم نه دي په کار.

لما قال العلامة علي بن أبي بکر بن عبد الجلیل الفرغاني المرغیناني، أبو الحسن برهان الدین (المتوفی: ۵۹۳ھ)فی الهدایة في شرح بدایة المبتدي ومن حلف بغیر الله لم یکن حالفا کالنبي والکعبة " لقوله علیه الصلاة والسلام: " من کان منکم حالفا فلیحلف بالله أو لیذر

(الهدایة في شرح بدایة المبتدي ج ۲ ص ۳۱۸ مکتبه شامله /فتاواي درالعلوم دیوبندج ۱۲ ص۶۵ باب الایمان / تبیین الحقائق ج ۳ ص ۴۲۴ / تاتارخانیة ج۶ ص ۱۷)

د ناجایز قسم په ماتولو کښې هم کفاره سته؟

سوال ۱۵: یو کس د درد او خښم په حالت کښي قسم واخستی چي نور به وطن ته نه ځم د مور او پلار سره به خبري نه کوم د قسم سره سره بیا هم وطن ته ولاړی او د مور او پلار سره یې خبري هم وکړې ایا دی حانث سو که یا؟

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چي داسي ناجایزه او ناروا قسم باید مات سي او کفاره په کښې لازمه ده دغه سړی حانث دی.

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الل تعالی فی ردالمحتار علی الدرالمختار : وارادالبروجوداوعدماً فانه یجبُ فیمااذاحلف علي اطاعة ویحرم فیما اذا حلف علي معصیة ویندبه فیما اذاکان عدم المحلوف علیه جائز.

(ردالمحتارعلي الدرالمختار جلد ۳ ص ۵۰ کتاب الایمان رشیدیه / فتاوای دارلعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۵۹ باب الایمان / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۱۸۴ / مختصر القدوري ص ۲۰۲/ شرح الوقایه ص ۱۳۹)

باب النــــذور

دبزرګانویا زیارت پر نامه باندي نذریا دروړ ایښوول .

سوال ۱ : که چیري یو شخص دیو بزرګ پرنامه یا دیو زیارت پر نامه باندي یو خیرات کښیږدي داسي خیرات ایښوول رواه دی که یا اودغه خیرات خوراک شرعاً رواه دی که یا ؟

جواب : دالله جل جلاله دذاته څخه ماسوا دبل چا پرنامه باندي نذر ایښوول او منل حرام او ناروا کار دی او کوم حیوان چي دغیر الله دتقرب او نژدیکت دحاصلولو لپاره ومنل سي او حلال کړل سي نو حلال سوی حیوان حرام او مرداریږي که څه هم یې زر واره دالله نوم باندي ویلی وي او اکثره فقهاء کرام دې فعل ته دکفر موجب وایي البته ځینو په کافر کولو کښي داحتیاط اړخ غوره کړی دی په هرحال داسي مذبوحه د [مَاأُهِلَّ بِهِ لِغَيرِاللهِ] په حکم کي شامله ده افسوس پر هغه ناپوهه عوامو باندي دی چي دزیارتو یا دپیرانو په نامه باندي دروړونه نذر کوي او خیراتوي نو دا کار شرعا حرام دی او اجتناب ځیني کول لازم دی .

(قال العلامة ابن عابدين)وَاعْلَمْ أَنَّ النَّذْرَ الَّذِي يَقَعُ لِلْأَمْوَاتِ مِنْ أَكْثَرِ الْعَوَّامِ وَمَا يُؤْخَذُ مِنْ الدَّرَاهِمِ وَالشَّمْعِ وَالزَّيْتِ وَنَحْوِهَا إلَى ضَرَائِحِ الْأَوْلِيَاءِ الْكِرَامِ تَقَرُّبًا إلَيْهِمْ فَهُوَ بِالْإِجْمَاعِ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ مَا لَمْ يَقْصِدُوا صَرْفَهَا لِفُقَرَاءِ الْأَنَامِ وَقَدْ ابْتُلِيَ النَّاسُ بِذَلِكَ.:

وفى الحديث ملعون من ذبح لغير الله

وقال ابن نجيم المصرى رحمه الله تعالى فى البحر الرائق : وَأَمَّا النَّذْرُ الَّذِي يُنْذِرُهُ أَكْثَرُ الْعَوَامّ عَلَى مَا هُوَ مُشَاهَدٌ كَأَنْ يَكُونَ لِإِنْسَانٍ غَائِبٌ أَوْ مَرِيضٌ، أَوْ لَهُ حَاجَةٌ ضَرُورِيَّةٌ فَيَأْتِي بَعْضَ الصُّلَحَاءِ فَيَجْعَلُ سُتْرَةً عَلَى رَأْسِهِ فَيَقُولُ يَا سَيِّدِي فُلَانُ إنْ رُدَّ غَائِبِي، أَوْ عُوفِيَ مَرِيضِي أَوْ قُضِيَتْ حَاجَتِي فَلَكَ مِنْ الذَّهَبِ كَذَا، أَوْ مِنْ الْفِضَّةِ كَذَا، أَوْ مِنْ الطَّعَامِ كَذَا، أَوْ

مِنْ الْمَاءِ كَذَا، أَوْ مِنْ الشَّمْعِ كَذَا، أَوْ مِنْ الزَّيْتِ كَذَا فَهَذَا النَّذْرُ بَاطِلٌ بِالْإِجْمَاعِ لِوُجُوهٍ مِنْهَا أَنَّهُ نَذْرُ مَخْلُوقٍ وَالنَّذْرُ لِلْمَخْلُوقِ لَا يَجُوزُ؛ لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ لَا تَكُونُ لِلْمَخْلُوقِ

(البحرالرائق ج ۲ ص ۳۲۰ فصل مايوجبه العبد علي نفسه بيروت چاپ /الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۶ ص ۳۰۹ كتاب الذبائح /مسند عبدالرزاق الصنعاني ج ۷ ص ۳۶۵ باب من عمل عمل قوم لوط مكتبه شامله بيروت/مسند امام احمد ج ۳ ص ۳۶۸ حديث عبدالله بن عباس مكتبه شامله بيروت / صحيح ابن حبان ج ۱۰ ص ۲۶۶ باب ذكر لعن رسول الله ﷺ مكتبه شامله بيروت / المعجم الاوسط ج ۸ ص ۲۳۴ مكتبه شامله بيروت/ المستدرک علي الصحيحين للحاكم ج ۴ ص ۳۹۶ كتاب الحدود مكتبه شامله بيروت/ حيلة الاولياء وطبقات الاصفياء ج ۹ ص ۲۳۲ مكتبه شامله بيروت/ فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۲ ص ۸۳/ فتاوی حقانيه ج ۱ ص ۱۶۰ كتاب العقائد والايمانيات / جواهرالاحكام ص ۲۷۵)

نفلي لمونځ نذر ايښوول څنګه دی ؟

سوال ۲ : که چيري يو سړی داسي ووايي چي که مي فلانکی حاجت دسره سو نو دومره رکعتونه نفلي لمونځ به کوم نو ايا داسي نذر ايښوول درست دی که يا ؟

جواب : فقهاء کرامو دشريعت مقدسه په رڼا کښې دنذر دصحت لپاره دري شرطونه مقرر کړي دي : **اول شرط** : دادی دغه شی چي څوک يي نذر کوي دده دجنسه څخه به يو شی په شريعت کښي واجب وي اصلاً نه تبعاً . **دوهم شرط** : دنذر دصحت لپاره دادی چي هغه واجب به مقصود وي اصلاً نه تبعاً . او **دريم شرط** : دنذر دصحت لپاره دادی چي دغه نذر کړل سوی شی به ترنذر مخکښې واجب نه وي پرتا باندي . نو بناءً علی هذا که يو چا دنفلو نذر کښيښوی داسي نذر ايښوول شرعاً درست او صحيح دی .

لما قال العلامة المؤلف أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي - توفي ۱۲۳۱ هـ) في حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح : والمنذور يلزمه "إذا اجتمع فيه" أي المنذور "ثلاثة شروط" أحدها "أن من جنس واجب" بأصله وإن حرم ارتكابه لوصفه كصوم يوم النحر "و" الثاني "أن يكون مقصودا" لذاته لا لغيره كالوضوء "و" الثالث أن يكون "ليس واجبا" قبل نذره بإيجاب الله تعالى كالصلوات الخمس والوتر وقد زيد شرط رابع أن لا يكون المنذور محالا كقوله لله علي صوم أمس اليوم إذ لا يلزمه

[البحرالرائق ج ۲ص ۴ ۵۱ مکتبه شامله / مراقي الفلاح شرح نورالایضاح مع حاشیة الطحطاوي ج ۱ ص باب ما یلزما الوفاء به مکتبه شامله ۶۹۲ مکتبه شامله /ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۷۲)

پرله پسې نذر يې کښېښووی او بيا يې دنيولو څخه عاجزه سو .

سوال ۳: که چيري يو شخص دڅو روژوپرله پسې د نيولو نذر ايښی وي او اوس يې دپرله پسې دنيولو څخه عاجزه وي نو اوس به دا سړی څه کوي آيا فديه به ورکوي که بل کوم صورت سته شرعاً ؟

جواب : که چيري دغه شخص دپرله پسې روژو د نيولو نيت کړی وي نو بيا پرله پسې روژې نيول ورته ضروري دي خو که چيري دی دپرله پسې روژو د نيولو څخه اوس دنيولو عاجزه وي نو ترهغه وخته دې وځنډوي تر څه وخته چي دی دپرله پسې روژو قدرت پيدا کوي.

او که يې دپرله پسې نيولو نيت نه وو کړی نو بيا اختيار لري که يې پرله پسې نيسي او که يې جلا جلا نيسي .

وفی الهندية : لوقال لله علی ان اصوم شهرا متتابعا لزمه التتابع وان اطلق ليخير . وقال العلامة فخرالدين حسن ابن منصور ابن محمود المعروف بقاضي خان : لوقال لله على صوم مثل شهر رمضان قال ان اراومثله فی الوجوب فله ان يفرق وان ارا و فی المتتابعة فعليه ان يتتابع وان لم يكن له نية فله ان يصوم متفرقاً.

[الفتاوی الهندية ج ۱ص ۲۱۰ : کتاب الصوم ، الباب السادس في النذر : فتاوی قاضي خان ج ۱ص ۲۰۵ : کتاب الصوم فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۱۹۰/ ۱۹۲]

يو چا دقرآن شريف تلاوت نذر کړی نو پوره کوي به يې که يا ؟

سوال ۴: که چيري يو کس دقرآن کريم تلاوت پرخپل ځان باندي نذر کړي او بيا يې فقط دوې سيپارې زده وي نوري يې زده نه وي نو دا نذر به څنګه پوره کوي ؟

جواب : فقهاء کرامو د شريعت مقدسه په رڼا کښې دنذر دصحت لپاره درې شرطونه مقرر کړي دي : **اول شرط** : دا دی دغه شی چي څوک يې نذر کوي دده دجنسه څخه به يو شی په شريعت کښي واجب وي اصلاً نه تبعاً . **دوهم شرط** : دنذر دصحت لپاره

دادی چې هغه واجب به مقصود وي اصلاً نه تبعاً . او **دریم شرط** : دنذر دصحت لپاره دادی چې دغه نذر کړل سوی شی به ترنذر مخکښي واجب نه وي پر تا باندي . نو بناءً علی هذا که یو چا دقرآن کریم دتلاوت او ویلو نذر کښیښنووی داسي نذر ایښوول شرعاً پوره کول لازمي نه دی .

لما قال العلامة المؤلف أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي – توفي ١٢٣١ هـ) في حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح : والمنذور يلزمه "إذا اجتمع فيه" أي المنذور "ثلاثة شروط" أحدها "أن من جنس واجب" بأصله وإن حرم ارتكابه لوصفه كصوم يوم النحر "و" الثاني "أن يكون مقصودا" لذاته لا لغيره كالوضوء "و" الثالث أن يكون "ليس واجبا" قبل نذره بإيجاب الله تعالى كالصلوات الخمس والوتر وقد زيد شرط رابع أن لا يكون المنذور محالا كقوله لله علي صوم أمس اليوم إذ لا يلزمه

[البحرالرائق ج ٢ص ٣١٤ مكتبه شامله / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح مع حاشية الطحطاوي ج ١ ص باب ما يلزما الوفاء به مكتبه شامله ٦٩٢ مكتبه شامله /ردالمحتار علي الدرالمختار ج ٣ ص ٧٢ / فتاوی محموديه ج ٢٢ ص ٥٤٢ باب النذر مكتبة الفاروق اردو)

نذر يې ديو حاجت پر پوره کولو کښېښووی خو هغه حاجت دسره نه سو .

سوال۵ : یو کس داسي نذر کښېښووی که زما ورور دسفرڅخه سبا یا بل سبا راغی نو زه به یوه روژه نیسم خو هغه وروریې آخر رانغلی نو اوس ددغه کس پر ذمه ددغه روژو نیول لازمي دي که یا ؟

جواب : داسي نذر ایښوولو ته دشریعت په اصطلاح کښې نذر معلق وایي یعني که چیري هغه حاجت پوره سي نو یې پوره کول لازمي دي او که هغه حاجت دسره نه سو نو یې پوره کول لازمي نه دي .

وفی مراقی الفلاح شرح نورالایضاح : (او معلقا بشرط) يريد كونه كقوله ان رزقنى الله غلاما فعلى اطعام عشرة مساكين (ووجد) الشرط (لزمه الوفاء) لما تلونا وروينا .

وفی الفتاوی الهندية : ذَا عَلَّقَ النَّذْرَ بِالصَّوْمِ بِشَرْطٍ، وَأَدَّاهُ قَبْلَ وُجُودِهِ لَا يَجُوزُ إجْمَاعًا، وَإِذَا كَانَ مُضَافًا إلَى وَقْتٍ، وَأَدَّاهُ قَبْلَ مَجِيءِ الْوَقْتِ بِأَنْ قَالَ لِلَّهِ عَلَيَّ أَنْ أَصُومَ رَجَبًا فَصَامَ

رَبِيعًا الْأَوَّلَ مَكَانَهُ فَعَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – يَجُوزُ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى –، وَعَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – لَا يَجُوزُ كَذَا فِي الْمُحِيطِ.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۱۰ الباب السادس في النذر مكتبه رشيديه / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح مع حاشية الطحطاوي ص ۶۹۴ كتاب الصوم مكتبه رشيديه / احسن الفتاوی ج ۵ ص ۵۰۰ كراچي چاپ)

دنذر دمنلو څخه وروسته دهغه پوره کول ثواب لري او نه پوره کول يې ګناه ده .

سوال ۶ : که چيرې يو څوک پر خپل ځان باندې يو رواه عمل نذر کړي دنذر کولو څخه وروسته ددغه عمل پوره کول ثواب لري که يا او که فقط غاړې په خلاصيږي او نه کول يې ګناه لري که يا ؟ .

جواب : دنذر پر اداکولو باندې ثواب سته ځکه چې نذر خپله يو عبادت دی ابن عابدين رحمة الله عليه په ردالمحتار کښې دنذر تعريف په داسې الفاظو سره کړی دی : چې نذر يو مشروع عبادت دی او پر عبادت باندې ثواب خامخا سته (وَاعْلَمْ أَنَّ النَّذْرَ قُرْبَةٌ مَشْرُوعَةٌ، أَمَّا كَوْنُهُ قُرْبَةً فَلِمَا يُلَازِمُهُ مِنْ الْقُرَبِ كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَالْحَجِّ وَالْعِتْقِ وَنَحْوِهَا وَأَمَّا شَرْعِيَّتُهُ فَلِلْأَوَامِرِ الْوَارِدَةِ بِإِيفَائِهِ،) بل طرف ته حضرت مفتي محمد شفيع صاب رحمة الله عليه په معارف القرآن تفسير کښې داسې ليکلي دي : چې دنذر لفظي معنی داده چې پر خپل ځان باندې يو داسې کار واجب کړې چې دشريعت دطرفه څخه پرتا باندې واجب نه وي وروسته بيا دغه نذر پوره کول پر ده باندې واجب سي .د قرآن کريم په نهه ويشتمه سيپاره دسورة الدهر په پنځم او شپږم آيت کښې الله جل جلاله دنېکانو خلکو اجرونه او ثوابونه په داسې شان سره بيان کړي دي

(إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِنْ كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا (۵) عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا (۶) يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا (۷) سورة الدهر نهه ويشتمه پاره

ژباړه : (بېشکه نيک خلک به چيښې پيالې چې ګډ به وي دهغوی سره کافور او دايوه چينه ده چې چيښې به ورڅخه دالله جل جلاله بندګان او بهوي به يې کوم ځای

ته چي وغواړي دوی دغه کافور) او بيا سوال دا پيدا کيږي چي دغه مرتبې الله جل جلاله چاته ورکوي نو جواب يې الله جل جلاله خپله په مخکني آيت کښې ذکر کړی دی چي دا هغه چاته ورکول کيږي کوم کسان چي نذر پوره کوي او دداسي ورځي څخه بيريږي چي شر به يې ډير عام او پاشلي وي . نو په آيت کښې دا خبره ښکاره بيان سوه چي د نذر پوره کول تر منلو وروسته ثواب لري . او بل طرف ته دا خبره ښکاره ده چي دواجباتو پر اداء کولو باندي الله جل جلاله وبنده ته ثوابونه ورکوي او پر نه اداء کولو باندي يې سزا ورکوي نو دا خبره هم معلومه سوه چي د نذر پوره کول د منلو څخه وروسته فقط او يوازي دغاړي د خلاصېدو ذريعه نه ده بلکي د ثواب او اجرونو د حاصلولو ذريعه هم ده .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وَاعْلَمْ أَنَّ النَّذْرَ قُرْبَةٌ مَشْرُوعَةٌ، أَمَّا كَوْنُهُ قُرْبَةً فَلِمَا يُلَازِمُهُ مِنْ الْقُرَبِ كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَالْحَجِّ وَالْعِتْقِ وَنَحْوِهَا وَأَمَّا شَرْعِيَّتُهُ فَلِلْأَوَامِرِ الْوَارِدَةِ بِإِيفَائِهِ،

و قال القاضي محمد ثناء الله المظهري الپانى الپتى رحمه الله تعالى فى التفسير المظهري: يُوفُونَ بِالنَّذْرِ جملة مستانفة فى جواب ما بالهم يثأبون كذلك او فى جواب الأبرار ما هم فهو تعريف للابرار بانهم يودون الواجبات ويخافون الله فيجتنبون المكروهات ويرحمون العباد ويفعلون الحسنات خالصا لله تعالى ابتغاء مرضاته هذا شأن الأبرار ويحصل ذلك المراتب بعد فناء النفس وزوال رزائله واما المقربون فشأنهم ارفع من ذلك او تعليل لما سبق يعنى ان الأبرار يشربون إلخ لانهم يوفون النذر فى الدنيا والنذر فى اللغة ان توجب على نفسك ما ليس بواجب كذا فى الصحاح وايفائهم ما يوجبوا على أنفسهم ما ليس بواجب عليه يدل بالطريق الاولى على ايفائهم ما فرض الله عليهم من الصلاة والزكوة والصوم والحج والعمرة والجهاد وغيرها فلعله هو المراد بما قال قتادة يوفون بما فرض الله عليهم من الصلاة والزكوة والحج والعمرة وغيرها من الواجبات .

(ردالمحتار علي صدر الدرالمختار ج ۵ ص ۵۳۷ كتاب الايمان بيروت چاپ / خير الفتاوى ج ۶ ص ۱۷۹ كتاب اليمان والنذر اردو / التفسير المظهري ج ۱۰ ص ۱۵۰ سورة الدهر بيروت چاپ /

معارف القرآن ج ۱۰ پاره نهه ویشتمه ص ۱۵۲ مکتبه حبیبیه /التفسیر المنیر للزهیلي ج ۲۹ ص ۲۸۹ بیروت چاپ)

دبزرګانو پر نامه باندي نذر ایښوول شرعا حرام دی .

سوال ۷ : یو کس دیو بزرګ پرنامه دوې بزې نذر ومنلې او پرقبرېې ورحلالې کړې غوښې یې تقسیم کړې ایا دغه غوښې شرعاً حلالې دي که حرامې او داکار رواه دی که یا؟

جواب : دالله جل جلاله له ذات څخه ماسوا دبل چا پرنامه نذر منل حرام کاردی او کوم حیوان چې دغیرالله دنژدیکت او تقرب دحاصلولو لپاره ومنل سي او حلال کړل سي په (وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ) کښې شامل دي یعنې غوښې یې مرادارې دي او خوراک یې حرام دی اودا کار شرعا غلط او حرام دی لکه زمونږ ځینې جاهل عوام چې پرزیارتو باندې دروړونه دپیرانو پرنامه نذر کوې او حلالوې یې.

په خیر الفتاوی کښې حضرت مولانا خیر محمد جالندهري رحمة الله علیه دغه ته ورته سوال ته داسې جواب ویلی دی : نذر عبادت دی او عبادت دغیرالله حرام کار دی لهذا دیو بزرګ یا پیر پر نامه باندې نذر منل جائز نه دی .البته ایصال ثواب دبزرګانو وارواحانو ته کول جائز دی مثلا داسې ووایې : چې ای الله که چیرې زما فلانکی کار ترسره سو نو زه به دومره روپۍ صدقه کړم او دهغه خیرات ثواب دفلانکي بزرګ وروح ته وربخښم او یا بیله نذر کولو څخه عام خیرات وکړې او ثواب یې دبزرګانو وارواحانو ته وروو بخښې .

قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وَاعْلَمْ أَنَّ النَّذْرَ الَّذِي يَقَعُ لِلْأَمْوَاتِ مِنْ أَكْثَرِ الْعَوَّامِ وَمَا يُؤْخَذُ مِنْ الدَّرَاهِمِ وَالشَّمْعِ وَالزَّيْتِ وَنَحْوِهَا إلَى ضَرَائِحِ الْأَوْلِيَاءِ الْكِرَامِ تَقَرُّبًا إلَيْهِمْ فَهُوَ بِالْإِجْمَاعِ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ مَا لَمْ يَقْصِدُوا صَرْفَهَا لِفُقَرَاءِ الْأَنَامِ وَقَدْ اُبْتُلِيَ النَّاسُ بِذَلِكَ.

وقال ابن نجيم المصرى رحمه الله تعالى فى البحر الرائق : وَأَمَّا النَّذْرُ الَّذِي يَنْذِرُهُ أَكْثَرُ الْعَوَامّ عَلَى مَا هُوَ مُشَاهَدٌ كَأَنْ يَكُونَ لِإِنْسَانٍ غَائِبٌ أَوْ مَرِيضٌ، أَوْ لَهُ حَاجَةٌ ضَرُورِيَّةٌ فَيَأْتِي بَعْضَ الصُّلَحَاءِ فَيَجْعَلُ سُتْرَةً عَلَى رَأْسِهِ فَيَقُولُ يَا سَيِّدِي فُلَانٌ إنْ رُدَّ غَائِبِي، أَوْ عُوفِيَ

مَرِيضِي أَوْ قُضِيَتْ حَاجَتِي فَلَكَ مِنْ الذَّهَبِ كَذَا، أَوْ مِنْ الْفِضَّةِ كَذَا، أَوْ مِنْ الطَّعَامِ كَذَا، أَوْ مِنْ الْمَاءِ كَذَا، أَوْ مِنْ الشَّمْعِ كَذَا، أَوْ مِنْ الزَّيْتِ كَذَا فَهَذَا النَّذْرُ بَاطِلٌ بِالْإِجْمَاعِ لِوُجُوهٍ مِنْهَا أَنَّهُ نَذْرُ مَخْلُوقٍ وَالنَّذْرُ لِلْمَخْلُوقِ لَا يَجُوزُ؛ لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ لَا تَكُونُ لِلْمَخْلُوقِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۱۳۹ مطلب في صوم الست من الشوال مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۲۰ فصل مايوجبه العبد علي نفسه بيروت چاپ / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۱۲ ص ۸۳ / جواهرالاحكام ص ۲۷۵ باب النذر / خيرالفتاوى ج ۶ ص ۱۸۱ كتاب الايمان والنذر / معارف القرآن ج ۱ پاره دوهمه ص ۶۱ مكتبه حبيبيه)

دنذر سوي حيوان پرځاى پيسې تقسيم كول څنګه دي ؟

سوال ۸: ما پر ځان نذر كنبېښودى كه مي دغه فلانكى كاروسو دغه غوا به حلالوم غوښي به يې پرفقيرانو تقسيم كوم اوس مي الله جل جلاله هغه كار وكړى زه غوا ړم چي ددې غوا قيمت پرفقيرانو باندي تقسيم كړم ايا په دغه سره زما نذر پوره كېږي كه يا او كه غوا حلاله كړم؟

جواب: دلته لږ شرحه مطلوب ده هغه دا چي د اختري دقربانۍ څخه ماسوا دنورو حيواناتو دحلالولو دنذر ايښودلو څخه مقصود دهغه غوښي خيراتول دي ځكه دنفس حلالولو نذر ايښودل صحيح ندي ځكه چي دقربانۍ داختري څخه دحيوان ذبح كول عبادت مقصود ي نه دى او دنذر دصحت لپاره شرط دادى چي هغه شى به دعبادت مقصودي دقبيله او جهته څخه وي. نو هر كله چي حلالول مقصود نه سوه بلكه خيراتول دغوښو مقصود دي نو ددې څخه دا ثابته شوه چي ذبحه دحيوان واجبه نه ده بلكه اختيار دى دغه كس لره كه غوښه وركوي او كه پيسې وركوي (۱) دغه غوا دي حلاله كړي غوښي دي تقسيم كړي (۲) يا دي ژوندى خيرات كړي (۳) يا دي ددغه حيوان قيمت خيرات كړي (۴) يا د دغه حيوان دقيمت سره برابر بل دخوراك يا چيښاك شي خيرات كړي غاړي يې خلاصيږي .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (نَذَرَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ مِنْ الْخُبْزِ فَتَصَدَّقَ بِغَيْرِهِ جَازَ إنْ سَاوَى الْعَشَرَةَ) كَتَصَدُّقِهِ بِثَمَنِهِ.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۷۷ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۱ مكتبه رشيديه / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۲۴۳ مكتبه رشيديه / الهداية ج ۱ ص ۱۷۴ مكتبه حنفيه

/ فتاوی محمودیه ج ۲۲ ص ۵۴۵ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۸۵ پښتو / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۱۸۹ پښتو)

که زه الله ﷻ جوړ کړم دومره خیرات به وکړم داڅنګه ده

سوال ۹: که یوناجوړی انسان داسي ووایې که چیري الله ﷻ ماته صحت راکړی نوزه به دونه خیرات کوم ایا دادالله ﷻ سره شرط اېښوول نه دی ایادارو ادی ؟

جواب: دغي طریقې ته په شریعت کښې نذر ویل کېږي داسي ویل شرعادرست دي البته علماء کرام فرمایي چي بهتره داده چي بې له شرطه اونذره دي صدقه اوخیرات وکړي اودالله ﷻ څخه دي دصحت خواست وکړي الله ﷻ به صحت ورته ورکړي .

لمافي الهندية : وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – قَالَ: إنْ عَلَّقَ النَّذْرَ بِشَرْطٍ يُرِيدُ كَوْنَهُ كَقَوْلِهِ إنْ شَفَى اللَّهُ مَرِيضِي أَوْ رَدَّ غَائِبِي لَا يَخْرُجُ عَنْهُ بِالْكَفَّارَةِ كَذَا فِي الْمَبْسُوطِ.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۷۶ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۶۵ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۴ ص ۲۳۳ مکتبه رشیدیه / قاضي خان علي هامش الهندیة ج ۲ ص ۱۶ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۴ ص ۶۹ اردو /ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۲۰۱ اردو)

آیا سید کس دنذر ډوډۍ خوړلای سي ؟

سوال ۱۰ : یو کس خیرات پر ځان نذر کړی دی یا دډوډۍ یا دپیسو وغیره آیا ددغه نذر درقم یا د ډوډۍ څخه سید ته خوراک او اخیستل روادي که یا ؟

جواب : دنذر رقم یا ډوډۍ یا غوښه هر څه چي وي سید ته یې خوړل روا نه دي . البته نفلي خیرات دوقف دماله څخه سید ته اخیستل اوخوړل روا دي لیکن دزکوة پیسې دنذر مال او ډوډۍ یا دقسم یا دبل شرعي جرم کفاره ، یا په حج کښې داحرام په حالت کښې دښکار کفاره ددغو شیانو خوراک وساداتو (سیدانو) ته یعني بنو هاشمو ته نه دی روا په داسي شیانو کښې ډېر احتیاط پکار دی .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ: وَجَازَتْ التَّطَوُّعَاتُ إلَخْ) قُيِّدَ بِهَا لِيَخْرُجَ بَقِيَّةُ الْوَاجِبَاتِ كَالنَّذْرِ وَالْعُشْرِ وَالْكَفَّارَاتِ وَجَزَاءِ الصَّيْدِ إلَّا خُمُسَ الرِّكَازِ فَإِنَّهُ يَجُوزُ صَرْفُهُ إلَيْهِمْ كَمَا فِي النَّهْرِ عَنْ السِّرَاجِ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۷۳ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۳۰ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۸۹ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۴۲ مکتبه رشیدیه / احسن الفتاوی ج ۵ ص ۴۸۹ اردو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۱۳ پښتو)

نذر په شریعت او دفقهاوو په اصطلاح کښې څه ته وايي ؟

سوال ۱۱ : نذر په شریعت مطهره او دفقهاوو په اصطلاح کښې څه ته وايي ؟

جواب : نذر دعربي ژبي لفظ دي په لغت کښې ديو شي واجب کولو او لازم کولو ته وايي. جمع يې نُذُر او نُذُور راځي.

او په اصطلاح دشریعت کښې يو مباح او رواه کار دالله جل جلاله د تعظیم (لويي) او اجلال په نيت سره پر خپل ځان واجب کولو او لازمولو ته نذر وايي.

وفی الموسوعة الفقهية الكويتية : النَّذْرُ لُغَةً: هُوَ النَّحْبُ، وَهُوَ مَا يَنْذِرُهُ الإِْنْسَانُ فَيَجْعَلُهُ عَلَى نَفْسِهِ نَحْبًا وَاجِبًا، يُقَال: نَذَرَ عَلَى نَفْسِهِ لِلَّهِ كَذَا، يَنْذِرُ، وَيَنْذُرُ، نَذْرًا وَنُذُورًا، كَمَا يُقَال: أُنْذِرُ وَأَنْذِرُ نَذْرًا، إِذَا أَوْجَبْتَ عَلَى نَفْسِكَ شَيْئًا تَبَرُّعًا، مِنْ عِبَادَةٍ أَوْ صَدَقَةٍ، أَوْ غَيْرِ ذَلِكَ وَالنَّذْرُ اصْطِلاَحًا: إِلْزَامُ مُكَلَّفٍ مُخْتَارٍ نَفْسَهُ لِلَّهِ تَعَالَى بِالْقَوْل شَيْئًا غَيْرَ لاَزِمٍ عَلَيْهِ بِأَصْل الشَّرْعِ

(الموسوعة االفقهية ج ۴۰ ص ۱۳۶ نذر المكتبة الحقانية / لسان العرب والمصباح المنير / كشاف القناع عن متن الاقناع ج۶ ص ۲۷۳ / وشرح الصغير ج ۲ ص ۲۴۹ / قاموس الفقه ج۵ ص ۱۷۸ بحث النذر اردو / مغني المحتاج ج ۴ ص ۳۵۴)

دنذر کړه سوي حیوان دبچي حکم

سوال ۱۲: يو کس ديوې غوا دنذر کولو خيرات پرځان کښيښووی څه موده پس دغوا بچی پیدا سو ددغه بچي څه حکم دی او ددې سره باید څه وسي ؟

جواب: ددغي نذر کړه سوي غوا بچی هم ددغي غوا په نذر کي داخل دي يعني دغه بچی به يې هم ددغي غوا سره يوځای حلالیږي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فی الدرالمختار: ولدت الاضحيه ولدا قبل الذبح يذبح الولد معها الخ لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فی ردالمحتار على الدرالمختار : لان الام تعينت للاضحية والولد يحدث على صفات ا لام الشرعية.

(الدرالمختار مع ردالمحتار جلد ۵ ص ۲۲۷ کتاب الاضحیة فتاوای دارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۸۳ ، ۸۴ کتاب النذر مکتبه رشیدیه)

دنذرحیوان به څنګه وي اوشرطونه یې څه دي؟

سوال ۱۳: ایادنذرپه حیوان کي هم هغه شرطونه پرځای کول ضروري دي لکه داختري دقربانۍ په حیوان کښې چي ضروري دي اوکه یاداسي نه دی؟

جواب: احتیاط په دغه کي دی چي دنذرحیوان هم دقربانۍ دحیوان په شان وي ځکه چي فقهاؤ دنذردحیوان قیاسیدل دقربانۍ پرحیوان باندي کړي دي دفقهي شریفي په کتابونو کښې ددې خبري تصریح سوېده چي دنذر حیوان به هم دقربانۍ دحیوان په شان وي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار: ولوقال لله عليّ ان اذبح جزوراوتصدق بلحمه فذبح مكانه سبع شياه جازووجهه لايخفى وهوان السبع تقوم مقامه في الضحايا والهدايا.

(الدرالمختارعلي هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۱۷۷ احکام النذر مکتبه رشیدیه / فتاوای دیوبند جلد ۱۲ ص ۸۷ احکام النذر مکتبه رشیدیه)

دنذرکړه سوي حیوان غوښي دفقیرانو فقط حق دی نه دنذر ایښوونکي او نه هم دغنیانو.

سوال ۱۴: دیوکس زوي ناجوړی سو هغه نذرکښیښنوو ی که مي دازوی، خدای جل جلاله جوړ کړی دوه پسو نه به خیراتوم ایا ددغه نذر سوو پسو دغوښو خوراک غنیانو خلګو ته رواه دی که یا؟

جواب: دنذرغوښي اوسامان ټوله دفقیرانو حق دی وغني ته ورکول نه دي پکار اونه یې غني ته دخوړولو اجازه ستهً اوپه خپله نذرکونکي ته یې هم خوراک درست نه دی

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : ناذر لمعينة ولوفقيرا ولوذبحهات تصدق بلحمها الخ .... ولاياكلٌ ناذر منها.الخ ......

وفى القنية : نذر التصدق على الاغنياء لم يصح ما لم ينوا ابناء السبيل .

الدرالمختار جلد ۵ ص ۲۲۵ کتاب لاضحية مکتبه رشيديه / فتاوای دارالعلوم ديوبند ج ۱۲ ص ۸۶ مکتبه رشيديه / ردالمحتار ج ۳ ۲ ص ۶۴ باب المصرف مکتبه رشيديه)

د نفلي خيراتونو خوراک دغنيانو لپاره هم رواه دی .

سوال ۱۵ : يو کس خپل پر مريضي باندي بيله نذر يوه غوا حلاله کړه او غوښي يي خيرات کړي د دغه خيرات غوښي او خوراک دااميرانو او غنيانو خلګو لپاره روادی که يا ؟

جواب: کله چي دغه شخص دغه غوا په نيت د صدقې او خيرات حلاله کړي نو غوښي دي پر مسکينانو وويشل سي او ښه کار هم دادی چي مسکينانو ته ورکړه سي البته غنيانو ته يي هم ورکول روا دي کوم حرج نسته ځکه چي غني ته صدقه هبه ګرځي او هبه رواه ده .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : لكنه يجعل هبة وبالهبة للغني أو لمن لا يكون محتاجا إليه لا يكون آثما اه. أي؛ لأن الصدقة على الغني هبة كما أن الهبة للفقير صدقة

(ردالمحتار علي الدرالمختار حج ۲ ص ۳۵۵ فروع في مصرف الزکوة مکتبه شامله / فتاوی درالعلوم ديوبند ج ۱۲ ص ۱۱۷ کتاب النذر مکتبه رشيديه / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۲۲۱، ۲۲۲)

نذر تر خپلي نيټي مخکي مخکي پوره کول صحيح کيږي که يا ؟

سوال ۱٦ : يو کس نذر کنبيښوو ی چي زه به يو کال وروسته يو حج کوم خودی په دغه سږ کال حج ته ولاړی دهغه نذر سوي حج په نيت ايا دغه تر وخت د مخه په نذر اداء کولو سره دده غاړي خلاصيږي که يا ؟

جواب : دغه تر وخت د مخه نذر پوره کول درست او صحيح دی لهذا نذر يي اداء سو آينده کال دده پر ذمه بل حج نه دی لازم ؟

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : فلونذر التصدق يوم الجمعة بمكة بهذا الدرهم على فلان فخالف جاز ونذرالوعجل قبله فلوعين شهرا للاعتكاف اوللصوم فعجله قبله عنه صح.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۲۴۱ کتاب الایمان مکتبه شامله / فتاوای دارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۹۲ کتاب الایمان والنذر مکتبه رشیدیه)

کتاب السرقة

دغلا مال وخپل اصلي مالک ته واپس کول ضروري دي .

سوال ۱ : که چیري یو کس العیاذ بالله غلا وکړي نو تر غلا وروسته هغه دغلا مال وخپل اصلي مالک ته واپس کول ضروري دی که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو دمال مسروقه یعني غلا کړی سوي مال په باره کي لیکلي دي چي که چیري پر غله کس باندي حد سرقه (دغلا سزا) نه وي جاري سوی نو پر هر حال باندي دغه کس ددغه مال ضامن دی چي مالک ته به یې واپس کوي که چیري هغه مسروقه مال خپله موجود وو هغه به واپس کوي که هغه نه وو بلکي غله ضایع کړی وو یا خپله ضایع سوی وو نو دهغه مال ضمان اداء کول واجب دي .

او که چیري پر غله باندي حد سرقه (دغلا سزا) جاري سو نو بیا که چیري هغه مال دغلا موجود وي مالک ته به واپس کیږي او که ضائع سوی وو یا غله کس قصدا ضائع کړی وو نو تر سزا ورکولو وروسته پر غله باندي ضمان نسته .

لما قال العلامة المؤلف علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ٥٨٧هـ) فی بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (وَأَمَّا) حُكْمُ السُّقُوطِ بَعْدَ الثُّبُوتِ لِمَانِعٍ، وَهُوَ الشُّبْهَةُ وَغَيْرُهَا، فَدُخُولُ الْمَسْرُوقِ فِي ضَمَانِ السَّارِقِ حَتَّى لَوْ هَلَكَ فِي يَدِهِ بِنَفْسِهِ، أَوْ اسْتَهْلَكَهُ السَّارِقُ يَضْمَنُ؛ لِأَنَّ الْمَانِعَ مِنْ الضَّمَانِ هُوَ الْقَطْعُ، فَإِذَا سَقَطَ الْقَطْعُ زَالَ الْمَانِعُ فَيَضْمَنُ، وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ..... وَالثَّانِي وُجُوبُ رَدِّ عَيْنِ الْمَسْرُوقِ عَلَى صَاحِبِهِ إذَا كَانَ قَائِمًا بِعَيْنِهِ، .

(بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج ۷ ص ۸۹ باب حکم السرقة مکتبه شامله / ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۲۱۰ / قاموس الفقه ج ۴ ص ۱۵۱ باب السرقة)

د غلا دروپو د ګټې مالک څوک دی اصلي مالک دی که غل ؟

سوال ۲: یو کس د یو چا روپۍ غلا کړې او ګټه یې په کبنې وکړه په هغه مال کبنې د تجارت کولو په وجې سره اوس پوښتنه داده چې دغه د غلا د مال د ګټې مالک څوک دی د مال خاوند او که هغه کس چې غلا یې کړې ده؟

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چې دغه د غلا روپۍ و خپل مالک ته واپس کول واجب دي پر هره طریقه چې وي باید واپس کړل سي په دې شرط چې هغه مالک وغله ته معلوم وي او که نه ؤ ورته معلوم نو بیا دې ورثه وو ته ورکړل سي که هغه هم نه وه معلوم نو په هغه پسې خیراتول ضروري دي او د دغه مال د ګټې مالک هغه غل دی نه خاوند د مال او دغه ګټه د دغه غلا سوی مال خیراتول مستحب کار دی .

لقوله تعالي فى القرآن الكريم : وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۱۸۸) سورة البقرة .

وفى تفسير القرطبي : الْخِطَابُ بِهَذِهِ الْآيَةِ يَتَضَمَّنُ جَمِيعَ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالْمَعْنَى: لَا يَأْكُلُ بَعْضُكُمْ مَالَ بَعْضٍ بِغَيْرِ حَقٍّ. فَيَدْخُلُ فِي هَذَا: الْقِمَارُ وَالْخِدَاعُ وَالْغُصُوبُ وَجَحْدُ الْحُقُوقِ، وَمَا لَا تَطِيبُ بِهِ نَفْسُ مَالِكِهِ،

وفى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (عليه ديون ومظالم جهل أربابها وأيس) من عليه ذلك (من معرفتهم فعليه التصدق بقدرها من ماله وإن استغرقت جميع ماله) هذا مذهب أصحابنا لا تعلم بينهم خلافا

(تفسیر القرطبي ج ۲ ص ۳۸۸ سورة البقرة مکتبه شامله / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۳۵۳ کتاب اللقطة مکتبه رشیدیه /فتاوی دارالعلوم دیوبند دیو ج ۱۲ ص ۱۵۷ باب السرقة)

کتاب الحدود والتعزیرات

دروشن کمپني څخه روپۍ پوروول او بیا نه ورکول .

سوال ۱ : که چیري یو شخص د روشن کمپنی څخه روپی پور کړي او بیا يې ورنه کړي غاړې يې بندي دي که یا ؟

جواب : دغه عمل په حقیقت کښې چم درغلي او غلا ده او شرعاً او قانونا داسي فعل جرم بلل کیږي .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار :

قَالَ الْقُهُسْتَانِيُّ: وَهِيَ نَوْعَانِ؛ لِأَنَّهُ إمَّا أَنْ يَكُونَ ضَرَرُهَا بِذِي الْمَالِ أَوْ بِهِ وَبِعَامَّةِ الْمُسْلِمِينَ، فَالْأَوَّلُ يُسَمَّى بِالسَّرِقَةِ الصُّغْرَى وَالثَّانِي بِالْكُبْرَى، بَيَّنَ حُكْمَهَا فِي الْآخِرِ؛ لِأَنَّهَا أَقَلُّ وُقُوعًا وَقَدْ اشْتَرَكَا فِي التَّعْرِيفِ وَأَكْثَرِ الشُّرُوطِ اهـ أَيْ؛ لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ فِي كُلٍّ مِنْهُمَا أَخْذُ الْمَالِ خُفْيَةً، لَكِنَّ الْخُفْيَةَ فِي الصُّغْرَى هِيَ الْخُفْيَةُ عَنْ عَيْنِ الْمَالِكِ أَوْ مَنْ يَقُومُ مَقَامَهُ كَالْمُودَعِ وَالْمُسْتَعِيرِ. وَفِي الْكُبْرَى عَنْ عَيْنِ الْإِمَامِ الْمُلْتَزِمِ حِفْظَ طُرُقِ الْمُسْلِمِينَ وَبِلَادِهِمْ كَمَا فِي الْفَتْحِ

(ردالمحتار علي الدرالمختارج ۴ ج ۸۲ کتاب السرقة سعید چاپ / کفایت المفتي ج ۲ ص ۲۲۰ کتاب الحدود والجنایات)

دزور دزنا په صورت کښې دحد دجاري کولو حکم .

سوال ۲ : که چیري پر یو کس باندي زور وکړل سي او زنا کولو ته اړ کړل سي او بیا دی زنا وکړي العیاذ بالله وروسته بیا دیو اسلامي حکومت په لاس ور سي نو په دغه صورت کښې پر دغه کس باندي حد جاري کیږي که یا ؟

جواب : زنا کول په هر حالت کښې حرام حرام او ناروا ه عمل دی چي په شریعت کښې يې هیڅکله اجازه نسته که په زور سره وي که په رضا سره وي . خو بیا هم که چیري داکراه (زور) صورت تام وي یعني که چیري دی داکار ونه کړي نو په رشتیا سره هم ددغه شخص دمرګ خطره وي نو دمفتی به قول مطابق به پر دغه کس باندي حد نه

جاري کيږي که نر وي که ښځه . که څه هم ځيني علما کرام دغه فرمايي چي په هر صورت کښې حد باندي جاري کيږي . خو فتوی پر دغه قول باندي نه ده .
لما قال العلامة وهبة الزحيلى في الفقه الاسلامي وادلته : فإذا أكرهت المرأة على الزنا: فلا يقام عليها الحد عند جمهور الفقهاء، سواء أكان الإكراه تاماً أم ناقصاً، لقوله تعالى: {ولا تكرهوا فتياتكم على البغاء إن أردن تحصناً لتبتغوا عرض الحياة الدنيا ومن يكرههن فإن الله من بعد إكراههن غفور رحيم} [النور:٢٤/٣٣] فدلت الآية على انتفاء الإثم عن المرأة المكرهة على الزنا، وإذا انتفى الإثم عنها ارتفع الحد............ وإذا أكره الرجل على الزنا ....وقال الصاحبان: لا يجب الحد حالة الإكراه التام، سواء أكان الإكراه من السلطان أم من غيره، ورأيهما هو الأرجح عند الحنفية. وهو رأي أبي حنيفة أخيراً.
(الفقه الاسلامي وادلته ج ۵ ص ۴۰۱ المبحث الثالث النوع الثالث / الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۸۴ كتاب الاكراه الباب الثاني / الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۶ ص ۱۳۷ كتاب الاكراه / فتاوی حقانيه ج ۶ ص ۶۵ كتاب القسمة والاكراه)

که نابالغ هلک غلا وکړه حد پر جاري کيږي که يا ؟ او غلا سوی شي بيرته ورکول ضروري دی ؟

سوال ۳ : که چيري يو کس په کوچنيوالي کښې غلا وکړي حد پر جاري کيږي که يا ؟ او بيا دغه غلا سوی شی بيرته ورکول غواړي که يا ؟

جواب : که چيري يو ماشوم په ماشوم توب کښې يو شی غلا کړي نو حد نه باندي جاري کيږي دا ځکه چي د حد د جاري کولو دپاره بلوغ ته رسېدل شرط دي . او هرکله چي بلوغ ته ورسېدی بيا يې غلا وکړه نو حد باندي جاري کيږي . او پاته سوه دا چي دهغه شي واپس کول ضروري دي که نه دي ؟ نو جواب دادی چي دهر مسلمان مال ناموس عزت شريعت خوندي کړی دی لهذا هغه غلا سوی مال واپس کول واصلي مالک ته يا که هغه مړ وي نو دهغه وارثانو ته ورکول لازم او ضروري دی .
قال ابويوسف رحمه الله تعالى ولايقام الحد على غلام لم يبلغ الحلم ......
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا الْمُسْلِمُ أَخُو

الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا» وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ «بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ»

(فتاوی هادیه ج ۱ ص ۱۳۵ کتاب الحدود والتعذیرات / احسن المسائل ص ۱۹۱ / احسن الفتاوی ج ۵ ص ۵۲۲ کتاب الحدود والتعذیرات اردو /خزانة الفقه ص ۲۸۳ کتاب السرقة صحیح مسلم ج ۴ ص ۸۶۱۹ باب تحریم ظلم المسلم وخذله / سنن ابي داود ج ۴ ص ۲۷۰ باب الغيبة)

که څوک قتل وکړي او بیا قرآن واخلي چي ما نه دی کړی .

سوال ۴ : که چیري یو څوک قتل وکړي او بیا قسم واخلي چي ما نه دی کړی او بل طرف ته پر دغه قاتل باندي د مقتول وارثان د دغه وژل سوي کس د وژلو کوم شاهد هم نه لري پو ښتنه داده چي دغه قاتل په دغه قسم اخیستلو سره د مقتول د ورثه وو د دعوې څخه خلاصېدای سي که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي قسم شرعا مدعی علیه ته کیږي ،او پر مدعي باندي د خپلي دعوې د اثبات د پاره د شاهدانو وړاندي کول لازمي دي ،په ذکر سوي مسئله کښې به هم د هغه کسانو څخه چي پر دغه بل کس باندي د خپل مقتول د وژلو دعوه کړېده د شاهدانو غوښتنه کیږي که چیري هغه شاهدان پېش نه کړه نو به مدعی علیه ته قسم ورکول کیږي خو په دې شرط چي مدعي د قسم د ورکولو غوښتونکی وي که يې قسم پورته کړی نو ښکاره خبره ده چي مدعي علیه د مدعي د دعوې څخه بري دی .

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ اليَمِينَ عَلَى المُدَّعَى عَلَيْهِ» : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَغَيْرِهِمْ: أَنَّ البَيِّنَةَ عَلَى المُدَّعِي، وَاليَمِينَ عَلَى المُدَّعَى عَلَيْهِ .

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ، ادَّعَى نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ وَأَمْوَالَهُمْ، وَلَكِنِ الْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ»

(جامع الترمذی ص ۱۶۰ ابواب الاحکام باب ماجاء أَنّ البَيّنَةَ عَلَي المُدّعي، وَاليَمينَ عَلَي المُدّعَي عَلَيه/ سنن ابن ماجة ص ۱۶۸ ابواب الاحکام باب ماجاء أَنّ البَيّنَةَ عَلَي المُدّعي، وَاليَمينَ عَلَي المُدّعَي عَلَيهِ / صحيح مسلم شريف ج ۲ ص ۷۴ کتاب الحدود باب اليمين علي المدعي / فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۴۹۳ کتاب الدعوی والقضاء)

پر مجرم باندي مالي جرمانه مقررول نه ده رواه

سوال ۵ : يو کس داسي پوښتنه کوي چي ايا د وخت حاکم ته دا رواه ده چي پر مجرم باندي مالي جرمانه مقرره کړي که نه ده رواه ؟

ددې مسئلې جواب د مذهب حنفي د مستندو کتابونو په حواله سره راکړئ

الجواب بعون الله الوهاب : فقهاء کرامو ليکلي دي چي پر مجرم باندي مالي جرمانه مقررول شرعا ناروا او ناجائز عمل دی دکوم چي په شريعت مطهره کي هيڅ جواز نسته. دلاندي کتابونو حوالې تاسي مطالعه کولای سئ.

لما قال العلامة المؤلف ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ) فی رد المحتار على الدر المختار : مطلب في التعزير بأخذ المال (قوله لا بأخذ مال في المذهب) قال في الفتح: وعن أبي يوسف يجوز التعزير للسلطان بأخذ المال. وعندهما وباقي الأئمة لا يجوز. اهـ. ومثله في المعراج، وظاهره أن ذلك رواية ضعيفة عن أبي يوسف. قال في الشرنبلالية: ولا يفتى بهذا لما فيه من تسليط الظلمة على أخذ مال الناس فيأكلونه اهـ ومثله في شرح الوهبانية عن ابن وهبان (قوله وفيه إلخ) أي في البحر، حيث قال: وأفاد في البزازية أن معنى التعزير بأخذ المال على القول به إمساك شيء من ماله عنه مدة لينزجر ثم يعيده الحاكم إليه، لا أن يأخذه الحاكم لنفسه أو لبيت المال كما يتوهمه الظلمة إذ لا يجوز لأحد من المسلمين أخذ مال أحد بغير سبب شرعي وفي المجتبى لم يذكر كيفية الأخذ وأرى أن يأخذها فيمسكها، فإن أيس من توبته يصرفها إلى ما يرى. وفي شرح الآثار: التعزير بالمال كان في ابتداء الإسلام ثم نسخ. اهـ. والحاصل أن المذهب عدم التعزير بأخذ المال،

(رد المحتار علي الدر المختارج ۴ ص ۶۱ کتاب الحدود باب التعزير ، مطلب في التعزير باخذالمال مکتبه شامله بيروت چاپ / حاشية الطحطاوي علي الدرالمختار ، کتاب الحدود باب

التعزیر ج ۲ ص ۴۱۱ دارالمعرفة بیروت چاپ / النهر الفائق کتاب الحدود باب حدالقذف فصل في التعزیر ج ۳ ص ۱۶۵ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۴ ص ۱۴۰ باب التعزیر / دتمیز مسائل دامارت اسلامیه چاپ ص ۵۰ / ۳۸۱)

آیا د زنا کولو د ګناه کفاره سته که یا؟

سوال٦: که یو کس دیوې ښځې سره العیاذبا لله زنا وکړي او د انګریز د قانون دوجې پرده حد نه سي جاري نو پرځای د حد به دی کومه کفاره ورکوي ؟

جواب: په شریعت مقدسه کښې دهغه کس د زنا سزا چي واده والانه وي په اقرار د زنا کوونکي دغه زنا ثابته سي یا په څلورو عادلو شاهدانو سره ثابته سي سل دُرې وهل دي

او که واده والاؤو نو بیا سنګسارول دي په کاڼو سره ددې څخه ماسوا بله کفاره دغه ګناه نه لری بیله توبې او استغفاره څخه او په آینده کښې ځان ساتل ددې قبیح او شنیع عمله څخه.

لما فی الفتاوی الهندیة : إذا وجب الحد وکان الزاني محصنا رجمه بالحجارة حتی یموت ویخرجه إلی أرض فضاء کذا في الهدایة............ وإن کان غیر محصن فحده مائة جلدة إن کان حرا

وقال النبی صلی الله علیه وسلم ان العبد اذا اعترف ثم تاب تاب الله علیه متفق علیه:

(الفتاوی الهندیة ج ۲ص ۱۴۵ الباب الثالث في کیفیة الحد وإقامته مکتبه رشیدیه / مشکواة شریف ج ۱ ص ۲۰۳ /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۱۵۲ باب حد الزنا وغیره رشیدیه/ فتاوی محمودیه ج ۱۴ ص ۹۹ /التاتارخانیة ج۶ ص ۳۲۸)

داسي ملک چي دارالحرب وی په هغه کښې د زنا دسزا حکم

سوال۷: داسي ملک او دولت چي دارالحرب وګرځي په هغه ملک کښې به د زنا او غلا حدود وغیره جاري کیږی که یا؟ او د حدودو پر ځای بل بدل په اسلام کي سته که یا ؟

جواب: د فقهي شریفی د کتابونو دعباراتونو څخه معلومیږی چي حدود شرعیة په دار الاسلام کښی جاري کیږی په دارالحرب ملک کښې نه سي جاري کیدلای تر څه وخته چی اسلامی پاچاه نه وي اسلامی نظام نه وي نو د شرعي قانون د جاري کېدو

هیڅ صورت نسته او په اسلامي شریعت کښې د رجم په بدل کښې دیوی بلی سزا تجویز هم نه دئ راغلی البته په تعزیر او سزا ورکولو کښې هیڅ تحدید او تعیین نسته د حاکمِ وخت د رایې سره اړه لري فقط.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وفى دار الاسلام لانه لاحد بالزنافى دارالحرب . وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار :لاحد بالزنافى دار الحرب:

(الدرالمختار علي ردالمحتار ج ۳ ص ۱۵۵ کتاب الحدود / فتاوی درالعلوم دیوبندج ۱۲ ص ۱۳۹ باب حد الزنا وغیره الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۱۴۳ رشیدیه / کفایت المفتي ج ۹ ص ۱۶۱ کتاب الحدود / التاتارخانیة ج ۶ ص ۳۳۹)

د منکوحې ښځې سره زنا حق الله اوحق العباد دواړه دی

سوال ۸: دیو مسلمان د ښځې سره العیاذ بالله زنا کول حقوق العباد دي که یا؟ او د دغې ښځې خاوند د زنا څه مواخذه کولای سي که یا؟

جواب: د بل مسلمان د ښځې سره العیاذ با الله زنا کول د الله جل جلاله او بنده دواړو پر حقوقو تیری او تجاوز کول دي په حدیث شریف کښې د کبیره ګناهونو په بیان کښې راځی (ان تُزنی حلیلة جارک) ژباړه :(یوه لویه ګناه داده) چې تاسو زناء وکړې د خپل همسایه د ښځې سره ځکه چې دا هم زنا ده هم د همسایه د حقوقو ضایع کول دي او هم د هغه سره خیانت کول دي که دغه جرم او عمل په شاهدانو یا په اقرار سره ثابت سي حد باندی جاري کیدلای سي پر زاني او مزنیې دواړو باندي.

عن عبد الله بن مسعود – رضي الله عنه – قال: «قال رجل: يا رسول الله، أي الذنب أكبر عند الله؟ قال: " أن تدعو لله ندا وهو خلقك " قال: ثم أي؟ قال: " أن تقتل ولدك خشية أن يطعم معك ". قال: ثم أي؟ قال: " أن تزاني حليلة جارك ". فأنزل الله تصديقها: {والذين لا يدعون مع الله إلها آخر ولا يقتلون النفس التي حرم الله إلا بالحق ولا يزنون} (الفرقان: ۶۸) » متفق عليه.

وقال العلامة الملا علي القاري رحمه الله تعالي فى المرقاة : فهو زنا وإبطال حق الجوار، والخيانة معه أقبح،

(مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج ۱ ص ۱۲۱ باب الکبایر وعلامات النفاق مکتبه شامله / الموسوعة الفقهیة ج ۲۴ ص ۲۰ / صحیح البخاري ج۶ ص ۱۸ مکتبه شامله / صحیح مسلم ج ۱ ص ۹۰ مکتبه شامله / مشکواة شریف جلد ۱ ص ۱۷ /// فتاوی درالعلوم دیو بند ج ۱۲ ص ۱۳۷ باب حد الزنا وغیره رشیدیه)

د شرعي قاضي څخه ماسوابل سړی حد نه سي جاري کولای

سوال ۹: په یوه علاقه او منطقه کښې چې شرعي قاضي نه وي او اسلامي حکومت نه وي که چیري یو عالم خپل پرسر دیو زناکاره کس په باره کي د سلو درو د وهلو حکم ورکړي دا حکم به څنګه وي شرعًا ؟

جواب: په داسي صورت کښې د شرعې قاضې څخه ماسوا بل سړي او عالم خود سریزه شرعي حد نه سي قایمولای البتة که دوخت امیر د مسلمانانو دغه عالم پردغه منصب د قضاء درولی ؤو نو بیا دغه عالم خپله شرعي قاضي دی حد قایمولای او جاري کولای سي :

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی فی ردالمحتار علی الدرالمختار : بخلاف الحدود لم يثبت توليتها إلا للولاة، وبخلاف التعزير الذي يجب حقا للعبد بالقذف ونحوه فإنه لتوقفه على الدعوى لا يقيمه إلا الحاكم إلا أن يحكما فيه. اهـ. فتح

وفی الفتح مایجب حقاللعبد لایقیمه الا الامام لتوقفه علی الدعوی.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار جلد ۳ ص ۱۹۸ فرع من علیه التعزیر لو قال لرجل أقم علي التعزیر ففعله ثم رفع للحاکم مکتبه رشیدیه فتاوی حقانیه ج۴ ص ۲۷۸ / بدائع الصنائع ج۵ ص ۵۲۴ /فتاوی دارالعلوم دیو بندج ۱۲ ص ۱۶۸ باب التعزیر رشیدیه)

داسي کسان چي په عامه او ښکاره سره شراب چیښي دهغوی سزا .

سوال ۱۰: داسي کسان چي په عامه او ښکاره سره شراب چیښي څه سزا ددوی لپاره سته که یا ؟

جواب: که ددؤو عادلو شاهدانو په شاهدی سره دیو چا شراب چیښل ثابت سي نو په شریعت کښې دده سزا اتیا دُورې وهل دي مګر دغه سزا داسلامي حکومت په وجود کښې حاکم داسلام یعنی قاضي جاري کولای سي نه بل څوک لهذا و دغه خلګوته دي دکورنۍ له طرفه خبرتیا ورکول سي یعنی اول دي په دوی توبه ویستل

سي او که دوی ، وتوبې ته نه وي تیار نو د دوی ، سره دي خانداني تعلقات ختم کړل سي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : ولا يثبت الشرب بها اى بالرائحة بل بشهادة الرجلين الخ ... او يثبت باقراره مرة صاحبا الخ ..... وحد الخمر والسكر فى الحر ثمانون سو طا لاجماع الصحابة يفرق على بدن كمافى حدالزناء .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۱۸۰ کتاب الحدود باب حد الشرب رشيديه / فتاوى دارلعلوم ديو بند ج ۱۲ ص ۱۶۰ باب السرقة وغيره رشيديه / الهداية ج ۳ ص ۵۰۸ / فتاوى محموديه ج ۱۴ ص ۱۵۰ / البحر الرائق ج ۵ ص ۴۷ / الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۶۰)

کتاب القصاص والديات

که یوه کوچني دبل سترګه وایستل دیت پر چادی ؟

سوال ۱ : څه فرمايي علماء کرام په دغه ذکر سوي مسئله کښې چي دوو کوچنیانو ساتیری کوی آخر خبره جنګ ته ورسېده یوه کوچني هغه بل کوچنی په سترګه کښې په چاقو باندي ووهی او سترګه يې ورویسته حال دا چي اقرار او شاهدان دواړه موجود دي اوس د دغه سترګي دیت او تاوان پر چا باندي لازم دی ؟

جواب : که چیري صورت حال داسي وي لکه په سوال کښې چي لیکل سوی دی نو په داسي صورت کښې د دغه سترګي دیت د دغه ماشوم په مال کښې لازم دی پر پلار او پر عاقلې باندي شی نسته . او که چیري ماشوم پیسې نه درلودې نو تر هغه وخته انتظار ورته کیږي تر څه وخته چي د ی پیسه داره کیږي .

وفى فتاوى قاضيخان : صبيان اجْتَمعُوا فِي مَوضِع يَلْعَبُونَ ويرمون فَأصَاب سهم أحدهم عين امْرَأَة وَذَهَبت وَظهر الصَّبِي ابْن تسع سِنِين أَو نَحوه قَالَ الْفَقِيه أَبُو بكر أرش عين الْمَرْأَة يكون فِي مَال الصَّبِي وَلَا شَيْء على الْأَب وَإِن لم يكن لَهُ مَال فنظرة الى ميسرَة قَالَ الْفَقِيه أَبُو اللَّيْث إِنَّمَا وَجَبت الدِّيَة فِي مَال الصَّبِي لِأَنَّهُ لَا يرى للعجم عَاقِلَة ثمَّ إِنَّمَا تجب

الدِّيَة إِذا ثَبت رميه بِشَهَادَة الشُّهُود لَا بِإِقْرَار الصَّبِي وَلَا بِوُجُود سَهْمه فِيهَا لِأَن إِقْرَاره على نَفسه بَاطِل غنية ......

وفی الفتاوی الهندية : وَلَا قِصَاصَ فِيمَا بَيْنَ الصِّبْيَانِ وَعَمْدُ الصَّبِيِّ وَخَطَؤُهُ سَوَاءٌ عِنْدَنَا حَتَّى تَجِبَ الدِّيَةُ فِي الْحَالَيْنِ فَيَكُونُ ذَلِكَ فِي مَالِهِ ......

وفی الموسوعة الفقهية : وَكَذَلِكَ لاَ يُشْتَرَطُ الْعَقْل وَالْبُلُوغُ، فَتَجِبُ الدِّيَةُ بِقَتْل الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ اتِّفَاقًا، كَمَا تَجِبُ فِي مَال الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ (مَعَ خِلاَفٍ وَتَفْصِيلٍ) وَذَلِكَ لأَِنَّ الدِّيَةَ ضَمَانٌ مَالِيٌّ فَتَجِبُ فِي حَقِّهِمَا ، وَسَيَأْتِي تَفْصِيلُهُ فِيمَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الدِّيَةُ.

(/ الفتاوی الهندیة ج۶ ص الْبَابُ الثَّانِي فِيمَنْ يُقْتَلُ قِصَاصًا وَمَنْ لَا يُقْتَلُ ۳ مكتبه رشیدیه / لسان الحكام ج ۱ ص ۳۹۲ من الغنية بيروت چاپ مکتبه شامله / فتاوی قاضیخان ج ۴ ص ۳۹۳ مکتبه یوسفیه / بدائع الصنائع ج۷ ص ۲۵۳ بیروت چاپ / الموسوعة الفقهية ج ۲۱ ص مکتبه حقانیه / ۴۷ / فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۶۷۱)

دخوب په حالت کښي دموردتي لاندي دمړکېدونکي بچي ددیت اوکفارې حکم.

سوال ۲ : یوماشوم دخپلي مور په څنګ کښي پروت وو او بیده وو چي دمور تربغل لاندي سو او مړسو نو اوس یې دمور لپاره ددیت اوکفارې څه حکم دی؟

جواب : داسي مړګ دجاري مجری خطا له جملې څخه دی چي په دې کښي پر عاقله باندي دیت او پر قاتل باندي کفاره لازمیږي ددیت وصولول به په اسلامي محکمه کښي اسلامي قاضي کوي چونکي په نن وخت کښي دقاتل دعاقلې څخه ددیت وصولول مشکل دی نوپه دې وجه به یې مور دخپل غاړي دخلاصولو لپاره شپېته (۶۰)روژې دکفارې پرله پسې نیسي او همدارنګه که چیري دغه مړ ماشوم دمړګ په وخت کښي دمال مالک وي نو مور به یې دهمدې قتل په وجه دخپل بچي دجایداد څخه به محرومه وي

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَ الرَّابِعُ مَا جَرَى مَجْرَاهُ مَجْرَى الْخَطَأِ كَنَائِمٍ انْقَلَبَ عَلَى رَجُلٍ فَقَتَلَهُ... وَمُوجَبُهُ الْكَفَّارَةُ وَالدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى في بدائع الصنائع : النَّائِمِ يَنْقَلِبُ عَلَى إِنْسَانٍ فَيَقْتُلَهُ فَهَذَا الْقَتْلُ فِي مَعْنَى الْقَتْلِ الْخَطَأِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ لِوُجُودِهِ لَا عَنْ قَصْدٍ؛ لِأَنَّهُ مَاتَ بِثِقَلِهِ فَتَرَتَّبَ عَلَيْهِ أَحْكَامُهُ مِنْ وُجُوبِ الْكَفَّارَةِ وَالدِّيَةِ وَحِرْمَانِ الْمِيرَاثِ

وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالي في الفقه الاسلامي وادلته : وبما أن نظام العشيرة قد زال، وبيت المال قد تغير نظامه، واختلف النظام الاجتماعي عما كان عليه في زمن العرب، وفقدت عصبية القبيلة بعضهم لبعض، وصار كل امرئ معتمداً على نفسه دون قبيلته كما في النظام الحاضر، فإن دية القتل الخطأ أو شبه العمد، أصبحت في زماننا هذا واجبة في مال الجاني وحده،

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۵ ص ۳۴۲ کتاب الجنایات سعید چاپ/بدائع الصنائع ج ۷ ص ۲۷۱ کتاب الجنایات سعید چاپ/ الهدایة ج ۴ ص ۵۶۱ کتاب الجنایات مکتبه رحمانیه/فقه الاسلامي وادلته ج ۷ ص ۵۷۳۲ مکتبه رشیدیه/فتاوی عبادالرحمن ج ۵ ص ۱۰ کتاب القصاص /فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۳۱۸ کتاب القصاص والدية / احسن الفتاوی ج ۸ ص ۵۴۴)

یو کس بل کس په خطا سره په موټر ووهي.

سوال۳: د یو کس شخه په خطاء کې بل کس په موټر ووهل سو او مړ سو بیا هغه کس د مقتول د ورثو و سره په یو څه اندازه رقم باندي صلح وکړه، اوس موږ اورېدلي دي چي په دغه موټر کي سپاره پر ټولو خلکو باندي کفاره لازمه ده یعني دوې میاشتي روژې نیول آیا دغه خبره شرعًا حقیقت لري که یا؟

جواب: دغه قتل ته په شریعت کي قتل خطاء وائې د خطاء قتل حکم دا دی چي پر موټروان باندي کفاره یعني مریی ازادول یا دوې میاشتي مسلسل روژې نیول لازم دي، او پر کورنۍ او قوم د دغه موټروان دیت اداء کول لازم دی چي لس زره دراهم یا زر دیناره یا سل اوښان دي، او که قاتل او د مقتول ورثه د دیت شخه ماسوا پر څه اندازه روپو سره راضي سي هم صحیح ده لیکن دا خبره شرعًا صحت نه لري چي ټوله سپاره کسان به کفاره اداء کوي.

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (وَ) الثَّالِثُ (خَطَأٌ وَهُوَ نَوْعَانِ: لِأَنَّهُ إِمَّا خَطَأٌ فِي ظَنِّ الْفَاعِلِ كَ (أَنْ يَرْمِيَ شَخْصًا ظَنَّهُ صَيْدًا أَوْ حَرْبِيًّا) أَوْ مُرْتَدًّا

(فَإِذَا هُوَ مُسْلِمٌ أَوْ) خَطَأٌ فِي نَفْسِ الْفِعْلِ كَأَنْ يَرْمِيَ (غَرَضًا) أَوْ صَيْدًا (فَأَصَابَ آدَمِيًّا) أَوْ رَمَى غَرَضًا فَأَصَابَهُ ثُمَّ رَجَعَ عَنْهُ أَوْ تَجَاوَزَ عَنْهُ إِلَى مَا وَرَاءَهُ فَأَصَابَ رَجُلًا أَوْ قَصَدَ رَجُلًا فَأَصَابَ غَيْرَهُ أَوْ أَرَادَ يَدَ رَجُلٍ فَأَصَابَ عُنُقَ غَيْرِهِ، وَلَوْ عُنُقَهُ فَعَمْدٌ قَطْعًا أَوْ أَرَادَ رَجُلًا فَأَصَابَ حَائِطًا ثُمَّ رَجَعَ السَّهْمُ فَأَصَابَ الرَّجُلَ فَهُوَ خَطَأٌ؛ لِأَنَّهُ أَخْطَأَ فِي إِصَابَةِ الْحَائِطِ وَرُجُوعُهُ سَبَبٌ آخَرُ وَالْحُكْمُ يُضَافُ لِآخِرِ أَسْبَابِهِ ابْنُ كَمَالٍ عَنْ الْمُحِيطِ. قَالَ: وَكَذَا لَوْ سَقَطَ مِنْ يَدِهِ خَشَبَةٌ أَوْ لَبِنَةٌ فَقَتَلَ رَجُلًا يَتَحَقَّقُ الْخَطَأُ فِي الْفِعْلِ وَلَا قَصْدَ فِيهِ فَكَلَامُ صَدْرِ الشَّرِيعَةِ فِيهِ مَا فِيهِ. وَفِي الْوَهْبَانِيَّةِ:الخ

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ج ۵ ص ۳۷۷ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۶ ص ۲۰ مکتبه رشیدیه / احسن الفتاوی ج ۸ ص ۵۴۴ اردو / اپ کي مسائل ج ۸ ۶۳۶ اردو)

يو چا قتل وکړی دمړي وارثانو وبخښي ايا په آخرت کښې سزا ورته سته که يا ؟

سوال ۴ : که چيري يو کس قتل وکړي او بيا دمړي وارثان دغه قاتل معاف کړي نو ايا په دغه معاف کېدو سره ددغه قاتل ګناه معافيږي که يا ؟ دامام ابوحنيفه رحمه الله تعالی مذهب په دغه باره کښې څه دی ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي چي ديو کس په قتل کولو سره دقاتل پر ذمه باندي دوه ډوله حقونه لازميږي . يو دبنده حق يعني دمقتول دوارثانو حق چي دقصاص په اخيستلو سره هغه حق پوره کيږي . اوبل حق دالله جل جلاله دی . دحنفي مذهب د فقهاء کرامو په دغه باره کښې دارايه ده چي دقصاص په اخيستلو سره او يا دمقتول دوارثانو په معاف کولو سره که څه هم دبنده حق اداء کيږي ليکن دغه قصاص اخيستل يا عفوه دالله جل جلاله دحق داداء کولو کفاره نه سي ګرځېدای بلکي دهغې دپاره مستقل توبه او استغفار ضروري دی . داځکه چي داحنافو په نزد حدود زواجر (منع کوونکي) دي خو جوابر (پټوونکي يا کفارات) نه دي . البته دجمهورو علماوو په نزد حدود چونکي جوابر (پټوونکي يا کفارات) دي نو ځکه دهغو په نزد په قصاص او عفوي سره دقاتل دذمې څخه ګناه دمنځه څخه ځي . والله اعلم

لما قال العلامة وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى فى الفقه الاسلامي وادلته : هل القصاص يكفر إثم القتل؟ اختلف العلماء في أمره كما اختلفوا في الحدود، هل هي زواجر أو جوابر قال الجمهور: القصاص من القاتل أو العفو عنه يكفر إثم القتل؛ لأن «الحدود كفارات لأهلها» وهذا عام لم يخصص قتلاً من غيره. قال النووي: ظواهر الشرع تقتضي سقوط المطالبة بالعقوبة في الآخرة.

وقال الحنفية: القصاص أو العفو لا يكفر إثم القتل؛ لأن المقتول المظلوم لا منفعة له في القصاص، وإنما القصاص منفعة للأحياء ليتناهى الناس عن القتل: {ولكم في القصاص حياة} (البقرة: ١٧٩) .

(الفقه الاسلامي وادلته ج ٧ ص ٥٥٧ هل القصاص يكفر القتل مكتبه شامله بيروت چاپ / حاشية الدسوقي علي الشرح الكبير للدردير : ص ٢٣٩ /ج ۴ مكتبه شامله بيروت چاپ / رد المحتار : ص ٣٨٩ /ج ۵ مكتبه شامله بيروت چاپ / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ٣٣٠ كتاب القصاص والدية / نيل الأوطار ج ٧ ص ٥٠ / ٥٣ مكتبه شامله بيروت چاپ / بدرالفتاوى ص ١۶۶)

دسپاريانو ځخه ډک موټر كه چيري پر يوسړي تير سي .

سوال ۵ : که چیري یو موټر دسپاریانو ځخه ډک وي او بیا موټروان په خطاء سره یو سړی په ووهي یعني ترلاندي يې کړي نو کفاره یوازي پر موټروان باندي سته او که پر موټروان او سپاریانو دواړو باندي سته ؟

جواب : په داسي صورت کښي پر موټروان او سپاریانو دواړو باندي کفاره سته .

قال صاحب الهداية : إلا أن على الراكب الكفارة" فيما أوطأته الدابة بيدها أو برجلها "ولا كفارة عليها" ولا على الراكب فيما وراء الإبطاء، لأن الراكب مباشر فيه لأن التلف بثقله وثقل الدابة تبع له، لأن سير الدابة مضاف إليه وهي آلة له وهما مسببان لأنه لا يتصل منهما إلى المحل شيء، وكذا الراكب في غير الإيطاء، والكفارة حكم المباشرة لا حكم التسبب، وكذا يتعلق بالإيطاء في حق الراكب حرمان الميراث والوصية دون السائق والقائد لأنه يختص بالمباشرة.

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (قَوْلُهُ وَالرَّاكِبُ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ فِي الْوَطْءِ) أَيْ وَلَوْ وَطِئَتْ إنْسَانًا وَهُوَ رَاكِبُهَا وَكَذَا الرَّدِيفُ فَإِنَّهُمَا مُبَاشِرَانِ لِلْقَتْلِ حَقِيقَةً بِثِقَلِهِمَا، فَيَلْزَمُهَا الْكَفَّارَةُ، وَيُحْرَمَانِ مِنْ الْمِيرَاثِ كَالنَّائِمِ إذَا انْقَلَبَ عَلَى إنْسَانٍ أَتْقَانِيٌّ

(الدرالمختار وردالمحتار ج ۵ ص / الهداية ج ۴ ص بيروت چاپ / الفتاوی الخيرية علي هامش تنقيح حامدية ج ۲ ص ۳۱۸ / الموسوعة الفقهية ج ۲۴ ص ۱۱۴ / بدرالفتاوی ص ۱۵۳ / الملتقط ص ۳۶۱)

يو كس دبل كس غاښونه په خطا كښې ورويستل نو څه به كوي ؟

سوال ۶ : يو كس دبل كس غاښونه په ساتيري او حملو كښې په خطا ورويستل نو د شريعت دطرفه څخه د دې غاښو بدل څه شی دی ؟

جواب : كه چيري يو كس دبل كس غاښونه په قصدا اوعمدا ورويستل نو ددغه ايستونكي پر ذمه باندي قصاص لازم دی چي دده غاښونه به هم ورايستل كيږي . او كه يې چيري په خطا سره ورويستل نو په دې صورت كښې بيا دهر غاښ په بدل كښې پنځه اوښان ديت دهغه ورايستونكي پر ذمه باندي لازم دی چي هغه كس ته به يې وركوي دكوم چي دغاښونه ورايستلي يا مات كړي دي .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : (وَفِي كُلِّ سِنٍّ) يَعْنِي مِنْ الرَّجُلِ إذْ دِيَةُ سِنِّ الْمَرْأَةِ نِصْفُ دِيَةِ الرَّجُلِ جَوْهَرَةٌ (خَمْسٌ مِنْ الْإِبِلِ) أَوْ خَمْسُونَ دِينَارًا (أَوْ خَمْسُمِائَةِ دِرْهَمٍ) لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «فِي كُلِّ سِنٍّ خَمْسٌ مِنْ الْإِبِلِ» يَعْنِي نِصْفَ عُشْرِ دِيَتِهِ لَوْ حُرًّا وَنِصْفَ عُشْرِ قِيمَتِهِ لَوْ عَبْدًا.

وفى الهداية شرح بداية المبتدى : وفي كل سن خمس من الإبل" لقوله عليه الصلاة والسلام في حديث أبي موسى الأشعري رضي الله عنه: "وفي كل سن خمس من الإبل" والأسنان والأضراس كلها سواء لإطلاق ما روينا، ولما روي في بعض الروايات: والأسنان كلها سواء، ولأن كلها في أصل المنفعة سواء فلا يعتبر التفاضل كالأيدي والأصابع، وهذا إذا كان خطأ، فإن كان عمدا ففيه القصاص وقد مر في الجنايات.

وفی الجوهرة النيرة شرح القدوري : (وَفِي كُلِّ سِنٍّ خَمْسٌ مِنْ الْإِبِلِ) يَعْنِي إذَا كَانَ خَطَأً أَمَّا فِي الْعَمْدِ يَجِبُ الْقِصَاصُ ....

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۵۷۸ کتاب الديات / الهداية شرح بداية المبتدى ج ۴ ص ۵۸۶ کتاب الديات مکتبه حنفيه / الجوهرة النيرة شرح القدوري ج ۲ ص ۱۳۰ کتاب الديات بيروت چاپ)

دوارثانو دیت اخیستل د مړي ومړګ ته تاوان رسوي که یا ؟

سوال ۷ : که چیري یو کس دیو چا دلاسه څخه په خطا مړ سي او بیا وارثان د دغه مړي کس راولاړسي د دغه وژل سوي کس د قاتل څخه دیت واخلي نو ایا دهغه پر دغه مرګ خو به منفي تاثیر نه کوي یعني دهغه ومرګ ته خو به تاوان نه رسوي چي یا یې ثوابونه کم سي یا په اخرت کښې ورته عذاب ورکړل سي ؟

جواب : کله چي یو کس په خطا سره یو څوک مړ کړي نو دغه قاتل به دغه دیت د مړي وارثانو ته ورکوي او بیا به پر هغوی باندي د شریعت موافق تقسیمیږي او همدغه خبره شریعت په ښکاره الفاظو سره په قرآن کریم کښې بیان کړېده . نو که چیري دغه دیت اخیستل دیو ضرر شی وای یا د دنیا په لحاظ یا دآخرت په لحاظ سره نو شریعت مطهره یې هغه اړخ هم ورسره خامخا بیانوی حالانکي د دې خبري ثبوت په شریعت کښې نسته چي دغه دیت اخیستل د مړي پر مرګ باندي منفي تاثیر کوي . لهذا جواب د مسئلې هم دغه دی چي دغه دیت اخیستل د قاتل څخه د مړي و مرګ ته نه شرعا کوم مشکل جوړوي او نه هم عرفاً والله اعلم بالصواب .

قال العلامة برهان الدين المرغيناني في الهداية : وأصل هذا أن القصاص حق جميع الورثة، وكذا الدية .

وقال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى في البحر: والورثة فی ذلک کلهم سواء .

(الهداية ج ۴ ص ۵۷۲ کتاب القصاص في مادون النفس / البحرالرائق ج ۸ ص ۳۱۰ فصل في الصلح علي المال / ومثله في التفسيرات الاحمدية ص ۱۹۶ / فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۳۱۸ کتاب القصاص والدية)

ماشوم که په نس کښې ووژل سي ؟

سوال ۸ : که چیري یو کس یوه حامله ښځه په نس کښې ووهي او کوچنی یې ورمړ کړي نو ګناه یې د چا پر غاړه او شرعي مسئولیت یې څنګه او چاته راجع کیږي ؟

جواب : که چیري د بده مرغه یو کس یوه حامله ښځه په نس کښې ووهي او بیا په نس کښې هغه جنین (یعني کوچنی چي په رحم کښې موجود وي) هغه ضائع سي نو ښکاره خبره ده چي ګناه د قتل او وژلو یې د هغه وهونکي پر غاړه ده او داخو اخروي ذمه داري سوه ، او دنیوي ذمه داري هغه داده چي د دغه کس پر ذمه باندي پنځه سوه درهمه دیت لازمیږي چي د هغه جنین ورثه وو ته به یې ورکوي . تفصیل د فقهي شریفي په کتابونو کښې ذکر دی هلته مراجعه کولای سی .

وفی الهداية شرح بداية المبتدي : وإذا ضرب بطن امرأة فألقت جنينا ميتا ففيه غرة وهي نصف عشر الدية" قال رضي الله عنه: معناه دية الرجل، وهذا في الذكر، وفي الأنثى عشر دية المرأة وكل منهما خمسمائة درهم. والقياس أن لا يجب شيء لأنه لم يتيقن بحياته، والظاهر لا يصلح حجة للاستحقاق. وجه الاستحسان ما روي أن النبي عليه الصلاة والسلام قال: "في الجنين غرة عبد أو أمة قيمته خمسمائة" ويروى "أو خمسمائة" فتركنا القياس بالأثر، وهو حجة على من قدرها بستمائة نحو مالك والشافعي "وهي على العاقلة" عندنا إذا كانت خمسمائة درهم......

(الهداية ج ۴ ص ۵۹۵ مكتبه حنفيه / المبسوط للسرخسي ج ۲۶ ص ۶۵ كتاب الديات بيروت چاپ)

یو ماشوم د مور او پلار په مینځ کښې د خوب په حالت کښې مړ سو .

سوال ۹ : که چیري یو کوچنی د مور او پلار په مینځ کښې د خوب په حالت کښې مړ سي حال دا چي هغه کس معلوم نه دی چي دی یې وژلی دی چي مور ده که پلار دی که لا بل شی دی نو کفاره به پر مور او پلار دواړو باندي لازمیږي او که به یوازي پر یوه باندي ؟

جواب : په دغه ذکر سوي مسئله کښې د علماوو او فقهاوو دوه قوله دي یو قول دا دی چي پر دواړو باندي کفاره لازمه ده ځکه چي دوی د دغه کوچني د حفاظت ذمه

داري په صحیح معنی سره سر ته نه ده رسولې . او بل قول دا دی، چې کفاره پر یوه باندي لا هم نسته ځکه چې دوی، ته غم او صدمه په دې باندي رسیدلې ده نو دا الله جل جلاله څخه دي بخښنه او استغفار وغواړي او فتوی هم پر دغه قول باندي ده .

لمافي الفتاوى الهندية : صَبِيٌّ مَاتَ فِي الْمَاءِ أَوْ سَقَطَ مِنْ السَّطْحِ فَمَاتَ، فَإِنْ كَانَ مِمَّنْ يَحْفَظُ نَفْسَهُ لَا شَيْءَ عَلَى الْأَبَوَيْنِ، وَإِنْ كَانَ مِمَّنْ لَا يَحْفَظُ نَفْسَهُ فَعَلَيْهِمَا الْكَفَّارَةُ إنْ كَانَ فِي حِجْرِهِمَا، وَإِنْ كَانَ فِي حِجْرِ أَحَدِهِمَا فَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ هَكَذَا عَنْ نُصَيْرٍ، وَعَنْ أَبِي الْقَاسِمِ فِي الْوَالِدَيْنِ إذَا لَمْ يُتَعَاهَدْ الصَّبِيُّ حَتَّى سَقَطَ مِنْ سَطْحٍ وَمَاتَ، أَوْ احْتَرَقَ بِالنَّارِ لَا شَيْءَ عَلَيْهِمَا إلَّا التَّوْبَةُ وَالِاسْتِغْفَارُ، وَاخْتِيَارُ الْفَقِيهِ أَبِي اللَّيْثِ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – عَلَى أَنَّهُ لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِمَا، وَلَا عَلَى أَحَدِهِمَا إلَّا أَنْ يَسْقُطَ مِنْ يَدِهِ وَالْفَتْوَى عَلَى مَا اخْتَارَهُ أَبُو اللَّيْثِ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ وَهُوَ الصَّحِيحُ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ

(الفتاوى الهندية ج ۶ ص ۳۳ مكتبه رشيديه / فتاوى قاضيخان علي هامش الهندية ۳ ص ۴۴۷ فصل في اثلاث الجنين / فتاوى حقانيه ج ۴ ص كتاب القصاص والدية)

یوه کوچني دبل کوچني سترګه ورړنده کړه

سوال ۱۰ : دوو کوچنیانو سات سره تیروی آخر خبره جنګ ته ورسېده یوه کوچني هغه بل کوچني په سترګه کښې په چاقو باندي ووهی او سترګه یې ورویسته حال داچې اقرار او شاهدان دواړه موجود دي اوس ددغه سترګي دیت او تاوان پر چا باندي لازم دی ؟

جواب : که چیري صورت حال داسي وي لکه په سوال کښې چي لیکل سوی دی نو په داسي صورت کښې ددغه سترګي دیت ددغه ماشوم په مال کښې لازم دی پر پلار او پر عاقلې باندي شی نسته . او که چیري ماشوم پیسې نه درلودې نو تر هغه وخته انتظار ورته کیږي تر څه وخته چي دی پیسه داره کیږي .

وفى فتاوى قاضيخان : صبيان اجْتَمعُوا فِي مَوضِع يَلْعَبُونَ ويرمون فَأَصَاب سهم أحدهم عين امْرَأَة وَذَهَبت وَظهر الصَّبِي ابْن تسع سِنِين أَو نَحوه قَالَ الْفَقِيه أَبُو بكر أرش عين الْمَرْأَة يكون فِي مَال الصَّبِي وَلَا شَيْء على الْأَب وَإِن لم يكن لَهُ مَال فنظرة الى ميسرَة قَالَ

الْفَقِيه أَبُو اللَّيْث إِنَّمَا وَجَبت الدِّيَة فِي مَال الصَّبِي لِأَنَّهُ لَا يرى للعجم عَاقِلَة ثمَّ إِنَّمَا تجب الدِّيَة إِذا ثَبت رميه بِشَهَادَة الشُّهُود لَا بِإِقْرَار الصَّبِي وَلَا بِوُجُود سَهْمه فِيهَا لِأَن إِقْرَاره على نَفسه بَاطِل غنية ......

وفی الفتاوی الهندية : وَلَا قِصَاصَ فِيمَا بَيْنَ الصِّبْيَانِ وَعَمْدُ الصَّبِيِّ وَخَطَؤُهُ سَوَاءٌ عِنْدَنَا حَتَّى تَجِبَ الدِّيَةُ فِي الْحَالَيْنِ فَيَكُونُ ذَلِكَ فِي مَالِهِ ......

وفی الموسوعة الفقهية : وَكَذَلِكَ لاَ يُشْتَرَطُ الْعَقْل وَالْبُلُوغُ، فَتَجِبُ الدِّيَةُ بِقَتْل الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ اتِّفَاقًا، كَمَا تَجِبُ فِي مَال الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ (مَعَ خِلاَفٍ وَتَفْصِيلٍ) .

وَذَلِكَ لأَنَّ الدِّيَةَ ضَمَانٌ مَالِيٌّ فَتَجِبُ فِي حَقِّهِمَا وَسَيَأْتِي تَفْصِيلُهُ فِيمَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الدِّيَةُ.

(/ الفتاوى الهندية ج ۶ ص الْبَابُ الثَّانِي فِيمَنْ يُقْتَلُ قِصَاصًا وَمَنْ لَا يُقْتَلُ ۳ مكتبه رشيديه / لسان الحكام ج ۱ ص ۳۹۲ من الغنية بيروت چاپ مكتبه شامله / فتاوی قاضيخان ج ۴ ص ۳۹۳ مكتبه يوسفيه / بدائع الصنائع ج ۷ ص ۲۵۳ بيروت چاپ / الموسوعة الفقهية ج ۲۱ص مكتبه حقانيه / ۴۷ / فتاوی فريديه ج ۲ ص ۶۷۱)

دیو کس ځخه ماشوم په ساتیري کي مړ سو

سوال ۱۱ : یو کس په شفقت او ساتیري سره دیو ماشوم سره لوبي کولې اخر هغه ماشوم دده دلاسه شوه سو مړ سو دغسي عمل یې کوی چي ماشوم هلاک سو اوس ددغه کس لپاره په شریعت کي کومه سزاسته که یا ؟

جواب : دغسي قتل ته په شرع او فقه کي جاري مجری خطا وایې حکم دداسي قتل ځلور شیان دي اول توبه ، دوهم کفاره ، دریم پرعاقلي او قبیلې باندی دیت ، ځلورم دمیراث ځخه محرومه کېدل ، ددیت اداء کیدل به په دري کاله کي وي نه ژر او په تلوراه سره ..

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَ الرَّابِعُ مَا جَرَى مَجْرَاهُ مَجْرَى الْخَطَأِ كَنَائِمٍ انْقَلَبَ عَلَى رَجُلٍ فَقَتَلَهُ... وَمُوجَبُهُ الْكَفَّارَةُ وَالدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ

(وقال العلامةالكاساني رحمه الله) النَّائِمِ يَنْقَلِبُ عَلَى إنْسَانٍ فَيَقْتُلَهُ فَهَذَا الْقَتْلُ فِي مَعْنَى الْقَتْلِ الْخَطَأِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ لِوُجُودِهِ لَا عَنْ قَصْدٍ؛ لِأَنَّهُ مَاتَ بِثِقَلِهِ فَتَرَتَّبَ عَلَيْهِ أَحْكَامُهُ مِنْ وُجُوبِ الْكَفَّارَةِ وَالدِّيَةِ وَحِرْمَانِ الْمِيرَاثِ

وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيليرحمه الله في الفقه الاسلامي وادلته : وبما أن نظام العشيرة قد زال، وبيت المال قد تغير نظامه، واختلف النظام الاجتماعي عما كان عليه في زمن العرب، وفقدت عصبية القبيلة بعضهم لبعض، وصار كل امرئ معتمداً على نفسه دون قبيلته كما في النظام الحاضر، فإن دية القتل الخطأ أو شبه العمد، أصبحت في زماننا هذا واجبة في مال الجاني وحده،

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۵ ص ۳۴۲ كتاب الجنايات سعيد چاپ/بدائع الصنائع ج ۷ ص ۲۷۱ كتاب الجنايات سعيد چاپ/ الهداية ج ۴ ص ۵۶۱ كتاب الجنايات مكتبه رحمانيه/الفقه الاسلامي وادلته ج ۷ ص ۵۷۳۲ مكتبه رشيديه/فتاوی عبادالرحمن ج ۵ ص ۱۰ كتاب القصاص /فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۳۱۸ كتاب القصاص والدية / الهداية ج ۴ ص ۵۵۸ / بدرالفتاوی ص ۱۵۱ /احسن الفتاوی ج ۸ ص ۵۴۳اردو)

كتاب الجـــــهاد

په جهاد کښې دريا کولو حکم.

سوال ۱ : کله چې يو مجاهد جهاد کوي خو دغه کس جهاد د (ريا)خلګو ته د ځان ښوونې لپاره کوي يعني خلګو ته ځان داسې ښکاره کوي چې زه يو غښتلی اوبهادر شخص يم اوس پوښتنه داده چې يو کس ريا کوي نو شرعاً دهغه کس حکم څه دی؟

جواب: مفتي اعظم افغانستان حضرت مولانا عبدالعلي ديوبندي رحمه الله ودغه سوال ته داسې جواب ويلی دی چې په هر عبادت کښې نيت کول لازمي دی او هغه عبادت به خاص دالله تبارک وتعالی ﷻ درضا لپاره وي بل کوم مقصد او غرض به نلري نود کوم کس چې په کوم عبادت کښې دالله ﷻ رضا مطلب وي نو وهغه کس ته الله پاک ﷻ دهغه عبادت پوره اجر او ثواب ورکوي هغه که جهاد وي يا حج وي يا روژه يا لمونځ وي اوپه کوم عبادت کښې چې مقصد دالله ﷻ رضا نه وي بلکې وخلګو ته دځان ښوونې لپاره هغه عبادت کول وي نوپردغه عبادت خو ثواب مرتب نه دی الله ﷻ به عذاب هم ورکي لکه په يو حديث شريف کښې چې نبي کريم ﷺ فرمايي (اولني خلک چې په ورځ دقيامت به حساب ورسره کيږي هغه خلک دي چې په جهاد کښې شهيدان سوي وي څه وخت چې ددوی سره محاسبه کيږي نو الله پاک

ﷻ هغه خپل ټول نعمتونه ورېه یاد کړي چي وده ته په دنیا کښي ورکړه سوي وه بیا خدای تعالی ﷻ ورته ووایي نو تا په دنیا کښي زما درضا لپاره څه کړیدي په خاطر دشکر اداکولو زما ؛نو هغه سړی به ورته ووایي چي ماخوستا درضا لپاره جهاد وکی ترداسي وخته چي شهید کړل سوم نو الله پاک ﷻ به ورته ووایي چي ته دروغ وایې په دې خبره کښي چي (شهید سوم) ځکه چي تاددې لپاره جنګ کاوه چي خلګ ستا په اړه ووایي چي ته یو دلاوره اوبا جرئته اوشجاع سړی یې چي خلګو هم داسي وویل ستاسو په اړه چي په دغه ویلو سره ستاسو مقصد پوره سو بیا به وومؤظفو ملائکو ته ددوزخ امر وکړل سي چي دی پرمخ باندي واچوی اوبیا یې ودوزخ لره کش کړی خادمان ددوزخ به دغه سړی پرمخي کشوي څو چي په دغه کشولو سره یې ودوزخ ته واچوي) نو هغه عبادات چي دالله ﷻ درضا لپاره نوي هغه الله ﷻ ته دقبول وړ نه دي او الله ﷻ به ودغه ریا کاره شخص ته په ورځ دقیامت سخته سزا ورکوي الله ﷻ دي زموږ اوستاسي اوټولو مسلمانانو نیتونه صفا کړي آمین.

عن عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا، أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ،قال سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيءٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ، وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ، وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ: عَالِمٌ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ: هُوَ قَارِئٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ، وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: مَا

تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ: هُوَ جَوَادٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ، ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ "،

(صحيح مسلم ج ۳ ص ۱۵۱۳ باب من قاتل للرياء والسمعة استحق النار بيروت / صحيح البخاري ج ۱ ص ۶ باب بدء الوحي بيروت / سنن ابي داود ج ۲ ص ۲۶۲ باب فيما عني به الطلاق والنيات بيروت / جامع الترمذي ج ۴ ص ۱۷۹ باب ماجاء فيمن يقاتل الرياء والدنيا بيروت / سنن النسائي ج ۱ ص ۵۸ باب النية في الوضوء بيروت/ المعجم الكبير للطبراني ج ۱۹ ص ۱۶۷ / مشكاة المصابيح ج ۱ ص ۳۳ كتاب العلم قديمي چاپ / ارشادالمسائل بين الحق والباطل ص ۵۹)

جهاد څه ته وائي؟

سوال ۲: جهاد څه ته وائي؟ نن سبا څه خلګ د جهاد په معنی نه پوهيږي او خپلو غلطو کړنو ته ځني وختونه جهاد وائي.

جواب: جهاد د جُهد څخه اخيستل سوی لغت دی چي معني يې ده په لغت کښې کوشش او تلاش کول يا په يو کار کښې مبالغه کول.

او په شريعت مقدسه کښې جهاد هغه څه ته ويل کيږي چي يو مسلمان خپل ټول طاقت په جنګ کولو کښې مصرف کړي لپاره د ترقۍ او پورته کولو د دين د الله جل جلاله يعني چي نوم د خدای او شريعت محمدي صلی الله عليه وسلم پورته سي او لوړسي دغه د جهاد شرعي معني ده، او س نو دغه جنګ کول د کفارو سره هر څنګه چي وي د توپ او توپک په ګوليو سره وي، که په د نيا او مال سره وي، يا په ښه عاقلانه رايه سره وي، يا په تعليم سره وغازيانو ته وي، يا د زخميانو په تداوي سره وي يا د غازيانو په ډوډۍ او اوبو ورکولو سره وي په دغه ټولو حالاتو کښې دغه کس مجاهد بلل کيږي.

ردالمحتار علي الدرالمختار بيروتي چاپ ج ۳ ص ۲۱۷/ارشادالمسايل بين الحق والباطل للشيخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالي ص)

ايا جهاد ته تلل د مايني او ښځي اجازه غواړي که يا؟

سوال ۳: ايا جهاد ته وتل د مجاهد د خپلي ښځي څخه اجازه اخيستل غواړي که يا؟

جواب: که چيري يو سړي بيربړي پر خپله ماينه باندي که زه وجهاد ته ولاړسم ماينه به را څخه ولاړه سي يا به بل څه زما و مايني او عيال ته وريپښه سي نو په داسي صورت کښې بايد د خپلي مايني څخه وجهاد ته د تللو لپاره اجازه واخلي او که چيري پر ضايع

کیدو د ماینې نه بیرېدی نو تلل یې وجهاد ته د ماینې پر اجازه نه دي موقوف بیله اجازې هم تللای سي که څه هم د ده تلل وجهاد ته د ده پر ماینه باندي سخت او مشکل تمامیدله.

(الفتاوی الهندية ۲ ص ۱۸۹/ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالي ص ۶۶)

د غنیمت د مال د تقسیم طریقه شرعًا څنګه ده؟

سوال ۴: مجاهدین چې د کفارو څخه کوم مال په طور د غنیمت تینګ کړي د تقسیمېدو طریقه یه شرعًا څنګه ده پر څه طریقه باید تقسیم سي د کشر او مشر مجاهد فرق په کښې سته که یا؟

جواب: هر هغه مال چې غنیمت وي که لږ وي که ډیر وي پر پنځه حصو تقسیمېږي پنځمه حصه یې ایستل کیږي د مېنځه څخه څلور حصې پاته کیږي چې باید پر فتح کوؤنکو مجاهدینو باندي په شرعي طریقه سره تقسیم سي او پنځمه حصه دي و فقیرانو او غرباوو ته ورکړه سي او د مشر او کشر فرق په کښې نسته.

بدائع الصنایع جلد ۳ ص ۲۵۴/ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۲۵۴/ فتح القدیر ج ۵ ص ۲۲۵/ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالي ص ۸۹)

هجرت کول کله فرضیږي پر مسلمانانو باندي؟

سوال ۵: هجرت کول پر مسلمانانو کله فرض کیږي ایا هجرت هم تر دارحرب پوري تعلق لري که یا؟

جواب: د هجرت فرضیت او لازم کیدل تر دار الحرب پوري تعلق او ارتباط نه لري داسي کلي او ښارونه چې په هغه کښې مسلمانان د خپل دین اقامت نه سي کولای یا د خپل دین پر فساد او خرابیدو ویریږي او د اسلامي شعایرو د اجراء کولو څخه عاجزه سي نو په داسي حالت کښي هجرت فرض کیږي.

وفی المرقاة شرح المشکوةلملاعلی القاری رحمه الله تعالی : ومنها الهجرة من دیار البدعة إلى بلاد السنة، والهجرة لطلب العلم، وترك الوطن لتحصيل الحج، وفي معناه الاعتزال عن الناس، وأما قوله – عليه الصلاة والسلام –: («لا هجرة بعد الفتح»)

محمول على خصوص الهجرة من مكة إلى المدينة؛ لأن عموم الانتقال من دار الكفر إلى دار الإيمان باق على حاله،

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح جلد ۱ ص ۴۶ حديث انما الاعمال بالنيات مكتبه شامله /ارشادالمسايل بين الحق والباطل للشيخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالي ص ۸۳)

افغانستان دارحرب دی که نه دی؟

سوال ۶: په موجوده وخت کښي (۱۴۳۰) هجري قمري شاوخوا کښې افغانستان دارحرب دی که نه دی؟

جواب: په ارشاد المسائل بين الحق والباطل نامي کتاب کي چي دالحاج مولوی اختر محمد صاحب او الحاج حضرت مولانا عبدالعلي ديوبندي مفتي اعظم افغانستان رحمهما الله تعالی مشترک تاليف دی په هغه کي دغه سوال ته داسي جواب ويل سوی دی :

په يقيني او قطعي توګه سره الحمد الله افغانستان دار اسلام دی او دارحرب نه دی لکه څنګه چي فتاوی عالمګيري داسي راوړي دي چي يو دار اسلام په درو شرطونو سره دارحرب کيدای سي.

(۱) چي احکام د کافرانو او بدکارانو په ښکاره توګه سره په اسلام کښي ښکاره سي او ټول اسلامي احکام پکښي منع کړل سي.

(۲) هيڅ مسلمان او غير مسلمان پکښي مامون يعني په امن نه وي د پخواني امن په شان.

(۳) او د اسلامي هيوادونو سره ئي هيڅ روابط نه وي او س په افغانستان کښي لمنځونه او اذانونه کيږي په جماعت سره په ډيره ازادي او اطمينان سره او هم د اخترونو او جمعې لمونځونه کيږي پکښي او مجاهدين د اسلام د کفارو سره په جنګ او مبارزه اخته دي الخ.......

فتاوي هنديه جلد ۲ ص ۲۳۲ ردالمحتار جلد ۳ ص ۲۵۳ / بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۳۱ /ارشادالمسايل بين الحق والباطل للشيخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالي ص ۴۸ بيان دارالاسلام ودارالحرب)

مجاهد که په جهاد کښې فرض روژه ماته کړه کفاره نسته باندي

سوال ۷: دیو سړي که دغه پورا یقین وي چي زه نن د کافرانو سره جنګ کوم په دغه نیت سره په دغه ورځ د فرضي روژه ماته کړه او بیا اتفاقا په دغه ورځ جنګ هم نه وسو ایا پر دغه مجاهد د دغي خوړلي روژي کفاره سته که یا؟

جواب: په دغه صورت کښي د کفارې پر واجبیدلو د علماؤو او فقهاؤو اختلاف دی خو معتمد او قوي قول دادی چي پر دغه کس کفاره نسته او علامه ابن عابدین شامي رحمه الله تعالی صاحب درد المحتار وائي ما داسي ثوک نه دی لیدلی چي په سقوط د کفارې کښې دي مخالفت وکړي د مجاهد په باره کښې.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۱۷۷ /ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالي ص ۶۹)

د هري ثوک دی او دهریان چاته ویل کیږي؟

سوال ۸: د هري ثوک دی او د هري چاته ویل کیږي او د هري ثه حکم لري؟

جواب: د هري هغه ثوک دی چي د صانع او خالق جل جلاله د وجود ثخه منکره وي او هرشی په خپله بذاته پیدا بولي او دغه دهري خلګوته دعوت او بلنه ورکوي چي د حق دین ثخه کاږه او مائله سي او پر باطله لاره او عقیده باندي روان سي او د هري هغه ثوک دی چي محرمات مباح اوروا بولي په ډول د زندیق.

په فتاوي قاري الهدایة کښې روایت دي چي د هري هغه ثوک دی چي د هر او زمانه خالق بولي او پر خداي تعالی جل جلاله او آخرت باندي ایمان نه لري.

مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح جلد ۴ ص ۴۲ /ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۲۹۷ /ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالي ص ۹۷)

د کفارو او مشرکینو مالونه که په جنګ کي یا ببله جنګه ونیول سي ثه حکم لري؟

سوال ۹: د جنګ کوؤنکو کافرانو مالونه که په جنګ کښې یا ببله جنګه ونیول سي ثه حکم لري شرعًا ایا غنیمت بلل کیږي که یا؟

جواب: د داسي کافرانو مالونه غنیمت دي ځکه چي غنیمت هغه مال دی چي ونیول سي د جنګ کوؤنکو کافرانو ثخه په زور او قهر او غلبې سره.

(بدائع الصنائع جلد ۷ ص ۱۱۷ کتاب السیر، فصل في بیان حکم الغنایم /ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالی ص ۸۹)

د مجاهدینو د لښکر امیر باید څنګه سړی وي؟

سوال۱۰: امیرد لښکرد مجاهد ینو باید څنګه سړی وي او کوم کوم صفات باید په کښې وي د شریعت درویه څخه ؟

جواب: امیرد لښکر باید دغه لاندي صفتونه ولري.

باید په حربي تدابیرو باندي ډیربنه پوه وي متقي او پرهیزګاره وي ، پر خپل افرادو او لښکر باندي مشفق او مهربانه وي ،سخي به وي ، د لاوره به وي ، په حلالو او حرامو باندي به عالم وي ، عادل به وي ، قومیت یې ضروري نه دی چي د فلانکي قوم څخه به وي یابه حتماً د قریشو څخه وي داسي شیان ضروري نه دي.

(الفتاوی الهندیه ج ۲ ص ۱۹۲ بدایع الصنائع ۷ ص ۹۹/ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالی ص ۹۲)

مهاجر څوک دي او چاته ویل کیږي ؟

سوال ۱۱: مهاجر څوک دی او شرعًا مهاجر چاته ویل کیږي؟

جواب : مهاجر په شریعت کښي هغه چاته ویل کیږي چي مسافر سي د کفر د وطن څخه و وطن ته د اسلام یا د بدعت د وطن څخه و وطن ته د سنتو ولاړسي یا لپاره د علم د تحصیل ولاړسي یا دحج داداء کولو لپاره مسافرسي دغه کسان شرعًا مهاجرین بلل کیږي.

مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح جلد ۱ ص ۳۹ / ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالی ص ۹۶)

مجاهد په شریعت کښي چاته ویل کیږي ؟

سوال ۱۲: مجاهد څوک دی؟ او په شریعت مقدسه کښې د مجاهد تعریف څه دی؟

جواب: مجاهد هغه څوک دی چي مسلمان وي او خپل ټوله توان او طاقت په جنګ کولو کښي د کفارو سره مصرف کړي چي دین د اسلام او کلمة الله لوړه سي دغه دده توان او طاقت مصرفول په جنګ کولو سره ،معاونت کولو سره ، یا کومک کول په

مال سره وي، یا ښه صلاح او مشوره ورکول و غازیانو او مجاهدینو ته وي، یا په دي نیت ورسره ولاړسي چي د مسلمانانو فوج او لښکر ډیر سي، یا د جنګ د زخمیانو تداوي کوي، یا ونورو غازیانو ته ډوډۍ پخوي، یا نور خوراکي شیان ورته برابروي، یا اوبه ورته راوړي دغه ټولو ته په شریعت مقدسه کي مجاهد ویل کیږي.

ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۲۱۷ بدایع الصنائع جلد ۷ ص ۹۷ / ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالي ص ۹۶)

د کافر څخه کومک غوښتل په جهاد کښي څنګه دي؟

سوال ۱۳: ایا په جهاد کښي چي کله مسلمانان کمزوري وي د کافر ملک څخه کومک او مرسته غوښتل شرعًا رواه ده که یا؟

جواب: د کافر څخه کومک یا مرسته غوښتل رواه ده په څو شرطو نوسره کوم چي فقهاوو بیان کړي دي.

(۱) داچي کافران په خپله رضا او خوښۍ سره ودوی ته کومک ورکړي.

(۲) داچي ددغه کومک کوونکو کافرانو لپاره به علیحده او جلا بیرغ نه وي.

(۳) داچي ددغه کومک او مرستي په عوض کښي به ددوئ لپاره د غنیمت په مالونو کښي حصه او برخه هم نه وي.

[تنبیه] په وخت کښي د سخت ضرورت او ناچارئ د کافرانو څخه د مرستي او کومک غوښتنه رواه ده لکه چي په احادیثو او د رسول الله صلي الله عیله وسلم په غزاؤو کښي ددي خبري او عمل ثبوت سته مثلا د خیبر په غزا کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بنو قینقاع دیهودو څخه کومک غوښتی وو، د حنین په غزا کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم د صفوان بن امیه څخه کومک غوښتی وو حال دا چي هغه کافر وو.

(فتح القدیر علي الهدایة ج ۵ ص ۲۴۳ / ردالمحتار علي الدرالمختار جلد ۳ ص ۱۸۸ / بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۰۱ / ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالي ص ۶۱)

ددغه حديث څه مطلب دی چي قاتل او مقتول به دواړه دوږخ ته ځي ؟

سوال ۱۴: يو حديث شريف ما په کتاب کښې ليکلی وليدی چي داسي حالت به په اخرکښې د زمانې راسي چي قاتل او مقتول به دواړه يعني وژونکی او وژل کړی سوی سړی به دواړه دوږخ ته ځي ددغه حديث شريف څه مطلب دی؟

جواب: ددغه خبري او حديث شريف څخه د رسول الله صلی الله عليه وسلم مقصد او مراد دادي چي دوه نفره مسلمانان ديوه کلي يا ديوه قوم چي پر د نيا يا پر قوميت يا بناء پر تعصب او دښمني باندي يو دبله سره ووژني دغه يې مطلب دی او په دې دواړو کښې ده يوه سره کومک او مرسته کول هم جائز او رواه نه ده .

عن الأحنف بن قيس، قال: خرجت وأنا أريد هذا الرجل فلقيني أبو بكرة، فقال: أين تريد يا أحنف؟، قال: قلت: أريد نصر ابن عم رسول الله صلى الله عليه وسلم – يعني عليا – قال: فقال لي: يا أحنف ارجع، فإني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «إذا تواجه المسلمان بسيفيهما، فالقاتل والمقتول في النار» قال فقلت: أو قيل: يا رسول الله هذا القاتل، فما بال المقتول؟ قال: «إنه قد أراد قتل صاحبه»

(الصحيح لمسلم رحمه الله تعالي ج ۳ ص ۲۲۱۳ باب إذا تواجه المسلمان بسيفيهما مکتبه شامله /البزازيه علي بيض الفتاوی الهندية ج ۴ ص ۳۰۹/ ارشادالمسايل بين الحق والباطل للشيخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالي ص ۶۲)

ايا غازي د جهاد روپۍ پر خپل اولاد خرڅ او نفقه کولای سي که يا؟

سوال۱۵: که چيري مړو او غنيانو خلکوو مجاهد ته مال او پيسې د جهاد لپاره ورکړي وي ايا ددغه ماله څخه دغه مجاهد د خپل اولاد دنفقې دپاره څه پيسې مصرفولای سي که يا ؟

جواب: که چيري دغه مجاهد شخص مسکين وي او ددغه ماله څخه چي ودته ورکړه سوی دی يوه اندازه مال و خپل عيال ته د نفقي لپاره ورکړي پرواه نه لري ځکه چي تلل وجهاد ته بيله نفقې پريښودلو و خپل عيال ته اسانه کار نه دی بلکه يو مشکل کار دی چي دی وجهاد ته ولاړسي او دده عيال دي د خوړلو لپاره نفقه او خوراک ونه لري.

(ردالمحتار علي الدرالمختار جلد ۳ ص ۲۲۲ / ارشادالمسايل بين الحق والباطل للشيخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالي ص ٦٥)

د يو ملک د دار الکفر کېدلو شرائط او دهغه بيان.

سوال١٦: يو ملک او دولت چي اوله اسلامي وي او وروسته بيا کفار او مشرکين په زور او تسلط وربانديي غلبه وکړي په کومو شرايطو سره بيا هغه ملک دارالکفر جوړيدلای سي؟

جواب: کوم ملک او دولت چي يو واري دارالاسلام تيرسوی وي بيا چي هغه دارالحرب ګرځي د هغه د دارالکفر دګرځيدلو لپاره د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله تعالی په نزد دري شرطونه لري **اول**: په دغه موجوده حکومت کښې به د سابقه حکومت د امن شرايط او ذمه داري او معافي باقي او پر ځاي پاته نه وي بلکه د مېنځه به ولاړه سي.

دوهم: اسلامي احکام به هلته نه جاري کېږي **دريم**: د دغه ملک او دولت سره به د بل اسلامي ملک او دولت اتصال هم نه وي که ؤ بيا دارالحرب نه ګرځي. او امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله تعالی فرمايي چي د دار اسلام او دارکفر تعلق د قانون اسلام او د قانون کفر د نفاذ سره تړلی دی په کوم مملکت کي چي قانون د کفر وي هغه دارکفر دی او په کوم مملکت کي چي قانون د اسلام وي هغه دار اسلام دی په عمومي شکل سره چي وکتل سي متاخرينو علماوو په دغه مسئله کي و دغه نقطه نظر ته ترجيح ورکړې ده.

لما قال العلامة المؤلف علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ٥٨٧هـ) رحمه الله فی بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع : وَمَعْرِفَةُ ذَلِكَ مَبْنِيَّةٌ عَلَى مَعْرِفَةِ مَا بِهِ، تَصِيرُ الدَّارُ دَارَ إسْلَامٍ أَوْ دَارَ كُفْرٍ فَنَقُولُ: لَا خِلَافَ بَيْنَ أَصْحَابِنَا فِي أَنَّ دَارَ الْكُفْرِ تَصِيرُ دَارَ إسْلَامٍ بِظُهُورِ أَحْكَامِ الْإِسْلَامِ فِيهَا وَاخْتَلَفُوا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ، إنَّهَا بِمَاذَا تَصِيرُ دَارَ الْكُفْرِ؟ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: إنَّهَا لَا تَصِيرُ دَارَ الْكُفْرِ إلَّا بِثَلَاثِ شَرَائِطَ، أَحَدُهَا: ظُهُورُ أَحْكَامِ الْكُفْرِ فِيهَا وَالثَّانِي: أَنْ تَكُونَ مُتَاخِمَةً لِدَارِ الْكُفْرِ وَالثَّالِثُ: أَنْ لَا يَبْقَى فِيهَا

مُسْلِمٌ وَلَا ذِمِّيٌّ آمِنًا بِالْأَمَانِ الْأَوَّلِ، وَهُوَ أَمَانُ الْمُسْلِمِينَ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ – رَحِمَهُمَا اللَّهُ: إنَّهَا تَصِيرُ دَارَ الْكُفْرِ بِظُهُورِ أَحْكَامِ الْكُفْرِ فِيهَا.

(بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۳۰ فصل في بيان معني الدارين دار الإسلام ودار الكفر مكتبه شامله / الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۲۳۲ / ردالمحتار ج ۳ ص ۲۵۲ / قاموس الفقه ج ۳ ص ۳۹۵ دارالحرب)

د جهاد لپاره د مور او پلار اجازه اخیستل ضروري ده که یا ؟

سوال ۱۷: بېله اجازي څخه د مور او پلار وجهاد ته تلل څنګه دي شریعت اجازه ورکوي که یا؟

جواب: که چیري په هغه علاقه کي جهاد فرض عین نه وي ګرځېدلی نو بیله اجازې د مور او پلار نسي تللای او که فرض عین ؤ تللای سي بېله اجازې هم، د دغي خبري د تفصیل د فقهي په کتابو کښي سته هلته یې وګوري:

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : لايفرض علي صبي وبالغ له ابوان او أو أحدهما؛ لأن طاعتهما فرض عين «وقال – عليه الصلاة والسلام – للعباس بن مرداس لما أراد الجهاد الزم أمك فإن الجنة تحت رجل أمك» سراج وفيه لا يحل سفر فيه خطر إلا بإذنهما................. وفرض عين إن هجم العدو فيخرج الكل ولو بلا إذن) ويأثم الزوج ونحوه بالمنع ذخيرة

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار جلد ۳ ص ۲۴۱ ، ص ۲۴۲ كتاب الجهاد مكتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند جلد ۱۲ ص ۱۹۷ كتاب السير واحكام الجهاد مكتبه رشيديه)

كتاب الامارة والقضآء

آیا ښځه شرعاً قاضي او حاکمه جوړېدلای سي ؟

سوال ۱: آیا ښځه قاضي او حاکمه د محکمې جوړېدلای سي په اسلام کښي چي فیصلې د خلکو ورکوي که نه سي جوړېدلای؟

جواب : د امام ابو حنیفه صاحب رحمه الله تعالی مذهب دادی چي ښځه قاضي او حاکم نه سي جوړېدلای که په حجاب او پرده کي وي که نه وي لیکن که د یوه ملک قوانین ټول غیري اسلامي وي او ښځه قاضي جوړه کړي نو یي حکم نافذه کېږي .

او څلور سره مذهبونه پر دغه متفق دي چي ښځه قضاء نسي کولای ځکه چي قضاء او فیصلې ډیر غټ د خطر کارونه دي چي اسلام یې حقوق فقط نر ته ورکړي دي .

الرِّجالُ قَوّامُونَ عَلَى النِّساءِ بِما فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلى بَعْضٍ

لماقال العلامة: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : ٦٧١هـ) رحمه الله تعالى في الجامع لأحكام القرآن تفسير القرطبي

وَأَيْضًا فَإِنَّ فِيهِمُ الْحُكَّامَ وَالْأُمَرَاءَ وَمَنْ يَغْزُو، وَلَيْسَ ذَلِكَ فِي النِّسَاءِ

وفي التفسير المظهري : بِما فَضَّلَ اللَّهُ اى بسبب تفضيل الله بَعْضَهُمْ يعنى الرجال عَلى بَعْضٍ يعنى على النساء فى اصل الخلقة بكمال العقل وحسن التدبير وبسطة فى العلم والجسم ومزيدا لقوة فى الأعمال وعلو الاستعداد ولذلك خصّوا بالنبوة والامامة والولاية والقضاء والشهادة فى الحدود والقصاص وغيرهما

(تفسیر قرطبي ج ٥ ص ١٦١ / تفسیر ابن کثیر ج ١ ص ٤٣٥ / تفسر مظهري ج ٢ ص ٣١٠ / تفسیر معارف القران ج ٣ ص ٣٢ / فتاوی بینات ج ٣ ص ٣٨٣ / فتاوی حقانیه ج ٢ ص ١٦٨ پښتو)

دمجرم دراوستلو مصرف او اجرة پر چا دی ؟

سوال ٢ :قاضي دوخت په مدعی علیه پسې حال ورولیږی چي راسه هغه رانه غلی وروسته خپله حکومت دوخت پسي ورغلی هغه یې راوستی دغه دلاري او دده دراوستلو مصرف پر چا باندي راځي ؟

الجواب بعون الله الوهاب : په فتاوی کاملیه کي لیکلي دي که چیري دغه مدعی علیه سرکشه نه وو نو یې د حاضرولو اجرت پر مدعی باندي دی او که چیري سرکشه وو نه راتلی نو یې د حاضرولو اجرت خپله پر مدعی علیه باندي دی او همداسي مضمون علامي شامي رحمه الله تعالی په ردالمحتار کي نقل کړی دی او دغه مسئله په فتاوی هندیه کي په تفصیل سره راغلې ده .

لما قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی فی الدرالمختار : وأجرة المحضر على المدعي هو الأصح بحر عن البزازية وفي الخانية على المتمرد وهو الصحيح وكذا السلطان والمفتي والفقيه

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالی فی ردالمحتار علی الدرالمختار : بخلاف أجرة المحضر للخصوم ففي بيت المال، وقيل على المتمرد شرح وهبانية. قلت: وفي قضاء الخانية هو الصحيح، لكن في قضاء البزازية: وقيل على المدعي وهو الأصح كالسارق .... قال في شرح الوهبانية: قيل أجرة المشخص أي المحضر للخصوم في بيت المال، وقيل على المتمرد كالسارق إذا قطعت يده فأجرة الحداد والدهن الذي تحسم به العروق على السارق؛ لأنه المتسبب .... والحاصل: أن الصحيح أن أجرة المشخص بمعنى الملازم على المدعي وبمعنى الرسول المحضر على المدعى عليه لو تمرد بمعنى امتنع عن الحضور وإلا فعلى المدعي، هذا خلاصة ما في شرح الوهبانية..

وفی الفتاوی الکاملية : سئلت عن اجرة المحضرهل تكون على المدعی ؟ فالجواب : اذا لم يكن المرسل اليه متمردا فالاجرة على المرسل وهو المدعی وان كان متمردا فالاجرة عليه كما فی التنقيح والله اعلم .

وفی الفتاوی الهندية : ولو أعطاه القاضي طينة أوخاتما وذهب به إلى الخصم وأراه ينبغي له أن يقول للخصم: هذا خاتم القاضي فلان يدعوك أتعرفه؟ فإن قال: نعم أعرفه، ولكن لا أحضر أشهد المدعي على ذلك شاهدين حتى يشهدا عند القاضي بتمرده، فإذا شهدا بذلك بعث القاضي من يحضره أو يستعين في ذلك بالوالي واختلف العلماء في أجرة المشخص بعضهم قال: هي في بيت المال، وبعضهم قال: على المتمرد، كذا في الذخيرة هو الصحيح .

(ردالمحتار علي الدرالمختارج ۴ ص ۱۰۴ باب / ج۵ ص ۳۷۲ كيفية القطع واثباته / مطلب في هدية القاضي مكتبه شامله / الفتاوی الكاملية ص ۱۰۷ مكتبة الحرمين الشريفين / الفتاوی الهندية ج۳ ص ۳۳۷ (الباب الحادي عشر في العدوى وتسمير الباب والهجوم علي الخصوم مكتبه شامله)

د كافر امارت او امامت پر مسلمانانو صحت نه لري

سوال۳: دداسي کافر امامت او امارت چي د خدای جل جلاله د وحدانیت او یو والي څخه منکره وي پر مسلمانانو باندي صحت لري که یا؟

جواب: داسي کافر چي د الله جل جلاله دوحدانیت او یووالي څخه منکره وي دده امامت او امارت پر مسلمانانو صحت نه لري قطعا. ددې خبري دلیل دالله جل جلاله دغه قول دی.

(وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا (۱۴۱)سورة النساء) الله جل جلاله نه ده ګرځولي لاره دکافرانو پر مسلمانانو باندي.

وفی الجامع لأحكام القرآن = تفسير القرطبي إِنَّ اللَّهَ لَا يَجْعَلُ لَهُمْ سَبِيلًا يَمْحُو بِهِ دَوْلَةَ الْمُؤْمِنِينَ، ويذهب ءاثارهم وَيَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ، كَمَا جَاءَ فِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ مِنْ حَدِيثِ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (وَإِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي أَلَّا يُهْلِكَهَا بِسَنَةٍ عَامَّةٍ وَأَلَّا يُسَلَّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ وَإِنَّ رَبِّي قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي إِذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لَا يُرَدُّ وَإِنِّي قَدْ أَعْطَيْتُكَ لِأُمَّتِكَ أَلَّا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ وَأَلَّا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا وَيَسْبِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا

(الجامع لأحكام القرآن ج۵ ص ۴۲۰ سورة النساء مکتبه شامله /شرح العقاید النسفية وحواشيه ص ۱۱۰ /ارشادالمسايل بين الحق والباطل للشيخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالي ص ۸۶)

سیاست څه ته وائي اوڅه معني لري ؟

سوال۴: سیاست څه معني لري ایا سیاست د شریعت مقدس سره څه تضاد لري که یا؟

جواب: سیاست د شریعت مقدس سره هیڅ تضاد نه لري بلکي مدار د شریعت پر سیاست باندي دي په حقیقت کښي سیاست [اخلاء العالم من الفساد] یعني سیاست عبارت دی ددې څخه چي ټوله عالم د فساد څخه خلاص وي نو په دغه معني سره سیاست عین شریعت دی.

په خالصه توګه سره د سیاست معنی ده د دین او ملت ساتنه او هم ساتنه د خداي تعالي جل جلاله د احکامو او د بشر د حقوقو. سیاست شرونه او ګناهونه او جنایات د مېنځه وړي او د نیا د فساد څخه خلاصوي تر دغه اندازي پوري چي سیاست مداره هغه څوک دی چي په یوه لاس کښي یې خدائي حقوق نیولي وي او په بل لاس کښې به یې د بندګانو حقوق نیولي دي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وهذا تعريف للسياسة العامة الصادقة على جميع ما شرعه الله تعالى لعباده من الأحكام الشرعية، وتستعمل أخص من ذلك مما فيه زجر وتأديب ولو بالقتل، كما قالوا في اللوطي والسارق والخناق إذا تكرر منهم ذلك حل قتلهم سياسة وكما مر في المبتدع، ولذا عرفها بعضهم بأنها تغليظ جناية لها حكم شرعي حسما لمادة الفساد، وقوله لها حكم شرعي معناه أنها داخلة تحت قواعد الشرع وإن لم ينص عليها بخصوصها فإن مدار الشريعة بعد قواعد الإيمان على حسم مواد الفساد لبقاء العالم، ولذا قال في البحر: وظاهر كلامهم أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي اهـ...............وهي نوعان: سياسة ظالمة فالشريعة تحرمها. وسياسة عادلة تخرج الحق من الظالم، وتدفع كثيرا. من المظالم، وتردع أهل الفساد، وتوصل إلى المقاصد الشرعية فالشريعة توجب المصير إليها والاعتماد في إظهار الحق عليها، وهي باب واسع، فمن أراد تفصيلها فعليه بمراجعة كتاب معين الحكام للقاضي علاء الدين الأسود الطرابلسي الحنفي. اهـ.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۴ ص ۱۵ كتاب الحدود مكتبه شامله بيروت / ارشادالمسايل بين الحق والباطل للشيخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالي ص ۱۰۵)

د نړۍ په سطح سره نن سباولي کافران پر مسلمانانو مسلط دي ؟

سوال۵: د بنده په فکر کښې دغه سوال ډیر راګرځي چي نن سباولي کافران د نړۍ پر مسلمانانو باند مسلط دي وجوهات یې د شریعت د نګاه څخه څه دي؟

جواب: علامه جلال الدین سیوطي رحمه الله تعالی په خپل کتاب [حُسْنُ اُلمحاضرة]

کښې فرمائي دا د الله جل جلاله عادت دی چي څه وخت چي د مسلمانانو ګناهونه ترحد او اندازې زیات سي او ډیرسي او دخداي تعالی جل جلاله دا حکامو بي حرمتي او بي عزتي وکړل سي او پرشرعي حدودو باندي عمل کول معطله سي نو الله جل جلاله رنګارنګ آفتونه په کرار کرار سره پر دغه خلګو باندي مسلطه کړي که یې چیري پر دوی باندي تاثیر ونکړی، نو الله تعالي جل جلاله بل عذاب ورباندي نازلوي او پر دوی باندي به یو داسي قوم مسلط کړي چي مسلمانان به بیاد هغه د فع نسي کولای.

لقوله تعالی فی القرآن الکریم : وَكَذَلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (۱۲۹) سورة الانعام .

وفی تفسیر القرطبي رحمه الله تعالی : وَهَذَا تَهْدِيدٌ لِلظَّالِمِ إِنْ لَمْ يَمْتَنِعْ مِنْ ظُلْمِهِ سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْهِ ظَالِمًا آخَرَ. وَيَدْخُلُ فِي الْآيَةِ جَمِيعُ مَنْ يَظْلِمُ نَفْسَهُ أَوْ يَظْلِمُ الرَّعِيَّةَ، أَوِ التَّاجِرُ يَظْلِمُ النَّاسَ فِي تِجَارَتِهِ أَوِ السَّارِقُ وَغَيْرُهُمْ. وَقَالَ فُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ: إِذَا رَأَيْتَ ظَالِمًا يَنْتَقِمُ مِنْ ظَالِمٍ فَقِفْ، وَانْظُرْ فِيهِ مُتَعَجِّبًا. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: إِذَا رَضِيَ الله عن قوم ولی أمرهم خيارهم، إذا سَخِطَ اللَّهُ عَلَى قَوْمٍ وَلَّى أَمْرَهُمْ شِرَارَهُمْ. وَفِي الْخَبَرِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَنْ أَعَانَ ظَالِمًا سَلَّطَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ) .

(الجامع لأحکام القرآن تفسیر القرطبي ج ۷ ص ۸۵ سورة الانعام مکتبه شامله /الفتوحات الاسلامیة جلد ۲ ص ۳۰ / ارشادالمسایل بین الحق والباطل للشیخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالي ص ۲۷)

مسلمان پاچا که د خلګو مځکي او ملکیتونه په زور سره واخلي دا څنګه کیږي ؟

سوال٦ : که چیري د وخت پاچا مسلمان وي ایا داسي حق لري چي د خلګو څخه په زور او ظلم سره د هغو مځکي او مالونه واخلي او نورو خلګو ته یې ورکړي؟

جواب: هیڅکله او هیڅ وخت داسي حق نلري پر دغه طریقه تصرفات کول او حکمونه چلول د دغه پاچا باطل او ناروا ه دي که څه هم دی مسلمان وي.

لماقال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتارعلی الدرالمختار : لیس للامام حق ان یخرج شیا من ید احد الابحق ثابت معروف بل من بیده شيء فهو ملکه لاحق لاحد الاعتراض علیه ولایکلف لاثباته بالبینه.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۴ ص ۱۸۰ مطلب فيما تصير به دار الإسلام دار حرب وبالعكس مکتبه شامله /ارشادالمسايل بين الحق والباطل للشيخ المفتي الاعظم لافغانستان المرحوم عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالي ص ۸۵)

بيـــت المال

دبيت المال په استعمال کښې خيانت څنګه راځي ؟

سوال ۱ : دبيت المال استعمالول په کوم ځای کښې خيانت بلل کيږي ؟

جواب : دبيت المال د استعمال ځايونه ډېر زيات دي ځکه چي بيت المال پر څلور قسمه دی .دهر قسم دپاره خپل مصارف سته چي استعمال يې ددغه مصارفو څخه خلاف بل ځای خيانت بلل کيږي ،ليکن ددغه اقسامو او مصارفو تفصيل دلته ضروري نه دی ، البته دا به وو ايو بايد هرشی دبيت المال چي استعماليږي اسلامي غرض او هدف په نظر کښې نيول سوی وي .

(بدرالفتاوی ص ۴۱۳)

دکفارو څخه چي کوم شيان او سامان بې له جنګه څخه پاته سي دهغه حکم .

سوال ۲ : که چيري دکفارو څخه يو شی دجنګ او جګړې څخه بغير پر ميدان پاته سي او دوی بې جنګه او جګړې ولاړ سي هغه منطقه پريږدي ددوی داو سيدلو پرځايونو باندي شيان ځيني پاته سي ددغه شيانو اخيستل وعامو خلګو ته رواه دي ؟ .

جواب : په (**زاد المعاد في رسائل الجهاد**) نامي کتاب کښې ددغه سوال په جواب کښې داسي ليکلي دي : چي موږ بعينه دهغه کتاب الفاظ درته نقل کوو . کله چي دکفارو څخه يو شی بېله جنګه پاته سوی وي ، او يا يې دموټر څخه لوېدلی وي او څوک يې پيدا کړي هرکله چي دغه لُقطه (پيدا کړی سوی مال) دکفارو دی .

هرڅوک چي دغه شی پيدا کړي دهغه دی لکه په حمله چي يې واخلي ،دانه مال غنيمت دی نه مال فئ دی ځکه چي په غنيمت کښې جنګ او اعلاء کلمة الله تعالی غواړي . او په مال فی کښې هم بېره او رعب دکفارو ضروري ده . او دغه لقطه (پيدا کړی سوی مال) نه په تعريف کښې دغنيمت داخل دی او نه په تعريف کښې دفئ داخل دی . او اخيستل ددغه مال ومسلمانانو ته پر هره طريقه رواه دی .

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : الْغَنِيمَةُ مَا نِيل مِنْ الْكُفَّارِ عَنْوَةً وَالْحَرْبُ قَائِمَةٌ، فَتُخَمَّسُ وَبَاقِيهَا لِلْغَانِمِينَ وَالْفَيْءُ: مَا نِيلَ مِنْهُمْ بَعْدُ كَخَرَاجٍ وَهُوَ لِكَافَّةِ الْمُسْلِمِينَ وفى المبسوط : فاما مع الحربى الذى لا امان له يجوز فى دارالحرب ودارالاسلام ان ياخذبای طريق يقدر عليه لان ماله مباح للمسلم.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۱۳۷ باب المغانم وقسمته مكتبه شامله / كتاب المبسوط ج ۱۰ ص ۲۶/ نخب الافكار شرح معاني الاثار ج ۹ ص ۲ / ج ۳ ۲۵۰ / زادالمعاد ص ۵۱ / مشارع الاشواق ج ۲ ص ۱۰۳۶ / اشتر آء المومن ص ۱۲۶ / تفسير ابن كثير ج ۳ ص ۱۰۳ / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۳۹۴/ تفسير المنير ج ۵ ص ۳۵۰)

كتاب اللقـــطه

دوه ټليفونونه مي پيدا کړه خاوند يې نه پيدا کيږي څه په وکړم .

سوال ۱ : يوکس پر لاره باندي روان وو دوه ټليفونونه يي پيدا کړه او مالک يې هم نه دی معلوم اوس ددغه ټليفونو سره بايد څه وسي ؟

جواب : دغه ورک سوي شيان چي کله يو څوک راپورته او پيدا کړي دغه ته د شريعت په اصطلاح کښې لُقطَه وايي ددغه کس پر ذمه باندي لازمه ده چي ددغه ورک سوو شيانو مالک تلاش کړي خپله دې نه استعمالوي . او تر پوره تلاش وروسته که چيري د مالک پته او ادرس نه سو معلوم نو دي پر يو داسي غريب کس باندي صدقه کړي چي زکوة اخيستل ورته رواه وي . او که چيري خپله دغه پيدا کونکی کس مسکين وو نو خپله يې هم استعمالولای سي . او کله چي اصل مالک پيدا سو هغه ته دا اختيار حاصل دی چي ددغه ټليفونانو د قيمت غوښتنه وکړي .

وفى الفتاوى الهندية : وَيُعَرِّفُ الْمُلْتَقِطُ اللُّقَطَةَ فِي الْأَسْوَاقِ وَالشَّوَارِعِ مُدَّةً يَغْلِبُ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّ صَاحِبَهَا لَا يَطْلُبُهَا بَعْدَ ذَلِكَ هُوَ الصَّحِيحُ، كَذَا فِي مَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ........ ثُمَّ بَعْدَ تَعْرِيفِ الْمُدَّةِ الْمَذْكُورَةِ الْمُلْتَقِطُ مُخَيَّرٌ بَيْنَ أَنْ يَحْفَظَهَا حِسْبَةً وَبَيْنَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهَا فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَأَمْضَى الصَّدَقَةَ يَكُونُ لَهُ ثَوَابُهَا .

(الفتاوى الهندية كتاب اللقطة ج ٢ ص ٢٨٩ رشيديه / شرح الوقاية مع حاشية عمدة الرعاية كتاب اللقطة ج ٢ ص ٣٣٥ / ٣٣٦ سعيد چاپ / البحر الرائق ج ٥ ص ٢٥٥ / فتاوى محموديه ج ١٤ ص ١٦٢ كتاب اللقطة / الهداية ج ٢ ص ٥٩١ / ٥٨٩)

كتاب الوقف

باب مايتعلق باحكام الوقف

په موقوفه (وقف سوي) مځکه کي وراثت نه جاري کيږي .

سوال ۱ : يو کس خپل په ژوند کي يو څه مځکه د خپلي مځکي څخه د مسجد دپاره وقف کړه او مسجد يې هم وربانديء جوړ کړی وروسته چي دا شخص کله وفات سو نو زامن يې راولاړ سول چي دا مسجد زوړ دی دا به ونړوو بل ځای به بل مسجد جوړ کړو نو هغه د مسجد مځکه يې هم د ميراث د وېشلو په وخت کي سره تقسيم کړه .
سوال دا دی چي کله يوه مځکه يو ځلي وقف سي نو بيا په هغې مځکه کي وراثت جاري کيږي که يا ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي چي کله يو ځل وقف تام او خپل په شرائطو سره پوره سي نو بيا د واقف (وقف کوونکي) او يا د هغه د متولي د وفات دوجي څخه پر وقف باندي هيڅ اثر هم نه پريوزي او دا به وقف وي لکه وقف چي وه او دا خبره دي هم څرګنده او ښکاره وي چي په موقوفه مځکه کي ميراث نه جاري کيږي . لهذا دغه ورونو چي دغه د مسجد حصه مځکه سره وېشلې ده دا تقسيم يې درست نه دی بلکي د مسجد مځکه د هيڅ چا هم حصه نه ګرځي نو بايد د مسجد د حصې څخه علاوه هغه نوره مځکه سره وويشل سي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على صدر ردالمحتار : فَلَا يَجُوزُ لَهُ إبْطَالُهُ وَلَا يُورَثُ عَنْهُ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى ابْنُ الْكَمَالِ وَابْنُ الشِّحْنَةِ . ... وفى الفتاوى الهندية : وَكَذَلِكَ إذَا جَعَلَ دَارَهُ فِي ثَغْرٍ مَسْكَنًا لِلْغُزَاةِ وَالْمُرَابِطِينَ وَدَفَعَهَا إلَى وَالٍ يَقُومُ عَلَيْهَا فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَرْجِعَ فِيهَا وَإِنْ مَاتَ لَمْ تَكُنْ مِيرَاثًا عَنْهُ وَإِنْ لَمْ يَسْكُنْهَا أَحَدٌ .

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹۲ کتاب الوقف مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۶۶ الباب الثاني عشر في رباطاطات / البحر الرائق ج ۵ ص ۲۰۶ کتاب الوقف / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۲۰۹ کتاب الوقف / خیر الفتاوی ج ۶ ص ۳۰۸ کتاب الوقف)

دهدېرې دپاره پر وقف سوي ځمکي باندي شخصي تصرف کول ناروا ده دی ؟

سوال ۲ : که چیري یو ځلي یوه ځمکه دهدېرې او قبرستان دپاره وقف سوې وي بیا پر هغې ځمکي باندي شخصي تصرف کول شرعا رواه دی که یا ؟.

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي کله چي ځمکه یو واري دواقف د طرفه څخه وقف سول او وقف تام او کامل سو نو بیا دغه ځمکه د مالک د ملکیت څخه وزي دالله جل جلاله په ملکیت کښې داخلیږي د مالک د ملکیت څخه چي ووتل بیا وروسته په هغې کښې هیڅ چاته د شخصي تصرف حق نه دی حاصل که څه هم هغه تصرف کوونکی خپله وقف کوونکی وي یا دهغه اولاده وي یا نور اجنبي خلګ وي . لهذا هغه ځمکه چي دهدېرې او قبرستان دپاره وقف سوې وي په هغې کښې شخصي تصرف کول شرعا ناروا او حرام دی .

لما فى الفتاوى الهندية : وعندهما حبس العين على حكم ملك الله تعالى على وجه تعود منفعته إلى العباد فيلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث كذا في الهداية وفي العيون واليتيمة إن الفتوى على قولهما كذا في شرح أبي المكارم للنقاية.

وقال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (وَعِنْدَهُمَا هُوَ حَبْسُهَا عَلَى) حُكْمِ (مِلْكِ اللَّهِ تَعَالَى وَصَرْفُ مَنْفَعَتِهَا عَلَى مَنْ أَحَبَّ) وَلَوْ غَنِيًّا فَيَلْزَمُ، فَلَا يَجُوزُ لَهُ إبْطَالُهُ وَلَا يُورَثُ عَنْهُ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى ابْنُ الْكَمَالِ وَابْنُ الشِّحْنَةِ.

وقال العلامة ابن عابدين رخمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ عَلَى حُكْمِ مِلْكِ اللَّهِ تَعَالَى) قَدَّرَ لَفْظَ حُكْمِ لِيُفِيدَ أَنَّ الْمُرَادَ أَنَّهُ لَمْ يَبْقَ عَلَى مِلْكِ الْوَاقِفِ وَلَا انْتَقَلَ إلَى مِلْكِ غَيْرِهِ، بَلْ صَارَ عَلَى حُكْمِ مِلْكِ اللَّهِ تَعَالَى الَّذِي لَا مِلْكَ فِيهِ لِأَحَدٍ سِوَاهُ،......... (قَوْلُهُ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى) أَيْ عَلَى قَوْلِهِمَا يَلْزَمُهُ. قَالَ فِي الْفَتْحِ: وَالْحَقُّ تَرَجُّحُ قَوْلِ عَامَّةِ الْعُلَمَاءِ بِلُزُومِهِ؛

لِأَنَّ الْأَحَادِيثَ وَالْآثَارَ مُتَظَافِرَةٌ عَلَى ذَلِكَ، وَاسْتَمَرَّ عَمَلُ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ عَلَى ذَلِكَ فَلِذَا تَرَجَّحَ خِلَافُ قَوْلِهِ اهـ مُلَخَّصًا.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۳۳۹ کتاب الوقف مکتبه شامله / الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۰ کتاب الوقف مکتبه رشيديه / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۲۰۸ کتاب الوقف / کفايت المفتي ج ۱۰ ص ۵۱۳ باب مايتعلق باحکام القبر مکتبه فاروقيه / فتاوى قاضي خان علي هامش الفتاوى الهندية کتاب الوقف فصل في المقابر ج ۳ ص ۳۱۴ رشيديه / الدرالمختار مع ردالمحتار کتاب الوقف مطلب مهم فرق ابي يوسف ج ۴ ص ۳۵۱ ، ۳۵۲ / تبيين الحقائق کتاب الصلاة باب الجنائز ج ۱ ص ۵۸۷ دارالکتب العلمية بيروت چاپ)

باب مايتعلق باحکام المساجد

په مسجد کښې خوب وخوراک کول شرعا رواه دي که يا ؟

سوال ۱ : تبليغي حضرات چي کله په سه روزه (درې ورځې) راووزي يا په چيله (څلوېښت ورځي) راووزي نو ناسته پاسته خوراک چيښاک خوب او بېدېدل يې ټوله په مسجدونو کښې وي . اوس پوښتنه داده چي دشريعت دنګاه څخه په مسجد کښې خوب وخوراک کول رواه دي که يا ؟ .

جواب : مسجد شرعا دلمانځه داداء کولو ځای دی . دارام او استراحت ځای نه دی . البته که کوم شخص مسافروي يا اعتکاف کوونکي وي نو دهغوی دپاره په مسجد کښې دخوراک و چيښاک او دبېدېدلو اجازه شرعا سته . تبليغي جماعت والا اکثره مسافرين وي نو هغوی ته ددې کارونو اجازه سته . او که بالفرض مسافرين هم نه وي نو هغوی دسنت طريقو پر پايبنده خلګ دي . دوی داعتکاف نيت کوي بيا مسجدونو ته ننوزي . او اکثره خوداسي وي چي دشپې په مسجد کښې پاته وي په تسبيحاتو اونوافلو او تلاوت دقرآن کريم کښې مصروفه وي .او بيت دلږ وخت دپاره ارام او خوب کوي . خلاصه دا چي که ددغه دوو شيانو (مسافري يا نيت داعتکاف) څخه يو هم موجود وي نو په مسجد کښې خوب او خوراک چيښاک شرعا رواه دی په دې شرط چي دمسجد دتقدس او عظمت خصوصا دصفايي او پاکۍ خيال وساتل سي .

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَأَكْلٌ، وَنَوْمٌ إلَّا لِمُعْتَكِفٍ وَغَرِيبٍ، وَأَكْلُ نَحْوِ ثُومٍ، وَيُمْنَعُ مِنْهُ؛

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : (قَوْلُهُ وَأَكْلٌ وَنَوْمٌ إلَخْ) وَإِذَا أَرَادَ ذَلِكَ يَنْبَغِي أَنْ يَنْوِيَ الِاعْتِكَافَ، فَيَدْخُلَ وَيَذْكُرَ اللَّهَ تَعَالَى بِقَدْرِ مَا نَوَى، أَوْ يُصَلِّيَ ثُمَّ يَفْعَلَ مَا شَاءَ فَتَاوَى هِنْدِيَّةٌ (قَوْلُهُ وَأَكْلُ نَحْوِ ثُومٍ) أَيْ كَبَصَلٍ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ لِلْحَدِيثِ الصَّحِيحِ فِي النَّهْيِ عَنْ قُرْبَانِ آكِلِ الثُّومِ وَالْبَصَلِ الْمَسْجِدَ....... وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى موضع آخر: وَالظَّاهِرُ أَنَّ مِثْلَ النَّوْمِ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ إذَا لَمْ يَشْغَلْ الْمَسْجِدَ وَلَمْ يُلَوِّثْهُ لِأَنَّ تَنْظِيفَهُ وَاجِبٌ كَمَا مَرَّ لَكِنْ قَالَ فِي مَتْنِ الْوِقَايَةِ: وَيَأْكُلُ أَيْ الْمُعْتَكِفُ وَيَشْرَبُ وَيَنَامُ وَيَبِيعُ وَيَشْتَرِي فِيهِ لَا غَيْرُهُ قَالَ مُنْلَا عَلِيٌّ فِي شَرْحِهِ: أَيْ لَا يَفْعَلُ غَيْرُ الْمُعْتَكِفِ شَيْئًا مِنْ هَذِهِ الْأُمُورِ فِي الْمَسْجِدِ اهـ وَمِثْلُهُ فِي الْقُهُسْتَانِيِّ ثُمَّ نَقَلَ مَا مَرَّ عَنْ الْمُجْتَبَى.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۱ كتاب الصلوة ،مطلب في الغرس في المسجد/ ج ۲ ص ۴۴۹ باب الاعتكاف بيروت چاپ / الفتاوى الهندية كتاب الكراهية ، الباب الخامس في آداب المسجد / الحلبي الكبير فصل في احكام المسجدص ۶۱۲ سهيل اكيډمي لاهور / فتاوى محموديه ج۱۵ ص ۲۳۳ باب اداب المسجد)

دمسجد پرچت یابام باندي دوکان جوړول څنګه دی

سوال ۲ : يوکس دوه منزله مسجد جوړکی،خولاندي منزل یې مسجد اولوړ منزل یې دوکانونه کړيدي اوس پوښتنه داده چي دمسجد پرسر دوکان جوړول شرعاً جائز دی که یا؟

جواب : کله چي پريومځکه مسجد بنا سي نودديې مسجد لاندي منزل اولوړ منزل ټوله دمسجد حیثیت لري یعني نه پرلوړ منزل دمسجد دوکان یاکور جوړول روادي اونه هم په لاندي منزل کښي روادی .

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (وَ) كُرِهَ تَحْرِيمًا (الْوَطْءُ فَوْقَهُ، وَالْبَوْلُ وَالتَّغَوُّطُ) لِأَنَّهُ مَسْجِدٌ إلَى عَنَانِ السَّمَاءِ؛وَكَذَا إلَى تَحْتِ الثَّرَى كَمَا فِي الْبِيرِيِّ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۶ مطلب في احکام المسجد سعید چاپ/ فتاوی بزازية علي هامش فتاوی عالمگیریه ج ۶ ص ۲۸۵ کتاب الوقف رشیدیه/ فتاوی قاضي خان ج ۳ ص ۲۹۳ کتاب الوقف رشیدیه /فتاوی محمودیه ج ۱۴ ص ۵۶۰ / فتاوی خیریه ج ۶ ص ۴۱۶ / مسائل رفعت قاسمي ج ۶ ص ۷۸ مسائل مساجد)

دمسجد یا هدیرې په وقف سوي ځمکه کښې فټ بال وغیره کول .

سوال ۳ : داسي ځمکه چي مسجد ته وقف وسوې وي او لا تر اوسه پوري مسجد نه وي باندي جوړ سوی ایا په داسي ځمکه کښې فټ بال یا بله لوبه روا ده که یا ؟

جواب : دمسجد یا هدیرې د وقف سوي ځمکي حکم په حیثیت د احترام د مسجد حکم نه دی ترڅه وخته چي مسجد نه وي باندي جوړ سوی هر جائز او رواه کار هلته رواه دی او هر ناجائزو ناروا ه کار هلته ناروا ه دی .

لماقال العلامة ابن نجیم المصري الحنفي رحمه الله تعالی في البحر : وَالْمُخْتَارُ لِلْفَتْوَى فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي أُتُّخِذَ لِصَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَالْعِيدِ أَنَّهُ مَسْجِدٌ فِي حَقِّ جَوَازِ الِاقْتِدَاءِ وَإِنْ انْفَصَلَ الصُّفُوفُ رِفْقًا بِالنَّاسِ وَفِيمَا عَدَا ذَلِكَ لَيْسَ لَهُ حُكْمُ الْمَسْجِدِ. اهـ.

وَظَاهِرُ مَا فِي النِّهَايَةِ أَنَّهُ يَجُوزُ الْوَطْءُ وَالْبَوْلُ وَالتَّخَلِّي فِي مُصَلَّى الْجَنَائِزِ وَالْعِيدِ .

(البحر الرائق ، کتاب الصلاة باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ، فصل : کره اسقبال القبلة ج ۲ ص ۶۴ رشیدیه / الدرالمختار کتاب الصلاة باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ج ۱ ص ۶۵۷ سعید / الحلبي الکبیر ، فصل في احکام المسجد ص ۶۱۱ سهیل اکیډمي لاهور / الفتاوی العالمگیریة کتاب الصلاة فصل کره غلق باب المسجد الخ : ج ۱ ص ۱۰۹ رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۰۶ باب آداب المسجد)

پردولتي ځمکه باندي بېله ددولت داجازې څخه مسجد جوړول .

سوال ۴ : که چیري یو څوک پر دولتي ځمکه باندي دد ولت داجازې څخه بغیر مسجد جوړ کړي ایا دداسي مسجد دجوړولو اجازه شرعا سته که یا ؟

جواب : شرعا دمسجدونو انتظام او تعمیر دضرورت په اندازه پر دولت فرض او لازم دی البته که دولت خپل فرض نه اداء کوی نو چالره جائز نه دي چي ددولت داجازې څخه بغیر پر دولتي ځمکه باندي دمسجد تعمیر جوړ کړي باقاعده باید

اجازت حاصل کړل سي او بېله اجازته په مسجد جوړوولو کښې هم شرعا او هم قانونا خطره او اندیښنه سته. فقهاوو هم دا سي لیکلي دي.

لماقال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتارعلی الدرالمختار : قُلْت: وَهُوَ كَذَلِكَ، فَإِنَّ شَرْطَ الْوَقْفِ التَّأْبِيدُ وَالْأَرْضُ إذَا كَانَتْ مِلْكًا لِغَيْرِهِ فَلِلْمَالِكِ اسْتِرْدَادُهَا، وَأَمْرُهُ بِنَقْضِ الْبِنَاءِ وَكَذَا لَوْ كَانَتْ مِلْكًا لَهُ فَإِنَّ لِوَرَثَتِهِ بَعْدَهُ ذَلِكَ، فَلَا يَكُونُ الْوَقْفُ مُؤَبَّدًا اما ان وقت الامر باليوم او الشهر او سنة ثم مات يكون ميراثا عنه لانه لابد من التابيد ....

(ردالمحتار كتاب الوقف ، مطلب : مناظرة ابن الشحنة مع شيخه العلامة قاسم في وقف البناء ج ۴ ص ۳۹۰ سعید / الفتاوی العالمگیریة کتاب االوقف الباب الحادی عشر في المسجد ج ۲ ص ۴۵۵ رشیدیه / فتاوی قاضي خان علي هامش الفتاوی العالمگیریة کتاب الوقف باب الرجل یجعل داره مسجدا او خانا الخ ج ۳ ص ۲۹۰ / ۲۹۱ / فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۷۸ باب احکام المساجد)

یو مسجد ته نژدې بل مسجد جوړول .

سواال ۵ : یوه مسجد ته نژدې بل مسجد جوړول څنګه دی ایاپه شریعت کښې د دوو مسجدونو تر مېنځ د حد دپاره څه خاص فاصله راغلې ده که یا ؟

جواب : که چیري په یوه کلي یا علاقه کښې یو مسجد تنګ وي لمونځ کوونکي نه په کښې ځاییږي نو دا یو ضرورت شرعیه دی نو د دغه ضرورت پیش نظر بل مسجد جوړول جایز دی که نژدې وي که لیري وي ځکه چي په شریعت کښې د دوو مسجدونو تر مینځ د فاصلې څه حد نه دی راغلی لهذا په څومره فاصله کښې چي وي جوړول یې درست او صحیح دي .

البته بېله ضرورت شرعیه دومره نژدې یو مسجد دبل سره جوړول چي اقامت او قرآءت سره اوریدل کیږي فقهاوو دغه عمل ته یعني دغه مسجد جوړولو ته نامناسب عمل ویلی دی . بالخصوص بیا په هغه صورت کښې چي د دغه دوهم مسجد دجوړوولو څخه مقصد داول مسجد کسان کمول وي دا خو بیا یو قسم ګناه ده او دغه مسجد دمسجد ضرار سره مشابه دی .

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په خپل دور خلافت کښې يو فرمان جاري کړی وو: چې په هر کلي او محله کښې دي مسجدونه جوړ کړل سي مګر داسي مسجدونه مه جوړوئ چې په هغه سره د مخکنيو مسجدونو ماتول او نړول مقصود وي. البته که چيري اختلاف دلمونځ کونکو تر مېنځ دې اندازې ته رسېدلی وي چې نور د دوی اتفاق نه سره کيږي نو په داسي صورت کښې دوهم مسجد نژدې جوړول هم درست دی، او لمونځ په کښې کول درست دی. پوره تفصيل د دغي مسئلې په امداد المفتين کتاب کښې کتلای سی.

لماقال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى في البحر : أَهْلُ الْمَحَلَّةِ قَسَمُوا الْمَسْجِدَ وَضَرَبُوا فِيهِ حَائِطًا وَلِكُلٍّ مِنْهُمْ إمَامٌ عَلَى حِدَةٍ وَمُؤَذِّنُهُمْ وَاحِدٌ لَا بَأْسَ لَهُ وَالْأَوْلَى أَنْ يَكُونَ لِكُلِّ طَائِفَةٍ مُؤَذِّنٌ كَمَا يَجُوزُ لِأَهْلِ الْمَحَلَّةِ أَنْ يَجْعَلُوا الْمَسْجِدَ الْوَاحِدَ مَسْجِدَيْنِ فَلَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوا الْمَسْجِدَيْنِ وَاحِدًا لِإِقَامَةِ الْجَمَاعَةِ أَمَّا لِلتَّذْكِيرِ أَوْ لِلتَّدْرِيسِ فَلَا لِأَنَّهُ مَا بُنِيَ لَهُ وَإِنْ جَازَ فِيهِ .

وقال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى في الدرالمختار: ولهم نصب متول وجعل المسجدين واحدا كعكسه للصلوة لا للدرس انتهى .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۴۹۰ / البحرالرائق ج۵ ص ۲۷۰ مکتبه شامله / امداد المفتين ج ۲ ص ۶۴۰ کتاب المساجد / اردو فتاوی فيضيه ص ۱۰۹)

پر خرابو او هوار شوو قبرونو باندي مسجد جوړول ؟

سوال ۶: په داسي هديره کي چي هلته د قبرونو نښانات خراب سوي وي او س خلک هلته خپل مړي نه ښخوي آيا پر دغه هوارو قبرونو او داسي هديرې باندي مسجد جوړول روا دی که يا؟

جواب: په داسي هديره او قبرستان کښې که چيري خلګو هلته خپل مړي ښخول پرې ايښې وي او د مړو جسدونه هم خاوري سوي وي او د زړو قبرو اثار او نخښې هم خرابي سوي وي يعني هغه قبرونه هوار سوي وي نو پر داسي هديرې او مقبرې باندي مسجد جوړول روا دی.

لما فی الفتاوی الهندية : ولو بلى الميت وصار ترابا جاز دفن غيره في قبره وزرعه والبناء عليه، كذا في التبيين.......

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فی ردالمحتار : وَقَالَ الزَّيْلَعِيُّ: وَلَوْ بَلِيَ الْمَيِّتُ وَصَارَ تُرَابًا جَازَ دَفْنُ غَيْرِهِ فِي قَبْرِهِ وَزَرْعُهُ وَالْبِنَاءُ عَلَيْهِ اهـ.

وقال العلامة أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: ٨٥٥ هـ) فی عمدة القاري شرح صحيح البخاري فَإِن قلت: هَل يجوز أَن تبنى على قُبُور الْمُسلمين؟ قلت: قَالَ ابْن الْقَاسِم: لَو أَن مَقْبرَة من مَقَابِر الْمُسلمين عفت فَبنى قوم عَلَيْهَا مَسْجِدا لم أر بذلك بَأْسا، وَذَلِكَ لِأَن الْمَقَابِر وقف من أوقاف الْمُسلمين لدفن موتاهم لَا يجوز لأحد أَن يملكهَا، فَإِذا درست وَاسْتغْنى عَن الدّفن فِيهَا جَازَ صرفهَا إِلَى الْمَسْجِد، لِأَن الْمَسْجِد أَيْضا وقف من أوقاف الْمُسلمين لَا يجوز تملكه لأحد، فمعناهما على هَذَا وَاحِد.

(الفتاوی الهندية ج ١ ص ١٦٧ الباب الحادی والعشرون في الجنائز / ردالمحتار ج ٢ ص ٢٢٣ مطلب في دفن الميت / احسن الفتاوی ج ٦ ص ٤٠٩ باب المساجد/ عمدة القاري ج ٤ ص ١٧٩ باب الصلاة في مرابض الغنم مكتبه شامله / فتاوی حقانيه ج ۴ ص ٢١٩ كتاب الوقف / البحر الرائق ج ٢ ص ٣٤٦ مكتبه رشيديه / طحطاوي علي مراقي الفلاح ص ٦١٣)

دمسجد دوقف شیان څخه شخصي استعمال روا دی که یا؟

سوال۷: یو شی یو چا مسجد ته وقف کړی دی لکه جنرېټر، بېلچه، او نور داسي اسباب چي د مسجد په نامه راغلي وي دغه وقف سوي شیان د مسجد څخه ایستل خپل شخصي کار په اجراء کول او استعمالول جواز لري که یا؟

جواب: د مسجد وقف سامان د مسجد څخه وړل خپل شخصي کار په اجراء کول او هغه استعمالول شرعًا جواز نه لري .

لماقال ابن نجيم المصري رحمه الله في البحر : وَلَيْسَ لِمُتَوَلِّي الْمَسْجِدِ أَنْ يَحْمِلَ سِرَاجَ الْمَسْجِدِ إلَى بَيْتِهِ وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَتْرُكَ سِرَاجَ الْمَسْجِدِ فيه من الْمَغْرِبِ إلَى وَقْتِ الْعِشَاءِ وَلَا

يَجُوزُ أَنْ يَتْرُكَ فيه كُلَّ اللَّيْلِ إِلَّا في مَوْضِعٍ جَرَتْ الْعَادَةُ فيه بِذَلِكَ كَمَسْجِدِ بَيْتِ الْمَقْدِسِ وَمَسْجِدِ النبي وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أو شَرَطَ الْوَاقِفُ

وفي الفتاوى الهنديه : مُتَوَلِّي الْمَسْجِدِ ليس له أَنْ يَحْمِلَ سِرَاجَ الْمَسْجِدِ إِلَى بَيْتِهِ وَلَهُ أَنْ يَحْمِلَهُ من الْبَيْتِ إِلَى الْمَسْجِدِ كَذَا في فَتَاوَى قَاضِي خَانْ

(البحرالرائق ج ۵ ص ۴۲۰ مکتبه رشیدیه فتاوی الهندیه ج ۲ ص ۴۶۲ مکتبه رشیدیه قاضي خان علي هامش الهندیه ج ۳ ص ۲۹۴ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۴۲۳ مکتبه رشیدیه فتاوی محمودیه ج ۱۴ ص ۶۲۴ کتاب الوقف اردو / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۲۲۳ کتاب الوقف)

دمسجد غسل خانې اوتشنابو نه په حرا مو پیسو جوړ ول؟

سوال۸: د یو چا سره حرام مال او پیسې دي هغه غواړي چي په دغه پیسو سره د مسجد غسل خانې او تشنابو نه جوړ کړي او غواړي چي د مسجد د برق او بجلۍ پر تارو یې مصرف کړي شرعًا دغه عمل روا دی که یا؟

جواب: په داسي ځای کي دا پیسې مصرف کول د شریعت له نظره صحیح نه دي او په د غو اشیاؤ یعني غسلخانو او تشنابو کښې یې هم استعمال شرعا نا روا دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (قَوْلُهُ لَوْ بِمَالِهِ الْحَلَالِ) قَالَ تَاجُ الشَّرِيعَةِ: أَمَّا لَوْ أَنْفَقَ فِي ذَلِكَ مَالًا خَبِيثًا وَمَالًا سَبَبُهُ الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ فَيُكْرَهُ لِأَنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَا يَقْبَلُ إِلَّا الطَّيِّبَ، فَيُكْرَهُ تَلْوِيثُ بَيْتِهِ بِمَا لَا يَقْبَلُهُ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۸۷ فروع افضل المساجد / فتاوی محمودیه ج۱۵ ص ۹۵ باب المساجد / امدادالفتاوی ج ۲ ص ۶۷۴ / کفایت المفتي ج۱۰ ص ۲۵۸ باب مایتعلق بصرف المال الحرام في المسجد / الفتاوی الهندیه کتاب الصلاة الفصل الثاني فیما یکره في الصلاة ج ۱ ص ۱۰۹ مکتبه رشیدیه / حاشیة الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۵۸ قدیمي چاپ / احسن الفتاوی ج ۹ ص ۴۳۱ اردو)

له زاړه مسجد څخه دمکتب او کو چنیانود درس استفاده کول؟

سوال ۹: یو ځای د ډېره وخته او زمانې څخه مسجد ولاړ ؤ لمونځونه په کښې کېدل اوس هلته نوی مسجد جوړ سو په زاړه مسجد کښې اوس خلک لمونځ نه کوي آیا د دغه مسجد څخه د مکتب یا د کوټې کار اخیستل روا دی که یا او یا داچي میلمانه

په کښي عذر سي او يا عصري تعليم په کښي ورکړه سي شرعًا د فقهي شريفي څه حکم دی؟

جواب: دغه مخکښی مسجد مکتب ګرځول يا د کوټې کار ځيني اخيستل قطعًا ناروا دی مسجد چي يو واري مسجد سو بيا تر قيامته پوري هغه ځای مسجد دی که لمونځ په کښي کيږي که نه په کښي کيږي، البته ديني تعليم ورکول په هغه مسجد کي په دغه شرائطو سره روا دی (۱) بې له تنخوا درس ورکول البته په قدر د ضرورت تنخوا پروا نه لري (۲) واړه ماشومان بايد مسجد ته داخل نه سي (۳) د مسجد د آدابو پورا خيال بايد وساتل سي.

قال فی التنوير : (وَلَوْ خَرِبَ مَا حَوْلَهُ وَاسْتُغْنِيَ عَنْهُ يَبْقَى مَسْجِدًا عِنْدَ الْإِمَامِ) أَبَدًا إلَى قِيَامِ السَّاعَةِ (وَبِهِ يُفْتِي) حَاوِي الْقُدْسِيِّ .

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فی ردالمحتار : وَلَا يَجُوزُ نَقْلُهُ وَنَقْلُ مَالِهِ إلَى مَسْجِدٍ آخَرَ، سَوَاءٌ كَانُوا يُصَلُّونَ فِيهِ أَوْ لَا وَهُوَ الْفَتْوَى حَاوِي الْقُدْسِيِّ، وَأَكْثَرُ الْمَشَايِخِ عَلَيْهِ مُجْتَبَى وَهُوَ الْأَوْجَهُ فَتْحٌ. اهـ.

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى فی البحر الرائق شرح كنز الدقائق : (وإن المساجد لله) (الجن: ۱۸) وما تلوناه من الآية السابقة فلا يجوز لاحد مطلقا أن يمنع مؤمنا من عبادة يأتي بها في المسجد لان المسجد ما بني إلا لها من صلاة واعتكاف وذكر شرعي وتعليم علم وتعلمه وقراءة قرآن.

عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «جَنِّبُوا مَسَاجِدَكُمْ صِبْيَانَكُمْ، وَمَجَانِينَكُمْ، وَشِرَاءَكُمْ، وَبَيْعَكُمْ، وَخُصُومَاتِكُمْ، وَرَفْعَ أَصْوَاتِكُمْ، وَإِقَامَةَ حُدُودِكُمْ، وَسَلَّ سُيُوفِكُمْ، وَاتَّخِذُوا عَلَى أَبْوَابِهَا الْمَطَاهِرَ، وَجَمِّرُوهَا فِي الْجُمَعِ»

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۳۵۸ فرع بناء بيت للامام فوق المسجد مكتبه شامله / البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج ۲ ص ۶۰ مكتبه رشيديه / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۴۱۷ / فتاوی محموديه ج ۱۴ ص ۶۱۱ باب احكام المساجد / احسن الفتاوی ج ۶ ص ۴۵۶ باب المساجد / الموسوعة الفقهية ج ۳۷ ۲۰۶ / سنن ابن ماجة ج ۱ ص ۲۴۷ مايكره في المساجد مكتبه شامله)

دسود په پیسو دمسجد دجوړولو حکم؟

سوال ۱۰: ایا د سود په پیسو سره مسجد جوړول صحیح دی که یا؟ یا دوه شریکان دي یو مسجد یې جوړ کړی د یوه پیسې د سود دي او د هغه بل دا پاکي د دې مسجد څه حکم دی؟

جواب: هر هغه مسجد چې د هغه په جوړولو کې حرامې پیسې ولګېږي بالخصوص د سود روپۍ په هغه مسجد کې لمونځ مکروه تحریمي دی او هغه کس ته الله جل جلاله د مسجد د جوړولو ثواب هم نه ورکوي.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : قوله (لو بماله الحلال) قال تاج الشريعة أما لو أنفق في ذلك مالا خبيثا ومالا سببه الخبيث والطيب فيكره لأن الله تعالى لا يقبل إلا الطيب فيكره تلويث بيته بما لا يقبله ا هـ شرنبلالية

.

ولماقال الملا علي القاري رحمه الله في مرقاة المفاتيح : وعن ابن عمر قال قال رسول الله لا تقبل صلاة بغير طهور هو بالضم الطهر وبالفتح الماء الذي يتطهر به نسختان وتقدم تحقيقهما قال ابن حجر أي لا تصح إذ نفي القبول إما بمعنى نفي الصحة كما هنا وإما بمعنى نفي الثواب كما في خبر من أتى عرافا أي منجما لم تقبل صلاته أربعين صباحا ولا صدقة أي التي هي طهارة النفس من رذيلة البخل وقلة الرحمة من غلول بالضم على ما في النسخ المصححة أي مال حرام وأصل الغلول الخيانة في الغنيمة قال بعض علمائنا من تصدق بمال حرام ويرجو الثواب كفر ووهم ابن حجر أو ظن أن الرواية بفتح الغين فقال أي كثير الغل أي الخيانة في الغنيمة وفيه أن المبالغة غير مراد ولذا قال والمراد هنا من تصدق بما خان بأن تصدق من مال حرام فلا يثاب على التصدق به بل يعاقب إن علم أنه حرام وثوابه لمالكه ا هـ ومحل هذا إذا كان يعرف مالكه أو وارثه وإلا فهو مأمور بالتصدق به ولا يتصور أنه يؤمر بالتصدق به ولا يقبل منه رواه مسلم وكذا الترمذي وابن ماجه

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۸۷ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۸ ص ۳۶۹ مکتبه رشیدیه / فتاوی الهندیه ج ۵ ص ۳۴۹ مکتبه رشیدیه / مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۲۷ مکتبه حبیبیه / فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۱۸۸اردو)

مسجد ته دننوتلو او راوتلو دعا څنګه ده ؟

سوال ۱۱ : مسجد ته دننوتلو او بیا د مسجد څخه د راوتلو دعا څنګه ده ؟

جواب : دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی کله چي په تاسي کښې یو کس مسجد ته ننوزي نو دغه دعا دي وکړي (**اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ،**) ژباړه : ای الله ماته دخپل رحمت دروازې خلاصي کړه. او کله چي د مسجد څخه راوزي نو بیا دي دغه دعا ووایي (**اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ**)ژباړه : ای الله زه ستا څخه ستا دفضل غوښتنه کوم .

عن أبي أسيد، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إذا دخل أحدكم المسجد، فليقل: اللهم افتح لي أبواب رحمتك، وإذا خرج، فليقل: اللهم إني أسألك من فضلك .

(ابن ماجة ج ۱ ص ۲۵۴ باب الدعاء عند دخول المسجد مکتبه شامله / صحیح مسلم شریف ج ۱ ص ۴۹۴ مکتبه شامله / سنن ابي داود شریف ج ۱ ص ۱۲۶ مکتبه شامله / سنن النسائي ج ۲ ص ۵۳ مکتبه شامله)

په غالیو سره دمسجد ښائسته کول څنګه دي؟

سوال ۱۲ : د مسجد ښائسته کول او زینت په غالیو او په پردو او په ښائسته او قیمتي قندیلانو سره شرعًا روا ایښت لري که یا؟ ځیني ځایونه موږ اورېدلي دي چي دا کار مکروه دی؟

جواب: په یو حدیث شریف کښې راځي (ان من اشراط الساعة تزيين المساجد) د دغه حدیث څخه ځیني علماء استدلال کوي چي ډېر تکلفات د مسجد په ښائست والي کي مکروه دي لکه ځیني محرابونه چي تاسي لیدلي وي مختلف رنګونه ښیښې، نقشونه، آیاتونه شعرونه، چي خلل راولي د لمونځ کوونکو په لمونځ او خشوع کښې، او ځیني علماء بیا وایې چي هر څومره ښائست یې ثواب لري ځکه چي په دې کښې د الله جل جلاله د کور تعظیم او عزت دی، زموږ مذهب دا دی چي ښائست د

مسجد هېڅ کراهیت نه لري د حدیث توجیه او جواب موږ داسي ورکوو چي مکروه هلته دی چي ښائسته يې کړي او لمونځ نه په کښې کوي یا دا ښائسته والی يې فقط تر محرابه پوري محدوده کړی وي باقي مسجد په غالیو په پردو او په ښائسته او قیمتي قندیلانو او ګروپانو سره ښائسته کول هېڅ پروا نه لري.

لماقال العلامة ابن نجیم المصري الحنفي رحمه الله تعالی في البحر : أَيْ وَلَا يُكْرَهُ نَقْشُ الْمَسْجِدِ وَهُوَ الْمَذْكُورُ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ بِلَفْظِ لَا بَأْسَ بِهِ وَقِيلَ يُكْرَهُ لِلْحَدِيثِ إنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ تَزْيِينَ الْمَسَاجِدِ وَقِيلَ مُسْتَحَبٌّ لِأَنَّهُ مِنْ عِمَارَتِهِ وَقَدْ مَدَحَ اللَّهُ فَاعِلَهَا بِقَوْلِهِ {إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ} [التوبة: ١٨] وَأَصْحَابُنَا قَالُوا بِالْجَوَازِ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ وَلَا اسْتِحْبَابٍ

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۸۷ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۶۴ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۱۰۹ مکتبه رشیدیه / الهدایه ج ۱ ص ۱۲۷ مکتبه حنفیه / فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۵۷ اردو /فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۲۴۸ پښتو)

دمسجد چنده پرعمومي ځاه باندي (کوهي) مصرفول

سوال ۱۳: د مسجد لپاره جمع سوی چنده او روپۍ پر هغه ځاه باندي مصرف کول چي د هغه څخه د کلي او بازار خلک هم اوبه وړي او د مسجد کار هم ځيني اخستل کيږي مثلا اودس او غسل په کيږي د غه مصرف کول د روپو جایزدي که یا ؟

جواب: د غه جمع شوي مال او روپۍ چي د مسجد په نامه راغلي دي پر هغه ځاه باندي مصرف کول نه دي روا تر څه وخته چي هغه د روپو مالکانو اجازه نه وي ورته کړې ځکه چي دا شي صرف د مسجد لپاره وقف سوی دی.

لمافي الفتاوی الهندیة : أَرْضُ وَقْفٍ عَلَى مَسْجِدٍ صَارَتْ بِحَالٍ لَا تُزْرَعُ فَجَعَلَهَا رَجُلٌ حَوْضًا لِلْعَامَّةِ لَا يَجُوزُ لِلْمُسْلِمِينَ انْتِفَاعٌ بِمَاءِ ذَلِكَ الْحَوْضِ، كَذَا فِي الْقُنْيَةِ.

(الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۶۴ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۵ ص ۴۲۱ مکتبه رشیدیه / فتاوی رحیمیه ج ۹ ص ۷۰ اردو / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۲۳۲ پښتو / فتاوی هادیه ج ۲ ص ۴۴۳ پښتو)

کتاب احیآء الموات

دحکومتي مځکي ملکیت دابادوونکي شخص دپاره کله ثابتیږي ؟

سوال ۱ : که چیري یو ځوک راولاړ سي حکومتي مځکه خپل پر سر بېله اجازې دحکومته اباده کړي نو ایا دداسي مځکي ملکیت دهغه شخص دپاره ثابتېږي که یا ؟ او خرڅول یې رواه دي که یا ؟

جواب : په فتاوی حقانیه کښې دغه ته ورته سوال ته داسي جواب ویلی دی . دخرابي او ناابادي مځکي داباد ولو دپاره دوخت دپاچا اجازه اخیستل ضروري ده که یا ؟ په دغه مسئله کښې دامام صاحب او امام محمد او امام ابویوسف رحمهم الله تعالی اختلاف دی . دامام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما په نزد دحکومت اجازه اخیستل ضروري نه ده هرچاچي اباده کړه دهغه ملکیت ګرځي . او دامام صاحب رحمة الله علیه په نزد دحکومت اجازه اخیستل ضروري ده او همدغه قول راجح قول دی او دفقهي په متونو کښې ذکر سوی دی نو خرڅول یې هغه وخت رواه دي چي دحکومت اجازه ورته سوې وي .

لماقال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتارعلی الدرالمختار : وَقَوْلُ الْإِمَامِ: هُوَ الْمُخْتَارُ وَلِذَا قَدَّمَهُ فِي الْخَانِيَّةِ، وَالْمُلْتَقَى كَعَادَتِهَا وَبِهِ أَخَذَ الطَّحَاوِيُّ وَعَلَيْهِ الْمُتُونُ.

وفی الفتاوی الهندیة : وَمَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً بِغَيْرِ إذْنِ الْإِمَامِ لَا يَمْلِكُهَا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – وَقَالَ صَاحِبَاهُ يَمْلِكُهَا .... وَالْمِلْكُ فِي الْمَوَاتِ يَثْبُتُ بِالْإِحْيَاءِ بِإِذْنِ الْإِمَامِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى يَثْبُتُ بِنَفْسِ الْإِحْيَاءِ

(ردالمحتار ج۵ ص ۲۷۸ کتاب احیآء الموات / الفتاوی الهندیة ج۵ ص ۳۸۶ کتاب احیآء الموات الباب الاول / فتاوی حقانیه ج۵ ص ۳۶۹ کتاب احیآء الموات / بدائع الصنائع ج۶ ص ۱۹۴ کتاب الاراضي)

کتاب الهـــبه

پلار وزوی ته یو شي هبه او وبخښي اوس یې بیرته ځیني اخلي .

سوال ۱ : که چیري یو پلار راولاړ سي وزوی ته یو شی په خپل ژوند کښې

وروبخښي او زوی هم تصرف او قبضه باندي وکړي اوس پلار بېا راولاړېږي هغه بخښل سوی شی دزوی څخه بېرته اخلي ایاآ داسي کول شرعا درست او صحیح دي که یا ؟.

په داسي صورت کښې پلار هیڅکله بیرته رجوع نه سي کولای لهذا کله چي زوی پر هغه بخښل سوي شي باندي قبضه وکړه نور هغه شی دزوی دی، پلار ره یې بیا دشریعت درویه څخه نه سي بیرته ځیني اخیستلای یعني دغه اخیستل ځیني ناروا ه دي .

قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى في الهداية : وإن وهب هبة لذي رحم محرم منه فلا رجوع فيها" لقوله عليه الصلاة والسلام: "إذا كانت الهبة لذي رحم محرم منه لم يرجع فيها"؛ ولأن المقصود فيها صلة الرحم وقد حصل

الهداية ج ۳ ص ۲۸۷ کتاب الهبة باب مايصلح رجوعه وما لا يصلح / کنزالدقائق ص ۳۵۵ کتاب الهبة / مجلة الاحکام مادة ۸۶۶ ص ۴۷۶ کتاب الهبة الباب الثالث في احکام الهبة / فتاوی حقانيه ج۵ ص ۳۵۱ کتاب الهبة / فتاوی مفتي محمود ج ۹ ص ۲۳۴ کتاب الهبة)

بخښل سوی شي بیرته اخیستل کېږی اوکه یا

سوال ۲: یوکس یو شي یو چا ته په بخښنه ورکړي اوس غواړي چي دغه خپل بخښل سوی شي بیرته دهغه کس څخه واخلي ایا شریعت ده ته دا حق ورکوي چي دا بخښل سوی شي ددغه کس څخه واپس کړي؟

جواب :یو څو صورتونه داسي دي شرعا چي په هغو کي بخښل سوی شي بیالاس ته نسي راتلاي(۱) په بخښل سوي شي کي زیاتوالی اونماراسي (۲)یاپه هلاکت ورسېږي(۳)یا دغه کس چي بخښنه ورته سوې ده هغه بل کس ته چي ده ته یې بخښنه کړې ده یو شی په مقابل کي عوض ورکړي (۴)یادي دغه بخښل سوی شی دملکیته څخه ووتی (۵)یاخاوندا وښځي ویوه بل ته یو شی سره وبخښی (۶)یادي داسي قریب ته وبخښی چي هغه په محرم کي راځي لکه دمور ،خور، انا، خوابنې، خاله، امه بخښنه (۷) یابخښونکی اویا قبضه کونکی مړسي . البته که دجانبینو څخه رضا راغله بیا رجوع جایز ده.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (صَحَّ الرُّجُوعُ فِيهَا بَعْدَ الْقَبْضِ) أَمَّا

قَبْلَهُ فَلَمْ تَتِمَّ الْهِبَةُ (مَعَ انْتِفَاعِ مَانِعِهِ) الْآتِي (وَإِنْ كُرِهَ) الرُّجُوعُ (تَحْرِيمًا) وَقِيلَ: تَنْزِيهًا نِهَايَةٌ (وَلَوْ مَعَ إسْقَاطِ حَقِّهِ مِنْ الرُّجُوعِ) فَلَا يَسْقُطُ بِإِسْقَاطِهِ خَانِيَّةٌ.

وَفِي الْجَوَاهِرِ لَا يَصِحُّ الْإِبْرَاءُ عَنْ الرُّجُوعِ وَلَوْ صَالَحَهُ مِنْ حَقِّ الرُّجُوعِ عَلَى شَيْءٍ صَحَّ وَكَانَ عِوَضًا عَنْ الْهِبَةِ لَكِنْ سَيَجِيءُ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۵۷۴ مكتبه رشيديه / فتاوى قاضي خان علي هامش الهندية ج ۳ ص ۲۷۵ مكتبه رشيديه / شرح مجلة الاحكام للاتاسي مادة ۸۶۴ / احسن الفتاوى ج ۷ ص ۲۵۴ / فتاوى العصر ص ۱۴۶ / فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۳۵۰ پښتو)

پلار په خپل ژوند کي زوی ته بخښنه وکړه دا نور ورونه حق په کښې لري ؟

سوال ۳ : یو پلار را ولاړیږي په خپل ژوند کي د خپلو زامنو څخه ویوه زوی ته د خپل جایداده څخه مثلاً پنځه جریبه مځکه ور بخښي او زوی پر هغه مځکي باندي قبضه هم کوي او سرای باندي جوړ کړي ایا د پلار تر وفات وروسته هم د غه مځکه دده د که پر دا نورو ورونو بیا د سره څخه ویشل کیږي؟

جواب : په دغه موجوده صورت سره دغه بخښنه د پلار ود غه زوی ته صحیح ده د غه زوی په دغه قبضه سره ددي مځکي مالک جوړ سو په دې شرط سره چي پلار به دغه بخښنه د مرګ په مریضۍ کي نه وي کړې او دته به یي دغه مځکه ورجلا کړې هم وي . او دغه نور ورونه د دغه ورور په دغه بخښل سوي مځکه کي هیڅ قسم حق نه لري نه په ژوند د پلار نه وروسته تر مرګ د پلار البته د غه خبره یاد ساتل دي چي بیله عذره شرعي نور وارثان د میراث څخه محرومه کول او داسي بخښني کول ګناه لري حدیث شریف دی (من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة) . ژباړه : څوک چي یو وارث د خپل میراثه څخه محروم کړي نو الله جل جلاله به دغه کس د جنت د میراثه څخه محروم کړي .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ بَعْدَ أَنْ يُقْسَمَ) وَيُشْتَرَطُ فِي صِحَّةِ هِبَةِ الْمَشَاعِ الَّذِي لَا يَحْتَمِلُهَا أَنْ يَكُونَ قَدْرًا مَعْلُومًا حَتَّى لَوْ وَهَبَ نَصِيبَهُ مِنْ عَبْدٍ وَلَمْ يُعْلِمْهُ بِهِ لَمْ يَجُزْ، لِأَنَّهَا جَهَالَةٌ تُوجِبُ الْمُنَازَعَةَ بَحْرٌ وَانْظُرْ مَا كَتَبْنَاهُ عَلَيْهِ.

(ردالمحتار ج ۴ ص ۵۷۰ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۴ ص ۳۷۷ مكتبه رشيديه / خلاصة

الفتاوی ج ۴ ص ۳۹۰ مکتبه رشیدیه / شرح مجلة الاحکام للاتاسي ج ۳ ص ۳۸۱ / احسن الفتاوی ج ۷ ص ۲۵۴ اردو / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۳۴۵ پښتو)

کتاب البیوع

باب مایجوزبیعه ومالایجوز

دبتانو یا دنن سبا غټو او کوچنیو ناوکیو خرڅول او رانیول رواه دي که یا ؟

سوال ۱ : ځیني دوکانداران په بازار کښې د کوچنیانو انجونو دناوکیو په نامه سره بتان خرڅوي هغه داسي چي دغه ناوکۍ د مسالې څخه جوړي وي پښې لري لاسونه او سترګي لري خلاصه دا چي دبدن ټول اعضاوي لري او کالي يې هم په اغوستي وي دځینو په باره کښې انسان دا فکر کوي چي ژوندي انسانان دي . په بعضو کښې بیا دننه یو قسم موزیک او ساز هم دکمپنۍ څخه سبت سوی وي ، او ځیني بیا هغه دي چي شله او رقص هم کوي یو قسم سندره داردو یا پښتو ژبي په ساز کښې هم ورسره ګډه وي . پوښتنه داده چي ددغه ناوکیو یا بتانو رانیول او خرڅول دشریعت دنګا څخه رواه دي که یا ؟ .

جواب : ناوکۍ یا یو بل دماشومانو دساتیري شی که یې چیري صورت او شکل دذي روح او ژوندي شي نه وي لکه هغه ناوکۍ چي ماشوماني انجوني يې خپله د لرګیو او ټوکرانو څخه جوړوي شرعا مشکل نه لري ځکه چي په دې کښې دماشومانو یو قسم ذهني ورزش او بوخت او مشغوله کېدل او په آینده کښې و کار او وظیفي ته امده کېدل دي .

او دغه ناوکۍ کومي چي په سوال کښې ذکر سوي دي واقعة او حقیقة بتان دي او دژوندي انسانانو یعني ذي روح مخلوق پر شکل باندي جوړي سوي دي . او دذي روح مخلوق تصویرونه جوړول او په کور کښې ایښوول او رانیول او خرڅول دا ټوله نارواه دي . ځکه چي بت د معاصي آله ده . او دایو قسم اعانت علی المعصیت هم دی . او سربېره پر دې باندي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه دبتانو دخرڅولو ممانعت هم راغلی دی .

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَفِي آخِرِ حَظْرِ الْمُجْتَبَى عَنْ أَبِي يُوسُفَ: يَجُوزُ بَيْعُ اللُّعْبَةِ وَأَنْ يَلْعَبَ بِهَا الصِّبْيَانُ. اهـ.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : (قَوْلُهُ عَنْ أَبِي يُوسُفَ) أَيْ نَاقِلًا عَنْ أَبِي يُوسُفَ، وَظَاهِرُهُ أَنَّهُ قَوْلُهُ لَا رِوَايَةٌ عَنْهُ حَتَّى يُقَالَ: إنَّ هَذَا يُشْعِرُ بِضَعْفِهِ وَنِسْبَتُهُ إلَى أَبِي يُوسُفَ لَا تَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْإِمَامَ يُخَالِفُهُ لِاحْتِمَالِ أَنْ يَكُونَ لَهُ فِي الْمَسْأَلَةِ قَوْلٌ فَافْهَمْ

اخرج الامام البخاري رحمه الله تعالى : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ: سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ عَامَ الفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ: «إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الخَمْرِ، وَالمَيْتَةِ وَالخِنْزِيرِ وَالأَصْنَامِ.

عن ابى هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَتَانِي جِبْرِيلُ فَقَالَ: إِنِّي كُنْتُ أَتَيْتُكَ البَارِحَةَ فَلَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ عَلَيْكَ البَيْتَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فِي بَابِ البَيْتِ تِمْثَالُ الرِّجَالِ، وَكَانَ فِي البَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ، وَكَانَ فِي البَيْتِ كَلْبٌ، فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي بِالبَابِ فَلْيُقْطَعْ فَلْيُصَيَّرْ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ، وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ وَيُجْعَلْ مِنْهُ وِسَادَتَيْنِ مُنْتَبَذَتَيْنِ تُوطَآنِ، وَمُرْ بِالكَلْبِ فَيُخْرَجْ "، فَفَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ n وَسَلَّمَ وَكَانَ ذَلِكَ الكَلْبُ جَرْوًا لِلْحَسَنِ أَوِ الحُسَيْنِ تَحْتَ نَضَدٍ لَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ: " هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۲۶ مکتبه شامله بیروت چاپ مطلب في التداوی بالمحرم / مرقاة المفاتيح ج ۶ ص ۲۹۴ رقم الحديث ۳۱۲۹ مکتبه رشیدیه / مشكاة المصابيح ص ۳۸۶ كتاب اللباس باب التصاوير الفصل الثاني والثالث . قديمي كتاب خانه / ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۷ مطلب اذا تردد الحكم بين سنة وبدعة سعيد / البحر الرائق ج ۲ ص ۴۸ كتاب الصلوة باب مايفسد الصلوة / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۵۰۳ باب الصورة والملاهي / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۱۰۹ باب مایجوز بیعه وما لایجوز بیعه)

دماشومانو دساتیري شیان خرڅول او کاروبار رواه دی که یا ؟

سوال ۲ : څه فرمايي علماء كرام په دغه مسئله كښې چې زه دماشومانو دساتيري شيان لكه دمسالې موټران موټرسايكلان طيارې شپېلكې وغيره خرڅوم او دغه

مي كار و بار دى حال دا چي پر دغه شيانو باندي كله كله دژوندي شيانو تصويرونه او عكسونه هم لګيدلي وي . ايا دشريعت دنګاه څخه دماشومانو دساتيري دشيانو خرڅول او رانيول رواه دي كه يا ؟ .

جواب : دماشومانو دساتيري شيان كه څه هم دژوندي اشياوو تصويرونه په كښې وي رانيول او خرڅول يې رواه دي . علامه شامي رحمه الله تعالى صاحب دردالمحتار ليكلي دي چي امام ابويوسف رحمة الله تعالى عليه ددغه شيانو درانيولو او خرڅولو اجازه او جواز وركړى دى .

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَفِي آخِرِ حَظْرِ الْمُجْتَبَى عَنْ أَبِي يُوسُفَ: يَجُوزُ بَيْعُ اللُّعْبَةِ وَأَنْ يَلْعَبَ بِهَا الصِّبْيَانُ. اهـ.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : (قَوْلُهُ عَنْ أَبِي يُوسُفَ) أَيْ نَاقِلًا عَنْ أَبِي يُوسُفَ، وَظَاهِرُهُ أَنَّهُ قَوْلُهُ لَا رِوَايَةٌ عَنْهُ حَتَّى يُقَالَ: إنَّ هَذَا يُشْعِرُ بِضَعْفِهِ وَنِسْبَتُهُ إلَى أَبِي يُوسُفَ لَا تَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْإِمَامَ يُخَالِفُهُ لِاحْتِمَالِ أَنْ يَكُونَ لَهُ فِي الْمَسْأَلَةِ قَوْلٌ فَافْهَمْ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۲۶ مكتبه شامله بيروت چاپ مطلب في التداوى بالمحرم / فتاوى عباد الرحمن ج ۴ ص ۱۶۳ كتاب البيوع)

ترقبضه كولو مخكي ديو رانيول سوي شي خرڅول پر بل چا باندي نه دي رواه .

سوال ۳ : موږ په بازار كښې د مختلف قسم شيانو كاروبار كوو . درانيولو او خرڅولو په وخت كښې هغه مال زموږ په مخ كښې موجود نه وي فقط يې نمونه (سېمپل) يا ماركه كمپنۍ والا رابنيي پر هغه بنياد موږ سودا سره كوو ايا داسي كاروبار كول رواه دى كه يا ؟ . او بل دا چي خريدار (مشتري) دكمپنۍ يا ګودام والا څخه مال رانيسي قبضه يې لا نه وي كړې بيا يې پر بل چا باندي خرڅ كړي داسي كاروبار رواه دى كه يا چي مشتري يوشى نه وي قبضه كړى پر بل چا باندي يې خرڅ كړي .

جواب : بغير دليدلو شى رانيول رواه دى ليكن تر ليدلو وروسته كه چيري كوم عيب په كښې پيدا سو يا هغه صفتونه نه وه په كښې كوم چي مشتري او خرڅوونكي سره

مقرر کړي وه . نو مشتري دا اختیار لري چي هغه معامله ختمه کړي او بایع دي دغه ختمول قبول کړي . او دد وهمي مسئلې جواب دادی چي پر کوم شي باندي چي تر څه وخته مشتري قبضه نه وي کړې تر هغه يې پر بل چا نه سي خرڅولای . تر قبضې کولو وروسته يې بیا خرڅول رواه دي .

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر : «مَنْ اشْتَرَى شَيْئًا لَمْ يَرَهُ فَلَهُ الْخِيَارُ إذَا رَآهُ إنْ شَاءَ أَخَذَهُ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ» وَجَهَالَتُهُ بِعَدَمِ الرُّؤْيَةِ لَا تُفْضِي إلَى الْمُنَازَعَةِ لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يُوَافِقْهُ بِرَدِّهِ فَصَارَ كَجَهَالَةِ الْوَصْفِ فِي الْمُعَايَنِ الْمُشَارِ إلَيْهِ وَإِطْلَاقُ الْكِتَابِ يَقْتَضِي جَوَازَ الْبَيْعِ سَوَاءٌ سَمَّى جِنْسَ الْمَبِيعِ أَوْ لَا وَسَوَاءٌ أَشَارَ إلَى مَكَانِهِ أَوْ إلَيْهِ وَهُوَ حَاضِرٌ مَسْتُورٌ أَوْ لَا

وفی الهداية : ومن اشترى شيئا مما ينقل ويحول لم يجز له بيعه حتى يقبضه" لأنه عليه الصلاة والسلام نهى عن بيع ما لم يقبض ولأن فيه غرر انفساخ العقد على اعتبار الهلاك.

(البحرالرائق ج۶ ص ۲۶ طبع سعید / الهدایة ج ۳ ص ۶۹ کتاب البیوع مکتبه شامله / فتاوی عبادالرحمن ج ۴ ص ۱۶۷ کتاب البیوع)

دنسوارو کاروبار (رانیول او خرڅول) رواه دي که یا ؟

سوال ۴ : دنسوارو کاروبار (رانیول او خرڅول) دشریعت دنګاه څخه رواه دي که یا ؟ .

جواب : دنسوارو استعمال مناسب کار نه دی . لیکن بلاشبه نسوار نشه راوړنکی شی هم نه دی نو ځکه شرعا دنسوارو کاروبار (رانیول او خرڅول) رواه شرعا دي .

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَصَحَّ بَيْعُ غَيْرِ الْخَمْرِ) مِمَّا مَرَّ، وَمُفَادُهُ صِحَّةُ بَيْعِ الْحَشِيشَةِ وَالْأَفْيُونِ.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : قَوْلُهُ وَصَحَّ بَيْعُ غَيْرِ الْخَمْرِ) أَيْ عِنْدَهُ خِلَافًا لَهُمَا فِي الْبَيْعِ وَالضَّمَانِ، لَكِنَّ الْفَتْوَى عَلَى قَوْلِهِ فِي الْبَيْعِ، وَعَلَى قَوْلِهِمَا فِي الضَّمَانِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۶ ص ۴۵۴ کتاب الاشربة مکتبه شامله / فتاوی عباد الرحمن ج ۴ ص ۱۶۳ کتاب البیوع)

دبتانو یا دنن سبا غټو او کوچنیو ناوکیو خرڅول او رانیول رواه دي که یا ؟

سوال۵: ځیني دوکانداران په بازار کښې د کوچنیانو انجونو دناوکیو په نامه سره بتان خرڅوي هغه داسي چي دغه ناوکۍ دمسالې څخه جوړي وي پښې لري لاسونه او سترګې لري خلاصه دا چي دبدن ټول اعضاوي لري او کالي یې هم په اغوستي وي دځینو په باره کښې انسان دا فکر کوي چي ژوندي انسانان دي . په بعضو کښې بیا دننه یو قسم موزیک او ساز هم دکمپنۍ څخه سبت سوی وي ، او ځیني بیا هغه دي چي شله او رقص هم کوي یو قسم سندره داردو یا پښتو ژبې د په ساز کښې هم ورسره ګډه وي . پوښتنه داده چي ددغه ناوکیو یا بتانو رانیول او خرڅول دشریعت دنګا څخه رواه دي که یا ؟ .

جواب :ناوکۍ یا یو بل دماشومانو دساتیري شی که یې چیري صورت او شکل دذي روح او ژوندي شي نه وي لکه هغه ناوکۍ چي ماشوماني انجوني یې خپله د لرګیو او ټوکرانو څخه جوړوي شرعا مشکل نه لري ځکه چي په دې کښې دماشومانو یو قسم ذهني ورزش او بوخت او مشغوله کېدل او په آینده کښې وکار او وظیفي ته امده کېدل دي .

او دغه ناوکۍ کومي چي په سوال کښې ذکر سوي دي واقعة او حقیقة بتان دي او دژوندي انسانانو یعني ذي روح مخلوق پر شکل باندي جوړي سوي دي . او دذي روح مخلوق تصویرونه جوړول او په کور کښې ایښوول او رانیول او خرڅول دا ټوله نارواه دي . ځکه چي بت دمعاصي آله ده . او دا یو قسم اعانت علی المعصیت هم دی . او سربېره پر دې باندي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه دبتانو دخرڅولو ممانعت هم راغلی دی .

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَفِي آخِرِ حَظْرِ الْمُجْتَبَى عَنْ أَبِي يُوسُفَ: يَجُوزُ بَيْعُ اللُّعْبَةِ وَأَنْ يَلْعَبَ بِهَا الصِّبْيَانُ. اهـ.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : (قَوْلُهُ عَنْ أَبِي يُوسُفَ) أَيْ نَاقِلًا عَنْ أَبِي يُوسُفَ، وَظَاهِرُهُ أَنَّهُ قَوْلُهُ لَا رِوَايَةٌ عَنْهُ حَتَّى يُقَالَ: إنَّ هَذَا

يُشْعِرُ بِضَعْفِهِ وَنِسْبَتُهُ إلَى أَبِي يُوسُفَ لَا تَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْإِمَامَ يُخَالِفُهُ لِاحْتِمَالِ أَنْ يَكُونَ لَهُ فِي الْمَسْأَلَةِ قَوْلٌ فَافْهَمْ

اخرج الامام البخاري رحمه الله تعالى : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ: سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ عَامَ الفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ: «إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الخَمْرِ، وَالمَيْتَةِ وَالخِنْزِيرِ وَالأَصْنَامِ.

عن ابى هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَتَانِي جِبْرِيلُ فَقَالَ: إِنِّي كُنْتُ أَتَيْتُكَ البَارِحَةَ فَلَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ عَلَيْكَ البَيْتَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فِي بَابِ البَيْتِ تِمْثَالُ الرِّجَالِ، وَكَانَ فِي البَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ، وَكَانَ فِي البَيْتِ كَلْبٌ، فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي بِالبَابِ فَلْيُقْطَعْ فَلْيُصَيَّرْ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ، وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ وَيُجْعَلْ مِنْهُ وِسَادَتَيْنِ مُنْتَبَذَتَيْنِ تُوطَآنِ، وَمُرْ بِالكَلْبِ فَيُخْرَجْ "، فَفَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ ذَلِكَ الكَلْبُ جَرْوًا لِلْحَسَنِ أَوِ الحُسَيْنِ تَحْتَ نَضَدٍ لَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ: " هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۲۶ مکتبه شامله بیروت چاپ مطلب في التداوی بالمحرم / مرقاة المفاتيح ج ۶ ص ۲۹۴ رقم الحديث ۳۱۲۹ مکتبه رشيديه / مشكاة المصابيح ص ۳۸۶ كتاب اللباس باب التصاوير الفصل الثاني والثالث ، قديمي كتاب خانه / ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۷ مطلب اذا تردد الحكم بين سنة وبدعة سعيد / البحر الرائق ج ۲ ص ۴۸ كتاب الصلوة باب مايفسد الصلوة / فتاوی محموديه ج ۱۹ ص ۵۰۳ باب الصورة والملاهي / فتاوی حقانيه ج ۵ ص ۱۰۹ باب مايجوز بيعه وما لايجوز بيعه)

دغلاسوي مال داخيستلو اوپلورلو حکم .

سوال ۶: ايا ديو کس څخه دغلا کړی سوي مال اخيستل اورانيول او بيا په ګټه باندي پلورل او خرڅول رواه دي که يا ؟

جواب : په شريعت مقدسه کښي دديٍ خبری تصريح سوېده چي دغلا مال واصلي مالک ته بېرته ورکول واجب دي . دکوم شي متعلق چي په قرائنو او دلائلو سره غالب ګمان داوي چي دامال دغلا دی نو دداسي مال داخيستلو څخه پرهيزاو اجتناب واجب دی او که يي چيري په خطااو ناخبرتيا سره اخيستی وي او وروسته

بيا حقيقت ورته واضح سي نو اخيستونكی دي دا مال دا صل مالک طرف ته واپس كړي او د خرڅوونكي څخه دي خپلي روپۍ واخلي .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : لوظهر غير حلال اى مسروقا او مغصوبا يرجع عليه المشترى .

وقال الملک العلمآء العلامة الكاسانى رحمه الله تعالى في بدائع الصنائع : وَلَوْ بَاعَ السَّارِقُ الْمَسْرُوقَ مِنْ إنْسَانٍ، أَوْ مَلَكَهُ مِنْهُ بِوَجْهٍ مِنْ الْوُجُوهِ، فَإِنْ كَانَ قَائِمًا فَلِصَاحِبِهِ أَنْ يَأْخُذَهُ؛ لِأَنَّهُ عَيْنُ مِلْكِهِ، وَلِلْمَأْخُوذِ مِنْهُ أَنْ يَرْجِعَ عَلَى السَّارِقِ بِالثَّمَنِ الَّذِي دَفَعَهُ؛ لِأَنَّ الرُّجُوعَ بِالثَّمَنِ لَا يُوجِبُ ضَمَانًا عَلَى السَّارِقِ فِي عَيْنِ الْمَسْرُوقِ؛ لِأَنَّهُ يَرْجِعُ عَلَيْهِ بِثَمَنِ الْمَسْرُوقِ لَا بِقِيمَتِهِ لِيُوجِبَ ذَلِكَ مِلْكَ الْمَسْرُوقِ لِلسَّارِقِ،

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۱۰۶ کتاب البيوع / بدائع الصنائع ج ۵ ص ۸۵ کتاب البيوع باب / البحرالرائق ج۶ ص ۶۸ کتاب البيوع باب خيارالعيب / فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۷۰)

يوشي ګران خرڅول او دانه بيا نول چي ماپه دومره رانيولي

سوال ۷ : پوښتنه داده چي يو كس يوشی خرڅوي په ګټه باندي خو رانيوونكي ته دانه وايې چي ما په دومره رانيولی دی ايا شرعا داسي خريد وفرخت او معامله رواه ده كه يا ؟

جواب : داسي معامله كول خو شرعا رواه او حلاله ده ليكن دمروت (يعني ځوانمردی) خلاف عمل دی بهتره داده چي خرڅوونكی دغه شی په مناسبه قيمت وپلوري دقيمت دښوولو څخه بغير دمبيعې (يعني هغه سامان) په پلورلو او خرڅولو كښې هيڅ قسم قباحت او بدوالی نسته .

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى في بدائع الصنائع : وَلَوْ اشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ، وَرَقَمَهُ اثْنَيْ عَشَرَ فَبَاعَهُ مُرَابَحَةً عَلَى الرَّقْمِ مِنْ غَيْرِ بَيَانٍ جَازَ إذَا كَانَ الرَّقْمُ مَعْلُومًا وَالرِّبْحُ مَعْلُومًا وَلَا يَكُونُ خِيَانَةً؛ لِأَنَّهُ صَادِقٌ لَكِنْ لَا يَقُولُ: اشْتَرَيْته بِكَذَا؛ لِأَنَّهُ يَكُونُ كَاذِبًا فِيهِ.

وقال العلامة المرغيناني رحمه الله في الهداية : المرابحة نقل ما ملكه بالعقد الأول بالثمن الأول مع زيادة ربح، والتولية نقل ما ملكه بالعقد الأول بالثمن الأول من غير زيادة ربح"

والبيعان جائزان؛ لاستجماع شرائط الجواز، والحاجة ماسة إلى هذا النوع من البيع؛ لأن الغبي الذي لا يهتدي في التجارة يحتاج إلى أن يعتمد فعل الذكي المهتدي وتطيب نفسه بمثل ما اشترى وبزيادة ربح فوجب القول بجوازهما، ولهذا كان مبناهما على الأمانة والاحتراز عن الخيانة وعن شبهتها.....

(بدائع الصنائع ج ۵ ص ۲۲۳ في تحت بيان المرابحة / الهداية ج ۳ ص ۵۴ باب المرابحة والتولية / ومثله في البحر الرائق ج ۶ ۱۰۷ تحت باب المرابحة والتولية / فتاوى حقانية ج ۵ ص ۱۶۴ كتاب البيوع باب المرابحة)

يوشي په نغدو په يوه قيمت ورکول او په پور سره په بل قيمت ورکول .

سوال ۸ : زه ديو شخص څخه يوشی رانيسم هغه راته وايي که پيسې اوس نغدې راکوې نو داشی په زر روپی درکوم او که يې مياشت وروسته پيسې راکوې نو يې په پنځلس سوه درکوم ايا دغسي سودا چي شی يو شی وي ليکن په نغدو په کم قيمت سره او په پور په زيات قيمت سره ورکول دا شرعا جواز لري که يا ؟

جواب : که چيري په هغه مجلس کښې د نغدو يا د پور معامله صافه او وخت يي متعين سي چي د غه خريداري يا په نغدو سره وسوله يا په پور سره وسوه تر فلانکي وخته پوري نو داسي تجارت او معامله خو شرعا جائز ده . ليکن د مروت او اخلاقو څخه خلاف کار دی ځکه چي کوم غريب شخص د خپل ضرورت دپاره يو شی رانيسې او د هغه شي قيمت د هغه سره نه وي نو هغه شخص د رحم وشفقت او کرم مستحق دی د هغه څخه دومره اندازه قيمت اخيستل چي هغه ته خساره او تاوان ورسيږي داد مروت خلاف کار دی بايد د هغه سره کومک او امداد وسي .

او په دې سره دا مسئله هم معلومه سوه چي يو کس وايي زه يې په پور ګران رانيسم او بيا يې په لاس او نغدو سره ارزانه ورکوم چي خاص مشکل نه لري .

وقال العلامة المرغيناني رحمه الله في الهداية : لان للاجل شبها بالمبيع الا ترى انه يزاد فى الثمن لاجل الاجل والشبهة فى هذا ملحقة بالحقيقة ./ وفى ردالمحتار على الدرالمختار : لِأَنَّ الْأَجَلَ فِي نَفْسِهِ لَيْسَ بِمَالٍ، فَلَا يُقَابِلُهُ شَيْءٌ حَقِيقَةً إذَا لَمْ يُشْتَرَطْ زِيَادَةُ الثَّمَنِ بِمُقَابَلَتِهِ قَصْدًا،/ قال شيخ الاسلام العلامة المفتى محمد تقى العثماني فى كتابه (

بحوث فی قضایافقیة معاصرة) واما الائمة الاربعة وجمهور الفقهآء المحدثین : فقداجازوا البیع المؤجل باکثر من سعر النقد بشرط ان یبت العاقد ان بانه بیع مؤجل باجل معلوم وبثمن معلوم متفق علیه عند العقد .

(ردالمحتار علي الد رالمختار ج ۵ ص ۱۴۲ کتاب البیوع باب المرابحة والتولیة سعید / الهدایة ج ۳ ص ۷۶ کتاب البیوع باب التولیة والمرابحة مکتبه شرکت علمیه ملتان / بحوث في قضایا فقهة معاصرة / الفتاوی العالمگیریة کتاب البیوع ج ۳ ص ۱۶۳ رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۱۵۴ باب حط الثمن وزیادته نقدا ونسیئة)

دکمپیوټرانو اخیستل رانیول او خرڅول .

سوال ۹ : پوښتنه داده چي دکمپیوټرانو کارو باریعني رانیول او خرڅول او بیا استعمالول یې دشریعت دنګاه څخه رواه عمل دی که یا ؟

جواب : دپوښتني تر جوابیدلو مخکښې دتمهید په ډول (یعني خپل مقصدته دلاري دهوارولو په ډول) په یوه خبره باندي ځان پوه کول ضروري دي .هغه دا چي اصل خبره داده څو مره چي په نړۍ کښې دا الله جل جلاله مخلوقات ډیریږي او زیاتیږي هم دومره دژوند دتیرولو وسهولتونو او آسانتیاو وته اړتیاوي پیداکوي . او دغه اسانتیاوي دا الله جل جلا له له طرفه څخه یو قسم نعمت دی مثلاً دنن سبا په حساب سره په یوه ښار کښې یا په یوه بلډینګ کښې دومره انسانان ژوند او ګذاره کوي چي که چیري دغه نوي او دوخت جدید سهولتونه نه وي نو بیا په داسي ځای کښې ددومره شمیر انسانانو ژوند تیرول ډیر ګران دی چي ښه مثال به یې دحج دفریضې رااخلو پخوا چي انسانان لږوه نو دګوتو په شمیر یو څوکسان حج ته تلله هغه هم پرپښو باندي . لیکن څومره چي انسانان ډیریږي هم دومره الله جل جلاله اسباب او سهولیات ورته پیدا کړل نن چي په لکهاوو انسانان دحج مقدسې فریضې ته په دومره ډیر کثرت سره ځي او هلته په اسي معمولي او کوچنۍ علاقه کښې داپه لکهاوو انسانان ځاییږي او په اطمینان سره ورته دعبادت موقع برابریږي داټوله ددغه نوي او جدید تخنیک د مثبت اړخ برکت دی چي دنیا ته راغی که نه نو که چیري یو طرف ته ددغه انسانانو ډیروالی وای او بل طرف ته داسبابو کموالی وای

نو بيا به ډير کسان داسي هم واى چي په ټول ژوند کښې به ورته دحج کولو زمينه ممکنه نه واى . نو ددې څخه خو بيا داسي يو شی لازم راتلی چي يو شی ممکن نه دی، نو موږ بيا ولي الله جل جلاله په هغه سره مکلفه کړي يو ځکه چي په دغه وخت کښې هغه دپخوا قواوي هم په انسانانو کښې پاته نه دي چي ددومره ملکونو څخه تير سي او بيا هلته صحيح سلامته ورسيږي او بيرته راسي . بس نو نژدې کسانو به دغه فريضه پر ځاى کولاى نور به ځيني محرومه واى . خو بس هم ددغه نوي اسبابو په واسطه او دالله جل جلاله په فضل سره ددنيا بې شميره انسانان دغه بابرکت مقام دفيضاتو څخه برخه مند کيږي ..... او دهم دغه جديد او نوي تخنيک وټيکنالوجۍ د مثبت اړخ برکت دی، چي ستاسي تر کوره پوري دالله جل جلاله او درسول صلي الله عليه وسلم خبري او پيغامات دروررسيدل .

البته دغه نوی، تخنيک بيا بل طرف ته منفي اړخونه هم لري چي که چيري پر هغه اړخ باندي انسان خپل تګ شروع کړي نو بيا هغه دانسان ددنيا او آخرت په ضرر باندي تماميږي . خلاصه دا چي دلته دواړه اړخونه سته هم مثبت چي دانسان ددنيا او آخرت ګټي پر موقوفه دي او هم منفي اړخونه چي دانسان ددنيا او آخرت ضررونه پر موقوف دي .

اوس به راسو دپوښتني جواب ته هغه دا چي دکمپيوټر استعمالول او رانيول و خرڅول رواه دي که يا ؟

نو جواب دا دی، : چي دکمپيوټر جوړوالی، فقط او فقط دمعصيت او ګناه دکارونو دپاره نه دی، سوی، بلکي دايوه آله ده تاسي کولای، سی، چي په دغي آلې باندي خپل جائز مقصد تر سره کړی، حتی جائز لا څه بلکي ددين کارونه په وکړئ (چي موږ به يې په خپلو کارونو کښې يو ښه مثال درکړو تفسير ديوبندي چي نن ستاسي په لاسونو کښې په ښايسته او زړه وړونکي انداز سره موجود دی،) دا ټوله ددغه کمپيوټر په جائزه طريقه سره دا استعمالولو برکت دی، او نور دې ته ورته ډير مثالونه .....

لهذا د کمپيوټر جوړول او رانيول او خرڅول او استعمالول بنفسه مباح او جائز کار دی، منع يې بيا د نورو عوارضو د وجي څخه راځي چي هغه د انسان استعمال دی، که يي غلط استعمالوي ناروا ه دی، او که يې صحيح او درست استعمالوي نو بيا رواه دی.

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَأَفَادَ كَلَامُهُمْ أَنَّ مَا قَامَتْ الْمَعْصِيَةُ بِعَيْنِهِ يُكْرَه بَيْعُهُ تَحْرِيمًا وَإِلَّا فَتَنْزِيهًا نَهْرٌ. وقال العلامة ابن عابدين فى ردالمحتار تحت : (قَوْلُهُ: نَهْرٌ) عِبَارَتُهُ: وَعُرِفَ بِهَذَا أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ بَيْعُ مَا لَمْ تَقُمْ الْمَعْصِيَةُ بِهِ كَبَيْعِ الْجَارِيَةِ الْمُغَنِّيَةِ وَالْكَبْشِ النَّطُوحِ وَالْحَمَامَةِ الطَّيَّارَةِ وَالْعَصِيرِ وَالْخَشَبِ الَّذِي يُتَّخَذُ مِنْهُ الْعَازِفُ،

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۲۶۸ باب البغاة / ج ۶ ص ۳۵۰ کتاب الحظر والاباحة / جواهر الفقه ج ۲ ص ۴۴۸ تفصيل الكلام في مسئلة الاعانة علي الحرام / فتاوی رحيميه ج ۱۰ ص ۱۹۶ / ستاسي مسائل او دهغه حل ۷ ص ۶۰ درانيولو او خرڅولو مسائل)

دبل دوکان څخه يو شي را اخيستل او بيا ګټه پر کول .

سوال ۱۰ : يو کس د يو د کاندار څخه يو شی رانيوی لست يې ورکي، مګر هغه شی د دغه دوکاندار سره نه وو د بل دوکاندار څخه يې راوړی وروسته بيا دغه راوړونکي دوکاندار خپل ګټه هم پر واچول ايا دغه صورت د خرڅولو روا دی که يا ؟

جواب: فقهاوو د دغي مسئلې دوه صورته ليکلي دي يو صورت روا دی يو نا روا دی. (۱) که چيري دغه دوکاندار د دغه خپل ګيرا که څخه پيشګي روپۍ او قيمت واخيستی او هغه کس دغه دوکاندار د رانيولو وکيل جوړ کړی نو اوس د دغه دوکاندار لپاره د ګټي اخيستلو روا والی نسته ځکه چي دی وکيل دی او وکيل پر موکل باندي ګټه نه سي کولای. (۲) او که چيري دغه دوکاندار و ګيراک ته وويل چي اوس نسته را سره بيا بل وخت راسه يا يې روپۍ ځيني وصول کړی بيا دی

ولاړی د بل دوکانداره څخه یې سامان راوړی پر ګیراک یې په ګټه خرڅ کړی دغه صورت جائز دی.

لما قال العلامة علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ٥٩٣ هـ) رحمه الله فى الهداية في شرح بداية المبتدي :قال :ولو وكله بشراء شيء بعينه فليس له أن يشتريه لنفسه لأنه يؤدي إلى تغرير الآمر حيث اعتمد عليه ولأن فيه عزل نفسه ولا يملكه على ما قيل إلا بمحضر من الموكل،

(الهداية في شرح بداية المبتدي ج٣ ص ١٨٣ باب الوكالة بالبيع والشراء مكتبه حنفيه / البناية شرح الهداية ج ٩ ص ٢٤٧ باب الوكالة بالبيع والشراء مكتبه شامله /فتاوى رشيديه ص ٤٠٤ / فتح القدير علي الهداية ج٨ ص ٤٥ باب الوكالة بالبيع والشراء مكتبه شامله بيروت چاپ)

دتليفون دلاري رانيول او خرخول كول .

سوال ١١ : نن سبا دنیا او نړی دمادیاتو په سلسله کښې ډېره ترقي کړېده . په عمومي ډول سره تجاران خلګ دلیري لیري ځایونو او ملکونو سره دټلیفون په ذریعه راکړه ورکړه کوي . پوښتنه داده چي دټلیفون په ذریعه سره درانیولو او خرڅولو دغه طریقه شرعا رواه ده که یا ؟ .

جواب : شریعت مقدسه داخیستلو او رانیولو په وخت کښې دایجاب او قبول دپاره دمجلس یووالی ضروري ګرځولی دی لیکن یووالی بیا عام دی که حقیقي وي او که حکمي وي . حقیقي خو ښکاره دی هر څوک یې پېژني چي دوه کسه مخامخ یو بل ته سره ناست وي ایجاب او قبول وکړي . او دحکمي صورت دادی چي په یوه مجلس کښې ایجاب او قبول وسي او مشتري یعني رانیوونکي ته په یوه مناسبه طریقه سره لکه (خط یا فاکس یا دپیغام رسان) په ذریعه سره ددغه عقد او معاملې اطلاع او خبر ورکړل سي .

په اوسني دور کښې فقهاوو دانساني ضروریاتو او حوائجوداسانی په خاطر دټلیفون په ذریعه بیع او شرا (راکړه ورکړه) طلاق او نور شیان هم په دې زمره او لیست کښې راخیستي دي . لهذا دتلیفون په ذریعه او واسطه سره که چیري دیوه

شي په باره کښې په باقاعده توګه سره ایجاب او قبول وسي نو دا بیع به شرعا نافذ العمله او درسته وي

قال الدکتور الوهبة الزهیلی رحمه اللهُ في الفقه الاسلامي وادلته : البیع بالمراسلة أو بواسطة رسول: یصح اتفاقاً، ویکون مجلس التعاقد هومجلس بلوغ الرسالة من العاقد الأول إلى العاقد الثاني، فإن تم القبول بعد هذا المجلس لم ینعقد العقد.

(الفقه الاسلامي وادلته ج ۴ ص ۵۰۳ ثانیا البیوع بسبب الصیغة / فتاوی الکاملیة ص ۲۸۵ مطلب هل یثبت رمضان بالتلغراف / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۷۲ کتاب البیوع باب شرائط البیع)

په نغدو په لړ او په پور په ډېره خرڅول داسي معامله شرعا روا ایښت لري که یا ؟

سوال ۱۲ : یو دکاندار یا تجار یو شی په دغه طریقه سره خرڅوي مثلا که چیري اوس روپۍ راکوې نو یې په زر درکوم او که میاشت وروسته نو په دوه زره یې درکوم آیا دغسي رانیول او خرڅول خوسود نه دی؟

جواب: پر دغه ډول او طریقې باندي رانیول او خرڅول سود نه دی داسي بیع شرعًا روا ده البته دا ضروري ده چي رانیوونکی او خرڅوونکی به په هغه مجلس کي یقیني فیصله سره وکړي چي یو ورته وایې دا سامان درکوم په نغدو په دونه روپۍ او په پور په دونه روپۍ او هغه بل به وایې چي صحیح ده زما قبول دی، او که یې فیصله نه سره وکړه بلکه خرڅوونکی صرف هغه قیمتونه ورته بیان کړه نور څه یې نه دي سره ویلي بیا بیع فاسده ده ځکه چي ثمن او قیمت مجهول دی.

لماقال العلامة ابن نجیم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : قَوْلُهُ (وَلَوْ اشْتَرَى بِأَلْفٍ نَسِيئَةً، وَبَاعَ بِرِبْحِ مِائَةً، وَلَمْ يُبَيِّنْ خُيِّرَ الْمُشْتَرِي) لِأَنَّ لِلْأَجَلِ شَبَهًا بِالْمَبِيعِ أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُزَادُ فِي الثَّمَنِ لِأَجْلِ الْأَجَلِ، وَالشُّبْهَةُ فِي هَذَا مُلْحَقَةٌ بِالْحَقِيقَةِ فَصَارَ كَأَنَّهُ اشْتَرَى شَيْئَيْنِ، وَبَاعَ أَحَدَهُمَا مُرَابَحَةً بِثَمَنِهِمَا، وَالْإِقْدَامُ عَلَى الْمُرَابَحَةِ يُوجِبُ السَّلَامَةَ عَنْ مِثْلِ هَذِهِ الْخِيَانَةِ فَإِذَا ظَهَرَتْ يُخَيَّرُ كَمَا فِي الْعَيْبِ.

(البحرالرائق ج ۶ ص ۱۹۰ مکتبه درشیدیه / مبسوط للامام سرخسي ج ۱۳ ص ۹ / خلاصة الفتاوی ج ۳ ص ۶۰ مکتبه رشیدیه / ترمذي شریف ج ۱ ص ۳۶۴ / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۱۵۷ اردو / اپ کي مسائل ج ۷ ص ۹۸ اردو)

دلاټرۍ رانیول او خرڅول روادي که یا ؟

سوال ۱۳ : په اوس وخت کي په بازارونو کي یو قسم لاټرۍ خرڅیږي خلګ یې رانیسي بعضو خلګو ته ډېرشیان پکښې راوځي او بعضي خلګو ته لږ شی راوځي چي هغوۍ بیا پکښې تاوانیان سي دغه راکړه ورکړه جوازلري که یا ؟

جواب : څرنګه چي پر دغه لاټریو باندي دقمار تعریف صادقیږي نو لهذا دغه راکړه ورکړه شرعا جواز نه لري .

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَهَى عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ، (رواه ابي داؤد)

(سنن ابي داؤد ج ۲ ص ۳۲۷ مکتبه امدادیه ملتان / مسند امام احمد ج ۲ ص ۳۵۱ بیروت چاپ / ردالمحتار ج ۶ ص ۴۰۳ کتاب الحظروالاباحة فصل في البیع / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۴۳۷ اردو / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۲۲۵ پښتو)

دماشومانو دساتیري شیان خرڅول او کاروبار رواه دی که یا ؟

سوال ۱۴ : څه فرمایي علماء کرام په دغه مسئله کښې چي زه دماشومانو دساتیري شیان لکه دمسالې موټران موترسایکلان طیارې شپېلکي وغیره خرڅوم او دغه مي کاروبار دی حال دا چي پر دغه شیانو باندي کله کله دژوندي شیانو تصویرونه او عکسونه هم لګیدلي وي . ایا دشریعت دنګاه څخه دماشومانو دساتیري دشیانو خرڅول او رانیول رواه دي که یا ؟ .

جواب : دماشومانو دساتیري شیان که څه هم دژوندي اشیاوو تصویرونه په کښې وي رانیول او خرڅول یې رواه دي . علامه شامي رحمه الله تعالی صاحب دردالمحتار لیکلي دي چي امام ابویوسف رحمة الله تعالی علیه ددغه شیانو درانیولو او خرڅولو اجازه او جواز ورکړی دی .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار :
(اشْتَرَى ثَوْرًا أَوْ فَرَسًا مِنْ خَزَفٍ لِأَجْلِ اسْتِئْنَاسِ الصَّبِيِّ لَا يَصِحُّ) وَلَا قِيمَةَ لَهُ (فَلَا يَضْمَنُ مُتْلِفُهُ، وَقِيلَ بِخِلَافِهِ) يَصِحُّ وَيَضْمَنُ قُنْيَةٌ، لما فى الدرالمختار : وَفِي آخِرِ حَظْرِ الْمُجْتَبَى عَنْ أَبِي يُوسُفَ: يَجُوزُ بَيْعُ اللُّعْبَةِ وَأَنْ يَلْعَبَ بِهَا الصِّبْيَانُ. اهـ. وقال الشامي رحمه الله تعالى : (قَوْلُهُ عَنْ أَبِي يُوسُفَ) أَيْ نَاقِلًا عَنْ أَبِي يُوسُفَ، وَظَاهِرُهُ أَنَّهُ قَوْلُهُ لَا رِوَايَةٌ عَنْهُ حَتَّى يُقَالَ: إنَّ هَذَا يُشْعِرُ بِضَعْفِهِ وَنِسْبَتُهُ إلَى أَبِي يُوسُفَ لَا تَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْإِمَامَ يُخَالِفُهُ لِاحْتِمَالِ أَنْ يَكُونَ لَهُ فِي الْمَسْأَلَةِ قَوْلٌ فَافْهَمْ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۲۶ مکتبه شامله بيروت چاپ مطلب في التداوي بالمحرم / فتاوی عباد الرحمن ج ۴ ص ۱۶۳ کتاب البيوع)

ترقبضه کولو مخکي ديو رانيول سوي شي خرڅول پر بل چا باندي نه دي رواه .

سوال ۱۵ : موږ په بازار کښې د مختلف قسم شيانو کاروبار کوو . درانيولو او خرڅولو په وخت کښې هغه مال زموږ په مخ کښې موجود نه وي فقط يې نمونه (سېمپل) يا مارکه کمپنۍ والا رالېږي پر هغه بنياد موږ سودا سره کوو ايا داسي کاروبار کول رواه دی که يا ؟ . او بل دا چي خريدار (مشتري) دکمپنۍ يا ګودام والا څخه مال رانيسي قبضه يې لانه وي کړې بيا يې پربل چا باندي خرڅ کړي داسي کاروبار رواه دی که يا چي مشتري يو شی نه وي قبضه کړی پر بل چا باندي يې خرڅ کړي .

جواب : بغير دليدلو شی رانيول رواه دی ليکن تر ليدلو وروسته که چيري کوم عيب په کښې پيدا سو يا هغه صفتونه نه وه په کښې کوم چي مشتري او خرڅوونکي سره مقرر کړي وه . نو مشتري دا اختيار لري چي هغه معامله ختمه کړي او بايع دي دغه ختمول قبول کړي . او ددوهمي مسئلې جواب دا دی چي پر کوم شي باندي چي تر څه وخته مشتري قبضه نه وي کړې تر هغه يې پر بل چا نه سي خرڅولای . ترقبضې کولو وروسته يې بيا خرڅول رواه دي .

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر : «مَنْ اشْتَرَى شَيْئًا لَمْ يَرَهُ فَلَهُ الْخِيَارُ إذَا رَآهُ إنْ شَاءَ أَخَذَهُ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ» وَجَهَالَتُهُ بِعَدَمِ الرُّؤْيَةِ لَا تُفْضِي إلَى

الْمُنَازَعَةِ لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يُوَافِقْهُ بِرَدِّهِ فَصَارَ كَجَهَالَةِ الْوَصْفِ فِي الْمُعَايَنِ الْمُشَارِ إِلَيْهِ وَإِطْلَاقُ الْكِتَابِ يَقْتَضِي جَوَازَ الْبَيْعِ سَوَاءٌ سَمَّى جِنْسَ الْمَبِيعِ أَوْ لَا وَسَوَاءٌ أَشَارَ إِلَى مَكَانِهِ أَوْ إِلَيْهِ وَهُوَ حَاضِرٌ مَسْتُورٌ أَوْ لَا

وقال العلامة المرغيناني رحمه الله في الهداية : ومن اشترى شيئا مما ينقل ويحول لم يجز له بيعه حتى يقبضه" لأنه عليه الصلاة والسلام نهى عن بيع ما لم يقبض ولأن فيه غرر انفساخ العقد على اعتبار الهلاك.

(البحرالرائق ج۶ ص ۲۶ طبع سعید / الهداية ج ۳ ص ۶۹ كتاب البيوع مكتبه شامله / فتاوی عبادالرحمن ج ۴ ص ۱۶۷ کتاب البیوع)

ددولتي ځمکي خرڅول یا رانیول جواز لري که یا ؟

سوال ۱۶: که څوک غواړي چي دولتي ځمکه رانسي یا یې خرڅه کړي ایا دغه خرڅول یا رانیول ددولتي ځمکي جواز لري که یا ؟

جواب : دحکومتي مځکي معامله کول یعني خرڅول یا رانیول شرعا باطله بیع ده کومه چي هیڅ اصل او انعقاد نه لري ، او دبیع باطلي حکم دادی چي دخرڅولو او رانیولو باوجود دغه شی دمشتري وملکیت ته نه نقل کیږي . لهذا داسي مځکه خرڅول شرعا جواز نه لري ځکه چي دیو شي دخرڅولو لپاره دهغه شي ملکیت ضروري دی نو څرنګه چي دولتي ځمکه دیو شخص شخصي ملکیت نه دی له دې سببه دابیع ناروا ده او الله اعلم .

لمافي الهندية : وأن يكون مملوكا في نفسه وأن يكون ملك البائع فيما يبيعه لنفسه فلا ينعقد بيع الكلإ ولو في أرض مملوكة له

وفي شرح مجلة الاحكام للاتاسي :الشرط الخامس وهوكون الملک للبائع فيما يبيعه لنفسه فيبطل بيع ماليس مملوكا له اذاباع لنفسه وان ملكه بعده.

(الفتاوی الهندية ج ۳ ص ۲ مکتبه رشیدیه / شرح مجلة الاحكام للاتاسي ج ۲ ص ۸۸ / الفقه الاسلامي وادلته ج ۴ ص ۳۵۸ / بدرالفتاوی ص ۲۳۱ نورالقران خپرندویه ټولنه)

باب الربوا

بیسیم شرکت زما څخه (۷۵۰) افغانۍ غواړي او په مقابل کښې (۷۰۰۰) سېنټونه راکوي سود خو به نه وي؟

سوال ۱: بیسیم شرکت زمونږ څخه اوه سوه پنځوس (۷۵۰) افغانۍ غواړي او په مقابل کښې اووه زره (۷۰۰۰) سېنټونه راکوي دغه معامله خو به شرعا په سود کښې نه راځي؟.

جواب: په دغه ذکر سوي صورت کښې چي کمپنی کوم محدود او معلوم سېنټونه درکوي او په بدل کښې معلومي روپی ګرځوي داد سود په حکم کښې نه دي داخلي ځکه چي د کمپنۍ د طرفه څخه دغه اوه زره سېنټونه د نغد وروپو په حکم کښې نه دي داخل بلکي دا تر یوې مقرري مودې پوري د خبرو کولو سهولت او اسانتیا وخپل مشتري ته ورکول دي. په دې وجه دا تبادله د مال په مال سره نه ده بلکي هغه معلومي روپی اخیستل د دغه سهولت د ورکولو عوض دی لهذا دغه معامله شرعا سود نه بلل کیږي.

(فتاوی هادیه ج ۲ ص ۴۰۶ مکتبه حقانیه / دموبائل ټلیفون شرعي احکام ص ۶۲ تصنیف دحضرت مولانا اورنګزیب حقاني صاحب په تائید دمدرسۍ حقانیې اکوړه خټک)

یوه کاسه اوړه په یوه کاسه اوړو سره دبدلولو حکم.

سوال ۲: یو شخص د یوه کس څخه لس منه غنم په قرض واخیستل او بیا چي یې کله غنم پیدا کړه نو هغه لس منه غنم یې ورکړل او یا په کورو کښې چي کله د یوه کور څخه یوه کاسه اوړه په پور واخلي کله چي یې اوړه پیدا کړه نو بیا وهغه کورته یوه کاسه اوړه ورکړي او پوښتنه داده چي یوه کاسه اوړه په یوه کاسه اوړو سره بدلول جائز دي که یا؟

جواب: په عمومي ډول سره چي په کورونو کښي کوم قرض داوړو په اوړو سره کیږي دې ته علماؤ جواز ورکړی دی، دا ځکه چي هغه دپور معامله نه ده بلکي د قرض معامله ده او د قرض معامله په موزوني او مکیلي شیانو کښې رواه ده.

لماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : فَصَحَّ اسْتِقْرَاضُ جَوْزٍ وَبَيْضٍ) وَكَاغَدٍ عَدَدًا (وَلَحْمٍ) وَزْنًا وَخُبْزٍ وَزْنًا وَعَدَدًا الخ الدُّيُونَ تُقْضَى بِأَمْثَالِهَا

(ردالمحتار ج ۳ ص ۸۴۸ کتاب الایمان مطلب الدیون تقضي بامثالها سعید چاپ/ بحوث في قضایا فقیهة معاصرة ص ۱۷۴ مکتبه ادارة القرآن / تنویرالابصار مع الدرالمختار ج ۵ ص ۱۶۱ کتاب البیوع سعید چاپ / ردالمحتار ج ۴ ص ۲۶۶ فصل في القرض سعید چاپ / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۲۱۵ باب المرابحة والسلم/ کتاب الفتاوی ج ۱ ص ۲۹۶)

زاړه او څیري لوټونه په کم قیمت رانیول څنګه دي؟

سوال ۳: زاړه او څیري لوټونه او پیسې په کم قیمت خرڅول روا دي که یا مثلا د شلیانو زاړه او څیري لوټونه موږ په پنځلس ورکوو شرعي فیصله په دې مسئله کښې څه ده؟

جواب: زاړه او څیري لوټونه په کم قیمت سره خرڅول د نوو په بدل کي دا ناروا دي بلکه سود دی حدیث شریف کي راځي ،جیدها و ردیها سواء.

که چیري ډېره مجبوري وي نو د جواز یو صورت یې دا جوړیدای سي پر ځای د دې چي لوټ په لوټ بدل کړل سي د دې زړو لوټو په بدل کښې یو شی رانیسه بیا دې یو څه ګران وي پروا نه لري لیکن نغدي په نغدو بدلول کله چي یې جنس یو وي سرپه سر رواه دي نه په بل صورت سره. پاته سوه دا چي بانک والا یې نه اخلي نو دا ښه کار نه دی بلکي بانک والا د دې پابنده دي چي دغه زاړه لوټونه په پوره قیمت د عوامو څخه واخلي.

لمافي الهداية : قال: "ويجوز بيع الفلس بالفلسين بأعيانهما" عند أبي حنيفة وأبي يوسف، وقال محمد: لا يجوز لأن الثمنية تثبت باصطلاح الكل فلا تبطل باصطلاحهما، وإذا بقيت أثمانا لا تتعين فصار كما إذا كانا بغير أعيانهما وكبيع الدرهم بالدرهمين (والقول الراجح هو قول محمد رحمه الله كما في الدرالمنتقى الانهر ج ۳ ص ۱۲۳)

(الهداية ج ۳ ص ۸۳ مکتبه حنفیه / فتح القدیر ج ۶ ص ۱۶۳ مکتبه رشیدیه / القول الراجح ج ۲ ص ۵۹ / احسن الفتاوی ج ۷ ص ۲۲ اردو / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۲۲۶ پښتو)

دپور په ورکولو سره دګټي متعین کول جائز نه دي.

سوال ۴ : یو کس بل کس ته مثلا ځلوېښت زره روپۍ په پور باندې ورکړي او بیا یې ورته وویل چې پنځه میاشتې وروسته دوه نیم زره کالداري معلومه ګټه غواړم ایا داسې معامله کول د شریعت د نګاه څخه رواه ده که یا ؟

جواب : روپۍ په پور باندې ورکول او پر هغه باندې لس فیصده یا بله معلومه ګټه مقررول شرعا سود دی کوم چې د قرآن کریم او احادیث نبویه وو د لحاظه څخه نا جائز او حرام عمل دی .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا حَرَامٌ) أَيْ إِذَا كَانَ مَشْرُوطًا كَمَا عُلِمَ مِمَّا نَقَلَهُ عَنْ الْبَحْرِ. وقال العلامة قاضي ثناء الله رحمه الله تعالى : وَحَرَّمَ الرِّبا الربوا في اللغة الزيادة قال الله تعالى ويربى الصّدقت والمعنى ان الله تعالى حرم الزيادة في القرض على القدر المدفوع والزيادة في البيع لاحد البدلين على الاخر .

(ردالمحتار ج ۵ ص ۱۶۶ باب الربوا مطلب كل قرض جر نفعا حرام / التفسير المظهري ج ۱ ص ۲۹۹ سورة البقرة / احكام القرآن للجصاص ج ۲ ص ۱۸۹ سورة البقرة / فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۲۱۴ كتاب الربوا)

د روشن کمپنۍ چې پور درکړي نو بیا یو څه فیصدي پرا چوي دا سود دی که یا ؟

سوال ۵ : روشن کمپنی خپلو مشتریانو ته پنځه ځلوېښت روپۍ په قرض ورکوي کله چې هغه مشتري کارډ جمع کړي نو بیا کمپنی والا پنځوس روپۍ ګرځوي . پوښتنه داده چې د غه پنځه روپۍ چې کله دوی زیاتې وګرځوي دا خو به سود نه وي ؟

جواب : په دغه ذکر سوي صورت کښې چې کمپنی کوم زیات رقم یا روپۍ ګرځوي داد سود په حکم کښې نه دي داخلې ځکه چې د کمپنی د طرفه څخه داد پنځه ځلوېښتو روپو بیلنس د نغدو په حکم کښې نه دی بلکې دا تر یوې مقررې مودې پورې د خبرو کولو سهولت او اسانتیا ده . په دې وجه دا تبادله د مال په مال سره نه ده بلکې هغه زیاتې روپۍ کاټول د دغه سهولت د ورکولو عوض دی .

(فتاوى هاديه ج ۲ ص ۴۰۶ مكتبه حقانيه / د موبائل ټليفون شرعي احكام ص ۶۲ تصنيف د حضرت مولانا اورنګزيب حقاني صاحب په تائيد د مدرسۍ حقانيې اکوړه خټک)

ميده روپي په يوه نرخ اوقيمت رانيول او غټي روپي په بل نرخ باندي رانيول .

سوال ۶ : نن سبا په بازار کښې داسي يو قسم سوداوي رواني دي چي کله صرافی ته ورسي پيسې واټه کوي نو غټي په يوه نرخ درڅخه رانيسي او ميده روپی په بل نرخ باندي درڅخه رانيسي .ايا شرعا داسي معامله په سود کښې راځي که يا ؟

جواب : که چيري افغاني د کالداري سره واټه سي او بيا يې دميده او غټو په نرخ کښې تفاوت راسي نو شرعا مشکل نه لري ځکه چي جنس يې بدل دی . او که چيري افغانی او افغانی سره واټه کوي او بدلوي يې سره نو بيا يې تر مينځ فرق کول په سود کښې راځي ځکه چي دا يو جنس دي او په يوه جنس کښې زياتی او کمی شرعا سود او ناروا ه معامله بلل سوېده .

(فتاوی هاديه ج ۲ ص ۴۰۳ / فتاوی فريديه ج ۳ ص ۳۸۷ / فقهي مقالات لمولانا تقي عثماني ج ۱ ص ۱۵ / المثقف من الفتاوی ص ۶۰۵)

دوهي په کاروبار کښې چي افغاني نن ورکړي او کالداري سبا ځيني واخلي .

سوال ۷ : نن سبا داسي کاروبار دصرافی په مارکيټ کښې روان دی چي يو کس ديوصراف سره د کالدارو وټه کوي دافغانيو په بدل کښې نو هغه صراف کالداري نن ورکړي او دا بل کس بيا افغانی سبا ورته راوړي ايا په داسي شان معامله کښې خو به سود نه راځي ؟

جواب : دمختلفو ملکونو سکې او لوټونه يو دبل سره بدلول او وټه کول رواه دي او بيا په هغه سکه او لوټونو کښې چي کله ديو طرف څخه قبضه وسي دغه معامله فقهاوو رواه او جائز بللې ده شرعا مشکل او حرج نه لري ددواړو طرفونو څخه قبضه کول ددغه معاملې دصحت دپاره شرط نه ده . او که چيري ديو طرفه څخه لا هم قبضه ونه سي نو داسي معامله بيا شرعا منع او غيرجائز ده .

لما في البمسوط للامام السرخسي رحمه الله : وَإِذَا اشْتَرَى الرَّجُلُ فُلُوسًا بِدَرَاهِمَ وَنَقَدَ الثَّمَنَ، وَلَمْ تَكُنْ الْفُلُوسُ عِنْدَ الْبَائِعِ فَالْبَيْعُ جَائِزٌ؛ لِأَنَّ الْفُلُوسَ الرَّابِحَةَ ثَمَنٌ كَالنُّقُودِ، وَقَدْ بَيَّنَّا أَنَّ حُكْمَ الْعَقْدِ فِي الثَّمَنِ وُجُوبُهَا وَوُجُودُهَا مَعًا، وَلَا يُشْتَرَطُ قِيَامُهَا فِي مِلْكِ بَائِعِهَا لِصِحَّةِ الْعَقْدِ كَمَا يُشْتَرَطُ ذَلِكَ فِي الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ.

(المبسوط للسرخسي ج ۱۴ ص ۲۴ بیروت چاپ / فقهي مقالات لمولانا مفتي تقي عثماني ص ۴۱ اردو / المثقف من الفتاوی ص ۶۰۵ جدید فقهي مسائل ج ۲ ص ۵۶۳ / اصلاح العادات ص ۵۳۸)

بانک ته دجائزو (انعاماتو) دپاره پیسې ورکول څنګه دي ؟

سوال۸: دعزیزي بانک یا بل بانک په نامه یو پراویټ او شخصي بانک دی مبلغ (۱۵۰۰۰) افغانۍ ورکړه سي یوه میاشت یې بیا بانک نه ورکوي چي میاشت تېره سي بیا یې درکوي خو په میاشت کي دغه بانک د دې خپلو قرضدارنو لپاره یو څو مخصوصي جائزي لري چي په هغه جائزو کي بیا قرعه کشي کیږي چاته ورسیږي هغه او چاته ونه رسیږي پسله قرعه کشۍ هغه ستا ورکړي روپۍ بېرته پوره درکوي که دي بلي میاشتي ته پرېښولې او که دي نه پرېښولې ستا اختیار دی دغي څانګي ته دغه پیسې پر دغه طریقه ورکول جواز لري شرعًا که یا ؟

جواب: موږ یو حدیث لرو په دغه باب کښي (کل قرض جر نفعا فهو ربا) الحدیث : دغه پیسې خو هېڅوک وعزیزي بانک یا بل بانک ته د خدای د رضا په خاطر او د هغه د مسکینۍ او احتیاج په خاطر نه ورکوي بلکه دی څه ناڅه خپله ګټه پر دغه پور او قرض باندي ویني، لهذا هغه کسان چي په دغه جائزو کښې نوم ختلی او جائزه یې ترلاسه کړې ده دغه جائزه د ده لپاره شرعا سود سو توبه دي وباسي او دغه جائزه یا انعام دي بېله نیت د ثواب پر مسکینانو باندي تقسیم کړي، او کوم کسان چي نوم یې نه دی ختلی په دې جائزو کي خو په نیت د دغې جائزي یې ورکړی وي د هغه په حق کي دغه کار خمار (قمار) سو ځکه چي دا مجهوله معامله ده امکان د دواړو طرفونو سته هم د ګټې هم د تاوان، په هر صورت سره دغه پیسې جمع کول شرعًا ناروا او ناجائز عمل دی پرهیز باید ځیني وسي او دا په حقیقت کي خلک د سود طرف ته چي په اسلام او شریعت کي او په قرآن کي الله پاک د هغو سود خورو خلکو سره د جنګ اعلان کړی دی د دغه طرف ته تشویقول دي، او که ته وایه ما صرف د امانت په توګه هلته ایښي دي، نو بیا یې په دغه د جائزو په څانګه کي مه اېږده بلکه اکاونټ او څانګه ځان ته پرانېزه په خپل نامه باندي هلته یې جمع کړه چي

هیڅ اشتباه لا هم نه وي پکښې او ته به و دغه بانک والا ته د دې خپلو پیسو د حفاظت مزدوري او کمېشن ورکوې .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدر المختار : اكْتَسَبَ حَرَامًا وَاشْتَرَى بِهِ أَوْ بِالدَّرَاهِمِ الْمَغْصُوبَةِ شَيْئًا. قَالَ الْكَرْخِيُّ: إنْ نَقَدَ قَبْلَ الْبَيْعِ تَصَدَّقَ بِالرِّبْحِ وَإِلَّا لَا وَهَذَا قِيَاسٌ وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ كِلَاهُمَا سَوَاءٌ وَلَا يَطِيبُ لَهُ وَكَذَا لَوْ اشْتَرَى وَلَمْ يَقُلْ بِهَذِهِ الدَّرَاهِمِ وَأَعْطَى مِنْ الدَّرَاهِمِ دَفَعَ مَالَهُ مُضَارَبَةً لِرَجُلٍ جَاهِلٍ جَازَ أَخْذُ رِبْحِهِ مَا لَمْ يَعْلَمْ أَنَّهُ اكْتَسَبَ الْحَرَامَ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۴ ص ۲۴۴ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۴۹ مکتبه رشیدیه / قواعدالفقه ص ۱۱۶ / جامع الفتاوی ج ۶ ص ۱۰۵ اردو / اپ کي مسائل ج ۷ ص ۳۷۸ اردو / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۲۲۵ پښتو)

ډالر یا کالداره یا افغانۍ په پوره سره تر ورځني نرخ دوخت په مقابل کي ګران خرڅول .

سوال ۹ : زموږ د صرافیو په مارکیټ کي نن سبا داسي یو کاروبار روان دی چي کله دیو کس ډالر په کار وي هغه بل صراف ته ورسي ښکاره خبره ده چي هغه دغه کس ته ډالر په قرض حسن نه ورکوي هره وجه چي یې وي نو بیا دغه محتاجه کس را ولاړ سي هغه صراف ته وو ایي چي یو ډالر او س مثلا په ۱۰۰ کالداري دی ته یې ماته د مباشتي په پور په یو سل او لس (۱۱۰) راکه د واړه پر دغه طریقه سودا سره وکړي چي د وخت په مقابل کي هغه ډالر تر ورځني نرخ ګران ورکړي ایا پر دغه طریقه باندي دغه معامله کول شرعا رواه ده که یا ؟

جواب : شیخ الاسلام حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني دامت برکاته په خپل کتاب انعام الباري شرح البخاري کي لیکلي دي چي پر دغه طریقه باندي معامله کول شرعا نه ده رواه ځکه چي دا د سود د پاره یوه زبردسته حیله او ذریعه ده او داسي حیلې کول شرعا ناروا او حرامي دي .

تنبیه : دلته فقط موږ د دغه معاملې حکم په اختصار سره ذکر کړی چي داسي معامله شرعا ناروا ده ، او په دغه مسئله کي تفصیلي جواب دلښکرګاه علماء کرامو لیکلی دی او بیا نور مخورو علماوو یې تصدیق کړی دی که دچا په دغه مسئله کي

تفصيلي دلائل پکار وي نو هم هغه علماوو ته دي رجوع وکړي چي په لاس به ورسي . والله اعلم بالصواب .

لما قال العلامة المر غيناني رحمه الله تعالى في الهداية : وَمَشَايِخُنَا – رَحِمَهُمُ اللَّهُ – لَمْ يُفْتُوا بِجَوَازِ ذَلِكَ فِي الْعَدَالَى وَالْغَطَارِفَةِ لِأَنَّهَا أَعَزُّ الْأَمْوَالِ فِي دِيَارِنَا، فَلَوْ أُبِيحَ التَّفَاضُلُ فِيهِ يَنْفَتِحُ بَابُ الرِّبَا.

ولما قال العلامة كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (المتوفى: ٨٦١هـ) في فتح القدير (وَ) مَعَ هَذَا مَشَايِخُنَا يَعْنِي مَشَايِخَ مَا وَرَاءِ النَّهْرِ مِنْ بُخَارَى وَسَمَرْقَنْدَ (لَمْ يُفْتُوا بِجَوَازِ ذَلِكَ) أَيْ بَيْعِهَا بِجِنْسِهَا مُتَفَاضِلًا (فِي الْعَدَالَى وَالْغَطَارِفَةِ) مَعَ أَنَّ الْغِشَّ فِيهَا أَكْثَرُ مِنْ الْفِضَّةِ (لِأَنَّهَا أَعَزُّ الْأَمْوَالِ فِي دِيَارِنَا، فَلَوْ أُبِيحَ التَّفَاضُلُ فِيهَا يَنْفَتِحُ بَابُ الرِّبَا) الصَّرِيحِ، فَإِنَّ النَّاسَ حِينَئِذٍ يَعْتَادُونَ التَّفَاضُلَ فِي الْأَمْوَالِ النَّفِيسَ فَيَدْرُجُونَ إلَى ذَلِكَ فِي النُّقُودِ الْخَالِصَةِ فَمُنِعَ ذَلِكَ حَسْمًا لِمَادَّةِ الْفَسَادِ.

(الهداية شرح بداية المبتدي ج ٣ ص ٨٤ كتاب الصرف مكتبه شامله / فتح القدير علي الهداية ج ٧ ص ١٥٣ كتاب الصرف مكتبه شامله بيروت چاپ / انعام الباري شرح البخاري بحوث في قضايا فقهية معاصرة ج ١ ص ١٦٣ احكام الاوراق النقدية مكتبه حبيبيه)

باب الرهن

يو چا ته دپور په عوض کښې يو شي په ضمانت ورکول .

سوال ١ : ما ديو کس څخه پور وکړی اوس مي په ضمانت کښې يو شی په ګروی ور پرېښوی ایا دغه شی ودغه کس ته ورکول په ضمانت یا ګروی کښې رواه دی که یا ؟

جواب : قرض اخيستونکي ته داروا ده چي دپيسو ومالک ته يو شی داعتماد دپاره په رَهن او ګروی کښې ورپرېږدي . البته دا شی به هم داسي سلامت پروت وي دپيسو مالک ته دا نه ده رواه چي ددغه ايښوول سوي شي څخه استفاده يا ګټه واخلي . که چيري دهغه شي څخه ګټه واخلي نو دا دده په حق کښې دغه ګټه سود شمارل کيږي نه دهغه قرض ورونکي په حق کښې او سود په شريعت کښې ډيره لويه

ګناه ده . له بده مرغه چي نن زموږ په اسلامي ټولنه کښې داسي دسود معاملاتي رواني دي چي کله یو کس دبل شخه پور واخلي نو بیا دخپل پور په بدل کښې دهغه قرض ورکونکي شخه سرای یا دوکان قبضه کړي تر هغه وخته دغه دپیسو مالک دهغه دوکانه یا سرایه شخه مفته یا په ارزانه کرایه استفاده کوي حال دا دی چي داد سود معامله ده . الله جل جلاله دي موږ او تاسي ته ددغه ناروا معاملاتو شخه داجتناب توفیق رانصیب کړي . آمین .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : لايحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فى الربوا .... الغالب من احوال الناس انهم يريدون عند الدفع الانتفاع ولو لاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف كا لمشروط .... الخ

عَنْ عُمَارَةَ الْهَمْدَانِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ مَنْفَعَةً فَهُوَ رِبًا»

و عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، ذَكَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا كَانَتِ الدَّابَّةُ مَرْهُونَةً فَعَلَى الْمُرْتَهِنِ عَلَفُهَا وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ وَعَلَى الَّذِي يَشْرَبُ نَفَقَتُهَا وَيَرْكَبُ» فَدَلَّ هَذَا الْحَدِيثُ أَنَّ الْمَعْنِيَّ بِالرُّكُوبِ وَشُرْبِ اللَّبَنِ فِي الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ هُوَ الْمُرْتَهِنُ لَا الرَّاهِنُ فَجَعَلَ ذَلِكَ لَهُ وَجُعِلَتِ النَّفَقَةُ عَلَيْهِ بَدَلًا مِمَّا يَتَعَوَّضُ مِنْهُ مِمَّا ذَكَرْنَا. وَكَانَ هَذَا عِنْدَنَا وَاللهُ أَعْلَمُ، فِي وَقْتِ مَا كَانَ الرِّبَا مُبَاحًا وَلَمْ يُنْهَ حِينَئِذٍ عَنِ الْقَرْضِ الَّذِي يَجُرُّ مَنْفَعَةً وَلَا عَنْ أَخْذِ الشَّيْءِ بِالشَّيْءِ وَإِنْ كَانَا غَيْرَ مُتَسَاوِيَيْنِ ثُمَّ حُرِّمَ الرِّبَا بَعْدَ ذَلِكَ وَحُرِّمَ كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا وَأَجْمَعَ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنَّ نَفَقَةَ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ لَا عَلَى الْمُرْتَهِنِ وَأَنَّهُ لَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ اسْتِعْمَالُ الرَّهْنِ.

(ردالمحتار ج ۵ ص ۱۶۶ مکتبه شامله / خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۱۸۶ مکتبه رشیدیه/شرح معاني الاثار ج ۴ ص ۹۹ مکتبه شامله / کتاب الفتاوی ج ۳ ص ۲۴۳ کتاب الرهن / مسند الحارث ج ۱ ص ۵۰۰ مکتبه شامله)

ګرو سوې مځکه بل چاته په ګرو ورکول نه ده رواه .

سوال ۲ : یو کس مځکه ګرو کړې ده اوس ده ته رواه ده چي دغه مځکه بل چا ته په ګرو ورکړي ؟

جواب: قرض اخیستونکي ته دا روا ده چي د پیسو و مالک ته یو شی د اعتماد دپاره په رَهن او ګروي کښېږي ورپرېږدي. البته دا شی به هم داسي سلامت پروت وي د پیسو مالک ته دا نه ده روا چي د دغه ایښوول سوي شي څخه خپله استفاده وکړي یا ګټه واخلي او یا یې بل چاته په اجاره یا ګروي ورکړي ځکه چي دغه مځکه د ده ملکیت نه دی دا دهغه قرض اخیستونکي ملکیت دی او د بل په ملکیت کښېږي تصرف کول دهغه د اجازې څخه پرته نه دی رواه. که چیري دغه د پیسو مالک دهغه شي څخه ګټه واخلي نو دا دده په حق کښېږي سود شمارل کیږي نه دهغه قرض ورونکي په حق کښېږي ځکه چي هغه خو د مجبوري څخه دغه مځکه وده ته په ګرو ورکړېده او د سود په شریعت کښېږي ډیره لویه ګناه ده. له بده مرغه چي نن زموږ په اسلامي ټولنه کښېږي داسي دسود معاملاتي رواني دي چي کله یو کس د بل څخه پور واخلي نو بیا د خپل پور په بدل کښېږي دهغه قرض ورونکي څخه سرای یا دوکان قبضه کړي تر هغه وخته دغه د پیسو مالک دهغه دوکانه یا سرایه څخه مفته یا په ارزانه کرایه استفاده کوي حال دا دی چي دا د سود معامله ده. الله جل جلاله دي موږ او تاسي ته د دغه ناروا معاملاتو څخه د اجتناب توفیق رانصیب کړي. آمین.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : لايحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له في الربوا .... الغالب من احوال الناس انهم يريدون عند الدفع الانتفاع ولو لاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف كا لمشروط .... الخ

عَنْ عُمَارَةَ الْهَمْدَانِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ مَنْفَعَةً فَهُوَ رِبًا» و عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، ذَكَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا كَانَتِ الدَّابَّةُ مَرْهُونَةً فَعَلَى الْمُرْتَهِنِ عَلَفُهَا وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ وَعَلَى الَّذِي يَشْرَبُ نَفَقَتُهَا وَيَرْكَبُ» فَدَلَّ هَذَا الْحَدِيثُ أَنَّ الْمَعْنِيَّ بِالرُّكُوبِ وَشُرْبِ اللَّبَنِ فِي الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ هُوَ الْمُرْتَهِنُ لَا الرَّاهِنُ فَجَعَلَ ذَلِكَ لَهُ وَجُعِلَتِ النَّفَقَةُ عَلَيْهِ بَدَلًا مِمَّا يَتَعَوَّضُ مِنْهُ مِمَّا ذَكَرْنَا. وَكَانَ هَذَا عِنْدَنَا وَاللهُ أَعْلَمُ، فِي وَقْتِ مَا كَانَ الرِّبَا مُبَاحًا وَلَمْ يُنْهَ حِينَئِذٍ عَنِ الْقَرْضِ الَّذِي يَجُرُّ مَنْفَعَةً وَلَا عَنْ أَخْذِ الشَّيْءِ بِالشَّيْءِ وَإِنْ كَانَا غَيْرَ مُتَسَاوِيَيْنِ ثُمَّ حُرِّمَ الرِّبَا بَعْدَ ذَلِكَ

وَحُرِّمَ كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا وَأَجْمَعَ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنَّ نَفَقَةَ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ لَا عَلَى الْمُرْتَهِنِ وَأَنَّهُ لَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ اسْتِعْمَالُ الرَّهْنِ.

(ردالمحتار ج ۵ ص ۱۶۶ مکتبه شامله / خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۱۸۶ مکتبه رشیدیه/شرح معاني الاثار ج ۴ ص ۹۹ مکتبه شامله / کتاب الفتاوی ج ۳ ص ۲۴۳ کتاب الرهن / مسند الحارث ج ۱ ص ۵۰۰ مکتبه شامله/ فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۲۳۵ کتاب الرهن)

دګروۍ خاوندته دګرو سوي شي څخه استفاده کول څنګه ده ؟

سوال ۳ : که چیري یو کس دیو چا څخه مځکه یا دوکان دپیسو یا پور په بدل کښې ګرو کړي او بیا دهغه دوکان یا سرای څخه استفاده کوي مثلا یا خپله په کښې اوسیږي او یا یې بل چا ته په کرایه ورکوي داسي کول شرعا روا اینبت لري که یا ؟

جواب : . قرض اخیستونکي ته داروا ده چي دپیسو ومالک ته یو شی داعتماد دپاره په رَهن او ګروۍ کښې ورپریږدي . البته دا شی به هم داسي سلامت پروت وي دپیسو مالک ته دا نه ده روا چي ددغه ایښوول سوي شي څخه استفاده یا ګټه واخلي . که چیري دهغه شي څخه ګټه واخلي نو دا دده په حق کښې سود شمارل کیږي نه دهغه قرض ورونکي په حق کښې . علامه ظفر احمد عثماني رحمة الله علیه په خپل نامتو او مشهور کتاب اعلاء السنن کښې ددغه مسئلې په باره کښې داسي لیکلي دي : چي مرتهن (یعني هغه کس چي مځکه یا سرای یې ګرو کړی وي) ته نه ده روا چي ددغه ګرو سوي شي څخه فایده یا استفاده واخلي هغه نو بیا عامه ده که ده دغه ګروي په دغه شرط سره کړې وي چي زه به ددغه شي څخه فایده اخلم او یا یې په دغه شرط سره نه وي کړې خو عرف او رواج هلته داسي روان وي چي خلک ده ګرو سوي شي څخه دراهن (دسرای یا دوکان مالک) داجازې څخه بغیر ګټه واخلي .او دامام صاحب رحمة الله علیه دمذهب علماء هم دغه وایي چي که څه هم دسرای مالک یا ددوکان مالک ودته دفایدې اخیستلو اجازه هم ورکړي بیا هم استفاده ځیني کول نه ده روا لکه څنګه چي علامه ابن عابدین رحمة الله علیه په ردالمحتار کښې هم داسي لیکلي دي .

او سود په شریعت کښې ډیره لویه ګناه ده . له بده مرغه چي نن زموږ په اسلامي ټولنه کښې داسي دسود معاملاتي رواني دي چي کله یو کس دبل څخه پور واخلي

نو بیا د خپل پور په بدل کښې د هغه قرض ورونکي څخه سرای یا دوکان قبضه کړي تر هغه وخته د غه د پیسو مالک د هغه دوکانه یا سرایه څخه مفته یا په ارزانه کرایه استفاده کوي حال دا دی چي داد سود معامله ده . الله جل جلاله دي موږ او تاسي ته د د غه ناروا ه معاملاتو څخه د اجتناب توفیق رانصیب کړي . آمین

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وَقَالَ فِي الْمِنَحِ هُنَاكَ، وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ أَسْلَمَ السَّمَرْقَنْدِيِّ، وَكَانَ مِنْ كِبَارِ عُلَمَاءِ سَمَرْقَنْدَ إنَّهُ لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِشَيْءٍ مِنْهُ بِوَجْهٍ مِنْ الْوُجُوهِ وَإِنْ أَذِنَ لَهُ الرَّاهِنُ، لِأَنَّهُ أَذِنَ لَهُ فِي الرِّبَا لِأَنَّهُ يَسْتَوْفِي دَيْنَهُ كَامِلًا فَتَبْقَى لَهُ الْمَنْفَعَةُ فَضْلًا، فَتَكُونُ رِبًا وَهَذَا أَمْرٌ عَظِيمٌ.

.... قُلْتُ وَالْغَالِبُ مِنْ أَحْوَالِ النَّاسِ أَنَّهُمْ إنَّمَا يُرِيدُونَ عِنْدَ الدَّفْعِ الِانْتِفَاعَ، وَلَوْلَاهُ لَمَا أَعْطَاهُ الدَّرَاهِمَ وَهَذَا بِمَنْزِلَةِ الشَّرْطِ، لِأَنَّ الْمَعْرُوفَ كَالْمَشْرُوطِ وَهُوَ مِمَّا يُعَيِّنُ الْمَنْعَ، وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ اهـ

عَنْ عُمَارَةَ الْهَمْدَانِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ مَنْفَعَةً فَهُوَ رِبًا» و عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، ذَكَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا كَانَتِ الدَّابَّةُ مَرْهُونَةً فَعَلَى الْمُرْتَهِنِ عَلَفُهَا وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ وَعَلَى الَّذِي يَشْرَبُ نَفَقَتُهَا وَيَرْكَبُ» فَدَلَّ هَذَا الْحَدِيثُ أَنَّ الْمَعْنِيَّ بِالرُّكُوبِ وَشُرْبِ اللَّبَنِ فِي الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ هُوَ الْمُرْتَهِنُ لَا الرَّاهِنُ فَجَعَلَ ذَلِكَ لَهُ وَجُعِلَتِ النَّفَقَةُ عَلَيْهِ بَدَلًا مِمَّا يَتَعَوَّضُ مِنْهُ مِمَّا ذَكَرْنَا. وَكَانَ هَذَا عِنْدَنَا وَاللهُ أَعْلَمُ، فِي وَقْتِ مَا كَانَ الرِّبَا مُبَاحًا وَلَمْ يُنْهَ حِينَئِذٍ عَنِ الْقَرْضِ الَّذِي يَجُرُّ مَنْفَعَةً وَلَا عَنْ أَخْذِ الشَّيْءِ بِالشَّيْءِ وَإِنْ كَانَا غَيْرَ مُتَسَاوِيَيْنِ ثُمَّ حُرِّمَ الرِّبَا بَعْدَ ذَلِكَ وَحُرِّمَ كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا وَأَجْمَعَ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنَّ نَفَقَةَ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ لَا عَلَى الْمُرْتَهِنِ وَأَنَّهُ لَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ اسْتِعْمَالُ الرَّهْنِ.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۶ ص ۴۸۲ / ج ۵ ص ۱۶۶ مکتبه شامله / خلاصة الفتاوى ج ۴ ص ۱۸۶ /شرح معاني الاثار ج ۴ ص ۹۹ مکتبه شامله / كتاب الفتاوى ج ۳ ص ۲۴۳ كتاب الرهن / مسند الحارث ج ۱ ص ۵۰۰ مکتبه شامله / الفقه الاسلامي وادلته للزهيلي رحمه الله تعاليج ۵ ص ۲۵۶ / اعلاء السنن ج ۱۷ ص ۸۳۴۱ / امداد الاحكام ج ۴ ص ۵۱۶ / مجموع الفتاوى علي

هامش خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۱۸۱ / ۱۸۳ فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۲ ص ۸۷۱ / جواهر الاحکام ص ۳۶۲ کفایت المفتي ج ۸ ص ۱۵۰ / ۱۴۷ / احسن الفتاوی ج ۸ ص ۴۹۸)

دګرو سوي شي څخه استفاده رواه ده که یا؟

سوال ۴: یو کس را ولاړېږي د بل کس څخه څه روپۍ په قرض اخلي د مجبورۍ په خاطر بیا هغه پیسه داره ته خپل سرای یا مځکه یا دوکان په ګرو ورکوي هغه کس بیا د دغه سرای څخه تر هغه وخته چي بیا دغه پوره وړی د ده پیسې ورکوي استفاده ورکوي آیا د ګروۍ د سرای او مځکي او دوکان څخه داسي استفاده کول دغه پیسه داره کس ته روا ده؟

جواب: داسي معامله د پیسه داره کس په حق کښي ناروا او سود دی ځکه چي دغه د پیسو مالک پر هغه ورکړي قرض باندي دی په یوه معلومه اندازه او فیصدي سره ګټه اخلي او پر قرض ګټه او نفع اخیستل سود دی، کل قرض جر نفعًا فهو ربًا .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَقِيلَ لَا يَحِلُّ لِلْمُرْتَهِنِ) قَالَ فِي الْمِنَحِ: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ أَسْلَمَ السَّمَرْقَنْدِيِّ وَكَانَ مِنْ كِبَارِ عُلَمَاءِ سَمَرْقَنْدَ أَنَّهُ لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِشَيْءٍ مِنْهُ بِوَجْهٍ مِنْ الْوُجُوهِ وَإِنْ أَذِنَ لَهُ الرَّاهِنُ، لِأَنَّهُ أَذِنَ لَهُ فِي الرِّبَا لِأَنَّهُ يَسْتَوْفِي دَيْنَهُ كَامِلًا فَتَبْقَى لَهُ الْمَنْفَعَةُ فَضْلًا فَيَكُونُ رِبًا، وَهَذَا أَمْرٌ عَظِيمٌ.

(ردالمحتار ج ۵ ص ۳۴۳ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۲۶۸ اردو / کفایت المفتي ج ۸ ص ۱۴۰ اردو / فتاوی مفتي محمود ج ۹ ص ۴۱۱ اردو / امداد الاحکام ج ۳ ص ۵۱۲ اردو فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۲۳۵ پښتو)

بیع الوفا او رهن څه ته وایي اودفقهاوو دنظره څخه يې تعریفونه څه دي ؟

سوال ۵: دګروي او بیع الوفا ترمېنځ څه فرق دی داسي تعریفونه او پیژندني يې راته بیان کړی، چي د دواړو تر مېنځ ښه واضح فرق ثابت سي .

جواب: ګرو ته په عربي ژبه کښې رهن ویل کیږي . د رهن د لفظ اصلي معني دراګرځولو او حبس کولو راځي په قرآن کریم کښې دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی : (كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ (۳۸) سورة المدثر)ژباړه : هر نفس به دخپل کړي عمل په بدل کښې ګرو کړل سي (راوبه ګرځول سي) دلته لفظ د رهن په خپله اصلي معنی کښې استعمال سوی دی .

دفقهاء کرامو په اصطلاح کښې رهن دې ته وايي : دیو حق وجي څخه یو شی راګرځول او په خپله قبضه کښې ساتل دکوم په ذریعه سره چي دخپل حق وصولول ممکن سي . درهن او ګروی ثبوت په قرآن کریم کښې هم سته الله جل جلاله فرمایي (وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ) ژباړه : که چیري تاسي پر سفر باندي واست او څوک لیکونکی نه وو دکړي معاملې نو یو شی پر طریقه دګروی او رهن دمال و مالک ته په قبضه کښې ورکړی . او په حدیث شریف کښې هم درهن او ګروی ثبوت سته هغه داسي چي خپله نبي کریم صلی الله علیه وسلم دیو یهودي څخه خوراکي شیان رانیول او خپله زغره یې پر طریقه دګروی ورسره کښېښوول .

دبیع الوفا تعریف او پېژندنه .

دامعامله دخرید او فروخت یو خاص صورت او قسم دی چي په وروسته زمانه کښې مروجه سوله . دبیع الوفا صورت فقهاوو داسي لیکلی دی مثلا زید پر عمر باندي د زرو روپو یو شی خرڅ کړی او دا شرط یې ورسره ولګوي که چیري ما په آینده کښې زر روپۍ پیدا کړې نو عمر به زما خرڅ کړی شی بېرته راکوي .

ګواکي اصل مقصد دزید دلته په دغه معامله کښې دعمر څخه زر روپۍ په قرض اخیستل دي لیکن که چیري عمر وزید ته دا زر روپۍ په قرض ورکړي او بیا دهغوی په بدل کښې یو شی په ګروي سره ځیني واخیستي نو دهغه شي څخه بیا استفاده کول دعمر دپاره ناجایزه او سود ګرځي نو ځکه دوی را ولاړیږي دسود څخه دځان ساتلو په غرض دغه یو قسم حیله جوړوي دغه معامله کوي او تعبیر یې دبیع په عنوان سره کوي . نو ځکه ودغي معاملې ته بیع الوفا ویل کیږي چي په دې کښې درانیوونکي دطرفه څخه دا وعده ده چي زه ستا شی بېرته درکومه کله چي ته زما روپۍ راکړې او پر دې باندي وفا کومه .

علامه حصفکي رحمه الله تعالی صاحب د درمختار لیکلي دي چي شوافع حضرات دې معاملې ته (رهن معاد) وايي . او اهل مصر دې معاملې ته (بیع الامانة) وايي . او اهل شام دې معاملې ته (بیع الاطاعة) وايي .

علامه ابن عابدين رحمه الله تعالى په رد المحتار كښې ليكلي دي چي ځيني فقهاوو دې معاملې ته (بيع الجائز) ويلي دي او ځيني يي بيا (بيع المعاملة) بولي .فقهاوو ليكلي دي كه څه هم دا معامله په ښكاره دخريد او فروخت ده ليكن دمقصد او روح په اعتبار سره دا صورت هم درهن او ګروي دی. ځيني فقهاوو ددې معاملې دجواز فتواى وركړې ده. دليل يې دخلګو تعامل او راكړه وركړه بللې ده او ځيني فقهاوو بيا دا معامله بيع فاسده بللې ده او پر خريدار باندي يې دخپلي وعدې پوره كول لازم بللي دي. او دځيني فقهاو رايه بيا داده چي دا معامله په حقيقت كښې رهن او ګروي ده. علامه ابن عابدين رحمه الله تعالى دفتاوى خيريه په حواله سره دغه آخري قول داكثره فقهاوو بللى دی چي دا معامله په حقيقت كښې رهن او ګروي ده او د امام حسن ماتريدي دنظر نقطه هم دابيان سويده چي بيع الوفا په حقيقت كښې رهن او ګروي ده او همدغه خبره په فتاوى نسفي كښې ويل سوېده.

او خپله مولانا خالد سيف الله رحماني دامت بركاته العالية رايه هم داده چي دا معامله په حقيقت كښې ګروي او رهن ده. او ددیوبند دعلماوو فيصله او فتوى هم داده چي دا معامله په حقيقت كښې رهن او ګروي ده فقط يو قسم حيله ورته اختياره كړل سوېده كومه چي فقهاوو معتبره نه ده ګڼلې. والله اعلم.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : قَالَ فِي الْخَيْرِيَّةِ: وَالَّذِي عَلَيْهِ الْأَكْثَرُ أَنَّهُ رَهْنٌ لَا يَفْتَرِقُ عَنْ الرَّهْنِ فِي حُكْمٍ مِنْ الْأَحْكَامِ. وَقَالَ السَّيِّدُ الْإِمَامُ: قُلْت: لِلْإِمَامِ الْحَسَنِ الْمَاتُرِيدِيِّ: قَدْ فَشَا هَذَا الْبَيْعُ بَيْنَ النَّاسِ، وَفِيهِ مَفْسَدَةٌ عَظِيمَةٌ، وَفَتْوَاك أَنَّهُ رَهْنٌ وَأَنَا أَيْضًا عَلَى ذَلِكَ فَالصَّوَابُ أَنْ نَجْمَعَ الْأَئِمَّةَ وَنَتَّفِقَ عَلَى هَذَا وَنُظْهِرَهُ بَيْنَ النَّاسِ، فَقَالَ الْمُعْتَبَرُ الْيَوْمَ فَتْوَانَا، وَقَدْ ظَهَرَ ذَلِكَ بَيْنَ النَّاسِ فَمَنْ خَالَفَنَا فَلْيُبْرِزْ نَفْسَهُ وَلْيُقِمْ دَلِيلَهُ اهـ. قُلْت: وَبِهِ صَدَرَ فِي جَامِعِ الْفُصُولَيْنِ فَقَالَ رَامِزًا لِفَتَاوَى النَّسَفِيِّ: الْبَيْعُ الَّذِي تَعَارَفَهُ أَهْلُ زَمَانِنَا احْتِيَالًا لِلرِّبَا وَسَمَّوْهُ بَيْعَ الْوَفَاءِ هُوَ رَهْنٌ فِي الْحَقِيقَةِ لَا يَمْلِكُهُ وَلَا يَنْتَفِعُ بِهِ إلَّا بِإِذْنِ مَالِكِهِ، وَهُوَ ضَامِنٌ لِمَا أَكَلَ مِنْ ثَمَرِهِ وَأَتْلَفَ مِنْ شَجَرِهِ .

(ردالمحتار كتاب البيوع باب الصرف مطلب في بيع الوفا ج ۵ ص ۲۷۶ سعيد چاپ / المحيط البرهاني كتاب البيع الفصل الخامس والعشرون في البياعات المكروهة والارباح الفاسدة ج ۸ ص

۲۶۰ مکتبه غفاریه کوټه / کفایت المفتي ج ۱۱ ص ۱۲۰ / امدادالاحکام ج ۳ ص ۴۴۶ / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۲۵۵ / احسن الفتاوی ج ۶ ص ۵ / قاموس الفقه ج ۳ ص ۵۰۱ تالیف مولانا خالد سیف الله رحماني / صحیح البخاري ج ۱ ص ۳۴۱ باب من رهن درعه / صحیح مسلم شریف ج ۲ ص ۳۱ کتاب البیوع / الهدایة مع فتح القدیر ج ۱۰ ص ۱۳۵ / المغني ج ۴ ص ۲۱۵ / قاموس الفقه ۲ ص ۳۶۶ الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۱۱ مطلب البیع بالتعاطي / معجم لغة الفقهاء ص ۱۵۸/ حاشیة جامع الفصولین ج ۱ ص ۲۳۴ اسلمي کتاب خانه کراچي / شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي ج ۲ ص ۴۱۴ مکتبه حقانیه)

دګروۍ د مځکي ،دوکان ، سرای یا ګرو کړل سوي سامان څخه استفاده کول ناروا ده شرعاً

سوال٦ : څه فرمایي علماء کرام د دین او مفتیان د شریعت مطهره په دغه مسائلو کښې چي یو کس مځکه یا زیورات یا سرای یا دوکان په رهن او ګروي کښې له ځان سره ایږدي د بل چا څخه یي اخلي ایا د دغه مرتهن لپاره د ګرو کړی سوي شي څخه فایده اخستل او د ګروی کرایه اخیستل لکه څنګه چي نن سبا پر دغه طریقه یو قسم کاروبار راروان دی داسي معامله کول د شریعت د نګاه څخه روا ده که یا ؟

جواب: د دغه سوال جواب علامه ظفر احمد عثماني رحمه الله تعالی صاحب د اعلاء السنن کتاب په خپله مشهوره او مقبوله فتاوی کي داسي ورکړی دی : حرام دی که چیري د دغه مرتهن رهن او ګروي په دغه شرط سره مشروط کړې وي چي دی به فایده اخلي څني یا خو دغه رهن مشروط په شرط سره نه وي مګر فایده اخستل په رهن او ګروي باندي معروف او مروج وي لکه په دغه زمانه کښې چي دي او یا په رهن باندي فایده بغیر د اجازي د راهن څخه حاصله کړي .

(امداد لاحکام جلد ۴ ص ۵۱۶)

شیخ ظفر احمد عثماني رحمه الله تعالی په اعلاء السنن کتاب کښې لیکلي دي : چي ضعیف بنده وایي چي موفق په المغني کښې فرمایلي دي چي مرتهن به هیڅ فایده نه اخلي د هغه رهن او ګروي څخه چي په هغه کښې حاجت او ضرورت مشقت ایستلو ته نه وي لکه کور او سامان او داسي نور شیان .

نو روا نه ده د مرتهن لپاره فایده اوګټه اخیستل په رهن باندي بیله اجازې د راهن څخه په یوه حال کښې هم نه ده روا او مونږ په دي کښې اختلاف نه وینو ځکه چي د

رهن او ګروسوي شي مالک راهن وي نو د رهن نماء او منافع به هم د راهن لپاره وي نو د بل چا لپاره نسته او نه ده رواه چي د مرهون او ګرو سوي شي څخه بېله د راهن د اجازې فایده واخلي.

البته که چیري مرتهن ته راهن اجازه ورکړي په نفعي او ګټي اخیستلو کښې بېله د کوم عوض نه بلکي له وجهي د قرض څخه نو بیا ګټه او نفعه اخیستل مرتهن ته نه ده رواه په رهن باندي ځکه چي همدغه مرتهن د اسي قرض حاصلوي چي هغه ګټه او فایده راکشوي او جلبوي یي او دا حرام ده.

اعلاء السنن جلد ۱۷ ص ۸۳۴۱ للشیخ ظفر احمد العثماني

دوهم جواب: دا جواب د شیخ دکتور وهبة الزحیلي رحمه الله تعالی چي صاحب د الفقه الاسلامي وادلته کتاب دی دهغه له طرفه بیان سوی دی چي ملخص یي په لاندي ډول دی: دکتور وهبته الزحیلی رحمه الله تعالی وایي چي احنافو داویلي دي چي نسته او نه ده رواه د مرتهن لپاره چي فائده واخلي په مرهون او ګرو سوي شي باندي نه به خدمت څني اخلي او نه به باندي سپریږي او نه به پکښې اوسیږي او نه به یي اغوندي او که ګرو سوی شی کتاب وي نو لوستل به نه پکښې کوي مګر په اجازه د راهن سره ځکه چي د مرتهن لپاره حق د حبس او بندولو سته نه د فایدي اخیستلو او احناف وایي چي نفعه اخیستل ورته نه ده رواه مطلقا ځکه چي دا سود دی او یا شبه د سود ده او سود پکښې دی او اجازه او رضا نه خپله سود حلالوي نه شبه د سود او غالبه د خلګو داحوالو داده چي دوی په وخت د ورکولو د قرض کښې اراده د ګټي لري که چیري داسي نه وي نو دوی به راهن ته درهم او روپي نه وای ورکړې او په مرتبې د شرط کي هم راځي ځکه چي معروف په شان د مشروط وي او په دي سره تعین د منعي کیږي په انتفاع او فایدي اخیستلو د رهن څخه لکه څنګه چي ابن عابدین شامي رحمه الله تعالی ویلي دي.

شیخ دکتور وهبة الزحیلي رحمه الله تعالی په آخر کښې فرمایي زما رایه داده چي احتیاط په دین کښې دایو واجب امر دی او هر قرض چي فایده راکاږي او فایده اخیستل ورباندي مشروط او متعارف وي نو دا په نزد د احنافو باندي رباء او سود

دی او ابن نجیم رحمه الله تعالی په اشباه کتاب کي تشریح کړې ده پر دغه چي فایده اخستل د مرتهن لپاره مکروه تحریمي ده په رهن او ګروسوي شي باندي.

الفقه الاسلامي وادلته جلد۵ص ۲۵۶ للشيخ الدكتوروهبة الزحيلي

علامة عبدالحي اللكنوي رحمه الله تعالی په مجموعة الفتاوای کښې د دغه سوال جواب داسي لیکلی دی څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شریعت په دغه مسئله کښې چي نفعه او فایده اخستل د رهن او ګروي څخه کله چي راهن يي مرتهن ته و بخښي روا ده که یا؟

دریم جواب: مکروه ده په اشباه کي راځي چي مرتهن ته یعني قرض ورکونکي ته مکروه ده فایده اخیستل په رهن او ګروي باندي په اجازه د راهن سره انتهی.

او په قنیة کښې راځي چي د امام ابویوسف رحمه الله تعالی څخه روایت دی چي مرتهن چي کله په اجازه د راهن سره په ګروسوي کور کي او سیږي نو دا مکروه ده.

او په صرف کښې د اقول مطلق ذکر سوی دی چي په رهن باندي فایده اخیستل مکروه ده او احتیاط په دي کښې دی چي پرهیز وسي د ګټي او فایدي اخیستلو څخه په ګروي کي ځکه چي په کښې شبه د سود ده او حموي رحمه الله تعالی په حاشیه د اشباه کي لیکلي دي چي په جامع لمجد الائمة کښې د عبدالله بن محمد بن اسلم رحمه الله تعالی څخه منقول دي چي مرتهن به هیڅ فایده په رهن او ګروي سره نه اخلي که څه هم ده ته راهن اجازه ورکړې وي ځکه چي دا اجازه په رباء او سود کښې ده او ځکه چي مرتهن خپل قرض مکمل وصول کوي نو ځکه منفعت او فایده اخیستل په ګروي باندي سود کیږي او په بعضي کتابونو کښې د احنافو علماؤ لیکل سوي دي چي مرتهن ته په اجازه د راهن سره نفع او فایده اخستل په رهن باندي روا ده نو مراد دهغه څخه دا دی چي دا اجازه خالصه وي او په هغي کښې شایبه د شرط نه وي نه په عبارت کښې نه په زړه کښې او کله چي په زړه کښې دا خیال راسي لکه په دې زمانه کښې نو بیا هغه ګټه او فایده اخیستل په سود کښې داخلیږي او یو لوی جماعت د فقهاؤ د دغه ګټه او فایده اخیستل په رهن باندي منع کوي او د طحطاوي عبارت هم پر دغه باندي شاهد دی.

مجموعة الفتاوی علی هامش خلاصة الفتاوی جلد۴ص ۱۸ ا ص ۱۸۳

څلورم جواب: مولانا عبدالعزيزالدهلوي رحمه الله تعالی په فتاوی عزیزي کښې لیکلي دي چې ګټه او فایده اخیستل مرتهن لره درهن او ګروي څخه مکروه تحریمي ده په درمختار کښي ذکر سوي دي چې دمرتهن لپاره مکروه دي چې ګټه او فایده واخلي په ګروي باندي که څه هم ده ته ګروي والا اجازه ورکړې وي اوپردي بنا باندي حمل کیږي هغه قول چې د محمد بن اسلم رحمه الله تعالی څخه منقول دی هغه دا چې حلاله نه ده دمرتهن لپاره ګټه او فایده اخیستل که څه هم په اجازه دراهن سره وي ځکه چې دارباء اوسود دی.

شیخ دهلوي صاحب رحمه الله تعالی فرمایي چې زه وایم چې داتعلیل دده مفید دد دی چې دغه مکروه والي تحریمي دی او مباشر یعني کوونکی دمکروه ګنهګاره دی .

فتاوای عزیزي جلد۲ص ۲۳

پنځم جواب: دا جواب شیخ الحدیث حضرت مفتي محمد فرید صاحب رحمه الله تعالی لیکلی دی په لاندي الفاظوسره دی : دی لیکي چې ګټه او فایده درهن او ګروسوي شي څخه حلاله نه ده که څه هم دراهن له طرفه اجازه موجوده وي کله چې دغه اجازه په انتفاع بالرهن باندي معروفه اویامشروطه وي.

(منهاج السنن شرح ترمذي ج۵ص ۳۳)

شپږم جواب: د حضرت مفتي اعظم مفتي محمد شفیع رحمه الله تعالی له طرفه ورکړه سوی جواب دادی : دمرهون شي څخه ګټه حاصلول صحیح قول دادی چې په اجازه دراهن هم نه ده صحیح یعني نه ده جایز.

فتاوی دارالعلوم دیوبند جلد ۲ص ۸۷۱

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله فی ردالمحتار علی الدرالمختار : قلت والغالب من احوال الناس انهم انمایریدون عندالدفع الانتفاع لولاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلته الشرط لان المعروف کاالمشروط وهوممایعین المنع

اتم جواب : دحضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله تعالی له طرفه ورکړه

سوی دی : حضرت مولانا اشرف علي تهانوي صاحب رحمه الله تعالی ذکر کړي دي چي دګروي څخه ګټه او فایده اخیستل که چیري مشروط او یا معروف وي لکه نن سبا چي ده نو حرام او سود دی او ربا او سود په اجازه سره نه حلالیږي. دلیل یې دردالمحتار عبارت دی.

(امداد الفتاواي جلد ۳ ص ۴۵۴)

نهم جواب: دا جواب دحضرت شیخ الاسلام مولانا محمد تقي عثماني دامت برکاتهم العالیه ورکړی دی : حضرت مفتي محمد تقي العثماني صاحب دامت برکاته ویلي دي چي جمهور وفقهاء چي په هغوی، کي احناف هم شامل دي هغوی، وایي چي فایده په مرهون شي باندي اخیستل دمرتهن لپاره په یوه حال کي هم نه ده رواه که چیري یو حیوان ګرو وي نو دمرتهن لپاره په هغه باندي سپریدل یا دهغه شیدي خوړل رواه نه دي ځکه چي دا دحدیث شریف تر دغه قاعدي لاندي داخلیږي.

(کل قرض جرنفعافهوربا) یعني هر هغه قرض چي ګټه او فایده راجلبوي هغه سود دي.

تقریر ترمذي جلد ۱ص ۱۷۶

لسم جواب : دا جواب حضرت مولانا مفتي رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی په احسن الفتاوای کنبې ورکړی دی :چي دمرتهن یعني ګروي والا لپاره دګرو سوي شي څخه ګټه حاصلول مطلق نه ده صحیح که دګروي ورکونکي په اجازه وي او که نه وي ځکه چي معنی داسود دی.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى تحت قوله وقيل لايحل للمرتهن آنه ربا قال فى المنح عن عبدالله محمد بن اسلم السمرقندي وكانه من كبارعلمآء سمرقند انه لايحلُ له ان ينفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فى الربا لانه يستوفى دينه كاملاً فتبقي له المنفعةُ فيكون رباء وهذاامرعظيم.

قال والغالب من احوال الناس انهم ايريدون عند الدفع الانتفاع لولالمااعطاه الدراهم وهذابمنزلة مشروط لان المعروف كاالمشروط وهو مما يعين المنع.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۶ ص ۴۸۲ كتاب الرهن مكتبه شامله)

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : قال المصنف: وعليه يحمل

ما عن محمد بن أسلم من أنه لا يحل للمرتهن ذلك ولو بالإذن لأنه ربا.

همداشان جواب مفتي اعظم هندوستان حضرت مفتي كفايت الله صاحب رحمه الله تعالى وركړی دی. دی فرمايي چي دفايدې اخيستلو حرمت خوښکاره دی اودی ليكي چي مځكه يا باغ ګروكول اودهغي څخه هر قسم فايده اخستل رواه نه ده كه يي شرط كړې وي دغه فايده يا بيله شرط څخه وي اوكه شرط نه وي نوپه اجازه دراهن سره فايده اخيستل درهن څخه ددي وجهي څخه ممنوع وي چي دغه حقيقي اجازه نه ده بلكه دمجبوری دوجهي څخه ګروي وركونكي وګروي اخيستونكي ته اجازه وركوي

(كفايت المفتي جلد ۸ص ۱۵۰/ ۱۴۷)

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وفي الأشباه كل قرض جر نفعا حرام فكره للمرتهن سكنى المرهونة بإذن الراهن.

وقال العلامه ابن نجيم رحمه الله تعالى فى الاشباه : يكره للمرتهن الانتفاع بالرهن باذن الراهن.

(الدرالمختارج۵ ص ۱۶۶ مطلب كل قرض جر نفعا حرام مكتبه شامله / الانقروية جلد ۲ص ۳۹۸ شرح المجلة للاتاسي جلد ۳ص ۱۹۶ ص ۱۹۷ / الاشباه والنظاير علي مذهب ابی حنيفه النعمان ص ۲۸۹ / كفايت المفتی جلد ۸ص ۱۵۰/ ۱۴۷/ ردالمحتار علي الدرالمختارج۶ ص ۴۸۲ كتاب الرهن مكتبه شامله / (امداد لاحكام جلد ۴ص ۵۱۶ / تقرير ترمذي جلد ۱ص ۱۷۶ / (امداد الفتاواي جلد ۳ ص ۴۵۴ / فتاوی دارالعلوم ديوبند جلد ۲ص ۸۷۱ /منهاج السنن شرح ترمذي ج۵ص ۳۳ / فتاوای عزيزي جلد ۲ص ۲۳ / مجموعة الفتاوی علی هامش خلاصة الفتاوای جلد ۴ص ۱۸۱ص ۱۸۳ / الفقه الاسلامي وادلته جلد۵ص ۲۵۶ للشيخ الدكتوروهبة الزحيلی / اعلاء السنن جلد ۱۷ص ۸۳۴۱ للشيخ ظفر احمدالعثماني / امداد الاحكام ج ۴ ص ۵۱۶)

بيع وفا شرعاً څه ته وايي ؟ اودهغې صورتونه دفقهاوو په اقوالو كي .

سوال ۷: بيع وفا شرعاً څه ته وايي زمونږ په علاقه كي دغه رواج راروان دی چي كله دوه كسه مځكه يادوكان سره ګرو كوي نوخط دبيع وفا په نامه سره ليكي دمتعاقدينو څخه يو لا هم دغه عقد لازمي اوضروري نه بولي اوس پوښتنه داده

چي بیع وفاڅه شی ده او داسي بیع او معامله کول شرعا روا ده که یا ؟

جواب: علامه حصفکي رحمه الله تعالی په درمختار کي ویلي دي چي ما دلته بیع وفا ذکر کړې ده له وجهي د متابعته دالدرر نامي کتاب چي یو مشهور کتاب دی.

صورت د بیع الوفا دادی چي یو انسان یو شی په زر روپی خرڅ کړي په دې شرط چي که چیري دی واخیستونکي ته بیرته روپۍ ورکړي نو اخیستونکی به بیرته هغه عین شی دغه خرڅونکي ته واپس ورکوي د امام شافعي صاحب رحمه الله تعالی د مذهب علمآؤ دغه بیع په رهن المعاد سره مسمی کړې ده او په مصر کي دغه بیعي ته بیع الامانة وایي.

اول قول: د علماؤ دادی چي دغه بیع رهن او ګروي ده نو ددې د زوایدو او زیاتو منافعو ضمانت به کیږي.

دوهم قول: دادی چي دغه بیع الوفاء بیع ده چي فایده ورکونکې ده د فایدي اخیستلو په دغه بیعه باندي او په اقالة د شرح المجمع کښې د نهایة کتاب څخه نقل سوي دي چي فتوای پر دغه قول ده.

دریم قول: بیا دادی که چیري دغه بیع الوفا په لفظ د بیع سره وي نو دا بیا رهن دی. او که چیري بایع او مشتري یعني خرڅونکي او اخستونکي په دغه بیع کښې ذکر د فسخ کړی وي او یا یې ذکر د فسخ تر بیع مخکښې کړی وي او یاد واړو ګمان کړی وي د دغه بیعي چي دا بیعه غیرلازمه ده نو دغه بیعه فاسده ګرځي لکه نن سبا چي داسي معاملې د بیع الوفا په نامه رواني دي.

او که چیري دوی دواړو د فسخ کولو ذکر تر بیعي وروسته کړی وي دوعدې په وجه سره نو بیا دا بیعه یعني سودا روا ده او لازمه دو فا پر وعدې باندي ځکه چي وعده کله کله لازمیږي د خلګو د حاجت له وجهي څخه او دا قول صحیح دی لکه څنګه چي دا قول په الکافي او خانیة کتابونو کي راغلی دی او خسرو هم اقرار کړی دي په دغه سره په خپل کتاب کښې او مصنف رحمه الله تعالی په خپل کتاب کښې او ابن مالک رحمه الله تعالی په باب د اقالې کښې داسي ویلي دي.

علامه ابن عابدین رحمه الله تعالی چي مشهور ره په شامي سره دی لاندي تر دغه قول

لیکي (وصورته) چي دغه قول په عنایه کښې هم راغلی دی.
او په کفایة کښې د محیط څخه نقل سوي دي چي بیع الوفاء داده چي خرڅونکی و وایي اخستونکي ته چي ماپرتا باندي دغه عین شی خرڅ کړی په هغه روپو چي ستا پر ما قرض دي په دي شرط سره که ماستاته ولي روپۍ درکړې نو بیا به بیرته هغه شی زما وي او په حاشیة د فصولینو کښې د جواهر الفتاوای څخه نقل سوي دي چي بیع الوفاء داده چي بایع مشتري ته و وایي چي ما دغه شی پرتا خرڅ کړی په دې شرط سره چي ته به بیرته دغه شي پر ما خرڅوې هرکله چي ماتا ته ستا روپۍ درکړې نو دغه بیعه او سودا باطله ده او دا رهن او ګروي ده او حکم یي د رهن دی او دا خبره صحیح ده نو معلومه سوه دا خبره چي فرق نسته په مابین د دې قول کي چي ته به بیرته دغه شی و ماته واپس کوې او یا به بیرته دغه شی پر ما خرڅوې.
او علامة شامي رحمه الله تعالی بیا ویلي دي وروسته تر دغه قول [قولهُ وقیل هو رهن] یعني یو قول دا سوی دی چي دغه بیع الوفا رهن ده او مخکي مونږ د جواهر الفتاوای څخه نقل وکړی چي دا خبره او دا قول صحیح دی او په فتاوای خیریه کي یي ویلي دي چي هغه قول چي په هغه اکثره علمآء عمل کوي هغه دادی چي بیع الوفا رهن او ګروي ده او دغه بیع الوفاء د رهن څخه جلا نه ده په یوه حکم کښې دا حکامو څخه. سید الامام ویلي دي چي ما امام الحسن الماتریدی ته وویل چي دغه بیعه مشهوره او ډیره سوې ده په مابین د خلګو کښې او په دي کښې لوي عظیم فساد دی.
او ستاسو فتوای داده چي دغه بیع الوفاء رهن دی او زه هم پر دغه خبرو باندي ثابت یم نو حق او ښه دادی چي موږ امامان او علماء را جمع کړو او موږ ټول پر دغه باندي اتفاق وکړو او موږ د خپلي خبري اظهار وکړو نو ده راته وویل چي معتبره نن ورځ زموږ فتوی ده او دهغې فتوای ظهور سوی دی هرڅوک چي زموږ مخالفت کوي هغه دي خپل پرځان ظاهره کړي او خپل دلیل دي قایم کړي.
حاصل دادی چي په دغه بیع الوفاء کښې ډیر اختلاف دی که چیري په بیعه کښې شرط ذکر سو نو بیا دغه بیعه رهن او ګروي ګرځي په نزد د اکثره علماوو لکه څنګه

چي په جواهرالفتاوی کښې پردې باندې فتوی سوې ده همدارنګه په فتاوی خیرية کښې ددې خبرې اظهار سوی دی چي اکثره علماوو اتفاق کړی دی چي دغه ذکرسوې بيع الوفاء رهن او ګروي ده او په یوه حکم کښې هم د رهن څخه جلا نه ده.

او دعلامه سید رحمه الله تعالی او امام حسن الماتریدی رحمه الله تعالی فتوی هم دغه ده او که چیري دبیعي په وخت کښې شرط دواپس کیدلو نه وي خو وروسته بیا پر طریقه دوعدې سره ذکر سو نو بیا دغه بیعه صحیح ده او پر وعدې باندې وفا لازمه ده او دا خبره صحیح ده او علامه قاضیخان رحمه الله تعالی وغیره نورو علماوو هم دا فتوا ورکړېده ډیرو علماوو خصوصاً د دیوبند علماوو پر قول دعلامه قاضیخان رحمه الله تعالی فتوی ورکړېده او دعلامه قاضیخان رحمه الله تعالی دقول څخه مخ ګرځول مناسب نه دي ځکه چي علامه ابن عابدین رحمه الله تعالی ذکر کړیدي په حق دقاضیخان رحمه الله تعالی کښې [ان قاضیخان من اهل التصحیح والترجیح]

(فتاوی قاضیخان ج ۲ ص ۳۵۳ الفتاوی الخانیة)

محترمو مسلمانانو تاسو ته ښه معلومه ده چي په مروج بیع الوفاء کښې خو اول دوی شرطونه ذکر کوي او که څوک شرط دبیعي دفسخي په ظاهره ذکر نه کړي خو بیا هم د دوی قصد او اراده دبیعي نه وي بلکي اراده او قصد یې دګروی وي نو ددې وجهې څخه دغه مروجه بیع الوفاء حکم درهن او ګروي لري او انتفاع او فایده اخیستل نه ده صحیح باندې.

شیخ الاسلام ابن قاضي سماونه رحمه الله تعالی ویلي دي چي هغه بیع چي تعارف او شهرت یې پیدا کړی دی او پیژني یې زموږ دزماني خلګ دوجې دحیلي جوړولو دځان ساتلو دسود څخه او دغه بیع ته دوی بیع الوفاء وایي نو دغه بیعه په حقیقت کښې رهن او ګروي ده.

او علامه خیرالدین رملي رحمه الله تعالی وایي په جواهرالفتاوی کښې چي دبیع الوفاء کوم صورت ذکر سوی دی په دغه صورت سره دغه بیعه باطله ده او دا رهن او ګروي ده حکم یې درهن دی او دا خبره صحیح ده او محمّد بن الفضل البخاري رحمه الله تعالی هم داسې ذکر کړیدي او بعضو ویلي دي چي دغه بیع فاسده ده ملکیت

واجبوي چي قبضه ورسره وي خو اوّل قول صحيح دی چي دغه بيع الوفاء باطله ده
او رهن ده او حکم يه د رهن دی

وقد مشت المجلة علیٰ انه رهن ذکره بلفظ البيع ففی البزازيه ومثله فی خزانة المفتين انهم يريدونه به الرهْن يقول البايع رهنت المشتری ارتهنتُ والناس يسمونه الرّهن والعبرة للمقاصد لا للالفاظ کالکفالة بشرط براءة الا صيل حوالة والحوالة بشرط ان لايبراءکفالة)
وقال العلامة السيد سابق رحمه الله تعالی : بيع الوفاء هو ان يبيع المحتاج الیٰ النقد عقارا علیٰ انه متیٰ وفی الثمن استرد العقار وحکمه حکم الرّهن وهو ارجح الاقوال عند نا.

حضرت مولانا مفتی محمد فريد صاحب رحمه الله تعالی ليکلي دي چي پوه سه دبيع الوفاء صورت دادی چي بايع يو عين او شی خرڅ کړي په زر روپۍ باندي خو په دې شرط چي که ده روپۍ بيرته واپس کړې هغه مشتري ته نو مشتري به عين او شی بيرته بايع ته ورکوي دغه ته بيع الوفاء ځکه وايي چي په دې کښې وعده سوې ده په وفا کولو باندي د مشتري له طرفه د رد کولو د دغه شي او بيع چي کله بايع روپۍ بيرته مشتري ته ورکړي . او دغه بيع رهن او ګروي ده په نزد دا کثره علماو ځکه چي اعتبار په عقودو کښې معانيو ته وي نه الفاظو ته.

او حضرت مفتی اعظم هندوستان مفتی کفايت الله صاحب رحمه الله تعالی ليکلي دي چي بيع الوفاء يعني په داسي طريقه سره بيع کول چي خرڅوونکی و اخيستونکي ته ووايي چي که چيري ته زما روپۍ بيرته راکړې نو زه ستا شی بيرته واپس کوم يا بايع ووايي چي زه به دغه شی ستا پر لاس خرڅوم نو دغه بيعه نه ده بلکي په حقيقت کښې دا د رهن او د ګروی صورت دی او په ګروی کښې مرتهن ته د ګرود شي څخه هيڅ قسم فايده اخيستل نه ده رواه.

او علامة ظفر احمد عثماني رحمه الله تعالی په امداد الاحکام فتاوی کښې ذکر کړي دي چي دغه سوال مذکور ته بيع الوفاء وائي او په دې کښې دوه صورته دي يو صورت دبيع دی او دوهم صورت د رهن دی نو دغه صورت دبيع الوفاء ظاهراً بيع ده او حقيقتاً رهن او ګروي ده نو که چيري د دغه صورت تعبير په بيع سره وسي نو دغه صورت حرام دی ځکه چي دغه بيعه مشروط په شرط سره ده او په حديث شريف کښې د مشروطي بيع

څخه منعه راغلې ده او په شرط فاسد سره بیعه هم فاسدېږي او که چیرې ددغې معاملې تعبیر په رهن سره وسي نو بیا هم حرامه ده په دې وجه سره چې د مرتهن لپاره د شي مرهون څخه استفاده کول حرامه ده که څه هم راهن اجازه د استفادې ورکړې وي.

او حضرت مولانا مفتي رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی په احسن الفتاوی کښې لیکلي دي که په بیع کښې شرط د فسخ وو یا د بیع تر مخه شرط د فسخ وو یا جانبین دغه عقد غیرلازم بولي نو دا بیع فاسده ده او که چیرې شرط د فسخ کولو تر بیع وروسته وو یعني د بیع د واپسي وعده یې سره وکړه جانبینو، نو دا بیع صحیح ده او د وعدې پوره کول لازم عمل دی.

خلاصه او حاصل د دې ټولو خبرو دادی چې بیع وفاء څو قسمه ده خو نن صبا زموږ په ټولنه او عرف و زمانه کښې چې کومه مروجه بیع الوفاء راروانه ده دا روانه ده ځکه چې مقصود ددغې بیع الوفاء څخه بیع نه وي بلکه مقصود د دې څخه انتفاع او نفع اخیستل دي پر قرض باندې او په حدیث شریف کښې پر دې باندې منع راغلې ده او په فتاوی خیریه کښې هم فتوای پر دغه ده چې دغه بیع الوفاء په نزد د اکثره علماوو باندې حکم د رهن لري یعني ګروي او په رهن او ګروی باندې فایده اخیستل هم سود دی او بل دغه بیع الوفاء ځکه بیع نه ده چې په بیع کښې نیت او قصد د بایع او مشتري د بیع رانیولو او خرڅولو وي او په بیع الوفاء کښې نیت د دواړو عاقدینو د بیع یعني د خرید او فروخت نه وي او مخکې په فتاوی قاضیخان کښې ذکر سوله که چیرې بایع او مشتري تلفظ په بیع سره کړی وي خو په نیت د بایع او مشتري کې دغه بیع او معامله لازمه نه وه نو دغه بیع فاسدېږي او که چیرې پر دغه بیع الوفاء باندې اطلاق د بیعې هم وسي نو دغه بیع بیا هم فاسده ده ځکه چې دغه بیع مشروطه په شرط سره ده هغه دا چې بایع و مشتري ته وایي چې که ما ستا روپۍ درکړې بیرته به زما مځکه او دوکان یا سرای راکوې په کومه بیع کښې چې شرط ذکر سوی وي نو هغه بیع فاسدېږي.

خو د بیع الوفاء صرف یو صورت چې د امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله تعالی په نزد روا دی او د امام صاحب په نزد نه دی روا هغه دا چې کله بایع او مشتري بیع سره وکړي او د دواړو نیت د بیع وي او په بیع کښې دوی، کوم شرط نه وي ذکر

کړئ خو وروسته تر بيع بايع و مشتري ته وو ايي كه ماستاروپۍ واپس در کړې نو ماته به بيرته خپله ځمکه يا هر شی چې وي راکوې دغه شان بيع ديارانو په نزد رواه ده او داكثرو علماوو په نزد هم رواه ده لكه چې په فتاوی هنديه كښې چې ذكر سوي دي .

دا هغه څه دي چې موږ فقهاوو او اكابرينو دكتابونو څخه نقل کړي دي كه څه هم په دې مسئله كې ځيني علماوو اختلاف کړی دی او بيع الوفا يې رواه بللې ده خو هر څنګه چې وي ددې مسئلې نتيجه وسد ته رسيږي او سود هغه معامله ده چې الله جل جلاله په قرآن كريم كې دهغې معاملې دكوونكو سره دجنګ اعلان کړی دی او الله جل جلاله دې موږ او تاسي ته دهر قسم ناروا او مشتبه اعمالو څخه دا جتناب توفيق رانصيب کړي . والله اعلم بالصواب

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وبيع الوفاء ذكرته هنا تبعا للدرر: صورته أن يبيعه العين بألف على أنه إذا رد عليه الثمن رد عليه العين، وسماه الشافعية بالرهن المعاد، ويسمى بمصر بيع الأمانة، وبالشام بيع الإطاعة، قيل هو رهن فتضمن زوائده، وقيل بيع يفيد الانتفاع به، وفي إقالة شرح المجمع عن النهاية: وعليه الفتوى، وقيل إن بلفظ البيع لم يكن رهنا، ثم إن ذكرا الفسخ فيه أو قبله أو زعماه غير لازم كان بيعا فاسدا، ولو بعده على وجه الميعاد جاز لزم الوفاء به؛ لأن المواعيد قد تكون لازمة لحاجة الناس، وهو الصحيح كما في الكافي والخانية وأقره خسرو هنا والمصنف في باب الإكراه وابن الملك في باب الإقالة بزيادة.

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار : ووجه تسميته بيع الوفاء أن فيه عهدا بالوفاء من المشتري بأن يرد المبيع على البائع حين رد الثمن، وبعض الفقهاء يسميه البيع الجائز، ولعله مبني على أنه بيع صحيح لحاجة التخلص من الربا حتى يسوغ المشتري أكل ريعه، وبعضهم يسميه بيع المعاملة. ووجهه أن المعاملة ربح الدين وهذا يشتريه الدائن لينتفع به بمقابلة دينه. (قوله: وصورته إلخ) كذا في العناية، وفي الكفاية عن المحيط: هو أن يقول البائع للمشتري بعت منك هذا العين بما لك علي من الدين على

أني متى قضيته فهو لي اهـ. وفي حاشية الفصولين عن جواهر الفتاوى: هو أن يقول بعت منك على أن تبيعه مني متى جئت بالثمن فهذا البيع باطل وهو رهن، وحكمه حكم الرهن وهو الصحيح اهـ. .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۷۶ مطلب في بيع الوفاء مكتبه شامله /جامع الفصولين جلد ۱ ص ۱۶۹ / الفتاوى الكاملية جلد ۱ ص ۸۳ /فتاوى قاضيخان ج ۲ ص ۳۵۳ الفتاوى الخانية / شرح المجلّة ج ۲ ص ۴۱۶ / ۴۱۴/۴۱۵ / فقه السنة ص ۱۳۴ ج ۳ / منهاج السنن للشيخ مفتي ج۵ ص ۳۴ / فتاوى مظاهر علوم ص ۸۳۹ /فتاوى محمودية ج ۱۳ ص ۳۵۹ محمد فريد صاحب /امداد المقين ج ۲ ص ۸۳۹ / امدادالاحكام ج ۳ ص ۴۴۶ /شامي ج ۴ ص ۲۷۴ / احسن الفتا وى ج ۶ ص ۵ / كفايت المفتي ج ۸ ص ۱۵۶/)

باب السلم

ایا نغدي پیسې په بیع سلم ورکول رواه دي که یا؟

سوال ۱ : یو کس را ولاړیږي بل کس ته (۱۰۰۰۰۰)یو لک روپۍ کالداري په سلم ورکوي او هغه ته وایې چي دوې میاشتي وروسته لک افغانۍ راکړه آیا پر دغه طریقه دغه معامله روا ایښت لري که یا؟ .

جواب : د شرعي او فقهي د نګاه څخه د سلم بیع او معامله په هغه شیانو کي روا ده چي په تاله سره یا په پیمانه سره یې راکړه ورکړه کیږي لکه غنم، اوربشي، جواري، پنبه، مثلا نه په نغدو کي چونکه دغه معامله د سلم په نغدو که ده که څه هم جنس مختلف دی بیا هم دغه شرعًا ناروا ده او یو قسم سود دی .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ كَمَكِيلٍ وَمَوْزُونٍ) فَلَوْ أَسْلَمَ فِي الْمَكِيلِ وَزْنًا كَمَا إذَا أَسْلَمَ فِي الْبُرِّ وَالشَّعِيرِ بِالْمِيزَانِ فِيهِ رِوَايَتَانِ وَالْمُعْتَمَدُ الْجَوَازُ لِوُجُودِ الضَّبْطِ وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ لَوْ أَسْلَمَ فِي الْمَوْزُونِ كَيْلًا بَحْرٌ (قَوْلُهُ فَلَمْ يَجُزْ فِيهَا السَّلَمُ) لَكِنْ إذَا كَانَ رَأْسُ الْمَالِ دَرَاهِمَ أَوْ دَنَانِيرَ أَيْضًا كَانَ الْعَقْدُ بَاطِلًا اتِّفَاقًا، وَإِنْ كَانَ غَيْرَهَا كَثَوْبٍ فِي عَشَرَةِ دَرَاهِمَ لَا يَصِحُّ سَلَمًا اتِّفَاقًا، وَهَلْ يَنْعَقِدُ بَيْعًا فِي الثَّوْبِ بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ الْأَعْمَشُ: يَنْعَقِدُ وَعِيسَى بْنُ أَبَانَ لَا وَهُوَ الْأَصَحُّ نَهْرٌ وَهَذَا صَحَّحَهُ فِي

الْهِدَايَةِ وَرَجَّحَ فِي الْفَتْحِ الْأَوَّلَ وَأَقَرَّهُ فِي الْبَحْرِ وَاعْتَرَضَهُ فِي النَّهْرِ بِمَا هُوَ سَاقِطٌ جِدًّا كَمَا أَوْضَحْته فِيمَا عَلَّقْته عَلَى الْبَحْرِ.

(ردالمحتار ج ۴ ص ۲۲۶ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۴ ص ۴۴۲ مکتبه رشیدیه / الموسوعة الفقهية ج ۲۵ ص ۲۰۸ ــ ۲۰۹ / تنقيح الحامدية ج ۱ ص ۲۹۱)

باب الشركة

یوشریک دګډ موټر څخه خپله حصه وبل شریک ته په کرایه ورکوي .

سوال ۱ : که چیري یو موټر دد وو کسانو سره شریک وي هغه یو شریک غواړي چي دغه خپله حصه هغه بل شریک ته په کرایه ورکړي ایا داسي کول شرعا رواه دي که یا ؟

جواب : که چیري دغه یو شریک خپله حصه هغه بل شریک ته په اجاره ورکړي نو دا شرعاً کوم مشکل نه لري رواه دی .

لما فی الموسوعة الفقهية الكويتية : اذاكانت العين المتعاقد على منفعتها مشاعا ، واراد احدالشريكين اجارة منفعة حصته فاجارتها للشريک جائزة بالا تفاق . اما اجارتها لغير الشريک فانّ الجمهور (الصاحبين من الحنفية والشافعية والمالكية وفی قول لاحمد) يجيزونها ايضا الخ ....

(الموسوعة الفقهية ج ۱ ص ۲۶۳ / بدائع الصنائع ج ۴ص ۱۸۷ / ۱۸۸ مکتبه شامله / شرح الروض ج ۲ص ۴۰۹)

په ګټه شریک په تاوان نه شریک داسي معامله څنګه ده ؟

سوال ۲ : دوه کسه په تجارت کښې سره شریکان دي دا یو شریک هغه بل ته داسي وایې که مو ګټه وکړه خو سره په شریکان یو او که مو تاوان وکړی خو یو کس به یې برداشتوي آیا د شریعت د نګاه څخه داسي شراکتي معامله صحیح ده؟

جواب: پر دغه مذکوره طریقه باندي شراکتي معامله کول شرکت فاسد دی حدیث شریف کښې راځي ، الغرم بالغنم، والخراج بالضمان، یعني ګټه به هغه چاته رسېږي چي تاوان پورته کوي او خالي د ګټې شرط لګول او هغه اخیستل ناروا دی .

لماقال أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (المتوفى: ٦١٦هـ) في المحيط البرهاني :وإن شرط الوضيعة والربح نصفان، فشرط الوضيعة نصفان فاسد؛ لأن الوضيعة هلاك جزء من المال، فكأن صاحب الألفين شرط ضمان شيء مما هلك من ماله على صاحبه، وشرط الضمان على الأخر فاسد، ولكن بهذا لا تبطل الشركة حتى لو عملا وربحا، فالربح بينهما على ما شرطا، فالشركة مما لا تبطل بالشروط الفاسدة

(بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۰۸ ـــ ۱۰۹ مکتبه رشیدیه /الدرالمختارعلي هامش ردالمحتار ج ۴ ص ۱۹۷ مکتبه رشیدیه / المحیط البرهاني ج ۶ ص ۳۳ مکتبه شامله / الهدایة ج ۳ ص ۲۵۵ / فتاوی محمودیه ج ۱۴ ص ۱۸۲ اردو / اپ کي مسائل ج ۷ ص ۴۲۸ اردو)

باب الديـــون

دوو کسانو دقرض معامله سره وکړل خو اوس يي هيردي چي څو روپي وې .

سوال ۱: که چیري یوه شخص وبل شخص ته روپی په پور ورکړي او بیا وروسته ددواړو څخه دهغه پیسو تعداد هیر سي نو اوس به څنګه فیصله کوي ؟

جواب: پر څه طریقه چي دوی سره راضي سول پر هغه طریقه دي فیصله وکړي او که نه سره راضي کیدل نو بیا دي مدعي پر خپلي دعوې باندي شاهدان پیش کړي او که مدعي دشاهدانو څخه عاجزه سو نو مدعی علیه ته به قسم کیږي .

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي خُطْبَتِهِ الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ

(سنن الترمذی ج ۵ ص ۱۸۱ / سنن ابن ماجه ج ۲ ص ۷۷۸مکتبه شامله / صحیح ابن حبان ج ۱۱ ص ۴۷۶ مکتبه شامله / سنن الدار قطني ج ۵ ص ۲۷۶ مکتبه شامله سنن الکبری للبیهقي ج ۸ ص ۴۸۴ مکتبه شامله)

یوشي په نغدو په یوه قیمت ورکول او په پور سره په بل قیمت ورکول .

سوال ۲: زه دیو شخص څخه یوشی رانیسم هغه راته وایي که پیسې اوس نغدې راکوې نو داشی په زر روپی درکوم او که یې میاشت وروسته پیسې راکوې نو یې په

پنځلس سوه درکوم ایا دغسي سودا چي شی یو شی وي لیکن په نغدو په کم قیمت سره او په پور په زیات قیمت سره ورکول دا شرعا جواز لري که یا ؟

جواب : که چیري په هغه مجلس کښې دنغدو یا دپور معامله صافه او وخت یي متعین سي چي دغه خریداري یا په نغدو سره وسوله یا په پور سره وسوه تر فلانکي وخته پوري نو داسي تجارت او معامله خو شرعا جائز ده . لیکن دمروت او اخلاقو څخه خلاف کار دی ځکه چي کوم غریب شخص دخپل ضرورت دپاره یو شی رانیسې او دهغه شي قیمت دهغه سره نه وي نو هغه شخص درحم وشفقت او کرم مستحق دی دهغه څخه دومره اندازه قیمت اخیستل چي هغه ته خساره او تاوان ورسیږي داد دمروت خلاف کاردی باید دهغه سره کومک او امداد وسي .

او په دې سره دا مسئله هم معلومه سوه چي یو کس وایي زه یې په پور گران رانیسم او بیا یې په لاس او نغدو سره ارزانه ورکوم چي خاص مشکل نه لري .

وفی الهداية :لان للاجل شبها بالمبيع الا ترى انه يزاد فى الثمن لاجل الاجل والشبهة فى هذا ملحقة بالحقيقة ./ وفى ردالمحتار على الدرالمختار : لِأَنَّ الْأَجَلَ فِي نَفْسِهِ لَيْسَ بِمَالٍ، فَلَا يُقَابِلُهُ شَيْءٌ حَقِيقَةً إذَا لَمْ يُشْتَرَطْ زِيَادَةُ الثَّمَنِ بِمُقَابَلَتِهِ قَصْدًا،/ قال شيخ الاسلام العلامة المفتى محمد تقى العثماني فى كتابه (بحوث فى قضايافقية معاصرة) واما الائمة الاربعة وجمهور الفقهآء المحدثين : فقداجازوا البيع المؤجل باكثر من سعر النقد بشرط ان يبت العاقد ان بانه بيع مؤجل باجل معلوم وبثمن معلوم متفق عليه عند العقد .

(ردالمحتار علي الد رالمختار ج ۵ ص ۱۴۲ کتاب البیوع باب المرابحة والتولیة سعید / الهدایة ج ۳ ص ۷۶ کتاب البیوع باب التولیة والمرابحة مکتبه شرکت علمیه ملتان / بحوث في قضایا فقهة معاصرة / الفتاوی العالمگیریة کتاب البیوع ج ۳ ص ۱۶۳ رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۱۵۴ باب حط الثمن وزیادته نقدا ونسیئة)

یو کس پر ما روپي باندي دي خو هغه مړ سو زه یې اوس روپي چاته ورکړم ؟

سوال ۳ : دیو کس پر ما باندي پیسې قرض باندي دی اوس هغه مړ سو نو زه یې دغه روپی چاته ورکړم ؟

جواب: دغه کس چي مړ سو نو ښکاره خبره ده تر شا به یې وارثان پرې ایښي وي چي په هغو کښې اولادونه مور او پلار او وړونه او خوندي او ښځه د دغه مړه کس ټوله شامل دي پر دوهم نمبر باندي دهغه اکا او داکا زامن که هغه هم نه وه بیا دهغه ماما یا دماما زامن یا دعمه زامن پر هغه ترتیب چي دمیراثو په فن کښې بیان سوي دي دغه کسانو ته دي وسپارل سي.

يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا (۱۱) سورة النسآء

په پیمانه او وزن والا شیانو کښې قرض اخیستل او ورکول رواه دي که یا؟

سوال ۴: په پیمانه او وزن والا شیانو کښې قرض اخیستل او ورکول رواه دي که یا؟

جواب: په مَکِیلي (پیمانه والا) شیانو کښې او وزني (وزن والا) شیانو کښې همدارنګه په عددي متقارب (شمېروالا) شیانو کښې شرعا قرض ورکول یا اخیستل رواه دی. مثلا چي یو چاته ووایي ماته یو لس منه غنم په قرض حسن راکه، یا یې ته ورکړې، یا یو چاته ووایې چي ماته لس هګۍ په قرض راکړه بیا به یې درکړم داسي او دې ته ورته معاملې فقهاوو رواه بللي دي.

وفی الدرالمختار مع ردالمحتار: (قَوْلُهُ فِي مِثْلِيٍّ) كَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ وَالْمَعْدُودِ الْمُتَقَارِبِ كَالْجَوْزِ وَالْبَيْضِ. وَحَاصِلُهُ: أَنَّ الْمِثْلِيَّ مَا لَا تَتَفَاوَتُ آحَادُهُ أَيْ تَفَاوُتًا تَخْتَلِفُ بِهِ الْقِيمَةُ فَإِنَّ نَحْوَهُ الْجَوْزُ تَتَفَاوَتُ آحَادُهُ تَفَاوُتًا يَسِيرًا....... وَيُسْتَقْرَضُ الْخُبْزُ وَزْنًا وَعَدَدًا عِنْدَ مُحَمَّدٍ، وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى ابْنُ مَالِكٍ وَاسْتَحْسَنَهُ الْكَمَالُ وَاخْتَارَهُ الْمُصَنِّفُ تَيْسِيرًا اهـ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۱۶۲ / ۱۶۱ فصل في القرض مکتبه شامله / طحطاوي علي الدرالمختار ج ۳ ص ۱۱۲ / الفتاوی الهندیه ج ۳ ص ۲۰۱ / الفقه الاسلامي ج ۴ ص ۶۱۸ / فتح

القدير ج ۶ ص ۱۷۷ / تحفة الفقهاء ج ۲ ص ۱۱۷ / بدرالفتاوی ص ۲۳۳ / احسن الفتاوی ج ۷ ص ۱۷۱ باب القرض والدين)

پر ما ديو چا پيسې باندي دي خو اوس هغه سړی نسته ؟

سوال ۵ :ما ديو چا سره سودا وکړه په دغه سودا کي د هغه يو څو پيسې را باندي پاته سوې او هغه سړی اوس نه پيدا کيږي او س پو ښتنه داده چي دغه پيسې څه په وکړم ؟

جواب : اول خو به دغه سړی پوره کو ښښ کوي چي د هغه پيسو مالک پيدا کړي که چيري هغه مړسوی وي نو د هغه وارثانو ته دي دغه پيسې ورکړي که چيري د هغه وارثان هم نه وي نو دغه پيسې دي صدقه کړي خو که چيري دی مسکين او فقير وي نو دا پيسې خپله مصرفولای سي البته که هغه سړی وروسته پيدا سو نو خپلي پيسې بيرته اخيستلای سي د ده څخه په لازمي شکل سره .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (فَيَنْتَفِعُ) الرَّافِعُ (بِهَا لَوْ فَقِيرًا وَإِلَّا تَصَدَّقَ بِهَا عَلَى فَقِيرٍ وَلَوْ عَلَى أَصْلِهِ وَفَرْعِهِ وَعُرْسِهِ، إلَّا إذَا عَرَفَ أَنَّهَا لِذِمِّيٍّ فَإِنَّهَا تُوضَعُ فِي بَيْتِ الْمَالِ) تَتَارْخَانِيَّةٌ. وَفِي الْقُنْيَةِ: لَوْ رَجَى وُجُودَ الْمَالِكِ وَجَبَ الْإِيصَاءُ.(فَإِنْ جَاءَ مَالِكُهَا بَعْدَ التَّصَدُّقِ (خُيِّرَ بَيْنَ إجَازَةِ فِعْلِهِ وَلَوْ بَعْدَ هَلَاكِهَا) وَلَهُ ثَوَابُهَا (أَوْ تَضْمِينُهُ)

(الدرمختار علي هامش ردالمحتار ج ۴ ص ۷۹ــ ۸۰ کتاب اللقيط / الهداية ج ۲ ص ۶۱۵ مکتبه حنفيه / فتاوی حقانيه ج ۵ ص ۳۶۶ پښتو / کتاب الفتاوی ج ۵ ص ۳۷۶ اردو)

باب الاحتكار

غله رانيول او بيا د ګرانۍ په نيت سره ذخيره کول .

سوال ۱ : غله اخيستل او سنبال ايښودل په دې شرط سره چي مخلوق ته تکليف و نه رسيږي او د ګرانۍ منتظر او سېدل روا دي که يا ؟

جواب : په در مختار کتاب کي ليکلي دي (وكره احتكار قوت البشر في بلد يضر باهله حديث شريف دی (الجالب مرزوق والمحتكر ملعون فان لم يضر لم يكره)

که چيري دغه ايښودل او سنبالول خلکو ته تاوان رسوي نو دغه کار مکروه دی تر لمر ښه معلومه ده چي په نن دور کي غله رانيول او بيا ايښودل خامخا پر معاشرې او ټولني باندي بد اثرات او منفي نتايج غورځوي او سراسر ضرر دی، نو لهذا دغه

عمل مکروه دی.

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَ) كُرِهَ (احْتِكَارُ قُوتِ الْبَشَرِ) كَتِبْنٍ وَعِنَبٍ وَلَوْزٍ (وَالْبَهَائِمِ) كَتِبْنٍ وَقَتٍّ (فِي بَلَدٍ يَضُرُّ بِأَهْلِهِ) لِحَدِيثِ «الْجَالِبُ مَرْزُوقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ» فَإِنْ لَمْ يَضُرَّ لَمْ يُكْرَهْ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۵ ص ۲۸۲ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۸ ص ۳۷۰ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۳ ص ۲۱۳ مکتبه رشیدیه / الهدایة ج ۴ ص ۴۶۸ مکتبه حنفیه / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۲۳۴ اردو / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۷۹ پښتو)

احتکار او ذخیره کول څه ته وايي ؟

سوال ۲: د احتکار او ذخیره اندوزۍ تعریف او پېژندنه د فقهي او شرعي له نګاه څخه څه ده؟

جواب: احتکار او ذخیره کېدل شرعًا دغه ته وايې چې یو څوک را ولاړ سي سامان راوړي مثلا د خوراک او چیښاک اشیاء یا داسي مال چي خلګ د هغو استعمال ته ضرورت لري لکه جامې دا په ګودام کښې ذخیره کړي او بیا د ګرانۍ په انتظار ورته کښېني او حال دا دی چي خلګ اشد ضرورت ورته لري لیکن دی یې په معمولي ګټه نه ورکوي دغه عمل ته شرعًا احتکار یا ذخیره اندوزي وايې او دا فعل حرام دی، لیکن که هغه مال ستا سره په ګودام یا منډیي کي وي او ته یې مسلسل ځني خرڅوي داسي صورت بیا احتکار نه دی که څه هم د بل چا سره دغه مال نه وي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَكُرِهَ احْتِكَارُ قُوتِ الْبَشَرِ) الِاحْتِكَارُ لُغَةً: احْتِبَاسُ الشَّيْءِ انْتِظَارًا لِغَلَائِهِ وَالِاسْمُ الْحُكْرَةُ بِالضَّمِّ وَالسُّكُونِ كَمَا فِي الْقَامُوسِ، وَشَرْعًا: اشْتِرَاءُ طَعَامٍ وَنَحْوِهِ وَحَبْسُهُ إلَى الْغَلَاءِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «مَنْ احْتَكَرَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ أَرْبَعِينَ يَوْمًا ضَرَبَهُ اللَّهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ» وَفِي رِوَايَةٍ «فَقَدْ بَرِئَ مِنْ اللَّهِ وَبَرِئَ اللَّهُ مِنْهُ» قَالَ فِي الْكِفَايَةِ: أَيْ خَذَلَهُ وَالْخِذْلَانُ تَرْكُ النُّصْرَةِ عِنْدَ الْحَاجَةِ اهـ وَفِي أُخْرَى «فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يَقْبَلُ اللَّهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا» الصَّرْفُ: النَّفَلُ، وَالْعَدْلُ الْفَرْضُ شُرُنْبُلَالِيَّةٌ عَنْ الْكَافِي وَغَيْرِهِ وَقِيلَ

شَهْرًا وَقِيلَ أَكْثَرَ وَهَذَا التَّقْدِيرُ لِلْمُعَاقَبَةِ فِي الدُّنْيَا بِنَحْوِ الْبَيْعِ وَلِلتَّعْزِيرِ لَا لِلْإِثْمِ لِحُصُولِهِ وَإِنْ قَلَّتْ الْمُدَّةُ وَتَفَاوُتُهُ بَيْنَ تَرَبُّصِهِ لِعِزَّتِهِ أَوْ لِلْقَحْطِ وَالْعِيَاذُ بِاللَّهِ تَعَالَى دُرٌّ مُنْتَقًى مَزِيدًا، وَالتَّقْيِيدُ بِقُوتِ الْبَشَرِ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى كَذَا فِي الْكَافِي، وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ كُلُّ مَا أَضَرَّ بِالْعَامَّةِ حَبْسُهُ، فَهُوَ احْتِكَارٌ وَعَنْ مُحَمَّدٍ الِاحْتِكَارُ فِي الثِّيَابِ ابْنُ كَمَالٍ.

(ردالمحتار ج ۵ ص ۲۸۲ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۸ ص ۳۷۰ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۳ ص ۲۱۳ مکتبه رشیدیه / الهدایة ج ۴ ص ۴۶۸ مکتبه حنفیه / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۲۳۴ اردو / اپ کي مسائل ج ۷ ص ۱۱۰ اردو)

باب المضاربت

په مضاربت کښې دحیوان ورکول.

سوال ۱: یوکس دیوچا څخه یو حیوان رانیوی اوس مشتري بیرته خرڅوونکي ته هغه حیوان په مضاربت کښې ورکوي چي داساته نسل او بچي يي زما اوستا ترمينځ شریک دی داسي معامله شرعاً درسته ده که یا ؟

جواب: په مضاربت کښې حیوان ورکول داعقد فاسد دی [یعني فاسده معامله ده] البته که چیري دحیوان دورکولو په وخت کښې دا ورته ووايي چي داحیوان خرڅ کړه او په پیسو اوروپو باندي يي معامله وکړه ګټه زما او ستا تر مینځ شریکه ده نو بیا جائزده.

لما في الفتاوى الهندية : لو دفع إليه عرضا أو عبدا فقال بعه واقبض ثمنه واعمل به مضاربة فباعه بدراهم أو دنانير وتصرف فيها جازت المضاربة كذا في محيط السرخسي.

(الفتاوى الهنديه ج ۴ ص ۲۶۸ كتاب المضاربة / مجلة الاحكام مادة ۱۴۰۹ ص ۷۳۵ الفصل الثاني في شروط المضاربة / فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۳۳۰ كتاب المضاربة / خلاصة الفتاوى ج ۴ ص ۱۸۸)

پیسې یو چاته په دریمه ګټه ورکول روادي که یا ؟

سوال ۲: زه یو چاته پیسې ورکوم هغه کاروبار په کوي پیسې زما دي کار او وړه دده او ددغه پیسو دریمه ګټه ماته راکوي ایا داسي معامله جواز لري که یا ؟

جواب: دشریعت له نګاه څخه دغه معاملې ته مضاربت وايي اودا په مقدس شریعت

کي جواز لري مضاربت همدې ته وايي چي پيسې ديوه وي او خواري دبل وي او ګټه يې تر مينځ مشترکه وي دانو بيا ددوی کار دی چي پر څو مره حصه ګټه سره جوړېږي خو البته دګټې اندازه به معلومه وي چي په دريمه باندي ده که په څلورمه باندي يا بله داسي خاص حصه.

لماقال العلامة ابوبكر الكاساني رحمه الله في بدائع الصنائع : (وَمِنْهَا) أَنْ يَكُونَ الْمَشْرُوطُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنْ الْمُضَارِبِ وَرَبِّ الْمَالِ مِنْ الرِّبْحِ جُزْءًا شَائِعًا، نِصْفًا أَوْ ثُلُثًا أَوْ رُبْعًا، فَإِنْ شَرَطَا عَدَدًا مُقَدَّرًا بِأَنْ شَرَطَا أَنْ يَكُونَ لِأَحَدِهِمَا مِائَةُ دِرْهَمٍ مِنْ الرِّبْحِ أَوْ أَقَلُّ أَوْ أَكْثَرُ وَالْبَاقِي لِلْآخَرِ لَا يَجُوزُ، وَالْمُضَارَبَةُ فَاسِدَةٌ؛

(بدائع الصنائع ج ۶ ص ۸۵ فصل واما شرائط الركن / البحرالرائق ج ۷ ص ۲۶۴ كتاب المضاربة / الفتاوى الهندية ج ۴ ص ۲۸۷ مكتبه رشيديه / الهداية ج ۳ ص ۲۵۶ كتاب المضاربة / فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۳۲۶ پښتو)

باب الحواله

پر حوالې باندي کميشن اخيستل څنګه دي ؟

سوال ۱: نن سبا دحوالې کاروبار روان دی يو تجار چي يو ملک ته ولاړ سي نو بيا دبل ملک څخه خلګ پيسې ورته حواله کوي او بيا پر دغه حواله کولو باندي خپل کميشن اخلي ايا داسي حواله رواه ده که يآ ؟

جواب : حضرت مولانا مفتي عبدالرزاق کدنوي صاحب په فتاوی هاديه ج ۲ ص ۴۰۵ کښي ودغه سوال ته داسي جواب ويلی دی :لکه څنګه چي دفتاواوو څخه معلوميږي چي حواله کول پر دغه طريقه باندي نه ده جائز . البته بعضي علماوو بيا حيلې ورته جوړي کړي دي (جائز يې بللې ده) او بعض علماء بيا فرمايي چي نه ده رواه.

(دی ليکي) چي زموږ ددارالافتاء نظر دادی چي حواله دعموم بلوی (چي خلګ نن سبا ډير په دغه کاروبار باندي اخته دي) دوجي دضرورت له کبله موږ دفتاوی عصر تائيد کوو (چي رواه ده) په فتاوی عصر کښې داسي حوالې ته جائزه ويلې ده .

او فتاوی عصر د(الفقهُ الاسلامِي وَادِلّتُهُ)دمؤلف فتاوی ده چي په دکتور وهبة الزحيلي سره شهرت لري . والله اعلم بالصواب .

اما حكم الحوالات المصرفية ؟ جائزة وتتضمن عقدين والقبض الحكمي يحل محل القبض العرفى . قال المفتي عبد الرزاق الكدنوي : وعندي هذالحوالة جائزة ان لم يكن فيه الربا ظاهر . وفى الفقه الاسلامي وادلته : السفاتج: هي كما بينت في بحث القرض جمع سُفْتَجة: وهي الورقة. وهي أن يدفع امرؤ إلى تاجر مبلغاً قرضاً ليدفعه إلى صديقه في بلد آخر ليستفيد به سقوط خطر الطريق. وهذا مكروه تحريماً عند الحنفية؛ لأنه في الحقيقة قرض استفاد به المقرض أمن خطر الطريق. وهو نوع من النفع المستفاد على حساب القرض، وقد نهى رسول الله صلّى الله عليه وسلم عن قرض جر نفعاً . وكراهة هذا التصرف ناشئة عما إذا كان أمن خطر الطريق مشروطاً. فإذا تم القرض دون أن يشترط المقرض في عقد القرض دفع المال في بلد آخر بالحوالة ونحوها، جاز القرض. ويجوز أيضاً إذا دفع المال إليه أمانة لتسليمها في بلد آخر.

(فتاوى عصر ص ۱۴۱ فتاوى هاديه لمفتي عبدالرزاق الكدنوي ج ۲ ص ۴۰۵ مكتبه حقانيه)

باب الامانات

امانت روپي يو ځا دخپلو روپو سره ګډي کړلي .

سوال ۱: يو کس ماته ۲۰۰۰۰ روپی امانت راکړې ما هغه روپی دخپلو ۱۵۰۰۰۰ روپو سره ګډې کړې بيا مي دوو جيبونو ته واچولې پرلاري نيمی غلو راڅخه واخيستلې او نيمی پاته سوې ايا اوس ددغه سړي دپيسو ضمانت پرما باندي سته که يا ؟

جواب : دامام ابو حنيفةرحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد ابن حنبل رحمة الله عليه مذهب دادی چي که چيري هغه کس چي هغه شی امانت ورسره پروت وي راولاړسي دغه امانت شی يا په خپل مال سره ګډ کړي يا يي دبل دماله سره ګډ کړي په داسي شکل سره چي بيا ددوی جلا کول سره مشکل وي نو ضمان يي پر دغه کس دی چي تصرف يي په کښې وکړی بيا نو برابره خبره ده که يي دخپل هم مثله مال سره ګډ کړی وي يا ترهغه داعلی سره يا ترهغه دادنی مال سره ګډ

کړی وي او که يي د جنسه څخه وي او که د غير جنس څخه وي ځکه چي دی حکماً هلاک کوونکی ګڼل کيږي .

لما فی الموسوعة الفقهية الكويتية : الوديع اذاخلط الوديعة بماله اوبغيرماله على وجه يتعسر معه تمييز المالين عن بعضهما فعليه ضمانها سوآء خلطها بمثلها اودونها او اجود منها ، من جنسها اوغيره ......

(الموسوعة الفقهية ج ۴۳ ص ۴۶ مکتبه حقانيه / بدائع الصنائع ج ۶ ص ۲۱۳ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۴ ص ۳۴۸ مکتبه رشيديه / ردالمحتار ج ۷ ص ۴۹۷ مکتبه رشيديه)

امانت پيسې ديو کس څخه ورکي سوې

سوال ۲: ما د يو چا سره روپۍ امانت کښېښنولې اوس هغه کس راته وايي چي ما ستا روپۍ کورته په محفوظ ځای کښي ايښي وې د حفاظت باوجود هغه غلا سوې اوس پر دغه کس باندي زما د پيسو حق سته که يا ؟

جواب: دغه پيسې امانت دي که چيري په حقيقت سره ده ستا د پيسو حفاظت کړی وي او بيا هم غلا سوي وي نو يې حق نسته ليکن امانت داسي کس ته سپارل په کار دی چي ستا د اعتماد سړی وي سل په سل کي ځکه چي نتيجه يې بيا وروسته بد ګماني او جنجال دی.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَاشْتِرَاطُ الضَّمَانِ عَلَى الْأَمِينِ) كَالْحَمَّامِيِّ وَالْخَانِيِّ (بَاطِلٌ بِهِ يُفْتَى) خُلَاصَةٌ وَصَدْرُ الشَّرِيعَةِ.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۴ ص ۵۵۱ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۳ ص ۵۶۷ مکتبه رشيديه / الموسوعة الفقهية ج ۲۸ ص ۲۲۹ فتاوی محموديه ج ۱۶ ص ۵۲۵ اردو / احسن الفتاوی ج ۸ ص ۵۱۰ اردو / بدرالفتاوی ص ۲۵۶ پښتو)

باب الضمان

د کوچني والي دوخت دغلاوو ضمان سته که يا ؟

سوال ۱ : دماشومتوب دزمانې يعني تربلوغ مخکښي دګناهونو او دغلاوو حساب به دقيامت په ورځ کيږي که يا ؟ او ضمان يې سته که يا ؟

جواب : پرماشومانو باندي ګناه نسته البته دغلا د مقدار ضمان دهغوی په مال کښې لازم دی باید خپل ومالک ته يې ضمان رد کړل سي او که يې مالک نه وو نو دي دهغه پرنامه باندي خیرات کړل سي او که وروسته بیا مالک پیدا سو بیا بیرته به هغه ته دوباره ضمان ورکوي .

(فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۵۲۹ کتاب الضمان والودیعة مکتبة الفاروق اردو)

که دموټر دچلوونکي دغفلت دوجي څخه سامان ضایع سي نو ضمان يې سته .

سوال ۲ : څه فرمايي علماء دین متین په دغه ذکر سوې مسئله کښې زید یو کاټن سامان وعمر ته په کابل کښې په لاس ورکړی چي دا به تر هلمنده پوري دکرايي او پیسو په بدل کښې ورسوې او عمر ځني قبول هم کړی په لاره کښې دعمر دغفلت او سستۍ دوجي څخه هغه کاټن او سامان شوه سو ضائع سو . پوښتنه داده چي ایا زید پر عمر باندي ددغه شي دضمان حق لري که یا ؟ .

جواب : که چیري صورت حال هم داسي وي لکه څنګه چي په سوال کښې لیکل سوی دی نو دضایع سوي شي ضمان دموټر پر مالک باندي سته چي دمال وخاوند ته به يې ورکوي .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله فى ردالمحتار : وَكَذَا يَضْمَنُ بِانْقِطَاعِ الْحَبْلِ الَّذِي يَشُدُّ بِهِ الْمُكَارِي كَمَا فِي الْكَنْزِ وَالْمُلْتَقَى، وَلَوْ كَانَ الْحَبْلُ لِصَاحِبِ الْمَتَاعِ فَانْقَطَعَ لَا يَضْمَنُ كَذَا فِي التتارخانية . وفى تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق : (وَمَا تَلِفَ بِعَمَلِهِ كَتَخْرِيقِ الثَّوْبِ مِنْ دَقِّهِ وَزَلْقِ الْحَمَّالِ وَانْقِطَاعِ الْحَبْلِ الَّذِي يُشَدُّ بِهِ الْحِمْلُ وَغَرَقِ السَّفِينَةِ مِنْ مَدِّهَا مَضْمُونٌ)

(ردالمحتار علي صدر الدرالمختار ج۵ص ۴۶ باب ضمان الاجیر مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندية ج۴ ص ۵۰۱ باب ضمان الاجیر مکتبه رشیدیه / الهداية ج ۳ ص ۳۰۷ باب ضمان الاجیر مکتبه حنفیه / تبیین الحقائق ج۶ ص ۱۳۹ باب ضمان الاجیر مکتبه اشرفیه / البحر الرائق ج۸ ص ۴۸ باب ضمان الاجیر مکتبه رشیدیه)

باب الاجارة

لو یوخروار په شل منه باندي ریبل او لوکول شرعا درست دی که یا ؟ .

سوال ۱ : که چیري یو کس دیو چا لو ونیسي پر داسي طریقه باندي چي خروار په شل منه درته ریبم پر دغه طریقه باندي لو کول شرعا درست او رواه دی که یا ؟ . دا خو به په قفیز طحان معامله کښې نه راځي ؟ .

جواب : دغه ډول اجاره فاسده ده. ولي چي دغه ډول اجاره په مثل داجارې دقفیز الطحان ده . په حدیث شریف کښې دداسي اجارې څخه منع راغلې ده . نو هر هغه اجاره چي په مثل دقفیز الطحان وي هغه فاسده ده .

دقفیز الطحان اجاره څه ته وایي؟ . دقفیز الطحان اجاره دې ته وایې چي یوڅوک د ژرندي مالک ته غنم د وړو کولو لپاره په اجاره ورکړي اجرت او مزدوري په همدغه وړو کښې متعینه کړي ، مثلا شلمه حصه له اوړو څخه واخلي او علت د فساد یي دادی چي تر څو چي دغه دغنمو خاوند غنم اوړه نه کړي نو ژرندي والا ته داجرت او مزدورۍ ورکولو قدرت نه لري . یعني په قدرت دغیر سره دی قادر سو . او حال دادی چي شخص په قدرت د غیر قادر نه بلل کیږي نو چي مستاجِر (وړو والا) داجرت پر تسلیمېدو قدرت ونه لري اجاره فاسده ده .

ددغه ډول اجارې ډیر امثال او نظائر په شریعت کښې موجود دي لکه یو څوک قصاب ته یو حیوان ددې لپاره ورکړي چي قصاب یې ذبح کړي او خرڅ یې کړي او په اجرت کي ددغه حیوان څرمن او څه قدري روپۍ یا یو څه معینه اندازه ددغه حیوان غوښي ورکړي.

اوس سوال دادی چي په مذکوره فاسدو اجاروکي به د اصلاح طریقه شرعا څه ډول جوړیږي؟ چي رواه او جائز وګرځي .

جواب دادی : په قفیز الطحان کښې د اصلاح طریقه داده چي د ژرندي مالک ته اجرت او مزدوري له غنمو څخه ورکړل سي نه له اوړو څخه او یا دي نغدي روپۍ ورکړل سي ،او همداشان دلو کولو په صورت کښې دي غنم ورکړي لیکن د غنمو په

صورت کي به د دغه درمند او د دغه ریبل سوو غنمو ورکول په اجرت او مزدوري کښې نه شرط کوي چي خامخا به د دغه ریبل سوو غنمو څخه ستا مزدوري درکوم. وروسته که بیا د دغه درمند غنم په اجرت کي ورهم کړي باک نه لري او د قصاب په اجاره کي دي اجرت او مزدوري په نغدو روپو سره معلومه کړی، وروسته که قصاب څرمن یا غوښو ته ضرورت ولري د هغو روپو په عوض کښې د ي څرمن یا غوښې ځني واخلي مشکل نسته. والله اعلم.

خلاصه دا چي که چیري دغه لوګري دا شرط کښېښوو ی چي د دغه رېبل سوو غنمو څخه زه خپل مزدوري غواړم نو نه ده رواه. او که یې مطلق وویل چي زه خروار په شل منه رېبم دا یې و نه ویل چي د دغه رېبل سوو غنمو څخه یې غواړم نو بیا دغه لوګري او معامله رواه ده.

"وفى الهداية : ومن دفع إلى حائك غزلا لينسجه بالنصف فله أجر مثله. وكذا إذا استأجر حمارا يحمل طعاما بقفيز منه فالإجارة فاسدة"؛ لأنه جعل الأجر بعض ما يخرج من عمله فيصير في معنى قفيز الطحان، وقد نهى النبي صلى الله عليه وسلم عنه، وهو أن يستأجر ثورا ليطحن له حنطة بقفيز من دقيقه. وهذا أصل كبير يعرف به فساد كثير من الإجارات، لا سيما في ديارنا، والمعنى فيه أن المستأجر عاجز عن تسليم الأجر وهو بعض المنسوج أو المحمول. إذ حصوله بفعل الأجير فلا يعد هو قادرا بقدرة غيره.

(الهداية باب الاجارة الفاسدة ج ۳ ص ۲۴۰ مکتبه شامله بیروت / الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۴۴۵ العناية علي هامش فتح القدير ج۵ ص ۴۹ / خلاصة الفتاوى ج ۳ ص ۱۱۳ / اصلاح العادات ص ۵۷۹تا ۵۸۲ / سراج الساری ص ۲۲۷)

سلمان (نایي) ته دوکان په کرایه ورکول حال دا چي هغه د خلګو ږیري په کښې خریي.

سوال ۲ : سلمان او نایي ته دوکان په کرایه ورکول شرعا رواه دی که یا ؟ او حال دا چي زموږ په دې باندي یقین دی چي په دغه دوکان کښې د خلګو ږیري ورخریي او ږیره خریل د دین اسلام د نګاه څخه حرام عمل دی ایا پر ناروا عمل باندي دیو مسلمان کومک کول نه دي ؟.

جواب : که چیري د دوکان مالک ته دا یقین وي چي دغه سلمان (نایي) دغه زما دوکان د دې د پاره په کرایه نیسي چي د خلګو ږیري په کښې وخریي نو په دا سي صورت کښې په کرایه ورکول نه دی رواه . ځکه چي په دي کښې اعانت علی الاثم (د ګناه په کار کښې کومک کول) لازمیږي کوم چي شرعا منع دی . دا ځکه چي د ږیري خریېل په دین اسلام کښې د فسق عمل بلل سوی دی کوم چي حرام او ناروا ه دی .

لما قال العلامة علاء الدين الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : فَإِذَا ثَبَتَ كَرَاهَةُ لُبْسِهَا لِلتَّخَتُّمِ ثَبَتَ كَرَاهَةُ بَيْعِهَا وَصِيَغِهَا لِمَا فِيهِ مِنْ الْإِعَانَةِ عَلَى مَا لَا يَجُوزُ وَكُلُّ مَا أَدَّى إلَى مَا لَا يَجُوزُ لَا يَجُوزُ وَتَمَامُهُ فِي شَرْحِ الْوَهْبَانِيَّةِ .... (وَ) جَازَ (بَيْعُ عَصِيرِ) عِنَبٍ (مِمَّنْ) يُعْلَمُ أَنَّهُ (يَتَّخِذُهُ خَمْرًا) لِأَنَّ الْمَعْصِيَةَ لَا تَقُومُ بِعَيْنِهِ بَلْ بَعْدَ تَغَيُّرِهِ وَقِيلَ يُكْرَهُ لِإِعَانَتِهِ عَلَى الْمَعْصِيَةِ

وقال الله تعالى فى القرآن الكريم : وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (۲) سورة المآئدة .

(الدرالمختار ج ۶ ص ۳۶۰ فصل في اللبس كتاب الحظر والاباحة مكتبه شامله / فصل في البيع ج ۶ ص ۳۹۱ كتاب الحظر والاباحة مكتبه شامله / فتاوی رحیمیه ج ۹ ص ۲۹۲ كتاب الاجارة سورة المائدة پاره ۷ آیت نمبر ۲ / فتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۱۱۰ باب الاستيجار علي المعاصي / جدید فقهي مسائل ج ۱ ص ۴۱۰ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۷ ص ۱۷۳)

دټاکلي وخت څخه که مخکي کرایه والا سرای پریږدي نو پاته کرایه به هم ورکوي ؟

سوال ۳ : که چیري یو کس د بل کس څخه یو سرای دیوه کال د پاره په کرایه واخلي وخت او نېټه هم مقرره سی بیا دیوه صحیح عذر او مشکل په خاطر کرایه والا هغه سراي درې میاشتي وروسته پریږدي نو اوس د سرای مالک د پاته نهه میاشتي وخت د کرایې حق پر لري که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي د معاهدې او وعدې پر اساس د سرای مالک د ټول وخت د کرایې حقداره دی لیکن د شرعي او صحیح عذر پر بنا باندي د سرای تر خالي کولو وروسته د سرای مالک د کرایې حقداره نه دی او نه یې هم وصولولای

سي . لما قال اشرف علی تهانوي رحمه الله تعالی : دغه خالي کول که چیري د عذر دوجي وي نو ټوله کرایه به نه وصولوي او که نه نو بیا به یې وصولوي .

لما قال العلامة علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ۵۹۳هـ) فی الهداية في شرح بداية المبتدي : ومن استأجر دارا فوجد بها عيبا يضر بالسكنى فله الفسخ"؛ لأن المعقود عليه المنافع، وأنها توجد شيئا فشيئا فكان هذا عيبا حادثا قبل القبض فيوجب الخيار كما في البيع، ثم المستأجر إذا استوفى المنفعة فقد رضي بالعيب فيلزمه جميع البدل كما في البيع، وإن فعل المؤجر ما أزال به العيب فلا خيار للمستأجر لزوال سببه.

(الهداية ج ۳ ص ۲۴۷ كتاب الاجارة باب فسخ الاجارة مكتبه شامله / امدادالفتاوی ج ۳ ص ۳۸۷ كتاب الاجاره / فتاوی حقانيه ج ۵ ص ۲۶۹ كتاب الاجارة / العناية شرح الهداية ج ۹ ص ۱۴۴ باب فسخ الاجارة مكتبه شامله / البناية شرح الهداية ج ۱۰ ص ۳۴۱ باب فسخ الاجارة مكتبه شامله)

د شرابو د تجارت لپاره دوکان په کرایه ورکول .

سوال ۴ : یو مسلمان او هندو د شرابو په تجارت سره شریکان دي العیاذ بالله د شرابو تجارت او کاروبار کوي که چیري یو کس خپل دوکان د دغه مسلمان شریک هندو ته په کرایه ورکړي ایا د دغه دوکان مالک په دغه ورکولو سره شرعاً ګنهګاره کیږي که یا ؟

جواب : د مسلمان لپاره د شرابو تجارت حرام دی په هیڅ حال کي یې د روا کیدو ګنجایش نسته د هندو سره د شراکت له وجهې د دغه ګناه نه ختمیږي . د شرابو د فروخت او خرید لپاره مسلمان یا د مسلمان شریک ته دوکان په کرایه ورکول مکروه تحریمي دی البته وغیر مسلم ته خاص د هغوی د خپل تجارت لپاره دوکان په کرایه ورکړه سي که هغه شراب په کښي خرڅ کړي نو مضایقه او منع یې نسته.

لما فی الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (و) بطل (بيع مال غير متقوم) أي غير مباح الانتفاع به ابن كمال فليحفظ (كخمر وخنزير وميتة لم تمت حتف أنفها) وفی ردالمحتار تحت قوله :وميتة لم تمت حتف أنفها) هذا في حق المسلم، أما الذمي ففي رواية بيعها

صحيح.

وفي الفتاوى الهندية : ويكره أن يؤاجر نفسه منهم لعصر العنب ليتخذوا منه خمرا. كذا في الحاوي للفتاوى.

وفي الدرالمختار : (و) جاز تعمير كنيسة و (حمل خمر ذمي) بنفسه أو دابته (بأجر) لا عصرها لقيام المعصية بعينه (و) جاز (إجارة بيت........ (ليتخذ بيت نار أو كنيسة أو بيعة أو يباع فيه الخمر) وقالا لا ينبغي ذلك لأنه إعانة على المعصية

وفي الفتاوى الهندية : إذا استأجر الذمي من المسلم بيتا ليبيع فيه الخمر جاز عند أبي حنيفة – رحمه الله تعالى – خلافا لهما. كذا في المضمرات.

(ردالمحتار علي الدرالمختار جلد ۵ ص ۵۶ ، ۵۵ مطلب في بيع المغيب في الأرض مكتبه شامله /الدرالمختار ج ۶ ص ۳۹۱ فصل في البيع / الفتاوى الهندية : جلد ۴ ص ۴۵۰ الباب السادس عشر في مسائل الشيوع في الإجارة / ج ۴ ص ۴۴۹ مكتبه رشيديه / كفايت المفتي جلد ۱۱ ص ۴۷۹ ما يتعلق بالاجارة الفاسدة اردو)

دقرآن كريم پرختم او تلاوت كولو باندي اجرت اومزدوري اخيستل نه د رواه .

سوال۵: د ثواب دايصال او د مړي وروح ته د رسولو او بخښلو لپاره قرآنكريم په يو چاباندي ويل او بيا دهغه تلاوت په عوض كي روپي او مزدوري وركول جواز لري كه يا؟

جواب: دايصال ثواب لپاره قرآن مجيد په خلكو او قاريانو ويل او بيا ددغه ويلو په عوض كښي ويونكو ته څه روپۍ اوسوغاتونه وركول داكار شرعاً نه دى روا البته كه يې د تبرك په ډول څه شي وركړى بيا مباح دى مګر په دې شرط چي ويونكي د قرآن كريم دختم زړه تنګى نه سي او شكايت ونه كړي او په هغه منطقه او علاقه كښې دا وركړه د روپو او سوغاتو او تحفو معروفه او مشهوره هم نه وي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : قال تاج الشريعة في شرح الهداية: إن القرآن بالأجرة لا يستحق الثواب لا للميت ولا للقارئ. وقال العيني في شرح الهداية: ويمنع القارئ للدنيا، والآخذ والمعطي آثمان. فالحاصل أن ما شاع في زماننا من قراءة الأجزاء بالأجرة لا يجوز؛ لأن فيه الأمر بالقراءة وإعطاء الثواب للآمر والقراءة

لأجل المال؛ فإذا لم يكن للقارئ ثواب لعدم النية الصحيحة فأين يصل الثواب إلى المستأجر ولولا الأجرة ما قرأ أحد لأحد في هذا الزمان بل جعلوا القرآن العظيم مكسبا ووسيلة إلى جمع الدنيا – إنا لله وإنا إليه راجعون – اهـ................. وإن من غير شرط فهو لها: قال الإمام الأستاذ لا يطيب، والمعروف كالمشروط اهـ. قلت: وهذا مما يتعين الأخذ به في زماننا لعلمهم أنهم لا يذهبون إلا بأجر ألبتة ط.

ردالمحتار علي الدرالمختار ۶ ص ۵۶ ، ۵۵ کتاب الاجارة مطلب في الاستيجار علي المعاصي مکتبه شامله / کفايت المفتي ج ۱۱ ص ۵۲۲ ما يتعلق بالاستيجار علي التلاوة مکتبة جامعه فاروقيه / قواعد الفقه رقم المادة ۳۳۴ ص ۱۲۵ / ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۶ ص ۵۷ باب الاجارة الفاسدة مکتبه شامله)

د څو کالو یا څو میاشتو پیشکي کرایه اخستل

سوال ۶: یو کس بل شخص ته سراي په کرایه ورکوي د سراي مالک وکرایه دار ته وایي که کرایه میاشت پرمیاشت راکوي دا سراي د میاشتي په دري زره درکوم او که د پنځو میاشتو کرایه پریوه ځاي راکوي نو بیا یي د میاشتي په دوه زره درکوم هغه هم په خپله خوښه د پنځو میاشتو کرایه پریوه ځاي ورکړه ایا دغه پیشګي کرایه پریوه ځای وصول کول په شریعت کښي روا ښت لري که یا؟

جواب: پر دغه مذکوره صورت باندي معامله کول که یي په میاشتانه راکوي په دري زره دی او که د پنځو میاشتو ده پریو ځاي راکوي په دوه زره دی دغه معامله که چیري په یو وخت او یو مجلس کي وسي او دا کرایه د طرفینو په خوښه سره وصول سي روا ده، خلاصه دا چي پیشګي کرایه اخستل روا ده دي چي نیټه یي معلومه وي او کرایه یي معلومه وي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (و) اعلم أن (الأجر لا يلزم بالعقد فلا يجب تسليمه) به (بل بتعجيله أو شرطه في الإجارة) المنجزة .

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله لا يلزم بالعقد) أي لا يملك به كما عبر في الكنز؛ لأن العقد وقع على المنفعة وهي تحدث شيئا فشيئا وشأن البدل أن يكون مقابلا للمبدل، وحيث لا يمكن استيفاؤها حالا لا يلزم بدلها حالا إلا إذا

شرطه ولو حكما بأن عجله؛ لأنه صار ملتزما له بنفسه حينئذ وأبطل المساواة التي اقتضاها العقد فصح

(الدرالمختار مع ردالمحتار كتاب الاجارة ج۶ ص ۱۰ شروط الاجارة مكتبه شامله / البحر الرائق ، كتاب الاجارة ج۸ ص ۷ مكتبه رشيديه / النتف في الفتاواي ص ۳۴۱ كتاب الاجارة ، انواع الاجرة بيروت چاپ / كفايت المفتي جلد ۷ ص ۴۷۳ ما يتعلق بالاجارة الصحيحة اردو جامعه فاروقيه چاپ)

دکرايه دار څخه تروخت مخکې سراي اخستل

سوال ۷: يو سړي خپل سرای و احمد ته د مياشتي په پنځه زره په کرايه ورکړی دی او س سرای والا را ولاړ سو احمد ته يي لس زره روپۍ په شکل د رشوت ورکړي چي زما سرای را خالي کړه زما په کار دی هغه هم روپۍ واخيستې او سراي يي ور خالي کړی پوښتنه داده چي د سراي مالک ګنهګاره دی که کرايه دار او که دواړه ګناهکاره دي ؟

جواب: که چيري د سرای مالک دغه سرای د خپل ذاتي ضرورت لپاره د کرايه دار څخه خالي کړی چي خپله يې ضرورت ورته درلودی او بيا يې د قانوني مجبورۍ له وجي څخه و کرايه دار ته څه روپۍ ورکړې او هغه هم دغه روپۍ څني واخيستې نو مالک نه دی ګنهګاره ځکه چي مجبوره ؤو او کرايه دار ګنهګاره دی چي دا روپۍ يي واخيستې او که د سرای مالک د کرايي د لوړ والي په خاطر تروخت مخکې سرای په ده باندي خالي کړی نو بيا دواړه ګنهګاره دي.

لما فى الدرالمختار مع ردالمحتار : الرابع: ما يدفع لدفع الخوف من المدفوع إليه على نفسه أو ماله حلال للدافع حرام على الآخذ؛ لأن دفع الضرر عن المسلم واجب ولا يجوز أخذ المال ليفعل الواجب، اهـ

وفى الفتاوى الهندية : الاجارة تنقض بالاعذار : وإذا تحقق العذر ومست الحاجة إلى النقض هل يتفرد صاحب العذر بالنقض أو يحتاج إلى القضاء أو الرضاء اختلفت الروايات فيه والصحيح أن العذر إذا كان ظاهرا يتفرد، وإن كان مشتبها لا يتفرد. كذا في فتاوى قاضي خان

(ردالمحتار کتاب القضاء ج ۵ ص ۳۶۲ مطلب في الکلام علي الرشوة والهدية / کفايت المفتي ج ۱۱ ص ۵۰۵ ما يتعلق بفسخ الاجارة اردو جامعه فاروقيه / الفتاوی الهندية کتاب اداب القاضي ج ۳ ص ۲۳۱ مکتبه رشيديه / البحر الرائق کتاب القضاة ج ۶ ص ۴۴۱ رشيديه)

کرايه دار دکرايې سرای، يادوکان بل چاته په کرايه نسي ورکولای.

سوال۸: يوکس کرايه دار دی په يوه دوکان کښې کاروبار کوي او په دوه زره روپۍ يې دغه دوکان دمېاشتي کاريه کړی دی دی راولاړيږي دغه دوکان وبل چاته په درې زره روپۍ ورکوي پرخپل سرباندي ايا داسي معامله شرعا رواه ده که يا ؟

جواب: فقهاء کرامو په دغه مسئله کي څه قدرې او اندازه تفصيل ليکلی دی .هغه دا چي کرايه دارکه چيري دکرايې سرای دمالک په اجازه سره په کرايه باندي بل چاته ورکړي نو روادی که ګران وي که ارزانه وي ځکه چي هغه په خبر دی او دهغه په اجازه سره دی . او که چيري دغه کرايه دار دغه سرای يا دوکان ببله اذنه دمالک او بې له ممانعت صريحه په کرايه ورکړی که چيري د اول کرايه دار او دوهم کرايه دار داستعمالولو په طرز او طريقه کي فرق نه وو نو هم روادی ، او که چيري دوهمه کرايه داولي کرايې په اندازه وه يا تر هغې کمه وه نو هم رواه ده دغه معامله ، او که چيري اول کرايه دار دخپل طرفه څخه په مستاجره او دکرايې په سرای يا دوکان کي زياتت شيان دښايست يا دمحکموالي لګولي وه لکه فرش ، الماري وغيره نو بيا که يې کرايه تر اولي کرايې زياته وي هم روا دی .

او که يې هيڅ هم نه وه زياتت کړي په دغه دوکان او سرای کي او تر اولي کرايې ګران ورکوي نو بيا دغه زياته کرايه و دته نه ده رواه . والله اعلم بالصواب .

لما فی الفتاوی الهندية : الأصل عندنا أن المستأجر يملك الإجارة فيما لا يتفاوت الناس في الانتفاع به. كذا في المحيط............... وإذا استأجر دارا وقبضها ثم آجرها فإنه يجوز إن آجرها بمثل ما استأجرها أو أقل، وإن آجرها بأكثر مما استأجرها فهي جائزة أيضا إلا إنه إن كانت الأجرة الثانية من جنس الأجرة الأولى فإن الزيادة لا تطيب له ويتصدق بها، وإن كانت من خلاف جنسها طابت له الزيادة ولو زاد في الدار زيادة كما لو وتد فيها وتدا أو حفر فيها بئرا أو طينا أو أصلح أبوابها أو شيئا من حوائطها طابت له الزيادة،

(الفتاوی الهندية ج ۴ ص ۴۲۵ کتاب الاجارة الباب السابع مکتبه رشيديه / ردالمحتار علي الدرالمختار کتاب الاجارة ج ۶ ص ۲۸ ، ۲۹ مکتبه شامله / کفايت المفتي ج ۱۱ ص ۴۷۱ ما يتعلق بالاجارة الصحيحة مکتبه فاروقيه اردو / البحر الرائق کتاب الوديعة ج ۷ ص ۴۶۶ مکتبه رشيديه)

باب الغصب

غاصب دغصب پر مځکه باندي سرای جوړ کړی وروسته يې اصلي مالک پيدا سو

سوال ۱ : که چيري يو غاصب کس چي مځکه يې غصب کړې وي بيا پر هغې مځکه باندي سرای جوړ کړي او وروسته دهغه مځکي مالک پيدا سي اوس ددغه سرای په هکله پوښتنه ده چي بايد ونړول سي او که دمځکي مالک وهغه غاصب ته ددې سرای قيمت ورکړي دشريعت فيصله څه ده .

جواب : دمځکي غصب کول شرعا کبيره ګناه ده دغه مځکه به تر اووم تخته مځکي پوري ددغه غاصب دغاړي طوق جوړه سي . دغاصب پر ذمه باندي شرعا لازمه ده چي مځکه واصلي مالک ته ورخالي کړي خپل سرای ونړوي يا يې قيمت دمځکي دمالکه څخه واخلي که چيري هغه راضي وو رانيولو ته يې البته په زور او جبر سره غاصب دا حق نه لري چي خپل سرای پر اصلي مالک خرڅ کړي او قيمت يې واخلي .

لما فی الدرالمختار مع ردالمحتار : (وَمَنْ بَنَى أَوْ غَرَسَ فِي أَرْضِ غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ أُمِرَ بِالْقَلْعِ وَالرَّدِّ) لَوْ قِيمَةُ السَّاحَةِ أَكْثَرَ كَمَا مَرَّ (وَلِلْمَالِكِ أَنْ يَضْمَنَ لَهُ قِيمَةَ بِنَاءٍ أَوْ شَجَرٍ أَمَرَ بِقَلْعِهِ ان نقصت الارض .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۱۹۴ ، ۱۹۵ کتاب الغصب مکتبه شامله / شرح المجلة لسليم رستم باز ص ۲۰۵ رقم المادة ۹۰۶ مکتبه حتفيه / البحرالرآئق ج ۸ ص ۲۱۳ کتاب الغصب رشيديه / تبيين الحقائق ج ۶ ص ۳۲۹ کتاب الغصب دارالکتب العلمية / فتاوی محموديه ج ۱۷ ص ۱۴۳ کتاب الغصب)

باب الشفعه

په کومو شرائطو شفعه رواده ؟

سوال ۱ : يو کس په کومو شرايطو سره شرعاً شفيع او شفع کوونکی جوړيدای سي ؟

جواب : د شفع د طلب لپاره شرعاً درې شرطونه ضروري دي .
اول : چه کله شفيع د خپل بغل او اړخ د سراى ، مځکي يا دوکان په خرڅېدو خبر سو نو طلب مواثبت دې وکړي يعنې فوراً دې دغه وايي چه زه د دغه سراى ، مځکې يا دوکان شفيع يم او شفعه کوم. دوهم : بيا دې پر دغه دعوى شاهدان هم ودروي د دې څخه وروسته دې خرڅونکي يا رانيونکي ته ورسي د شفع غوښتنه دې وکړي. دريم : د شاهدانو د درولو څخه وروسته دې دوخت حاکم ته ورسي د تمليک بالشفعة دعوى دې وکړي بېله عذره که چيرې دغه شفع کوونکي يوه مياشت دعوى ونه کړه نو مفتي به قول دادى چې شفع يې ساقطه او باطله سوله .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (وَهُوَ) يُسَمَّى (طَلَبَ الْمُوَاثَبَةِ) أَيْ الْمُبَادَرَةِ، وَالْإِشْهَادُ فِيهِ لَيْسَ بِلَازِمٍ بَلْ لِمَخَافَةِ الْجُحُودِ (ثُمَّ) يُشْهِدُ (عَلَى الْبَائِعِ لَوْ الْعَقَارُ (فِي يَدِهِ أَوْ عَلَى الْمُشْتَرِي وَإِنْ) لَمْ يَكُنْ ذَا يَدٍ لِأَنَّهُ مَالِكٌ أَوْ عِنْدَ الْعَقَارِ (فَيَقُولُ اشْتَرَى فُلَانٌ هَذِهِ الدَّارَ وَأَنَا شَفِيعُهَا وَقَدْ كُنْت طَلَبْت الشُّفْعَةَ وَأَطْلُبُهَا الْآنَ فَاشْهَدُوا عَلَيْهِ، وَهُوَ طَلَبُ إشْهَادٍ) وَيُسَمَّى طَلَبَ التَّقْرِيرِ (وَهَذَا) الطَّلَبُ لَا بُدَّ مِنْهُ،

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۵ ص ۱۵۸ مكتبه رشيديه / الهداية ج ۴ ص ۳۹۰ ـــ ۳۹۲ مكتبه حنفيه / فتاوى قاضي خان ج ۴ ص ۴۴۶ مكتبه رشيديه / فتاوى مفتي محمود ج ۹ ص ۴۷۸ اردو)

شفعه يي په روپو پربښوول

سوال ۲ : که چيرې يو کس شفيع يعنې شفع کوونکى جوړ سو بيا دى راولاړ شو د هغه رانيونکي څخه يې څه روپى واخيستې او د روپو په مقابل کښې يې شفعه پريښودله ايا دغه روپى ده ته حلالى دى که يا؟

جواب : کوم کس چې د پيسو په مقابل کښې شفعه پرېږدي د هغه کس شفعه باطله ده ، او پيسې اخيستل ورته حرامي دي .

لماقال علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ۵۹۳هـ) في الهداية وإن صالح من شفعته على عوض بطلت شفعته ورد العوض" لأن حق الشفعة ليس بحق متقرر في المحل، بل هو مجرد حق التملك فلا يصح الاعتياض

عنه، ولا يتعلق إسقاطه بالجائز من الشرط فبالفاسد أولى فيبطل الشرط ويصح الإسقاط وكذا لو باع شفعته بمال لما بينا،

(الهداية ج ۴ ص ۴۰۴ مكتبه حنفيه / فتح القدير ج ۸ ص ۳۳۶ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۸ ص ۲۵۵ مكتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ۴ ص ۱۲۲ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۱۸۴ مكتبه رشيديه)

متفرقات البيوع

دروا غ ويل او په درواغو معامله شرعا حرامه ده .

سوال ۱ : که چيري يو دوکاندار په خپل دوکان کښې موجود وي خو دادبغل دوکاندار ومشتري ته ووايي چي هغه دوکاندار نسته دلته يې رانيسه ايا دا شرعا رواه کار دی کهیا ؟

جواب : داخو ښکاره خبره ده چي دادرواغ او دنابودي او بې بقا دنيا حرص دی او درواغ ويل شرعا کبيره ګناه ده دداسي فعل څخه توبه کښل په کار ده او دالله جل جلاله څخه بخښنه او استغفار غوښتل پکار دي . او په داسي ذرائعو سره نفقه حاصلول نفقه حراموي او دحرامې نفقې نتيجه داده چي الله جل جلاله يې په دې دنيا کښې عبادت او طاعت نه قبلوي او دآخرت دورځې درسوايي سبب هم ګرځي نو الله جل جلاله دي موږ او تاسوټولو ته هدايت رانصيب کړي

وَمِنْ الْكَبَائِرِ السِّحْرُ وَكِتْمَانُ الشَّهَادَةِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَالْإِفْطَارُ فِي رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَقَطْعُ الرَّحِمِ وَتَرْكُ الصَّلَاةِ مُتَعَمِّدًا وَمَنْعُ الزَّكَاةِ وَنِسْيَانُ الْقُرْآنِ وَسَبُّ الصَّحَابَةِ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ – وَالْخِيَانَةُ فِي الْكَيْلِ وَالْوَزْنِ وَأَخْذُ الرِّشْوَةِ وَضَرْبُ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ وَامْتِنَاعُ الْمَرْأَةِ عَنْ زَوْجِهَا بِلَا سَبَبٍ وَالْوَقِيعَةُ فِي أَهْلِ الْعِلْمِ وَأَكْلُ الْمَيْتَةِ وَلَحْمِ الْخِنْزِيرِ بِغَيْرِ اضْطِرَارٍ وَالْوَطْءُ فِي الْحَيْضِ وَالْغِيبَةُ وَالنَّمِيمَةُ وَالْكَذِبُ وَالنِّيَاحَةُ وَالْحَسَدُ وَالْكِبْرُ وَتَرْكُ الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنْ الْمُنْكَرِ مَعَ الْقُدْرَةِ وَقَتْلُ الْوَلَدِ خَشْيَةَ أَنْ يَأْكُلَ مَعَهُ وَالْحَيْفُ فِي الْوَصِيَّةِ وَتَحْقِيرُ الْمُسْلِمِينَ وَالظِّهَارُ

وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالعَمَلَ بِهِ، فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ»رواه البخاری

وعَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ صِدِّيقًا، وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ كَذَّابًا» رواه مسلم

(الجوهرة النيرة ج ۲ ص ۲۳۱ بیروت چاپ / صحیح البخاري ج ۳ ص ۲۶ باب من لم یدع قول الزور والعمل به / صحیح مسلم ج ۴ ص ۲۰۱۲ باب قبح الکذب وحسن الصدق بیروت چاپ)

نقلي او جعلي شي په اصلي ور کول .

سوال ۲: ځیني کسان دغنمو د منډی داسي عمل کوي چي تر کمونستاني وړه ارزانه دي دوئ دغه وړه وهغه بوجیو ته اچوي چي پاکستاني دي او ګران دي، دغه ارزانه اوړه بیا په نامه د هغه ګرانو اوړو خرڅوي مثلا د اولس سوه (۱۷۰۰) اوړه په چم سره د دوو (۲۰۰۰) زرو په اوړو خرڅوي همداسي صورت دا مبارو (کود کیمیاوی) دی شریعت داسي عمل ته څه حکم او توصیه لري؟

جواب: په قرآن کریم کښي الله فرمائي (یا ایها الذینَ امَنُوا کُلُوا مِن طَیبَاتِ مَا رَزَقنکُم وَاعمَلُوا صَالِحًا، بل ځای فرمائي (یا ایُها الرسل کُلُوا مِنَ الطیبَاتِ وَاعمَلُوا صَالِحًا)

ژباړه: ای مسلمانانو زما درکړي حلاله روزي خورئ مرداره مه خورئ . او بل ځای بیا فرمایي چي دا خپل حلال رزق په خپل لاس سره مه مرداره وئ چي هلاکت دی او ځانونه قصدا وهلاکت ته مه غورځوئ (وَلا تُلقُوا بِاَیدِیکُم الالتهلُکَة) الایة.

په حدیث شریف کښي راځي (من غش فلیس منا) څوک چي زموږ سره چم کوي هغه زموږ څخه نه دی .

په بل حدیث شریف کښي راځي نبي کریم یو کس یاد کړئ چي اوږده سفرونه به کوي د تجارت لپاره سپیره سر پاش پاش وېښته ستړی په دوړو لړلیبه وي د سفر دستومانۍ او ستړیا څخه لاسونه به یې پورته کړي وي داسي به وایي چي خدایه دا خواست مي قبول کړه دا مي قبول کړه او چیري به دده خواستونه قبول سي دا ځکه

چي ډوډۍ يې حرامه ده چيښاک يې حرام دی او يوه سزاء د دې حرام خوره دا ده چي عبادت طاعت او دعاء به يې الله نه قبلوي اخته به وي بې ځايه.

بل حديث شريف دی: (التاجر الصدوق الامين مع الشهداء والنبيين والصديقين)

ترجمه: رشتيا امانت داره بې چمه او بې خيانته سوداګر به په ورځ د قيامت د انبياؤ شهداؤ او صديقينو په ډله کښي وي.

(سنن الترمذي ج ۳ ۵۰۷ مکتبه شامله / سنن الكبرى للبيهقي ج ۵ ص ۴۳۷ مکتبه شامله / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۲۴۳ / مرقات المفاتيح ج ۶ ص ۳۴ مکتبه حبيبيه / ردالمحتار ج ۴ ص ۱۶ مکتبه رشيديه)

خپل په دوکان کښې پټوان پر اوړه کوم بیا هغه خرڅوم دا څنګه کار دی.

سوال ۳: زه يو دوکاندار يم د ټوکرانو دوکانداري کوم ترتيب داسي دی چي زه په خپل دوکان کښې پټوان خرڅوم هغه پټوان ديو څه لږ وخت دپاره پر اوړه کوم بیا يې خرڅوم دغه پټوان پر اوړه کول زما دپاره رواه دي که يا؟ ځکه چي کوم کس دغه پټو رانيسي هغه خو دا ګمان کوي چي دا استعمال سوی نه دی بلکي نوی دکاټن دی. او حال دا چي هغه استعمال سوی دی.

جواب: که چيري ومشتري ته د خرڅولو په وخت کښې دغه دوکاندار ووايي چي ما دغه پټو پر اوړه کړی دی يعني استعمال کړی مي دی نو بيا خويې په خرڅولو کښې شرعا کوم حرج نسته. او که ده استعمال کړی وي او هغه ته يې دغير استعمالي په نامه ورکوي نو ښکاره خبره ده چي دا خو چم دی او چم شرعا منع دی دکوم منع چي ښکاره په احاديثو کښې راغلي ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا، فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ: «مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟ قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ، مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي.

(صحيح مسلم ج ۱ ص ۹۹ باب في النهي عن الغش والخدع بيروت چاپ / دليل الفالحين ج ۸ ص ۴۲۲ باب في النهي عن الغش والخدع / سنن ابن ماجة ج ۲ ص ۷۴۹ باب في النهي عن الغش والخدع / سنن الترمذی ج ۳ ص ۵۹۸ باب في النهي عن الغش والخدع)

دبیعانې ګرځول او خوړل رواه دي که یا ؟

سوال ۴: بعضي خلک د یو شي سودا سره وکړي رانیونکی د هغه شي تر قبضه کولو مخکي ۴۰۰۰ \ یا ۵۰۰۰\ روپۍ بیعا نه ورکړي او دا سره ووایي که چیري رانیوونکی پښېمانه سو نو بیعانه د خرڅوونکي سوله په شکل د جرم او سزا او که خرڅوونکی پښېمانه سو نو دوچنده بېعانه به رانیوونکي ته ورکوي آیا د پښېمانۍ په صورت کي بېعانه راګرځول د رانیونکي څخه وخرڅوونکي ته روا ده؟

جواب: د وعدې پورا کول پر داړو طرفونو لازم او واجب دي خرڅوونکی رانیوونکی و دغه ته مجبوره کولای سي چي هغه شی په قبضه کړي لیکن بېعانه راګرځول او خوړل د هره طرفه څخه چي وي ناروا ده شرعًا.

لماقال علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ۵۹۳هـ) وكل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لأحد المتعاقدين أو للمعقود عليه وهو من أهل الاستحقاق يفسده

(الهداية ج ۳ ص ۶۲ / اعلاء السنن ج ۱۲ ص ۶۰۲۳ / حجة الله البالغه ج ۲ ص ۷۸ / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۱۶۷ اردو / ستاسي مسائل او د هغوی حل ج ۷ ص ۱۱۳ اردو / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۱۲۹ بښتو)

تعمیر اوسرای په ټیکه اخستل څنګه دی

سوال۵: د سرای جوړول په ټیکه اخیستل چی د فایدې او نقصان دواړو احتمال په کښې وی جایز دی که یا ؟

جواب : دا سي طریقه یعني سرای او تعمیر په ټیکه اخیستل او ورکول دواړه جایز دي.

لمافي الهندية : اسْتَأْجَرَهُ لِيَبْنِيَ لَهُ حَائِطًا بِالْآجُرِّ وَالْجِصِّ وَعَلِمَ طُولَهُ وَعَرْضَهُ جَازَ. كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ.

وَلَوْ اسْتَأْجَرَهُ لِيَحْفِرَ لَهُ بِئْرًا أَوْ سِرْدَابًا لَا بُدَّ أَنْ يُبَيِّنَ الْمَوْضِعَ وَطُولَ الْبِئْرِ وَعُمْقَهُ وَدَوْرَهُ وَفِي السِّرْدَابِ يُبَيِّنُ طُولَهُ وَعَرْضَهُ وَعُمْقَهُ. كَذَا فِي الْغِيَاثِيَّةِ

(الفتاوی الهندية ج ۴ ص ۴۵۱ مکتبه رشیدیه / بزازیه علي هامش الهندية ج ۵ ص ۷۴ مکتبه رشیدیه / النتف في الفتاوی ص ۳۳۸ / امدادالفتاوی ج ۳ ص ۳۴۳ اردو / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۵۷۱ اردو)

دچم او فریب کړې سودا بېرته فسخه کېږي که یا ؟

سوال۶ : که چیرې یو کس راولاړ سي دبل کس سره یوه داسي سودا وکړي چي په هغه سودا کي مشتري خطا باسي په چم او فریب سودا ورسره وکړي پوښتنه داده چي په داسي صورت کي مشتري ته ددغي بیع دفسخ کولو اختیار سته که یا ؟

جواب : دغه پوښتنه او سوال سم واضح نه دی ځکه چي دغه دفریب او چم سودا به د دوه حاله څخه خالي نه وي یا به یې ارزانه شی ګران درکړی وي دا یوه پوښتنه ده ، یا به یې عیب داره شی په سم شي درکړی وي دا بله پوښتنه ده . داولي پوښتني جواب دادی چي که چیري بائع دمشتري سره بل فریب او چم نه وي کړی ماسوا ددې څخه چي دغه شی یې ګران ورکړی دی دوه چنده یا درې چنده وروسته بیا مشتري په خبر سو چي داشی یې ګران راکړی دی اوس دته اختیار دفسخ کېدو سته که نسته ؟

په دې مسئله کي دفقهاء کرامو اختلاف دی دجمهورو فقهاوو رایه داده چي مشتري ته ددغه معاملې دفسخ کېدو اختیار نسته ځکه چي بائع نور چم او فریب دده سره نه دی کړی ماسوا ددې څخه چي دغه شی یې ګران ورکړی دی او دایې دمروت او اخلاقو څخه خلاف یو عمل کړی دی .البته دامام مالک رحمه الله تعالی رایه داده چي په څو صورتونو کي مشتري ته ددغي بیع دفسخ کېدلو اختیار حاصل دی

اول : عاقدین خپله بالغان وي لیکن دیو نابالغ له طرفه څخه وصیان یا وکیلان وي نو ددغه نابالغه دحق دراګرځولو په خاطر ددغه معاملې دفسخ کېدلو اختیار ورته حاصل دی **دوهم :** مشتري وبائع ته وویل چي ته څنګه دغه شی ونورو ته ورکوې په هغه قیمت یې ماته هم راکړه ددې باوجود بائع هغه شی دته ګران ورکړی مشتري دفسخ حق لري .**دریم:** مشتري بائع ته وویل چي دبازار په قیمت به یې راکوې بائع دبازار تر قیمت څو چنده قیمت ځني واخیستی په دغه صورت کي هم مشتري دمعاملې دفسخ کولو اختیار لري . البته که چیري مشتري وبائع ته دسودا په وخت

کي داشرط ولګوی چي فرېب او چم به نه وي او بیا بائع فرېب او چم ورسره وکړي نو جمهور فقهاء هم وایي چي مشتري دغه سودا فسخ کولای سي دخیار شرط په حیث نه په دې خاطر چي هغه شی یې ګران پر خرڅ کړی دی .

ددوهمي پوښتني جواب دادی که چیري مشتري یو شی رانیوی وروسته یې بیا یو عیب په هغه مبیع او رانیول سوي شي کي ولیدی کوم چي د مخکي نه وو لیدلی نو دغه مشتري ددوو خبرو څخه دیوې اختیار لري یوه دا چي دټولو روپو په مقابل کي دغه شی دځان سره وساتي دعوه دفسخ ونه کړي راضي سي .

دوهمه داچي مبیع او رانیول سوی شی دي وبائع ته واپس کړي او خپلي روپۍ دي ځني واخلي البته دهغه عیب په اندازه نقصان او تاون دبائع څخه نه سي اخیستلای . والله اعلم بالصواب .

لما قال العلامة عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: ٦٨٣هـ) في الاختيار لتعليل المختار : مطلق البيع يقتضي سلامة المبيع، وكل ما أوجب نقصان الثمن في عادة التجار فهو عيب، وإذا اطلع المشتري على عيب فإن شاء أخذ المبيع بجميع الثمن، وإن شاء رده لأنه لم يرض به، وليس له أخذه وأخذ النقصان إلا برضى البائع، لأن الأوصاف لا يقابلها شيء من الثمن بالعقد،

(الاختيار لتعليل المختار ج ٢ ص ١٨ فصل في خيار العيب مكتبه شامله / دجديد معاملاتو شرعي احكام ج ١ ص ٨٦ ، الغبن الفاحش اردو / ١٢٠ حكم خيار العيب / فقه المعاملات للصابوني رحمه الله تعالي)

كتاب الذبائح

دګونګي دلاس حلال سوی شي پاک دی که یا ؟

سوال ١ : دګونګي دلاس ذبیحه (حلال سوی شی) پاک دی که یا ؟

جواب : دګونګي دلاس حلال سوی شي شرعا پاک دی ، او خوړل یې رواه دي . ځکه چي ګونګی شخص د شریعت دطرفه څخه د (بسم الله الله اکبر) دویلو په پرېښوولو کښې معذور بلل سوی دی .

لما فی الدرالمختار : (فَتَحِلُّ ذَبِيحَتَهُمَا، وَلَوْ الذَّابِحُ ...... أَوْ أَخْرَسَ) وفی ردالمحتار : (قَوْلُهُ أَوْ أَخْرَسَ) مُسْلِمًا أَوْ كِتَابِيًّا، لِأَنَّ عَجْزَهُ عَنْ التَّسْمِيَةِ لَا يَمْنَعُ صِحَّةَ ذَكَاتِهِ كَصَلَاتِهِ أَتْقَانِيٌّ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۰۹ کتاب الذبائح مکتبه رشیدیه /البحرالرائق ج ۸ ص ۳۰۶ مکتبه رشیدیه /امدادالاحکام ج ۴ ص ۲۱۶ / فتاوی اللکنوی ص ۴۷۴ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۵ ص ۴۵۲ / تعلیم الاحکام ص ۲۳۲)

دجنابت په حالت کښي دذبحه کولو حکم .

سوال ۲ : کومه ښځه چي په حیض یا نفاس کښي وي او یا یو سړی جُنُب وي نو شرعاً ددوی دلاس ذبیحه (حلال سوی حیوان) پاک دی او که مرداردی ؟

جواب : کله چي یوه ښځه په حیض یا نفاس کښي وي او یا یو سړی جُنُب وي او یو حیوان حلال کړي نو شرعاً ددغه حلال سوي حیوان غوښي پاکي دي کوم مشکل ددوی دلاس ذبیحه نه لري شرعاً

لما قال العلامة محمد السغدي رحمه الله تعالى فان ذبح كل مُسلم وكل كتابي حَلَال رجلا كَانَ اَوْ انثى حرا كَانَ اَوْ عبدا جنبا كَانَ اَوْ طَاهِرا

وقال العلامة الدكتور وهبةالزحيلي) شروط الذابح: وهي أن يكون مميزاً عاقلاً، مسلماً أو كتابياً:.... قاصداً التذكية، ولو كان مكرهاً على الذبح، ذكراً أو أنثى، طاهراً أو حائضاً أو جنباً،

(النتف في الفتاوي ص ۱۴۷ كتاب الذبائح سعيد چاپ / الفقه الاسلامي وادلته ج ۴ ص ۲۷۵۹ المبحث الاول : الذبائح رشيديه/ حاشيةالطحطاوي علي الدرمختار ج ۴ ص ۱۵۲ كتاب الذبائح دارالمعرفةبيروت / اعلاءالسنن ج ۱۷ ص ۲۰۲ كتاب الذبائح مكتبه ادارةالقرآن/ فتاوى محموديه ج ۱۷ ص ۲۳۰ باب الذبائح)

دکفري ملکو څخه راغلي دچرګانو کاټني غوښي حلالي دي که یا ؟

سوال ۳ : دکفري او غیر اسلامي ممالکو څخه لکه امریکا ، انګلینډ ، برازیل او نورو ممالکو څخه چي په کارټنو او کریټونو کښي بندي تیاري غوښي راځي دا هیڅ معلومه نه ده چي دا به مسلمانانو حلال کړي وي او که دکافرانو او حال دا چي دغه

غوښي دهغه چرګانو دي چي په ماشین حلالیږي نه په هغه چاره چي دانسان په لاس کښي وي نوپوښتنه داده چي دغه کریټي غوښي خوړل رواه دي که یا ؟ ایا علماؤ او فقهاؤ ددغه مسئلې د حل لپاره کوم شرعي حکم بیان کړی دی که یا ؟

جواب: هغه غوښي چي د کفري او غیراسلامي ممالکو څخه په کارټن او کریټ کښی پیک او بندي راځي ددغه غوښو پر برابر د وخت فقهاوو او علماوو ډیر تحقیق او تلاش کړی دی:

مثلا: په جده [سعودي عرب] کښی چي درابطة العالم الاسلامي په نامه د علماء کرامو او د نړی د مستندو فقهاوو جلسه اوناسته په کال کښي یوځل کیږي او د نړی پراهمو دیني مسئلو باندي بحث کیږي دغه مجلس دعلماوو په دغه مسئله کښی داسي تحقیق وکړچي دکومو دولتونو څخه دغه غوښي راځي هغو ممالکو ته یې خپل نماینده ګان او غړي چي تکړه علماء کرام دي واستول چي ددغه چرګانو د حلالولو طریقه وګوري چي آیا پر شریعت برابره ده که یا؟

هغو علماوو تر تحقیق او تلاش وروسته دغه معلومات ودغه مجلس ته د فقهاوو ورکړه چي دغه چرګان چي په کومو کارخانو کښی حلالېدل هغه طریقه پر شریعت نه وه برابره دمثال په توګه:

اول: تر حلالیدو مخکښی دغه چرګان دبرق په کرنټ باندي بیهوښه کیږي چي ځیني وختونه ددغه چرګانو څخه ځیني ددغه برقي کرنټ دوجي تر حلالېدو مخکښي مري.

دوهم: حلالول ددغه چرګانو په ماشیني چړې سره کیږي چي بسم الله او الله اکبر ویل نسته باندي، فقط پر چړې باندي الله اکبر لیکلی دی حالانکه بسم الله په خوله سره ویل شرط دي.

دریم: وروسته تر حلالېدو بیا د بډکو څخه دصفائي لپاره په ګرمو اوبو کښی اچول کیږي .دغه عوارض دمثال په توګه بیان سوه نو دغه علماوو او فقهاوو چي دټولي نړي د اسلامي ممالکو علماء پکښي شرکت لري دغه فتوی ورکړه چي دغه چرګان که پر دغه طریقه مذکوره حلال سي غوښي یې مرداري دي .

که څوک ددغه مسئلې تحقیق او تفصیل غواړي نو دشیخ الاسلام علامه محمد تقي عثماني دامت برکاته په کتاب (البحوث فی قضایا فقهیة معاصرة) کښې چې هم په عربي ژبه او هم په پښتو ژبه دی او (فقهي مقالات) چې په اردو ژبه دی مفصل بیان موجود دی خلاصه دا چې ددغه چرګانو دغوښو خوراک شرعا حرام دی.

(وقال طاهربن عبدالرشید البخاري رحمه الله) ولابأس بطعام المجوس الاذبیحتهم وفي اکل معهم :وعن حاکم عبدالرحمن:لوابتلي به مسلم مرةأومرتین لابأس به أماالدوام علیه فمکروه؛(خلاصة)

(وقال العلامة محمد السغدي) وَلَا یؤکل من اطعمة الْکفَّار ثَلَاثَة اشیاء اللَّحْم والشحم والمرق وَلَا یطبخون فِي قدروهم حَتَّى یغسلوها(النتف)

(الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۴۷ کتاب الکراهیة رشیدیه/ النتف في الفتاوی ص ۴۳۵ کتاب الجهاد رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۳۴۶ کتاب الکراهیة رشیدیه / جامع الترمذي ج ۲ ص ۲۸۴ کتاب السیر سعید چاپ / مسند امام احمد ج ۱ ص ۳۰۱ بیروت / فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۳۷ باب الکل والشرب /البحوث في قضایا فقهیة معاصرة ص ۵۴ مکتبه حبیبیه لشیخ الاسلام علامه محمد تقي عثماني دامت برکاته)

که دیوچا څخه دحیوان دحلالولو په وخت کښې بسم الله هېره سي .

سوال ۴ : که چیري یو کس یو حیوان حلالوي او بیا یې دحلالولو په وخت کښې بسم الله الله اکبر ځیني هیر سي نو ایا ددغه حیوان غوښه پاکه ده که مرداره ؟

جواب : دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه مذهب دادی چې کله دیو شخص څخه دحیوان دحلالولو په وخت کښې بسم الله الله اکبر هیر سي نو دداسي حیوان غوښي پاکي دي البته که چا قصدا بسم الله الله اکبر پرېښوول نو دداسي حیوان غوښي بیا مرداري دي .

قال العلامة المرغینانی فی الهدایة شرح بدایة المبتدی : وإن ترك الذابح التسمیة عمدا فالذبیحة میتة لا تؤکل وإن ترکها ناسیا أکل. وقال العلامة ابن عابدین : لاتحل ذبیحة من تعمد ترک التسمیة عمدا مسلما او کتابیآ لنص القرآن ولانعقاد الاجماع .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۶ ص ۲۹۹ کتاب الذبائح / الهداية شرح بداية المبتدی ج ۴ ص ۴۳۳ کتاب الذبائح مکتبه حنفيه / فتاوی حقانيه ج ۵ ص ۴۰۲ کتاب الذبائح / فتح القدير ج ۵ ص ۷۵ کتاب الذبائح)

هغه شيان چي په حلال حيوان کښې حرام دي .

سوال ۵: هغه کوم کوم شيان دي چي په حلال حيوان کښې دهغوی خوراک حرام دي ؟

جواب : په حلال حيوان کښې اوه شيان مردار دي او خوراک يې حرام دی . (۱) بهيدونکې وينه (۲) ذکر (۳) خصيتيني (۴) فرج (۵) مرغړي (۶) شاشه دانه (۷) تريخی .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :مَا يَحْرُمُ أَكْلُهُ مِنْ أَجْزَاءِ الْحَيَوَانِ الْمَأْكُولِ سَبْعَةٌ: الدَّمُ الْمَسْفُوحُ وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَيَانِ وَالْقُبُلُ وَالْغُدَّةُ وَالْمَثَانَةُ وَالْمَرَارَةُ بَدَائِعُ، وَسَيَأْتِي تَمَامُهُ إنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى آخِرَ الْكِتَابِ، وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ.

(ردالمحتار ج ۶ ص ۳۱۱ کتاب الاضحية مکتبه شامله / الفتاوی الهندية ج ۴ ص ۱۱۰ / البحر الرائق ج ۶ ص ۵۵۳ مسائل في الختان والتداوي والزينة / امدادا الفتاوی ج ۴ ص ۱۱۸ / امداد الاحکام ج ۴ ص ۳۰۰)

ماهي دمځکي وهل .

سوال ۶: ځيني کسان چي کله ماهی ونيسي نو يې بيا دمځکي وهي ايآ دمځکي په وهلو سره ماهی حلاليږي که يا ؟

جواب : دالله جل جلاله ارشاددی (وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا) يعني الله جل جلاله هغه ذات دی چي درياب يې ستاسي دپاره مسخر کړی دی ددې دپاره چي تاسي دهغه څخه تازه غوښي وخوری . دتازه غوښو څخه مراد دلته دماهي غوښي دي . دنورو حيواناتو په شان دماهي ذبح کول شرط نه دي بلکي ماهی ببله ذبحي حلال دی او تازه تازه غوښي دي .

دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أُحِلَّتْ لَنَا مَيْتَتَانِ وَدَمَانِ: الْمَيْتَتَانِ: الْحُوتُ وَالْجَرَادُ وَالدَّمَانِ: الْكَبِدُ وَالطِّحَالُ ". رَوَاهُ أحمدُ وابنُ مَاجَه وَالدَّارَقُطْنِيّ . (یعني زموږ دپاره دوه مړه شیان حلال سوي دي او دوې ویني راته پاکي سوي دي . د دوو مړو شیانو څخه مراد ماهي او ملخ دی . او ددوو وینو څخه مراد ځیګر او توری دی . نو دمسئلې جواب دادی چي ماهي دنورو حیواناتو په شان نه دی چي حلالول یا ذبح کول غواړي ځکه چي په ماهي کښې دم مسفوحه (بهیدونکې وینه) نسته دده دبدن اصلي ماده او به دي او اوبه بالطبع پاکي دي . لهذا دماهي دروح دجدا کولو په وخت کښې پر هغه باندي دمردار حکم نه لګول کیږي نو ځکه ذبح یې ضروري نه ده . او پاته سول داچي ځیني کسان یې دمځکي وهي دا ظلم دی بلکي کله چي مو داوبو څخه راوکښی نو پر مځکه یې آهسته کښېږدی خپله یې ساه خیژي .

(تفسیر الجلالین سورة النحل پاره ۱۴ ص ۱۷۸ / مشکوة شریف ص ۳۶۱ باب مایحل اکله ومایحرم / فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۷۳ کتاب الذبائح)

سرغوټ ذبیحه حلاله ده که یا ؟

سوال ۷ : پوښتنه داده چي زموږ چرګه چغال حمله کړه زه په پسې سوم کله چي مي ځني خلاصه کړه نو هغه په داسي حالت کښې وه چي مړه کېدله او زما سره دحلالولو کومه آله لکه چاړه یا چاقو هم نه وو نو ببا راولاړ سو م سرغوټ مي کړه یعني په لاس مي دهغې بدن او سر سره جلا کړه . پوښتنه داده چي ددغه چرګې غوښي اوس پاکي دي که یا ؟ او دا ذبیحه شرعا پاکه بلل کیږي که یا ؟ .

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي ژوندی حیوان چي کله چاته په لاس ورسي نو دهغه ذبح کول او حلالول په تېره شي سره شرعا ضروري دي . البته په سرغوټ کولو سره دغه حیوان مردار شمارل کیږي ځکه چي دا ذبحه په آلې سره نه سوه بلکي دد ې حیوان سر په زور او ثقالت سره دبدنه څخه جلا سو نه په کومي آلې دذبحي سره او دې ته ذبح نه ویل کیږي او دداسي حیوان غوښي خوړل شرعا حرام او مرداري دي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (وَ) حَلَّ الذَّبْحُ (بِكُلِّ مَا أَفْرَى الْأَوْدَاجَ) أَرَادَ بِالْأَوْدَاجِ كُلَّ الْأَرْبَعَةِ تَغْلِيبًا (وَأَنْهَرَ الدَّمَ) أَيْ أَسَالَهُ (وَلَوْ) بِنَارٍ أَوْ (بِلِيطَةٍ) أَيْ قِشْرِ قَصَبٍ (أَوْ مَرْوَةٍ) هِيَ حَجَرٌ أَبْيَضُ كَالسِّكِّينِ يُذْبَحُ بِهَا (إلَّا سِنًّا وَظُفْرًا قَائِمَيْنِ، وَلَوْ كَانَا مَنْزُوعَيْنِ حَلَّ) عِنْدَنَا (مَعَ الْكَرَاهَةِ) لِمَا فِيهِ مِنْ الضَّرَرِ بِالْحَيَوَانِ كَذَبْحِهِ بِشَفْرَةٍ كَلِيلَةٍ.

وقال ابن النجيم المصري رحمه الله تعالى فى البحر الرائق شرح كنزالدقائق : وَالظُّفُرُ وَالسِّنُّ الْمَنْزُوعُ آلَةٌ جَارِحَةٌ بِخِلَافِ غَيْرِ الْمَنْزُوعِ لِأَنَّ الذَّبْحَ بِهِ يَكُونُ بِالثِّقْلِ لَا بِالْآلَةِ اهـ

(الدرالمختار مع التنوير ج۶ ص ۲۹۶ كتاب الذبائح مكتبه شامله بيروت چاپ / البحرالرائق شرح كنزالدقائق ج۸ ص ۱۹۴ كيفية الذبح مكتبه شامله بيروت چاپ / فتاوی عبادالرحمن ج۵ ص ۴۴ كتاب الصيد /تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج۵ ص ۲۹۰ باب موضع الذبح مكتبه شامله بيروت چاپ)

ښکار کول دشریعت دنګاه څخه څنګه دی ؟

سوال۸: زموږ په علاقه کښې ځنې ځوانان خاص د شوق او تماشې لپاره د حیواناتو ښکار کوي او س پوښتنه داده چې محض د شوق او تماشې لپاره ښکار کول شرعاً جائز دی که یا؟

جواب: د هریوه حیوان ښکار یوائې باید په دې غرض سره وسي چې د هغه څخه نفع حاصله کړل سي یوائې د شوق او تماشې لپاره ښکار کول جائز نه دی خصوصاً بیا د حرامو حیواناتو ښکار چې د هغه څخه هیڅ نفعه نه اخیستل کیږي. البته هغه حیوانان چې مځکي او داسي نورو شیانو ته نقصان رسوي د هغو حیوانانو وژل بیا جائز دي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : هُوَ مُبَاحٌ بَخَمْسَةَ عَشَرَ شَرْطًا.... إلَّا لِمُحْرِمٍ فِي غَيْرِ الْمُحْرِمِ أَوْ لِلتَّلَهِّي كَمَا هُوَ ظَاهِرٌ... وَفِي مَجْمَعِ الْفَتَاوَى: وَيُكْرَهُ لِلتَّلَهِّي،

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۶ ص ۴۶۱ كتاب الصيد سعيدچاپ/الفقه الاسلامي وادلته ج ۳ ص ۶۹۳ الفصل الثاني في الصيد/ فتاوی حقانيه ج ۵ ص ۴۱۰ كتاب الصيد /حلال اوحرام ص

۱۱۰/البحرالرائق ج ۸ ص ۲۲۰ کتاب الصید رشیدیه/عالمګیري ج ۵ ص ۴۲۱ الباب الثالث في شرائط الاصطیاد رشیدیه)

دحیوان دحلالېدلو صحیح او شرعي طریقه څنګه ده ؟

سوال ۹ : بعضي خلک د حیوان حلالول نه پېژني کله کله سر ځیني پرې کړي او کله کله تر پوسته پوري د ده حلالول را ورسوي آیا شرعًا د ذبحي (حلالولو)طریقه مقرره ده که یا ؟

جواب: شرعًا د یو حیوان په حلالولو کي څلور رګونه پرېکېږي او کاټېږي یوه ته حلقوم وایې یعني د (ساکښلو)مقام یا کرغنکه ، دوهم ته (مری) چي موږ تاسي یې سره غاړه بولو یعني د حیوان د خوراک او چیښاک پیپ دریم او څلورم (و دجین)رګونه یعني ښارګ چي د حلقوم او کرغنکي پر راسته او چپه اړخ مبنتي دي دغه پرې کول ضروري دي او حتی که په دغه څلورو کي درې پرې سول هم حیوان حلال دی باقي د حیوان سر پرېکول یا د هغه مغزی ماتول په دې سره هغه ذبیحه مکروه کېږي او دا یو قسم ظلم دی.

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَعُرُوقُهُ الْحُلْقُومُ) كُلُّهُ وَسَطُهُ أَوْ أَعْلَاهُ أَوْ أَسْفَلُهُ: وَهُوَ مَجْرَى النَّفَسِ عَلَى الصَّحِيحِ (وَالْمَرِيءُ) هُوَ مَجْرَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ (وَالْوَدَجَانِ) مَجْرَى الدَّمِ (وَحَلَّ) الْمَذْبُوحُ (بِقَطْعِ أَيِّ ثَلَاثٍ مِنْهَا) إذْ لِلْأَكْثَرِ حُكْمُ الْكُلِّ وَهَلْ يَكْفِي قَطْعُ أَكْثَرِ كُلٍّ مِنْهَا؟ خِلَافٌ وَصَحَّحَ الْبَزَّازِيُّ قَطْعَ كُلِّ حُلْقُومٍ وَمَرِيءٍ وَأَكْثَرِ وَدَجٍ وَسَيَجِيءُ أَنَّهُ يَكْفِي مِنْ الْحَيَاةِ قَدْرُ مَا يَبْقَى فِي الْمَذْبُوحِ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۵ ص ۲۰۶ مکتبه رشیدیه / الهدایة ج ۴ ص ۴۳۵ مکتبه رشیدیه / الموسوعة الفقهیة ج ۲۱ ص ۱۷۷ مکتبه حقانیه / امدادالاحکام ج ۴ ص ۲۷۴ اردو / فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۶۸ اردو)

ایا دښځي ، ګونګي ، ناسنته او پیس کس دلاس دذبیحي غوښي پاکي دي ؟

سوال ۱۰ : ایا دښځي ، ناسنته سړي ، ګونګي او دپیس په مرض اخته کس دلاس دحلال سوي حیوان غوښي پاکي دي ؟ او ایا دوی ته په شریعت کي دحیوان دحلالولو اجازه سته که یا ؟

جواب: د دغه ځلورو کسانو د لاس د حلال سوي حیوان غوښي شرعًا روا او حلالي دي هیڅ قسم کراهیت او اشتباه نسته پکښي نشه انسان چي په (بسم الله او الله اکبر) باندي پوهیږي او داسي ماشوم چي مطلق یې بسم الله یې زده وي ددوی ذبح لا هم صحیح ده او ګونګ فطرتا د بسم الله څخه معذور دی دغو کسانو ته بیله کوم قیده شرعًا د یو حیوان د ذبحي اجازه سته.

لماقال ابن نجيم المصري رحمه الله في البحر : قال رَحِمَهُ اللَّهُ (وَصَبِيٍّ وَامْرَأَةٍ وَأَخْرَسَ وَأَقْلَفَ) يَعْنِي تَحِلُّ ذَبِيحَةُ هَؤُلَاءِ وَالْمُرَادُ بِالصَّبِيِّ الذي يَعْقِلُ التَّسْمِيَةَ وَيَضْبِطُ وَإِنْ لم يَكُنْ كَذَلِكَ لَا يَحِلُّ لِأَنَّ التَّسْمِيَةَ على الذَّبِيحَةِ شَرْطٌ بالنص وَذَلِكَ بِالْعَقْدِ وَصِحَّةُ الْعَقْدِ بِالْمَعْرِفَةِ وَالضَّبْطُ هو أَنْ يَعْلَمَ شَرَائِطَ الذَّبْحِ من فَرْيِ الْأَوْدَاجِ وَالتَّسْمِيَةِ

ولماقال الامام الحصكفي رحمه الله في درمختار : (فتحل ذبيحتما ولو) الذابح (مجنونا أو امرأة أو صبيا يعقل التسمية والذبح) ويقدر(أو أقلف أو أخرس

(الدرمختارمع ردالمحتار ج۵ ص ۲۰۹ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۸ ص ۳۰۶ مکتبه رشیدیه / فتاوی اللکهنوي ص ۴۷۳ / امدادالاحکام ج ۴ ص ۲۱۶ اردو / اپ کي مسائل ج ۵ ص ۴۵۲ اردو)

په داسي چړې یاچاقو سره ذبحه څنګه ده چي ټوله داوسپني وي ؟

سوال ۱۱: موږ او ربدلي دي چي په چړې یا چاقو کي چي لرګی نه وي په داسي چړې یا چاقو سره ذبحه نه صحیح کیږي ؟ پوښتنه اوس داده چي دا خبره سمه ده که غلطه ؟

جواب: زموږ د فقهي شریفي په کتابونو کي چي کوم شرطونه د ذبحي لپاره راغلي دي په هغو کي دا شرط نسته چي په چړې یا چاقو کي دي لرګی یا تخته کار سوې وي نو لهذا دغه خبره غلطه ده او په داسي چړې یا چاقو سره چي ټوله اوسپنه وي ذبحه روا ده هیڅ مشکل نه لري.

لماقال العلامة ابوبكر الكاساني رحمه الله في بدائع الصنائع : (وَمِنْهَا) أَنَّهُ يُسْتَحَبُّ فِي الذَّبْحِ حَالَةَ الِاخْتِيَارِ أَنْ يَكُونَ ذَلِكَ بِآلَةٍ حَادَّةٍ مِنْ الْحَدِيدِ كَالسِّكِّينِ وَالسَّيْفِ وَنَحْوِ ذَلِكَ وَيُكْرَهُ بِغَيْرِ الْحَدِيدِ وَبِالْكَلِيلِ مِنْ الْحَدِيدِ؛ لِأَنَّ السُّنَّةَ فِي ذَبْحِ الْحَيَوَانِ مَا كَانَ أَسْهَلَ عَلَى الْحَيَوَانِ وَأَقْرَبَ إلَى رَاحَتِهِ وَالْأَصْلُ فِيهِ مَا رَوَيْنَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –

أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى عَزَّ شَأْنُهُ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ»

(بدائع الصنائع ج ۵ ص ۶۰ ایچ ایم سعید / الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۶ ص ۲۹۵ ایچ ایم سعید / الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۰۰ مکتبه رشیدیه / فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۶۸ اردو / اپ کي مسائل ج ۵ ص ۴۵۱ اردو)

د اهل کتابو د لاس ذبیحه او دهغو د ښځو سره د نکاح حکم

سوال ۱۲: د عیسایانو او یهودیانو د لاس حلال کړی سوی شی او دهغه غوښي حلالي دي که یا؟ او همداشان د هغو ی د ښځو سره نکاح کول روا ده که یا؟

جواب: د عیسایانو او یهودیانو د لاس د حلال کړی سوي پاک حیوان غوښي خوړل مسلمانانو ته روا دي او ذبیحه یې درسته او صحیح ده خو په دې شرط چي دوی پر هغه خپل اصلي دین او شرعي عقائدو باندي پاته وي دهریان او بې دینه سوي نه وي لکه دنن سبا اکثره کافران چي په نامه سره اهل کتاب دي خو عقائد یې د دهریانو دي.

لما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار: وصح نكاح كتابية وان كره تنزيها مؤمنه بنبي مرسل مقرة بكتاب منزل وكذاحل ذبيحتهم

ردالمحتار مع الدر جلد ۲ ص ۳۰۷ مکتبه شامله / کفایت المفتي جلد ۹ ص ۱۲۱ کتاب الحظر والاباحة)

کتاب الاضحیه

داسي حیوان چي دغوږ دریمه حصه یې پرې وي په اختري کي صحیح کیږي که یا؟

سوال ۱: که چیري دیو حیوان دغوږ دریمه حصه پرې وي د داسي حیوان قرباني صحیح ده که یا؟

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چي داسي حیوان چي دغوږ تر دریمي زیاته حصه یې پرې وي د داسي حیوان قرباني صحیح نه ده البته که دریمه حصه پرې وه قرباني یې درسته ده ځکه چي دریمه په قلیل کي داخل ده او بله دا چي په فتاوی قاضیخان کي فتوی هم پر دغه قول نقل کړې ده چي د غوږ دریمه حصه قلیل ده. په فتاوی

رحيميه ج١٠ ص ۴۸ كتاب الاضحية کي حضرت مولانا عبدالرحيم لاجپوري رحمه الله تعالى ددې خبرې صراحت په دې الفاظو سره کړی دی.

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَمَقْطُوعِ أَكْثَرِ الْأُذُنِ إلَخْ) فِي الْبَدَائِعِ: لَوْ ذَهَبَ بَعْضُ الْأُذُنِ أَوْ الْأَلْيَةِ أَوْ الذَّنَبِ أَوْ الْعَيْنِ. ذَكَرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ إنْ كَانَ كَثِيرًا يَمْنَعُ، وَإِنْ يَسِيرًا لَا يَمْنَعُ. وَاخْتَلَفَ أَصْحَابُنَا فِي الْفَاصِلِ بَيْنَ الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ؟ فَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَرْبَعُ رِوَايَاتٍ. رَوَى مُحَمَّدٌ عَنْهُ فِي الْأَصْلِ وَالْجَامِعِ الصَّغِيرِ أَنَّ الْمَانِعَ ذَهَابُ أَكْثَرِ مِنْ الثُّلُثِ، وَعَنْهُ أَنَّهُ الثُّلُثُ، وَعَنْهُ أَنَّهُ الرُّبُعُ، وَعَنْهُ أَنْ يَكُونَ الذَّاهِبُ أَقَلَّ مِنْ الْبَاقِي أَوْ مِثْلَهُ اهـ بِالْمَعْنَى وَالْأُولَى هِيَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ، وَصَحَّحَهَا فِي الْخَانِيَّةِ حَيْثُ قَالَ: وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ الثُّلُثُ، وَمَا دُونَهُ قَلِيلٌ، وَمَا زَادَ عَلَيْهِ كَثِيرٌ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى اهـ وَمَشَى عَلَيْهَا فِي مُخْتَصَرِ الْوِقَايَةِ وَالْإِصْلَاحِ. وَالرَّابِعَةُ هِيَ قَوْلُهُمَا قَالَ فِي الْهِدَايَةِ. وَقَالَا: إذَا بَقِيَ الْأَكْثَرُ مِنْ النِّصْفِ أَجْزَأَهُ، وَهُوَ اخْتِيَارُ الْفَقِيهِ أَبِي اللَّيْثِ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: أَخْبَرْت بِقَوْلِي أَبَا حَنِيفَةَ فَقَالَ قَوْلِي هُوَ قَوْلُك، قِيلَ هُوَ رُجُوعٌ مِنْهُ إلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ، وَقِيلَ مَعْنَاهُ قَوْلِي قَرِيبٌ مِنْ قَوْلِك.

ولما فى الفتاوى الهندية : ذَكَرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ إنْ كَانَ الذَّاهِبُ كَثِيرًا يَمْنَعُ جَوَازَ التَّضْحِيَةِ، وَإِنْ كَانَ يَسِيرًا لَا يَمْنَعُ، وَاخْتَلَفَ أَصْحَابُنَا بَيْنَ الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ فَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – أَرْبَعُ رِوَايَاتٍ، وَرَوَى مُحَمَّدٌ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – عَنْهُ فِي الْأَصْلِ وَفِي الْجَامِعِ أَنَّهُ إذَا كَانَ ذَهَبَ الثُّلُثُ أَوْ أَقَلُّ جَازَ، وَإِنْ كَانَ أَكْثَرَ لَا يَجُوزُ، وَالصَّحِيحُ أَنَّ الثُّلُثَ وَمَا دُونَهُ قَلِيلٌ وَمَا زَادَ عَلَيْهِ كَثِيرٌ، وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى، كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ.

(الفتاوى الهندية ج۵ ص ۲۹۸ كتاب الاضحية طبع رشيديه / ردالمحتار ج ۹ ص ۵۳۶ كتاب الاضحية مكتبه رشيديه ۲ ۱ټوکه/ بدايع الصنائع ج ۴ ص ۲۱۵ كتاب التضحية / البحر الرائق ج ۸ ص ۳۲۴ كتاب الاضحية مكتبه رشيديه / الموسوعة الفقهية ج ۵ ص ۸۳ كتاب الاضحية کويټه چاپ/ الفتاوى التاتارخانيه ج ۱۷ ص ۴۳۰ مكتبه فاروقيه / تبين الحقائق ج ۶ ص ۴۸۰ مكتبه اشرفيه / المحيط البرهاني ج ۶ ص ۴۷۹ مكتبه غفاريه / مجمع الانهر ج ۴ ص ۱۷۲ مكتبة الحرمين الشريفين / فتاوى رحيميه ج ۱۰ ص ۴۸ كتاب الاضحية اردو)

داختري پوستکي خرڅول رواه دی که یا ؟

سوال ۲ : داختري او قرباني پوستکی خرڅول رواه دی که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي چي دقربانۍ او اختري دحیوان پوستکی خرڅول درست کار نه دی بلکي خرڅول يي مکروه دي دقربانۍ پوست دمخه تردې چي څوک يې خرڅ کړي خپله يې هم استعمالولای سی او کوم مالداره کس ته يې هم په طور دهديې او تحفې ورکولای سی، او فقرآوو او مسکينانو ته يې هم په خيرات کي ورکولای سی. ليکن که يو چا دروپو په مقابل کي خرڅ کړی په هرنيت سره چي يې خرڅ کړی وي ددغه روپو خيراتول واجب دي او ددې روپو مصرف او دخرڅ ځای فقيران او مسکينان دي مالداره او پيسه داره اغنياوو ته يې ورکول يا دمسجد امام ته دتنخواه پر ځای ورکول جائز نه دي.

لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (فَإِنْ) (بِيعَ اللَّحْمُ أَوْ الْجِلْدُ بِهِ) أَيْ بِمُسْتَهْلَكٍ (أَوْ بِدَرَاهِمَ) (تَصَدَّقَ بِثَمَنِهِ) وَمُفَادُهُ صِحَّةُ الْبَيْعِ مَعَ الْكَرَاهَةِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۶ ص ۳۲۸ کتاب الاضحية سعيد چاپ / مجمع الانهر کتاب الاضحية ج۴ ص ۱۷۴ مکتبه غفاريه / البحرالرائق شرح کنز الدقائق ج۸ ص ۱۷۸ / ردالمحتار ج۶ ص ۳۲۸ / جوهرة النيرة ج ۲ ص ۲۴۵ / فتاوی محموديه ج۲۴ ص ۱۴۱ باب مصرف الاضحية / دقربانۍ مسائل ص ۶۹)

داختر دقربانۍ غوښي که څوک نه وويشي .

سوال ۳ : ايا دقربانۍ غوښه ټوله يو سړی په خپله خوړلای سي که يا ؟ او که پر درو حصو باندي يې ويشل ضروري دي دشريعت دنګاه څخه يې دتقسيم کولو صحيح وضاحت راته وکړی.

جواب : دقربانۍ دغوښو پر درو حصو باندي ويشل يو مستحب کار دی يوه حصه به يې فقيرانو ته ورکوي، او بله حصه به يې وقريبانو ته ورکوي، او دريمه حصه به يې ځان ته پرېږدي. ليکن بيا هم که چيري يو کس ټوله غوښي صدقه کړي او يا ټوله ځان ته پرېږدي نو شرعاً څه پرواه نه لري.

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى في بدائع الصنائع :وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِالثُّلُثِ وَيَتَّخِذَ الثُّلُثَ ضِيَافَةً لِأَقَارِبِهِ وَأَصْدِقَائِهِ وَيَدَّخِرَ الثُّلُثَ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ} [الحج: ۳۶] وَقَوْلِهِ – عَزَّ شَأْنُهُ – {فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ

الْفَقِيرَ} [الحج: ٢٨] وَقَوْلِ النَّبِيِّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «كُنْت نَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُومِ الْأَضَاحِيِّ فَكُلُوا مِنْهَا وَادَّخِرُوا» فَثَبَتَ بِمَجْمُوعِ الْكِتَابِ الْعَزِيزِ وَالسُّنَّةِ أَنَّ الْمُسْتَحَبَّ مَا قُلْنَا وَلِأَنَّهُ يَوْمُ ضِيَافَةِ اللَّهِ - عَزَّ وَجَلَّ - بِلُحُومِ الْقَرَابِينِ فَيُنْدَبُ إشْرَاكُ الْكُلِّ فِيهَا وَيُطْعِمُ الْفَقِيرَ وَالْغَنِيَّ جَمِيعًا لِكَوْنِ الْكُلِّ أَضْيَافَ اللَّهِ تَعَالَى - عَزَّ شَأْنُهُ - فِي هَذِهِ الْأَيَّامِ وَلَهُ أَنْ يَهَبَهُ مِنْهُمَا جَمِيعًا، وَلَوْ تَصَدَّقَ بِالْكُلِّ جَازَ وَلَوْ حَبَسَ الْكُلَّ لِنَفْسِهِ جَازَ؛ لِأَنَّ الْقُرْبَةَ فِي الْإِرَاقَةِ.

(بدائع الصنائع ج۵ ص ۸۱ فصل في بيان ما يستحب قبل التضحية وبعدها وما يكره / ردالمحتار ج۶ ص ۳۲۸ كتاب الاضحية / الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۰۰ الباب السادس فيما يستحب من الاضحية / فتاوى حقانية ج ۵ ۴۱۸ كتاب الاضحية)

پر پوره وړي باندي قرباني واجب ده که یا ؟

سوال۴ : که چیري یو کس پوره وړی وي د نصاب په اندازه پیسه او سرمایه نه لري پر داسي کس باندي قرباني واجب ده که یا ؟

جواب : په شریعت مطهره کښې قرباني پر هغه کس باندي واجب ده چي مسلمان وي ، عاقل وي ، بالغ وي ، که نر وي که ښځه وي او د نصاب مالک به وي یا به دا نصاب په اندازه دده په ملکیت کښې دده تر ضرورت زیات دومره سامان موجود وي چي قیمت د دغه سامان به دوه پنځوس نیمي تولې سپینو زرو ته رسیږي .او همداشان قرباني پر هغه کس باندي هم واجب ده چي د خپل او سیدلو د سرای څخه زائد بل سرای ولري یا دومره زیاته مځکه او جائداد ولري چي حاصل یې دده د نفقې څخه زیات وي ، یا د ضرورت څخه زیات د کور دومره سامانونه ولري چي قیمت یې دوه پنځوس نیمي تولې ته رسیږي . او پر دغه نصاب باندي د کال تېرېدل شرط هم نه دي . **تنبیه** : دوه پنځوس نیمې تولې سپین زر د نن سبا جدید اوزانو په حساب سره شپږ سوه دوولس ګرامه کیږي . (۶۱۲) کیږي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَشَرَائِطُهَا: الْإِسْلَامُ وَالْإِقَامَةُ وَالْيَسَارُ الَّذِي يَتَعَلَّقُ بِهِ) وُجُوبُ (صَدَقَةِ الْفِطْرِ) ......

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۶ ص ۳۱۲ کتاب الاضحیة مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة ج۵ ص ۲۹۲ کتاب الاضحیة مکتبه رشیدیة / بدائع الصنائع ج۵ ص ۶۴ فصل اما شرائط الوجوب طبع سعید / البحر الرائق ج۸ ص ۱۷۴ / دقربانۍ مسائل ص ۱۲۱)

دوه وړونه په وېش سره ګډ دي اختری به دواړه کوي ؟

سوال ۵: که چیري یو دوه وړونه په وېش سره ګډ وي او د دواړو پیسې که چیري تقسیم سي نو هریوه ته د نصاب په اندازه پیسې رسیږي نو اوس به یو ورورو اختری کوي او که به یې دواړه کوي ؟ .

جواب : په شریعت مطهره کښې قرباني پر هغه کس باندي واجب ده چي مسلمان وي ، عاقل وي ، بالغ وي ، که نر وي که ښځه وي او د نصاب مالک به وي یا به دا نصاب په اندازه دده په ملکیت کښې دده تر ضرورت زیات دومره سامان موجود وي چي قیمت د دغه سامان به دوه پنځوس نیمي تولې سپینو زرو ته رسیږي .او همداشان قرباني پر هغه کس باندي هم واجب ده چي د خپل او سیدلو د سرای څخه زائد بل سرای ولري یا دومره زیاته مځکه او جائداد ولري چي حاصل یې دده د نفقې څخه زیات وي ، یا د ضرورت څخه زیات د کور دومره سامانونه ولري چي قیمت یې دوه پنځوس نیمي تولې ته رسیږي . او پر دغه نصاب باندي د کال تیرېدل شرط هم نه دي

. **تنبیه** : دوه پنځوس نیمې تولې سپین زر د نن سبا جدید اوزانو په حساب سره شپږ سوه دوولس ګرامه کیږي . (۶۱۲) کیږي .

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار :وَشَرَائِطُهَا: الْإِسْلَامُ وَالْإِقَامَةُ وَالْيَسَارُ الَّذِي يَتَعَلَّقُ بِهِ) وُجُوبُ (صَدَقَةِ الْفِطْرِ)

......

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۶ ص ۳۱۲ کتاب الاضحیة مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة ج۵ ص ۲۹۲ کتاب الاضحیة مکتبه رشیدیة / بدائع الصنائع ج۵ ص ۶۴ فصل اما شرائط الوجوب طبع سعید / البحر الرائق ج۸ ص ۱۷۴ / دقربانۍ مسائل ص ۱۲۱)

پر حاجي باندي قرباني (يعني اختری کول) سته که يا ؟

سوال ۶ : کوم حاجيان چي د افغانستان څخه وسعودي عربستان ته دحج دفريضې دپاره تللي دي ايا پر هغوی باندي دحج دقرباني او شکريې څخه علاوه عامه دلوی اختر قرباني کوم چي مسلمانان دلته يا په خپلو وطنو کښې کوي سته که يا ؟.

جواب : کوم حاجيان چي ددغه ځايه څخه ومکې مکرمې ته تللي دي او بيا ومنی شريفي ته تر وتلو مخکښې ددوی په مکه مکرمه کښې کم تر کمه پنځلس ورځي پوره سوي دي بيا منی ته وتلي دي نو داسي حاجيان شرعا مقيم بلل کيږي او پر مقيم باندي داختر قرباني لازمه ده په دې شرط چي وس او طاقت يې ولري . او دکومو حاجيانو چي په مکه مکرمه کښې پنځلس ورځي لانه دي پوره سوي چي منی شريفي ته وتلي دي نو داسي حاجيان شرعا مسافرين بلل کيږي پر دوی باندي دلوی اختر قرباني نسته البته دحج قِران او حج تمتع شکريه او قرباني به کوي .

تنبيه : ياده دي وي چي دمدينې منورې ورځي او شپې په دغه پنځلسو ورځو کښې نه شمارل کيږي فقط دمکې مکرمې ورځي شمارل کيږي .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : فَلَوْ دَخَلَ الْحَاجُّ مَكَّةَ أَيَّامَ الْعَشْرِ لَمْ تَصِحَّ نِيَّتُهُ لِأَنَّهُ يَخْرُجُ إلَى مِنًى وَعَرَفَةَ فَصَارَ كَنِيَّةِ الْإِقَامَةِ فِي غَيْرِ مَوْضِعِهَا وَبَعْدَ عَوْدِهِ مِنْ مِنًى تَصِحُّ .

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ فَلَوْ دَخَلَ إلَخْ) هُوَ ضِدُّ مَسْأَلَةِ دُخُولِ الْحَاجِّ الشَّامَ فَإِنَّهُ يَصِيرُ مُقِيمًا حُكْمًا وَإِنْ لَمْ يَنْوِ الْإِقَامَةَ وَهَذَا مُسَافِرٌ حُكْمًا وَإِنْ نَوَى الْإِقَامَةَ لِعَدَمِ انْقِضَاءِ سَفَرِهِ مَا دَامَ عَازِمًا عَلَى الْخُرُوجِ قَبْلَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا أَفَادَهُ الرَّحْمَتِيُّ.

وفى منحة الخالق على البحر الرائق : أَنَّهُ إذَا نَوَى الْإِقَامَةَ بِمَكَّةَ شَهْرًا وَمِنْ نِيَّتِهِ أَنْ يَخْرُجَ إلَى عَرَفَاتٍ وَمِنًى قَبْلَ أَنْ يَمْكُثَ بِمَكَّةَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا لَا يَصِيرُ مُقِيمًا؛ لِأَنَّهُ يَكُونُ نَاوِيًا الْإِقَامَةَ مُسْتَقْبَلَةً فَلَا تُعْتَبَرُ فَإِذَا رَجَعَ مِنْ مِنًى وَعَرَفَاتٍ إلَى مَكَّةَ، وَهُوَ عَلَى نِيَّتِهِ السَّابِقَةِ صَارَ

مُقِيمًا؛ لِأَنَّ الْبَاقِيَ مِنْ الشَّهْرِ أَكْثَرُ مِنْ خَمْسَةَ عَشَرَ وَهُنَا كَذَلِكَ؛ لِأَنَّ فَرْضَ الْمَسْأَلَةِ أَنَّهُ دَخَلَ فِي أَوَّلِ الْعَشْرِ وَمَعْلُومٌ أَنَّ الْحَاجَّ يَخْرُجُ فِي الْيَوْمِ الثَّامِنِ إلَى مِنًى وَيَرْجِعُ إلَى مَكَّةَ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي عَشَرَ فَلَمَّا دَخَلَ إلَى مَكَّةَ أَوَّلَ الْعَشْرِ وَنَوَى إقَامَةَ شَهْرٍ لَمْ تَصِحَّ نِيَّتُهُ أَوَّلَ الْمُدَّةِ؛ لِأَنَّهُ لَا يَحْصُلُ لَهُ إقَامَةُ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا إلَّا بَعْدَ رُجُوعِهِ مِنْ مِنًى فَلِذَا أَمَرَهُ صَاحِبُ الْإِمَامِ بِالْقَصْرِ أَوَّلَ الْمُدَّةِ وَبِالْإِتْمَامِ بَعْدَ الْعَوْدِ؛ لِأَنَّهُ لَمَّا عَادَ إلَى مَكَّةَ وَهُوَ عَلَى نِيَّتِهِ السَّابِقَةِ كَانَ نَاوِيًا أَنْ يُقِيمَ فِيهَا عِشْرِينَ يَوْمًا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ هَذَا مَا ظَهَرَ لِي وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۱۲۶ باب صلاة المسافر سعيد چاپ / منحة الخالق علي البحرالرائق ج ۲ ص ۲۳۳ مکتبه رشيديه / تبيين الحقائق ج ۱ ص ۵۱۲ مکتبه اشرفيه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۲۷۰ مکتبه رشيديه / مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۴۱ مکتبة الحرمين الشريفين /الفتاوى الهندية الباب الخامس عشر في صلوة المسافر ج ۱ ص ۱۴۰ رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۳۷۰ / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۳۴۹ باب اعمال الحج)

په ګډ ژوند کښې پر وروڼو باندې جلا جلا قرباني لازمه ده ؟

سوال ۷ : موږ پنځه وروڼه یو او پلار مو هم ژوندی دی پلار مو هم دنیا ګټي راوړي یې او موږ هم پیسې ګټو راوړو یې پلار ته یې ورکوو صرف د جیب خرڅ د ځان سره اېږدو تر اوسه پورې مو پلار او مور دواړو قرباني کول او زموږ حصه یې نه کوله او حال دا دی چې تقریبا یو لک ته قریب یا لک زموږ سرمایه ده آیا هغه د پلار قرباني صحیح او کافي ده او که پر موږ هم جلا جلا قرباني کول لازمه او واجبه ده ؟

جواب: که چیرې تاسې وروڼه پر کار ولاړ یاست او د نصاب خاوندان هم یاست نو د هر یوه پر ذمه جلا جلا قرباني واجب ده ولې چې قرباني پر هر نر او ښځه مسلمان او عقلمند باندې د نصاب د ملکیت په صورت کې واجبه ده که واده لري که یې نه لري، لیکن که یو کس د کار او روزګار باوجود د نصاب مالک نه وي پر هغه قرباني نه ده واجب نور نو تاسې خپل حالت د دغه جواب سره وارزوئ چې تاسې هر یو د نصاب مالکان یاست که نه یاست ؟

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَالْيَسَارُ إلَخْ) بِأَنْ مَلَكَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ أَوْ عَرْضًا يُسَاوِيهَا غَيْرَ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِ اللُّبْسِ أَوْ مَتَاعٍ يَحْتَاجُهُ إلَى أَنْ يَذْبَحَ الْأُضْحِيَّةَ.

ولما في الفتاوى الهندية : وَأَمَّا شَرَائِطُ الْوُجُوبِ منها الْيَسَارُ وهو ما يَتَعَلَّقُ بِهِ وُجُوبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ دُونَ ما يَتَعَلَّقُ بِهِ وُجُوبُ الزَّكَاةِ .

ردالمحتار ج ۵ ص ۲۱۹ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۵ ص ۲۹۲ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۳۰۹ مکتبه رشیدیه / الفقه الاسلامي وادلته ج ۴ ص ۲۷۰۸ مکتبه حبیبه / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۴۲۴ اردو)

داختر په ورځو کي یو کس دنصاب مالک سو .

سوال ۸ : یو کس نور وخت روپۍ د نصاب نه درلودې د اختر په دغه درو ورځو کي د نصاب مالک سو آیا پر دغه سړي اختری کول واجب دی او حال دا دی چي پر دغه روپو کال هم نه دی تېر سوی؟

جواب : پر دغه کس چي په دغه درو ورځو کي دننه دنصاب مالک سو هم اختری واجب دی لیکن خبره دا ده چي د زکوة او اختري په مېنځ کي فرق دی زکوة هم پر صاحب د نصاب فرض دی او اختری هم پر صاحب د نصاب واجب دی مګر د دوی په مېنځ کي دوه فرقه دي (**اول**) دا دی چي د زکوة ورکولو لپاره پر هغه پیسو د کال تېربدل شرط دی په اختري کي د کال تېربدل شرط نه دي ،(**دوهم**) فرق دا دی چي د زکوة د فرضیت لپاره شرط دا دی چي هغه مال زیاتېدونکی او غټېدونکی نما کوونکی وي لکه سره زر او سپین زر نغدي روپۍ مال تجارت او حیوانان او د قربانۍ لپاره مال نامي ضروري نه دی فرض کړه د یو چا سره د خپلي مځکي غله تر ضرورت زیاته ده چي نصاب ته رسېږي پر ده قرباني واجب ده نه زکوة.

لما في الهندية : وَلَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونُ غَنِيًّا في جَمِيعِ الْوَقْتِ حتى لو كان فَقِيرًا في أَوَّلِ الْوَقْتِ ثُمَّ أَيْسَرَ في آخِرِهِ تَجِبُ عليه

وفي بدائع الصنائع : وَلَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ غَنِيًّا في جَمِيعِ الْوَقْتِ حتى لو كان فَقِيرًا في أَوَّلِ الْوَقْتِ ثُمَّ أَيْسَرَ في آخِرِهِ يَجِبُ عليه لِمَا ذَكَرْنَا

(بدائع الصنائع ج ۴ ص ۱۹۶ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۲۹۲ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۸ ص ۳۲۱ مکتبه رشیدیه / ردالمحتار ج ۵ ص ۲۲۲ مکتبه رشیدیه)

د قربانۍ صحیح او مسنون طریقه څنګه ده؟

سوال ۹: د قربانۍ صحیح او مسنون طریقه څنګه ده؟

جواب: صحیح طریقه دلوی اختر دورځي د قربانۍ دا ده چي خپله قرباني په خپل لاس سره حلاله کړل سي، او که یې خپله نه سول حلالولای نو دي په بل چا دې حلاله کړي افضله او ښه طریقه دا ده چي خپله دغه کس هلته موجود وي او نیت کول د زړه څخه کافي دی په ژبه ویل ضروري نه دی، البته د حلالېدو په وخت کي (بسم الله الله اکبر) ویل ضروري دي په خوله سره، او باقي دا الفاظ ویل د فلانکي د ارواح په خوښي د فلانکي مړي د ارواح په خوښي دا ویل ناروا دي بلکه دا سي دي وایي چي د الله جل جلاله د رضا او د ده په خوښۍ او امر سره دغه کار کوم او عبادت تر سره کوم.

لما في الجوهرة النيرة : وَقَالَ الْحَلْوَانِيُّ : بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُ أَكْبَرُ بِدُونِ الْوَاوِ وَإِنْ قَالَ : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ فَهُوَ حَسَنٌ ، وَالشَّرْطُ هُوَ الذِّكْرُ الْخَالِصُ الْمُجَرَّدُ عَلَى مَا قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ جَرِّدُوا التَّسْمِيَةَ حَتَّى لَوْ قَالَ مَكَانَ التَّسْمِيَةِ

وفي البدائع : وَمِنْهَا أَنْ يَكُونَ الذَّابِحُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَالذَّبِيحَةُ مُوَجَّهَةً إلَى الْقِبْلَةِ لِمَا رَوَيْنَا وَلِمَا رُوِيَ أَنَّ الصَّحَابَةَ رضي اللَّهُ عَنْهُمْ كَانُوا إذَا ذَبَحُوا اسْتَقْبَلُوا الْقِبْلَةَ فإنه رُوِيَ عن الشَّعْبِيِّ أَنَّهُ قال كَانُوا يَسْتَحِبُّونَ أَنْ يَسْتَقْبِلُوا بِالذَّبِيحَةِ الْقِبْلَةَ

(الفتاوی الهندیه ج ۵ ص ۲۸۸ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۴ ص ۱۸۹ مکتبه رشیدیه / الجوهرة النیرة ج ۵ ص ۲۵۹ / اپ کي مسائل ج ۵ ص ۴۵۰ اردو)

دشپږو میاشتو مرغومي په اختري کي صحیح کیږي که یا؟

سوال ۱۰ : ایا د شپږو میاشتو مرغومی په اختري کي صحت لري که یا؟

جواب : مقدس شریعت د قربانۍ (اختري) لپاره په مختلفو حیوانانو کي مختلف عمرونه ټاکلي دي د وابښ لپاره پنځه کاله د غویو او ګامیښو لپاره دوه کاله او په پسونو او وزو کي یو کال ټاکل سویدی نو مرغومی که چیري تر یوه کال کم وي په اختري کي صحت نه لري البته فقهاء کرامو لیکلي دي چي وری که چیري د شپږو میاشتو وي خو دومره چاغ او تروتازه وي چي دیوه کال د پسونو سره سم وي نو په اختري کي صحیح کیږي والله اعلم.

لماقال علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ٥٩٣هـ): قال: "والأضحية من الإبل والبقر والغنم" لأنها عرفت شرعا ولم تنقل التضحية بغيرها من النبي عليه الصلاة والسلام ولا من الصحابة رضي الله عنهم. قال: "ويجزئ من ذلك كله الثني فصاعدا. إلا الضأن فإن الجذع منه يجزئ" لقوله عليه الصلاة والسلام: "ضحوا بالثنايا إلا أن يعسر على أحدكم فليذبح الجذع من الضأن". وقال عليه الصلاة والسلام: "نعمت الأضحية الجذع من الضأن". قالوا: وهذا إذا كانت عظيمة بحيث لو خلطت بالثنيان يشتبه على الناظر من بعيد. والجذع من الضأن ما تمت له ستة أشهر في مذهب الفقهاء، وذكر الزعفراني أنه ابن سبعة أشهر. والثني منها ومن المعز سنة، ومن البقر ابن سنتين، ومن الإبل ابن خمس سنين، ويدخل في البقر الجاموس لأنه من جنسه، والمولود بين الأهلي والوحشي يتبع الأم

(الهداية ج ۴ ص ۴۴۷ کتاب الاضحية / بدائع الصنائع ج ۵ ص ۷۰ کتاب الاضحية / الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۲۹۷ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۸ ص ۱۷۷ کتاب الاضحية / فتاوی حقانيه ج ۵ ص ۴۱۳ پښتو)

د لوی اختر د قربانۍ احکام او مسئلې.

هر هغه کس چي مالک د نصاب شرعي وي، او زکوٰة پر کيږي پر هغه کس قرباني هم واجب ده که نر وي که ښځه، او که مالک د نصاب نهٔ نو بيا قرباني نسته باندي د قربانۍ د وجوب شرائط په لاندي ډول دي.

(۱) قرباني کوونکی به مسلمان وي (۲) عاقل به وي (۳) بالغ به وي (۴) مقيم به وي (۵) دغه د نصاب مال به يې تر ضرورت او حاجت اصلي زيات وي، د ضرورت اصلي څخه مراد او مقصد دا دی چي هغه ضروريات چي د انسان تر ذاته او د ده تر عزت او ابرو پوري تعلق لري، د دغه ضرورياتو د نه لرلو په صورت کښې يې د ځان يا د عزت د ختمېدو خطره وي مثلا خوراک، چيښناک، جامې، سپرلۍ، د اوسېدو مکان او سرای د کاروباري او کسب کاره خلکو لپاره د دوئ د کسب سامان او اوزار هم په ضرورت اصلي او حاجت اصلي کي شامل دي، ليکن لوی لوی دېګونه، غټې غټې، غالۍ راډيو، ټيپ، ټلويزون وسي آر ډش او نور داسي د ګناه او د معصيت

آلات او اسباب په ضرورت اصلي کښې نه دي داخل که د دغه شیانو قیمت چیري نصاب ته ورسېږي نو پر داسي کس قرباني واجب ده.

(۲) یو کس د قربانۍ د ورځو څخه تر مخه د نصاب خاوند نه ؤ وروسته د قربانۍ او اختري په ورځو کښې د نصاب خاوند سو، پر داسي کس قرباني واجب ده.

(۳) د هر کس قربانۍ خپله د هغه پر ذمه لازم او واجب ده د بل کس قرباني د ده پر ذمه لازم نه ده لکه سرسایه اداء کول چي د هر کس ده د هغه پر ذمه اداء کول لازم ده، البته که د کورنۍ مشر د ټولو په وکالت یو حیوان لکه غویی یا اوښ رانیسي هم صحیح دی، که په یوې کورنۍ کښې تر یوه زیات کسان خاوندان د نصاب وه، نو د هر یوه پر ذمه جلا جلا اختری واجب دی، لکه ځیني ښځي سره زر یا سپین زر د نصاب په اندازه لري او بیا هم اختری نه کوي.

(۴) د قربانۍ او اختري ورځي درې دي لسمه، یوولسمه، د دوولسمي دلمر ترلوېدو پوري.

په دغه درو ورځو کښې که یو چا اختری وکړی خو غاړي یې خلاصي، او واجب یې پر ځای کړی او که تر دغه درو ورځو یې واړوی نو هغه قرباني یې خیرات سو نه اختری بلکه ګناهګاره هم دی د اختري حلالول د شپې هم روا دي سره د کراهة تنزیهي.

(۵) که چیري د یو عذر په خاطر د لوی اختر په ورځ د عیدګاه لمونځ وځنډېدی او ونه سو، په دغه ورځ هم قرباني او اختری کول روا دی د عیدګاه دلمانځه د وخت تر تېرېدلو وروسته.

(۶) هغه حیوانات او څاروي چي په هغو سره قرباني جائز او روا ده (۱) پسه (۲) مېږه (۳) بزه (۴) سېرلی یا اوزګړی (۵) غوا (۶) غویی (۷) یا ګامېښه (۸) نر اوښ (۹) او اوښه ماده، دغه مذکوره حیوانات په قربانۍ کي حلالول جائز دي د دې څخه علاوه نور نه دي رواه.

(۷) پسه او بزه باید د یوه کال وي غوا باید د دوو کالو وي او اوښ باید د پنځو کالو وي، البته که یو پسه تر کال یو څه کم ؤ په عمر کښې لیکن په صورت ښه سره تازه او

تیارۀ داسي معلومېدی د لېدو څخه لکه د کال چي وي هم یې اختری او قرباني روا ده.په غوا او اوښ کښي اووه کسان شریکېدلای سي لیکن په دوو شرطو سره.
(اول) شرط دا دی چي هریو به د دغه اوو کسانو څخه نیت د قربانۍ او اختري کړی وي دغه شراکت به په نیت د غوښو نه وي بالفرض که یوه کس هم په دغه اوو کسانو کښي نیت د غوښو درلودی نو د ټولو قرباني نه ده صحیح.
(دوهم) شرط دا دی چي د هریوه حصه به اوومه یا تر هغه زیاته وي یعني شپږمه یا پنځمه که تر اوومي کمه وه یعني اتمه یا نهمه وه نو د دغه کس قرباني نه ده صحیح د دغه نورو دا صحیح ده.
(۹) که چیري یو حیوان په دواړو سترګو ړوند وي، یا په یوه سترګه ړوند وي یا د یوې سترګي نصفه بنائې یې نه وي یا یې لکۍ پرې وي یا یې غوږ پرې وي یا یې نیم غوږ پرې وي یا یې نیمه لکۍ پرې وي، یا په پښه ګوډ وي چي تر قصابخانې یعني د حلالېدو تر ځایه خپله نسي تللای یا دغه پښه پر مځکه نه ایږدي یا خو پښه ایږدي لیکن زور نه پر کوي، دغه مذکوره او بیان سوي عیبونه چي په کوم حیوان کښي وي د دغه حیوان اختری او قرباني نه ده صحیح.
(۱۰)داسي حیوان چي غاښونه یې ټوله وتلي وي د داسي حیوان اختری او قرباني نه ده صحیح البته که یې پاته غاښونه تر وتلو غاښونو ډېر وه نو بیا یې قرباني صحیح او روا ده
(۱۱) د داسي حیوان قرباني او اختری هم نه دی صحیح چي پیدائشي او خلقة غوږونه نه لري لیکن که یې چیري غوږونه کوچنیان وه بیا یې قرباني صحیح ده.
(۱۲) همدغه شان هغه مېږ او بزه چي یو تی یې شېدې نه کوي د دوو تیو څخه د داسي حیوان قرباني هم نه ده صحیح ځکه چي عیب داره سو او د عیب داره حیوان قرباني نه ده صحیح.
(۱۳) که چیري د غوا او د اوښي د دوو تیو څخه شېدې راوزي او دوو څخه یې نه راوزي د داسي غوا او اوښي قرباني هم نه ده صحیح یا داسي زخمي او خوږ وي چي خپل بچي ته شېدې نسي ورکولای هم یې قرباني نه ده صحیح.

(۱۴) همداغه شان هغه حیوان چي تي يې پر مخ وچ سوي ختم سوي وي يا پيدائشي تي نه لري د داسي حیوان قرباني هم نه ده صحيح.

(۱۵) داسي حيوان چي پيدائشي او خلقة ښکرونه نه لري د داسي حيوان قرباني او اختري بيا صحيح دی، ليکن که يې پيدائشي ښکر درلوده بيا مات سوي وه د بېخه څخه نو بيا يې قرباني نه ده صحيح.

(۱۶) د خصي سوي حيوان مثلاً پسه مرغومي غويې د داسي حيوان قرباني صحيح ده.

(۱۷) د داسي ډنگر او کمزوري حيوان قرباني هم نه ده صحيح چي د مريضۍ يا کمزورۍ د وجي يې د هډوکو ماغزه وچ سوي يا ختم سوي وي.

(۱۸) يوه دريمه حصه د قربانۍ د غوښو څخه خيرات کول مستحب کار دی ليکن عيال داره شخص که يې خيرات نه کړي هم پروا نه لري بلکه پر خپل اولاد او کورنۍ دي فراخي راولي.

(۱۹) په غوايې او اوښ کښې چي کوم کسان سره شريک وي د ټولو پر ذمه د قربانۍ د حلالولو په وخت کښې بسم (الله الله اکبر) ويل ضروري نه دي صرف پر حلالونکي يا هغه کس چي د ده سره يې پر چړې لاس ايښی وي يا يې د حلالونکي پر لاس باندي لاس ايښی وي پر هغه کس يا کسانو باندي بسم الله ويل ضروري ده خاماخا به يې وائې، او هغه کسان چي د دغه حيوان د مخ يادشا پښې يې نيولي وي پر هغو باندي د بسم الله ويل نه دي ضروري.

(۲۰) حاجي که چيري مسافر وي پر ده قرباني واجب نه ده او که يې په خپله خوښه سره قرباني کوله نو الله پاک جل جلاله د قربانۍ ثواب ورکوي او که چيري حاجي مقيم وي او د ده سره د حج د اخراجاتو او خرچې څخه زياتي روپۍ وي چي نصاب ته رسېږي نو پر داسي حاجي قرباني لازم ده.

(۲۱) يو کس د اختري لپاره حيوان رانيوی جوړ سلامت وروسته بيا عيب داره سو لکه ګوډ، ړوند، شل د داسي حيوان قرباني نه ده صحيح که غني او د رائې والا ؤ

لازم ده پر ده باندي چي بل حیوان به اختری کوي د دغه عیب داره حیوان پر ځای او که فقیرؤ اختری پر واجب نهٔ نو دغه حیوان هم کفایت کوي.

(۲۲) اووه (۷) کسانو په شراکت یو غویی رانیوی بیا یو کس په دغه اووه کسانو کښې مړ سو که چیري د دغه مړه وارثانو د دغه مړي له طرف څخه د دغه حیوان د حلالولو اجازه ورکړه خو د ټولو قرباني صحیح ده او که یې ورنه کړه د یوه دا لاهم نه ده صحیح.

(۲۳) که یو کس پر خپل ځان نذر کښېښنودی د پسه چي زه به په اختري او قربانۍ کښې پسه حلالوم بیا یې د پسه پر ځای د غوایې په اوومه شریک سو قرباني یې صحیح ده.

(۲۴) ښه طریقه دا ده چي د قربانۍ حیوان مالک په خپله حلال کړي که یې حلالول پر شرعي طریقه پېژندل او که یې حلالول نه وه زده بل کس که یې حلال کړي هم صحیح دی.

(۲۵) هر کله چي شریکان د قربانۍ د غوښو تقسیم کوي نو دي په وزن سره تقسیم کړي په دې خاطر چي سود په غوښو کښې را نه سي، البته سر او پښې او پوست ځیني مستثنٰی او جلا دي هغه نه تلل کیږي.

(۲۶) د قربانۍ د حیوان پوست خو دي یا خیرات کړي او یا دي خرڅ کړي بیا دي هغه پیسې خیرات کړي لیکن دغه پوست یا غوښې د قربانۍ په مزدورۍ کښې و قصاب ته ورکول ناروا دي صحت نه لري، بلکه جلا به د جیبه څخه مزدوري ورکوي.

(۲۷) یو کس حیوان د قربانۍ لپاره رانیوی بیا ورک سو یا یو چا غلا کړی دی را ولاړ سو بل یې رانیوی د اختري لپاره وروسته بیا د قربانۍ په ورځو کښې هغه ورک هم پیدا سو که چیري مسکینؤ دواړه به حلالوي ځکه چي پر ده لازم نهٔ ده پر ځان لازم کړل او که غنيؤ یو دي حلال کړي د دغه دوو څخه هر یو چي یې خوښ وي.

(۲۸) که یو کس پر خپل ځان د حیوان قرباني نذر کړل په خوله سره او حال داؤ چي پر ده واجب نه وه، نو د ټولو غوښو خیراتول پر لازم او واجب دي.

(۲۹) که چیري د قربانۍ حیوان حملداره ؤ او بچی یې په نس ؤ حلالول یې رواه دي او هغه بچی یې هم حلالول واجب او ضروري دي.

(۳۰) پر یو کس قرباني واجب وه لیکن ده په هغه درو ورځو کښي ونه کړه هغه تیري سوې نو پر دغه کس د یوه پسه قیمت خیراتول واجب دي.

(۳۱) د یو مریض د صحت په خاطر خالص د الله جل جلاله د رضا لپاره د حیوان حلالول روا دي، البته د ژوندي حیوان صدقه بهتره او افضله ده.

(۳۲) په ښارو کښې چي د عیدګاه لمونځ اداء کېږي هلته د اختر تر لمانځه مخکي قرباني نه ده صحیح بلکه د اختر تر لمانځه به یې وروسته کوي، او په کومو کلو او بانډو کښې چي د عیدګاه لمونځ نه کېږي هلته وختي حلالول هم روا دي.

(۳۳) د حیوان ترحلالولو مخکي مخکي د هغه پوست خرڅول حرام او ناروا دی البته وعده د خرڅولو یې بیا روا ده.

(۳۴) هغه حیوان چي وېښته یې سکوستل سوي وي د داسي حیوان قرباني روا ده لیکن د قربانۍ لپاره تر رانیولو وروسته یې بیا وېښته پرېکول یا خرخول کول او سکوستل نه دي روا او که یو چا دغسي حیوان وسکوستی د دغه حیوان وړی یا دوړیو د قیمت په اندازه روپۍ خیراتول پر واجب دي.

(۳۵) هغه حیوان چي د قربانۍ لپاره رانیول سوا او متعین سو د داسي حیوان شېدې لوشل هم نه دي روا که چا ولوشلې نو دغه شېدې یا د شېدو د قېمت په اندازه پیسې خیراتول واجب دي.

(۳۶) د تشریق تکبیرونه: د تشریق تکبیرونه د ذي الحجې د میاشتي د نهم تاریخ څخه یعني د عرفات د سهار څخه شروع کیږي بیا د دیارلسم تاریخ ترمازدیګر پوري ادامه لري. دغه تکبیرونه د هر فرض لمانځه څخه وروسته یو وار ویل واجب دی، تکبیرونه په لاندي ډول دي.

(اَللّٰهُ اَکبَرُ اَللّٰهُ اَکبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکبَرُ، اَللّٰهُ اَکبَرُ وَلِلّٰهِ الحَمدُ)

(۳۷) نارینه حضرات به یې په لوړ اواز وائي او ښځي به یې په کښته او آهسته اواز وائي.

(۳۸) د سلام تر ګرځولو وروسته به فورًا دغه تکبېرونه د تشریق اداء کېږي حتی که یو چا تر سلام وروسته خبري وکړې او یا یې قصدًا اودس مات کړی، نو دغه تکبیرونه ځیني ساقط دي.

(۳۹) دغه تکبیرونه د تشریق پر امام او مقتدي منفرد او جماعت یافته نر او ښځه، مقیم او مسافر باندي واجب دي.

(۴۰) او فقیر سړي که چیري حیوان د قربانۍ په نیت رانیوی نو پر ده د دغه حیوان قرباني لازمه او واجبه سوه.

دغه کارونه د لوی اختر په ورځ سنت دي

(۱) د شریعت موافق زینت او ارائش کول (۲) غسل کول (۳) مسواک وهل (۴) په اندازه د طاقت ښه جامې اغوستل (۵) عطر لګول (۶) سهار د وخته او وختي وېښېدل (۷) عیدګاه ته ژر تلل (۸) د اختر په ورځ د عیدګاه د لمانځه تر مخه شی نه خوړل او د لمانځه څخه وروسته خپل اولنی شی د خپلي قربانۍ غوښې خوړل (۹) د اختر لمونځ په عیدګاه کښې کول (۱۰) پر یوه لاري تلل و عیدګاه ته پر بلې لاري راتلل (۱۱) پر پښو و عیدګاه ته تلل (۱۲) تکبیرونه د تشریق په زوره اواز سره ویل.

کتاب الحظر والاباحة

باب الاکل والشرب

په اسلام کي دسګریټو اوچرسودڅکولو حکم څه دی ؟

سوال ۱ : د چرسو او سګریټو د څکولو حکم په شریعت کي څه دی؟

جواب : د فقهاو و اقوالو ته په کتلو سره دا سي معلومېږي چي د چرسو، تریاقو، او هیروئینو څکول او خوړل حرام او ناروا دي د سګریټو څکول في نفسه مباح کار دی البته د خولې د بد بویي کېدلو په خاطر چي خلګو ته تکلیف رسیږي له دي سببه مکروه کار دی نو باید اجتناب ځني وسي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(وَيَحْرُمُ أَكْلُ الْبَنْجِ وَالْحَشِيشَةِ) هِيَ وَرَقُ الْقَتَبِ (وَالْأَفْيُونُ) لِأَنَّهُ مُفْسِدٌ لِلْعَقْلِ وَيَصُدُّ عَنْ

ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنْ الصَّلَاةِ (لَكِنْ دُونَ حُرْمَةِ الْخَمْرِ ، فَإِنْ أَكَلَ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ لَا حَدَّ عَلَيْهِ وَإِنْ سَكِرَ) مِنْهُ (بَلْ يُعَزَّرُ بِمَا دُونَ الْحَدِّ) كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ ، وَكَذَا تَحْرُمُ جَوْزَةُ الطِّيبِ لَكِنْ دُونَ حُرْمَةِ الْحَشِيشَةِ قَالَهُ الْمُصَنِّفُ .

وقال ابن عابدين شامي رحمه الله في ردالمحتار : فهذا كله ونظائره يحرم استعمال القدر المسكر منه دون القليل كما قدمناه، فافهم.ومثله بل أولى البرش وهو شئ مركب من البنج والافيون وغيرهما

(الدرالمختارمع ردالمحتار ج ۵ ص ۳۲۵ مكتبه رشيديه /فقه اسلامي وادلته ج ۷ ص ۵۵۰۵ مكتبه حبيبيه / كفايت المفتي ج ۱۳ ص ۲۵۲ ــ ۲۵۳ اردو /فتاوى عبادالرحمن ج ۵ ص ۱۳۲ اردو / ستاسي مسائل اودهغوی حل ج ۸ ص ۳۸۹ اردو)

دډوډۍ خوړلو وروسته په دسترخوان باندي لاسونه پاکول شرعاً څنګه دي

سوال: ۲ ځني کسان چي ډوډۍ وخوري دلاسو دپرېولو څخه مخکي خپل لاسونه په دسترخوان باندي پاک کړي ايا په دسترخوان باندي لاسونه پاکول شرعاً جائز دي که يا؟

جواب: دنبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه دډوډۍ دخوړلو سنت طريقه داسي رانقل سوېده چي ډوډۍ خوړونکی دي دډوډۍ دشروع څخه مخکي خپل لاسونه پريولي او بيا دي شروع په بسم الله الرحمن الرحيم سره وکړي او په دروګوتو دي خوراک کوي کله چي دخوراک څخه فارغه سو نولاسونه دي پريولي او خپله دنبي کريم صلى الله عليه وسلم عادت مبارک هم داغه ؤ چي دډوډۍ دخوړلو مخکي او وروسته به يې خپل لاسونه پرېمنځل نو زموږ دپاره هم پکار داده چي د نبی کريم صلى الله عليه وسلم سنت طريقه اختياره کړو .

پاته سوه داچي په دسترخوان باندي لاسونه پاکول نو داد ډوډۍ دادابو څخه خلاف عمل دی. بهتره طريقه داده چي دخوراک کولو څخه وروسته بايد لاسونه پرېمنځل سي او بيا که په اتول ياد سمال باندي وچ کړل سي مشکل نه لري البته دډوډۍ دخوړلو څخه مخکي بايد لاسونه نسي وچ .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق وَيُسْتَحَبُّ غَسْلُ الْيَدَيْنِ قَبْلَ الطَّعَامِ فَإِنَّ فِيهِ بَرَكَةً، وَفِي الْبُرْهَانِيَّةِ: وَالسُّنَّةُ أَنْ يَغْسِلَ الْأَيْدِيَ قَبْلَ الطَّعَامِ وَبَعْدَهُ (بحر) لما فى الهندية .قَالَ نَجْمُ الْأَئِمَّةِ الْبُخَارِيُّ وَغَيْرُهُ غَسْلُ الْيَدِ الْوَاحِدَةِ أَوْ أَصَابِعِ الْيَدَيْنِ لَا يَكْفِي لِسُنَّةِ غَسْلِ الْيَدَيْنِ قَبْلَ الطَّعَامِ؛ لِأَنَّ الْمَذْكُورَ غَسْلُ الْيَدَيْنِ... وَلَا يَمْسَحُ يَدَهُ قَبْلَ الطَّعَامِ بِالْمِنْدِيلِ لِيَكُونَ أَثَرُ الْغَسْلِ بَاقِيًا وَقْتَ الْأَكْلِ وَيَمْسَحُهَا بَعْدَهُ لِيَزُولَ أَثَرُ الطَّعَامِ بِالْكُلِّيَّةِ، كَذَا فِي خِزَانَةِ الْمُفْتِينَ.

(البحرالرائق ج ٨ ص ١٨٣ كتاب الكراهية فصل في الاكل والشرب سعيد چاپ/فتاوى الهندية ج ٥ ص ٣٣٧ كتاب الكراهية الباب الحادي عشر في الاكل رشيديه /المبسوط للسرخسي ج ١ ص ٦٧ باب الوضوء والغسل مكتبه شامله /المحيط البرهاني في الفقه النعماني ج ٥ ص ٣٥١ الفصل الثاني عشر في الاكل مكتبه شامله/مجمع الانهر ج ٢ ص ٥٢٥ فصل في الاكل مكتبه شامله/جامع الفتاوى ج ٣ ص ١٢٥ / فتاوى حقانيه ج ٢ ص ١٨٦ باب الاكل والشرب /بهشتي زيور ج ٢ ص ٢٩٢ كتاب الحظر والاباحة)

په ډوډۍ سره غوړ لاس دغوړو څخه پاکول څنګه دي ؟

سوال ٣ : ځيني کسان دغه عادت لري چي کله ډوډی خلاصه سي نو بيا غوړ لاسونه په ډوډۍ سره پاکوي پوښتنه داده په ډوډۍ سره غوړ لاسوه پاکول رواه دي که يا ؟

جواب : په دغه مسئله کښې ځيني علماء فرمايي چي که چيري دغه کس دغه ډوډۍ چي لاس يې په پاک کړی وخوړه نو کراهت نه لري . او که يې لاس په پاک کړی بيا يې پرېښوو له ويي نه خوړه نو بيا دغه عمل مکروه دی . او ځيني علماء يې بيا مطلقا مکروه بولي که يې وخوري او که يې ونه خوري ځکه چي دا داسراف علامه ده .

لما فى التاتارخانية : ومن الاسراف التمسح بالخبزوفى الذخيرة : ومن الاسراف مسح السكين والاصبع بالخبز عند الفراغ من الاكل من غير ان ياكل ما يتمسح به فاما اذا اكل فلا باس به .

(الفتاوى التاتارخانية ج١٨ ص ١٣٤ كتاب الكراهية الفصل كراهة الاكل ومايتصل به / فتاوى اللكنوي ص ٣٧٦)

دکوترې غوښې پاکې دې دخوراک او تجارت لپاره یې پالل هم رواه دې .

سوال ۴: دکوترې غوښې پاکې دې که یا ؟ همدا شان دکوترو پالل دتجارت دپاره یا دخوراک دپاره شرعا روا ینبت لري که یا ؟

جواب: دکوترې غوښې شرعاً پاکې دې . هغه نو بیا برابر دې که کورنی وي او که ځنګلي یعنې صحرایي وي ددوی په پاکوالي کښې کوم حرج شرعاً نسته .
او دتجارت یعنې رانیولو خرڅولو دپاره یې پالل هم شرعاً درست دې : خو په دې شرط چې ددوی دچینباک او خوراک لحاظ وسي او وږې تږې یې نه کړي او بل شرط دا چې وییې نه جنګوي سره ځکه چې کوتربازي یعنې الوزول په ګته خمار سره اوساتیرې په کول دلوط علیه السلام دقوم عمل او عادت وو .

(الفتاوی الهندیة ج۵ ص ۲۸۹ الباب الثاني في بیان مایوکل لحمه وما لایوکل لحمه . ردالمحتار ج ۹ ص ۳۹۱ کتاب الحظر والاباحة . فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۳۰)

دکارګه غوښې حلالې دې که یا ؟

سوال۵: کارګان خوځو قسمه دې یو صحرایي بل وطني په دوی کښې کوم کارګان حلال دي او کوم مرداردي او کوم مکروه په وطن او کلي او کښت کښې چې کوم کارګه هستوګنه کوي هغه حلال دي که یا ؟

جواب : غراب الزرع حلال دی غراب الزرع دا هغه تور کوچنی کارګه دی چې زاغ یه هم بولي ښکار نه کوي د حیواناتو ، فقط دانې خوري د غنمو یا اوربشو یانورو شیانودا بالاتفاق حلال دی **دوهم** هغه کارګه دی چې په منګلو سره ښکار کوي دا بالاتفاق حرام دی **دریم** هغه کارګه دی چې کلي ته راځي نجاست هم خوري دانه او ډوډۍ هم خوري د امام صاحب رحمه الله تعالی په نزد دا هم حلال دی **څلورم** هغه کارګه دی چې پرا او بوګرځي نجاست نه خوري دا هم حلال دی .

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار (و) حل (غراب الزرع) الذي یأکل ..... وفي ردالمحتار علی الدرالمختار : وحل غراب الزرع وهو غراب اسود صغیر یقال له الزاغ لم یاکل الا الحب .

ردالمحتار جلد ۶ ص ۳۰۷ کتاب الذبائح طبع سعید / کفایت المفتي جلد ۹ ص ۱۴۱ کتاب

الحظر والاباحة اردو / جواهر الاحکام ص ۳۲۸)

د کفارو د ملکو څخه راغلي په بندو ډبو کښی د ماهيانو غوښي!

سوال ۶: د ځيني کفري ملکو او دولتو څخه نن سبا دماهی غوښه په کاټن او ډبو کښی بنده راځي حال دا چی داد کفار وښکار کړی ماهيان دي ددغو غوښو خوراک شرعًا رواه دی که يا؟

جواب: د کفارو ښکار کړه سوی ماهيان او دهغو دغوښو خوراک شرعًا رواه او جايزدی: په دې شرط چي داوبود سرمړه ماهيان به نه وي چی په خپل طبعيت يادیوی مريضي څخه مړه سوي وي او بيا اوبو راپورته کړي وي بلکي ددوی په ښکار به مړه ياټپنګ سوي وي. [لانها تحل بدون التسمية والذبح]

وفی الفتاوی الهندية : السمک والجراد يوکلان غير ان الجراد يوکل مات بعلة او بغير علة والسمک اذا مات بغير علة لايوکل کذا فی الظهيرية .

[الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۴۲۸ الباب السادس في صيد السمک / مجموعة الفتاوی جلد ۲ ص ۳۰۶ کتاب الاکل والشرب/ فتاوی فريديه جلد ۴ ص ۵۱۹ اردو]

دموسيقي اوريدلو په وخت کښې ډوډی خوړل .

سوال ۷ : ځيني وختونه داسي پيښيږي چي ديو واده يا کوزدې مراسمو ته موږ وبلل سو او هلته بيا دموسيقي او سروز ناروا پروګرام هم تازه وي پو ښتنه داده چي دموسيقي داوريدلو په وخت کښې ډوډی خوړل رواه ده که يا ؟

جواب : که چيري دغه سروز او موسيقي خاص په هغه وطاق اومحل کښې نه وي چي دوی هلته ناست دي نو هلته ډوډی خوړل پرواه نه لري ځکه چي مقصد دده ډوډی ده نه موسيقي اوريدل . او که يې پر منع کيدو باندي قدرت درلودی منع دي کړي او که يې پر منع کيدو باندي قدرت نه درلودی چي ډوډی يې وخوړه نور دي هغه ځای پريږدي ولاړ دي سي. او که چيري دغه موسيقي خاص په هغه وطاق کښې وه (يعني پر سترخوان باندي وه) چي دی هلته ناست وو نو بيا هلته کښينستل او ډوډی خوړل حرام عمل دی. ځکه چي دموسيقي اوريدل په شريعت مطهره کښې دآيت او حديث

شریف د نکاه څخه کبیره ګناه ده تفصیلات نور د فقهي شریفي په کتابونو کښې دی
.والله اعلم بالصواب.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :
(دُعِيَ إلَى وَلِيمَةٍ وَثَمَّةَ لَعِبٌ أَوْ غِنَاءٌ قَعَدَ وَأَكَلَ) لَوْ الْمُنْكَرُ فِي الْمَنْزِلِ، فَلَوْ عَلَى الْمَائِدَةِ لَا يَنْبَغِي أَنْ يَقْعُدَ بَلْ يَخْرُجُ مُعْرِضًا لِقَوْلِهِ تَعَالَى: – {فَلا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ} [الأنعام: ٦٨]– (فَإِنْ قَدَرَ عَلَى الْمَنْعِ فَعَلَ وَإِلَّا) يَقْدِرُ (صَبَرَ إنْ لَمْ يَكُنْ مِمَّنْ يُقْتَدَى بِهِ فَإِنْ كَانَ) مُقْتَدًى (وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْمَنْعِ خَرَجَ وَلَمْ يَقْعُدْ) لِأَنَّ فِيهِ شَيْنَ الدِّينِ .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۵ ص ۲۴۵ کتاب الحظر والاباحة / الهداية ج ۴ ص ۴۵۳ کتاب الکراهية مکتبه حنفيه / فتاوى فريديه ج ۵ ص ۲۲۰ باب الوليمة)

دسوی غوښه حلاله ده که یا ؟

سوال ۸ : د سوی غوښه حلاله ده که مرداره ؟

جواب : د سوی غوښې شرعا پاکي دي هر قسم سوی چي وي .

ويحل اكل الارنب عند العلمآء كانه الخ ......

(حيواة الحيوان ج ۱ ص ۱۹ / فتاوى رشيديه ج ۲ ص ۹۰ / فتاوى رحيميه ج ۱۰ ص ۷۳ باب مايجوز اكله من الحيوان)

دداسي کس دکور ډوډۍ خوړل چي مال يې حرام وي .

سوال ۹ : د داسي کس د کور ډوډۍ خوړل یا تحفه قبلول څنګه ده چي د هغه نفقه حرامه وي مثلا رشوت خور وي یا سود خوره وي یا بله ناروا معامله کوي .

جواب : فقهاوو ليکلي دي که چيري ديو کس سره حرام او حلال مال ګډوډ وي خو حلال مال يې تر حرام مال زيات وي نو دداسي کس د دعوت او ميلميستيا د قبلولو ګنجايش او جواز سته البته احتياطاً او تنبيهاً د انکار جواز هم سته چي نه درځم . او که يې چيري حرام مال تر حلال مال زيات وو نو بيا د داسي کس دعوت قبلول منع او غير جائز دی . البته که چيري دی جلا ستاسي دپاره په حلال مال سره ميلمستيا وکړي نو بيا د هغه قبلول رواه دي . او که بالکل نيم مال حلال او نيم مال حرام وو نو بيا د هغه کس د دعوت څخه اجتناب کول پکار دي .

وَفِي الْبَزَّازِيَّةِ غَالِبُ مَالِ الْمُهْدِي إِنْ حَلَالًا لَا بَأْسَ بِقَبُولِ هَدِيَّتِهِ وَأَكْلِ مَالِهِ مَا لَمْ يَتَبَيَّنْ أَنَّهُ مِنْ حَرَامٍ؛ لِأَنَّ أَمْوَالَ النَّاسِ لَا يَخْلُو عَنْ حَرَامٍ فَيُعْتَبَرُ الْغَالِبُ وَإِنْ غَالَبَ مَالَهُ الْحَرَامُ لَا يَقْبَلُهَا وَلَا يَأْكُلُ إِلَّا إِذَا قَالَ إِنَّهُ حَلَالٌ أُورِثْتُهُ وَاسْتَقْرَضْتُهُ

(مجمع الانهر ج ٢ ص ٥٢٩ كتاب الكراهية فصل في الاكل دار احياء التراث العربي بيروت / البزازية علي هامش الفتاوى العالمگيرية ج ۶ ص ٣۶٠ كتاب الكراهية / الفصل الرابع في الهدية والميراث رشيديه / فتاوى قاضي خان علي هامش الفتاوى العالمگيرية ج ٣ ص ۴٠٠ كتاب الحظروالاباحة مايتعلق بالضيافة / فتاوى حقانيه ج ٢ ص ١٨٩ / كفايت المفتي ج ٩ ص ٢۴٨ / فتاوى محموديه ج ١٨ ص ١٣٢ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ٨ ص ٣٨٩ / فتاوى محموديه ج ١٨ ص ١٣٢ باب الضيافات والهدايا)

د ډوډۍ په اول او اخير کي مالګه څکل څنګه دي ؟

سوال ١٠: آیا د ډوډۍ په شروع او اخره کي مالګه څټل په ژبه سره سنت کار دی که مستحب؟ امام غزالي رحمه الله تعالی په خپل کتاب احیاء العلوم کي د ډوډۍ یو ادب د مالګي څټل ذکر کړی دي آیا په دې باره کي څه حدیث سته که یا؟

جواب: د ډوډۍ په شروع او اخره کي مالګه څټل په هېڅ صحیح حدیث سره ثابت نه دي او هغه اقوال چي په دې باره کي په بعضي کتابو کي راغلي دي هغه هم په صحیح حدیثو سره نه دي ثابت. هغه احادیث چي دغه خبره په کښي راغلی ده هغه احادیث ټوله موضوعي یعني د ځانه جوړ سوي دي، لهذا شروع د ډوډۍ په مالګه سره او اخر د ډوډۍ د مالګي په څټلو سره سنت بلل یو قسم ناپوهي او جهالت دی چي پرهېز ځیني لازم دی.

قال الملا علي القاري منها وصايا على كلها موضوعة سوى الحديث الاول وهو يا علي انت مني بمنزلة هارون من موسٰى غير انه لا نبي بعدي، يا علي عليك بالملح فانه شفاء من سبعين داء نص ابن القيم انه موضوع

(الاسرار المرفوعة ص ٣٨٨ / الالهي المصنوعة ج ٢ ص ٢١١ / فردوس الاخبار ج ٢ ص ۴۶٣ / الموضوعات الكبرى ص ٢٧٢ / امدادالفتاوى ج ۴ ص ١٢۵ اردو / فتاوى هادية ج ٢ ص ۴٢٠ / بلوغ المرام ص ٢٩١ پښتو)

په ولاړه سره اوبه چیښل څنګه دي ؟

سوال ۱۱: د یوه کس څخه مو واورېده چي زموږ مولوی صاحب په نصیحت کښي وویل هرچا چي په ولاړي اوبه وچښلې باید قی یې کړي ځکه چي په ولاړي اوبه چښل حرام کار دی، اوس صحیح صورت نه دی معلوم چي هغه کس نه دی پوه سوی په مسئله او که مسئله همداسي ده؟

جواب: د اوبو د چیښلو پر برابر موږ د احادیثو په ذخیره کښي مختلف احادیث لرو
(۱) په یوه حدیث شریف کښي راځي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړې ده په ولاړي د اوبو چیښلو څخه د (**مسلم شریف**)
(۲) په بل حدیث شریف کښي راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هېڅ کس باید په تاسي کښي په ولاړي اوبه ونه چښي او که چا په هېره سره وچښلې پکار ده چي قی یې کړي (**رواه مسلم**)
دوهم قسم احادیث هغه دي چي په هغو کښي دغه مضمون نقل سوی دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم او غټو صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم په ولاړي اوبه چیښلي دي مثلا جبیربن مطعم رضي الله عنه فرمائي چي ما ابوبکر صدیق رضي الله عنه ولیدی په ولاړي یې اوبه چښلې (**مواهب لدینه**)
امام مالک رحمة الله علیه فرمائي چي ماته حدیث رسېدلی دی چي ابوبکر عمر او عثما رضي الله تعالی عنهم په ولاړي اوبه وچښلې حضرت علي رضي الله تعالی عنه اودس وکړی او بیا یې باته اوبه په ولاړي سره وچیښلې او حواله یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فعل ورکړه چي هغه مبارک داسي وکړه اوس د دغه احادیثو تر مېنځ یو قسم تضاد او تعارض صورةً واقع سو.
دغه ظاهري او سرسري ټکراو تضاد علماء کرامو داسي لیري کړی دی په کومو احادیثو کښي چي د ولاړي د چیښلو څخه منع راغلې ده دا منع د حراموالي لپاره نه ده راغلې چي په ولاړي سره اوبه چیښل حرام دي بلکه دا منع تنزیهي راغلې ده یعني په ولاړي سره اوبه چیښل مکروه تنزیهي کار دی نه حرام بنه کار او سنت طریقه دا ده چي په ناسته سره په درې ساه سره په بسم الله سره اوبه وچیښل سي.

(۲) یا دا منع د ولاړي د چیښلو څخه هغه وخت ده چي خلګ دا وبو چیښل په ولاړه سره خپل عادت جوړ کړي او دا خپل معمول وګرځوي په ناسته يې نه چیښي کله نا کله که د تلواري د وجي یا د ځای د چوکړاو ختهو د وجي که په ولاړه سره وچیښل سي پروا نه لري رسول الله صلی الله علیه وسلم چي په ولاړه سره اوبه وچیښلې صرف د روا والي په خاطر چي په ولاړي سره چیښل هم روا دي.

او په حدیث شریف کښي چي د قي امر راغلی دی دا امر د وجوب لپاره نه دی بلکه د استحباب لپاره دی یعني قی کول يې واجب نه دي بلکه مستحب او ښه کار دی چي نفس عبرت واخلي. قاضي رحمه الله تعالی ویلي دي چي دغه ممانعت د ولاړي او امر د قي کولو په حقیقت کښي رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ د اولٰی او بهتري طریقې طرف ته رابولي چي هغه په ناسته چیښل دي او یو قسم تنبیه او ادب دی نه دا چي په ولاړه چیښل حرام دي.

تنبیه: دوه قسمه اوبه د دغه حکم څخه مستثنٰی دي یعني هغه په ولاړه چیښل مستحب دي (۱) د زمزم اوبه (۲) داو داسه څخه پاته اوبه.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار: (قَوْلُهُ: وَفِيمَا عَدَاهُمَا يُكْرَهُ إلَخْ) أَفَادَ أَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْ قَوْلِهِ قَائِمًا عَدَمُ الْكَرَاهَةِ لَا دُخُولُهُ تَحْتَ الْمُسْتَحَبِّ؛ وَلِذَا زَادَ قَوْلَهُ: أَوْ قَاعِدًا.

وَاعْلَمْ أَنَّهُ وَرَدَ فِي الصَّحِيحَيْنِ أَنَّهُ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: «لَا يَشْرَبَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ قَائِمًا، فَمَنْ نَسِيَ فَلْيَسْتَقِئْ» وَفِيهِمَا «أَنَّهُ شَرِبَ مِنْ زَمْزَمَ قَائِمًا» وَرَوَى الْبُخَارِيُّ «عَنْ عَلِيٍّ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – أَنَّهُ بَعْدَمَا تَوَضَّأَ قَامَ فَشَرِبَ فَضْلَ وَضُوئِهِ وَهُوَ قَائِمٌ، ثُمَّ قَالَ: إنَّ نَاسًا يَكْرَهُونَ الشُّرْبَ قَائِمًا، وَإِنَّ النَّبِيَّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ» وَأَخْرَجَ ابْنُ مَاجَهْ وَالتِّرْمِذِيُّ عَنْ كَبْشَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا – «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا قِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ فَشَرِبَ مِنْهَا وَهُوَ قَائِمٌ فَقَطَعَتْ فَمَ الْقِرْبَةِ تَبْتَغِي بَرَكَةَ مَوْضِعِ فِي رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –» وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، فَلِذَا اخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي الْجَمْعِ؛ فَقِيلَ: إنَّ النَّهْيَ نَاسِخٌ لِلْفِعْلِ، وَقِيلَ:

بِالْعَكْسِ، وَقِيلَ: إنَّ النَّهْيَ لِلتَّنْزِيهِ وَالْفِعْلُ لِبَيَانِ الْجَوَازِ. وَقَالَ النَّوَوِيُّ: إنَّهُ الصَّوَابُ. وَاعْتَرَضَهُ فِي الْحِلْيَةِ بِحَدِيثِ عَلِيٍّ الْمَارِّ حَيْثُ أَنْكَرَ عَلَى الْقَائِلِينَ بِالْكَرَاهَةِ، وَبِمَا أَخْرَجَهُ التِّرْمِذِيُّ وَغَيْرُهُ، وَحَسَّنَهُ عَنْ ابْنِ عُمَرَ " كُنَّا نَأْكُلُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَنَحْنُ نَمْشِي وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيَامٌ " قَالَ: وَجَنَحَ الطَّحَاوِيُّ إلَى أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ، وَأَنَّ النَّهْيَ لِخَوْفِ الضَّرَرِ لَا غَيْرُ، كَمَا رُوِيَ عَنْ الشَّعْبِيِّ قَالَ: إنَّمَا كُرِهَ الشُّرْبُ قَائِمًا لِأَنَّهُ يُؤْذِي. قَالَ فِي الْحِلْيَةِ: فَالْكَرَاهَةُ عَلَى مَا صَوَّبَهُ النَّوَوِيُّ شَرْعِيَّةٌ يُثَابُ عَلَى تَرْكِهَا، وَعَلَى هَذَا إرْشَادِيَّةٌ لَا يُثَابُ عَلَى تَرْكِهَا. ثُمَّ اسْتَشْكَلَ مَا مَرَّ مِنْ اسْتِثْنَاءِ الْمَوْضِعَيْنِ: أَيْ الشُّرْبِ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ وَمِنْ فَضْلِ الْوُضُوءِ وَكَرَاهَةِ مَا عَدَاهُمَا، بِأَنَّهُ لَا يَتَمَشَّى عَلَى

(الدرالمختارمع ردالمحتار ج ۱ ص ۹۵ مکتبه رشيديه / مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۱۶۳ مکتبه حبيبيه / جامع الفتاوی ج ۳ ص ۱۵۵ اردو / اپ کي مسائل ج ۸ ص ۳۸۵ اردو / فتاوی حقانية ج ۲ ص ۱۸۷ پښتو)

پیاز او وږه خوړل بیا مسجد ته تلل

سوال ۱۲: کچه وږه یا پیاز یا مولۍ یا دې ته ورته نوره بد بوداره او کریه الرایحة ترکاري خوړل او بیا مسجد ته تلل څنګه دی جواز لري که یا؟

جواب: په حدیث شریف کښې راځي (من اكل ثوما او بصلاً فليعتزلنا او قال فليعتزل مسجدنا و ليقعد في بيته) متفق عليه

د دغه احادیثو په رڼا کي کچه وږه یا کچه پیاز خوړل مسجد ته را تلل مکروه تحریمي عمل دی لیکن طریقه یې دا ده چي باید و مسجد ته د راتلو مخکي ښه ټینګ مسواک ووهل سي یا د غاښو په برش او دواء باندي خوله پرېوله سي، ځکه چي د داسي بوی څخه وفرشتو او عامو لمونځ کوونکو ته تکلیف او ایذاء رسېږي چي دا کار حرام دی.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَأَكْلٌ وَنَوْمٌ إلَخْ) وَإِذَا أَرَادَ ذَلِكَ يَنْبَغِي أَنْ يَنْوِيَ الِاعْتِكَافَ، فَيَدْخُلَ وَيَذْكُرَ اللَّهَ تَعَالَى بِقَدْرِ مَا نَوَى، أَوْ يُصَلِّيَ ثُمَّ يَفْعَلَ مَا شَاءَ فَتَاوَى هِنْدِيَّةٌ (قَوْلُهُ وَأَكْلُ نَحْوِ ثُومٍ) أَيْ كَبَصَلٍ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ

لِلْحَدِيثِ الصَّحِيحِ فِي النَّهْيِ عَنْ قُرْبَانِ آكِلِ الثُّومِ وَالْبَصَلِ الْمَسْجِدَ. قَالَ الْإِمَامُ الْعَيْنِيُّ فِي شَرْحِهِ عَلَى صَحِيحِ الْبُخَارِيِّ قُلْت: عِلَّةُ النَّهْيِ أَذَى الْمَلَائِكَةِ وَأَذَى الْمُسْلِمِينَ وَلَا يَخْتَصُّ بِمَسْجِدِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ –، بَلْ الْكُلُّ سَوَاءٌ لِرِوَايَةِ مَسَاجِدنَا بِالْجَمْعِ، خِلَافًا لِمَنْ شَذَّ وَيَلْحَقُ بِمَا نَصَّ عَلَيْهِ فِي الْحَدِيثِ كُلُّ مَا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ مَأْكُولًا أَوْ غَيْرَهُ، وَإِنَّمَا خَصَّ الثُّومَ هُنَا بِالذِّكْرِ وَفِي غَيْرِهِ أَيْضًا بِالْبَصَلِ وَالْكُرَّاثِ لِكَثْرَةِ أَكْلِهِمْ لَهَا، وَكَذَلِكَ أَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بِذَلِكَ مَنْ بِفِيهِ بَخَرٌ أَوْ بِهِ جُرْحٌ لَهُ رَائِحَةٌ، وَكَذَلِكَ الْقَصَّابُ، وَالسَّمَّاكُ، وَالْمَجْذُومُ وَالْأَبْرَصُ أَوْلَى بِالْإِلْحَاقِ. وَقَالَ سَحْنُونٌ لَا أَرَى الْجُمُعَةَ عَلَيْهِمَا. وَاحْتَجَّ بِالْحَدِيثِ وَأَلْحَقَ بِالْحَدِيثِ كُلُّ مَنْ آذَى النَّاسَ بِلِسَانِهِ، وَبِهِ أَفْتَى ابْنُ عُمَرَ وَهُوَ أَصْلٌ فِي نَفْيِ كُلِّ مَنْ يُتَأَذَّى بِهِ. وَلَا يَبْعُدُ أَنْ يُعْذَرَ الْمَعْذُورُ بِأَكْلِ مَا لَهُ رِيحٌ كَرِيهَةٌ، لِمَا فِي صَحِيحِ ابْنِ حِبَّانَ عَنْ «الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ انْتَهَيْتُ إلَى رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فَوَجَدَ مِنِّي رِيحَ الثُّومِ فَقَالَ: مَنْ أَكَلَ الثُّومَ، فَأَخَذْتُ يَدَهُ فَأَدْخَلْتها فَوَجَدَ صَدْرِي مَعْصُوبًا، فَقَالَ: إنَّ لَك عُذْرًا» وَفِي رِوَايَةِ الطَّبَرَانِيِّ فِي الْأَوْسَطِ «اشْتَكَيْت صَدْرِي فَأَكَلْته» وَفِيهِ: فَلَمْ يُعَنِّفْهُ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –، وَقَوْلُهُ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – «وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ» صَرِيحٌ فِي أَنَّ أَكْلَ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ عُذْرٌ فِي التَّخَلُّفِ عَنْ الْجَمَاعَةِ. وَأَيْضًا هُنَا عِلَّتَانِ: أَذَى الْمُسْلِمِينَ وَأَذَى الْمَلَائِكَةِ؛ فَبِالنَّظَرِ إلَى الْأُولَى يُعْذَرُ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ وَحُضُورِ الْمَسْجِدِ، وَبِالنَّظَرِ إلَى الثَّانِيَةِ يُعْذَرُ فِي تَرْكِ حُضُورِ الْمَسْجِدِ وَلَوْ كَانَ وَحْدَهُ اهـ مُلَخَّصًا.

أَقُولُ: كَوْنُهُ يُعْذَرُ بِذَلِكَ يَنْبَغِي تَقْيِيدُهُ بِمَا إذَا أَكَلَ ذَلِكَ بِعُذْرٍ أَوْ أَكَلَ نَاسِيًا قُرْبَ دُخُولِ وَقْتِ الصَّلَاةِ لِئَلَّا يَكُونَ مُبَاشِرًا لِمَا يَقْطَعُهُ عَنْ الْجَمَاعَةِ بِصُنْعِهِ

(مشکوة المصابیح ج ۱ ص ۶۸ امیر حمزه کتب خانه / مرقاة المفاتیح ج ۲ ص ۳۸۵ مکتبه حبیبیه / فتح الملهم ج ۴ ص ۱۰۸ / ردالمحتار ج ۱ ص ۴۸۹ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۵ ص ۲۴۵ اردو / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۱۹۱ پښتو)

دخوراک اوڅښاک پرشیانو پوه کول

سوال ۱۳: بعضي خلک وايي چې د خوراک او څیښاک پرشیانو باندې پوکل منعه دي نو رښتیا هم داسې ده که څنګه؟

جواب : فقهاء کرامو په کتابونو کي ليکلي دي چي دخوراک يا څيښناک پرشيانو باندي پوکل مکروه کاردی .

لمافي الهندية : وَلَا يُؤْكَلُ طَعَامٌ حَارٌّ، وَلَا يُشَمُّ، وَلَا يُنْفَخُ فِي الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ، وَمِنْ السُّنَّةِ أَنْ لَا يَأْكُلَ الطَّعَامَ مِنْ وَسَطِهِ فِي ابْتِدَاءِ الْأَكْلِ، كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ.

(سنن ابن ماجه ص ۲۴۵ قديمي / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۳۷ مکتبه رشيديه / خلاصة الفتاوى ج ۴ ص ۳۶۰ مکتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۹۰ اردو / اپ کي مسائل ج ۸ ص ۴۰۴ اردو)

دمختلفو حيواناتو غوښي خوړل څنګه دي

سوال ۱۴ : ددغه مذکوره حيواناتو دغوښو پر برابر سوال لرو په وضاحت سره يې جواب غواړو دخره غوښه ، دغاترى غوښه ، دکوترى غوښه ، چي پر کور پالل کيږي او ساتل کيږي ، ځيني کسان بيا وايي چي دکورنۍ کوترو غوښي حرامي دي ځکه دا په نسل او قوم سره سيداني دي او د ځنګله ده بيا روا دي او ځيني بيا وايي چي دآس غوښه حلاله ده . حقيقت حال په شريعت کښي څه دی؟

جواب : دخره او غاتري غوښي په اتفاق دعلماؤ او فقهاؤ حرامي دي دکوتري غوښي حلالي دي که کورنۍ وي که صحرايي وي هيڅ فرق په حلت او رواه والي کي نه لري ، دآس په غوښو کښي اختلاف سته امام صاحب رح يې مکروه تحريمي بولي ځکه چي آس دجهاد آله ده او دجمهورو امامانو په نزد بيا پاکي دي .

لماقال علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ۵۸۷هـ) وَأَمَّا) لَحْمُ الْخَيْلِ فَقَدْ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: يُكْرَهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللَّهُ: لَا يُكْرَهُ، وَبِهِ أَخَذَ الشَّافِعِيُّ - رَحِمَهُ اللَّهُ - وَاحْتَجَّا بِمَا رُوِيَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ قَالَ: «أَكَلْنَا لَحْمَ فَرَسٍ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -» وَرُوِيَ عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ وَأَذِنَ فِي الْخَيْلِ» وَرُوِيَ أَنَّهُ قَالَ: «أَطْعَمَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لُحُومَ الْخَيْلِ وَنَهَانَا عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ» وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: «كُنَّا قَدْ جَعَلْنَا فِي قُدُورِنَا لَحْمَ الْخَيْلِ وَلَحْمَ الْحِمَارِ فَنَهَانَا النَّبِيُّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - أَنْ

نَأْكُلَ لَحْمَ الْحِمَارِ وَأَمَرَنَا أَنْ نَأْكُلَ لَحْمَ الْخَيْلِ» ، وَعَنْ سَيِّدَتِنَا أَسْمَاءَ بِنْتِ سَيِّدِنَا أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا – أَنَّهَا قَالَتْ: «نَحَرْنَا فَرَسًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فَأَكَلْنَاهُ» وَلِأَبِي حَنِيفَةَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – الْكِتَابُ وَالسُّنَّةُ وَدَلَالَةُ الْإِجْمَاعِ. (أَمَّا) الْكِتَابُ الْعَزِيزُ فَقَوْلُهُ جَلَّ شَأْنُهُ {وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً} [النحل: ٨] .

(بدائع الصنائع ج ۴ ص ۱۴۹ ، ۱۵۰ ، ۱۵۳ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۲۸۹ ، ۲۹۰ مکتبه رشيديه / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۴۹۶ اردو)

پر مېز او چوکۍ باندي ډوډۍ خوړل .

سوال ۱۵ : نن سبا ځيني ځايونه دډوډۍ دخوراک ترتيب داسي راروان دی چي خلګ ډوډۍ پر کرسيو او مېزونو باندي خوري پوښتنه داده چي پر ميز او چوکيو باندي ډوډۍ خوړل شرعا رواه ده که يا ؟ .

جواب : پر مېز او چوکۍ باندي ډوډۍ خوړل دسنت طرېقې څخه مخالف عمل دی . په کومو ځايونو کښې دغه فعل دکفارو او فساقو شعار او علامت وعادت وي هلته بالکل ممنوع دی او چيري چي بيا دغه طريقه دکفارو شعار نه وي بلکي عام عادت وي يعني صالحين خلګ هم داسي خوراکونه کوي هلته بيا دومره زيات تشدد نسته بلکي فی الجمله تخفيف سته خو بيا هم خلاف سنت عمل دی .

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد

وقال الملاعلى القارى رحمه الله تعالى : أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ، أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ. (فَهُوَ مِنْهُمْ) : أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ. قَالَ الطِّيبِيُّ: هَذَا عَامٌّ فِي الْخَلْقِ وَالْخُلُقِ وَالشِّعَارِ، وَلِمَا كَانَ الشِّعَارُ أَظْهَرُ فِي التَّشَبُّهِ ذُكِرَ فِي هَذَا الْبَابِ. قُلْتُ: بَلِ الشِّعَارُ هُوَ الْمُرَادُ بِالتَّشَبُّهِ لَا غَيْرُ، فَإِنَّ الْخُلُقَ الصُّورِيَّ لَا يُتَصَوَّرُ فِيهِ التَّشَبُّهُ، وَالْخُلُقَ الْمَعْنَوِيَّ لَا يُقَالُ فِيهِ التَّشَبُّهُ، بَلْ هُوَ التَّخَلُّقُ،

(مشکاة المصابيح ص ۳۷۵ قديمي کتب خانه / مرقاة المفاتيح ج ۲ ص ۲۷۸۲ مکتبه شامله / فتاوی محموديه ۱۸ ص ۷۸ باب الاکل والشرب / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۳۸۱ باب

الاكل والشرب/ الكوكب الدرى مع الحاشية كتاب الاطعمة ج ٢ ص ١ / عمدة القارى كتاب الاطعمة ، باب الخبز المرقق والاكل علي الخوان ج ١٥ ص ٣٤ المطبعة المنيرية بيروت)

دډوډۍ خوړلو په دوران کي خبري کول ښه دي که پټه خوله ناسته ښه ده ؟

سوال ١٦: د ډوډۍ خوړلو په وخت او دوران کي پټه خوله کښېنستل ښه کار دی او که خبري کول فتاوی شامية کي پټه خوله کښېنستل مکروه ليکلي دي شرعاً او مفتی به قول کوم يو دی خبري کول او که چپ ناسته ؟

جواب : د ډوډۍ په دوران کي پټه خوله کښېنستل نه دي مکروه ځکه چي په فتاوی شامية کي دخاموشي علت دا ذکر کړي دي چي په دي کي مشابهت دآتش فرستانو سره دی مګر دزمانې او مکان دتغير دوجي دتشبه احکام بدلېږي په نن زمانه کي تشبه نه ده البته بهتره داده چي جايزي او تفريحي خبري وسي .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَيُكْرَهُ السُّكُوتُ حَالَةَ الْأَكْلِ لِأَنَّهُ تَشَبُّهٌ بِالْمَجُوسِ وَيَتَكَلَّمُ بِالْمَعْرُوفِ.

(ردالمحتارج ص ٢٣٩ مکتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ٥ ص ٣٤٥ مکتبه رشيديه / احياء العلوم ص ١٨٨ / ستاسي مسائل اودهغوی حل ج ٨ ص ٣٨٥ اردو / احسن الفتاوی ج ٨ ص ١٠٩ اردو / فتاوی حقانيه ج ٢ ص ١٨٨ پښتو)

ګوله بايد په څوګوتو پورته سي ؟

سوال ١٧: ګوله دغابه او کاسې او پيالې څخه بايد په څو ګوتو سره پورته سي په پنځو که په دروګوتو سره ؟

جواب : د ډوډۍ او خوراک دآدابو څخه يو ادب دادی چي ګوله بايد دغابه يا پيالې څخه وخولې ته په دروګوتو سره پورته سي بټه ګوته او دوې يې دبغل ګوتي پرله پسي او په پنځو ګوتو سره خوړل خلاف آدب خوراک دی.

وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ بِثَلَاثَةِ أَصَابِعَ وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَن يمسحها. رَوَاهُ مُسلم

(صحيح المسلم ج ٢ ص ١٧٥ / مشکوة المصابيح ج ٢ ص ٣٦٣ مکتبه حنفيه / مرقاة المفاتيح ج ٨ ص ٨٦ ــ ٨٧ مکتبه حبيبيه / فتاوی اللکهنوي ص ٣٧٧ مکتبه حبيبيه / فتاوی حقانيه ج ٢ ص ١٨٨ پښتو)

دډبرو او او سپنو او خاورو خوراک رواه دی که یا ؟

سوال ۱۸: ځیني کسان داسي دي چي خاوري یا ډبري یا اوسپني یا نور داسي خلاف العادته شیان خوري چي انسان ورته حیرانیږي سوال دادی چي دخاورو او ډبرو یا دوی ته ورته نورو شیانو خوړل رواه دي که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي خاوري یا هغوی ته ورته ډبري یا لوټي خوړل شرعا ممنوع دي ځکه چي دانسان دصحت دپاره مضر (ضرر رسوونکي) دي.

داداسي دی لکه عامه ډوډی چي په ځیني اوقاتو کښې خوړل شرعا منع ده. حالانکي هغه ډوډی پاکه ده. او په ځیني صورتونو کښې بیا ددغه ډوډی خوړل واجب ده، او په ځینو صورتونو کښې بیا خوړل سنت ده. لیکن چي صحت ته ضرر رسوونکي سي نو بیا منع دي.

وفی الفتاوی الهندیة : وَسُئِلَ بَعْضُ الْفُقَهَاءِ عَنْ أَكْلِ الطِّينِ الْبُخَارِيِّ وَنَحْوِهِ قَالَ لَا بَأْسَ بِذَلِكَ مَا لَمْ يَضُرَّ وَكَرَاهِيَةُ أَكْلِهِ لَا لِلْحُرْمَةِ بَلْ لِتَهْيِيجِ الدَّاءِ، وَعَنْ ابْنِ الْمُبَارَكِ كَانَ ابْنُ أَبِي لَيْلَى يَرُدُّ الْجَارِيَةَ مِنْ أَكْلِ الطِّينِ وَسُئِلَ أَبُو الْقَاسِمِ عَمَّنْ أَكَلَ الطِّينَ قَالَ لَيْسَ ذَلِكَ مِنْ عَمَلِ الْعُقَلَاءِ، كَذَا فِي الْحَاوِي لِلْفَتَاوَى.

وفی خلاصة الفتاوی : اکل الطین مکروه لانه تشبه بفرعون فان فرعون لم یکن الا اکل الطین ....

وفی الفتاوی الهندیة : أَمَّا الْأَكْلُ فَعَلَى مَرَاتِبَ: فَرْضٌ، وَهُوَ مَا يَنْدَفِعُ بِهِ الْهَلَاكُ، فَإِنْ تَرَكَ الْأَكْلَ وَالشُّرْبَ حَتَّى هَلَكَ فَقَدْ عَصَى. وَمَأْجُورٌ عَلَيْهِ، وَهُوَ مَا زَادَ عَلَيْهِ لِيَتَمَكَّنَ مِنْ الصَّلَاةِ قَائِمًا وَيَسْهُلَ عَلَيْهِ الصَّوْمُ. وَمُبَاحٌ، وَهُوَ مَا زَادَ عَلَى ذَلِكَ إلَى الشِّبَعِ لِتَزْدَادَ قُوَّةُ الْبَدَنِ، وَلَا أَجْرَ فِيهِ، وَلَا وِزْرَ وَيُحَاسَبُ عَلَيْهِ حِسَابًا يَسِيرًا إنْ كَانَ مِنْ حِلٍّ. وَحَرَامٌ، وَهُوَ الْأَكْلُ فَوْقَ الشِّبَعِ إلَّا إذَا قَصَدَ بِهِ التَّقَوِّيَ عَلَى صَوْمِ الْغَدِ أَوْ لِئَلَّا يَسْتَحْيِيَ الضَّيْفُ فَلَا بَأْسَ بِأَكْلِهِ فَوْقَ الشِّبَعِ.

(الفتاوی الهندیة کتاب الکراهیة الباب الحادی عشر فی الکراهیة فی الاکل ج۵ ص ۳۴۱ / ج ۵ ص ۳۳۶ مکتبه رشیدیه / الفتاوی السراجیة کتاب الحظر والاباحة باب الاکل ص ۷۴ سعید /

خلاصة الفتاوی کتاب الکراهیة الفصل الخامس في الاکل ج ۴ ص ۳۶۰ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۴۰۷ باب شرب الدخان واستعمال النورة وغیرها)

اوربه خوړل رواه دي که یا ؟

سوال ۱۹ : کله چي غوا یا بزه یا مېږه لنګه سي دلنګول څخه وروسته د دغه حیوان په تیو او غولانځه کښې چي دا نهه مباشتي کومي شېدې وي کومو ته چي کنډ وایي او وروسته بیا بوره او شېدې ور سره کیږي او خوړل کیږي چي زموږ په اصطلاح کښې ورته اوربه وایي د دغه اوربو خوراک رواه دی که یا ؟ .

جواب : د حیوان د بچي تر پیدا کېدو وروسته چي کومي شېدې د دغه حیوان د تیو او غولانځي څخه راوزي او په پخېدو سره بیا خټه سي کومو ته چي اوربه ویل کیږي شرعا حلال دي او خوراک یې رواه دی .

وفی مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر : وَاعْلَمْ أَنَّ الْأَصْلَ فِي الْأَشْيَاءِ كُلِّهَا سِوَى الْفُرُوجِ الْإِبَاحَةُ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا} [البقرة: ۲۹] وَقَالَ {كُلُوا مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلالا طَيِّبًا} [البقرة: ۱۶۸] وَإِنَّمَا تَثْبُتُ الْحُرْمَةُ بِعَارِضِ نَصٍّ مُطْلَقٍ أَوْ خَبَرٍ مَرْوِيٍّ فَمَا لَمْ يُوجَدْ شَيْءٌ مِنْ الدَّلَائِلِ الْمُحَرِّمَةِ فَهِيَ عَلَى الْإِبَاحَةِ . وفی ردالمحتار علی الدرالمختار : لبن الماکول حلال .

(ردالمحتار علي الدرالمختار کتاب الاشربة ج ۶ ص ۴۵۶ مکتبه شامله بیروت چاپ / مجمع الانهر کتاب الاشربة ج ۲ ص ۵۶۸ داراحیاء تراث العربي بیروت چاپ / ردالمحتار کتاب الطهارة مطلب المختار ان الاصل في الاشیآء الاباحة ج ۱ ص ۱۰۵ بیروت چاپ مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة کتاب الکراهیة الباب الحادی عشر في الکراهة في الاکل ومایتصل به ج ۵ ص ۳۳۹ مکتبه رشیدیه / کفایت المفتي ج ۱۲ ص ۲۱۲ مایتعلق اداب الاکل والشرب مکتبه فاروقیه کراچي)

که راسته لاس کار نه کوي په چپه لاس باندي خوراک او چیښاک کول څنګه دی ؟

سوال ۲۰ : که چیري دیو کس راسته لاس کار نه کوي بیا په چپه لاس سره خوراک او چیښاک کوي شرعا مشکل لري که یا ؟

جواب : په چپه لاس باندي خوراک او چیښاک کول مکروه دی حدیث شریف دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چي په تاسي کښې دي څوک په چپه لاس سره خوراک او چیښاک نه کوي دا ځکه چي شیطان په چپه لاس سره خوراک او چیښاک

کوي . فقهاوو لیکلي دي چې په راسته لاس سره خوراک او چیښاک کول سنت دی او په راسته لاس سره په خوراک کولو باندې ترغیب او تشویق هم په احادیثو کښې راغلی دی . البته عذر او مشکل بیا ځان ته معامله ده که چیرې یو کس په راسته لاس سره پر خوراک کولو یا چیښاک کولو باندې قدرت نه لري نو دا شرعا عذر او ضرورت دی کوم چې په شریعت کښې د قبول وړ دی داسې کس ته بیا په چپه لاس خوراک او چیښاک کول شرعا رواه دی .

عن عائشة، قالت: «كان النبي صلى الله عليه وسلم يحب التيمن ما استطاع في شأنه كله، في طهوره وترجله وتنعله.

وقال العلامة وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى فى الفقه الاسلامي : الضرورة نظرية متكاملة تشمل جميع أحكام الشرع، يترتب عليها إباحة المحظور، وترك الواجب.

(صحيح البخاري ج ۱ ص ۹۳ مكتبه شامله باب التيمن في دخول المسجد وغيره / سنن الترمذى ابواب الاطعمة باب ما جاء النهي عن الاكل والشرب بالشمال مكتبه شامله / فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۸۰ باب الاكل والشرب / فتاوى رحيميه ج۱۰ ص ۱۳۷ / الفقه الاسلامي وادلته ج۴ ص ۱۵۳ المبحث الثالث حالة الضرورة مكتبه شامله / قاموس الفقه ج ۴ ص ۳۱۶ / قواعد الفقه ص ۳۲۴ دارالكتاب / الموسوعة الفقهية ج۲۸ ص ۱۹۲ بحث العذر)

دشکمنو شیانو دچیښلو او خوړلو څخه پرهېز کول تقوی او احتیاط دی .

سوال ۲۱ : نن سبا په بازارونو کښې داسې قسم قسم د خوراک او چیښاک شیان موجود دي چې نه یې د حلال درک معلوم دی او نه یې د حرام درک معلوم دی پوښتنه داده چې دد غه شیانو د خوراک څخه پرهېز پکار دی که یا ؟

جواب : حدیث شریف دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي کوم شی چې تاسي په شک کښې اچوي هغه شی تاسي پرېږدئ د هغه شي په مقابل کښې کوم چې تاسي په شک کښې نه اچوي . نو هغه شیان چې ستاسي په خبره نه یې د حلال درک تاسي ته معلوم وي او نه یې د حرام درک معلوم وي او معامله د شک وي نو ښه طریقه داده چې پرهېز ځیني وسي تر وهغه خته پوري چې د حلال او حرام معلومات یې په پوره شکل سره معلوم سوی نه وي .

عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ سِبْطِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَيْحَانَتِهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ» رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ولما قال العلامة ابن بطال أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك (المتوفى: ٤٤٩هـ) فى شرح صحيح البخارى :

(دع ما يريبك إلى ما لا يريبك) يقول: دع ما تشك فيه ولا تتيقن إباحته، وخذ ما لا شك فيه ولا التباس. ...... وَقَالَ حَسَّانُ بْنُ أَبِي سِنَانٍ: مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَهْوَنَ مِنَ الْوَرَعِ، دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لا يَرِيبُكَ.

وقال العلامة تقي الدين أبو الفتح محمد بن علي بن وهب بن مطيع القشيري، المعروف بابن دقيق العيد (المتوفى: ٧٠٢هـ)

القسم الثالث: أن يشك في شيء فلا يدري أحلال أم حرام ويحتمل الأمرين جميعاً ولا دلالة على أحدهما فالأحسن التنزه كما فعل النبي صلى الله عليه وسلم في التمرة الساقطة حين وجدها في بيته فقال: "لولا أني أخشى أن تكون من الصدقة لأكلتها .

(فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر العسقلاني ج ۴ ص ۲۹۳ مكتبه شامله / شرح صحيح البخارى لابن بطال ج ۶ ص ۱۹۶ / ۱۹۴ مكتبه شامله / شرح الأربعين النووية في الأحاديث الصحيحة النبوية ج ۱ ص ۴۵ مكتبه شامله / جامع العلوم والحكم في شرح خمسين حديثا من جوامع الكلم ج ۱ ص ۲۷۷ مكتبه شامله /فتح الباري شرح صحيح البخاري ج ۱ ص ۲۲۶ مكتبه شامله)

دفارمي چرګانو دخوراکې او غوښو حکم .

سوال ۲۲ : د ځيني فارمي چرګانو مالکان د مختلف قسم حرامو او مردارو حيواناتو مسفوحه وينه او نور بعضي اعضاوي سره يو ځای کوي او د دې څخه د چرګانو غذا تياروي نو داسي خوراکه چرګانو ته ورکول او يا دغه خوراکه خرڅول او د داسي چرګانو غوښې خوړل شرعا رواه دي که يا ؟

جواب : د داسي غذا او خوراکي توکو خرڅول او په چرګانو باندي خوړل رواه او جائز نه دي البته د داسي چرګانو غوښي حلالي دي . د غوښو د حرمت د پاره يو شرط دادی چي د نجس غذا دو جي څخه په غوښو کي بد بويي راپيدا اسي او د چرګانو د غوښو مشاهده چي موږ کړيده بد بوي نسته په کښې . والله اعلم بالصواب .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وتحبس الجلالة حتى يذهب نتن لحمها. وقدر بثلاثة أيام لدجاجة وأربعة لشاة، وعشرة لإبل وبقر على الأظهر. ولو أكلت النجاسة وغيرها بحيث لم ينتن لحمه .

ولما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت قول العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : (قوله التي تأكل العذرة) أي فقط حتى أنتن لحمها قال في شرح الوهبانية: وفي المنتقى: الجلالة المكروهة التي إذا قربت وجدت منها رائحة فلا تؤكل ولا يشرب لبنها. ولا يعمل عليها وتلك حالها ويكره بيعها وهبتها وتلك حالها، وذكر البقالي أن عرقها نجس اه وقدمناه في الذبائح.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۴۰ کتاب الحظر والاباحة مکتبه رشیدیه / تبيين الحقائق ج۶ ص ۱۰ / البناية شرح الهداية ج ۱۱ ص ۶۰۲ / لسان الحکام ج ۱ ص ۳۸۱ المبسوط للسرخسي ج ۱۱ ص ۲۸۴ مکتبه شامله المحيط البرهاني ج۶ ص ۷۵ احسن الفتاوی ج۸ ص ۱۲۵)

تر ډوډۍ وروسته دصفايي په کاغذ سره لاسونه صفاکول؟

سوال ۲۳ : ايا تر ډوډۍ خوړلو وروسته د صفايي په کاغذ سره لاسونه صفا کول مکروه دي که يا؟

جواب: تر ډوډۍ وروسته په کاغذ سره لاسونه صفا کول مکروه دي البته دغه

مخصوص قسم کاغذ چي د صفايي لپاره جوړ کړه سوي دي مکروه نه دي البته ډوډي خوړونکی دي ګوتي تر صفا کولو مخکي په خوله سره وڅټي او دا يوه سنت طريقه ده بيا دي صفا کړي . والله اعلم .

حكي الحاكم عن الامام انه كان يكره استعمال الكواغذ في وليمة يمسح بها الاصابع و كان يشدد فيه ويزجر عنه زجر بليغًا كذافي المحيط. .... واما الكاغذ المخصوص للنظافة .... فلا قيمة له بعد القطع وكذا ليس هذا للكتابة فافهم .

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : وإذا كانت العلة في الأبيض كونه آلة للكتابة كما ذكرناه يؤخذ منها عدم الكراهة فيما لا يصلح لها إذا كان قالعا للنجاسة غير متقوم كما قدمناه من جوازه بالخرق البوالي، وهل إذا كان متقوما ثم قطع منه قطعة لا قيمة لها بعد القطع يكره الاستنجاء بها أم لا؟ الظاهر الثاني؛ لأنه لم يستنج بمتقوم، نعم قطعه لذلك الظاهر كراهته لو بلا عذر، بأن وجد غيره؛ لأن نفس القطع إتلاف – والله تعالى أعلم

(الفتاوى الهندية جلد ۵ ص ۳۲۲ الباب الخامس في اداب المسجد مكتبه رشيديه / ردالمحتار علي الدر المختار ج ۱ ص ۳۴۰ باب الاستنجاء مكتبه شامله / فتاوي فريديه جلد ۴ ص ۵۰۱ مسائل شتي)

آب زمزم په ولاړه چيښل مستحب دي

سوال ۲۴ : اکثره خلګ د زمزم اوبه په ولاړه سره چيښي که يو څوک په ناسته وچيښي نو ګناهګاره دي که يا ؟ جواب راکړي

جواب : د زمزم اوبه په ولاړه سره چيښل مستحب کار دی او په ناسته چيښل شرعًا ګناه نه لري.

لما فی الدرالمختار على هامش ردالمحتار : وأن يشرب بعده من فضل وضوئه) كماء زمزم (مستقبل القبلة قائما) أو قاعدا، وفيما عداهما يكره قائما تنزيها.

الدر المختار مع ردالمحتا ر ج ۱ ص ۱۲۹ باب سنن الوضوء مكتبه شامله / كفايت المفتي ج ۹ ص ۱۲۳ كتاب الحظر والاباحة)

د حيوان لړی ، دلبند او کولمې خوړل څنګه دي؟

سوال۲۵: د غوا یا د پسه لری دلبند او کولمې خوړل مکروه دي که یا ؟ ځني کسان وايي چي د لري او دلبند خوراک مکروه دی ایا دا خبره درسته ده شرعًا ؟ او د حیوان خايي خوړل څنګه دي؟

جواب: مفتي اعظم هندوستان حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله تعالی دغه سوال ته داسي جواب ویلی دی : د حلال کړه سوي حیوان خايي او خصیتین خوړل مکروه تحریمي دي، او لری ، دلبند او کولمې یې خوړل رواه دي بیله کوم کراهته څخه البته دا خبره غلطه ده چي د لري او دلبند خوراک مکروه دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (كره تحريما) وقيل تنزيها والأول أوجه (من الشاة سبع الحياء والخصية والغدة والمثانة والمرارة والدم المسفوح والذكر) للأثر الوارد في كراهة ذلك وجمعها بعضهم في بيت واحد فقال: فقل ذكر والأنثيان مثانة ... كذاك دم ثم المرارة والغدد

الدرالمختار مع ردالمحتار جلد۶ ص ۷۴۹ مسائل شتي مكتبه شامله / كفايت المفتي جلد ۹ ص ۱۲۶ كتاب الحظر والاباحة اردو)

د مینا غوښي حلالي دي که حرامي شرعًا؟

سوال۲۶: د دوو کسانو سره اختلاف دی یو وايي چي د مینا غوښي حلالي دي او بل وايي چي حرامي دي د شریعت له نظره د مینا غوښي حلالي دي که مرداري؟

جواب: حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله تعالی مفتي اعظم هندوستان په کفایت المفتي کتاب جلد ۹ ص ۱۳۹ کښي لیکلي دي چي د مینا غوښي حلالي دي د حرام والي او مکروه والي یې هیڅ وجه هم نسته لهذا حلالي دي.

لما قال العلامة المؤلف: عبد الرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده, يعرف بداماد أفندي (المتوفى: ۱۰۷۸هـ) فى مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر :وَاعْلَمْ أَنَّ الْأَصْلَ فِي الْأَشْيَاءِ كُلِّهَا سِوَى الْفُرُوجِ الْإِبَاحَةُ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا} (البقرة: ۲۹) وَقَالَ {كُلُوا مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلالا طَيِّبًا} (البقرة: ۱۶۸)

وَإِنَّمَا تَثْبُتُ الْحُرْمَةُ بِعَارِضِ نَصٍّ مُطْلَقٍ أَوْ خَبَرٍ مَرْوِيٍّ فَمَا لَمْ يُوجَدْ شَيْءٌ مِنْ الدَّلَائِلِ الْمُحَرِّمَةِ فَهِيَ عَلَى الْإِبَاحَةِ

(مجمع الانهرفي شرح ملتقي الابحر كتاب الاشربة ج ۲ ص ۵۶۸ مكتبه شامله / كفايت المفتي جلد ۹ ص ۱۹۳ كتاب الحظر والاباحة / ردالمحتار كتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۰۵ مكتبه شامله / جواهر الاحكام ص ۳۲۸)

باب الضيافات

داسي ميلميستيا او ډوډۍ ته تلل چي غيبت په كښي وي ؟

سوال ۱: داسي ميلمستيا او ډوډۍ ته ورتلل چي هلته د غيبت څخه ماسوا بل كار نه وي شرعًا جواز لري كه يا؟

جواب: كتابونه د فقهي وايې كه چيري په مجلس كي د ميلمستيا دا خبره يقيني وه چي هلته به غيبت كېږي داسي ميلمستيا ته ورتلل جواز نه لري، ليكن كه دی خبر نه ؤ چي هلته به غيبت كېږي چي ورغلی مجلس د غيبت ؤ كه يې پر منع كېدو قدرت درلودی منع دي كړي او كه يې نه درلودی ولاړ دي سي هغه مجلس دي پرېږدي، او كه يې پر ولاړي هم قدرت نه درلودی نو دي كښېني توجه او التفات دي نه ورته كوي.

لمافي الهندية : مَنْ دُعِيَ إلَى وَلِيمَةٍ فَوَجَدَ ثَمَّةَ لَعِبًا أَوْ غِنَاءً فَلَا بَأْسَ أَنْ يَقْعُدَ وَيَأْكُلَ، فَإِنْ قَدَرَ عَلَى الْمَنْعِ يَمْنَعُهُمْ، وَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ يَصْبِرْ وَهَذَا إذَا لَمْ يَكُنْ مُقْتَدَى بِهِ أَمَّا إذَا كَانَ، وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى مَنْعِهِمْ، فَإِنَّهُ يَخْرُجُ، وَلَا يَقْعُدُ، وَلَوْ كَانَ ذَلِكَ عَلَى الْمَائِدَةِ لَا يَنْبَغِي أَنْ يَقْعُدَ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُقْتَدًى بِهِ وَهَذَا كُلُّهُ بَعْدَ الْحُضُورِ، وَأَمَّا إذَا عَلِمَ قَبْلَ الْحُضُورِ فَلَا يَحْضُرُ؛ لِأَنَّهُ لَا يَلْزَمُهُ حَقُّ الدَّعْوَةِ بِخِلَافِ مَا إذَا هَجَمَ عَلَيْهِ؛ لِأَنَّهُ قَدْ لَزِمَهُ، كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ وَإِنْ عَلِمَ الْمُقْتَدَى بِهِ بِذَلِكَ قَبْلَ الدُّخُولِ، وَهُوَ مُحْتَرَمٌ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَوْ دَخَلَ يَتْرُكُونَ ذَلِكَ فَعَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ وَإِلَّا لَمْ يَدْخُلْ، كَذَا فِي التُّمُرْتَاشِيِّ.

(الفتاوي الهندية ج ۵ ص ۳۴۳ مكتبه رشيديه / فتاوی اللكهنوي ج ۴۶۰ مكتبه حبيبيه / اپ كي مسائل ج ۸ ص ۳۹۵ اردو)

ایا دمیلمه سره ډوډۍ یو ځای خوړل ښه وی که جلا ؟

سوال ۲ : یو چاته چي میلمه راسي نو ددغه کوربه لپاره ددغه مېلمه سره پر سترخان یو ځای ډوډۍ خوړل ښه کار دی او که دهغه خدمت کول کوم صورت بهتره دی ؟

جواب : ښه او مستحب صورت دادی چي کوربه دمیلمه خدمت وکړي که میلمانه زیات وه او که میلمانه کم وه او کوربه که دمیلمه سره کښیني په خدمت کي خلل نه راتلی نو بیا دمیلمه سره کښینستل څه حرج نه لري لیکن مستحب او افضل دمېلمه خدمت کول دي.

لمافي الهندية : وَيَنْبَغِي أَنْ يَخْدُمَ الْمَضِيفُ بِنَفْسِهِ اقْتِدَاءً بِإِبْرَاهِيمَ عَلَى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ السَّلَامُ، كَذَا فِي خِزَانَةِ الْمُفْتِينَ.

(الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۴۵ مکتبه رشیدیه / فتح الملهم ج ۱ ص ۶۰۰ــ ۶۰۱ داراحیاء چاپ / احسن الفتاوی ج ۹ ص ۷۱ اردو)

د نوي سراي تر جوړه ولو وروسته د خلکو میلمستیا او دعوت کول رواه دی ؟

سوال ۳ : د نوي سراي او تعمیر تر جوړېدو وروسته خلک یو حیوان حلال کړي وخلکوته ملمستیا او دعوت وکړي او داد دغه کور د برکت لپاره یوه ذریعه بولي شرعًا د دغه کار اجازه سته که یا ؟

جواب : د نوي کور او تعمیر په جوړولو کښې او دهغه د جوړولو په خوشحالۍ کښې ډوډي ورکول و خلکوته یا دوعظ او نصیحت مجلس جوړول ددغه کور د برکت لپاره شرعًا جایزدی څه مشکل نه لري په دې شرط چي نیت به د الله جل جلاله ددغه نعمت شکر اداء کول وي نه دا چي په ډول درسم او رواج يې ضروري او لازمي وبولي .

قال الله تعالي فی القرآن الكريم (وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ)

وذكر العلامة المؤلف أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : ۶۷۱هـ) فی الجامع لأحكام القرآن تفسير القرطبي (وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ) أَيِ انْشُرْ مَا أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْكَ بِالشُّكْرِ وَالثَّنَاءِ. وَالتَّحَدُّثُ بِنِعَمِ اللَّهِ، وَالِاعْتِرَافُ بِهَا شُكْرٌ.

(الجامع لأحكام القرآن تفسير القرطبي ج ۱۱ ص ۵۹۶ سورة الضحي مکتبه شامله کفایت المفتي

جلد ۹ ص ۱۱۹ کتاب الحظر والاباحة)

د سود خوره سړي ډوډۍ خوړل او پیسې یې په مسجد کښې استعمالول څنګه دي؟

سوال ۴: د سود خوره سړي ډوډۍ خوړل شرعًا رواه ده که یا؟ او د سود خوره سړي پیسې په مسجد کښې لګول شرعًا رواه دي که یا؟

جواب: سود خوره سړي که رواه او جایزه معامله او تجارت هم درلودی ماسواه د سود د معاملې څخه نو دده پرکور ډوډۍ خوړل رواه ده او دده د جایزې معاملې روپۍ پر مسجد مصرفول هم رواه دي او که یه معامله خالص د سود وه بیایه نه د ډوډۍ خوړل رواه دي او نه یې روپۍ په مسجد کښې مصرفول رواه دي .

لما فی الفتاوی الهندیة : اکل الربا وکاسب الحرام اهدي الیه او ضافه وغالب ماله حرام لایقبل ولایوکل مالم یخیره ان ذلک المال اصله حلال ورثه او استقرضه وان کان غالب ماله حلال فلاباس بقبول هدیته واکل منها.

الفتاوی الهندیة جلد ۵ ص ۳۴۳ / کفایت المفتي جلد ۹ ص ۱۲۰ کتاب الحظر والاباحة)

د داسي واده او کوزدې ډوډۍ ته تلل چي هلته ناروا افعال وي

سوال ۵: داسي واده او کوزدې او ډوډۍ ته ورتلل شرعًا څنګه دي چي هلته طبلې باجې او سروزوي او نارواه امور او منکرات موجود وي؟

جواب: د ډوډۍ لپاره فقط ورتلل په دې شرط چي دغه منکرات به د ډوډۍ په ځای کښې نه وي شرعًا رواه دي لیکن د مقتداء کسانو او دوخت امامانو، پیشوایانو دپاره هلته نه تلل بهتره دي .

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار : دعی الی ولیمة وثمة لعب أو غناء قعد وأکل) لو المنکر في المنزل، فلو علی المائدة لا ینبغي أن یقعد بل یخرج معرضا لقوله تعالی: - {فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین} [الأنعام: ۶۸]- (فإن قدر علی المنع فعل وإلا) یقدر (صبر إن لم یکن ممن یقتدی به فإن کان) مقتدی (ولم یقدر علی المنع خرج ولم یقعد) لأن فیه شین الدین ...... (وإن علم أولا) باللعب (لا یحضر أصلا) سواء کان ممن یقتدی به أو لا لأن حق الدعوة إنما یلزمه بعد الحضور لا قبله ابن کمال. وهذا اذالم یکن مقتدي فان کان ولم یقدر علي منهم یخرج ولایقعد لان في ذلک شین

الدين و فتح باب المعصية علي المسلمين .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۶ ص ۳۴۷ کتاب الحظر والاباحة مکتبه شامله بيروت چاپ /الهداية کتاب الکراهية جلد ۴ ص ۴۵۵ مکتبه شرکت علميه ملتان / کفايت المفتي جلد ۹ ص ۱۰۳ کتاب الحظر والاباحة / جواهر الاحکام ص ۳۳۳)

باب التداوي والمعالجه

داولادونو په پیدا کولو کښي وقفه کول .

سوال ۱: نن سبا ځینو کسانوله طرفه دضبط تولیدا واسقاط حمل لپاره مختلفی طریقی ایجادسوي دي. مثلاً **اول** : دښځي بچه دانی ایستل کیږي **دوهم** : دنرداسي اپریشن کیږي چه وروسته ترهغه بیانردا ولاد دراوړلونه وي . **دریم** : ځیني ښځي ستني اوپیچکاری ،ګولیاني اوټابلیټونه خوري . **څلورم** : ځیني کسان په وخت کي دصحبت پلاسټکي خلطۍ استعمالوي.

دشريعت له نظره کوم صورتونه جايز اوکوم صورتونه ناجايزدي ؟

جواب :دضبط تولیدا واسقاط حمل یعنی خانداني منصوبه بندی مجموعي څلور صورتونه دي شرعاًهرصورت ځان ته بیل بیل حکم لري .

اول صورت :قطع نسل یعنی داسي طریقه اختیارول چي په هغه سره دهمیشه لپاره دتولیدقوت ختم سي . **ددغه صورت حکم**:دغه صورت بالاتفاق دټولو فقهاءکرامو حرام دی که هرڅومره فایدې پکښي وي ،اوکه څومره دضرورت سامان ددې صورت موجودوي هم حرام دی ، مګرهغه وخت روادی چه دمرګ خطره وي

دوهم صورت:منع حمل یعنی داسی صورت اختیارول چه دتولید قوت باقي پاته وي صرف حمل دفع سي اوښځه حامله نسي .

ددغه صورت حکم:بیله ضرورته داطریقه اختیارول مکروه ده اوددغو لاندی عذرونوپه صورت کي بیله مکروه والي رواده : **اول عذر** : ښځه دومره کمزورې وي چه دحمل دپورته کولو طاقت نه وي ورسره . **دوهم عذر** : ښځه دخپل وطنه څخه دومره لیري وي چي دمیاشتوسفروي

او دا پخپل ارادې سره دلته او سیدل نه غواړي. **دریم عذر**: د خاوند او ښځې تعلقات داسې خراب وي چه خاوند د طلاق اراده لري. **څلورم عذر**: د بل ماشوم د پیدا کیدو په صورت کښې او سنې ماشوم ته ضرر رسیږي. **پنځم عذر**: که چیرې داسې خطره وي چې د زمانې د فساد د وجې ماشوم بد اخلاقه کیږي او د مور او پلار د رسوایي سبب ګرځي.

دریم صورت: ښځه حامله سي پس له څلورمیاشتې بیا د هغې حمل ساقطول دیوشي په واسطه سره.

د دغه صورت حکم: دغه صورت مطلقاً او شرعاً حرام دی که عذر وي او که نه وي.

څلورم صورت: ښځه حامله سوه تر او سه پورې یې څلور میاشتې نه وې پوره سوې بلکه مخکې تر هغه حمل ساقطول.

د دغه صورت حکم: دغه صورت اختیارول بیله عذره حرام او نار وادی البته د بعضې عذرونو د وجې یې د روا کیدو ګنجایش سته. لکه: یو دیندار او ماهر ډاکټر ښځه معاینه کړه او دا تجویز یې وړاندې کړی که چیرې د ښځې حمل باقې پاته وي نو د ښځې د مرګ خطر سته او یا یې دیوې عضوې د منځه تللو بیره سته. او یا د حمل دوجې د ښځې شیدې وچیږي د نورو وسایلو تر استعمالولو مخکې مخکې او د مخکنې ماشوم د پرورش انتظام ناممکنه یې نو بیایې چې د حمل د اسقاط اجازه ورکړل سي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار: (قوله ويكره إلخ) أي مطلقا قبل التصور وبعده على ما اختاره في الخانية كما قدمناه قبيل الاستبراء وقال إلا أنها لا تأثم إثم القتل (قوله وجاز لعذر) كالمرضعة إذا ظهر بها الحبل وانقطع لبنها وليس لأبي الصبي ما يستأجر به الظئر ويخاف هلاك الولد قالوا يباح لها أن تعالج في استنزال الدم ما دام الحمل مضغة أو علقة ولم يخلق له عضو وقدروا تلك المدة بمائة وعشرين يوما، وجاز لأنه ليس بآدمي وفيه صيانة الآدمي خانية

ولما فی الفتاوی الهندية : العلاج لإسقاط الولد إذا استبان خلقه كالشعر والظفر ونحوهما لا يجوز وإن كان غير مستبين الخلق يجوز وأما في زماننا يجوز على كل حال وعليه الفتوى كذا في جواهر الأخلاطي............... امرأة مرضعة ظهر بها حبل وانقطع لبنها وتخاف على ولدها الهلاك وليس لأبي هذا الولد سعة حتى يستأجر الظئر يباح لها أن تعالج في استنزال الدم ما دام نطفة أو مضغة أو علقة لم يخلق له عضو وخلقه لا يستبين إلا بعد مائة وعشرين يوما أربعون نطفة وأربعون علقة وأربعون مضغة كذا في خزانة المفتين وهكذا في فتاوى قاضي خان.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۶ص ۴۲۹ فرع يكره إعطاء سائل المسجد إلا إذا لم يتخط رقاب الناس مكتبه شامله / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۵۴ الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجاتمكتبه رشيديه / احسن الفتاوى ج ۸ ص ۳۴۷ اردو / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۲۶ كتاب الطلاق پښتو)

دمړې حاملې ښځې اپرېشن رواه دی که یا ؟

سوال ۲ : که چیري یوه حمل داره ښځه وفات سوه او ډاکترانو غالبه ګمان داوي چي ددې په نس کي چي کوم ماشوم دی هغه ژوندی دی نو اوس په دغه حالت کي ددغي مړې ښځې اپرېشن کول او ددې دنس څخه دا ماشوم را ایستل شرعا روا ایښت لري که یا ؟

جواب: که چیري غالبه ګمان همدا سي وي چي دغه ماشوم ژوندی دی نو ددغي ښځې اپریشن کول او ماشوم یې دنس څخه را ایستل نه یوازي دا چي جواز لري بلکه لازم دي ځکه دا دیو انسان دژوند دساتلو خبره ده .

لماقال ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : امْرَأَةٌ حَامِلٌ مَاتَتْ فَاضْطَرَبَ الْوَلَدُ في بَطْنِهَا فَإِنْ كان أَكْبَرُ رَأْيِهِ أَنَّهُ حَيٌّ يَشُقُّ بَطْنَهَا لِأَنَّ ذلك تَسَبُّبٌ في إحْيَاءِ نَفْسٍ مُحْتَرَمَةٍ بِتَرْكِ تَعْظِيمِ الْمَيِّتِ فَالْإِحْيَاءُ أَوْلَى وَيَشُقُّ بَطْنَهَا من الْجَانِبِ الْأَيْسَرِ وَلَوْ لم يَشُقَّ بَطْنَهَا حتى دُفِنَتْ ورؤيت في الْمَنَامِ أنها قالت وَلَدَتْ لَا يُنْبَشُ الْقَبْرُ لِأَنَّ الظَّاهِرَ أنها وَلَدَتْ وَلَدًا مَيِّتًا

ولما في الهندية : امْرَأَةٍ حَامِلٍ مَاتَتْ وَعُلِمَ أَنَّ ما في بَطْنِهَا حَيٌّ فإنه يَشُقُّ بَطْنَهَا من الشِّقِّ الْأَيْسَرِ وَكَذَلِكَ إذَا كان أَكْبَرُ رَأْيِهِمْ أَنَّهُ حَيٌّ يَشُقُّ بَطْنَهَا كَذَا في الْمُحِيطِ وَحَكَى أَنَّهُ فَعَلَ ذلك بِإِذْنِ أبي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى فَعَاشَ الْوَلَدُ كَذَا في السِّرَاجِيَّةِ

(البحرالرائق ج ۸ ص ۳۷۶ مکتبه رشيديه / الدرمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۲ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۵ص ۳۶۰ مکتبه رشيديه / فتاوی اللکهنوي ص ۴۱۹ / امدادالفتاوی ج ۴ ص ۲۰۷ اردو / فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۲۸۸ اردو / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۱۹۷ پښتو)

يو انسان بل انسان ته وينه ورکولای سي که يا؟

سوال ۳ : ديوه انسان وينه دبل انسان وبدن ته داخلول جايزه او رواده که يا ؟ اسلامی شريعت او فقه شريفه په دغه مهمه مسله کي څه حکم لري ؟

جواب : وينه دانسان دبدن جز ده او کله چي دبدنه راووزي نو نجس هم ده دانسان دجزيت دحيثيته دويني مثال دښځي دشېدو دی او دهغو استعمال فقهاء کرامو دعلاج لپاره روا او جايز ليکلي دي.

(۱)اول صورت :کله چي مريض اوزخمي داضطرار او مجبوری په حالت کښي وي او دماهر ډاکټر دنظره او خياله څخه بې له دويني دورکولو څخه دده دمرګه څخه دراګرځولو بله چاره نه وي نو وينه ورکول روا ده.

(۲)دوهم صورت: دېوه او ماهر ډاکټر له نظره ومريض ته دويني ورکولو ضرورت او حاجت سته خو البته که وينه ورنه کړه سي دهلاکت او دمرګ خطره يې نه وي البته د ډاکټر دغه رايه ده که وينه ورنه کړه سي خو مړ به نه سي ليکن دصحت امکان يې هم نه وي په دي صورت کښي هم دويني ورکول روادي.

(۳)دريم صورت: دېوه او ماهر ډاکټر دغه نظريه وي که ومريض ته وينه ورنه کړه سي نو امکان سته چي مرض يې اوږد سي په دغه صورت کښي هم دويني ورکول ګنجايش سته ليکن پرهيز بهتر دي چي نه ورکړه سي .

(۴)څلورم صورت: دويني د ورکولو څخه مطلق نفع يا زينت او ښايست مقصود وي يعني دمريض دمرض داوږدوالي او دمريض دهلاکت خطره نه وي بلکه مطلق دقوت

او طاقت لپاره وي يا د دغه مريض په حسن او جمال کښي داضافه توب لپاره وي نو په داسي صورت کښي د ويني ورکول نه دي روا هيڅکله.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَفِي التَّهْذِيبِ يَجُوزُ لِلْعَلِيلِ شُرْبُ الْبَوْلِ وَالدَّمِ وَالْمَيْتَةِ لِلتَّدَاوِي إذَا أَخْبَرَهُ طَبِيبٌ مُسْلِمٌ أَنَّ فِيهِ شِفَاءَهُ وَلَمْ يَجِدْ مِنْ الْمُبَاحِ مَا يَقُومُ مَقَامَهُ، وَإِنْ قَالَ الطَّبِيبُ يَتَعَجَّلُ شِفَاؤُك بِهِ فِيهِ وَجْهَانِ، وَهَلْ يَجُوزُ شُرْبُ الْعَلِيلِ مِنْ الْخَمْرِ لِلتَّدَاوِي فِيهِ وَجْهَانِ، وَكَذَا ذَكَرَهُ الْإِمَامُ التُّمُرْتَاشِيُّ وَكَذَا فِي الذَّخِيرَةِ

(ردالمحتار ج ۵ ص ۲۷۵ مکتبه رشيديه / خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۳۶۱ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۳۵۵ مکتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ۸ ص ۳۲۹ اردو / اپ کي مسائل ج ۴ ص ۳۴۷ اردو)

آيا د کافر وينه مسلمان ته لګول رواده ؟

سوال ۴ : ايا د غير مسلمان وينه لکه سيک هندو د هغه وينه و مسلمان ته لګول او داخلول روا ښنت لري که يا ؟

جواب : په نفس روا والي او جواز کښي د کافر او د مسلمان د ويني د لګولو تر مېنځ هيڅ فرق نسته د واړي لګول د مجبورۍ او اضطرار په حالت کښي روا دي ليکن دا خبره هم ښکاره ده چي د کافر يا فاسق او فاجر انسان په وينه کښي چي کوم مضر او خبيث اثرات دي د هغو انتقال او پر اخلاقو باندي تاثير کول د دي هم قوي خطره ده ځکه صلحاء امت د فاسقي ښځي شيدې په ماشوم باندي رودل نه خوښوي نو ځکه په کار ده چي حتي الامکان د کافر او فاسق او فاجر انسان د ويني لګول څخه پرهيز وسي.

(ستاسي مسائل او د هغه حل ج ۴ ص ۳۴۸ د اعضاوو پيوند کاري / فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۳۳۲ باب التداوي والمعالجة / الهداية ج ۱ ص ۴۵ / الدرالمختار ج ۲ ص ۴۳۸)

آيا د ويني رانيول او خرڅول روادي که يا ؟

سوال ۵ : ايا د ويني خرڅول او رانيول شرعاً روا ښنت لري که يا ؟ او خپل وينه پر يو چا خرڅول روا ده که يا ؟

جواب : د وینې خرڅول شرعاً روا ښنت او جوازنه لري لیکن په کومو حالاتو کښې چې مریض د مجبورۍ او اضطرار په حالت کښې وي په داسې صورت کښې که یو چا ته بېله قیمته وینه نه پیدا کېدل نو بیا په قیمت او پیسو رانیول هغه مجبوره کس ته روا ده. مګر خرڅوونکي کس ته دغه د وینې پیسې اخیستل او قیمت نه دی روا بلکه یو ناروا عمل دی.

لماقال العلامه ابن نجیم المصري الحنفي رحمه الله : قَوْلُهُ (لم يَجُزْ بَيْعُ الْمَيْتَةِ وَالدَّمِ) لِانْعِدَامِ الْمَالِيَّةِ التي هِيَ رُكْنُ الْبَيْعِ فَإِنَّهُمَا لَا يُعَدَّانِ مَالًا عِنْدَ أَحَدٍ وهو من قِسْمِ الْبَاطِلِ وَالْمُؤَلِّفُ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى لَمَّا اسْتَعْمَلَ الْفَاسِدَ في الْبَابِ لِلْأَعَمِّ عَبَّرَ بِعَدَمِ الْجَوَازِ الشَّامِلِ لِلْبَاطِلِ وَالْفَاسِدِ وفي الْقَامُوسِ الْمَيْتَةُ ما لم تَلْحَقْهُ ذَكَاةٌ وَبِالْكَسْرِ لِلنَّوْعِ

ولمافي الهداية : وكذا بيع الميتة والدم والحر باطل لأنها ليست أموالا فلا تكون محلا للبيع

(ردالمحتار ج ۴ ص ۱۱۲ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۶ ص ۱۱۵ مکتبه رشیدیه / تبین الحقائق ج ۴ ص ۴۴ مکتبة الحرمین الشریفین / الهدایة ج ۳ ص ۴۲ مکتبه شامله / فتاوی حقانیه ج ۵ ص ۹۴ پښتو / اپ کي مسائل ج ۴ ص ۳۴۲ اردو)

دبل چا د مني نطفه په خپل رحم کي دماشين په ذريعه

سوال ۶: دنن سبا پرمخ تللي دطب په دور کي يو قسم اله ایجاد سوې ده چي د هغې په ذریعه د ښځي رحم او د شرم اندام ته د نورو انسانانو مني داخلول کېږي او د هغه څخه بیا ښځه حمل اخلي او بیا ماشوم پیدا کېږي پوښتنه دا ده چي دغسې ماشوم ته حرامي ويل کېږي که يا؟ دغسي فعل ته زناء ويل کېږي که يا؟

جواب : دغه فعل شرعاً حرام او ناروا دی البته زناء نه ده او نه د زناء په حکم کي ده ځکه چي د زناء تعریف ور باندی صادقه نه راځي هغه ماشوم چي پیدا سي د داسي فعل په نتیجه کي د هغه نسب د دغي ښځي څخه ثابت دي د (الولد للفراش) د قاعدې د رویه څخه.

لما فى الفتاو ى الهندية :البكر إذا جومعت فيما دون الفرج فحبلت بأن دخل الماء في فرجها فلما قرب أوان ولادتها تزال عذرتها ببيضة أو بحرف درهم لأنه لا يخرج الولد بدون ذلك .

(الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۶۰ الباب الحادي والعشرون فيما يسع من جراحات بني آدم والحيوانات / فتاو ى حقانيه ج ۴ ص ۱۴۰ كتاب الطلاق / فتاوى هاديه ج ۲ ص ۴۳۶ / جديد فقهي مسائل / احسن الفتاوى ج۸ ص ۲۱۴)

دماشوم د درد او قهر علاج

سوال ۷ :زما يو زوى دى چي عمر يې تقريباً لس كاله كېږي ډېر درد مند او قهرجن دى درد او قهر چي ورسي ډېري بدي خبري او بد تمېزه حركتونه كوي او ځيني وختونه د دوستانو مخ ته انسان دده په دغه ناوړه حركتونو باندي وشرمېږي يوه داسي وظيفه كه راوښياست چي دغه بد اخلاقي پرېږدي او خپل سبقه ته متوجه سي ډېره ښه به وي؟

جواب :علماء كرامو او ددين بزرګانو ليكلي دي چي د ماشومانو دبدتمېزۍ او نافرمانۍ سبب عموماً دوالدينو يعني مور او پلار ګناهونه وي ،او يا خو يې سمه تربيه نه كوي يعني اسلامي تربيه دوړوكوالي څخه ، يا دكور خراب ماحول يا دنفقې او ډوډۍ حراموالى وي ، علاج يې دادى چي انسان دالله پاک سره خپله معامله درسته او صفا كړي او درې واره سورة فاتحه پر اوبو دم كړي په ماشوم يې وچيښي.

(ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۵۴۷ باب تعلق الوالدين والاولاد)

ددوومياشتو ماشوم دضرورت په خاطر ساقطول

سوال ۸ :يوه ښځه د دوومياشتو ماشوم پرتي باندي لري او دوې مياشتي كيږي چي بيا يې بل ماشوم په نس او حمل دى. آيا ددغه دوومياشتو حمل ماشوم دضرورت په خاطر اسقاطول او شوه كول په دواه سره شرعاً جواز لري كه يا ؟

جواب : دفقهي دځيني كتابونو د رواياتو څخه معلوميږي چي حمل دښځي تر څلورومياشتو مخكي مخكي دضرورت په خاطر په دواه سره اسقاطول او شوه كول رواه دي دعذر مثال لكه دښځي شيدې لږ سي او خاوند ددغه ماشوم دشيدو پر

ورکولو او انتظام کولو باندي قدرت نه لري یا پرېښئي باندي سخته مریضي راسي او نور دي ته ورته عذرونه..

دهدايې پر حاشيي باندي راخستي دي : اما فی زماننا یجوز وان استبان الخلق وعلیه الفتوی: نو په دغه صورت مسئوله کښي که ضرورت شدیده ؤ او دحمل مدت تر څلورو میاشتو کم ؤ نو په داسي حالت کښي یې ساقطول روا دي .

لما فی الفتاوی الهندية : امرأة مرضعة ظهر بها حبل وانقطع لبنها وتخاف على ولدها الهلاك وليس لأبي هذا الولد سعة حتى يستأجر الظئر يباح لها أن تعالج في استنزال الدم ما دام نطفة أو مضغة أو علقة لم يخلق له عضو وخلقه لا يستبين إلا بعد مائة وعشرين يوما أربعون نطفة وأربعون علقة وأربعون مضغة كذا في خزانة المفتين.

(البحر الرائق ج۸ ص ۳۷۶ مكتبه رشيديه / ردالمحتار ج ۵ ص ۳۰۵ مكتبه رشيديه / فتاوی سراجيه ص ۷۶ / فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۱۲۶ / فتاوی مفتي محمود ج ۱۱ ص ۲۶ / الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۳۵۶ [الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات / فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۳۲۱)

دانګریزي ادویاتو داستعمالولو حکم .

سوال ۹ : په ننۍ زمانه کي په اکثره مرضونو کي انګریزي دواګاني استعمالیږي په کومو چي الکحل (دشرابو یو قسم) هم ګډ دي نو دشرعي نقطه نظره څخه دداسي دواګانو استعمالول رواه دي که یا ؟

جواب : دانګریزي دواګانو داستعمال په باره کي دعلماء کرامو فتوای داده چي که چیري په هغوی کي شراب او یا دنورو حرامو شیانو استعمال یقیني او په غالب ګمان سره ثابت وي نو پرته له سخت ضرورت څخه یې استعمالول صحیح نه دي او دنورو انګریزي ادویاتو استعمال مرخص دی اجازت یې سته .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فی الدرالمختار : (وكره شرب دردي الخمر) أي عكره (والامتشاط) بالدردي لأن فيه أجزاء الخمر، وقليله ككثيره كما مر.

(الدر المختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۳۲۵ کتاب الاشربة مکتبه رشیدیه / تبیین الحقائق شرح کنزالدقائق ج ۶ ص ۴۹ کتاب الاشربة / فقهي مقالات ج ۱ ص ۲۵۵ اردو / جدید فقهي مسائل ج ۱ ص ۱۰۷ / فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۳۵۱ / الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۴۱۰ مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۹۴ باب التداوي)

شراب یوڅوک د علاج په ډول سره استعمالولای سي که یا؟

سوال ۱۰: د یو مریض حالت چي ډیر نازک سي او بالکل د (کوما) مرګ حالت ته ورسیږي په داسي صورت کښي ودته شراب ددوا لپاره ورکول رواه دي که یا؟

جواب: که چیري دیو ماهر مسلمان ډاکټر رایه داوي چي دغه مریض ته ماسوا د شرابو څخه بل دواه فایده نه رسوي او د مریض حالت ډیر نازک وي د هلاکت اندیښنه وي دداسي مجبوری په حالت کښې ودته شراب ورکول رواه دي.

لما فی الفتاوی الهندیة : یجوز للعلیل شرب الدم والبول واکل امیته للتداوي اذا اخبره طبیب مسلم ان شفائه فیه ولم یجد من المباح ما یقوم مقامه وان قال الطبیب یتعجل شفائه فیه وجهان الخ .....

(الفتاوي الهندیة جلد ۵ ص ۳۵۵ باب في التداوي والمعالجات / کفایت المفتي جلد ۹ ص ۱۵۰ / جواهر الاحکام ص ۳۲۹)

باب الرشـوة

ایا شاګرد ومعلم ته رشوت ورکولای سي ؟

سوال ۱ : که چیري شاګرد و معلم ته ددې لپاره رشوت ورکړي چي په ازموینه کښي کامیابه کړي رواه دی که یا؟

جواب : ابن عطیه رحمه الله تعالی فرمایلي دي چي دیو کار پوره کول چي دچا پرذمه لازم وي دهغه پر پوره کولو باندي دیوچا څخه معاوضه اوبدله اورشوت اخیستل اوبیله معاوضې نه کول دالله ﷻ عهد ماتول دي.

همداشان دیو کار نه کول چي پریو چا لازم وي او بیا معاوضه او رشوت اخیستل او هغه کول هم دالله ﷻ عهد ماتول دي. ددې څخه معلومه سول چي د رشوت مروج صورتونه چي نن سبا روان دي داټول حرام دي. ځکه چي معلم او استاد د معارف

سره دا وعده او عهد کړی دی چي زه به په ایمان داری سره خپل دنده سرته رسوم. اوبیا په دې مینځ کښي د رشوتونو لړی ته ځای ورکول د شاګردانو او استاد دواړو دپاره حرام دی.

(معارف القرآن ج ۵ ص ۳۸۴ سورة النحل آیت نمبر ۹)

دخپل حق دوصول دپاره رشوت ورکول څنګه دی ؟

سوال ۲: نن سبا هر طرف ته د رشوت بازار ګرم دی یوه شعبه داسي نسته چي هلته دي رشوت نه چلیږي کله کله یو شریف او دیندار سړی هم د رشوت پر ورکولو مجبوره کیږي جائز او ناجائز صورت یې سړي ته نه معلومیږي داسي یوه ضابطه او قانون د شریعت څه دی چي رشوت ورکول په کوم صورت کي روا او په کوم صوت کي ناروا دی؟

جواب: د رشوت ورکولو او اخیستلو مختلف صورتونه دي شرعًا. (۱) د حکومت څخه د قضاء یا د یو بل منصب د حاصلولو لپاره رشوت ورکول. (۲) د حاکم څخه ناحقه د یو فیصلې کولو دپاره رشوت ورکول. (۳) د ظالم او ظلم د تقویت لپاره رشوت ورکول په دغه دروسره صورتونو کي رشوت ورکول هم حرام دی او اخیستل یې هم حرام دی. (۴) که چیري یو د قدرت خاوند او زورور سړي یعني حاکم دوخت ستا حق ګرځولی وي هغه ته رشوت ورکول د دفع ظلم لپاره هم ناروا دی ولي چي په دې سره د هغه کس عادت خرابیږي او دغه ستا رشوت ورکول پر ټوله قوم د ظلم باعث جوړیږي.

فهذا داخل فی قاعدة : ان الضرر الخاص یتحمل لدفع الضرر العام .

(۵) دیو چا څخه د ضرر اندیشه او خطره لرې تا ته روا دی چي رشوت ورکړې لیکن هغه ته ناروا دي اخیستل یې (۶) ستا او ستاد مخالف په مابین کي چي کوم کس واسطه جوړیږي ستا د نفعي لپاره یا ستا د ضرر د دفع لپاره تا ته رواه ده چي هغه ته رشوت ورکړې هغه ته یې اخیستل ناروا دي، او که دی چیري د هغه مابین د سړي پر ذمه یو کار ورکښېښنودی نو د هغه کار مزدوري اخیستل هغه ته روا ده په دې شرط چي هغه په خپله پر هغه کار قدرت ولري او قدرة بقدرة الغیر معتبر نه دی.

هذا ما خذنا من احسن الفتاوی والله اعلم بالصواب .

قال الله تعالى فى القرآن الكريم : سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ

قَالَ أَبُو بَكْرٍ اتَّفَقَ جَمِيعُ الْمُتَأَوِّلِينَ لِهَذِهِ الْآيَةِ عَلَى أَنَّ قَبُولَ الرُّشَا مُحَرَّمٌ وَاتَّفَقُوا عَلَى أَنَّهُ مِنْ السحت الذي حرمه الله تعالى وَالرِّشْوَةُ تَنْقَسِمُ إلَى وُجُوهٍ مِنْهَا الرِّشْوَةُ فِي الْحُكْمِ وَذَلِكَ مُحَرَّمٌ عَلَى الرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي جَمِيعًا وَهُوَ الَّذِي قَالَ فِيهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ اللَّهُ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ وَالرَّائِشُ

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وفي الفتح: ثم الرشوة أربعة أقسام: منها ما هو حرام على الآخذ والمعطي وهو الرشوة على تقليد القضاء والإمارة.

(احسن الفتاوی ج ۸ ص ۹۷ كتاب الحظر والاباحة / جامع الترمذي ج ۱ ص ۲۴۸ ابواب الاحكام سعيد چاپ / ردالمحتار ج ۵ ص ۳۶۲ كتاب القضاء مكتبه رشيديه / تفسير القرطبي ج ۲ ص ۳۳۷ / فتاوی بينات ج ۴ ص ۲۴۵ / احكام القرآن للجصاص ج ۲ ص ۳۳۴ داراحياء اتراث العربي بيروت / جامع الترمذی ابواب البيوع ج ۱ ص ۳۲۹ سعيد چاپ / ستاسي مسائل اودهغه ج ۷ ص ۲۲۹)

ډاکټر یانرس ته رشوت ورکول څنګه دی ؟

سوال ۳ : ځینی وختونه خلک خپل مریضان شفاخاني ته روا ړي دعلاج لپاره دمریض قریبان او ورثه ډاکټر ته څه روپۍ یاتحفه ددې لپاره ورکوي چي دغه ډاکټر یانرس د دې مریض ښه کتنه او علاج وروکړي ایا دغه تحفه یا پیسي ودې ډاکټر ته ورکول روا ده ؟

جواب : بالکل نه دی روا ځکه داپیسی ده ته ورکول شرعاً رشوت دی په دغه تحفې او پیسو ورکولو سره دهغه ډاکټر عادت خرابیږی چي بیا کله کله باعث دظلم ګرځي پر ټوله قوم باندي .

لقوله تعالى في القرآن الكريم :وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۱۸۸) سورة البقرة

عن أبي هريرة قال: «لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي والمرتشي في الحكم .

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وفي الفتح: ثم الرشوة أربعة أقسام: منها ما هو حرام على الآخذ والمعطي وهو الرشوة على تقليد القضاء والإمارة.

(احسن الفتاوی ج۸ ص ۹۷ کتاب الحظر والاباحة / جامع الترمذي ج ۱ ص ۲۴۸ ابواب الاحکام سعید چاپ / ردالمحتار ج۵ ص ۳۶۲ کتاب القضاء مکتبه رشیدیه / تفسیر القرطبي ج ۲ ص ۳۳۷ / فتاوی بینات ج۴ ص ۲۴۵)

باب الحقوق والمعاشرة

دملګري په غیاب (نه موجدېدو) کښې دهغه شي دهغه اجازې څخه به غیر استعمالول.

سوال ۱: که چیرې دیو کس ملګری او انډیوال نه وي بیا بل ملګری را ولاړ شي دهغه شی دهغه دا جازې څخه بغیر استعمالوي دغه کار شرعا رواه دی که یا ؟.

جواب: په حدیث شریف کښې اغلي دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چې ده هیڅ مسلمان شخص مال اخیستل او په هغه کښې تصرف کول نه دی رواه مګر دهغه دنفس او زړه په خوښۍ سره. او الله پاک جل جلاله دهر مسلمان مال او دهغه عزت ابرو او وینه تویول دبل کس دپاره حرام ګرځولي دي. ددغه احادیثو په رڼا کښې هیڅ مسلمان ته دا اجازه نسته چې دبل مسلمان په حق کښې دهغه دا جازې او خوښي څخه بغیر تصرف وکړي. والله اعلم بالصواب.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا» وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ «بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ .....إن دماءكم وأموالكم حرام عليكم، كحرمة يومكم هذا، في شهركم هذا، في بلدكم هذا.

وقال الدكتور وهبه الزحيلي رحمه الله تعالى في التفسير المنير : وأيا ما كان سبب نزول الآية فإنها تبيح الأكل من هذه البيوت، بشرط أن يعلم الآكل رضا صاحب المال بإذن صريح أو قرينة، وخصصت هذه البيوت بالذكر لتبسط الناس فيما بينهم عادة في الأكل من بيوت أقاربهم ووكلائهم وأصدقائهم.

(التفسير المنير ج ۱۸ ص ۳۰۲ سورة النور آیت نمبر ۶۱ بیروت چاپ / صحیح مسلم ج ۴ ص ۱۹۸۶ مکتبه شامله بیروت چاپ / سنن الترمذی ج ۴ ص ۳۲۵ بیروت چاپ / سنن ابن ماجة ج ۲ ص ۲۰۹۸ بیروت چاپ / مرعاة المفاتيح ج ۹ ص ۳۱۷ بیروت چاپ)

مور یا پلار ته دنیکي لاري داختیارولواو دبدي لاري د پرېښوولو نصیحت کول شرعا څه حکم لري ؟

سوال ۲ : ایا یو زوی کولای سي چي خپل مور او پلار ته نصیحت وکړي چي پلاره دا کار مه کوه ګناه لري یا دا معامله مه کوه ځکه چي په شریعت کي دا سي کار حرام دی ؟

جواب : دبدو کارونو څخه دځان ساتلو او دنیکي لاري داختیارولو نصیحت زوی هم خپل مور او پلار ته په نرمۍ او ادب سره کولای سي که يې چيري خبره د نصیحت ومنله خو ډېر به ښه وي او که يې پر ځان بده ولګوله نو اولاد دي خاموشه سي او ددوی دهدایت دپاره دي دعاوي کوي او ددوی دپاره دي دالله جل جلاله څخه بخښنه غواړي . حضرت ابراهیم علیه السلام وخپل پلار ته نصیحت کړی وو کوم چي په قرآن کریم کي څو ځایونه ذکر دی .

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا (۴۲) يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا (۴۳) يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَنِ عَصِيًّا (۴۴) يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِنَ الرَّحْمَنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا (۴۵) سورة مريم

ولما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : [فَرْعٌ] فِي فُصُولِ الْعَلَامِيِّ: إذَا رَأَى مُنْكَرًا مِنْ وَالِدَيْهِ يَأْمُرُهُمَا مَرَّةً، فَإِنْ قَبِلَا فَبِهَا، وَإِنْ كَرِهَا سَكَتَ عَنْهُمَا وَاشْتَغَلَ بِالدُّعَاءِ وَالِاسْتِغْفَارِ لَهُمَا فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَكْفِيهِ مَا أَهَمَّهُ مِنْ أَمْرِهِمَا.

(ردالمحتار علي صدر الدر المختار كتاب الحدود باب التعزير مطلب في تعزير المتهم ج ۴ ص ۷۸ سعید چاپ / کفایت المفتي ج ۱۲ ص ۳۸۹ باب حقوق الوالدين / نفع المفتي والسائل ، مايتعلق باطاعة الوالدين ص ۴۲۳ دارابن حزم)

ایا دګناه په کار کې دمور او پلار خبره منل کیږي که یا ؟

سوال ۳ : ځني وختونه مور او پلار د اولاد و څخه یا میړه د ښځې څخه داسي غوښتني کوي چي د شریعت په خلاف وي او س پوښتنه دا ده چي په داسي وخت کي د دوی خبره باید و منل سي او که یا ؟

جواب : د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی چي (لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق) یعني د خالق په معصیت کي د مخلوق اطاعت نسته مطلب دا چي د ګناه په کار کي د هیڅ چا حکم نه منل کیږي نو د دې مبارک حدیث څخه معلومه سوه چي په داسي کار کي چي د شریعت په خلاف وي اولاد و نه د مور او پلار ښځه د میړه شاګرد د استاذ او همدارنګه ماتحت کسان د امیر او حاکم حکم او امر باید و نه مني ځکه د دې اشخاصو اطاعت موږ په دې خاطر کوو چي د الله جل جلاله رضآء حاصله کړو ځکه دا د هغه امر دی نو اوس چي دوی داسي غوښتنه کوي چي الله جل جلاله په ناراضه کیږي نو داسي غوښتنه هیڅ کله باید و نه منل سي او که چیري داسي حکم و منل سي نو ګناه ده.

عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ جَيْشًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ رَجُلاً فَأَوْقَدَ نَارًا وَقَالَ ادْخُلُوهَا. فَأَرَادَ نَاسٌ أَنْ يَدْخُلُوهَا وَقَالَ الآخَرُونَ إِنَّا قَدْ فَرَرْنَا مِنْهَا. فَذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ لِلَّذِينَ أَرَادُوا أَنْ يَدْخُلُوهَا لَوْ دَخَلْتُمُوهَا لَمْ تَزَالُوا فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَقَالَ لِلآخَرِينَ قَوْلاً حَسَنًا وَقَالَ لاَ طَاعَةَ فِى مَعْصِيَةِ اللَّهِ إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِى الْمَعْرُوفِ. رواه مسلم

(صحیح البخاري ج ۴ ص ۱۹۹۷ مکتبه شامله صحیح مسلم ج ۶ ص ۱۵ سنن ابي داؤد ج ۲ ص ۳۴۴ مکتبه شامله سنن النسائي ج ۴ ص ۲۲۱ مکتبه شامله / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۳۴ باب حقوق الوالدین)

دداسي کس سره تعلق ختمول چي په تعلق جوړېدلو کي یې دانسان دیني تاوان وي

سوال ۴ : که چیري دیو داسي کس سره انسان خپل تعلق او رابطه و انډیوالي ختمه کړي چي د هغه سره په تعلق جوړولو کي د انسان دیني او اخروي تاوان وي مثلاً هغه

کس داسي افعال او اقوال تر سره کوي چي هغه د شریعت مطهره سره په ټکر کي وي ایا په دغه رابطه او تعلق ختمولو کي خو به ګناه نه وي ؟

جواب : په اوله مرحله کي دي پوره کوشش وسي چي دغه کس ته په حکمت او نرمۍ سره د دین طرف ته دعوت ورکړه سي او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یا د صحابه کرامو رضي الله عنهم د سیرت اړوند یو کتاب ورکړه سي د مطالعې دپاره که چیري دې کار هم خاص نتیجه ورنه کړله او حالات د سمېدو طرف ته نه تله بلکي سبب د اخروي تاوان ګرځېدله نو په داسي صورت کي که چیري تعلقات او روابط د داسي کس سره ختم کړل سي نو شرعا کومه ګناه او حرج په دې کي نسته . والله اعلم بالصواب وعنده علم الکتاب .

عن أبي أيوب الأنصاري رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " لا يحل للرجل أن يهجر أخاه فوق ثلاث ليال يلتقيان فيعرض هذا ويعرض هذاوخيرهما الذي يبدأ بالسلام " . متفق عليه........قال الخطابي رحمه الله تعالى : رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها إلا إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالى فيجوز فوق ذلك.

(مرقاة المفاتيح جج ۱۴ ص ۳۲۶ باب ما ینهي عنه من التهاجر والتقاطع / مشكاة المفاتيح ج ۱ ص ۴۲۷ باب ما ینهي عنه من التهاجر والتقاطع قدیمي کتابخانه / فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۵۲۱ باب المعاشرة والاخلاق / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۵۷۹ باب المعاشرة والاخلاق)

دبې لمانځه کس سره دتعلق قطع کولو حکم.

سوال ۵ : یو کس لمونځ نه کوي ایا دده سره موږ تعلق ختم کړو که یا او د داسي کس دلاس خواړه پاک دي که یا ؟

جواب : لمونځ د اسلام یو داسي عظیم الشانه رکن دی کوم چي د لمانځه ونه کوونکي ته شرعاً فاسق ویل کیږي او لمونځ د اسلام او کفر تر مینځ فرق راولي او د لمانځه په کولو سره نبي کریم ﷺ ډیر غټ بشارتونه او زیري ورکړي دي او پر نه کولو یې ډېر سخت عذاب وعیدونه بیان کړي دي نو کوم کس چي لمونځ نه کوي هغه ته اول باید نصیحت وکړل سي او د هغو انعاماتو ذکر باید ورته وسي کوم چي الله پاک یې

دلمانځه پر کولو ویو بنده ته ورکوي او دهغو عذابونو ذکربايد ورته وکړل سي کوم چي الله پاک يې دلمانځه پر نه کولو ویوه کس ته ورکوي که چيري يې په دغه سره هم اصلاح ونه سوه نو بيا دي تعلق ورسره ختم کړل سي البته دلاس خواړه يې پاک دي .

(کماورد فی الحدیث) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «العَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ

عَنْ أُمِّ أَيْمَنَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا تَتْرُكِ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا، فَإِنَّهُ مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ وَرَسُولِهِ

(وقال العلامة الحصكفی رحمه الله) هِيَ فَرْضُ عَيْنٍ عَلَى كُلِّ مُكَلَّفٍ..... وَيَكْفُرُ جَاحِدُهَا لِثُبُوتِهَا بِدَلِيلٍ قَطْعِيٍّ وَتَارِكُهَا عَمْدًا مَجَانَةً أَيْ تَكَاسُلًا فَاسِقٌ

(وایضاً فی الدرالمختار) فَسُؤْرُ آدَمِيٍّ مُطْلَقًا وَلَوْ جُنُبًا أَوْ كَافِرًا أَوْ امْرَأَةً...... طَاهِرٌ

(جامع الترمذی ج ۵ ص ۱۳ باب ماجآء في ترک الصلوة بېروت چاپ مکتبه شامله/ سنن النسائي ج ۱ ص ۲۳۱ باب الحکم في تارک الصلوة بېروت چاپ مکتبه شامله/ مشکاۃالمصابیح ج ۱ ص ۵۸ کتاب الصلوة قدیمي چاپ/ مسند الامام أحمد ج ۷ ص ۵۷۲ داراحیاء التراث العربي بېروت/ الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۳۵۱؛ ۳۵۲ کتاب الصلوة سعید چاپ / وایضاً الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۲۲۲ فصل في البئر سعید چاپ/ فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۵۱۰ باب المعاشرة والاخلاق)

په بدرنګه سړي دپوسخند وهلو حکم.

سوال ۶ :یو کس بدرنګه دی او بل کس پو سخند په وهي او مسخرې پرکوي نو دداسي سړي په حق کښي دشریعت څه حکم دی ؟

جواب : دقرآن او حدیثو له مخي دیوه مسلمان لپاره په بل مسلمان باندي که هغه عالم وي او که جاهل ؛ګنهګار وي که پرهېزګار استهزاء او مسخره سخته ګناه او شرعاً ممنوع او عبث عمل دی په سورت الحجرات کښي چي کوم اخلاقي تعلیمات بیان سويدي له هغو څخه یو داهم دی چي یو مسلمان دي په بل مسلمان باندي ټوکي ؛مسخرې او استهزاء نه کوي او نبي کریم ﷺ هم دخپلو احادیثو په رڼا کښي یو مسلمان دبل مسلمان ورور بللی دی او په یوه او بل باندي یې له ټوکو او

مسخره ځکه منع کړېده چې څوک دا عمل ترسره کوي د هغه به د قیامت په ورځ سخته سزاء وي

قال الله تعالی {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا يَسْخَرْ قَومٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ}

(وقال العلامةابن كثير رحمه الله في تفسيره)يَنْهَى تَعَالَى عَنِ السُّخْرِيَةِ بِالنَّاسِ، وَهُوَ احْتِقَارُهُمْ وَالِاسْتِهْزَاءُ بِهِمْ.... وَالْمُرَادُ مِنْ ذَلِكَ: احْتِقَارُهُمْ وَاسْتِصْغَارُهُمْ، وَهَذَا حَرَامٌ، فَإِنَّهُ قَدْ يَكُونُ الْمُحْتَقَرُ أَعْظَمَ قَدْرًا عِنْدَ اللَّهِ وَأَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ السَّاخِرِ مِنْهُ الْمُحْتَقِرِ لَهُ؛

(لما ورد في الحديث) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا» وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ «بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ»

(تفسیرابن کثیر ج ۴ ص ۱۹۰ سورة الحجرات مکتبه دارالمفید بیروت/تفسیر القرطبي ج ۱۶ ص ۲۷۶ سورة الحجرات مکتبه رشیدیه/ تفسیر معارف القرآن ج ۹ ص ۱۴۰ پاره ۲۶ مکتبه حبیبیه/ عزیزالتفاسیر ج ۱۱ ص ۴۶۰ سورة الحجرات مکتبه دارالکنوز العلمية /صحیح مسلم ج ۲ ص ۳۱۷ باب تحريم ظلم المسلم قدیمي چاپ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۳۹ باب مسائل المتفرقه)

دهمسایګانو دحقوقو په اړه معلومات .

سوال ۷ : د اسلام په مبارک دین کښې د همسایه لپاره کوم حقوق مقرر دي که یا ؟ او که چیرې حق ولري نو بیا چې یو کس د همسایه د حق خیال نه ساتي نو د داسي کس په هکله د شریعت څه حکم دی ؟

جواب : دین اسلام یو داسي داخوت او ورور ولۍ دین دی چې په هغه کښې د هر کس لپاره خپل حقوق معلوم سوي دي چې په هغوی کښې د همسایه د حقوقو هم زیاتي لاربنوونې سوي دي لکه څرنګه چې په قرآن کریم کښې الله ﷻ فرمایي (وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ) د دې ایت څخه مفسرینو یو مطلب دارا ایستلی دی چې نېک سلوک کول د خپل همسایه سره لازمي دی .

او نبي کريم ﷺ هم په دې اړه زياتي لارښوونې کړې دي او فرمايي چې حضرت جبرائيل عليه السلام ماته د همسايه په هکله دومره ټينګار کاوه چې ما دا فکر وکړې چې همسايه به د همسايه په ميراث ورسره شريک سي . او په بل حديث شريف کښې فرمايي کوم کس چې پر الله او پر ورځي د آخرت ايمان ولري نو هغه دې د خپل همسايه اکرام وکړي او د همسايه حقوق پر درې قسمه دي اول هغه کس دی چې قريب دې هم وي او مسلمان هم وي او همسايه دي هم وي نو داسې همسايه درې حقه لري يو حق د قرابت دوهم حق د اسلام دريم حق د همسايه . دوهم هغه کس دی چې قريب دې نه وي مسلمان وي او همسايه دي وي نو داسې کس بيا دوه حقه لري چې يو حق يې د اسلام او بل حق يې د همسايه توب دی . دريم هغه کس دی چې نه مسلمان دی او نه دې هم قريب دی بلکې اهل ذمه کافر دی نو داسې کس صرف يو حق لري چې هغه حق د همسايه توب دی .

او د قيامت د علامو څخه يوه علامه دا هم ده چې د همسايګانو د حقوقو خيال به نه ساتل کيږي نو الله ﷻ دې دد ې توفيق راکړي چې د نبي کريم ﷺ د مبارکو ارشاداتو مطابق د خپلو همسايګانو د حقوقو خيال وساتو .

لقوله تعالى فى القرآن المجيد :وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ(النسآء ٣٦)

(قال العلامة الجصاص رحمه الله)وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: مَعْنَى الصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ أَنَّهُ الْجَارُ الَّذِي يُلَاصِقُ دَارُهُ دَارِهِ وَإِنَّ اللَّهُ خَصَّهُ بِالذِّكْرِ تَأْكِيدًا لِحَقِّهِ عَلَى الْجَارِ غَيْرِ الْمُلَاصِقِ. وروى أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

أَتَدْرُونَ مَا حَقُّ الْجَارِ إِنِ اسْتَعَانَ بِكَ أَعَنْتَهُ وَإِنِ اسْتَقْرَضَكَ أَقْرَضْتَهُ وَإِنِ افْتَقَرَ عُدْتَ عَلَيْهِ وَإِنِ مَرِضَ عُدْتَهُ وَإِنْ مَاتَ اتَّبَعْتَ جَنَازَتَهُ وَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ هَنَّأْتَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ مُصِيبَةٌ عَزَّيْتَهُ وَلَا تَسْتَطِلْ عَلَيْهِ بِالْبِنَاءِ فَتَحْجُبَ عَنْهُ الرِّيحَ إِلَّا بِإِذْنِهِ وَإِذَا اشْتَرَيْتَ فَاكِهَةً فَأَهْدِ لَهُ فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَأَدْخِلْهَا سِرًّا وَلَا يَخْرُجْ بهَا ولدك ليغيظ بهَا وَلَدَهُ وَلَا تُؤْذِهِ بِقُتَارِ قِدْرِكَ إِلَّا أَنْ تَغْرِفَ لَهُ مِنْهَا أَتَدْرُونَ مَا حَقُّ الْجَارِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَبْلُغُ حَقَّ الْجَارِ إِلَّا من رَحِمَه الله فَمَا زَالَ

يُوصِيهِمْ بِالْجَارِ حَتَّى ظَنُّوا أَنَّهُ سَيُوَرِّثُه ثُمَّ قَالَ الْجِيرَانُ ثَلَاثَةٌ فَمِنْهُمْ مَنْ لَهُ ثَلَاثَةُ حُقُوقٍ وَمِنْهُمْ مَنْ لَهُ حَقَّانِ وَمِنْهُمْ مَنْ لَهُ حَقٌّ وَاحِدٌ فَأَمَّا الَّذِي لَهُ ثَلَاثَةُ حُقُوقٍ فَالْجَارُ الْمُسْلِمُ الْقَرِيبُ لَهُ حَقُّ الْإِسْلَامِ وَحَقُّ الْجِوَارِ وَحَقُّ الْقَرَابَةِ وَأَمَّا الَّذِي لَهُ حَقَّانِ فَالْجَارُ الْمُسْلِمُ لَهُ حَقُّ الْإِسْلَامِ وَحَقُّ الْجِوَارِ وَأَمَّا الَّذِي لَهُ حَقٌّ وَاحِدٌ فَالْجَارُ الْكَافِرُ لَهُ حَقُّ الْجِوَارِ

(احکام القرآن للجصاص ج ۲ ص ۲۷۶ باب برالوالدين مکتبه دارالکتاب / تفسيرالمظهري ج ۲ ص ۱۰۴ سورة النسآء بېروت / تفسيرابن کثير ج ۱ ص ۲۱۰ سورة النسآء بېروت / المنتقي ج ۱ ص ۵۹ باب ماجآء في حفظ الجار مکتبه شامله / مکارم الاخلاق للخرائطي ج ۱ ص ۹۴ باب ماجآء في حفظ الجار مکتبه شامله / مسند الشاميين للطبراني ج ۳ ص ۱۰۴ مکتبه شامله)

دخپلو ښځو تر مينځ دفرق کولو حکم.

سوال ۸ :ديو کس دوې ښځې دي خو دغه کس ددغو ښځو په مېنځ کښې فرق په لباس ؛خوراک ؛اوشپې تېرولو کښې کوي اوس پوښتنه داده چې د دوو ښځو تر مېنځ فرق شرعاً څه حکم لري ؟

جواب :کله چې يو کس دوې ښځې لري او د دوی په مېنځ کښې په نفقه او معاشره کښې فرق کوي نو دغه کس سخت ګناه ګاره دی ځکه چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث شريف کښې فرمايي :کله چې ديوه کس په نکاح کښې دوې ښځې وي او دغه کس دخپلو ښځو په منځ کښې فرق کوي نو دغه کس به په ورځ دقيامت په داسي حال کښې راپورته سي چې يو اړخ به يې ساقط وي يعني دګزڼ وهلي په څېر به راپورته کيږي چې يو طرف به يې فلج وي نو ودغه حديث شريف ته په نظر کولو سره داڅرګنديږي چې دخپلو ښځو په منځ کښې بايد دعدل او انصاف معامله وسي او د دوی په منځ کښې په خوراک ؛لباس ؛او شپې تېرولو کښې هيڅ فرق ونسي البته که يې ديوې ښځې سره طبعي محبت وو نو بيا ددې موآخذه دده سره شرعاً نسته يعني يو کس ديوې ښځې سره تر دابلې ښځې زيات محبت لري خو ظاهري فرق يې نه کوي نو ودغه کس ته ددغه قلبي محبت سزا نسته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا كَانَ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا جَاءَ يَوْمَ القِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ(الترمذی)

(قال العلامة حصكفي رحمه الله) (يَجِبُ) أَنْ يَعْدِلَ فِيهِ أَيْ فِي الْقَسْمِ بِالتَّسْوِيَةِ فِي الْبَيْتُوتَةِ (وَفِي الْمَلْبُوسِ وَالْمَأْكُولِ) وَالصُّحْبَةِ (لَا فِي الْمُجَامَعَةِ) كَالْمَحَبَّةِ بَلْ يُسْتَحَبُّ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۲۰۱ ؛ ۲۰۲ كتاب النكاح سعيد چاپ / البحرالرائق ج ۳ ص ۳۷۹ كتاب النكاح باب القسم رشيديه /فتاوى التاتارخانية ج ۳ ص ۲۲۶ كتاب النكاح مكتبه ادارة القرآن / فتاوى قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۴۳۹ كتاب النكاح فصل في القسم رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۵۹۰ باب احكام الزوجين / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۶۲۰ / جامع الترمذي ج ۱ ص ۳۴۵ باب ماجآء في التسوية بين الضرائر مكتبه رحمانيه / مسند الحارث ج ۱ ص ۳۰۹ بيروت / المستدرک علي الصحيحين للحاكم ج ۲ ص ۲۰۳ بيروت / عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج ۲۰ ص ۱۹۹ باب العدل بين النسآء بيروت / مرقات المفاتيح شرح مشكات المصابيح ج ۵ ص ۲۱۱۵ باب القسم بيروت / مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۹۶۵ باب القسم بيروت / عزيز التفاسير ج ۳ ص ۶۱ مكتبه دارالكنوز العلميه)

په لاره يا په بل ځای کښې پريو چاباندي دوړي کول يا خټي پاشل .

سوال ۹ : ځيني کسان په ټولنه کښې داسي هم سته چي کله کله و مسلمانانو ته تکليف ورکوي مثلا په موټر سره دوړي کول يا ، خټي پاشل يا نور داسي تکاليف چي انسان په ازاريږي . ايا په شريعت کښې داسي کسانو په باره کښې څه زجر او منع راغلې ده ؟

جواب : دين اسلام ټوله کامل مکمل دامن او عدل او سلامتی نوم دی خپله لفظ دايمان دامن څخه جوړ دی نو ديو مومن شان دادی چي هميشه دښو اخلاقو او ښه سلوک خاوند واوسيږي او نور مسلمانان دده دفعل او قول وحرکت دشره څخه په امن وي . په حديث شريف کښې هم دنبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی چي کامل مکمل مسلمان په تاسي هغه کس دی چي بل مسلمان وروردهغه دلاس او ژبي دشر څخه په امن کښې وي . خبري ډيري او بړديږي خو دغه يو حديث شريف هم کافي دی ديو مسلمان دعبرت او پند ونصيحت اخيستلو دپاره الله جل جلاله دي موږ او تاسو ټولو ته پوره هدايت رانصيب کړي . آمين ثم آمين

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ» صحيح البخاري ج ١ ص ١١

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ» : «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» ترمذي شريف ج٥ ص ١٧ بيروت چاپ

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ» رواه النسائي ج٨ ص ١٠٦ بيروت چاپ/ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا» وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ «بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ .رواه مسلم

(صحيح البخاري ج ١ ص ١١ / ترمذي شريف ج٥ ص ١٧ بيروت چاپ / النسائي ج٨ ص ١٠٦ بيروت چاپ / مسلم شريف ج ٤ ص ١٩٨٦ بيروت چاپ)

په شریعت مقدسه کښې دمور حق زیات دی که دپلار ؟

سوال ۱۰ : په شریعت مقدسه کښې د اولا پر ذمه باندي د مور حق زیات دی که د پلار ؟

جواب :د اسلام په مقدس دین کښې د اولاد پر ذمه باندي د مور و اپلار د واړو عزت احترام قدر خدمت کول او د شریعت په حدودو کښې د هغوی هره خبره منل لازمه ده .
خو بیا هم کتاب وایې چې د احترام او تعظیم او عزت تقاضا دا ده چې د پلار خبره و منل سي لیکن د خدمت او د حسن خلق په طرف کي بیا د مور حق مقدم دی تر پلار، مور ستا د خدمت او د ښو اخلاقو زیاته حقداره ده. علماو و لیکلي دي که چیري مور او پلار دواړه کورته داخل سي اولاد به پلار ته ولاړیږي د تعظیم په خاطر او که چیري مور او پلار څه مال او پیسې وغوښتې ابتداء او شروع به یې په مور سره کوې .

خلاصه دا چې دخدمت په لحاظ سره دمور حق زيات دی او د احترام وتعظيم په لحاظ سره دپلار حق زيات دی

وَعَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رِضي الربِّ فِي رضى الْوَالِدِ وَسُخْطُ الرَّبِّ فِي سُخْطِ الْوَالِدِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ . قال العلامة عبدالحى اللكنهوى : واذا تعذر عليه مراعاة جميع حقوق الوالدين رجح جانب الاب فيما يرجع الى التعظيم والاحترام وحق الام فيما يرجع الى الخدمة والانعام .

(نفع المفتي والسائل ص ۴۲۲ / مشكوة المصابيح ص ۴۱۹ كتاب الادب باب البر والصلة الفصل الثاني / احسن المسائل ص ۲۰۲)

ايا دعصري علومو استاذ هم ددیني علومو داستاذ په شان عزت او قدر لري ؟

سوال ۱۱ : ايا دعصري علومو استاد هم ددیني علومو داستاد په شان عزت لري ؟

جواب : دحضرت علي رضي الله عنه قول دی : (چي چا ماته يو حرف علم راوښوو ی نو زه يې خپل مریی وګرځولم) نو استاد استاد دی هغه که دعصري علومو وي او که ددیني علومو وي خو دهغه قدر عزت او احترام دشاګرد پر ذمه باندي لازم دی . او هرکله چي ديني علوم پر عصري علومو باندي فوقيت او فضيلت لري نو ښکاره خبره ده چي استاد يې هم پر هغه استاد باندي فوقيت لري کوم چي دعصري علومو استاد دی . البته داسي استاد چي شاګرد ته هغه څه ورښيې چي دده دنيا يا دآخرت په ضرر تماميږي نو دداسي استاد څخه اجتناب او ليري والی پکار دی ځکه چي دا خو بيا استاد نه دی دښمن دی استاد خو هغه ته وايې چي دخپل شاګرد ددنيا او دآخرت خيرخواه وي .

عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ» قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ.

(صحيح مسلم شريف ج ۱ ص ۷۴ باب بيان ان الدين النصيحة / سنن ابي داود ج ۴ ص ۲۸۶ باب النصيحة / سنن الترمذی ج ۴ ص ۳۲۴ باب النصيحة)

دمسلمان وروسره خبري بندول

سوال ۱۲ : که چيري دوه کسه مسلمانان وروڼه سره خوابدي وي او خبري نه سره

کوي نو د شریعت د طرفه څخه و داسي کسانو ته پر دغه برابر باندي کومه توصیه یا حکم سته که یا ؟

جواب : د بخاري شریف روایت دی، چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چي نه ده رواه هیڅ شخص لره چي خپل مسلمان ورور تر درو ورځو زیات آخواته پریږدي مخ په مخه سره ورځي خو یو د بل څخه مخ اړوي او په دوی کښي بهتره هغه کس دی، چي په سلام سره ابتداء وکړي . د دې حدیث شریف څخه معلومه سوله چي دیو مسلمان ورور سره د ضد او حسد پر بنا باندي تعلق ختمول او دهغه سره خوابدی کېدل شرعا جاېز او رواه نه دی .

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيعرض هَذَا ويعرض هذاوخيرهما الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ» . مُتَّفق عَلَيْهِ .

(مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۴۲۶ باب ماينهي عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات / صحيح مسلم ج ۴ ص ۱۹۸۴ باب تحريم الهجر فوق ثلاث / صحيح البخاري ج ۸ ص ۲۰ باب الهجرة)

ځیني کسان وخپل پلار ته وایي چي ته په هیڅ نه پوهیږې .

سوال ۱۳ : ځیني کسان دډیرو جذباتو او احساساتو په وخت کښي کله کله وخپل پلار ته وایې چي بابا ته په هیڅ هم نه پوهیږې پوښتنه داده چي داسي الفاظ وخپل پلار ته ویل څنګه دي ؟

جواب : په دین اسلام کښي د مور او پلار د حقوقو پر اداء کولو باندي ډیر زیات تاکید او ټینګښت راغلی دی، د دې تاکید درویه څخه هر انسان مکلف دی چي د خپل مور او پلار سره په داسي لهجه او اواز باندي خبري وکړي چي هغوی، د ده د خبرو څخه په آزار نه سي . او د داسي قول او حرکت څخه پرهیز وکړي کوم چي د دوی، د آزار سبب جوړیږي . لهذا داسي خبره پلار ته کول یو قسم د پلار په شان کي بې ادبي ده باید اجتناب ځیني وسي . والله اعلم بالصواب .

لقوله تعالى : وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا (۲۳) وَاخْفِضْ لَهُمَا

جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا (۲۴) (سورة الاسراء پار نمبر ۱۵) وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ» . قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَهَلْ يَشْتُمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ؟ قَالَ: «نَعَمْ يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ ويسبُّ أمه فيسب أمه» . مُتَّفق عَلَيْهِ

(الجامع الترمذي ج ۲ ص ۱۲ باب ما جاء في عقوق الوالدين / مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۴۱۹ باب البر والصلة الفصل الاول / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۳۶ باب المسائل المتفرقة)

دمور اوپلار یا نورو قریبانو په مقابل کښې حقیقت ویل .

سوال ۱۴ : که چیري یو کس دخپل مور او پلار یا قریبانو په مقابل کښې داسي حقیقت خبره وکړي چي دوی په هغه سره خوابدي کیږي داسي ویل وراه دي که یا ؟

جواب : شریعت دمور او پلار د حقوقو په معامله کښې یو اصل بیان کړی دی هغه دا چي په جائز او روا امورو کښې دهغوی خبره منل واجب او لازمي ده . او دناروا او ناجائز امورو دحکم کولو په صورت کښې دهغوی خبره نه منل لازم او ضروري ده . البته دهغوی ادب کول او دهغوی سره په نرمه لهجه او ورین تندي سره خبري او مجلس کول دا ټوله دمور او پلار دحقوقو په اداء کولو کښې راځي . ددغه اصل دبیانېدو څخه وروسته تاسي ته خپل صورت حال معلومیږي چي ته په کوم صورت کښې واقع یې او که ددغه صورتونو څخه په یوه صورت کښې هم نه یې واقع نو بیا خامخا دمور او پلار په مقابل کښې دربدل دشریعت داحکامو څخه سرغړونه ده .

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَصْبَحَ مُطِيعًا لِلَّهِ فِي وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوحَانِ مِنَ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا. وَمَنْ أَمْسَى عَاصِيًا لِلَّهِ فِي وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوحَانِ مِنَ النَّارِ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا» قَالَ رَجُلٌ: وَإِنْ ظَلَمَاهُ؟ قَالَ: «وَإِنْ ظلماهُ وإِن ظلماهُ وإِنْ ظلماهُ»

وعن على رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ، إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ»

(فتاوی محموديه ج ۱۹ ص ۳۴ / مشكاة المصابيح ص ۴۱۹ كتاب الادب باب البر والصلة / صحيح مسلم شريف ج ۲ ص ۱۲۵ / احسن المسائل اوله حصه ص ۲۰۲)

دیو چا سره سلام کول او شناخت نه ورسره کول .

سوال ۱۵ : زه دیو کس سره سلام کوم خو نور شناخت مي زړه نه ورسره غواړي ایا دا ګناه لري که یا ؟

جواب : دا هیڅ ګناه نه لري اصل شی دیو مسلمان ورور سره بغض او حسد نه کول دي او پاته سوه شناخت او اړیکي نه ساتل دا خو دانسان طبیعت او مزاج دی چي دځیني کسانو سره یې زړه لګیږي او دچا سره یې بیا زړه نه لګیږي . په شریعت کښې دنیکانو او ښو خلګو سره صحبت کول مطلوب عمل دی او دبدانو او فاسقانو څخه لیري والی اختیارول ضروري دی .

لقوله تعالى :يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ (١١٩) سورة التوبة / عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ تَبَاغَضُوا، وَلاَ تَحَاسَدُوا، وَلاَ تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا، وَلاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثِ لَيَالٍ.

(صحیح البخاري باب الهجرة ج۸ ص ۲۱ / صحیح مسلم ج۴ ص ۱۹۸۳ مکتبه شامله / فتاوی قاسمیه ۳۱۲)

مشر ورور پر کشرانو وروڼو کوم حقوق لري ؟

سوال ۱۶ : مشر ورور پر کشرانو وروڼو څه حقوق لري په شریعت کښې؟

جواب: مشر ورور په روا او جائزو کارو کښې هغه حق پر کشرانو وروڼو باندي لري لکه پلار چي یې پر اولاد لري، او همداشان په احترام او عزت او خبره منلو کښې وفرمایل : پلار ته ورته حقوق لري . د ابن ماجة شریف حدیث دی نبي کریم صلی (حق کبیر الاخوة علی صغیرهم کحق الوالد علٰی ولده (رواه البیهقي وصاحب المصابیح) رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي چي دمشر ورور حق پر کشرانو وروڼو باندي داسي لازم دی لکه دپلار حق پر زامنو باندي .

لما في المرقاة : وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ليس منا أي من خواصنا وهو كناية عن التبرئة من لم يرحم صغيرنا ويوقر بالجزم وفي نسخة ولم يوقر أي لم يعظم كبيرنا وهو شامل للشاب والشيخ ويأمر بالمعروف بالجزم عطفا على المجزوم وكذا قوله وينه عن المنكر وهو بحذف الألف وأما إثباته على ما في نسخة فغير صحيح رواية

وإن كان له وجه دراية فتأمل رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وفي نسخة حسن غريب ورواه البخاري في الأدب المفرد وأبو داود في سننه عن ابن عمر أيضا لكن بلفظ من لم يرحم صغيرنا ويعرف حق كبيرنا فليس منا

(مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۴۲۳ مكتبه علوم دينيه / مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج ۹ ص ۱۸۳ مكتبه حبيبيه / مظاهر حق ج ۴ ص ۵۰۱ اردو / تعليق الصبيح ج ۵ ص ۲۴۱ / احسن المسائل ص ۱۳۱)

ديو كس دښه بدل څه دی ؟

سوال ۱۷ : يو چا ښه درسره وکړه نو دهغه دشکر داداء کولو طريقه په شريعت کي سته که يا ؟ نن سبا خو موږ خلګو ته د مهرباني تشکر يا مننه غوندي الفاظ وايو ؟

جواب : ديو کس او شخص داحسان او شکر داداء کولو لپاره شريعت د (جزاک الله خيرا) الفاظ موږ ته را ښوولي او تلقين کړي دي. دترمذي شريف حديث دي :

(من صنع اليه معروف فقال لفاعله جزاک الله فقد ابلغ فی الثناء)رواه الترمذي.

که ديو کس سره ښه وسي او احسان ورسره وسي دغه احسان کونکي ته دي داسي وويل سي (جزاک الله) نو دغه شخص تعريف او شکر دکمال حد ته ورسوی.

(سنن الترمذي ج ۲ ص ۲۳ / مسند البزار ج ۷ ص ۵۴ / مصنف ابن ابي شيبة ج ۵ ص ۳۲۲ / ستاسي مسائل ج ۸ ص ۱۲۰ الادب لابن ابي شيبة)

مور يا پلار چي و اولادونو ته ښراوي کوي ددې مسئلې شرعي حکم ؟

سوال ۱۸ : په ځينو کورنيو کښې د کم علمۍ او ناپوهۍ څخه دغه يو مشکل رارواندی چي ځيني وختونه مور يا پلاره و اولادونو ته پر معمولي شي باندي ښراوي او بد دعاوي کوي پوښتنه داده چي د شريعت دنګاه څخه مور او پلار ته دغه ښراوي کول و اولادونو ته رواه دي که يا ؟ .

جواب : اصلي او حقيقت خبره داده چي که چيري مور او پلار د اولاد په باره کښې خپله وظيفه او ذمه داري وپيژني او اولاد د مور او پلار پر برابر خپله وظيفه او ذمه داري وپيژني نو بيا به دا مشکلات نه وي . خو افسوس دادی چي موږ دعلمه او

ديني ماحول څخه ليري يو چي سبب يې هم دغه بدبختۍ دي چي موږ ورسره نن سبا مخ يو .

رابه سو دسوال جواب ته په حديث شريف کښې ددغه ښراوو او بد دعاوو څخه منع راغلې ده . په مسلم شريف کښې دنبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی چي تاسي خپلو ځانونو، او اولادونو، او خپلو مالونو ته ښراوي مه کوئ ځکه چي امکان ددغه ستـه چي يوه ورځ مو دغه ښرا او بد دعا دقبوليت دوختـه سره برابره سي او بيا قبوله سي . او ښکاره خبره ده چي بيا به افسوس کوی . فقهاوو ددغه حديث څخه دغه حکم را ايستلی دی چي وخپل ځان او اولاد ته ښرا کول شرعا حرام او نا جائز کار دی .

وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ وَلَا تدْعُوا على أَوْلَادكُم لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللَّهِ سَاعَةً يُسْأَلُ فِيهَا عَطَاءً فَيَسْتَجِيبَ لَكُمْ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المفاتيح ج ۴ ص ۱۵۲۶ كتاب الدعوات مكتبه شامله / مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۶۹۲ الفصل الاول كتاب الدعوات مكتبه شامله / الموسوعة الفقهية ج ۲۰ ص ۲۶۹ باب الدعاء مكتبه حقانيه كويټه / صحيح مسلم ج ۴ حديث نمبر ۲۳۰۴ بيروت چاپ طبع حلبي)

پر يوچا باندي دغلا سوي شي دغلا کولو گمان کول .

سوال ۱۹ : که چيري ديو چا څخه يو شی ورک سي او بيا راولاړ سي پر يو بل چا باندي بېله کوم دليله او سنده بد گماني کوي چي داشی فلانکي غلا کړی دی . ايا دشريعت دنګاه څخه داسي بدگماني کول پر يوچا باندي رواه ده که يا ؟

جواب : تر څه وخته چي څوک پر يو چا باندي شرعي دليل او پخي قرائني (نښبي) ونه لري تر هغه وخته پوري پر هغه باندي دغلا يا بل بد کار دارتکاب گمان کول شرعا گناه او ناجائز کار دی . چي پرهېز ځيني کول لازم دی . په حديث شريف کښې دنبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی چي ای زما امته دبدگمانۍ کولو څخه ځان وساتۍ يعني (تر څه وخته چي مو پر چا باندي يو شی په دليل سره نه وي ثابت کړی يا نه وي ليدلی تر هغه وخته پر چا باندي بدگماني مه کوئ) دا ځکه چي

بدګماني ډېر غټ دروغ دي .الحديث . او ښکاره خبره ده چې دروغ کبیره او لویه ګناه ده

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا» . وَفِي رِوَايَة: «وَلَا تنافسوا» . مُتَّفق عَلَيْهِ .

وقال الملا على القارى رحمه الله تعالى فى المرقاة شرح المشكاة : قَالَ الْقَاضِيَ: التَّحْذِيرُ عَنِ الظَّنِّ فِيمَا يَجِبُ فِيهِ الْقَطْعُ أَوِ التَّحَدُّثُ بِهِ عِنْدَ الِاسْتِغْنَاءِ عَنْهُ أَوْ عَمَّا يُظَنُّ كَذِبُهُ اه. أَوِ اجْتَنِبُوا الظَّنَّ فِي التَّحْدِيثِ وَالْإِخْبَارِ، وَيُؤَيِّدُهُ قَوْلُهُ: (فَإِنَّ الظَّنَّ) : فِي مَوْضِعِ الظَّاهِرِ زِيَادَةُ تَمْكِينٍ فِي ذِهْنِ السَّامِعِ حَثًّا عَلَى الِاجْتِنَابِ (أَكْذَبُ الْحَدِيثِ) : وَيُقَوِّيهِ حَدِيثُ: " «كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» " وَقِيلَ أَيْ أَكْذَبُ حَدِيثِ النَّفْسِ؛ لِأَنَّهُ يَكُونُ بِإِلْقَاءِ الشَّيْطَانِ أَوِ اتَّقُوا سُوءَ الظَّنِّ بِالْمُسْلِمِينَ قَالَ تَعَالَى: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ} [الحجرات: ١٢] وَهُوَ مَا يَسْتَقِرُّ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ دُونَ مَا يَخْطُرُ بِقَلْبِهِ أَنَّ بَعْضَ الظَّنِّ - وَهُوَ أَنْ يَظُنَّ وَيَتَكَلَّمَ - إِثْمٌ، فَلَا تَجَسَّسُوا، وَهُوَ الْمُلَائِمُ لِقَوْلِهِ: (وَلَا تَحَسَّسُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا) : بِحَاءٍ مُهْمَلَةٍ فِي الْأَوَّلِ وَبِالْجِيمِ فِي الثَّانِي فَقَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: أَيْ لَا تَطْلُبُوا التَّطَلُّعَ عَلَى خَيْرِ أَحَدٍ وَلَا عَلَى شَرِّهِ

(مشكاة المصابيح ج ٢ ص ٤٢٧ باب ماينهي من التقاطع والتهاجر والتباغض مكتبه علوم دينيه / مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٢٣١ باب ماينهي من التقاطع والتهاجر والتباغض مكتبه رشيديه / صحيح البخاري ج ٤ ص ٤ بَابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ} مكتبه شامله / صحيح مسلم ج ٤ ص ١٩٨٥ باب تحريم الظن والتجسس والتنافس مكتبه شامله)

په رتبه او مرتبه کې پير طريقت افضل دی که پلار ؟

سوال ٢٠ : په رتبه او مرتبه کښې پير طريقت افضل دی که پلار شرع مبارکه څه وايي؟

جواب : دخدمت په باب او حقوقو کښې دپلار رتبه پر پير د طريقت مقدمه او مخکې ده يعنې اول خدمت دپلار مخکې دی تر پير د طريقت بيا دپير . او د واجباتو په اطاعت او خبره منلو کښې پير مقدم دی ځکه چې پير د طريقت چې په صحيح او

شرعي معنی پیروي هغه انسان د آخرت د کامیابۍ راهنما او لاربنود دی د هغه خبره باید ومنل سي او عملي سي د شریعت په حدودو کښي .

(امدادالفتاوی ج ۴ ص ۳۷۴ مسائل شتي / صحیح مسلم شریف ج ۲ ص ۱۲۵ /فتح الملهم ج ۳ ص ۲۶۷/امدادالفتاوی ج ۴ ص ۳۷۴ /فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۲۹ باب حقوق الوالدین وغیرهما)

د شراب خوره ، قمار بازه او تارک الصلوة شخص سره باید څه معامله وکړه سي؟

سوال ۲۱: داسي مسلمانان خلک چي شراب چیښي ،قمارکوي او لمونځ نه کوي اوس مو ورسره انډیوالي ده ددوی سره باید څه عمل وسي ملګرتیایې وسي که تعلقات ورسره ختم سي شریعت څه حکم کوي؟

جواب: اول باید وعظ او پند او نصیحت ورته وکړه سي د دغه ناروا امورو سه د راګرځیدلو او اجتناب کول او که په دې هم نه راګرځېده نو ددوی سره باید ملګرتیا ناسته ولاړه او تعلقات ختم کړل سي په نیت د ه تنبیه او زجر او اصلاح راوستلو .والله اعلم

لما قال الخطابي رحمه الله تعالی : رخص للمسلم ان یغضب علي اخیه ثلاث لیال لقلته ولایجوز فوقها الا اذا کان الهجران في حق من حقوق الله تعالي فیجوز فوق ذلک .

(مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح جلد ۸ ص ۳۱۴۶ باب ما ینهي عنه في التهاجر والتقاطع واتباع العورات مکتبه شامله / کفایت المفتي جلد ۹ ص ۱۱۷ / جواهر الاحکام ص ۳۳۴)

یو مسلمان ته د فرعون یا دامریکایي په نامه سره ویل سخته ګناه ده .

سوال ۲۲ : ایا شرعًا و یو ه مسلمان ته د کافر په نامه یا د فرعون په نامه یا دامریکایي په نامه سره ویل رواه دي که یا؟

جواب : دین اسلام ټوله داوله څخه نیولې تر اخره پوري د ادب نوم دی د مسلمان شان دادی چي دده کلام دده فعل او دده حرکات ټوله په ادب سره او د شریعت په دایره کښی وي لهذا یو مسلمان ته د فرعون په نامه سره ویل یا هغه ته ورته په بې ادبه الفاظو سره رابلل سخته ګناه ده او باعث د فسق او سزا وروکولو ده دداسي افعالو څخه اجتناب کول واجب دی .

قال الله تعالى فى القرآن الكريم : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (١١) سورة الحجرات .

وفى مجمع الانهر فى شرح ملتقى الابحر : (يَا كَافِرُ) ، أَوْ يَا يَهُودِيُّ وَأَرَادَ الشَّتْمَ وَلَا يَعْتَقِدُهُ كُفْرًا فَإِنَّهُ يُعَزَّرُ وَلَا يُكَفَّرُ، وَلَوْ اعْتَقَدَ الْمُخَاطَبَ كَافِرًا كَفَرَ؛ لِأَنَّهُ اعْتَقَدَ الْإِسْلَامَ كُفْرًا.

(مجمع الانهر كتاب الحدود باب حد القذف فصل في التعزير ج ٢ ص ٣٧٢ مكتبه غفاريه كوئټه / فتاوى حقانيه ج ٢ ص ٢٣٩ / خلاصة الفتاوى ج ۴ ص ۴۴۴ / كفايت المفتي ج ١٢ ص ٥٦٠ / الدر المختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۴۹ مكتبه شامله بيروت چاپ / الفتاوى الهندية ج ٢ ص ٢٧٨ مكتبه رشيديه)

مورته په سبق ښوولو کښې درد او ښنم کول څنګه دي ؟

سوال ٢٣ : كه چيري يوه انجلۍ خپلي مورته ديني درس وركوي او هغه يې نه سي زده كولای نو ايا دغه لورته رواه ده چي وخپلي مورته ښنم وكړي يا خشكه ورته وكړي ؟

جواب : په قرآن كريم او احاديث نبويه وو كښې د مور او پلار د حقوقو او ادب او احترام په باره كښې بې شمېره اياتونه او احاديث راغلي دي د كومو تقاضا چي همدغه ده چي پر هره موقع باندي كه خوشحالي وي كه غم وي كه خاني وي كه مسكيني وي كه درد او قهر وي او كه خوشحالي وي بايد د مور او پلار د حقوقو او آدابو مراعات او پوره لحاظ وساتل سي . لهذا كومه انجلي چي وخپل مورته ديني تعليم وركوي او بيا په دغه دوران كښې دې ته درد او غصه ورځي او مورته خشكه كوي په حقيقت كې دا د دغي مور په شان كي بې ادبي ده كومه چي شرعا او عرفا ممنوع او حرامه ده بايد اجتناب څني وسي .

لقوله تعالى :وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا (٢٣) سورة الاسرآء پاره (١٥)

و قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الوالد اوسط أبواب الجنة فحافظ ان شئت أو ضيع– رواه احمد والترمذي وابن ماجة والحاكم بسند صحيح وعن عبد الله بن عمرو رضى الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال رضاء الله فى رضاء الوالد وسخط الله فى سخط الوالد– رواه الترمذي والحاكم وصححه وروى البزار عن ابن عمرو عن ابى سعيد الخدري قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يدخل الجنة منان ولا عاق ولا مد من خمر ورواه النسائي والدارمي عن ابن عمر وعن ابى هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم رغم انف رجل ذكرت عنده فلم يصل علىّ ورغم انف رجل اتى عليه شهر رمضان فلم يغفر له ورغم انف رجل أدرك أبويه الكبر فلم يدخلاه الجنة– رواه البغوي والترمذي والحاكم وصححه ورواه مسلم واحمد بلفظ رغم انفه ثم رغم انفه ثم رغم انفه قيل من يا رسول الله قال من أدرك عنده الكبر أحدهما او كلاهما ثم لم يدخل الجنة– وعن ابى امامة ان رجلا قال يا رسول الله ما حق الوالدين على ولدهما قال هما جنتك ونارك رواه ابن ماجة وعن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من أصبح لله مطيعا فى والديه أصبح له بابان مفتوحان من الجنة وان كان واحدا فواحدا– ومن امسى عاصيا لله فى والديه أصبح له بابان مفتوحان من النار وان كان واحدا فواحدا– قال رجل وان ظلماه قال وان ظلماه وان ظلماه– وعنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ما من ولد بار ينظر والديه نظر رحمة الا كتب الله له بكل نظرة حجة مبرورة– قالوا وان نظر كل يوم مائة مرة– قال نعم الله اكبر وأطيب–

(القرآن الكريم سورة الاسراء پاره نمبر ١٥ ايت نمبر ٢٣/ التفسير المظهري ج٥ ص ٤٣١ سورة الاسرآء مكتبه شامله / تفسير النسفي ج ٢ ص ٢٥٢ سورة الاسرآء مكتبه شامله / تفسير ابن كثير ج ٥ ص ٦٤ سورة الاسرآء مكتبه شامله / مفاتيح الغيب = التفسير الكبير للعلامة أبي عبد الله محمد

بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (المتوفي ۶۰۶هـ) ج ۲۰ ص ۳۲۰ سورة السرآء مكتبه شامله)

اهل او عيال ته ښراوي کول ګناه لري که یا ؟

سوال ۲۴ : ځيني کسان داسي هم سته خصوصا ځيني پلرونه او مېندي چي ځيني وختونه وخپلو اولاونو ته ښراوي او بد دعاوي کوي پوښتنه داده چي داسي ښراوي کول شرعا رواه دي که يا ؟

جواب : په احاديثو مبارکه وو کي وخپل ځان اهل و عيال او مال ته د ښرا او بد دعا کولو څخه سخت ممانعت راغلی دی لهذا خپل ځان اهل او عيال ته ښراوي کول شرعا منع دي او داکار روا ښت نه لري . پلرونو او مېندو ته په کار دي چي په نرمۍ او مصلحت سره خپل اولاونه او کشران پوه کړي او د الله جل جلاله څخه دي دخپلو ګناهونو دپاره مغفرت وغواړي ځکه چي ځيني وختونه د دمور او پلار دګناهونو دوجي څخه هم اولاونه بې لاري او سرکشه کيږي چي دا يې دمور او پلار دپلار پر دې دنيا يو قسم سزا هم ده الله جل جلاله دي مور او تاسي ټوله دداسي ازمايښتنو او فتنو څخه محفوظه کړي آمين .

حديث شريف کي راغلي دي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي : چي تاسي خپلو ځانونو ته ښراوي مه کوئ او خپلو اولادونو ته ښراوي مه کوئ ، او خپلو نوکرانو او خادمانو ته ښراوي مه کوئ او خپلو مالونو ته ښراوي مه کوئ ځکه چي کېدای سي دهغه وخته سره ستاسي ښرا برابره سي چي هغه وخت دد دعا دقبوليت وي او دغه ښرا به مو قبوله سي . (نو بيا به وروسته ارمان او پښېماني کوی)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى خَدَمِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ، لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى سَاعَةَ نَيْلٍ فِيهَا عَطَاءٌ، فَيَسْتَجِيبَ لَكُمْ» ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ:

(صحيح مسلم شريف ج ۴ ص ۲۳۰۴ مكتبه شامله / سنن ابي داود شريف ج ۲ ص ۸۸ باب النهي عن أن يدعو الإنسان علي أهله وماله مكتبه شامله / عون المعبود شرح سنن ابي داود ج ۴ ص ۲۷۵ باب النهي عن أن يدعو الإنسان علي أهله وماله مكتبه شامله)

که چيري يودوه کسان سره خوابدي وي يو خبري کوي هغه بل يې نه ورسره کوي .

سوال۲۵: پوښتنه داده چي که چیري یو دوه کسه سره خوابدي وي خو یو په دوی کي خبري کوي هغه بل یې نه ورسره کوي او س ګناهګاره کوم یو دی ؟

جواب: دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چي دجنت دروازې هره دوشنبه او پنجشنبه خلاصیږي او هر هغه بنده ته الله جل جلاله په خپل فضل او کرم سره بخښنه کوي چي دا الله جل جلاله سره څوک شریک نه دروي مګر هغه کس ته چي دده او دده د مسلمان ورور تر مېنځ بغض او عداوت روان وي نو الله جل جلاله وملائکو ته وفرمايي چي وخت ورکړی دغه دوو کسانو ته تر هغه وخته چي صلح سره وکړي . او په بل حدیث شریف کي راځي چي بهتره په دغه دوو کسانو کي هغه دی چي شروع په سلام او کلام سره وکړي . نو په دغه ذکر سوي صورت کي که چیري ددغه دوو کسانو دتعلق په ساتلو کي خیر وو نو ګناهګاره هغه شخص دی چي دغه بغض او حسد ته طول او ځنډ ورکوي او سلام وخبري نه کوي او که چیري ددوی په تعلق ساتلو کي ددیني یا دنیوي او اخلاقي فتنې خطره وه نو د تعلق پرې کولو جواز شرعا سته .

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لاَ يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثِ لَيَالٍ، يَلْتَقِيَانِ: فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا، وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلاَمِ . عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " إياكم والحسد فإن الحسد يأكل الحسنات كما تأكل النار الحطب " أو قال: " العشب " رواه أبو داود وعن أَبي هريرة – رضي الله عنه – قَالَ: قَالَ رسول الله – صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «تُعْرَضُ الأَعْمَالُ في كلِّ اثْنَيْنِ وَخَميسٍ، فَيَغْفِرُ اللهُ لِكُلِّ امْرِئٍ لا يُشْرِكُ باللهِ شَيْئاً، إلا امْرَءاً كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أخِيهِ شَحْنَاءُ، فيَقُولُ: اتْرُكُوا هذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا.رواه مسلم.

ولما قال العلامة المؤلف علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى: ۱۰۱۴هـ فی مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح : وَأَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلَى أَنَّ مَنْ خَافَ مِنْ مُكَالَمَةِ أَحَدٍ وَصِلَتِهِ مَا يُفْسِدُ عَلَيْهِ دِينَهُ أَوْ يُدْخِلَ مَضَرَّةً فِي دُنْيَاهُ يَجُوزُ لَهُ مُجَانَبَتُهُ وَبُعْدُهُ، وَرَبَّ صَرْمٍ جَمِيلٍ خَيْرٌ مِنْ مُخَالَطَةٍ تُؤْذِيهِ

(صحيح البخاري ج۸ ص ۲۱ باب الهجرة / سنن ابي داود باب في الحسد ج ۴ ص ۲۷۶ بيروت چاپ / رياض الصاحين باب تحريم الحسد ص ۵۲۴ بيروت چاپ / صحيح مسلم ج ۴ ص ۱۹۸۷ بيروت چاپ / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح كتاب الادب باب ما ينهي من التهاجر والتقاطع الفصل الاول ج۸ ص ۷۵۸ ، ۷۵۹ مكتبه رشيديه)

دمور او پلار دا جازې څخه بغير سفر کول .

سوال ۲۶: که چیري یو کس په یو رواه او جائز سفر پسې ځي او دمور او پلار ریې خوښه نه وي را ګرځوي یې په داسي صورت کي دغه سفر کول دمور او پلار د اجازې څخه بغیر ګناه لري که یا ؟

جواب : په رواه او جاېزو کارونو کي دمور او پلار خبره نه منل او دهغوئ نافرماني کول شرعا حرام فعل دی چي اجتناب ور څخه کول واجب دی ځکه چي دنبي کريم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چي یوه ګنا دکبیره ګناهونو څخه داده چي دمور او پلار نافرماني په رواه او جائزو کارونو کي وسي .

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِأَكْبَرِ الكَبَائِرِ؟» قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ» ، قَالَ: وَجَلَسَ وَكَانَ مُتَّكِئًا، فَقَالَ: «وَشَهَادَةُ الزُّورِ، أَوْ قَوْلُ الزُّورِ» ، فَمَا زَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهَا حَتَّى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ . رواه الترمذي .

(سنن الترمذي ج ۴ ص ۳۱۲ مكتبه شامله بيروت چاپ / صحيح البخاري ج۸ ص ۱۳۷ مكتبه شامله / صحيح مسلم ج ۱ ص ۹۱ مكتبه شامله)

خوسر ته پلار ويل رواه دي که يا همداشان مسخرې ورسره رواه دي که يا ؟

سوال ۲۷: یو ذوم یا مږور و خپل خوسر ته په پلار سره یا په بابا سره ویلای سي که یا ، او مذاق او مسخري د کومو کسانو سره شرعًا رواه دي؟

جواب: خوسر ته ذوم یا مږور په پلار سره ویلای سي شرعًا کوم حرج نه لري ، مذاق او هم طبعي د دوستانو او خپلوانو او بي تکلفه خلګو سره رواه ده لیکن په دې شرط چي دغه مزاق او هم طبعي به فحش ،غیر مهذب او پر دروا غو مشتمل نه وي د شریعت په حدودو کښې به وي او دیو چا سپکاوي او توهین به نه وي په کښې

وفي هذا الحديث فوائد كثيرة جدا منها جواز تكنية من لم يولد له وتكنية الطفل وأنه .

ليس كذبا وجواز المزاح فيما ليس أثما الخ.

شرح نووي لمسلم جلد ۱۴ ص ۱۲۹ باب جواز قوله لغير ابنه يابني واستحبابه للملاطفة مكتبه شامله / كفايت المفتي جلد ۹ ص ۱۱۹ كتاب الحظر والاباحة)

باب المعاصي والتوبة

کمپیوټر والا په بازار کي خلګو ته فحش فیلمونه او دسروز فېتې ورکوي ګناه د چاده ؟

سوال ۱ : په ښار او بازار کي هغه دوکانداران چي کمپیوټران یې ایښي دي او خلګو ته سروزونه او فحش فیلمونه ورکوي د شریعت د نګاه څخه د دې ګناه د چا په غاړه ده ؟

جواب : د ساز او سروز او فحش فیلمونو په ذریعه سره ګټه کول او هغه لره د خپل ژوند او معاش ذریعه جوړول جائز نه دي . نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دې ناروا کسبه څخه امت منع کړی دی ځکه چي ساز او سروز اوریدل هغه عمل دی چي د زړه د سختوالي سبب جوړیږي او د دین څخه په کښې لیري والی پیدا کیږي . او بل دا چي فحش فیلمونه و خلګو ته ورکول دا په حقیقت کي په ټولنه کي یو قسم اخلاقي فساد رامنځ ته کول دي خصوصا نوی نسل او نوي ځوانان چي کله د داسي ناروا او ناجائزو شیانو سره عادت سي نو دا د دوی د مستقبل د خرابی او د خپل تعلیم او دینداری څخه د لیري کولو سبب جوړیږي او د مسلمانانو ټولنه خو باید د داسي شیانو څخه پاکه وي . د وخت حکومت شرعا په دې باندي مکلفه دی چي داسي کسان کوم چي په ټولنه کي د مسلمانانو د اخلاقو د خرابیو سبب جوړیږي او په یوې اسلامي ټولنه کي فحاشي او عریاني او لاديني عاموي په سخته سزا سره ورسوي چي لا د نورو کسانو د پاره هم عبرت جوړ سي . او پاته سوه دا چي ګناه یې د چا په غاړه ده نو ښکاره خبره ده څوک چي کوم ګناه کوي نو هغه ته به د ده د دغي ګناه سزا ورکول کیږي هغه که دوکاندار وي او که دغه کسان وي چي د دوکاندار څخه یې اخلي او اوري یې البته په مراتبو د ګناه کي به یې فرق ضرور وي چي د چا د لږ د چا د ډېره ..... والله اعلم بالصواب .

لما قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالى فى فتح القدير : ويكره كسب المغنية والنائحة كذا فى الجوامع الفقه على ان التغنى للهو او جمع المال حرام .

وفى الفتاوى الهندية : وَفِي الْمُنْتَقَى إبْرَاهِيمُ عَنْ مُحَمَّدٍ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – فِي امْرَأَةٍ نَائِحَةٍ أَوْ صَاحِبِ طَبْلٍ أَوْ مِزْمَارٍ اكْتَسَبَ مَالًا...... بِإِزَاءِ النِّيَاحَةِ أَوْ بِإِزَاءِ الْغِنَاءِ.... فَكَانَ الْأَخْذُ مَعْصِيَةً وَالسَّبِيلُ فِي الْمَعَاصِي رَدُّهَا .

إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (١٩) وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (٢٠)

(فتح القدير ج ٧ ص ٤٥٨ كتاب الكراهية / الفتاوى الهندية ج ٥ ص ٣٤٩ الباب الخامس عشر في الكسب / مجموع الفتاوى ج ٢ ص ٢٩٠ كتاب الحظر والاباحة / فتاوى حقانيه ج ٢ ص ٢٤٥ باب المسائل المتفرقة)

خمار (قمار) کول دشریعت دنګاه څخه څومره ګناه لري ؟

سوال ۲ : خمار یا قمار څه ته وايي ؟ او خمار کول د شریعت د نګاه څخه څومره ګناه لري ؟

جواب : فقهاء کرامو د خمار تعریف په لاندي الفاظو سره کړی دی : خمار کول په حقیقت او اصل کي داسي مقابلې ته وايي په کومه کي چي د دواړو طرفونو څخه بازي لګول کیږي چي کوم څوک ناکامه سو هغه به ګټونکي ته حسب معاهده او وعده فلانکی شی ورکوي .

خمار ته نژدې او قریب المعنی یو بل لفظ د **(مَیسِر)** دی . میسر د خمار یو خاص صورت دی د عربو دا عادت وو چي په یوه اوښ کي به څو کسان سره شریک کېدل او د تقسیم د پاره به يې قرعې راکښلې د چا په نامه چي به کومه قرعه راووتله او پر هغې قرعي چي به څومره اندازه مقدار لیکلی وو هغه مقدار به د هغه کس ته رسېدی هغه لئکلې حصه نو که لږ وای که ډېر وای .

همداشان خمار ته نژدې او قریب المفهومه او د فقهي شریفي دا اصطلاح یو بل لفظ د **(غَرَر)** دی . غرر د معاملې او کاروبار هر هغه صورت ته وايي د کومي چي نتیجه معلومه نه وي چي په آینده کي به دا معامله څنګه وي لکه لاټري ته ورته وغیره

صورتونه . د قمار او خمار معامله په شریعت کښې د قرآن کریم د ایاتونو په رڼا کي ډېره سخته ګناه او یو مذموم فعل دی او د احادیث مبارکه وو په ثبوت سره هم خمار یو حرام او ناروا ه عمل بلل سوی دی . په قرآن کریم کي د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (٩٠) سورة المآئدة

ژباړه : ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی بېشکه شراب چیښل ،او خمار کول ،دبتانو عبادت کول ، او په غشو سره فال معلومول دا یو ګنده او نجس عمل کوم چي دشیطان کار دی نو ځانونه ځیني وساتئ ښایي چي تاسي بری و مومۍ .

علماء کرامو لیکلي دي چي قمار د مال د حصول یوه ظالمانه طریقه ، او ناواجبي ذریعه ، او د مال بې ځایه او په نادرسته طریقه سره مصرفول دي . قمار یو انسان لره ځاي پر ځای د خاورو او خاشو محتاجه جوړوي او ځیني وختونه د مال او جایداد څخه هم تجاوز وکړي د انسان پر عزت او ابرو باندي هم یو قسم داغ د ذلت او شرمندګۍ ورکښېږدي . او بیا دا چي د خمار په ذریعه سره چي کوم مال وجود ته راځي هر کله چي د دې مال په حصول کي کوم خاص محنت او خواري نه ده کښل سوې نو ځکه انسان داسي مال په فضول خرڅۍ او اسراف سره مصرفوي د کوم مصرف چي یو معقول او منصفانه بنیاد نه وي.

نو ځکه شریعت اسلامي کوم چي د اوله څخه تر آخره پوري پر عدل او انصاف او فطرت باندي مبني او جوړ دی هغه د غه عمل یو مذموم او ناجائز عمل ګڼلی دی او دا خبره ان شآء الله یقیني ده چي د ژوند هر معقول نظام به د دغه فعل ممانعت قبلوي .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (٩٠) سورة المآئدة

وعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ وَقَالَ « كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ

ولما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : ولو شرط فيها من الجانبين لانه يصير قمارا

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : قوله (لأنه يصير قمارا) لأن القمار من القمر الذي يزداد تارة وينقص أخرى وسمي القمار قمارا لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه ويجوز أن يستفيد مال صاحبه وهو حرام بالنص

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۸۵ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج۵ ص ۳۰۶ / فتاوی محمودیه ج۱۶ ص ۴۳۶ / احکام القرآن للجصاص ج ۲ ص ۶۵۴ / سنن ابي داود ج ۲ ص ۵۱۹ / الموسوعة الفقهية ۳۹ ص ۴۰۴ الميسر / كتاب الفتاوى ج ۴ ص ۵۲۴ بحث القمار)

په جنګ کي د ښکنځلو حکم

سوال ۳: بعضي کسان داسي دي چي د ښکنځلو کولو عادت وي خصوصا د يو جنجال په حالت کي بيا بيخي ډېر ښکنځل کوي پوښتنه دا ده چي ښکنځل کول د شريعت د نګاه څخه څنګه عمل دی ؟

جواب : يو مسلمان ورور ته بې عزته خبري کول او ښکنځل کول يا دي ته ورته نور داسي اعمال تر سره کول چي د يو مسلمان د زړه د آزار سبب وګرځي شرعا فسق او ګناه کبيره ده . او ښکنځل کوونکی شرعا فاسق او ګناهګاره دی لهذا د يو مسلمان شان دادی چي د داسي بيهوده اعمالو څخه په کلکه اجتناب او پرهيز وکړي .

لما رواه الامام ابو عيسى محمد ابن عيسى الترمذى رحمه الله : عن ابي وائل عن عبد الله بن مسعود قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم سباب المسلم فسوق وقتاله كفر قال زبيد قلت لأبي وائل أأنت سمعته من عبد الله ؟ قال نعم قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح .

ورواه الامام محمد ابن اسماعيل البخاري رحمه الله تعالى عن الأعمش حدثنا شقيق قال قال عبد الله : قال النبي صلى الله عليه و سلم (سباب المسلم فسوق وقتاله كفر .

(صحيح البخاري ج۶ ص ۲۵۹۲ باب قول النبي صلي الله عليه و سلم (لا ترجعوا بعدي كفارا يضرب بعضكم رقاب بعض / الجامع للترمذي ج ۲ ص ۱۹ اباب ما جاء في الشتم / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۲۳۶ باب المسائل المتفرقة /قاموس الفقه ج۴ ص ۱۱۸ / الموسوعة الفقهية ج۲۴ ص ۱۴۱)

دتوبې د کښولو څخه وروسته دشک دپیدا کېدو حکم.

سوال ۴: یو کس دیو ګناه څخه توبه وکښل خو بیا وروسته دا شک ورپیدا سو چي ایا زما توبه به قبوله سوې وي که یا نو اوس پوښتنه داده چي د شک په پیدا کېدو سره توبه ماتیږي که یا؟

جواب: کله چي دیوه مسلمان څخه ګناه وسی نو دغه ګناه ګاره کس ته پکار داده چي ددې ګناه څخه توبه وکاږي خو توبه کښل د ګناه څخه څه شرطونه لري اول شرط دادی چي دزړه داخلاصه به دغه کس توبه کاږي او دا عزم به کوي چي هیڅکله به بیا دا ګناه نه کوم نو الله ﷻ ته امید سته چي د دغه توبه کښونکي کس ګناهونه به ور معاف کړي البته که پر چا دبنده ګانو حقوق باندي وي نو هغه په توبه کښلو سره نه معاف کیږي د مخه تر توبې به ټول حقوق ادا کوي بیا به صادقه توبه کاږي.

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا} أَيْ: تَوْبَةً صَادِقَةً جَازِمَةً، تَمْحُو مَا قَبْلَهَا مِنَ السَّيِّئَاتِ وَتَلُمُّ شَعَثَ التَّائِبِ وَتَجْمَعُهُ، وَتَكُفُّهُ عَمَّا كَانَ يَتَعَاطَاهُ مِنَ الدَّنَاءَاتِ.

(قال العلامة قرطبي رحمه الله) قَوْلُهُ تَعَالَى: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحاً) فِيهِ مَسْأَلَتَانِ: الْأُولَى- قَوْلُهُ تَعَالَى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ أَمْرٌ بِالتَّوْبَةِ وَهِيَ فَرْضٌ عَلَى الْأَعْيَانِ فِي كُلِّ الْأَحْوَالِ وَكُلِّ الْأَزْمَانِ. وَقَدْ تَقَدَّمَ بَيَانُهَا وَالْقَوْلُ فِيهَا فِي" النِّسَاءِ" وَغَيْرِهَا .تَوْبَةً نَصُوحاً اخْتَلَفَتْ عِبَارَةُ الْعُلَمَاءِ وَأَرْبَابِ الْقُلُوبِ فِي التَّوْبَةِ النَّصُوحِ عَلَى ثَلَاثَةٍ وَعِشْرِينَ قَوْلًا، فَقِيلَ: هِيَ الَّتِي لا عودة بعدها كمالا يَعُودُ اللَّبَنُ إِلَى الضَّرْعِ، وَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ وَابْنِ مَسْعُودٍ وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ. وَرَفَعَهُ مُعَاذٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَقَالَ قَتَادَةُ: النَّصُوحُ الصَّادِقَةُ النَّاصِحَةُ. وَقِيلَ الْخَالِصَةُ، يُقَالُ: نَصَحَ أَيْ أَخْلَصَ لَهُ الْقَوْلَ. وَقَالَ الْحَسَنُ: النَّصُوحُ أَنْ يُبْغِضَ الذَّنْبَ الَّذِي أَحَبَّهُ وَيَسْتَغْفِرَ مِنْهُ إِذَا ذَكَرَهُ. وَقِيلَ: هِيَ الَّتِي لَا يَثِقُ بِقَبُولِهَا وَيَكُونُ عَلَى وَجَلٍ مِنْهَا. وَقِيلَ: هِيَ التي لا يحتاج

(تفسیرابن کثیرج ۸ ص ۱۶۸ سورة التحریم مکتبه شامله بیروت/تفسیر قرطبي ج ۱۸ ص ۱۹۷ سورة التحریم مکتبه شامله بیروت/تفسیر خازن ج ۴ ص ۳۱۶ سورة التحریم مکتبه شامله بیروت/تفسیر روح البیان ج ۱۰ ص ۶۱ سورة التحریم مکتبه شامله بیروت /صفوة التفاسیر ج ۳ ص ۳۸۶ سورة التحریم مکتبه شامله بیروت/تفسیر مظهري ج ۹ ص ۳۴۵ سورة التحریم مکتبه شامله بیروت)

قصدا او ارادةً لمونځ قضا کول څومره ګناه لري بیا راګرځول غواړي که یا .

سوال۵ : که چیري یو کس په قصدا سره فرض لمونځ قضا کوي په شریعت کښې دا څومره ګناه ده . او بیا راګرځول غواړي که یا ؟

جواب : لمونځ د دین اسلام دعمده او اهمو بناوو څخه یو مضبوطه او اساسي بناده . تر ایمان او اسلام راوړلو وروسته د مسلمانۍ او له نښه لمونځ دی، او قصداً او ارادةً لمونځ قضا کول دا هیڅکله او په هیڅ صورت کښې دیو کامل مسلمان کار نه سي کېدای په احادیثو مبارکه وو کښې لمونځ د اسلام او کفر ترمېنځ یو سرحد او لیکه بلل سوېده . هغه دا چي د مسلمانانو شان دادی، چي هغوی لمونځونه کوي او کافران لمونځونه نه کوي . په حدیث شریف کښې دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي : چي هغه عهد او وعده چي زموږ او د منافقینو ترمېنځ ددوی د حفاظت او دنه وژلو ده هغه لمونځ دی نو چا چي لمونځ قصدا پرېښوو ی هغه د کفر یو فعل ښکاره کړی . لهذا لمونځ قصداً قضا کول د شریعت د نګاه څخه ډېر غټ جرم او کبیره ګناه ده .که چیري یو کس دلمانځه څخه په عقیده سره منکره وي نو د شریعت د نګاه څخه په اتفاق د څلورو مذاهبو هغه کافر دی . او څوک چي یې مني خو د سستۍ او تمبلۍ د وجي څخه یې نه کوي نو هغه فاسق دی . او دا خبره چي قضا غواړي که یا ؟ نو جواب دادی چي هر لمونځ که په قصدا سره قضا سي یا په سهوا سره قضا سي راګرځول یې فرض دي .

وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.وقال الملاعلی القاری رحمه الله تعالی : (وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ: " الْعَهْدُ ") : أَيْ:

وَالْمِيثَاقُ الْمُؤَكَّدُ بِالْإِيمَانِ (الَّذِي بَيْنَنَا) : أَيْ: مَعْشَرِ الْمُسْلِمِينَ (وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ) : قَالَ الْقَاضِي: الضَّمِيرُ الْغَائِبُ لِلْمُنَافِقِينَ شَبَّهَ الْمُوجِبَ لِإِبْقَائِهِمْ وَحَقْنِ دِمَائِهِمْ بِالْعَهْدِ الْمُقْتَضِي لِإِبْقَاءِ الْمُعَاهَدِ وَالْكَفِّ عَنْهُ، وَالْمَعْنَى أَنَّ الْعُمْدَةَ فِي إِجْرَاءِ أَحْكَامِ الْإِسْلَامِ عَلَيْهِمْ تَشَبُّهُهُمْ بِالْمُسْلِمِينَ فِي حُضُورِ صَلَاتِهِمْ وَلُزُومِ جَمَاعَتِهِمْ، وَانْقِيَادُهُمْ لِلْأَحْكَامِ الظَّاهِرَةِ، فَإِذَا تَرَكُوا ذَلِكَ كَانُوا هُمْ وَالْكُفَّارُ سَوَاءً. قَالَ التُّورِبِشْتِيُّ: وَيُؤَيِّدُ هَذَا الْمَعْنَى قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَمَّا اسْتُؤْذِنَ فِي قَتْلِ الْمُنَافِقِينَ: " أَلَا إِنِّي نُهِيتُ عَنْ قَتْلِ الْمُصَلِّينَ (فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ) : أَيْ: أَظْهَرَ الْكُفْرَ، وَعَمِلَ عَمَلَ أَهْلِ الْكُفْرِ، فَإِنَّ الْمُنَافِقَ نِفَاقًا اعْتِقَادِيًّا كَافِرٌ، فَلَا يُقَالُ فِي حَقِّهِ كَفَرَ، قِيلَ: يُمْكِنُ أَنْ يَكُونَ ضَمِيرُ الْغَائِبِينَ عَامًّا فِيمَنْ بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، سَوَاءٌ كَانَ مُنَافِقًا أَوْ لَا يَدُلُّ عَلَيْهِ الْحَدِيثُ الْأَخِيرُ مِنْ هَذَا الْبَابِ حَيْثُ قَالَ لِأَبِي الدَّرْدَاءِ: «لَا تَتْرُكْ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا، فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ» .

وفى الهداية : ومن فاتته صلاة قضاها إذا ذكرها وقدمها على فرض الوقت .

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٢ ص ٢٥٧ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه / مشكاة المصابيح ج ١ ص ٥٨ كتاب الصلاة مكتبه علوم دينيه / سنن الترمذی ج ٥ ص ١٣ باب ما جاء في ترک الصلاة مکتبه شامله / سنن النسائي ج ١ ص ٢٣١ باب ماجاء في حكم التارك مکتبه شامله / الهداية ج ١ ص ١٣٧ باب قضاء الفوائت مكتبه حقانيه / ردالمحتار ج ١ ص ٢٥٩ مطلب فيما يصير الكافر به مسلما من الافعال سعيد چاپ / شرح فقه الاكبر للقاري ص ٧١ ؛ ٧٢ / فتاوى فريديه ج ٢ ص ١٣٩ كتاب الصلوة)

ناحقه قسم اخیستل څومره ګناه لري .

سوال ۶ : که چیري یو شخص دبل کس سره ټوکي او مسخرې کوي خو کله چي په خپل خبره کښې بند راسي نو بیا دخپل ځان دخلاصون لپاره قرآن کریم په لاس کښې واخلي او بیا قسم اخلي او س پوښتنه داده چي یو کس داسي ناحقه قسمونه اخلي نو دده لپاره دشریعت څه حکم دی؟

جواب : په دروا غو قسم اخیستل غټه ګناه ده او قرآن کریم په لاس کښې نیول او بیا ناحقه قسم اخیستل دا خپله دخطرې څخه ډک عمل دی دعذاب اخرت څخه علاوه دداسي ناحقه قسمو نو وبال په دنیا کښې هم راځي او کله چي دداسي کس چي دی په

دروغو قسمونه اخلي هغه دروغ يې ښکاره سي نو دادده لپاره غټه رسوايي او ذلت دى او دهغو خلګو په نظر کښي هم دى ذليل او حقير راځي دکومو خلګو ديقين راوستلو لپاره چي ده قرآن کريم په لاس کښي اخيستى وي او په دروغو سره يې قسم اخيستى دى، نو دداسي کس لپاره سخت ندامت (پښېمانتيا) توبه او استغفار ضروري دى ځکه چي هغه صادق کتاب چي پر صادق مصدوق ﷺ نازل سويدى هغه دى په لاس کښي اخلي او دخپلو دروغو په رشتيا سره دثابتولو کوشش کوي نو دداسي کس لپاره پکار داده چي پرخپلو کړونو سخت پښېمانه سي او آينده دداسي خطرناکه قسمونو څخه په کلکه اجتناب او پرهېز وکړي.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ مَصْبُورَةٍ كَاذِبًا فَلْيَتَبَوَّأْ بِوَجْهِهِ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ(سنن ابی داود)

أَنَّ لَهَا ثَلَاثَةَ أَرْكَانٍ الْإِقْلَاعُ وَالنَّدَمُ عَلَى فِعْلِ تِلْكَ الْمَعْصِيَةِ وَالْعَزْمُ عَلَى أن لايعود إِلَيْهَا أَبَدًا فَإِنْ كَانَتِ الْمَعْصِيَةُ لِحَقِّ آدَمِيٍّ فَلَهَا رُكْنٌ رَابِعٌ وَهُوَ التَّحَلُّلُ مِنْ صَاحِبِ ذَلِكَ الْحَقِّ وَأَصْلُهَا النَّدَمُ وَهُوَ رُكْنُهَا الْأَعْظَمُ وَاتَّفَقُوا عَلَى أَنَّ التَّوْبَةَ مِنْ جَمِيعِ الْمَعَاصِي واجبة وأنها واجبة على الفور لايجوز تأخيرها سواء كانت المعصية صغيرة أوكبيرة

(سنن ابي داود ج ۲ ص ۱۰۶ ؛ ۱۰۷ کتاب الايمان مکتبه امداديه ملتان/ اعلاءالسنن ج ۱۱ ص ۳۴۲ مکتبه ادارة القرآن / شرح النووي علي صحيح المسلم ج ۲ ص ۳۵۴ کتاب التوبة قديمي چاپ/ تفسير روح المعاني ج ۲۸ ص ۱۵۹ سورة التحريم بيروت / کتاب الاثار ص ۱۶۱ باب من حلف وهو مظلوم سعيد چاپ / تبيين الحقائق ج ۳ ص ۴۲۱ کتاب الايمان بيروت/ البحر الرائق ج ۴ ص ۴۶۶ کتاب الايمان رشيديه/ مجمع الانهر ج ۲ ص ۲۵۹ کتاب الايمان رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۴ ص ۳۳ باب الايمان)

دتلوېزون کتل داعمالو ضائع کونکي دى؟

سوال ۷: موږ او رېدلي دي چي څوک تلوېزون ګوري نو دهغه ټوله نېک اعمال داسي ضائع کېږي لکه يو څوک چي ددين څخه واوړي يعني مرتد سي او س پوښتنه داده چي دتلوېزون په کتلو سره دانسان ټوله نېک اعمال ضائع کېږي که يا؟

جواب: تلوېزون کتل په شريعت کښي ناروا عمل دی، او د تلوېزون کتل ځانته ګناه ده البته د تلوېزون په کتلو سره نه انسان کافر کيږي او نه هم د ده ټوله اعمال ضائع کيږي ځکه د انسان نېک اعمال چي ضائع کيږي هغه په ارتداد سره دی، يعني که يو څوک د دين څخه واوړي او مرتد سي نو د هغه ټوله نېک اعمال ضائع سوه نو د تلوېزون کتل ځانته ګناه ده خو دا خبره یاد ساتئ چي د ډېرو ګناهونو په وجه د انسان زړه داسي تور سي چي بيا د حق او باطل فرق نسي کولای

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ سورةالقمان ايات ۶ قال العلامة الآلوسي (ولَهْوَ الْحَدِيثِ) على ما روي عن الحسن كل ما شغلك عن عبادة الله تعالى وذكره من السمر والأضاحيك والخرافات والغناء ونحوها،

قال العلامة حصكفي رحمه الله

وَفِي السِّرَاجِ وَدَلَّتْ الْمَسْأَلَةُ أَنَّ الْمَلَاهِيَ كُلَّهَا حَرَامٌ وَيُدْخَلُ عَلَيْهِمْ بِلَا إذْنِهِمْ لِإِنْكَارِ الْمُنْكَرِ قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍصَوْتُ اللَّهْوِ وَالْغِنَاءِ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ النَّبَاتَ. قُلْت: وَفِي الْبَزَّازِيَّةِ اسْتِمَاعُ صَوْتِ الْمَلَاهِي كَضَرْبِ قَصَبٍ وَنَحْوِهِ حَرَامٌ لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «اسْتِمَاعُ الْمَلَاهِي مَعْصِيَةٌ وَالْجُلُوسُ عَلَيْهَا فِسْقٌ وَالتَّلَذُّذُ بِهَا كُفْرٌ» أَيْ بِالنِّعْمَةِ فَصَرْفُ الْجَوَارِحِ إلَى غَيْرِ مَا خُلِقَ لِأَجْلِهِ كُفْرٌ بِالنِّعْمَةِ لَا شُكْرٌ فَالْوَاجِبُ كُلُّ الْوَاجِبِ أَنْ يَجْتَنِبَ كَيْ لَا يَسْمَعَ لِمَا رُوِيَ «أَنَّهُ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – أَدْخَلَ أُصْبُعَهُ فِي أُذُنِهِ عِنْدَ سَمَاعِهِ»(الدرالمختار)

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَذَكَرَ شَيْخُ الْإِسْلَامِ أَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مَكْرُوهٌ عِنْدَ عُلَمَائِنَا. وَاحْتَجَّ بِقَوْلِهِ تَعَالَى – {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ}جَاءَ فِي التَّفْسِيرِ: أَنَّ الْمُرَادَ الْغِنَاءُ... سَمَاعَ غِنَاءٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِإِجْمَاعِ الْعُلَمَاءِ... وَالْحَاصِلُ: أَنَّهُ لَا رُخْصَةَ فِي السَّمَاعِ فِي زَمَانِنَا

(روح المعاني ج ۲۱ ص ۶۷ مکتبه داراحياءالتراث العربي بيروت/تفسير ابن کثيرج ۳ ص ۵۸۳ مکتبه دارالفيحاء دمشق/ردالمحتارج ۶ ص ۳۴۹ کتاب الحظروالاباحة سعيدچاپ/الهداية ج ۳

ص ۱۶۲ کتاب الشهادة مکتبه شرکت علمیه ملتان/فتح القدیر ج ۷ ص ۴۱۰ کتاب الشهادة مصر/الفتاوی العالمگیریة ج ۵ ص ۳۵۴ کتاب الکراهیة رشیدیه/البحر الرائق ج ۸ ص ۳۴۶ کتاب الکراهیة رشیدیه/مشکوة المصابیح ج ۲ ۴۱۱ کتاب الآداب قدمي چاپ/مرقات المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ج ۸ ص ۵۵۷؛۵۵۸ کتاب الآداب رشیدیه /محمودیه ج ۱۹ ص ۵۰۵ باب الصور والملاهي)

کله چي يو کس دخپل ژوند څخه بيزاره او تنګ سي نو بيا ځان په زهر خوړلو سره مړ کړي .

سوال ۸: که چيري يو کس مريض يا ناجوړی وي او يا کورني مشکلات ولري او آخر دی ددې مشکلاتو څخه راتنګ سي زهر وچيښي يا ځان په دار کړي او ځان مړ کړي ايا ددې کار اجازه شرعا سته که يا ؟

جواب : داسي شخص چي دخپل ژوند څخه دمريضی يا تنګدستی په خاطر بيزاره او په تنګ سي او بيا راولاړ سي زهر وچيښي يا ځان په دار کړي دا کار کبيره ګناه ده . شرعاً د دې اجازه نسته البته دا سړی مسلمان دی دجنازې لمونځ باندي کول فرض دی .

قال فی شرح التنویر : من قتل نفسه ولو عمدا یغسل ویصلی علیه وبه یفتی وان کان اعظم وزرا من قاتل غیره .

(ردالمحتار ج ۱ ص ۸۵۱ / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۰۶ / احسن المسائل ص ۷۷ مکتبه فاروقیه)

دميږيانو علاج يا دهغوی وژل .

سوال ۹ : که چيري يو څوک دميږيانو څخه په تنګ وي نو علاج يي څه دی ؟ او ايا سوځل يا وژل يي رواه دي ؟

جواب : علماء کرامو دميږيانو څخه دخلاصون دپاره دقرآن کريم دسورة النمل اتلسم شماره آيت پريو سپين کاغذ باندي ليکل او بيا دهغوی پر غار يا بنار باندي ايښوول مجرب عمل ليکلی او بيان کړی دی هغه آيت دا دی : حَتَّى إِذَا أَتَوْا عَلَى وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ **[آيت نمبر ۱۸ سورة النمل پاره نمبر ۱۹ رکوع نمبر ۲]**

ليکن د حيواناتو يعني روح لرونکو شيانو په اور سره سوځل اويا ګرمي اوبه باندي اچول دا مکروه عمل دى ځکه چي په اور سره عذاب ورکول د خالق حقيقي خاصه ده بلکي د داسي شيانو د شر څخه د خلاصون د پاره بايد نوري طريقې وسنجول سي .

لما قال الملاعلى القارى رحمه الله تعالى فى المرقاة شرح المشكوة : واما فى شرعنا فلايجوز احراق الحيوان بالنار الا بالاقتصاص وسوآء فى منع الاحراق بالنار القمل والعقرب وغيره للحديث المشهور ......وكذا مثله فى الفتاوى الهندية .

(مرقات المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٨ ص ١٣٩ باب مايحل اكله ومايحرم / الفتاوى الهندية ج ٥ ص ٣٦١ / فتاوى حقانيه ج ٢ ص ٢٤٠)

دخندا قهقهې دوجي څخه په سترګو کښي اوښکي راتلل .

سوال ١٠ : د خندا قهقهې د وجي څخه چي په سترګو کښي اوښکي راسي دا څنګه عمل دى ګناه لري که يا ؟

جواب : حضرت مولانا عبدالحى لکنوي رحمة الله عليه په خپلو [**رسائلو ٣ ټوک ص نمبر ٤٥٣**] کښي داسي ليکي چي : قهقهه يعني په زورآواز سره خندل دايو بد او قبيح او شنيع وناوړه عمل دى .

او مفتي اعظم افغانستان حضرت مولانا عبدالعلي ديوبندي رحمة الله عليه دهدايې پر حاشيه باندي د قهقهې خندا ډير نقصانونه ليکلي دي **:اول :** څوک چي خنداقهقه کوي علماء او عقلاء به دى ښه نه بولي ، **دوهم :** او ناپوهان خلک به هم جرأت پر پيدا کړي هغه لرلى رعب به يي ختم سي ، **دريم :** او که جاهل وو جهالت به يي زيات سي او که عالم وو علم به يي کم سي ، **څلورم :** او په دې کښي هيرول د ګناهونو هم دي ، **پنځم :** او په دې کښي جرأت پر ګناهونو باندي هم دى ، **شپږم :** او په دې کښي هيرول د مرګ هم دي ،**اووم :** او دهغه سرې د ګناه بوج هم پرتادى چي تا خنداء قهقهه پر کړې ده . **اتم :** او څوک چي په دنيا کښي ډير خاندي هغه به په آخرت کښي ډير ژاړي .

نو د دې ارشاداتو څخه معلومه سول چي د خنداقهقهې د وجي په سترګو کښي اوښکي راويستل يا راتلل دا ښه عمل نه دى بايد انسان داسي مرحلې ته خپل ځان ونه رسوي چي هغه سبب د دغه اوښکو د راوتلو جوړ سي .

(رسائل الکنهوي ج ۳ ص ۴۵۳ / حاشیة مولانا عبدالعلي الدیوبندي رحمه الله تعالي علي الهدایة ج ۱ ص ۳۵ مکتبه حقانیه/ تنبیه المغترین)

په یوچا باندي تعویذ یا کوډي کول غټه ګناه ده .

سوال ۱۱: که چیري یو کس را ولاړ سي په بل کس باندي جادو او کوډي وکړي او هغه وداسي اعمالو ته وهڅوي چي هغه په شریعت کښې نه دي وراه مثلا دمور او پلار سره بد سلوکي ، په کور کښې جنجال وغیره ایاآ شریعت دداسي عمل غندنه او منع کړې ده که یا ؟

جواب: جادو او کوډي په چا باندي کول په شریعت کښې سخت جرم او ناروا عمل بلل سوی دی دداسي ناروا اعمالو کوونکي او ورته هڅوونکو ته باید اهل اقتدار سخته سزا ورکړي ځکه چي دوی دواړه یو هغه لیکونکی ددې جادو او بل هغه کس چي دغه جادو او کوډي غوښتونکی وي دواړه سخت ګناهګاره او مجرمین دي ځکه چي شریعت مقدسه دځان سره ودنیا ته دامن او همدردی او مواسات پیغام راوړی دی او ښکاره خبره ده چي په کوډو او جادو کولو کښې یو مسلمان ته ناحقه او بې ځایه تاوان او نقصان رسول دي نو دا یوه کبیره او غټه ګناه ده ...... افسوس چي زموږ ځیني ناخبره عوام خصوصاد ښځو طبقه په دغه ناوړه اعمالو باندي مبتلا دي او کله کله خو لادې ته هم نوبت ورسیږي چي دغیر مسلم کسانو څخه دوی کوډي او جادو وغیره ترلاسه کوي روپی مصرفوي دپاره ددې چي خپل شخصي دښمنی ته ترقي ورکړي او دیو مسلمان وررو په ضرر یې استعمال کړي خو داسي نه ده پکار ... الله جل جلاله دي موږ ټول ته دهدایت لاره او پرهغه باندي داستقامت توفیق رانصیب کړي . آمین

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار علی الدرالمختار :

قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: السَّاحِرُ إذَا أَقَرَّ بِسِحْرِهِ أَوْ ثَبَتَ بِالْبَيِّنَةِ يُقْتَلُ وَلَا يُسْتَتَابُ مِنْهُ، . وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اجْتَنِبُوا المُوبِقَاتِ: الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالسِّحْرُ " وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ

الْمُوبِقَاتِ» قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَا هُنَّ؟ قَالَ: «الشِّرْكُ بِاللهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ وَأَكْلُ الرِّبَا، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصِنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ»

(صحیح البخاری ج ۷ ص ۱۳۷ باب الشرک والسحر من الموبقات . بیروت / صحیح مسلم ج ۱ ص ۹۲ باب بیان الکبائر واکبرها .بیروت/ فتاوی محمودیه ج ۲۰ ص ۵۰ باب مایتعلق بالسحر والعوذة / ردالمحتار ج ۴ ص ۲۴۰ بیروت مطلب توبة الیأس مقبولة دون ایمان الیأس)

په درواغو قسم اخیستل ګناه ده .

سوال ۱۲ : ځیني کسان نن سبا داسي دي چي قسم هیڅ ګناه نه ورته معلومیږي او په درواغو باندي قسمونه خوري پوښتنه داده چي په درواغو باندي قسم خوړل څومره ګناه ده ؟

جواب : درواغ ویل اویا په درواغو سره قسم اخیستل شرعادواړي کبیره او غټ ګناهونه دي . شرعا باید پرهیز او اجتناب ځیني وسي بلکي پرهیز ځیني کول فرض دي .

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الكَبَائِرِ؟» ثَلاَثًا، قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ – وَجَلَسَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَقَالَ – أَلاَ وَقَوْلُ الزُّورِ» ، قَالَ: فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا: لَيْتَهُ سَكَتَ

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الكَبَائِرُ: الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَاليَمِينُ الغَمُوسُ "

(صحیح البخاري ج ۲ ص ۱۷۳ بیروت چاپ باب ماقیل في شهادة الزور / ج ۸ ص ۱۳۷ باب الیمین الغموس / کتاب الکبائر ص ۹۹)

دغیبت کفاره شرعا څه شي ده ؟

سوال ۱۳ : که چیري یو کس دیوچا غیبت کړی وي او اوس باندي پښېمانه وي نو دغه کړي غیبت کفاره او دهغه څخه خپلي غاړي خلاصول په شریعت کښې کوم حل لري که یا ؟

جواب : که چيري تا ديو کس غيبت کړی وي نو دغه غيبت ددوه حاله څخه نه دی خالي . يا به هغه کس موجود وي يا به نه وي موجود که چيري هغه کس نه وي موجود مثلا يا مړوي يا غائب وي نو دهغه دغيبت په باره کښې دنبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی : چي دغيبت کفاره داده چي هغه سړي ته دعا وسي چي يا الله هغه کس ته چي ما يې غيبت کړی وي بخښنه وکړي او ما ته هم بخښنه وکړې . او که چيري هغه کس موجود وو او په دې خبر هم وو چي تادده غيبت کړی دی نو بيا به هغه خبروې چي ما ستا غيبت کړی ده او معافي ځيني اخيستل ضروري ده او چي معافي يې درته وکړه نوري دي غاړي خلاصي دي . نوټ : دا خبره دذکر کولو قابله ده چي نن سبا عوام او خواص په دغه دغيبت په مريضی باندي تقريبا اکثره مبتلا دي حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه فرمايې که غواړی چي دغيبت څخه ځان خلاص کړی نو مه دچا ښه وايا ست او مه يې بد وايا ست ولې که يې ښه ووايا ست نو بد به يې خامخا هم راځي په کښې ځکه چي انسان دعيبه څخه خالي نه دی . والله اعلم .

وَعَنْ أَنَسٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «إِنَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغِيبَةِ أَنْ تَسْتَغْفِرَ لِمَنِ اغْتَبْتَهُ، تَقُولُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهُ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ ". وَقَالَ: فِي هَذَا الْإِسْنَادِ ضَعْفٌ..

(وَعَنْ أَنَسٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغِيبَةِ) أَيْ: بَعْدَ تَحَقُّقِ التَّوْبَةِ (أَنْ تَسْتَغْفِرَ) أَيْ: أَنْتَ أَيُّهَا الْمُخَاطَبُ خِطَابًا عَامًّا (لِمَنِ اغْتَبْتَهُ، تَقُولُ) : بَدَلٌ أَوْ بَيَانٌ أَوْ حَالٌ (اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَنَا) أَيْ: إِذَا كَانُوا جَمَاعَةً، أَوْ لَنَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ عُمُومًا (وَلَهُ) أَيْ: لِمَنِ اغْتَبْتَهُ خُصُوصًا، وَالظَّاهِرُ أَنَّ هَذَا إِذَا لَمْ تَصِلِ الْغَيْبَةُ إِلَيْهِ، وَأَمَّا إِذَا وَصَلَتْ إِلَيْهِ فَلَا بُدَّ مِنَ الِاسْتِحْلَالِ بِأَنْ يُخْبِرَ صَاحِبَهَا بِمَا قَالَ فِيهِ وَيَتَحَلَّلَهَا مِنْهُ، فَإِنْ تَعَذَّرَ ذَلِكَ فَلْيَعْزِمْ عَلَى أَنَّهُ مَتَى وَجَدَهُ تَحَلَّلَ مِنْهُ، فَإِذَا حَلَّلَهُ سَقَطَ عَنْهُ مَا وَجَبَ عَلَيْهِ لَهُ مِنَ الْحَقِّ، فَإِنْ عَجَزَ عَنْ ذَلِكَ كُلِّهِ بِأَنْ كَانَ صَاحِبُ الْغِيبَةِ مَيِّتًا أَوْ غَائِبًا، فَلْيَسْتَغْفِرِ

اللَّهَ تَعَالَى، وَالْمَرْجُوُّ مِنْ فَضْلِهِ وَكَرَمِهِ أَنْ يُرْضِيَ خَصْمَهُ مِنْ إِحْسَانِهِ، فَإِنَّهُ جَوَّادٌ كَرِيمٌ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ.

وَفِي رَوْضَةِ الْعُلَمَاءِ: سَأَلْتُ مُحَمَّدًا فَقُلْتُ لَهُ: إِذَا تَابَ صَاحِبُ الْغِيبَةِ قَبْلَ وُصُولِهَا إِلَى الْمُغْتَابِ عَنْهُ هَلْ تَنْفَعُهُ تَوْبَتُهُ؟ قَالَ: نَعَمْ تَنْفَعُهُ تَوْبَتُهُ، فَإِنَّهُ تَابَ قَبْلَ أَنْ يَصِيرَ الذَّنْبُ ذَنْبًا، يَعْنِي ذَنْبًا يَتَعَلَّقُ بِهِ حَقُّ الْعَبْدِ. قَالَ: لِأَنَّهَا تَصِيرُ ذَنْبًا إِذَا بَلَغَتْ إِلَيْهِ. قُلْتُ: فَإِنْ بَلَغَتْ إِلَيْهِ بَعْدَ تَوْبَتِهِ؟ قَالَ: لَا تَبْطُلُ تَوْبَتُهُ، بَلْ يَغْفِرُ اللَّهُ لَهُمَا جَمِيعًا الْمُغْتَابِ بِالتَّوْبَةِ وَالْمُغْتَابِ عَنْهُ بِمَا لَحِقَهُ مِنَ الْمَشَقَّةِ. قُلْتُ: أَوْ بِمَا حَصَلَ لَهُ مِنَ الْمَغْفِرَةِ؟ قَالَ: لِأَنَّهُ كَرِيمٌ وَلَا يَحْمِلُ كَرَمُهُ رَدَّ تَوْبَتِهِ بَعْدَ قَبُولِهَا، بَلْ يَعْفُو عَنْهُمَا جَمِيعًا. قُلْتُ: فِيهِ أَنَّهُ يُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ قَبْلَ تَوْبَتِهِ مَوْقُوفًا عَلَى عَدَمِ تَحَقُّقِ وُصُولِهَا إِلَيْهِ وَحُصُولِ مَشَقَّتِهِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

(مرقاة المفاتيح ج ۹ ص ۹۹ باب حفظ اللسان والغيبة والشتم / كتاب الاداب)

ږيره خريل يا کوچنۍ کول شرعاً کبيره ګناه ده .

سوال ۱۴ : ايا ږيره خريل يا لنډول په دين اسلام کښې د ګناه عمل بلل سوی دی که يا ؟ او دسنت کېدلو څخه يې منکر شرعاً څه حکم لري ؟

جواب : د ږيري پريښوول د اسلام په شعائرو کښې داخل دي او د احاديثو څخه دا ثابته ده چي ږيره د رسول الله صلی الله عليه وسلم او دصحابه کرامو رضوان الله تعالی عليهم له متواترو (يعني پرله پسې راروان او يقيني ثابتو) سنتونو څخه ده . دفقهاوو په نزد د ږيري اندازه تاکل سوې ده چي هغې اندازې ته په کټلو سره د ږيري خريل او لنډول حرام او ناجائز بلکي کبيره ګناه ده . که چيري يو څوک دا ګناه ونه بولي او په ديده او دانسته توګه سره ددې جرأت وکړي او د ږيري پرېښوول د ځانه څخه يوه جوړه سوې طريقه وبولي نو داسې عقيده د کفر موجب ده . او خريونکی او لنډوونکی يې د شريعت درويه څخه فاسق او د کبيره ګناه مرتکب بلل سوی دی .

لما قال العلامة ملا على القاري رحمه الله تعالى : ومنها ان استحلال المعصية صغيرة كانت او كبيرة كفر اذا ثبت كونها معصية بدلالة قطعية وكذالاستهانة بها كفر بان يعدها هيئة سهلة ويرتكبها من غير مبالات ويجريها مجرى المباحات فى ارتكابها .)

وقال العلامة ابن عابدين فى ردالمحتار : لَكِنْ فِي شَرْحِ الْعَقَائِدِ النَّسَفِيَّةِ: اسْتِحْلَالُ الْمَعْصِيَةِ كُفْرٌ إذَا ثَبَتَ كَوْنُهَا مَعْصِيَةً بِدَلِيلٍ قَطْعِيٍّ، ...

(ردالمحتار علي صدر الدرالمختار ج ۲ ص ۲۹۲ مطلب استحلال المعصية القطعية كفر / شرح الفقه الاكبر ص ۲۲۵ مسئلة في استحلال المعصية / شرح العقيدة الطحاوية ص ۳۶۳ لانكفر احد من اهل القبلة)

دقبلې پر طرف پښې غځول او دهغه حکم

سوال۱۵ : دا خبره صحیح ده که یو چا پښې د قبلې طرف ته وغزولې نو د څلو ښت ورځې لمونځونه یې ضایع او بیکاره سول ؟.

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چي قصدًا او ارادة د کعبې شریفي توهین او بې عزتي کفر دی . بېله قصده او ارادې هم باید داسي فعل انسان ونه کړي چي د ادب څخه خلاف وي، د کعبې شریفي طرف ته پښې غزول یو قسم بې ادبي ده شرعًا البته لمونځونه یې نه ضایع کیږي دا خبره غلطه ده.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : كما كره (مد رجليه في نوم أو غيره إليها) أي عمدا لأنه إساءة أدب قاله منلا ناكير

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۴۸۵ مكتبه رشيديه / فتاو ى اللكنوي ص ۴۸۵ / احسن المسائل ص ۲۴۶ / امدادالمفتين ج ۲ ص ۸۵۸ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۳ ص ۳۴۵)

خُمار کول دشریعت له نګاه څخه کبیره ګناه ده

سوال۱۶ : ما یو حدیث په دغه الفاظو سره اوریدلی دی دډیري زمانې څخه چي رسول الله صل الله علیه وسلم فرمایلي دي چاچي خُمار وکړی ګویا زما په وینو یې لاسونه ولړل العیاذ بالله او زه دا حدیث ډیرو خلکو ته بیانوم لیکن دغه حدیث او الفاظ ددغه حدیث او حواله په لاس نه ده راغلې آیا دغه حدیث صحیح دی که غلط ؟

جواب : حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله تعالی ددغه حدیث په باره کي وایي چي دا حدیث نه مالیدلی دی او نه مي هم اورېدلی دی البته دغه حدیث ته ورته سخته سزا ګاني په نورو احادیثو کي د څُمار پر برابر راغلي دي مثلاً :

(۱)عن بریدة رضي الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم قال من لعب بالنرد شیر فکانما صبغ یده فی لحم خنزیر ودمه.

ژباړه : چاچي دنرد شیر بازي وکړه نو ده دخنزیر په غوښو او وینو لاس ولړی. (۲)په بل حدیث شریف کي دي چاچي د څُمار بازي وکړه او بیا ولاړ سو لمانځه ته نو دهغه مثال داسي دی لکه یو کس چي په نوونو او دخنزیر په وینو اودس وکړي او بیا لمونځ کوي. مسند احمد ابن کثیر .

عن علی رضي الله عنه انه قال الشطرنج هو مسیر الاعاجم ژباړه : شطرنج دعجمیانو خمار دی . (لایلعب بالشطرنج الا خاطی)ژباړه : په شطرنج سره به نافرمانه او خطاکاره خلک بازي کوي .

(احکام القرآن للجصاص ج ۲ ص ۶۵۴ / سنن ابي داود ج ۲ ص ۵۱۹ / الدر المختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۳۵۸ / بدائع الصنائع ج۵ ص ۳۰۶ / البحر الرائق ج۸ ص ۳۶۹ / الفتاوی الهندیه ج۵ ص ۳۴۹ / فتاوی محمودیه ج ۱۶ ص ۴۳۶ باب القمار)

خالص توبه څه ته وایي؟

سوال ۱۷ : په تفسیر شریف کښي مو ولیدل د یو ایت ترجمه یي داسي کړې ده چي تاسي خالص توبې وباسئ نو الله به پر تاسي رحم وکړي خالص توبه وایي څه ته؟

جواب: په قرآن کریم کښي دغي توبې ته (تَوۡبَةً نَّصُوحًا) لفظ راغلی دی یعني د زړه څخه خالصه او رښتیا توبه یعني د زړه څخه دغه پخه او ټینګه اراده کول چي آینده به دغه ګناه نه کوم حضرت عمر فاروق رضي الله عنه او حضرت معاذ رضي الله عنه فرمایلي دي چي خالص توبه دې ته وایي چي انسان دغه عزم وکړي چي دا ګناه بیا کول داسي محال دي لکه شیدې چي بیا واپس په تیو کښي تلل محال دي .

په مجالس الابرار کتاب کښي لیکلي دي چي د توبي څلور شرطونه دي که یو شرط په دي څلورو کښي نه ؤ و نو توبه خالصه نه ده **اول :** د تیري زمانې پر ګناهونو باندي د زړه

څخه پښيمانه کېدل د پښيمانۍ مطلب دادی چي په زړه کښې يو قسم غم ،درد او بې چيني وي کاش داسي نه وای سوي **دوهم** في الفور دغه ګناه پرېښوول **دريم :** پوخ قصد کول چي آينده به دغه ګناه نه کوم **څلورم** دغه ټول له کارونه او توبه به د الله جل جلاله د خوف او ويري څخه وي نه دريا او ښکاره کولو دپاره . پاته سوه دا چي په زړه کښې د ګناه عزم وي او په خوله توبه توبه وايي دا توبه نه ده دا د الله جل جلاله د احکامو يو قسم خلاف ورزي ده .

قال الله تعالى فى القرآن الحكيم : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ نُورُهُمْ يَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (٨) سورة التحريم .

وقال العلامة أبو السعود العمادي محمد بن محمد بن مصطفى (المتوفى: ٩٨٢هـ) فى تفسير أبي السعود: إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم وهو أنْ ينصحُوا بالتوبةِ أنفسَهُم فيأتُوا بها على طريقتِهَا وذلكَ أن يتوبُوا عن القبائحِ لقبحها نادمينَ عليها مغتمينَ أشدَّ الاغتمامِ لارتكابِهَا عازمينَ على أنَّهم لا يعودونَ في قبيحٍ من القبائحِ موطِّنينَ أنفسَهُم على ذلكَ بحيثُ لا يَلويهم عنه صارفٌ أصلاً

(تفسير ابي السعود ج٨ ص ٢٦٨ سورة التحريم مكتبه شامله / مجالس الابرار مطلب ۶۶ ص ٣٨٣ //فتاوى رحيميه جلد ٣ ص ١١ / تفسير ابن كثير ج٨ ص سورة التحريم ١۶۶ مكتبه شامله)

غيبت اورېدل ګناه ده او دغيبت اورېدونکي په ګناه کښې شريک دی .

سوال ١٨ : که چيري يو څوک غيبت کوي هغه بل کس غوږ ورته نيولی وي دغه اورېدونکی کس هم په ګناه کښې شريک دی که يا ؟ .

جواب : څنګه چي غیبت کول په شریعت کښې غټه ګناه ده همداشان اوریدل یې هم غټه ګناه ده لهذا څنګه چي کوونکی دغیبت ګناهګاره دی همداشان اوریدونکی دغیبت دشریعت دنګاه څخه ګناهګاره دی .

قال الله تعالی: {وإذا سمعوا اللغو أعرضوا عنه} .(القصص :۵۵) وقال تعالی الله : {والذين هم عن اللغو معرضون} (المومنون : ۳)

وقال الله تعالی: {إن السمع والبصر والفؤاد كل أولئك كان عنه مسؤولا} .(الاسراء : ۳۶) وقال الله تعالی: {وإذا رأيت الذين يخوضون في آياتنا فأعرض عنهم حتى يخوضوا في حديث غيره وإما ينسينك الشيطان فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين}(الانعام : ۶۸)

وعن كعب بن مالك رضي الله عنه في حديثه الطويل في قصة توبته وقد سبق في باب التوبة، قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم وهو جالس في القوم بتبوك: ما فعل كعب بن مالك؟ فقال رجل من بني سلمة: يا رسول الله حبسه برداه، والنظر في عطفيه فقال له معاذ بن جبل رضي الله عنه: بئس ما قلت، والله يا رسول الله ما علمنا عليه إلا خيرًا، فسكت رسول الله صلى الله عليه وسلم متفق عليه عطفاه جانباه، وهو إشارة إلى إعجابه بنفسه.

(رياض الصالحين ص ۵۰۵ باب تحريم سماع الغيبة / صحيح البخاری ج۶ ص ۳ باب حديث كعب ابن مالک / صحيح مسلم ج ۴ ص ۲۱۲۰ مکتبه بیروت/ شرح رياض الصالحين ج۶ ص ۱۳۱ مکتبه شامله باب تحريم سماع الغيبة/ دليل الفالحين ج۸ ص ۳۵۶ باب تحريم سماع الغيبة)

قصدا دیو چا سره بغض او عناد کول رواه دی که یا ؟

سوال ۱۹ : قصداً او اردةً دیو مسلمان ورور سره بغض او عناد کول رواه دی که یا ؟

جواب : بغض او حسد دروحاني امراضو څخه ډیر سخت او بیکاره مرضونه دي بې له کوم شرعي باعث او سبب څخه دیو مسلمان ورور سره بغض او حسد کول کبیره ګناه ده .

او په حدیث شریف کښې دبغض او حسد څخه په سختۍ منع راغلې ده . دحضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

دبد ګمانۍ څخه ځان وساتئ ځکه چې بد ګماني دخبرو تر ټولو بدترین درواغ دي او بېله ضرورته د نورو خلګو دحالاتو په معلومولو پسې مه اخته کېږئ دبل چا جاسوسي مه کوئ دبل مسلمان ورور سودا مه ورخرابوئ او یو دبل سره حسد مه کوئ او یو دبل سره بغض مه کوئ او یو دبل غیبت مه کوئ او ټول دیوه خدای جل جلاله بندګان او یو دبل وړونه جوړ سئ . (الحدیث)

او د بغض او حسد نتیجه آخر کار دغه ته رسیږي چې دکوم مسلمان ورور سره ستا بغض او حسد وي دهغه په ناکامۍ او خرابۍ باندي ته خوشحاله کېږې او حال دا چې دیو مسلمان ورور په ناکامۍ او خرابۍ باندي خوشحاله کېدل خپله خپل په ذات کښې ګناه ده . خلاصه دا چې دیو مسلمان ورور سره بې له کوم شرعي باعث او نقص څخه قصدا او ارادة بغض او حسد کول ګناه ده چې پرهېز ورڅخه کول واجب الاجتناب دی . والله اعلم .

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا» . وَفِي رِوَايَةٍ: «وَلَا تنافسوا» . مُتَّفق عَلَيْهِ

وقال الملاعلی القاري رحمه الله تعالی فی المرقات شرح المشکاة : (وَلَا تَحَاسَدُوا) أَيْ: لَا يَتَمَنَّى بَعْضُكُمْ زَوَالَ نِعْمَةِ بَعْضٍ سَوَاءٌ أَرَادَهَا لِنَفْسِهِ أَوْ لَا. قَالَ تَعَالَى: {وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ} [النساء: ٣٢] إِلَى أَنْ قَالَ: " {وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ} [النساء: ٣٢] " أَيْ مِثْلَ تِلْكَ النِّعْمَةِ أَوْ أَمْثَلَ مِنْهَا، وَهَذَا الْحَسَدُ الْمَحْمُودُ الْمُسَمَّى بِالْغِبْطَةِ، كَمَا تَقَدَّمَ فِي حَدِيثِ " «لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ» " الْحَدِيثَ. (وَلَا تَبَاغَضُوا) أَيْ: لَا تَخْتَلِفُوا فِي الْأَهْوَاءِ وَالْمَذَاهِبِ ; لِأَنَّ الْبِدْعَةَ فِي الدِّينِ وَالضَّلَالَ عَنِ الطَّرِيقِ الْمُسْتَقِيمِ يُوجِبُ الْبُغْضَ كَذَا قِيلَ، وَالْأَظْهَرُ أَنَّ النَّهْيَ عَنِ التَّبَاغُضِ تَأْكِيدٌ لِلْأَمْرِ بِالتَّحَابُبِ مُطْلَقًا إِلَّا مَا يَخْتَلُّ بِهِ الدِّينُ، فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ حِينَئِذٍ التَّحَابُبُ، وَيَجُوزُ التَّبَاغُضُ لِأَنَّ غَرَضَ الشَّارِعِ اجْتِمَاعُ كَلِمَةِ الْأُمَّةِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا} [آل عمران: ١٠٣] وَلَا

شَكَّ أَنَّ التَّحَابُبَ سَبَبُ الِاجْتِمَاعِ وَالتَّبَاغُضُ مُوجِبُ الِافْتِرَاقِ، فَالْمَعْنَى لَا يُبْغِضْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا

(مشكاة المصابيح ج ٣ ص ١٣٩٩ بيرت چاپ مكتبه شامله بَابُ مَا يُنْهَي عَنْهُ منَ التّهَاجُر وَالتَقَاطُع وَاتّبَاع العورات / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٩ ص ٢٣١ بَابُ مَا يُنْهَي عَنْهُ مِنَ التّهَاجُرِ وَالتّقَاطُعِ وَاتّبَاع العورات مكتبه رشيديه / مظاهر حق جديد ج ۴ ص ٥٣٣ دارالاشاعت كراچي /صحيح البخاري ج ٨ ص ١٩ بيرت چاپ مكتبه شامله / صحيح مسلم شريف ج ۴ ص ١٩٨٥ بيرت چاپ مكتبه شامله)

دروغ ويل څنګه دي او ددرواغجن كس سزا څه ده ؟

سوال ٢٠ : درواغ ويل څنګه دي او ددرواغجن كس سزا په شريعت كښې څه ده ؟

جواب : په شريعت مطهره كښې درواغ ويل د كبيره ګناهونو شمېرل سوي دي . نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چي درواغ ويل انسان دبديو طرف ته بيايي او بدۍ انسان وجهنم ته بيايي . پر يوه موقع باندي نبي كريم صلى الله عليه وسلم درواغ ويل د نفاق او منافقت په علاماتو كښې وشمېرل . فقهاوو ليكلي دي درواغ ويل چي په هر صورت كښې وي د شريعت دنګاه څخه مذموم او بد دي . دی (البته هغه موقع چي شريعت په هغوۍ د څه عذر په خاطر باندي د درواغ ويلو اجازه وركړې وي هغه ددې حكم څخه مستثنى دي) ځيني كسان داسي هم سته چي خپل ځان دلويولو او غټ ګڼلو دپاره درواغ خوبونه بيانوي نبي كريم صلى الله عليه وسلم ددغه كسانو ددغه عمل مذمت او بدوالى هم بيان كړی او وې فرمايل څوک چي داسي كوي نو دقيامت په ورځ باندي به راسي دوې داوربشو دانې به ورته وركړل سي الله جل جلاله به ورته وو ايي چي دغه دوې دانې سره غوټه كړه او دی به داسي كوی هم نه سي . (يعني پرېشانه او خوار و شرمنده به ولاړ وي) . نو چي كله دا خبره ثابته سوه چي درواغ كبيره ګناه ده نو دا خبره هم ثابته سوه چي سزا يې د دوږخ اور دی البته هغه بيا جلا خبره ده كه چيري ده درواغ په حقوق الله كښې ويلي وه او الله جل جلاله په خپل فضل او احسان سره ورته بخښنه وكړي الله جل جلاله دي موږ او تاسي ټوله دداسي بدو اخلاقو او عاداتو څخه وساتي .آمين

عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَخْطُبُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَكْذِبُوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ يَكْذِبْ عَلَيَّ يَلِجِ النَّارَ»

عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ صِدِّيقًا، وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ كَذَّابًا» وعن ابن عباس رضي الله عنهما، عن النبيّ – صلى الله عليه وسلم – قَالَ: «مَنْ تَحَلَّمَ بِحُلْمٍ لَمْ يَرَهُ، كُلِّفَ أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْن وَلَنْ يَفْعَلَ، وَمَنِ اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، صُبَّ فِي أُذُنَيْهِ الآنُكُ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَمَنْ صَوَّرَ صُورَةً عُذِّبَ وَكُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ وَلَيْسَ بنافِخٍ» . رواه البخاري.

(صحيح البخاري ج ۹ ص ۴۳ باب من كذب في حلمه بيروت چاپ مكتبه شامله / صحيح مسلم ج ۱ ص ۹ / ج ۴ ص ۲۰۱۲ بَابُ فِي التَّحْذِيرِ مِنَ الْكَذِبِ عَلَي رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّي اللّٰهُ تَعَالَي عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيروت چاپ مكتبه شامله / قاموس الفقه ج ۴ ص ۵۵۲ كذب زمزم پبلشر كراچي / رياض الصالحين ج ۱ ص ۴۱۶ بيروت چاپ مكتبه شامله)

ايا دزوی په ګناه کولوسره پلار په ګناه کښې ورسره شريک دی که يا ؟

سوال ۲۱ : سوال دادی که چيري زوی يوه ګناه وکړي نو په دغه ګنا کولو سره يې پلار په ګناه کښې شريک دی که يا ؟

جواب : په قرآن کريم کښې الله جل جلاله په سورة الانعام کښې دا خبره په ښکاره او صراحت سره بيان کړيده چي

(وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ . (**سورة الانعام آيت نمبر (۱۶۴) پاره اتمه ۸**) نه کوي څه ګناه کوم انسان مګر ضرر او نقصان يې دده پر ذمه باندي دی ، او نه پورته کوي يو پورته کوونکی بوج او بار دګناه دبل کس او بيا ستاسي ورتلل دي ستاسي درب طرف ته نو هغه به تاسي ته ښيا دروښيي هغه څه په کوم کښې چي تاسي په دنيا کښې اختلاف کوي . الهي قانون خو دادی چي هر کس به دخپل کړو ګناهونو بوج او بار پورته کوي نه زوی دپلار دګناه بار پورته کوي او نه پلار دزوی دګناه بار پورته کوي .

البته دا یوه خبره سته چې پلار شرعا مکلفه دی چې د خپل اولاد ښه او برابره تربیه د اسلامي شریعت د احکامو او تعلیماتو په رڼا کښې ورو کړي . خو که چیري پلار د اولاد سمه تربیه او روزنه ورونه کړي نو ښکاره خبره ده چې د اولاد اخلاق به خرابیږي او په ګناهونو کښې به مبتلا کیږي . نو په داسي صورت کښې که پلار ګناهګاره هم سي نو په دې خاطر ګناهګاره دی چې په خپله دیني او اسلامي وظیفه کښې یې کوتاهي کړېده نه دا چې دی دزوی په ګناه کښې ګرفتاره او تینګ سو .

لما قال العلامة علي بن محمد بن علي، أبو الحسن الطبري، الملقب بعماد الدين، المعروف بالكيا الهراسي الشافعي (المتوفى: ۵۰۴هـ) فی أحكام القرآن : قوله تعالى: (وَلا تَزِرُ وازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرى) ، الآية: ۱۶۴ يحتج به في ألّا يؤاخذ زيد بفعل عمرو، وأن كل مباشر لجريمته فعليه مغبتها.......... و قال العلامة أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (المتوفى: ۳۷۰ هـ) فی احكام القرآن : وقَوْله تَعَالَى وَلا تَزِرُ وازرة وزر أخرى إخْبَارٌ بِأَنَّ اللَّه تَعَالَى لَا يُؤَاخِذُ أَحَدًا بِذَنْبِ غَيْرِهِ وَأَنَّهُ لَا يُعَذِّبُ الْأَبْنَاءَ بِذَنْبِ الْآبَاءِ ....وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى فی التفسیر المنیر : وَلا تَزِرُ وازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرى أي لا تتحمل نفس بريئة حمل نفس مذنبة آثمة أخرى، فقوله تَزِرُ تحمل، والوزر: الحمل الثقيل......... أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا، وَالخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»

(احكام القرآن لعلي بن محمد بن علي ج ۳ ص ۱۳۰ مکتبه شامله بیروت چاپ / احکام القرآن للجصاص ج ۴ ص ۲۰۰ مکتبه شامله بیروت چاپ / التفسیر المنیر للزهیلي ج ۸ ص ۱۲۳ مکتبه شامله بیروت چاپ / صحیح البخاری ج ۲ ص ۵ مکتبه شامله بیروت چاپ / صحیح مسلم ۳ ص ۱۴۵۹ مکتبه شامله بیروت چاپ / سنن ابي داود ج ۳ ص ۱۳۰ باب مایلزم الامام من حق الرعیة)

تر ضرورت زیات ګروپان او موکیتان وغالۍ په کورونو کښې استعمالول اسراف دی که یا ؟

سوال ۲۲ : نن سبا داسي يو عادت په ځيني کورونو کښې روان دی چي خلک موکيتان او غالي او ګروپان يا نور داسي د استعمال شيان په کورونو کښې تر ضرورت او اندازې زيات استعمالوي . مثلا په يوه وطاق کښې لس دوولس ګروپان يي لګولي وي پوښتنه داده چي دغه تر اندازې او ضرورت زيات د استعمال شيان استعمالول شرعا روا يښت لري که يا ؟

جواب : په يوه صحيح او مناسب ځای (مصرف) کښې تر ضرورت زيات خرڅولو ته شرعا اسراف ويل کيږي . او که د شروع څخه هغه ځای او موقع (مصرف) غلطه او نامناسبه وه نو هغه ته بيا تبذير وايي .

په قرآن کريم کښې د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی فرمايي : وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ (۳۱) سورة الاعراف) ژباړه : ای زما بنده ګانو خورئ او چيښئ ليکن اسراف مه کوئ دا ځکه چي الله جل جلاله اسراف کوونکي نه خوښوي . د خوراک او چيښاک څخه علاوه په ديني معاملاتو کښې لا هم اسراف شرعا ناخوښه بلل سوی دی . مثلا په او داسه او په غسل کښې تر ضرورت زياتي اوبه استعمالول شرعا مکروه دي .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم حضرت سعد رضي الله وليدی چي اوبه يې زياتي استعمالولې نو يې ورته وفرمايل چي دا اسراف دی . همداشان فقهاء کرامو ليکلي دي چي تر يوه اوداسه وروسته بل اودس کول بيله دغه چي په اول اوداسه سره کوم لمونځ اداء کړل سي مکروه دی . لږ فکر کول پکار دي چي د دين او عبادت په معامله کښې دومره قدر احتياط راغلی دی چي د ضرورت څخه زياتې اوبه استعمالول روا نه بولي آخر هغه شريعت به د دې اجازه څنګه ورکړي چي يو مسلمان خپله پاکه دارايي او دنيا تر ضرورت زياته د بې معنې او لايعني کار دپاره فقط د نوم او خلکو ته د ځان د ښوولو دپاره يا د خپل نفس د بې ځايه خوشحاله کوولو دپاره مصرف کړي .

او دا اسراف تر موکيته او ګروپانو پوري محدود نه دی بلکي دې ناسور او وبا پوره ټولنه تر خپلي سايې لاندي را وستلې ده لږ خو د نن سبا د کوزدو او ودونو رواجونو

او د ودونو و نارواه عنعناتو ته خو وګورئ . همداشان په خوراک او څښاک کښې او دلباس او پوښاک په شیانو کښې اسراف ته کتل پکار دي ، دمهر او تکفین او فاتحو او ختمونو په مراسمو کښې و ډول ډول اسراف ته کتل پکار دي ، په نارواه امورو کښې خپلي سرمایي مصرفول دغه قسم مختلف ډولونه اسراف او بې ځایه مصرفونه په ټولنه کښې روان دي کوم چي شرعا نارواه او ممنوع دي .

الله جل جلاله دي ددې مظلوم او کړېدلي ملک و مسلمانانو او خصوصا دنیادار او پیسه دار طبقې ته او هم داشان موږ او تاسي ته دداسي قسم اسراف او بې ځایه مصارفو څخه داجتناب او پرهېز توفیق رانصیب کړي . آمین .

لماقال العلامة علي بن محمد بن علي الزين الشريف الجرجاني (المتوفى: ۸۱۶هـ) فی كتاب التعريفات : الإسراف: هو إنفاق المال الكثير في الغرض الخسيس. الإسراف: تجاوز الحد في النفقة، وقيل: أن يأكل الرجل ما لا يحل له، أو يأكل مما يحل له فوق الاعتدال، ومقدار الحاجة. وقيل: الإسراف تجاوز في الكمية، فهو جهل بمقادير الحقوق. الإسراف: صرف الشيء فيما ينبغي زائدًا على ما ينبغي؛ بخلاف التبذير؛ فإنه صرف الشيء فيما لا ينبغي. وقال الله تعالى فی القرآن الكريم : وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ (۳۱) سورة الاعراف)

(كتاب التعريفات ج ۱ ص ۲۳ باب الالف / القرآن الكريم آيت نمبر (۳۱) سورة الاعراف / الموسوعة الفقهية ج ۴ ص ۱۷۶ اسراف / الجامع لاحكام القرآن ج ۷ ص ۱۹۵.۱۹۴ / خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۳۵۹ / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۴ مكتبه رشيديه / ابن ماجة شريف ج ۱ ص ۳۴ / التفسير القرطبي ج ۷ ص ۱۹۴ / قاموس الفقه ج ۲ ص ۱۳۲ اسراف / فتح الباری ج ۱۰ ص ۲۵۲)

لس کلن هلک چي لمونځ نه کوي ګناه يې دپلار په غاړه ده که یا ؟

سوال ۲۳ : یو هلک چي لس کلنی ته ورسیږي بیا یې هم لمونځ نه وي زده په دغه عمل سره یې پلار ګناهګاره دی که یا ؟

جواب : په حدیث شریف کښې وپلرونو ته دنبي کریم صلی الله علیه وسلم امر مبارک راغلی دی چي کله ستاسي اولادونه و اووه کلنی ته ورسیږي نو دلمونځونو حکم ورته ورکوئ او کله چي لسو کلونو ته ورسیږي او بیا هم لمونځ نه کوي نو

معمولي وهل هم وركوى او دپرېوتلو او بېدېدلو په ځايو نو كښې يې جلا والى راولئ.

د دغه حديث د رويه څخه داد پلار شرعي ذمه داري ده چي خپل په اولادونو باندي لمونځ او هغه ته ورته لازمي او ضروري عبادتونه عملي وروښيي او يا يې په يو اهل كس باندي تر خپل سرپرستۍ لاندي تربيه وروكړي خو كه يې داكارونه ونه كړه نو ګناهګاره او ملامت به دالله جل جلاله په دربار كښې ګڼل كيږي. ځكه چي په خپله ديني او انساني ذمه داري او وظيفه كښې يې كوتاهي كړېده.

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا، وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ» .

عن عبد الله رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «كلكم راع فمسئول عن رعيته، فالأمير الذي على الناس راع وهو مسئول عنهم، والرجل راع على أهل بيته وهو مسئول عنهم، والمرأة راعية على بيت بعلها وولده وهي مسئولة عنهم، والعبد راع على مال سيده وهو مسئول عنه، ألا فكلكم راع وكلكم مسئول عن رعيته»

(سنن ابي داود ج ۱ د ص ۱۳۳ باب متي يؤمر الغلام بالصلاة مكتبه شامله بيروت چاپ / مصنف ابن ابي شيبة ج ۱ ص ۳۰۴ باب متي يؤمر الغلام بالصلاة مكتبه شامله /مسند احمد ابن حنبل ج ۱۱ ص ۳۶۹ مكتبه شامله / تخريج الأحاديث المرفوعة المسندة في كتاب التاريخ الكبير للبخاري ج ۱ ص ۱۰۶ ۱ مكتبه شامله / صحيحي البخاري ج ۳ ص ۱۵۰ مكتبه شامله)

دكورني جنجال په خاطر ځان وژنه څنګه ده

سوال ۲۴: زموږ په ټولنه كښې داسي كسان سته چي كله په كور كښې مشكل ورته جوړ سي نو بيا د خپل ځان د وژلو اراده وكړي يا تېل پر ځان توى كړي او يا زهرجني دواوي وخوري خصوصاً بيا زنانه حضرات چي كله يې كور ته د خوابښي ؛خوسر؛او خاوند سره طبيعت خراب سي نو بيا تېل پر ځان واچوي ځان په اور وسوه ځوي او يا د چوغكو يا موږ كانو دوا وخوري او س پوښتنه داده چي داسي كس چي

خپل ځان دیو مشکل پربنا باندې قتل کړي او س دده جنازه کېدلای سي که یا او دده څه حکم دی، ایا کافر دی، که یا؟

جواب: کله چې یو چاته کوم مشکل وریپښ سي د هغه مشکل د حل او فصل کولو لپاره شریعت مطهره مختلفې لارې چارې برابرې کړېدي مثلاً یوه ښځه د خپل خاوند سره مشکل لري په کورکښې یې ګذاره سخته وي که خاوند د خپل ښځې څخه ناراضه وي نو الله پاک د طلاق حق ورکړېدی یعني داسړی کولای سي چې د ډېرو هلوځلو وروسته خپل ښځې ته طلاق ورکړي او که چیرې ښځه د خاوند سره مشکل ولري نو بیا شریعت وښځې ته د خلعې حق ورکړېدی یعني ښځه دې وخپل خاوند ته روپۍ ورکړي هغه به دروپو په بدل کښې طلاق ورکړي او همداشان که چیرې زوی د خپل پلار سره یو مشکل ولري جلادې سي خو دا هر څه چې کیږي دا زموږ د جهالت او لاعلمۍ په وجه. بهرحال د کوم مشکل پربنا د خپل ځان قتل کول یقیناً سخته او عظیمه ګناه ده البته مسلمان چې کله مرتکب د ګناه کبیرې جوړسي نو د اسلام څخه نه په خارجیږي د غسې کس ته د جنازې لمونځ ورکول فرض دی ځکه د غه کس کافر نه دی البته فاسق دی، او فاسق ته د جنازې لمونځ ورکول فرض دی

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يَتَوَجَّأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَمَنْ شَرِبَ سُمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَمَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ يَتَرَدَّى فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا»الحديث

(مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ) وَلَوْ (عَمْدًا يُغَسَّلُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ) بِهِ يُفْتَى وَإِنْ كَانَ أَعْظَمَ وِزْرًا مِنْ قَاتِلِ غَيْرِهِ.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۲۱۱ باب الجنائز سعید چاپ/تبیین الحقائق ج ۱ ص ۵۹۷ باب الشهید بیروت چاپ/الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۶۳ الفصل الخامس في الصلوة علي المیت رشیدیه/صحیح المسلم ج ۱ ص ۱۰۳ بَابُ غِلَظِ تَحْرِيمِ قَتْلِ الْإِنْسَانِ نَفْسَهُ، بیروت چاپ/فتاوی محمودیه ج ۸ ص

۶۲۵ باب الجنائز/ستاسومسائل اودهغوحل ج ۲ ص ۴۷۸ /احسن المسائل ص ۷۷ /فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۴۹۳ /فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۶۰)

د مور او پلار دبي عزتي کوؤنکي څه حکم دی ؟

سوال ۲۵: کوم کس چي ومور او پلارته دله ،دووس، بي غيرته او بي حياء غوندي الفاظ (العياذ بالله) وايي او مور ته حرامزاده او مخ توروني وغيره الفاظ او سپکي وايي دداسي کس په باره کښي شريعت څه حکم لري؟

جواب: داسي کس شرعًا فاسق ظالم او د مور او پلار عاق او نافرمانه دی داسي کس ته په کار ده چي ژر ترژره دي توبه وباسي او د خپل مور او پلار څخه دي فورا معافي واخلي او هغوي دي راضي کړي او که دانه کوي نو مور او پلارته ازار او ضرر رسول بيا ددنيا او د آخرت د ناکامۍ سبب جوړيږي الله جل جلاله مودي وساتي.

قال الله تعالى فى القرآن الكريم : وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا (۲۳) وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا (۲۴) سورة الاسراء

لما قال العلامة أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : ۶۷۱هـ) فى الجامع لأحكام القرآن الثَّالِثَةُ- مِنَ الْبِرِّ بِهِمَا وَالْإِحْسَانِ إِلَيْهِمَا أَلَّا يَتعَرَّضَ لِسَبِّهِمَا وَلَا يَعُقَّهُمَا، فَإِنَّ ذَلِكَ مِنَ الْكَبَائِرِ بِلَا خِلَافٍ، وَبِذَلِكَ وَرَدَتِ السُّنَّةُ الثَّابِتَةُ، فَفِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:" إِنَّ مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمَ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَهَلْ يَشْتُمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ؟ قَالَ" نَعَمْ. يَسُبُّ الرَّجُلُ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَسُبُّ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّهُ". الرَّابِعَةُ- عُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ مُخَالَفَتُهُمَا فِي أَغْرَاضِهِمَا الْجَائِزَةِ لَهُمَا، كَمَا أَنَّ بِرَّهُمَا مُوَافَقَتُهُمَا عَلَى أَغْرَاضِهِمَا.

(الجامع لأحكام القرآن للقرطبي رحمه الله تعالي ج ۲۳ ص ۲۸۴ سورة الاسراء مكتبه شامله / فتاوي دارالعلوم ديونبد جلد ۱۲ ص ۲۶۶ باب المرتد)

جادوڅه ته وايي دقرءآن اوحديث شريف څخه ثبوت سته که يا؟

جواب۲۶: جادو څه شی دی د قرءان کریم او حدیث شریف درویه څخه یې ثبوت سته که یا ؟ځني کسان وایي دا فقط خلک په وهم کښې اچول دي بل شی نسته ایا دا خبره حقیقت لري که یا ؟

جواب: که څه هم د علماء کرامو د سحر او جادو په معنی کښې اختلاف دی او د هغه د تعیین په باره کښې ډیر اقوال دي لیکن په دي کښې هم شک او شبهه نسته چي په عمومي ډول سره چي کوم معنی مراد اخیستل کیږي هغه داده:

هغه کارچي د شیطانانو په کومک سره تر سره کیږي او د شیطانانو د نژدیکت د حاصلولو لپاره د هغوی غوښتني منل کیږي او د هغوی د منلو په بدل بیا د هغو کارو اثرات هم ښکاره کیږي داسي کار ته جادو ویل کیږي خپله په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندي یهودو جادو کړی وؤ او د جادو مختلف قسمونه دي په هغه قسمونو کښې شعبده بازي ، او نظربندي هم داخله ده بلکه د نجومو یو ښاخ ته هم جادو ویل کیږي.

حضرت مفتي محمد شفیع رحمه الله تعالي په معارف القرآن کي د جادو تعریف داسي کړی دی : د قران او سنت په اصطلاح کي جادو داسي امر عجیب ته ویل کیږي په کوم کي شیطانان خوشحاله کړل سي او په بدل کي د هغوی مدد حاصل کړل سي .

د پوره تفصیل د پاره کفایت المفتي د حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله تعالی فتاوی کتلای سی۔

لما قال العلامة آلالوسي رحمه الله تعالى فى التفسير روح االمعاني : والسِّحْرَ في الأصل مصدر سحر يسحر بفتح العين فيهما إذا أبدى ما يدق ويخفى وهو من المصادر الشاذة، ويستعمل بما لطف وخفي سببه، والمراد به أمر غريب يشبه الخارق– وليس به– إذ يجري فيه التعلم ويستعان في تحصيله بالتقرب إلى الشيطان بارتكاب القبائح............

وفسره الجمهور بأنه خارق للعادة يظهر من نفس شريرة بمباشرة أعمال مخصوصة والجمهور على أن له حقيقة وأنه قد يبلغ الساحر إلى حيث يطير في الهواء ويمشي على الماء ويقتل النفس ويقلب الإنسان حمارا، والفاعل الحقيقي في كل ذلك هو الله تعالى ولم

تجر سنته بتمكين الساحر من فلق البحر وإحياء الموتى وإنطاق العجماء، وغير ذلك من آيات الرسل عليهم السلام .

(روح المعاني ج ۱ ص ۳۳۷ سورة البقرة ايت ۱۰۱ بيروت چاپ / معارف القرآن ج ۱ ص ۲۷۴ سورة البقرة ايت ۱۰۲ اردو / المفردات في غريب القرآن للعلامة الراغب الاصفهاني كتاب السين ص ۲۳۱ قديمي چاپ / كفايت المفتي ج ۱۲ ص ۴۷۹ باب ما يتعلق بالسحر اردو)

باب حقوق الزوجين

که مېړه د ښځې سره ډېر جنګونه کوي علاج يې څه دی ؟

سوال ۱: که چيرې يو خاوند د خپلې ښځې سره بد سلوکي او بد اخلاقي کوي معنی دا چې پر معمولي او ادنی شي باندې جنګ او جنجال کوي پو ښتنه داده چې د داسې مشکل علاج د شريعت د نګاه څخه څه دی ؟

جواب : عموما چې په کورونو کې داسې حالات مخې ته راځي خصوصا د خاوند او ښځې تر مېنځ علماوو او فقهاوو يې څه عوامل او اسباب بيان کړي دي چې يو د هغوی څخه مريضي او ناجوړي ده چې د خاوند او ښځې څخه يو د دماغ يا هغه ته ورته مريضي او ناجوړي لري بل عامل او سبب يې د دين څخه د ليرې خلګو سره صحبت او ناسته پاسته ده ، بل عامل يې اقتصادي او معاشي کمزوري ده چې ځيني وختونه د طرفينو جائز او رواه حاجتونه سر ته نه رسيږي نو جنګ او جنجال مخې ته راځي . او ځيني وختونه ګناهونه او نافرماني هم سبب د داسې تريخ ژوند درامنځ ته کيدلو ګرځي لهذا د داسې شخص پر برابر باندې د بزرګانو توصيه د شريعت مطهره د اصولو او قوانينو په رڼا کې داده چې که چيرې د غه خاوند جسماني او بدني مريضي لري لکه ناجوړي د دماغ وغيره نو د داسې کس علاج دې په يوه طبيب او ډاکټر باندې وسي ، او که يې د بدو خلګو سره صحبت او ناسته ولاړه درلوده نو بايد د داسې خلګو د صحبت څخه په حکمت او مصلحت سره راوګرځول سي ، او که چيرې اقتصادي او معاشي پرېشاني لري نو د شاوخوا ملګرو او اقرباوو شرعي او انساني ذمه داري يې داده چې د داسې شخص سره تر خپله وسه او طاقته پوري کومک وکړي ، او يا دې د غه کس يا ښځه د ده د خپل نفس او ځانه سره محاسبه وکړي چې په

کوموګناهونو کي دوی مبتلادي توبه دي وباسي او الله جل جلاله ته دي رجوع وکړي الله جل جلاله ته پوره امید سته چي داسي تریخ ژوند به په یوه ډېر ښایسته او خواږه ژوند باندي بدل سي .

که چیري په دغه مسئله کي پوره تحقیق او معلومات غواړی نو دشیخ الاسلام علامه مفتي محمد تقي عثماني دامت برکاته یو کتاب په بازار کي پیدا کیږي چي نوم یي دی (دښځي حقوق) هغه ترلاسه کړی او مطالعه یي کړی ان شاءالله حالات به سازګاره سي .

(فتاوی محمودیه ج۱۸ ص ۵۸۸ باب احکام الزوجین / کفایت المفتي ج ۱۲ ص ۳۹۴/ فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۸ ص ۳۳۵ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۶۰۳ باب احکام الزوجین)

خپله ښځه دځان سره دکاروبار او سفر وطن ته بیول

سوال ۲ : یو کس مثلا په افغانستان کي اوسیږي واده یې هم په افغانستان کي کړی دی ښځه یې هم په افغانستان کي ده او کاروبار یې په په پاکستان یا بل ملک کي دی اوس دی غواړي چي خپله ښځه هم دکاروبار علاقې او ملک ته بوزي خو خوسرګنی یې منع کوي . پوښتنه داده چي زه کولای سم خپله ښځه دځانه سره هغه ملک او وطن ته بوزم که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي که چیري یوه ښځه دخپل خاوند سره په سفر کولو باندي راضي او خوشحاله وي نو والدین او خپلوان یې هیڅ حق نه لري چي منع یې کړي او که چیري ښځه ستا سره تلل نه غواړي نو دمفتی به قول مطابق یې له ځانه سره بیولو باندي نه سي مجبوره کولای .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : لَكِنْ فِي النَّهْرِ: وَالَّذِي عَلَيْهِ الْعَمَلُ فِي دِيَارِنَا أَنَّهُ لَا يُسَافِرُ بِهَا جَبْرًا عَلَيْهَا ..... وجزم به البزازي وغيره فى المختار وعليه الفتوى .... ثُمَّ ذَكَرَ عَنْ الْفَقِيهَيْنِ أَبِي الْقَاسِمِ الصَّفَّارِ وَأَبِي اللَّيْثِ أَنَّهُ لَيْسَ لَهُ السَّفَرُ مُطْلَقًا بِلَا رِضَاهَا لِفَسَادِ الزَّمَانِ لِأَنَّهَا لَا تَأْمَنُ عَلَى نَفْسِهَا فِي مَنْزِلِهَا فَكَيْفَ إذَا خَرَجَتْ وَأَنَّهُ صَرَّحَ فِي الْمُخْتَارِ بِأَنَّ عَلَيْهِ الْفَتْوَى. وَفِي الْمُحِيطِ أَنَّهُ الْمُخْتَارُ. وَفِي الْوَلْوَالِجِيَّةِ أَنَّ جَوَابَ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ كَانَ فِي زَمَانِهِمْ، أَمَّا فِي زَمَانِنَا فَلَا، .... ثم قال فَقَدْ اخْتَلَفَ

الْإِفْتَاءُ وَالْأَحْسَنُ الْإِفْتَاءُ بِقَوْلِ الْفَقِيهَيْنِ مِنْ غَيْرِ تَفْصِيلٍ وَاخْتَارَهُ كَثِيرٌ مِنْ مَشَايِخِنَا كَمَا فِي الْكَافِي، وَعَلَيْهِ عَمَلُ الْقَضَاءِ فِي زَمَانِنَا كَمَا فِي أَنْفَعِ الْوَسَائِلِ. اهـ.

(الدر المختار مع رد المحتار ج ۳ ص ۱۴۶ مطلب في السفر بالزوجة بيروت چاپ / ج ۲ ص ۴۹۵ باب المهر / فتح القدير ج ۳ ص ۲۵۰ باب المهر / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۲۰ كتاب النكاح)

ايا يو خاوند خپله ښځه وهلای سي ؟

سوال ۳: آيا شرعًا ويو خاوند ته د خپلي ښځي د وهلو اجازه سته که يا ؟

جواب: فقهاء کرامو په يو څو صورتونو کي خاوند ته د ښځي د وهلو اجازه ورکوي (۱) چي کله ځان نه سينګاروي خپل خاوند ته (۲) خاوند يې خپلي بسترې ته راوبولي او دا بېله کوم شرعي عذره څخه انکار وکړي (۳) بېله اجازې د خاوند د کوره څخه ووزي (۴) لمونځ نه کوي يا د جنابت څخه غسل نه کوي (۵) خپل د تي ماشوم د ژړا په وخت کي وهي (۶) و خاوند ته ښکنځل وکړي يا يې جامې ورڅيري کړي يا يې تر ږيره ونيسي (۷) بل داچي مخ لڅ کړي وبېګانه سړي ته (۸) يا خپل اواز په بېګانه سړي واوري (۹) يا د خاوند په مخ کي وبېګانه کس ته ښکنځل وکړي.

قَالَ الْوَلْوَالِجِيُّ فِي فَتَاوِيهِ لِلزَّوْجِ أَنْ يَضْرِبَ زَوْجَتَهُ عَلَى أَرْبَعَةِ أَشْيَاءَ وَفِي مَعْنَاهَا فَفِي قَوْلِهِ وَمَا فِي مَعْنَاهَا إفَادَةُ عَدَمِ الْحَصْرِ فَمَا فِي مَعْنَاهَا مَا إذَا ضَرَبَتْ جَارِيَةَ زَوْجِهَا غَيْرَةً وَلَا تَتَّعِظُ بِوَعْظِهِ فَلَهُ ضَرْبُهَا كَذَا فِي الْقُنْيَةِ.

وَيَنْبَغِي أَنْ يُلْحَقُ بِهِ مَا إذَا ضَرَبَتْ الْوَلَدَ الَّذِي لَا يَعْقِلُ عِنْدَ بُكَائِهِ؛ لِأَنَّ ضَرْبَ الدَّابَّةِ إذَا كَانَ مَمْنُوعًا فَهَذَا أَوْلَى مِنْهُ مَا إذَا شَتَمَتْهُ أَوْ مَزَّقَتْ ثِيَابَهُ أَوْ أَخَذَتْ لِحْيَتَهُ أَوْ قَالَتْ لَهُ يَا حِمَارُ يَا أَبْلَهُ أَوْ لَعَنَتْهُ سَوَاءٌ شَتَمَهَا أَوْ لَا عَلَى قَوْلِ الْعَامَّةِ وَمِنْهُ مَا إذَا شَتَمَتْ أَجْنَبِيًّا وَمِنْهُ مَا إذَا كَشَفَتْ وَجْهَهَا لِغَيْرِ مَحْرَمٍ أَوْ كَلَّمَتْ أَجْنَبِيًّا أَوْ تَكَلَّمَتْ عَامِدًا مَعَ الزَّوْجِ أَوْ شَاغَبَتْ مَعَهُ لِيَسْمَعَ صَوْتَهَا الْأَجْنَبِيُّ وَمِنْهُ مَا إذَا أَعْطَتْ مِنْ بَيْتِهِ شَيْئًا مِنْ الطَّعَامِ بِلَا إذْنِهِ حَيْثُ كَانَتْ الْعَادَةُ لَمْ تَجْرِ بِهِ وَإِنْ كَانَتْ الْعَادَةُ مُسَامَحَةَ الْمَرْأَةِ بِذَلِكَ بِلَا مَشُورَةِ الزَّوْجِ فَلَيْسَ لَهُ ضَرْبُهَا وَمِنْهُ مَا إذَا ادَّعَتْ عَلَيْهِ وَلَيْسَ مِنْهُ مَا إذَا طَلَبَتْ نَفَقَتَهَا أَوْ كِسْوَتَهَا وَأَلَحَّتْ؛ لِأَنَّ لِصَاحِبِ

الْحَقِّ يَدَ الْمُلَازَمَةِ وَلِسَانَ التَّقَاضِي كَذَا أَفَادَهُ فِي الْبَزَّازِيَّةِ فِي مَسَائِلِ الضَّرْبِ مِنْ فَصْلِ الْأَمْرِ بِالْيَدِ

(البحر الرائق ج ۵ ص ۸۲ کتاب الحدود ، باب حد القذف / فتاوی اللکنوي ص ۴۱۰ / فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۵۹۵ باب احکام الزوجين / ردالمحتار ج ۴ ص ۷۷ ، ۷۹ کتاب الحدود ، باب التعزير سعيد چاپ / النهر الفائق ج ۳ ص ۱۷۲ کتاب الحدود مکتبه رشيديه)

يو نارينه څومره وخت خپله ښځه يوازي پرېښوولای سي ؟

سوال ۴: يوه نارينه ته په اسلام کښي د خپلي ښځي څخه څومره وخت سفر کول او دهغې يوازي پرېښوولو اجازه سته ؟

جواب: حضرت عمر رضي الله عنه د مجاهدينو لپاره دغه حکم جاري کړی ؤ چي تر څلورو مياشتو دي زيات د خپلو ښځو څخه نه مسافر کېږي، هغه کسان چي د کسب او کاروبار لپاره خارج ملکو ته ځي او ځواني ښځي ترشا پرېږدي ډېره غټه بې انصافي کوي، او بل ستم پر ستم بيا دا دی چي خپلو ښځو ته امر کوي چي زما د مور او پلار او زما د ورونړو او خويندو خدمت کوه هغه خوارانې په دوه عذابه مبتلا وي يو د خاوند جدائي، او بل د خپلي کورنۍ د ظلم او زياتي رويه او اخلاقو څخه ، او ځيني بيا ولاړ سي هلته بل واده هم پسي وکړي او نتيجه اخر کار دا سي سي چي دکورنۍ د تباهۍ او د غلطو تعلقاتو او روابطو جوړول را منځ ته سي، والی الله المشتکی لدفع هذا البلاء

ددې مسئلې پوره تفصيل د شيخ الاسلام حضرت مولانا محمد تقي عثماني دامت برکاته په کتاب فتاوی عثماني کي کتلای سی .

وفی الدرالمختار :ويسقط حقها بمرة ويجب ديانة أحيانا ولا يبلغ الإيلاء إلا برضاها،

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فی ردالمحتار : ويجب أن لا يبلغ به مدة الإيلاء إلا برضاها وطيب نفسها به. اهـ.

فکتب عمر رضي الله عنه ان لاتحبس الجيوش فوق اربعة اشهر .

(ردالمحتار ج ۳ ص ۲۰۲ باب القسم بين الزوجات مکتبه شامله / سنن بيهقي ، کتاب السير ج ۹ ص ۲۹ / مصنف عبد الرزاق ج ۷ ص ۱۵۱ / فتاوی رحيميه ج ۸ ص ۲۳۸ / فتاوی عثماني ج ۲ ص ۳۱۰ کتاب النکاح اردو / فتاوی فريديه ج ۱ ص ۶۰۵ / امدادالاحکام ج ۲ ص ۳۸۱)

یوه ښځه دمېړه په غلا دمریض پلار خدمت کوي شرعا روایښت لري که یا ؟

سوال ۵ : یوه ښځه ده پلار یې ډیر سخت مریض دی داسي څوک دانه لري چي ددې پلار خدمت په مریضۍ کښې وکړي او خاوند ددې ښځي داخپله ښځه ددې پلار دخدمت څخه منع کوي دڅه تضاد په خاطر ایا دغه ښځه شرعاً دخاوند دکوره څخه فقط ددې خپل پلار دخدمت لپاره وتلای سي که یا؟ که ووزي نافرمانه دخاوند شمارل کېږي که یا ؟

جواب : دغه ښځه ددې خپل پلار خدمت کولای سي او وتلای سي بېله اجازته دخاوند څخه که څه هم دغه پلار ددې ښځي کافر وي ځکه شرعاً مور او پلار پر خپل اولادونو باندي حقوق لري او خاص بیا دمریضۍ او دسختۍ په حالت کي.

لما ذكر في فتاوى قاضي خان : ولايصير عاصيا بالاذن ، ومنها الخروج الى زيارة الوالدين وتعزيتهما وعيادتهما

(فتاوی اللکنوي ص ۴۲۲ / فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۲۰۳ کتاب النکاح)

ایاپر ښځي باندي دننه دکور کارونه لازم دي

سوال ۶: ایا پر ښځي باندي دکوردننه کار مثلا وخپل خاوندته او اولادوته ډوډۍ وریخول واجب اوضروري دی که یا ؟ او که چیري یوه ښځه ددنیا دلحاظه یا ددین دلحاظه یوه مرتبه او اعزاز لري هغه دا کار کول ځان ته عار بولې ایا پر هغې هم دکور کار کول واجب دی ؟

جواب : ښځه که هرڅومره لوی شرف ددین یا ددنیا ولري پر دې باندي دکوردننه کارونه دیانةً او دتقوی په حیثیت سره واجب دي لیکن که چیري دې انکاروکړۍ چي زه دا پوخ او کتغ نه کوم نو قضاءً یعني دمحکمې او قاضي له طرفه څخه دا ودغه کارته نه سي مجبوره کیدلاي شرعا البته په داسي صورت کي که چیري ښځه دداسي خاندان څخه وي چي دهغه خاندان ښځي کار نه کوي یا مریضه وي نو په داسي صورت کي پر خاوند باندي پخه ډوډۍ وښځي ته ورکول واجب دي .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : (قوله لم يجز) ؛ لأن هذا العمل من الواجب عليها ديانة «؛ لأن النبي – صلى الله عليه وسلم –

قسم الأعمال بين فاطمة وعلي، فجعل عمل الداخل على فاطمة وعمل الخارج على علي» وأفاد المصنف آخر الباب أن استئجار المرأة للطبخ والخبز وسائر أعمال البيت لا تنعقد ونقله عن المضمرات ط.

قلت: كأنه؛ لأنه واجب عليها ديانة، ثم راجعت باب النفقة فرأيته علل به وزاد ولو شريفة؛

(ردالمحتار ج ۶ ص ۶۲ مطلب في الاستئجار علي المعاصي / البحر الرائق ج ۴ ص ۱۹۹ / بدائع الصنائع ج ۳ ص ۴۳۰ / احسن الفتاوی ج ۹ ص ۲۶)

د دوو ښځو تر مېنځ چي يې مساوات نه وي کړی علاج يې څه دی ؟

سوال ۷ : يو سړی دوه کوره ولري او مساوات يې نه وي کړی ديوې حق ئی په دابلي خوړلی وي سړی پښيمانه دی تقريبا شل يا زيات کلونه کيږي دواړي هم ژوندۍ دي ځواني تيره سوه او پيري راغلل او آخيرت رانږدې سو او آخيرت نه تيريږي ابدي دی که دد ې مسئلی جواب راته تشريح کړئ ډېر به دي احسان وي زموږ علم قاصر او کوتادی قائل وايي چه زه بيده وم اوس بيداره سوم .

الجواب : په قرآن کريم کښې دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی : ﴿وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا (۱۲۹) سورة النساء .

ژباړه : ای مسلمانانو هيڅکله تاسي طاقت نه لرۍ چي عدل او برابري وکړۍ دزړه په محبت او ميلان کي دښځو تر مېنځ که څه هم حرص او کوشش وکړۍ نو کله چي دزړه په محبت کي برابري نه سی کولای ځکه چي هغه غير اختياري دی نو په اختياري امورو کي هيڅکله نا انصافي مه کوئ هغه داسي چي ديوې طرف ته بالکل مائله او کاږه سۍ يعني مه کږېږئ او دابله هم داسي ځوړنده پرېږدۍ چي نه طلاقه کړې شمېرل کيږي او نه خاوند والا ....

ددوو ښځو يا زياتو تر مېنځ بې عدلي کول په اختياري امورو کي لويه ګناه ده احاديث مبارکه هم پر دغه برابر موجود دي . فقهاء کرامو ليکلي دي چي دخاوند پر ذمه باندي په درو شيانو کي دښځو تر مېنځ عدل او برابری کول لازمي دی اول : په نان او نفقه کي . دوهم : په لباس او کالو کي . دريم : په اخلاقو او ګفتارو او رفتار

کي لهذا اوس خو چي تیر سوي دي هغه تیر سوي ستاسي د پاره دا پکار ده چي پر هغه تلف سوي حقوقو باندي د دغه مظلومي ښځي څخه د هغې د زړه د خلوصه څخه معافي واخلئ او تر څه وخته چي ژوندی وي د هغې د حقوقو خیال په پوره ایمانداری او تقوی سره وساتئ او داسي ښه سلوک ورسره شروع کړئ چي د دې زړه دا فیصله وکړي چي نور تاسي ته معافي وکړي نو امید الله جل جلاله ته سته چي هغه به عفوه او درګذر وکړي.

لقوله تعالى : (وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا (١٢٩) سورة النساء .

وعن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «من كانت له امرأتان فمال إلى إحداهما، جاء يوم القيامة وشقه مائل . رواه ابوداود

وفى الفتاوى الهندية : ومما يجب على الأزواج للنساء العدل والتسوية بينهن فيما يملكه والبيتوتة عندها للصحبة والمؤانسة لا فيما لا يملك وهو الحب والجماع كذا في فتاوى قاضي خان.

(القرآن الكريم سورة النساء آیت نمبر ١٢٩ / سنن ابي داود ج ٢ ص ٢٤٢ باب القسم بين النساء / الفتاوى الهندية ج ١ ص ٣٤٠ (الباب الحادي عشر في القسم كتاب النكاح / سنن الترمذي / مشكاة المصابيح ص ٢٧٩ باب القسم / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۶ ص ٢۶٩ دوهمه نكاح)

که چیري خاوند حرامه نفقه کورته راوړي نو د ښځي چاره یې څه ده ؟

سوال ۸: که چیري دیوې سپاسري ښځي خاوند حرامه او مرداره نفقه لکه سود یا درشوت او غلا یا د شرابو او دې ته ورته د حرامو شیانو کارو بار کوي او د هغه څخه لاس ته راغلې نفقه کورته راوړي او ښځه او ماشومان یې هم بله خاص ګذاره یا خپله سرمایه هم نه لري نو په داسي صورت کي د ښځي او کوچني ماشومانو چاره څه ده ویې خوري که یا ؟

جواب : په داسي صورت کي پر میرمني باندي واجبه ده چي خپل خاوند د دغه کاره څخه په کلک ډول را وګرځوي خو که بیا هم د ډیرو هڅو سره سره هغه د غه کار نه پریږدي نو که چیري دا امکان وي چي میرمن خپل اخراجات او نفقه دیوې جائزې

طريقې د مخې پوره کولای سي نو بيا د دې د پاره دا نه ده رواه چي د خپل خاوند د ماله څخه نفقه واخلي ، او که چيري دا ډول امکانات نه وي نو بيا جواز لري او د حرامو خوړلو ګناه به پر خاوند باندي وي . او د نابالغه ماشومانو او بچيانو حکم هم په دې ډول دی چي ګناه به د دوی پر پلار باندي وي البته بالغ او لوی اولادونه به د پلار د ماله څخه څه نه اخلي او خپله به څه پيدا کوي .

شيخ الاسلام علامه محمد تقي عثماني دامت برکاته ليکلي دي چي په داسي حالاتو کي د مېرمني د پاره د حرام مال د خوړلو پر جواز او رواه والي باندي د فقهاء کرامو څخه ځيني په ښکاره حکمونه هم سته علامه ابن عابدين شامي رحمه الله تعالی د دې مسئلې تصريح په ردالمحتار علی الدر المختار کي هم کړېده .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار : وَفِي جَامِعِ الْجَوَامِعِ: اشْتَرَى الزَّوْجُ طَعَامًا أَوْ كِسْوَةً مِنْ مَالٍ خَبِيثٍ جَازَ لِلْمَرْأَةِ أَكْلُهُ وَلُبْسُهَا وَالْإِثْمُ عَلَى الزَّوْجِ .

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۶ ص ۱۹۱ مطلب في رد المغصوب وفيما لو أبي المالک قبوله مكتبه شامله / فتاوی محموديه ج ۱۸ ص ۴۱۲ باب المال الحرام ومصرفه / البحوث للشيخ الاسلام محمد تقي دامت برکاته ج ۱ ص ۲۴۵ مكتبه حقانيه دغربي هيوادونو يو څومسائل)

خپلي ښځي ته دمور او پلار ښکنځل کول څه حکم لري ؟

سوال ۹ : يو شخص خپلي ښځي ته د مور او پلار ښکنځل کوي داسي عمل ډېره ګناه لري که يا ؟

جواب : يو مسلمان ته بې عزته خبري کول او ښکنځل کول يا دې ته ورته نور داسي اعمال تر سره کول چي د يو مسلمان د زړه د آزار سبب وګرځي شرعا فسق او ګناه کبيره ده . او ښکنځل کوونکی شرعا فاسق او ګناهګاره دی لهذا د يو مسلمان شان دا دی چي د داسي بيهوده اعمالو څخه په کلکه اجتناب او پرهيز وکړي . او ښځه خو لا بيا نور زيات حق لري ځکه چي دا د پوره ژوند د سفر ملګری دی او دا ملګرتيا چي بيا کله د داسي ستونزو سره مل وي په ډېر مشکل سره به سره ته رسيږي لهذا ښځي ته ښکنځل نور هم سخته ګناه ده ځکه چي د ښځي د اصلاح کومي طريقي چي قرآن کريم بيان کړي دي دا د هغه طريقو څخه خلاف او د انساني مروت سره په تضاد کي عمل دی . والله اعلم بالصواب .

لما رواه الامام ابو عیسی محمد ابن عیسی الترمذی رحمه الله : عن ابي وائل عن عبد الله بن مسعود قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم سباب المسلم فسوق وقتاله كفر قال زبيد قلت لأبي وائل أأنت سمعته من عبد الله ؟ قال نعم قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح .

ورواه الامام محمد ابن اسماعيل البخاري رحمه الله تعالى عن الأعمش حدثنا شقيق قال قال عبد الله : قال النبي صلى الله عليه و سلم (سباب المسلم فسوق وقتاله كفر .

(صحيح البخاري ج ۶ ص ۲۵۹۲ باب قول النبي صلي الله عليه و سلم (لا ترجعوا بعدي كفارا يضرب بعضكم رقاب بعض / الجامع للترمذي ج ۲ ص ۱۹ باب ما جاء في الشتم / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۳۶ باب المسائل المتفرقة /قاموس الفقه ج ۴ ص ۱۱۸ / الموسوعة الفقهية ج ۲۴ ص ۱۴۱)

كه ديوې ښځې خاوند كورته شي نه راوړي ښځه په پټه دده مال په ځان او عيال مصرفولای سي كه يا

سوال ۱۰ : كه چيري ديوې ښځي خاوند سخت سړی ؤ كورته يې دضرورت شيان نه راوړل نو دغي ښځي ته په شريعت كي دا اجازه سته چي ددغه سړي مال دده په پټه په خپل ځان او عيال باندي مصرف كړي كه يا ؟

جواب : كه چيري رښتيا هم يو څوک دغسي وي چي خپلي ښځي او اولادوته بېله شرعي عذره ددوی دضرورت په اندازه نفقه نه وركوي نو ښځي ته دا جواز سته چي په يو لاره باندي دخاوند په پټه دهغه مال په خپل ځان او اولادو باندي ولګوي البته دضرورت څخه زيات څه اخيستل يا خپل پر سر دهغه په مال كي صدقې او خيراتونه كول جواز نه لري . والله اعلم

عن عائشة أن هند بنت عتبة قالت يا رسول الله إن أبا سفيان رجل شحيح وليس يعطيني ما يكفيني وولدي إلا ما أخذت منه وهو لا يعلم فقال (خذي ما يكفيك وولدك بالمعروف) رواه البخاري

وفي الهندية : في كل مَوْضِعٍ كان لِلْقَاضِي أَنْ يَقْضِيَ لها بِالنَّفَقَةِ في مَالِ الزَّوْجِ فَلَهَا أَنْ تَأْخُذَ من مَالِ الزَّوْجِ ما يَكْفِيهَا بِالْمَعْرُوفِ بِغَيْرِ قَضَاءٍ

وفي القاضي خان : وليس لها ان تعطي شيئا من بيته بغير اذنه .

(البحرالرائق ج ۴ ص ۲۹۹ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۵۰ مكتبه رشيديه / صحيح البخاري ج ۳ ص ۷۹ مكتبه شامله / فتاوى قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۴۴۳ مكتبه رشيديه / كفايت المفتي ج ۱۲ ص ۳۹۷ اردو / فتاوى حقانيه ۳ ص ۶۱۹ پښتو)

ښځه چي دپلار پر کور وي واده سوې نه وي دمېړه حکم منل ورته ضروري دي که یا ؟

سوال ۱۱ : ښځه چي کله لا دپلار پر کور وي تر اوسه پوري واده سوې نه وي دمېړه حکم منل ورته ضروري دي که یا ؟

جواب : دشریعت مطهره دتعلیماتو داصولو په رڼا کي پر ښځي باندي دخپل خاوند اطاعت او خبره منل په رواه او جائزو کارونو کي واجب ده هغه نو بیا برابره ده که دپلار پر کور باندي وي که دخاوند پر کور باندي وي که یې واده کړی وي او که یې نه وي کړی دا ځکه چي که څه هم دا ښځه دپلار پر کور باندي ده خو د هم دغه خاوند ښځه بلل کیږي داسي نه چي تر څه وخته دپلار کورته وي نو دیوه خاوند ښځه ده او کله چي دخاوند کورته راسي نو بیا ددغه خاوند ښځه لهذا کله چي نکاح وتړل سوه عقد دزوجیت قائم سو نوره دا ښځه مکلفه ده چي دخپل خاوند خبره به په رواه او جائزو امورو کي مني البته په کوم ناجائز کار کي بیا دخاوند خبره منل رواه او جائز نه ده .

وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَرْأَةُ إِذَا صَلَّتْ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَأَحْصَنَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ بَعْلَهَا فَلْتَدْخُلْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ» . رَوَاهُ أَبُو نعيم فِي الْحِلْيَة

وفى الدرالمختار للعلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : وَحَقُّهُ عَلَيْهَا أَنْ تُطِيعَهُ فِي كُلِّ مُبَاحٍ يَأْمُرُهَا بِهِ . وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ فِي كُلِّ مُبَاحٍ) ظَاهِرُهُ أَنَّهُ عِنْدَ الْأَمْرِ بِهِ مِنْهُ يَكُونُ وَاجِبًا عَلَيْهَا كَأَمْرِ السُّلْطَانِ الرَّعِيَّةَ بِهِ .

(مشكاة المصابيح ، كتاب النكاح ، باب عشرة النساء ، الفصل الثاني ج ۲ ص ۲۸ سعيد چاپ / ردالمحتار ، كتاب النكاح ، باب القسم ج ۳ ص ۲۰۸ سعيد چاپ / البحر الرائق كتاب النكاح ، باب القسم ج ۳ ص ۳۸۵ مكتبه رشيديه / كفايت المفتي ج ۱۲ ص ۴۰۵ باب العشرة بين الزوجين وحقوقهما)

د ښځې بې ځایه وهل شرعاً بد کار دی د کوم ځخه چې اجتناب کول ضروري دي ؟

سوال ۱۲: یو سړی خپله ښځه زیاته وهل او ډیره بیځایه یې زورول ښځه د ځان د بیرې د پلار کره بیله اجازې ولاړه او س یې مور او پلار هغه ښځه په لاس نه ورکوي په دغه صورت کښې د ښځې مور او پلار خطاکاره او ګنهګاره دي که یا ؟

جواب: د ښځې بې ځایه وهل شرعاً ناروا ه عمل دی په دغه صورت کښې خطاء کاره اصلاً خاوند دی چې بېله څه وجې ښځه وهي او ناحقه تعزیرا و سزا ورکوي په داسې حال کې د ښځې د مور او پلار کره تلل او هلته استوګنه کول نافرماني نه ده بلکه دغه د مور او پلار کره تلل یې پر حق دي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فی ردالمحتار على الدرالمختار :ولو قالت إنه يضربني ويؤذيني فمره أن يسكنني بين قوم صالحين؛ فإن علم القاضي ذلك زجره ومنعه عن التعدي في حقها وإلا يسأل الجيران عن صنيعه، فإن صدقوها منعه عن التعدي في حقها، ولا يتركها ثمة

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۶۰۲ مطلب في الكلام علي المؤنسة مكتبه شامله / فتاواي دارالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۳۳۵ باب العدل والتسوية بين النساء مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۵۹۶ / مشكاة المصابيح ج ۱ ص ۲۰۳)

د خاوند د اجازې ځخه بغیره د ښځې یو ځای ته تلل څنګه دي ؟

سوال ۱۳: د خاوند د اجازې ځخه بغیر ښځه د کوم قریب او پلار ګنی۔ یا کومي کوزدي او واده ته تللای سي که یا ؟

جواب: د ښځې لپاره شرعاً بېله اجازې د خاوند د مور او پلار یا بل قریب کره تلل نه دي صحیح او نارینه ته هم مطلقاً د منع کولو حکم نسته بلکه کله ناکله د قریبانو د قرابت په اندازه ورسره د لیدلو او ملاقات اجازه ورکول پکار ده.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار :ولايمنعها من الخروج الى الوالدين في كل جمعة ان لم يقدر على اتيانها على ما اختيارها في الاختيار ولوابوهازمنا مثلاً فاحتاجها فعليها تعاهدو ولوكافر

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۶۰۲ مطلب في الكلام علي المؤنسة مكتبه شامله / فتاواي

دارالعلوم دیوبند ج۸ص ۳۳۴ باب العدل والتسویة بین النساء مکتبه رشیدیه /مجمع الانهر ج ۲ ص ۲۸۶ / فتاوی محمودیه ج۱۸ ص ۵۷۰)

که ښځه دخاوند خبره نه مني څه حکم یې دی ؟

سوال۱۴: که یوه ښځه په رواه کار کي دخاوند دخوښې خلاف وي او د هغه په خبره او وینا عمل نه کوي دداسي ښځي په اړه شرعي حکم څه دی؟

جواب: کوم کارونه چي شرعاً منع نه دي بلکي روادي په هغو کي دښځي لپاره دخاوند اطاعت کول ضروري اولازمي دی که دخپل خاوند اطاعت ونه کړي ګنهګاریږي اوکه څه هم دمورا وپلار اطاعت ضروري دی اماپرښځي باندي دخاوند حق ډېر زیات دی.

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی فی ردالمحتار علی الدرالمختار :لیس لها ان تخرج بلااذنه اصلاً .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج۳ ص ۱۴۶ مطلب في السفر بالزوجةمکتبه شامله /فتاواي دارالعلوم دیوبند ج۸ص ۳۳۵ باب العدل والتسویة بین النساء مکتبه رشیدیه / کفایت المفتي ج ۱۲ ص ۴۰۴ / مشکاة المصابیح ج ۲ ص ۲۸۱ / البحر الرائق ج ۳ ص ۳۸۵)

د خاوند اطاعت ضروري دی که د مور اوپلار اطاعت ضروري دی ؟

سوال۱۵: پریوې واده سوي میرمني دخپل خاوند اطاعت اوخبره منل ډیره ضروري ده که دمورا وپلار خبره منل ډیر ضروري ده ؟ کومه ښځه چي دخپل خاند څخه کرکه کوي دهغې په اړه دشریعت څه حکم دی ؟

جواب: دخاوند اطاعت اوفرمانبرداري دښځي لپاره ډیره ضروري ده او ترنورو قریبانو د خاوند اطاعت مخکي او مقدم واهم دی . اوهغه ښځه چي دخپل خاوند څخه کرکه کوي بیله کوم شرعي یا طبعي عذره څخه داسي ښځه شرعاً ګنهکاره ده اود الله جل جلاله اودخپل خاوند دواړو نافرمانه ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ المَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا» رواه الترمذي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «الَّتِي

تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ، وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ، وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهَا بِمَا يَكْرَهُ . رواه النسائي

(سنن الترمذي ج ۳ ص ۳۵۷ باب ما جاء في حق الزوج علي المرأة مكتبه شامله / مشكوة المصابيح ص ۲۸۱ باب عشرة النساء / فتاواى درالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۳۳۲ باب العدل بين النساء / كفايت المفتي ج ۱۲ ص ۳۹۷ / خلاصة الفتاوى ج ۲ ص ۵۳ / فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۵۹۹ / سنن النسائي ج ۶ ص ۶۸ باب اي النساء خير مكتبه شامله)

د يو كس دوې ښځي دي يوه عيالداره ده او بله بې عياله ددوی ترمېنځ به دغه كس څنګه برابري كوي؟

سوال ۱۶ : كه د يوه كس دوي ښځي وي يوه عيالداره وي او بله بي عياله وي نو ددوی ترمېنځ به دغه كس په خرڅ او نفقې كښي څنګه برابري كوي ؟

جواب: دخاوند پر ذمه لازمه ده چي د دواړو ښځو ترمېنځ برابري او مساوات وکړي په خرچ او نفقه کښي دي زياتوب او کمبود نه کوي خو کومه يوه چي عيالداره وي هغې ته دي دعيال نفقه جلا ورکوي .

همدا شان به دغه کس دشپو په تيرولو کي برابروالی ددوی ترمېنځ کوي او په جماع او کوروالی کي مساوات ضروري نه دی البته ځوانه او زړه په حقوقو کښې سره برابري دي يوه پر بلي باندي سره او زياتی نه لري

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار : (يجب) وظاهر الآية أنه فرض نهر (أن يعدل) أي أن لا يجور (فيه) أي في القسم بالتسوية في البيتوتة (وفي الملبوس والمأكول) والصحبة (لا في المجامعة) .... (والبكر والثيب والجديدة والقديمة والمسلمة والكتابية سواء) لإطلاق الآية.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۲۰۲ باب القسم بين الزوجات مكتبه شامله / فتاواي دارالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۳۲۸ باب العدل والتسوية بين النساء مكتبه رشيديه / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۲۷۹ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۶ ص ۳۶۴ باب القسم بين النساء / سنن الترمذي ج ۱ ص ۲۱۶)

فصل في الجماع و متعلقاته

د حمل په زمانه کښې تر څو پوري کوروالي او نژدېکت دځيلي ښځي سره رواه دی؟

سوال ۱: شرعًا د خپلي ښځي سره د حمل په وخت کي ترکومي موده پوري کوروالی او نژدیکت رواه دی ؟

جواب: د حمل په حالت کي د خپلي ښځي سره جماع کول هیڅ پروانه لري په اومه او اتمه میاشت کي ورسره هم کوروالی رواه دی شرعاً هیڅ منع نسته البته که په کوم حالت او صورت کښې وحمل ته ضرر وي د ډاکټرانو په مشوره سره نو بیا ځان ساتل ځني په کار دي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :ولو تضررت من كثرة جماعه لم تجز الزيادة على قدر طاقتها. و قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار :وتضررت فعلم من هذاكله انه لايحل له وطوها بما يؤدي الى اضرارها.

(ردالمحتار علي الدرالمختار جلد ۳ ص ۲۰۳ باب القسم بين الزوجات مكتبه شامله / فتاوای دارالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۳۴۳ باب العدل والتسوية بين النساء / كفايت المفتي ج ۱۲ ص ۴۱۸ اردو / فتاوی حقانيه ج۵ ص ۲۳۷ / فتاوی فريديه ج۵ ص ۲۳۷)

دحیض په حالت کښې دخپلي ښځي سره لواطت (دشاه له طرفه جنسي خواهش پورا کول) کول .

سوال ۲ :د خپلي ښځي سره د حیض په حالت کښې د شا د طرفه څخه وطی کول یعني لواطت کول روا ایښت لري که یا ؟

جواب : د خپلي ښځي سره د شا د خوا خپل جنسي خواهش پوره کول مطلق ناروا او ګنا کبیره ده . هغه نو که د حیض حالت وي او که د غیر حیض حالت وي . په داسي صورت کښې خاوند ډیر سخت ګناهګاره او فاسق دی . په حدیث شریف کښې پر داسي کس باندي لعنت راغلی دی . او که چیري یو څوک دغه خبیث او پلید عمل ځان ته رواه او جائز وبولي نو فقهاوو دا کفر بللی دی .

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من أتى حائضا أو امرأة في دبرها أو كاهنا فقد كفر بما أنزل على محمد» . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي

وعن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ملعون من أتى امرأته في دبرها» . رواه أحمد وأبو داود

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۴۹۵ باب الحيض مكتبه شامله /البحر الرائق كتاب الطهارة باب الحيض ج ۱ ص ۳۴۲ مكتبه رشيديه / الفقه علي المذاهب الاربعة ج ۴ ص ۱۶۵ العيوب اللتي يفسخ بها النكاح / فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۱۰ ص ۲۲۹ اردو / فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۲۶۲ باب احكام الزوجين / فتاوى فريديه ج ۵ ص ۲۴۵ باب حقوق الزوجين / مشكوة شريف ج ۲ ص ۲۷۶)

دحائضې ښځي څخه دحيض په حالت کښې انتفاع اخيستل (دشهوت پوره کول) .

سوال ۳ : د حائضې ښځي څخه انتفاع اخيستل يعني جماع کول د قرآن کريم د آيت له مخي څخه خو حرامي دي . ايا د دغي ښځي څخه مطلقا انتفاع اخيستل ناجائز ده که څه ګنجايش هم په کښې شته که يا ؟

جواب : دين اسلام د حايضې ښځي سره جماع حرامه کړېده . او د جماع څخه پرته نوره استمتاع او فائده اخيستل رواه ده شرعا کومه بده خبره نه ده . نو د دې د پاره فقهاء کرامو داسي ليکلي دي چي د سرې د پاره د حائضې ښځي سره د نامه څخه پورته او د ځنګنونو څخه کښته استمتاع بيله د پردې او حائل څخه جائز ده . او د نامه څخه لاندي او د ځنګنونو څخه لوړ د حائل سره يعني د پرتاګه د پاسه استمتاع رواه ده .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ يَعْنِي مَا بَيْنَ سُرَّةٍ وَرُكْبَةٍ) فَيَجُوزُ الِاسْتِمْتَاعُ بِالسُّرَّةِ وَمَا فَوْقَهَا وَالرُّكْبَةِ وَمَا تَحْتَهَا وَلَوْ بِلَا حَائِلٍ، وَكَذَا بِمَا بَيْنَهُمَا بِحَائِلٍ بِغَيْرِ الْوَطْءِ وَلَوْ تَلَطَّخَ دَمًا.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۲۱۴ باب الحيض / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۹ الباب السادس الفصل الرابع في احكام الحيض والنفاس /دحاشية الطحطاوى ص ۱۴۵ مكتبه رشيديه / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۲۱۴ باب الحيض)

آيا د خپلي ښځي سره هره مياشت کوروالي او جماع کول ضروري ده؟

سوال ۴: د خپلي ښځي د ډوډۍ او جامو خبر نه اخيستل څنګه دی که يو څوک د سفر د مجبورۍ او نورو مشکلاتو له وجهي څخه د خپلي ښځي سره نژديکت ونه کړي نو ګناه ده که يا ؟ځني خلک وايي که يي په مياشت کښي نژديکت ونه کړی نو دا ديوه سړي د قتل او وژلو ګناه لري دا خبره صحيح ده که يا؟

جواب: د خپلي ښځي د نان او نفقي او خرڅي خبر نه اخيستل ګناه ده په آينده کښي دي خبر اخلي او د سفر يا بل مشکل په خاطر که په مياشت کي جماع او کوروالي ونه سي دا ګناه نه لري او دا خبره غلطه ده چي ديوه سړي د وژلو او قتل کولو ګناه لري.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار : (لا في المجامعة) كالمحبة بل يستحب. ويسقط حقها بمرة ويجب ديانة أحيانا ولا يبلغ الإيلاء إلا برضاها، ويؤمر المتعبد بصحبتها أحيانا، وقدره الطحاوي بيوم وليلة من كل أربع لحرة وسبع لأمة. ولو تضررت من كثرة جماعه لم تجز الزيادة على قدر طاقتها، لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : (قوله ويسقط حقها بمرة) قال في الفتح: واعلم أن ترك جماعها مطلقا لا يحل له، صرح أصحابنا بأن جماعها أحيانا واجب ديانة، لكن لا يدخل تحت القضاء والإلزام إلا الوطأة الأولى ولم يقدروا فيه مدة ويجب أن لا يبلغ به مدة الإيلاء إلا برضاها وطيب نفسها به. اه

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۲۰۲ باب القسم بين الزوجات مكتبه شامله /فتاواي دارالعلوم ديوبند ج۸ص۳۳۰ باب العدل والتسوية بين النساء مكتبه رشيديه / البحر الرائق ج ۳ ص ۳۸۲ رشيديه / تبيين الحقائق ج ۲ ص ۶۲۷ رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۸ ص ۶۲۲)

باب السلام والمصافحة

يو څوک چي مجلس ته راسي وايي ټوله ستړي مسي .

سوال ۱ : ځيني وختونه چي يو څوک مجلس ته راسي بيا وو ايي ټوله ستړي مسی مصافحه او سلام نه کوي دا خوبه تاوان نه کوي ؟ .

جواب : ښه طریقه داده چي ټوک یوه مجلس ته راسي پر سنت طریقه برابر سلام وکړي ځکه چي سلام کول سنت دی او جواب ورکول یې واجب دی . . کوم شخص چي په سلام سره شروع وکړي هغه ته الله جل جلاله شل نیکي ورکوي او ټوک چي جواب ورکړي هغه ته الله جل جلاله لس نېکۍ ورکوي . او ستړې مسې کول عرفي سلام دی خو شرعي سلام نه دی یعني ثواب نه دی پر مرتب اصلي ثواب چي مرتب دی هغه پر سلام کولو باندي سته او په دغه ستړې مسې سره هغه د سلام کولو ثواب نه حاصلیږي . البته د دغه سلام یوتاوان او نقصان دغه سته چي د سنت طریقې سلام کولو څخه انسان محرومه کیږي . (هذا ما عندنا والله اعلم بالصواب) .

لما فی ردالمحتار : وَاعْلَمْ أَنَّهُمْ قَالُوا إنَّ السَّلَامَ سُنَّةٌ وَاسْتِمَاعَهُ مُسْتَحَبٌّ، وَجَوَابُهُ أَيْ رَدُّهُ فَرْضُ كِفَايَةٍ، وَإِسْمَاعُ رَدِّهِ وَاجِبٌ .

(الدر المختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۴۱۳ فصل في البيع سعيد چاپ مکتبه شامله / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۱۵۱ باب السلام والمصافحة / المبسوط للسرخسي جج ۳۰ ص ۲۷۴ باب الکسب / المحیط البرهاني ج ۵ ص ۳۲۸ /البحر الرائق ج ۸ ص ۲۳۶ باب اللعب بالشطرنج والنرد)

خپل ښځي ته سلام څنګه دی ؟

سوال ۲ : خپلي ښځي ته سلام کول شرعا رواه والی لري که یا ؟

جواب : خپلي ښځي ته سلام کول او خط لیکل بالکل درست او رواه دی په دې مسئله کښې هیڅ شبه کول نه دي پکار مشکل نه لري .

قال تعالی : فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ : سورة النور آیت (۶۱)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُونُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ» : «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ» رواه الترمذی

وَعَن جَرِيرٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى نِسْوَةٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِنَّ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

قال الزهر ی : اذا دخلت بیتک فسلم علی اهلک فهم احق من سلمت علیه .

وفی فتاوی قاضیخان : الرجل مع المرءة اذا التقیا سلم الرجل اولا .
(احکام القرآن للجصاص ج ۳ ص ۴۸۹ مکتبه قدیمي / الفتاوی الهندیة ج۵ ص ۳۲۵ کتاب الکراهیة الباب السابع في السلام مکتبه رشیدیه / مشکاة المصابیح ص ۳۹۹ کتاب الادب باب السلام / فتاوی قاضي خان ج ۳ ص ۴۲۳ / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۸۶ باب السلام والقیام والمصافحة)

دخلګو یوې ټولي ته سلام کول او بیا جواب ورکول .

سوال ۳ : که چیري یو کس دخلګو یوه جماعت او ټولی ته سلام وکړي نو دټولو پر ذمه یي دسلام جواب ورکول لازمي دی او که فقط دیوه کس جواب ورکول کافي دی ؟

جواب : ددغي ټولی څخه دیوه کس جواب ورکول کافي دی دالازم نه دی چي ټوله دي جلا جلا سلام وکړي او یا دي جلا جلا جواب ورکړي .

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: «رَفَعَهُ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ» قَالَ: «يُجْزِئُ عَنِ الْجَمَاعَةِ، إِذَا مَرُّوا، أَنْ يُسَلِّمَ أَحَدُهُمْ، وَيُجْزِئُ عَنِ الْجُلُوسِ أَنْ يَرُدَّ أَحَدُهُمْ.

رواه ابوداود ج ۴ ص۳۵۳ بَابُ مَا جَاءَ فِي رَدِّ الْوَاحِدِ عَنِ الْجَمَاعَةِ

(ابوداود ج ۴ ص ۳۵۳ بَابُ مَا جَاءَ فِي رَدِّ الْوَاحِد عَنِ الجَمَاعَة / حلال حرام ص ۳۲۰ / فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۱۳۳ مسئله ششم)

دکوچني دسلام جواب ورکول لازم دی که یا ؟

سوال ۴ : که چیري یو ماشوم او کوچنی موږ ته سلام وکړي نو دسلام جواب ورکول یې لازمي دي که یا ؟

جواب : اوله په دې خبره باندي پوهیدل پکار دي چي ماشوم او کوچني ته سلام کول دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه په مذهب کښې ښه او افضل کار دی . او دکوچني دسلام جواب ورکول لازم او ضروري نه دی بلکي مستحب یعني سنت دی .

لما فی الموسوعة الفقهية : وَأَمَّا جَوَابُ السَّلاَمِ مِنَ الصَّبِيِّ فَغَيْرُ وَاجِبٍ؛ لِعَدَمِ تَكْلِيفِهِ، كَمَا ذَكَرَ الْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ، وَيَسْقُطُ رَدُّ السَّلاَمِ بِرَدِّهِ عَنِ الْبَاقِينَ إِنْ كَانَ عَاقِلاً عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ؛ لأَنَّهُ مِنْ أَهْل الْفَرْضِ فِي الْجُمْلَةِ، بِدَلِيل حِل ذَبِيحَتِهِ مَعَ أَنَّ التَّسْمِيَةَ فِيهَا فَرْضٌ عِنْدَهُمْ.

(رد المحتار علي الدر المختار ج۵ ص ۲۶۵ بیروت چاپ / الموسوعة الفقهية ج ۲۵ ص ۱۶۵ احکام اخری للسلام مکتبه حقانیه / فتح الباري ج ۱۱ ص ۳۲ بیروت چاپ)

دروغبږ کولو په وخت کښې بټه ګوته نیول .

سوال۵: ځيني کسان په وخت کي د لاسو د روغبړ بټه ګوته ټينګوي او ګوري يې دليل دا وايې چي په د غه طريقه سره محبت او مينه زياتيږي آيا دا خبره تر يو حده پوري ثبوت لري که يا؟

جواب: علامة ابن عابدين رحمه الله تعالى په ردالمحتار کي د قهستاني رحمه الله تعالى څخه نقل کړي دي : والسنة ان تكون المصافحة بكلتا يديه وان ياخذ الابهام فان فيه عرقا ينبت المحبة كذا جاء في الحديث ذكره القهستاني وغيره.

مفتي رشيد احمد صاحب رحمه الله تعالى په احسن الفتاوی کي ليکلي دي چي موږ قهستاني کتاب پسي و کتی دا حديث هلته نه وو موجود او دغه رقم نور کتابونه هم د حديثو ما پسي وکتل دا حديث مانه دی پيدا کړی که چيري د دغه عمل ثبوت وای نو د حديثو په معروف او مشهورو کتابو کي به يې خا ما خا ذکر وای فافهم.

وفى الشامي نقلا عن القهستاني : والسنة أن تكون بكلتا يديه، وبغير حائل من ثوب أو غيره وعند اللقاء بعد السلام وأن يأخذ الإبهام، فإن فيه عرقا ينبت المحبة كذا جاء في الحديث ذكره القهستاني وغيره اهـ

(ردالمحتار ج ۶ ص ۳۸۲ باب الاستبراء وغيره / کفايت المفتي ج ۱۲ ص ۲۳۴ / مرقاة المفاتيح ج۸ ص ۴۵۸ / فتح الباري ج ۱۱ ص ۶۴ / عمدة القاري ج ۲۲ ص ۳۹۲)

ایادیو چالاس مچول روادي که یا ؟

سوال۶: د يو عالم يا سپين ږيري يا مشر لاس موچول روا دی که يا ؟ او بيا د دغه لاس موچېدو سره بعض خلک کښنته کېږي دا کښنته کېدل شرعًا څنګه دي؟

جواب: دمور ، پلار ، استاد ، بزرګ سپين ږيري ، عالم ، مشرورور ، اکا ، ماما

او د ښځې لپاره د خپل میړه لاس موچول او دوی، ته د احترام په خاطر ولاړېدل جواز لري خو هغه چا ته ولاړېدل یا د هغو اشخاصو لاس موچول چې د دې کار په نه کولو خوا بدوي مکروه کار دی همدا رنګه کښته کېدل په رو غبړ کي یا د لاس موچولو په وخت کي مکروه کار دی او بعضي فقهاء بیا وایې چې معمولي کښته کېدل پروا نه لري په دې شرط چې د تعظیم په قصد نه وي البته دا سي کښته کېدل چې و رکوع ته نژدې وي حرام او ناروا کار دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَلَا بَأْسَ بِتَقْبِيلِ يَدِ) الرَّجُلِ (الْعَالِمِ) وَالْمُتَوَرِّعِ عَلَى سَبِيلِ التَّبَرُّكِ دُرَرٌ وَنَقَلَ الْمُصَنِّفُ عَنْ الْجَامِعِ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِتَقْبِيلِ يَدِ الْحَاكِمِ وَالْمُتَدَيِّنِ (السُّلْطَانِ الْعَادِلِ) وَقِيلَ سُنَّةٌ مُجْتَبَى (وَتَقْبِيلُ رَأْسِهِ) أَيْ الْعَالِمِ (أَجْوَدُ) كَمَا فِي الْبَزَّازِيَّةِ (وَلَا رُخْصَةَ فِيهِ) أَيْ فِي تَقْبِيلِ الْيَدِ (لِغَيْرِهِمَا) أَيْ لِغَيْرِ عَالِمٍ وَعَادِلٍ هُوَ الْمُخْتَارُ مُجْتَبَى وَفِي الْمُحِيطِ إنْ لِتَعْظِيمِ إسْلَامِهِ وَإِكْرَامِهِ جَازَ وَإِنْ لِنَيْلِ الدُّنْيَا كُرِهَ.

ولماقال الامام ابن عابدين الشامي الحنفي رحمه الله في ردالمحتار :لِمَا أَخْرَجَهُ الْحَاكِمُ: «أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرِنِي شَيْئًا أَزْدَادُ بِهِ يَقِينًا فَقَالَ اذْهَبْ إلَى تِلْكَ الشَّجَرَةِ فَادْعُهَا فَذَهَبَ إلَيْهَا فَقَالَ إنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – يَدْعُوك فَجَاءَتْ حَتَّى سَلَّمَتْ عَلَى النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فَقَالَ لَهَا: ارْجِعِي فَرَجَعَتْ قَالَ: ثُمَّ أَذِنَ لَهُ فَقَبَّلَ رَأْسَهُ وَرِجْلَيْهِ وَقَالَ لَوْ كُنْت آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْت الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا» : وَقَالَ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ اهـ مِنْ رِسَالَةِ الشُّرُنْبُلَالِيِّ

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۷۱ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۵ ص ۳۶۳ مرقات المفاتیح ج ۸ ص ۴۹۸ مکتبه حبیبیه / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۱۳۰ اردو / فتاوی حقانیه ج ۱ ص ۵۱۰ پښتو)

کافر ته سلام کول روا دی که یا ؟

سوال ۷ : کافر ته سلام کول جائز دی که نه دی او که چیري کافر سړی سلام وکړي جواب ورکول د سلام یې ضروري دی که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو څلور صورتونه بیان کړي دي(۱)دا چې کافر ته سلام کول

تعظیماً او احتراماً دا کفر دی. (۲) او که چیري سلام کول د عزت او احترام لپاره نه وي مطلق هغه سنت او عادت پر ځاي کول وي نو هم ناروا ه دی ځکه شرعاً مسلمان ته دا اجازه نسته چي کافر ته سلام وکړي. (۳) او که دیوه حاجت او ضرورت لپاره وي بیا روا دی هغه به هم داسي وایي (السلام علی من اتبع الهدی). ۴-د کافر د سلام جواب ورکول جائز دی مګر په جواب کی به(علیک) وایي فقط.

لما فی صحیح البخاري : فَدَفَعَهُ إِلَى هِرَقْلَ، فَقَرَأَهُ فَإِذَا فِيهِ " بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ: سَلاَمٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الهُدَى،

وقال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی فی ردالمحتار علی الدرالمختار : (قوله ويسلم المسلم على أهل الذمة إلخ) ..... وفي التتارخانية قال محمد: إذا كتبت إلى يهودي أو نصراني في حاجة فاكتب السلام على من اتبع الهدى اھ.

(صحیح البخاري ج ۱ ص ۵ باب بدء الوحي قدیمي چاپ خانه / ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۶ ص ۴۱۲ کتاب الحظر والاباحة ، فصل في البیع سعید چاپ / احسن الفتاوی ج۸ ص ۱۳۴ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۱۳۴ / مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج۸ ص ۴۶۱ / حاشیة النووي علي مسلم ج ۲ ص ۲۱۳)

آیا د راډیو ، ټیپ او ټلویزون د سلام جواب واجب دی ؟

سوال ۸ : که یو څوک د راډیو څخه یا د ټیپ څخه یا د لاوډسپیکر څخه سلام واوري آیا د داسي سلام جواب ورکول واجب دی که یا ؟

جواب : د راډیو وسلام ته د لاوډسپیکر وسلام ته جواب ورکول نه دی واجب د دواړو یو حکم دی وجه یې دنه وجوب مفتي شفیع صاحب رحمه الله تعالی دا بیان کړې ده چي اوریدونکی پر دې نه دی قادره چي جواب د سلام په هغه راډیو والا یا لاوډسپیکر والا باندي واوري ، او مفتي رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی بیا وایي چي د دغه سلام کول بې موقع او بې ځایه دی لهذا جواب ورکول نه دی ضروري او د خط د جواب سلام په خوله سره هغه وخت ورکول واجب دی چي ته یې ووایه ځکه چي خط د غایب دا په حکم کي د خطاب د حاضر سړي دی .

(فتاوی محمودیه ۱۹ ص ۸۴ باب السلام والقیام والمصافحة /د آلات جدیده شرعي احکام ص ۱۶۴ ادارة المعارف القرآن کراچي / احسن الفتاوی ج ۹ ص ۱۸ / جواهر الفقه ج ۷ ص ۴۵۷)

دلاس په اشاره سره سلام کول یا په هارن وهلو سره سلام کول ؟

سوال ۹ : يو چاته د سلام کولو په وخت کښې لاس پورته کول يا هارن ورته وهل څنګه دي ؟ .

جواب : که چيري ديوې وجې څخه آواز رسول مشکل وي نو دلاس په اشارې سره سلام کول شرعا درست او جايز دى او ددغه سلام جواب ورکول واجب دى . او که چيري آواز رسيدلاى سو نو بيايوازي اشاره کول کفايت نه کوي . البته په ژبه سره دسلام او جواب سره لاس پورته کول جائز دى . ځکه چي دا دمصافحې قايم مقام ده . او فقط لاس پورته کول په خوله سلام نه ورسره ويل دا مکروه عمل دى . حضرت مولانا مفتي محمود حسن رحمه الله تعالى په فتاوى محموديه کښې دغه سوال ته په لنډو ټکو داسي جواب ويلى دى . دسلام سره دلاس پورته کولو ګنجايش شرعا سته که څه هم ضرورت يې نسته . پاته سوه هارن وهل هيڅ معنى نه لري نه حقيقة سلام دى او نه معنى البته دومره دى چي دځان دتېريدلو اطلاع ورکول دي چي زه تېرېږم تاسي يې خبر .

عن عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: إِسْنَاده ضَعِيف .وقال الملا على القارى رحمه الله تعالى : (وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – قَالَ: لَيْسَ مِنَّا) أَيْ: مِنْ أَهْلِ طَرِيقَتِنَا وَمُرَاعِي مُتَابَعَتِنَا (مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا) ، أَيْ: مِنْ غَيْرِ أَهْلِ مِلَّتِنَا (لَا تَشَبَّهُوا) : بِحَذْفِ إِحْدَى التَّاءَيْنِ أَيْ: لَا تَتَشَبَّهُوا (بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى) ، زِيدَ " لَا " لِزِيَادَةِ التَّأْكِيدِ («فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ») . بِفَتْحٍ فَضَمٍّ جَمْعُ كَفٍّ، وَالْمَعْنَى: لَا تَشَبَّهُوا بِهِمْ جَمِيعًا فِي جَمِيعِ أَفْعَالِهِمْ خُصُوصًا فِي هَاتَيْنِ الْخَصْلَتَيْنِ، وَلَعَلَّهُمْ كَانُوا يَكْتَفُونَ فِي السَّلَامِ أَوْ رَدِّهِ أَوْ فِيهِمَا بِالْإِشَارَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ نُطْقٍ بِلَفْظِ السَّلَامِ الَّذِي هُوَ سُنَّةُ آدَمَ وَذُرِّيَّتِهِ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ وَالْأَوْلِيَاءِ، وَكَأَنَّهُ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –كُوشِفَ لَهُ أَنَّ بَعْضَ أُمَّتِهِ يَفْعَلُونَ ذَلِكَ، أَوْ مِثْلَ

ذَلِكَ مِنَ الِانْحِنَاءِ أَوْ مُطَأْطَأَةِ الرَّأْسِ، أَوِ الِاكْتِفَاءِ بِلَفْظِ السَّلَامِ فَقَطْ، وَلَقَدْ رَأَيْتُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاحِدًا مِنَ الْمُتَصَوِّفَةِ الدَّاخِلَةِ فِي سِلْكِ السَّالِكِينَ الْمُرْتَاضِينَ الْمُتَوَكِّلِينَ الزَّاهِدِينَ فِي الدُّنْيَا الْمُكْتَفِي بِإِزَارٍ وَرِدَاءٍ، صَائِمِ الدَّهْرِ لَازِمِ الِاعْتِكَافِ، لَيْسَ شَيْءٌ عِنْدَهُ مِنْ أَسْبَابِ الدُّنْيَا، وَهُوَ عَلَى ذَلِكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ سَنَةً، ثُمَّ اخْتَارَ السُّكُوتَ الْمُطْلَقَ فِي آخِرِ الْعُمْرِ بِحَيْثُ يَكْتَفِي فِي رَدِّ السَّلَامِ بِإِشَارَةِ الرَّأْسِ، مَعَ أَنَّهُ مَا كَانَ خَالِيًا عَنْ نَوْعِ مَعْرِفَةٍ وَدَوَامِ تِلَاوَةٍ وَحُسْنِ خُلُقٍ وَسَخَاوَةِ نَفْسٍ، إِلَّا أَنَّهُ كَانَ مَا يُرَى أَنَّهُ يَطُوفُ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالْحَالِ وَيَرْحَمُنَا وَإِيَّاهُ فِي الْمَآلِ. (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ)

(مشكاة المصابيح ج ۳ ص ۱۳۱۹ مكتبه شامله بيروت چاپ / مرقاة المفاتيح ج ۷ ص ۲۹۴۶ باب السلام مكتبه شامله / احسن الفتاوى ج ۸ ص ۱۴۴ / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص / ۷۰ / ۷۳ باب السلام والقيام والمصافحة)

ايا نر دښځي سره دلاس مصافحه او روغبړ كولاى سي ؟

سوال ۱۰ : ايا د نر لپاره د ښځي سره دلاس روغبړ او مصافحه رواه ده ؟

جواب : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چي زه د ښځو سره روغبړ نه كوم دلاس او د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا هم ثابت دي چي ټوله عمر د رسول الله صلى الله عليه وسلم لاس مبارك د بيگانه ښځي لاس نه دى مسه كړى، د ښځي سره دلاس روغبړ گناه ده كه څوک يې وكړي گناه يې وكړه بخښنه دې دا الله جل جلاله څخه وغواړي ، البته د ډيري سپين سري ښځي سره چي غير مشتهاته وي دلاس روغبړ رواه دى .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (حل لمسه) إذا أمن الشهوة على نفسه (إلا من أجنبية) فلا يحل مس وجهها وكفها وإن أمن الشهوة؛ لأنه أغلظ ولذا تثبت به حرمة المصاهرة وهذا في الشابة .

ولما في اللباب شرح الكتاب :وقيدنا بالشابة لأن العجوز التي لا تشتهى لا بأس بمصافحتها ومس يدها لانعدام خوف الفتنة، وتمامه في الهداية.

(الدرالمختار ج ۶ ص ۳۶۷ كتاب الحظر والاباحة ، فصل في النظر والمس / البحر الرآئق ج ۸ ص ۳۵۶ كتاب الكراهية فصل في النظر اللمس / فتاوى بينات ج ۴ ص ۴۵۴ / فتاوى محموديه ج ۱۹

ص ۲۲۷ باب الحجاب / احکام القرآن للجصاص ج ۳ ص ۵۴۶ / اللباب شرح الکتاب ج ۴ ص ۱۶۵ کتاب الحظر والاباحة مکتبه شامله)

دیوه لاس روغبړ څنګه دی

سوال ۱۱: ځیني کسان روغبړ په یوه لاس سره کوي آیا دغه په یوه لاس روغبړ دیو خاص امام مذهب دی که یا ؟ .

جواب: مصافحه په دواړو لاسونو سره کول مستحب ده ، او کله کله په یوه لاس سره هم منقول ده په دغه دواړو طریقو کې یوې طریقې ته لا غلط ویل صحیح نه ده البته کومه طبقه چې د دین سره تعلق نه لري هغه کسان په یوه لاس سره پر مصافحې باندې اصرار کوي نو لهذا د دغه کسانو سره د مشابهت نه کولو په خاطر په یوه لاس سره که مصافحه ونه سي ښه به وي . په عمدة القاري شرح د بخاري کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د دوو لاسونو د مصافحې ثبوت موجود دی او په الکوکب الدری کې دا هم ذکر دي چې په یوه لاس سره هم مصافحه منقول ده .

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : والسنة أن تكون بكلتا يديه، وبغير حائل من ثوب أو غيره وعند اللقاء بعد السلام وأن يأخذ الإبهام، فإن فيه عرقا ينبت المحبة كذا جاء في الحديث ذكره القهستاني وغيره اهـ

(تحفة الاحوذی ابواب الاستیذان والادب ، باب ماجاء في المصافحة ، فائدة في بیان ان السنة في المصافحة ان تکون بالیدة الواحدة ج ۷ ص ۵۱۸ مکتبه شامله /ردالمحتار علي الدرالمختار کتاب الحظر والاباحة ، باب الاستبراء وغیره ج۶ ص ۳۸۱ ، ۳۸۲ سعید چاپ / عمدة القاري کتاب الاستیذان باب الاخذ بالیدین ج ۲۲ ص ۳۹۳ دارالکتب العلمیة / فتاوی محمودیه ج ۲۴ ص ۳۲۸ باب السلام والقیام والمصافحة / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۱۵۲)

یو څوک چې مجلس ته راسي وایي ټوله سترې مسې .

سوال ۱۲: ځیني وختونه چې یو څوک مجلس ته راسي بیا و وایي ټوله سترې مسې مصافحه او سلام نه کوي دا خو به تاوان نه کوي ؟ .

جواب: ښه طریقه دا ده چې څوک یوه مجلس ته راسي پر سنت طریقه برابر سلام و کړي ځکه چې سلام کول سنت دی او جواب ورکول یې واجب دی . . کوم شخص چې په سلام سره شروع و کړي هغه ته الله جل جلاله شل نیکي ورکوي او څوک چې

جواب ورکړي هغه ته الله جل جلاله لس نېکۍ ورکوي . او سترې مسې کول عرفي سلام دی خو شرعي سلام نه دی یعني ثواب نه دی پر مرتب اصلي ثواب چي مرتب دی هغه پر سلام کولو باندي سته او په دغه سترې مسې سره هغه د سلام کولو ثواب نه حاصلیږي . البته د دغه سلام یوتاوان او نقصان دغه سته چي د سنت طریقې سلام کولو څخه انسان محرومه کیږي . (هذا ما عندنا والله اعلم بالصواب) .

لما فی ردالمحتار:وَاعْلَمْ أَنَّهُمْ قَالُوا إنَّ السَّلَامَ سُنَّةٌ وَاسْتِمَاعَهُ مُسْتَحَبٌّ، وَجَوَابُهُ أَيْ رَدُّهُ فَرْضُ كِفَايَةٍ، وَإِسْمَاعُ رَدِّهِ وَاجِبٌ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۴۱۳ فصل في البيع سعيد چاپ مكتبه شامله / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۱۵۱ باب السلام والمصافحة / المبسوط للسرخسي جج ۳۰ ص ۲۷۴ باب الكسب / المحيط البرهاني ج ۵ ص ۳۲۸ /البحرالرائق ج ۸ ص ۲۳۶ باب اللعب بالشطرنج والنرد)

دکافر دسلام جواب ورکول .

سوال ۱۳ : کافر ته د سلام د جواب ورکولو شرعي طریقه څنګه ده . که چیري یو کافر مسلمان ته سلام وکړي نو دهغه د سلام جواب ورکول شرعا رواه دی که یا ؟ .

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي : چي د کافر د سلام په جواب کښې یوازي(وعلیک)ویل کافي او رواه دي دي . بیا هم که چیري دیوه کافر د سلام په جواب کښې دالله جل جلاله څخه هغه ته دهدایت غوښتنه وکړل سي . او داسي جواب ورکړي چي (والسلامُ علی من اتبع الهدی) نو ښه به وي .

لما فی الفتاوی الهندية : وَإِذَا كَانَ لَهُ حَاجَةٌ فَلَا بَأْسَ بِالتَّسْلِيمِ عَلَيْهِ، وَلَا بَأْسَ بِرَدِّ السَّلَامِ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ، وَلَكِنْ لَا يُزَادُ عَلَى قَوْلِهِ وَعَلَيْكُمْ، قَالَ الْفَقِيهُ أَبُو اللَّيْثِ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى –: إنْ مَرَرْتَ بِقَوْمٍ وَفِيهِمْ كُفَّارٌ فَأَنْتَ بِالْخِيَارِ إنْ شِئْت قُلْتَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَتُرِيدُ بِهِ الْمُسْلِمِينَ، وَإِنْ شِئْتَ قُلْتَ: السَّلَامُ عَلَى مَنْ اتَّبَعَ الْهُدَى، كَذَا فِي الذَّخِيرَةِ.

(الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۲۵ كتاب الكراهية ، الباب السابع في السلام / فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۴۰۳ كتاب الجهاد/ الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۴۱۲ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع مكتبه شامله / فتاوی محموديه ج ۱۹ ص ۹۳ باب السلام والقيام والمصافحة / مرقاة المفاتيح شرح

مشكاة المصابيح ج۸ ص ۴۶۱ / حاشية النووي علي مسلم ج ۲ ص ۲۱۳ /احسن الفتاوی ج۸ ص ۱۳۴ اردو / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۱۰۴)

غایب سړي ته دټلیفون دلاري سلامونه لیږل .

سوال ۱۴ : ځیني وختونه یوکس موږ ته سلامونه په لاس راکړي یا دټلیفون دلاري یا هم داسي مخامخ راته وو ایي چي فلانکي ته مو سلامونه وایه ایا ددغه سلام رسول زموږ پر ذمه باندي ضروري دي که یا ؟ .

جواب : فقهاء کرامو دا خبره ښکاره بیان کړیده چي چاته سلام لیږل یو مسنون عمل دی . لیکن جواب ورکول یې هم یو ضروري او واجب عمل دی . لهذا که چیري یو چاته دکوم سړي دخوا څخه یو غائب سړي ته دسلام درسولو ذمه داري وروسپارل سي نو پر هغه باندي ودغه نوموړي غایب کس ته دسلام رسول واجب دي . او چاته چي سلام ورسول سي نو هغه هم باید چي اول دسلام رسوونکي ته جواب ورکړي او بیا دي دسلام لیږونکي ته دسلام جواب ورکړي مطلب دا چي په جواب کښې دي وعلیک یا وعلیه السلام ووایي .

لما ورد فی الحديث إِسْمَاعِيلُ، عَنْ غَالِبٍ، قَالَ: إِنَّا لَجُلُوسٌ بِبَابِ الْحَسَنِ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، قَالَ: بَعَثَنِي أَبِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: ائْتِهِ فَأَقْرِئْهُ السَّلَامَ، قَالَ: فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ: إِنَّ أَبِي يُقْرِئُكَ السَّلَامَ، فَقَالَ: «عَلَيْكَ السَّلَامُ، وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ ولما فی الفتاوی الهندية : وَإِذَا أَمَرَ رَجُلًا أَنْ يَقْرَأَ سَلَامَهُ عَلَى فُلَانٍ يَجِبُ عَلَيْهِ ذَلِكَ، كَذَا فِي الْغِيَاثِيَّةِ.

(سنن ابي داود ج ۴ ص ۳۵۸ بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَقُولُ: فُلَانٌ يُقْرِئُكَ السَّلَامَ بيروت چاپ / الفتاوی الهندية ج۵ ص ۴۱۵ باب الحظر والاباحة /الدر المختار مع ردالمحتار ج۶ ص ۴۱۵ باب الحظر والاباحة/ فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۴۶ باب المسائل المتفرقة)

داذان په وخت کښې خبرو کوونکو ته سلام کول څنګه دی ؟

سوال۱۵ : که چیري اذان شروع وي او خلک په خبرو باندي مصروفه وي شرعا دغه خلکو ته سلام کول سته که یا ؟

جواب : علامه ابن عابدین رحمه الله تعالی په ردالمحتار کښې تر دېرش زیات ځایونه داسي لیکلي دي چي په هغو کښې سلام کول مکروه دی . چي یو ځای او موقع دهغه ځایونو څخه يې داذان وخت ذکر کړی دی . لهذا په داسي وخت کښې چي اذان شروع وي سلام کول مکروه دی .که چیري په داسي مواقعو کښې سلام هم وسي نو جواب دسلام ورکول ضروري نه دی .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وَفِي شَرْحِ الشِّرْعَةِ: صَرَّحَ الْفُقَهَاءُ بِعَدَمِ وُجُوبِ الرَّدِّ فِي بَعْضِ الْمَوَاضِعِ: الْقَاضِي إذَا سَلَّمَ عَلَيْهِ الْخَصْمَانِ، وَالْأُسْتَاذُ الْفَقِيهُ إذَا سَلَّمَ عَلَيْهِ تِلْمِيذُهُ أَوْ غَيْرُهُ أَوَانَ الدَّرْسِ، وَسَلَامُ السَّائِلِ، وَالْمُشْتَغِلِ بِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ، وَالدُّعَاءِ حَالَ شُغْلِهِ، وَالْجَالِسِينَ فِي الْمَسْجِدِ لِتَسْبِيحِ أَوْ قِرَاءَةٍ أَوْ ذِكْرٍ حَالَ التَّذْكِيرِ. اهـ

ولما فى الفتاوى الهندية : يُكْرَهُ السَّلَامُ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ جَهْرًا، وَكَذَا عِنْدَ مُذَاكَرَةِ الْعِلْمِ، وَعِنْدَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ، وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يَرُدُّ فِي هَذِهِ الْمَوَاضِعِ أَيْضًا، كَذَا فِي الْغِيَاثِيَّةِ.

(الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۲۵ / ۳۲۶ كتاب الكراهية / ردالمحتار ج ۱ ص ۶۱۸ كتاب الصلوة باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها مطلب : المواضع اللتي لايجب فيها ردالسلام / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۷۳ باب السلام والقيام والمصافحة / الفتاوى البزازية علي هامش الفتاوى العالمكيرية ج۶ ص ۳۵۴ كتاب الكراهية نوع في السلام رشيديه / كفايت المفتي ۲ ۱ ص ۲۲۲ باب مايتعلق بالسلام واجابته)

داستاذ داحترام او ادب په خاطر هغه ته ولاړېدل څنګه کار دی ؟

سوال ۱۶ : که چیري یو څوک واستاذ ته ولاړېږي دهغه داحترام او ادب کول په خاطرنو دغه ولاړېدل واستاد ته څنګه کار دی شریعت اجازه ورکوي که یا ؟

جواب : داستاذانو بزرګانو او علماوو او شیخانو دپاره ولاړېدل داداب او احترام تقاضاده او مستحب کار هم دی لیکن که چیري هغه استاد ته ددغي ولاړې دوجي څخه په تکلیف کېدی او منع يې وکړي چي ماته مه ولاړېږئ نو بیا ولاړه نه ده پکار ځکه چي دیو چا دتکلیف څخه ځان ساتل واجب دي لکه څنګه چي نبي کریم صلی

الله علیه وسلم به مجلس ته تشریف راوړی او صحابه به ولاړ سول نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددې څخه منع وکړه نو بیا صحابه کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین په آینده کي ددغه تکلیف دوجي څخه نه ولاړېدل چي نه بایده نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته تکلیف نه وي.

عن أبي أمامة، قال: خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم متوكئا على عصا فقمنا إليه فقال: «لا تقوموا كما تقوم الأعاجم، يعظم بعضها بعضا» ....عن أنس، قال: «لم يكن شخص أحب إليهم من رسول الله صلى الله عليه وسلم، وكانوا إذا رأوه لم يقوموا لما يعلمون من كراهيته لذلك ....عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ، بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – إِلَيْهِ، وَكَانَ قَرِيبًا مِنْهُ، فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ، فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْمَسْجِدِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – لِلْأَنْصَارِ: " قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وفی الدرالمختار للحصكفي رحمه الله تعالى : وفي الوهبانية: يجوز بل يندب القيام تعظيما للقادم كما يجوز القيام،وفی ردالمحتار : أي إن كان ممن يستحق التعظيم

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۸ ص ۴۷۳ ، ۴۷۴ كتاب الادب باب القيام مكتبه رشيديه الفصل الاول / سنن ابي داود كتاب الادب ج ۲ ص ۶۳۶ مكتبه امداديه / سنن الترمذي ابواب الادب ج ۲ ص ۱۰۴ سعيد چاپ / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۷۲ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۱۲۰ باب السلام والقيام والمصافحة)

اودس كوونكي ته سلام كول څنګه دى ؟

سوال ۱۷ : چي يو كس په اوداسه مصروفه وي داوداسه اوراد او اذكار وايي بل كس راسي سلام ورته وكړي دغه سلام اودس كوونكي ته كول شرعا څنګه دی ؟

جواب : فقهآء كرامو يو څو مواقع داسي ليكلي دي چي هلته سلام كول مكروه دی يو مقام دهغه ځايونو څخه دادی چي يو كس ذكر كوي يا تلاوت دقرآن كريم او دې ته ورته نور داسي مواقع او ځايونه نو ښكاره خبره ده كله چي اودس كوونكی داوداسه اذكار او اوراد وايي داسي مشغوله كس ته سلام كول شرعا مكره ودی.

لما ذكر العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : وفي

النهر عن صدر الدين الغزي:

سلامك مكروه على من ستسمع ... ومن بعد ما أبدي يسن ويشرع مصل وتال ذاكر ومحدث ... خطيب ومن يصغي إليهم ويسمع مكرر فقه جالس لقضائه ... ومن بحثوا في الفقه دعهم لينفعوا مؤذن أيضا أو مقيم مدرس ... كذا الأجنبيات الفتيات امنع ولعاب شطرنج وشبه بخلقهم ... ومن هو مع أهل له يتمتع

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۱۶ باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة ج۵ ص ۳۲۵ ، ۳۲۶ کتاب الکراهیة رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۸۱ باب السلام والقیام والمصافحة / فتاوی کفایت المفتي ج ۱۲ ص ۲۲۲ باب ما یتعلق بالسلام واجابته)

باب السترو الحجاب

دخوریي سره دخاله ناسته او ولاړه رواه ده که یا ؟

سوال ۱ : ایا په شریعت مطهره کښې دخاله دپاره دخوریي سره ناسته ولاړه رواه ده ؟ که پرده کول ضروري ده ؟

جواب : فقهاء کرامو دحجاب او پردې په احکامو کي مختلفي درجې متعیني کړي او بیان کړي دي . په دغه سلسله کي دکتاب وسنت نصوص او دفقهاء کرامو اجتهادات چي کله مخي ته کښېښوول سي نو څلور مقرري درجې مخي ته راځي .

اوله درجه : هغه پرده ده دکومي حکم چي دبېګانه او اجنبي خلګو څخه ورکړل سوی دی . ددې حکم دادی چي په عامو حالاتو کي ددغه بېګانه خلګو څخه دښځي دمخ او دلاسونو پټول ضروري دي . البته دضرورت پر موقع باندي ښځه مخ لڅولای او ښکاره کولای سي لکه دډاکټر او طبیب سره چي کله مریضه ښځه مخامخ سي او دمخ دښکاره کولو ضرورت هم وي، یا دې ته ورته نور هغه دضرورت ځایونه چي شریعت پکښې ښځي ته دمخ دلڅولو اجازه ورکړې وي .

دوهمه درجه : دهغه قریبانو ده چي دښځي غیر محرم وي (دښځي نکاح ورسره رواه وي) هر کله چي دقریبانو تګ او راتګ کورونو ته یو ضروري او لابدي کار بلل سوی دی . نو ځکه ددوی څخه دمخ په پټولو کي یو قسم دقت او مشکل وي نو ځکه

که چیري د شهوت او بد نظرۍ خوف نه وي د داسي قریبانو مخي ته د مخ او لاسونو د لڅولو جواز معلومیږي . د دې خبري دلیل هغه روایات دي په کومو کي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم لره د حضرت اسماء رضي الله عنها لیدل معلومیږي او حضرت اسماء رضي الله عنها د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خوښینه وه او خوښینه محرم غیر ابدي او محرم مؤقت ده ، یا د فتح مکې پر موقع باندي حضرت ام هاني رضي الله عنها چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم ولیدل که چیري تتبع او تلاش وسي نو داسي نور مثالونه هم کېدای سي چي مخي ته راسي .

خو دا حکم په یوه شرط پسې مشروط او تړلی دی هغه دا چي د شهوت او بد نظرۍ اندېښنه او خوف به نه وي . که چیري د داسي قریبانو څخه د شهوت او بد نظرۍ خوف او بېره وه نو د دوی څخه هم پرده لازمه ده . دا هغه څه دي چي په فتاوی بزازیه کي یې هم د دې بیان کړی دی هغه دا چي د محرم او غیر محرم قریبانو تر مینځ فرق په پردې کولو کي هغه وخت دی چي نظر او کتل به د شهوت نه وي که چیري د شهوت اندېښنه وه نو بیا په پرده کي محرم او غیر محرم قریبان یو حکم لري یعني پرده بیا د ټولو څخه کول لازمي ده .

(والحکم بالفرق بین الاجنبي وذی الرحم اذا کان النظر لا عن شهوة فاما بالشهوة فلا یحل لاحد النظر الیه) (فتاوی بزازیه علی الهندیة ج۶ ص ۳۷۴ کتاب الاستحسان)

تنبیه : خو دا خبره هم تر لمر سپینه ده چي داسي وخت ته نن سبا موږ او تاسي را وتلي یو چي د هر طرف څخه د فتنو او ازمایښتونو ډېروالی دی نو حکم هم دغه دی او احتیاط هم په دې کي دی چي ښځي د دغه دوهم قسم قریبانو څخه هم خپله پرده وکړي .

دریمه درجه : محرم قریبان دي (هغه قریبان چي د ښځي نکاح ورسره حرامه وي).

هر کله چي د دوی سره هم د کورنیو د غړو تګ او راتګ وي.او د قرابت د حرمت کوم دیوال چي شریعت د رولی دی د هغه تر اصولو لاندي دا خبره منل سوې ده چي د چا په زړه کي چي دیوې ذرې په اندازه سلامتي او عفت و پاک لمني وي هغه د خپلو قریبانو سره هیڅکله د بدۍ او بدنیتۍ خیال او تصور نه مني . نو ځکه شریعت

د داسي قريبانو سره د پردې پر برابر نوره زياته نرمي ښوولې ده . د مثال په ډول د ښځي مخ ، لاسونه ، بازوګان ، سينه او پښې که چيري يو وخت د داسي قريبانو مخي ته لڅي هم سي نو شريعت د دې خبري جواز او ګنجايش ورکړی دی .

که څه هم د ښځي دپاره مطلوب او مقصود د پردې په باب کي هم دا خبره ده چي د خپل محرمو قريبانو څخه هم بازوګان ، سينه او پنډۍ پټي کړي خو که چيري بالفرض پر يوې موقع باندي داسي وسي نو شريعت د دې جواز ورکړی دی . او د دې خبري ثبوت خپله په قرآن کريم کي د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی :

﴿وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ﴾ (سورة النور آيت نمبر ۳۱) ژباړه : ښځي دي د خپل خاوند او پلار او خوسر او زوی او د خاوند زوی (بون زی) او وروڼو او خوريانو څخه علاوه د نورو کسانو مخي ته د خپل زيب او زينت او سينګار اظهار او ښکاره والی نه کوي . دلته په دغه آيت مبارکه کي و ښځو ته د محرمو قريبانو په مخکي د زينت د مقام د اظهار اجازه ورکړه سوې ده .

څلورمه درجه : د خاوند ده د ښځي پر ذمه باندي د خاوند و مخي ته د بدن د هيڅ حصې ستر کول واجب نه دي . البته دا خبره ضروري ده چي بيله ضرورته د جسم او بدن د قابل حيا حصو او اندامونو بې موقع او بې محله ښکاره کول شرعا هم ناخوښه کار بلل سوی دی .

د دې پوره تفصيل څخه دا خبره ښکاره سول چي خاله د خوريي دپاره په محرمات ابديه و کي راځي لهذا د خاله دپاره د خوريي څخه ستر کول لازمي او ضروري نه دی . خو دا يوه خبره قابل ذکر ده چي هر هغه ځای په کوم ځای کي چي انديښنه د شهوت او بد نظرۍ وي او ځای د تهمت وي په داسي ځايونو کي بايد پوره اهتمام د پردې او د تعلقاتو د پرې کول او ختمولو وسي . ځکه چي له بده مرغه ډيري داسي واقعاتي د مسلمانانو په ټولنه کي په مشاهده سره ليدل سوي دي چي د عدم احتياط او غلطو تعلقاتو څخه په داسي نژدې قريبانو کي غلط روابط پيدا سوي دي او بيا وروسته

نتیجه یې د دنیا او آخرت د رسوایي سبب جوړه سوې ده . الله جل جلاله دي موږ او تاسي ته د دین په هره معامله د پوره احتیاط کولو توفیق را نصیب کړي .

وقوله: { وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا لِبُعُولَتِهِنَّ } يعني: أزواجهن، { أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ } كل هؤلاء محارم المرأة يجوز لها أن تظهر عليهم بزينتها، ولكن من غير اقتصاد وتبهرج ....عن الشعبي وعِكْرِمَة في هذه الآية: { وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ } — حتى فرغ منها قال: لم يذكر العم ولا الخال؛ لأنهما ينعَتان لأبنائهما، ولا تضع خمارها عند العم والخال فأما الزوج فإنما ذلك كله من أجله، فتتصنع له ما لا يكون بحضرة غيره.

(تفسير ابن كثير ج ۶ ص ۴۴ سورة النور مكتبه شامله بيروت چاپ / تفسير روح المعاني ج ۱۳ ص ۴۰۵ سورة النور مكتبه شامله / تفسير ابي السعود ج ۶ ص ۱۹۵ مكتبه شامله / سورة النور آيت نمبر ۳۱ پاره نمبر ۱۸ / فتاوى بزازيه علي الهندية ج ۶ ص ۳۷۴ كتاب الاستحسان / احكام القرآن للجصاص ج ۵ ص ۱۷۴ / قاموس الفقه ج ۳ ص ۱۸۳ باب الحجاب)

خوابنې یا خوښینه پر موټر سایکل شاته دسپرولو حکم .

سوال ۲ : یو کس خپله خوابنې په داسي حال کښي پر موټر سایکل سپروي چي د دوی بدنونه سره موښتي وي یعني خوابنې په زوم پوري موښتې وي او س پوښتنه داده چي د خوابنې یا خوښیني پر موټر سایکل باندي د زوم یا اخښي سره جواز لري که یا ؟

جواب : کله چي یو کس د خپلي خوابنې سره پر یوه موټر سایکل باندي سپور وي او د دوی بدنونه چسپ او سره مښتي وي او حرارت او ګرموالی په هغه صورت کي چي جامې یې د و مره نازکي وې چي د نارینه د بدن څخه و ښځي ته یا د ښځي د بدن څخه و نارینه ته و رسیږي او په دوی کښي دیوه شهوت پورته هم سي نو د همېشه لپاره پر د غه کس خپله ښځه حرامیږي .

لما قال العلامة أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (المتوفى: ۶۱۶هـ) فى المحيط البرهاني في الفقه النعماني فى فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه: وكما ثبتت هذه الحرمة بالوطء تثبت بالمسّ والتقبيل والنظر إلى

الفرج بشهوة سواء كان بنكاح أو ملك أو فجور عندنا إذا كان المحل مشتهاه..... وحد، والشهوة: أن تنتشر آلته إليه بالنظر إلى الفرج أو المس إذا لم يكن منتشراً قبل هذا، وإذا كان منتشراً فإن كان يزداد قوة و... بالنظر والمسّ كان ذلك عن شهوة وما (لا) فلا، وهذا إذا كان شاباً قادراً على الجماع، وإن كان شيخاً أو عنيناً فحدُّ الشهوة أن يتحرك قلبه بالاشتهاء إن لم يكن متحركاً قبل ذلك، ويزداد الاشتهاء إن كان متحركاً فهذا هو حدّ الشهوة التي حكاها عن أصحابنا رحمهم الله، وإليه مال شيخ الإسلام المعروف بخواهر زاده وشمس الأئمة السرخسي رحمهما الله.

(الفتاوى الهندية ج ١ ص ٢٧٥ باب الحرمات بالصهرية مكتبه رشيديه / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ٢ ص ٣٠٤ فصل في المحرمات مكتبه رشيديه كويټه كتاب النكاح / المحيط البرهاني ج ٣ ص ٦٣الفصل الثالث عشر في بيان اسباب التحريم بيروت چاپ مكتبه شامله / تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ٢ ص ٤٦٩ فصل في المحرمات مكتبه اشرفيه /البحرالرائق شرح كنزالدقائق ج ٣ ص ١٧٣ فصل في المحرمات بانكاح مكتبه رشيديه/ مجمع الانهر شرح ملتقي الابحرج ١ ص ٤٨١ فصل في المحرمات كتاب النكاح مكتبه الحرمين الشريفين / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٧ ص ٢٧١)

دښځوراوتل وبازار ته بې له ضرورت شرعي او طبعي څخه.

سوال ۳: ايا په دين اسلام کښې وښځې ته بې له ضرورته وبازار ته دتللو اجازه سته که يا؟ فقهاء کرام او علماء په دغه مسئله کښې څه فرمايي ؟

جواب: له مخه تر دې چي ددغه سوال جواب ته راسو يوه خبره تاسي دتمهيد په ډول سره يو څو خبري ليکو . هغه دا چي په دين اسلام کښې چي کوم عزت او مقام الله جل جلاله وښځې ته بخښلی دی هغه عزت په بل هيڅ دين کښې وښځې ته نه دی ورکول سوی . چي يو مقام دهغه مقاماتو څخه هم دغه دی چي الله جل جلاله نارينه مکلفه کړي دي چي تاسي به خپلو ښځو ته نفقه ورکوی او دوی به په کورونو کښې قراري ناستي وي دباندي به نه راوزي چي دا هم په حقيقت کښې ددوی دپاره يو ډير غټ او ستر عزت دی نو اوس دغه دعزت مقام دلاس څخه ورکول او هغه لاندي او کښته درجه اختيارول چي په هغه سره الله جل جلاله ناراضه کيږي دا په حقيقت کښې ديو انسان دبدبختی او ناکامی دعلاماتو څخه يوه علامه ده او الله جل جلاله دي موږ او

تاسي دداسي بدبختی څخه وساتي چي زموږ په يو فعل به الله جل جلاله زموږ څخه ناراضه کيږي . آمين.

رابه سو دپوښتني جواب ته : حضرت مفتي شفيع صاحب رحمة الله عليه په معارف القرآن تفسير ج ۸ ص ۸ کښې ليکلي دي : چي په دغه آيت کښې يعني (وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى)(الله جل جلاله فرمايي چي تاسي په خپلو کورونو کښې کښېنی او دتيري زمانې دجاهليت والاوو په شان مه ګرځی) نو معلومه سول چي ديوې ښځي وتل وبازار ته بېله ضرورت شرعي يا طبعي حرام او ناروا ه دی.خو يو څو موقعې داسي دي چي په هغو کښې وښځو ته دکور څخه دوتلو اجازه ورکول سوېده . اول : دحج او عمرې دپاره وتل دمحرم سره چي دا په عبادت کښې راځي . دوهم : دخپل مور او پلار او محارمو دزيارت او ليدلو دپاره وتل يا چي کله هغوی ناجوړي وي دهغوی دپوښتني دپاره وتل دريم : که چيري ديوې ښځي دژوند او نفقې دپاره نه خاوند وي او نه هم بل سرپرست چي نفقه ورته وګټي او نه هم نور اسباب او سامان وي چي دا خپله ګذاره په وکړي نو بيا دپردې سره دحلال او رواه محنت او مزدوری دپاره وتل په خپلو شرائطو سره . البته دضرورت په موقعو کښې دوتلو دپاره شرط دادی چي دزينت او ښايست سره به نه وزي بلکي په برقعه يا پوړني کښې به پټه وزي او په هغه روزي ګټلو کښې به يي دنامحرمو نارينه وو سره خلط هم نه وي .

قال الله تعالى : وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا .

سورة الاحزاب آيت نمبر (۳۳)

أمر الله تعالى نساء النبي صلّى الله عليه وسلّم بملازمة بيوتهن، ونهاهن عن التبرج: وهو إظهار ما ستره أحسن. والخطاب وإن كان لنساء النبي صلّى الله عليه وسلّم، فقد دخل غيرهن فيه بالمعنى، ولأن الشريعة تكرر الأمر فيها بلزوم النساء بيوتهن، وعدم الخروج منها

إلا لضرورة. وإنما خوطبت نساء النبي صلّى الله عليه وسلّم بذلك تشريفا لهن، وليكونن قدوة الأمة في الطهر والصون والعفاف.

وفى التفسير المظهرى : امر بالقرار فى البيوت وعدم الخروج بقصد المعصية كما يدل عليه قوله تعالى وَلا تَبَرَّجْنَ فانه عطف تفسيرى وتأكيد معنى والتبرج من البروج بمعنى الظهور والمراد بها اظهار الزينة وإبراز المحاسن للرجال.

وقال ابن كثير : وَقَوْلُهُ: {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ} أَيِ: الْزَمْنَ بُيُوتَكُنَّ فَلَا (١) تَخْرُجْنَ لِغَيْرِ حَاجَةٍ. وَقَوْلُهُ تَعَالَى: {وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأولَى} قَالَ مُجَاهِدٌ: كَانَتِ الْمَرْأَةُ تَخْرُجُ تَمْشِي بَيْنَ يَدَيِ الرِّجَالِ، فَذَلِكَ تَبَرُّجُ الْجَاهِلِيَّةِ.وَقَالَ قَتَادَةُ: {وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأولَى} يَقُولُ: إِذَا خَرَجْتُنَّ مِنْ بُيُوتِكُنَّ –وَكَانَتْ لَهُنَّ (١) مِشْيَةٌ وَتَكَسُّرٌ وتغنُّج –فَنَهَى اللَّهُ عَنْ ذَلِكَ.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنِ الْمَرْأَةَ عَوْرَةٌ، فَإِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ، وَأَقْرَبُ مَا تَكُونُ (٨) بروْحَة رَبِّهَا وَهِيَ فِي قَعْر بَيْتِهَا".رواه الترمذى

وفى احكام القرآن للجصاص : وَفِيهِ الدَّلَالَةُ عَلَى أَنَّ النِّسَاءَ مأمورات بلزوم الْبُيُوتِ مَنْهِيَّاتٌ عَنْ الْخُرُوجِ .

(معارف القرآن ج۸ ص ۸ مكتبه حبيبيه / احكام القرآن للجصاص سورة الاحزاب آيت ۳۳ / التفسير المنير ج ۱۳ ص ۲۲ بيروت . تفسير ابن كثير سورة الاحزاب آيت ۳۳ / التفسير المظهرى سورة الاحزاب آيت ۳۳ / احكام القرآن لمفتي محمد شفيع صاحب ج ۳ ص ۴۸۱)

دلېوره ښځه ستر کول فرض دی که یا؟

سوال: ۴ په یوه کور کښې ځو وړونه او سیږي چې په هغوی کښې یو نابالغ دی او دریم وړونه بالغ او کوردار دي او دوی یو ځای ډوډی خوري یو ځای کښېني خو په دوی کښې یو وړور وایي چې باید موږ ستر سره وکړو یعني وربندار او لېور باید ستر سره وکړي خو دا نور وړونه او مور و پلار یې نه مني د دوی په وینا چې دا بې اتفاقي ده او س پوښتنه داده چې دلېوره او وربنداري په مېنځ کښې ستر سته که یا او په دې صورت کښې د مور او پلار خبره منل لازمه ده که یا؟

جواب: دلېوره ستر دورېنداري څخه او دورېنداري ستر دلېوره څخه فرض دی ځکه چي په حديث شريف کښي راځي چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم يوه ورځ وفرمايل چي تاسي پر ښځو باندي مه داخلېږئ يو انصاري صحابي عرض وکړی چي يارسول الله دليوره په هکله ستاسي څه فرموده ده ؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل ليور هم مرګ دی . نو پکار داده چي لېور او ورېندار ستر او پرده سره وکړي او دمور وپلار خبره منل او ددوی عزت او احترام کول هم لازم دی خو دشريعت په دائره کښي يعني په کومو کارو کښي چي دشريعت حکمونه ماتېدل نه وي پکښې نو دهغو خبري منل لازم دي البته پرده کول په ښکاره او واضحو اياتونو او صحيح احاديثو سره ثابته ده نو په دې خاطر دمور او پلار خبره منل نه ده پکار خو دمور او پلار سره بده رويه کول يا دوی ته بد او رد ويل هم نه دي پکار بايد داسي طريقه اختيار ه کړل سي چي پرده هم وسي او مور وپلار هم خوا بدي نه سي هغه دا چي په کومه کورنۍ کښې ورونه ګډ ژوند کوي هلته دي ښځي ډيري آزادي دنارينه وو مخ ته نه راځي بلکي دپوړني پلو مخ ته نيولی دي تيريږي راتيريږي په بې تکلفۍ سره دي خبري نه سره کوي او نه دي په تنهايي او يوازي والي کي سره کښېني او که چيري دخدمت ضرورت وو نو دي هم خپل تروس او طاقته پرده وکړل سي همداسي حضرت مولانا يوسف لدهيانوي شهيد رحمة الله عليه ليکلي دي . والله اعلم بالصواب .

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ» فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَرَأَيْتَ الحَمْوَ؟ قَالَ: «الحَمْوُ المَوْتُ»رواه البخاري ولما قال العلامة ابن حجررحمه الله تعالی زَاد بن وَهْبٍ فِي رِوَايَتِهِ عِنْدَ مُسْلِمٍ سَمِعْتُ اللَّيْثَ يَقُولُ الْحَمْوُ أَخُو الزَّوْجِ وَمَا أَشْبَهَهُ مِنْ اقارب الزَّوْج بن الْعَمِّ وَنَحْوِهِ وَوَقَعَ عِنْدَ التِّرْمِذِيِّ بَعْدَ تَخْرِيجِ الْحَدِيثِ قَالَ التِّرْمِذِيُّ يُقَالُ هُوَ أَخُو الزَّوْجِ كُرِهَ لَهُ أَنْ يَخْلُوَ بِهَا قَالَ وَمَعْنَى الْحَدِيثِ عَلَى نَحْوِ مَا رُوِيَ لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ فَإِنَّ ثَالِثُهُمَا الشَّيْطَانَ اهـ وَهَذَا الْحَدِيثُ الَّذِي أَشَارَ

إِلَيْهِ أَخْرَجَهُ أَحْمَدُ مِنْ حَدِيثِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ وَقَالَ النَّوَوِيُّ اتَّفَقَ أَهْلُ الْعِلْمِ بِاللُّغَةِ عَلَى أَنَّ الْأَحْمَاءَ أَقَارِبُ زوج الْمَرْأَة كأبيه وَعَمه وأخيه وبن أَخِيه وبن عَمه وَنَحْوهم

(الصحيح البخاري ج ۲ ص ۷۸۷ كتاب النكاح قديمي چاپ / فتح الباري ج ۹ ص ۳۳۱ كتاب النكاح مكتبه دارالفكر بېروت /الصحيح المسلم ج ۲ ص ۲۱۶ كتاب النكاح سعيدچاپ /جامع الترمذي ج ۱ ص ۲۲۰ باب كراهيةالدخول علي المغيبات سعيد چاپ/ مرقات المفاتيح ج ۶ ص ۲۷۸ كتاب النكاح رشيديه/الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۶ ص ۳۶۸ فصل في النظر والمس سعيد چاپ/ تنوير الابصار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۰۶ باب شروط الصلوة سعيد چاپ/فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۱۷۵ باب الحجاب/ كفايت المفتي ج ۱۲ ص ۲۵۷ باب الحجاب /ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۸ ص ۷۴ باب الحجاب)

كه يوازي اوفقط دښځي مخ او لاسونه لڅ وي داپه بې پرده ګي كي راځي ؟

سوال ۵: كه چيري ښځه د سر څخه نيولې بيا تر نوكانو پوري په پرده كښې وي فقط مخ اولاسونه يې لڅ وي شرعًا داسي ښځي ته د بې سترۍ نسبت كېږي كه يا آيا مخ اولاسونه په ستر كي داخل دي كه يا كه داخل دي دليل يې څه دی؟

جواب : مسلمانه ښځه شرعًا مكلفه ده چي د خپل ټوله جسم او بدن پرده وكړي او په بدن كي د مخ پرده هم شامله ده او دغه حكم د ستر د قرآن كريم د اياتو نو او د نبي كريم صلی الله عليه وسلم په احاديثو سره او د امامانو په اجماع سره ثابت دي د ښكاره زينت څخه مراد برقع يا لوی پوړنی دی.

وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ .

(عن عائشة قَالَت كَان الرُكبَان يَمُرُون بِنَا وَنحَنُ مَعَ رَسُول الله مُحرمَات فَاذا اَحاذُونا سَدلت اِحدَانا جلبَابِهَا مِن رَاسِهَا عَلى وَجههَا فَاذَا جَاوَزنا كَشفنَاه

(رواه احمد و ابوداؤد وابن ماجه)

(عن انس قال قال عُمر بن الخطاب يَا رَسول الله ان نسَاءكَ يَدخل عَليهِن البر والفَاجِر فَلو امرت امهات المؤمِنين بِالحجَاب فَانزلَ الله آية الحِجَاب مُتفق عَليه. (عَن اُم سَلمة اِنها كانَت عِندَ رَسُول الله معَ مَيمُونَة قَالت بَينَمَا نَحنُ عِندَها اَقبلَ اِبن اُم مَكتُوم وَ ذلكَ بَعدَ اَن اَمرَ بِالحِجَاب فَقَالَ احتجِبَا مِنه فَقُلتُ يَا رَسول الله اَليس هُوَ رَجُلٌ اَعمى لا يُبصِرُنا وَلا

يعرفنَا قال افعميا وَان اَنتما لَستُما تبصِرَانه (رواه الترمذي)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (امتنع نظره إلى وجهها) فحل النظر مقيد بعدم الشهوة وإلا فحرام وهذا في زمانهم وأما في زماننا فمنع من الشابة قهستاني وغيره .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج۶ ص ۳۷۰ کتاب الحظر والاباحة فصل في النظر والمس مکتبه شامله / احکام القرآن للجصاص سورة الاحزاب ۵۹ ج۳ ص ۵۴۶ قديمي چاپ خانه / نفسير ابن کثير ج۳ ص ۶۸۴ سورة الاحزاب / فتاوی محموديه ج۱۹ ص ۱۷۰ باب الحجاب)

دښځي سلام کول نا محرمه خلګوته .

سوال ۶ : آيا يوه ښځه کولای سي چي ويوه نامحرمه کس ته مثلاً دوکاندار يا بل کس ته سلام وکړي ؟

جواب : ددغي مسئلې جواب په اصل کښي ديوې بلي مسئلې پرجواب باندي موقوف دی هغه دا چي دښځي اواز شرعاً عورت دی که يا ؟

حضرت مفتي محمد شفيع رحمة الله عليه په احکام القرآن ۳ ټوک ۴۸۲ صفحه کښي فرمايي چي د محققينو علماوو تحقيق دادی چي دښځي آواز فی نفسه عورت نه دی البته که چيري سبب دفتنې جوړيدی نو بيا عورت دی نو دا بيا دسدِ ذرائع دقبيله څخه دی .

او دا خبره نن سبا هرچاته ښه معلومه ده چي شيطان هر طرف ته دفتنو جالونه غوړولي دي ښه او بد سره ګډوډ سوي دي او فواحش خلک په فخر او ګوندی سره کوي او منهيات خلګو خپل تجارت ګرځولي دي نو څنګه به يو څوک په داسي حالاتو کښي په اطمينان او يقين سره دفتنې څخه محفوظه وي مګر دا چي الله ﷻ وغواړي هغه بيا جلا خبره ده .

نو جواب دمسئلې دادی چي دښځي سلام ونا محرمه کس ته شرعاً درست او روا ه نه دی او پرده او ستر هم په دغه لاره کښي دی چي ښځه ونا محرمه سړي ته سلام ونه کړي ځکه چي دفتنې خطر يقيني دی . او بله دا چي احتياط هم په دغه کښي دی چي

هرشخص باید مطلق د فتنې د اسبابو څخه اجتناب او پرهیز وکړي . او حدیث شریف هم دی چي نبي کریم ﷺ فرمایي تاسي د تهمت د ځایونو څخه ځانونه وساتی .

[ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة ج ۶ ص ۴۶۵ سعید چاپ . فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۸۷ . احکام القرآن دمفتي محمد شفیع رحمة الله علیه ج ۳ ص ۴۶۷ / ۴۸۲]

دنارینه آواز دښځي دپاره عورت دی که یا ؟

سوال ۷ : ایا دنارینه آواز د ښځي دپاره عورت دی که یا ؟ او ښځه د نارینه په آواز کښي نعت شریف ، یا حمد شریف د ترنم په شکل کښي اوریدلای سي که یا ؟

جواب : بنفسه د نارینه آواز د ښځي دپاره عورت نه دی. لیکن که چیري د دغه آواز نازکوالی او نرموالی د ښځي دپاره سبب د فتنې جوړیدی نو د **سداً للذرائع** د قبیله څخه یي اوریدل د نارینه په آواز کښي ښه نه دي باید لیري والی ځیني وسي . امام نووی رحمة الله علیه په شرح کښي د مسلم شریف او قاضی عیاض رحمة الله علیه په شفا کتاب کښي هم دغه خبره اختیاره کړیده . البتة وعظ و نصیحت او اصلاحي بیانات د دې حکم څخه مستثنی دي هغه اوریدلای سي .

عن أنس، أن النبي صلى الله عليه وسلم، أتى على أزواجه وسواق يسوق بهن يقال له: أنجشة، فقال: «ويحك يا أنجشة رويدا سوقك بالقوارير» قال: قال أبو قلابة: «تكلم رسول الله صلى الله عليه وسلم بكلمة لو تكلم بها بعضكم لعبتموها عليه»

وَفِي هَذِهِ الْأَحَادِيثِ جَوَازُ الْحُدَاءِ وَهُوَ بِضَمِّ الْحَاءِ مَمْدُودٌ وَجَوَازُ السَّفَرِ بِالنِّسَاءِ وَاسْتِعْمَالِ الْمَجَازِ وَفِيهِ مُبَاعَدَةُ النِّسَاءِ مِنَ الرِّجَالِ وَمِنْ سَمَاعِ كَلَامِهِمْ إلا الوعظ ونحوه

[مسلم شریف باب رحمة النبي صلي الله علیه وسلم للنسآء / شرح النووی لمسلم ج ۱۵ ص ۸۰ بیروت / فتح الملهم شرح مسلم ج ۱۰ ص ۴۶۶ بیروت چاپ / احکام القرآن دمفتي محمد شفیع رحمة الله علیه ج ۳ ص ۲۵۰]

ښځي ته ددیني پوښتنو دپاره راډیو ته زنګ وهل رواه دی که یا ؟

سوال ۸ : آیا یوه ښځه کولای سي چي ویوه نامحرمه کس ته ددیني پوښتنو دپاره زنګ ووهي او سلام ورته وکړي ؟

جواب : ددغي مسئلې جواب په اصل کښې دیوې بلې مسئلې پرجواب باندې موقوف دی هغه دا چې دښځې اواز شرعاً عورت دی که یا ؟
حضرت مفتي محمد شفیع رحمه الله علیه په احکام القرآن ۳ ټوک ۴۸۲ صفحه کښې فرمایي چې دمحققینو علماوو تحقیق دادی چې دښځې آواز فی نفسه عورت نه دی البته که چیرې سبب دفتنې جوړیدی نو بیا عورت دی هغه نو بیا عام دی که ددینې پوښتنې دپاره وي او که دددنیوي پوښتنې دپاره وي او که سبب دفتنې نه جوړیدی نو بیا شرعا کوم مشکل نه لري .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فی ردالمحتار على الدرالمختار : ولا يظن من لا فطنة عنده أنا إذا قلنا صوت المرأة عورة أنا نريد بذلك كلامها، لأن ذلك ليس بصحيح، فإذا نجيز الكلام مع النساء للأجانب ومحاورتهن عند الحاجة إلى ذلك، ولا نجيز لهن رفع أصواتهن ولا تمطيطها ولا تليينها وتقطيعها لما في ذلك من استمالة الرجال إليهن وتحريك الشهوات منهم، ومن هذا لم يجز أن تؤذن المرأة. اهـ. قلت: ويشير إلى هذا تعبير النوازل بالنغمة

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۴۰۶ مطلب في ستر العورة مکتبه شامله /فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۱۹۳ باب الحجاب مکتبة الفاروق کراچي /احکام القرآن دمفتي محمد شفیع رحمة الله علیه ج ۳ص ۴۶۷ / ۴۸۲)

دخورزې او وریرې دمیره څخه ستر او پرده سته که یا ؟

سوال ۹ : په شریعت مقدسه کښې دوریرې او خورزې دمیره څخه ستر او پرده سته که یا ؟

جواب : ددې پوښتنې جواب به په داسې اصولو سره پیل کړو چې که چیرې په هغه اصولو باندې موږ او تاسې پوه سو نو بیا به دا ضرورت نه سي پیدا چې دچا څخه پرده کول لازمه ده او دچا څخه نه ده لازمه . هغه اصول دادي چې : پرده دهغه چا څخه واجب ده چې یو وخت هم او په یوه ډول سره هم دهغه سره نکاح صحت ولري نو داسي کس محرم نه بلل کیږي . بلکي دده څخه پرده کول ضروري ده . **دمثال په ډول : دماما زوی ، داکازوی ، دخاله زوی ، دعمه زوی ، دعمه میړه ،دخاله میړه ، لېور ،**

اجنبي (يعني دخور ميړه) داندرور ميړه او داسي کسان چي دهغو سره يو وخت لا نکاح کول رواه وي . دا ټوله دپردې په حکم کښې داخل دي يعني ددوی څخه پرده کول په داسي طريقه سره لازم او فرض ده څنګه چي ديو پردي او ناولده سړي څخه پرده لازمه ده ځکه چي اکثر وختونه فتنې او فساد هم دداسي کسانو سره دخلط او نه پردې کولو دوجي څخه لازميږي .

او هغه کسان چي دهغوی سره هيڅ کله په هيڅ صورت کښې نکاح صحت نه لري دهغوی څخه پرده کول ضروري نه ده هغه نو که نسبي وي : لکه پلار ، ورور ، اکا ، ماما ، نيکه ، که دمور پلار وي او که دپلار پلار وي ، همداشان دښځي خوريي يعني دخور زوی ، او وراره يعني دورور زوی ، او **که دخوسرګني له جهته څخه شناخته وي :** لکه زوم ، خسر ، **يا درضاعت (يعني دشيدو درودلو دجهته څخه شناخته وي)** لکه رضاعي ورور ، پلار وغيره . ددغه ذکر سوو کسانو او داسي نورو کسانو څخه پرده کول واجب نه ده .البته ددغه آخري دوو ډلو (**يعني رضاعي او دخوسرګني له طرفه شناخته وو**) څخه په اوسنی زمانه کښې فقهاوو دفتنې دوجي پرده واجب کړې ده .

وفی احکام القرآن للجصاص رحمه الله تعالی : واخواتکم وعماتکم وخالاتکم .... فافرد بنات الاخ .... بنات الاولاد ....

قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالی : والخلوة بالمحرم مباحة الا الاخت رضاعاً والصهرة الشابة .....

وقال العلامة ابن عابدين الشامی رحمه الله تعالی : وفروع ابويه وان نزلن .... ولا خوات .

(احکام القرآن للجصاص ج ۲ ص ۱۷۷ / ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸ طبع سعيد / ردالمحتار ج ۵ ص ۲۳۶ / احسن الفتاوی ج ۸ ص ۳۶)

دنامحرمو ښځو سره ناسته پاسته کول .

سوال ۱۰ : ايا نارينه ته داروا ده چي دنامحرمو ښځو سره ناسته پاسته او خلط ملط ژوند وکړي که يا ؟

جواب: دین اسلام یو داسي جامع او مانع دین دی چي د هر انسان د عزت او ابرو او عفت وعصمت ذمه داري او پا ملرنه یې پر غاړه اخیستې ده .او په کومو عواملو سره چي د انسان پر عزت او ابرو باندي تیری کیږي او هغه تر پښو لاندي کیږي د هغه څخه اسلام په سختی سره منع کړېده . نو د مسئلې جواب هم دغه دی چي په دین اسلام کښې یوه نارینه ته د دې خبري جواز نسته چي د نامحرمه ښځي سره ګډه او خلط ژوند او رابطه یعني ناسته ولاړه وکړي . همدا شان یوې ښځي ته په دین اسلام کښې د دې خبري اجازه نه ده ورکول سوې چي د نامحرمه نارینه سره اړیکي او د هغه سره ناسته ولاړه او تعلقات وساتي بلکي ښځي ته الله جل جلاله دا عزت وربخښلی دی چي دا یې عورت او د ستر او پټېدو شی بللی دی .

وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثالثهما الشَّيْطَان» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ

وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ

(وَعَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ) وَفِي نُسْخَةٍ صَحِيحَةٍ أَنَّ النَّبِيَّ (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا يَخْلُوَنَّ) أَيِ الْبَتَّةَ الْبَتَّةَ (رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ) أَيْ أَجْنَبِيَّةٍ (إِلَّا كَانَ ثَالِثُهُمَا الشَّيْطَانَ) بِرَفْعِ الْأَوَّلِ وَنَصْبِ الثَّانِي وَيَجُوزُ الْعَكْسُ وَالِاسْتِثْنَاءُ مُفَرَّغٌ وَالْمَعْنَى يَكُونُ الشَّيْطَانُ مَعَهُمَا يُهَيِّجُ شَهْوَةَ كُلٍّ مِنْهُمَا حَتَّى يُلْقِيَهُمَا فِي الزِّنَا قَالَ الطِّيبِيُّ - رَحِمَهُ اللَّهُ -: لَا يَخْلُوَنَّ جَوَابُ الْقَسَمِ وَيَشْهَدُ لَهُ الِاسْتِثْنَاءُ لِأَنَّهُ يَمْنَعُهُ أَنْ يَكُونَ نَهْيًا إِذِ التَّقْدِيرُ لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ كَائِنَيْنِ عَلَى حَالٍ مِنَ الْأَحْوَالِ إِلَّا عَلَى هَذِهِ الْحَالَةِ وَفِيهِ تَحْذِيرٌ عَظِيمٌ فِي الْبَابِ. (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ) .

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۵ ص ۲۰۵۶ باب النظر / مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۹۳۵ الفصل الثاني / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۵۱ باب المسائل المتفرقة)

نازک پوړني پر سر کوم خو په کور کښې نامحرمه سړي نه لرم .

سوال ۱۱: زه دیوې زناني په حیث دغه یو سوال لرم چي زه په کور کښې نامحرمه سړی نه لرم او نه هم زموږ کورته د نامحرمو کسانو تګ راتګ سته ایا ماته شریعت

دغه اجازه راکوي چې زه نازک پوړنی پر سر کړم او د کور کارونه په دغه پوړني کښې وسرته ورسوم که یې نه راکوي ؟

جواب : د ښځو د پاره الله جل جلاله د پردې اوله درجه په قرآن کریم کښې په کورو کښې اوسېدل بیان کړېده . یعني ښځې دې په خپلو کورونو کښې ناستې اوسي دباندې دې بېله ضرورت شرعي او طبعي نه راوزي . دوهمه درجه داده چې کله دوی د ضرورت په خاطر دباندې راوزي نو د سر څخه نیولې تر پښو پورې دې برقع یا اوږد پوړنی پر سر کړي چې د نامحرمو کسانو نظر پر ونه لګېږي . او پاته سوه په کور کښې که چیرې نامحرمه کسان نه وي نو د دې ګنجایش سته چې ښځه نازک پوړنی پر سر کړي . خو بیا هم افضل هغه پوړنی دی چې ستر ښه په کښې خوندي وي او په دې کښې د ماشومانو انجونو د پاره په مستقبل کښې د مور له طرفه یو قسم عملي تعلیم هم دی چې دوی هم په دې عادت کېږي او د افکر ورسره پیدا کېږي چې مور خو داسې سترمند پوړنی پر سر کوی نو موږ بیا ولې داسې نازک پوړني پر سر کوو .

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا (۵۹)وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا (۳۳) وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا (۳۴) (سورة الاحزاب پاره نمبر ۲۲)

(معارف القرآن اوومه حصه ص ۲۱۱ تا ۲۱۳ / مسائل معارف القرآن ص ۱۳۸)

د (مُتَبَنّيٰ) او خولې بللي زوی څخه هم ستر لازم دی .

سوال ۱۲ : که چیرې یو څوک د شفاخانې څخه یو کوچنی ماشوم بوزي او بیا یې د ډبې په شیدو سره یا د بل چا په شیدو سره رالوی کړي او د زوی په نامه سره ورته وایي چې دا زموږ زوی دی او بیا ځوان سي نو ایا د دغه د هلک څخه بیا پرده کول لازم ده که یا ؟

جواب : که چیرې د دغه کس ښځې و دغه هلک ته شیدې او تی نه وي ورکړی نو د دوی پرده کول د ده څخه لازمه ده ځکه چې دغه هلک شرعاً بیګانه بلل کیږي او په

زوی، زوی، ورته ویل په دې سره دی په حقیقت کښې نه زوی، کیږي او نه هم په آینده کښې د دغه ظاهري پلار میراث وړی سي . او د دغه هلک نکاح د دغه په (نامه پلار) د لوڼو سره هم رواه ده حتی دغه په (نامه پلار) که مړسي د ده د ښځې سره د دغه هلک نکاح رواه ده . خلاصه دا چي دا یو بیګانه کس دی، پرده ځیني کول فرض او لازم ده. او بل طرف ته بیا نن سبا شیطان د فتنو او خواهشاتو نفسانیو و جالونه غوړولي دي باید او ضرور د دغه هلک څخه پرده وسي او د کوره څخه خارج کړل سي که نه نو او به چي تر وار تیري سي بیا ارمان هیڅ فایده نه کوي .

وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ ذَلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْوَاهِكُمْ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ (٥) ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُمْ بِهِ وَلَكِنْ مَا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا (٥) سورة الاحزاب

وقوله تعالى وَما جَعَلَ أَدْعِياءَكُمْ أَبْناءَكُمْ قِيلَ إِنَّهُ نَزَلَ فِي زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ تَبَنَّاهُ فَكَانَ يُقَالُ لَهُ زَيْدُ بْنُ مُحَمَّدٍ وَرُوِيَ ذَلِكَ عَنْ مُجَاهِدٍ وَقَتَادَةَ وَغَيْرِهِمَا قَالَ أَبُو بَكْرٍ هَذَا يُوجِبُ نَسْخَ السُّنَّةِ بِالْقُرْآنِ لِأَنَّ الْحُكْمَ الْأَوَّلَ كَانَ ثَابِتًا بِغَيْرِ الْقُرْآنِ وَنَسَخَهُ بِالْقُرْآنِ وقَوْله تَعَالَى ذلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْواهِكُمْ يَعْنِي أَنَّهُ لَا حُكْمَ لَهُ وَإِنَّمَا هُوَ قَوْلٌ لَا مَعْنَى لَهُ وَلَا حَقِيقَةَ وقَوْله تَعَالَى ادْعُوهُمْ لِآبائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آباءَهُمْ فَإِخْوانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوالِيكُمْ فِيهِ إِبَاحَةُ إِطْلَاقِ اسْمِ الْأُخُوَّةِ وَحَظْرُ إِطْلَاقِ اسْمِ الْأُبُوَّةِ مِنْ غَيْرِ جِهَةِ النَّسَبِ وَلِذَلِكَ قَالَ أَصْحَابُنَا فِيمَنْ قَالَ لِعَبْدِهِ هُوَ أَخِي لَمْ يُعْتَقْ إذَا قَالَ لَمْ أُرِدْ بِهِ الْأُخُوَّةَ مِنْ النَّسَبِ لِأَنَّ ذَلِكَ يُطْلَقُ فِي الدِّينِ وَلَوْ قَالَ هُوَ ابْنِي عَتَقَ لِأَنَّ إطْلَاقَهُ مَمْنُوعٌ إلَّا مِنْ جِهَةِ النَّسَبِ وَرُوِيَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ ادَّعَى إلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ غَيْرُ أَبِيهِ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ

(معارف القران ج ۷ پاره ۲۱ ص ۱۳۱ مکتبه حبیبیه / التفسیر المنیر ج ۱۱ ص ۲۵۶ سورة الاحزاب مکتبه حبیبیه / احکام القرآن ج ۵ ص ۲۲۲ بیروت چاپ)

د نارینه سره د ښځې دلاس روغبړ کول شرعاً روا ایښت لري که یا ؟

سوال ۱۳ : ایا دنارینه سره دښځې دلاس روغبړ کول شرعاً رواه دی که یا ؟

جواب : دنارینه سره دښځې دلاس روغبړ او مصافحه په څلورو مذاهبو کښې ناروا عمل بلل سوی دی . په حدیث شریف کښې دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چي زه دښځو سره دلاس روغبړ نه کوم او دا خبره هم ثابته ده چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم ټوله عمر دا جنبي او غیر محرم ښځو سره دلاس روغبړ نه دی کړی . دامام شافعي رحمة الله علیه دمذهب علماء فقط دسپین سري غیر مشتهاتي ښځې سره دلاس دروغبړ اجازه ورکوي .

وفی الذرالمختار : (وَمَا حَلَّ نَظَرُهُ) مِمَّا مَرَّ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى (حَلَّ لَمْسُهُ) إذَا أَمِنَ الشَّهْوَةَ عَلَى نَفْسِهِ وَعَلَيْهَا «لِأَنَّهُ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – كَانَ يُقَبِّلُ رَأْسَ فَاطِمَةَ» وَقَالَ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ –: «مَنْ قَبَّلَ رِجْلَ أُمِّهِ فَكَأَنَّمَا قَبَّلَ عَتَبَةَ الْجَنَّةِ» وَإِنْ لَمْ يَأْمَنْ ذَلِكَ أَوْ شَكَّ، فَلَا يَحِلُّ لَهُ النَّظَرُ وَالْمَسُّ كَشْفُ الْحَقَائِقِ لِابْنِ سُلْطَانٍ وَالْمُجْتَبَى (إلَّا مِنْ أَجْنَبِيَّةٍ) فَلَا يَحِلُّ مَسُّ وَجْهِهَا وَكَفِّهَا وَإِنْ أَمِنَ الشَّهْوَةَ؛ لِأَنَّهُ أَغْلَظُ وَلِذَا تَثْبُتُ بِهِ حُرْمَةُ الْمُصَاهَرَةِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل في النظر والمس ج۵ ص ۲۶۰ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج۸ ص ۳۵۶ فصل في النظر والمس رشیدیه / احکام القرآن للجصاص ج ۳ ص ۵۴۶ / فتاوی بینات ج۴ ص ۴۵۴ / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۲۲۶ باب الحجاب/ تبیین الحقائق ج ۷ ص ۴۳ فصل في النظر والمس)

داخښې او خوښینې تر مېنځ ستر او پرده کول لازم دي که یا؟

سوال ۱۴ : زموږ دپښتنو دټولني رواج او عادت داسي راروان دی چي خوښینه داخښي څخه ستر نه کوي او بیا وایي چي دا زما دخور خاوند دی څه پرواه لري او س پوښتنه داده چي دخوښیني خبري کول او تګ کول او پرده نه کول داخښي څخه رواه ده که یا ؟

جواب : شریعت دپردې په باب کښې یوه ضابطه او قانون لري که چیري څوک په دغه قانون او ضابطه باندي پوه سي نو خپله به هغه ټوله صورتونه وپیژني چي په کوم صورت کښې پرده لازمه ده او په کوم کښې نه ده لازمه او دچا څخه پرده لازمه ده او دچا څخه نه ده لازمه . **ضابطه داده** (چي دهر هغه کس څخه دښځې پرده کول شرعاً

لازمه ده دکوم سره چي یو وخت نه یو وخت دښځي نکاح رواه وي) اوس به دغه ضابطې ته لږ شرح په مثالونو سره ورکړو

مثلا دخوښيني دپاره داخښي شخه پرده کول فرض ده ځکه چي که چیري ددغي ښځي خور چي ددې داخښي په نکاح کښې مړه سي نو بیا ددې خوښيني نکاح ددغه اخښي سره رواه ده. همداشان دماماښځه چي موږ مامي ورته وایو پر دې لازمه ده چي دخپل دخاوند دخوریي شخه ستر وکړي ځکه چي مامي وخوریي ته رواه ده. او همداشان داکا ښځه پر دې باندي لازمه ده چي دخپل خاوند دوراره شخه ستر وکړي ځکه چي که اکا مړسي دغه وراره ته دخپل اکا دښځي سره نکاح رواه ده.

لما قال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وَالْمَحْرَمُ مَنْ لَا يَجُوزُ لَهُ مُنَاكَحَتُهَا عَلَى التَّأْبِيدِ بِقَرَابَةٍ أَوْ رَضَاعٍ أَوْ صِهْرِيَّةٍ كَمَا فِي التُّحْفَةِ . وقال الملا على القاري فى مرقاة المفاتيح : (وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ) أَيْ عِنْدِ الْمُحَرَّمَاتِ عَلَى طَرِيقِ التَّخْلِيَةِ أَوْ عَلَى وَجْهِ التَّكَشُّفِ (قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَرَأَيْتَ الْحَمْوَ....... وَهُمْ أَقَارِبُ الزَّوْجِ غَيْرِ آبَائِهِ وَأَبْنَائِهِ قَالَ الْقَاضِي: الْحَمْوُ قَرِيبُ الزَّوْجِ كَابْنِهِ وَأَخِيهِ ... (قَالَ الْحَمْوُ الْمَوْتُ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۶۴ کتاب الحج / مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح باب النظر الي المخطوبة وبيان العورات الفصل الاول ج ۶ ص ۲۷۸ مکتبه رشيديه /فيض القدير ج ۵ ص ۲۴۲۵ / الدرالمختار كتاب الحظر والاباحة فصل في النظر والمس ج ۶ ص ۳۶۸ /فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۲۰۸ باب الحجاب اردو / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۴۵ كتاب الحج)

دښځو خبري دنامحرمه خلګو سره یا رسنیو ته زنګونه وهل .

سوال ۱۵ : نن سبا دراډیو وغیره رسنیو ته په ځیني پروګرامونو کښې ځیني ښځي زنګونه وهي او بیا دهغه کس سره چي دغه خپرونه پر مخ بیایي په نازاو نخرو سره خبري کوي او دسندرو او موسیقۍ غوښتنه ځیني کوي دشریعت دنګاه شخه دښځي خبري کول دنا محرم نارینه سره او بیا داسي خبري کول چي هغه سبب دفتنې او فساد جوړیږي شریعت مقدسه دغه عمل ته په کوم نظر سره ګوري ؟ .

جواب : له مخه تردې چې د سوال وجواب ته راسو د تمهيد (يعني وسوال ته دلاري هواروولو د پاره) په شکل به اول وارد ښځي داواز حکم د شريعت د نګاه څخه وګورو چې د ښځي اواز في نفسه عورت دى که يا او بيا به ودغه سوال ته جواب ووايو چې دغه د فتنو په دور کښې يې څه حکم دى ؟

حضرت مفتي محمد شفيع رحمة الله عليه په احکام القرآن ۳ ټوک ۴۸۲ صفحه کښې فرمايي چې د محققينو علماوو تحقيق دادى چې د ښځي آواز فى نفسه عورت نه دى البته که چيري سبب د فتنې جوړيدى نو بيا عورت دى نو دا بيا د سدِ ذرائع د قبيله څخه دى .

او دا خبره نن سبا هرچا ته ښه معلومه ده چې شيطان هر طرف ته د فتنو جالونه غوړولي دي ښه او بد سره ګډوډ سوي دي او فواحش خلک په فخر او ګوندى سره کوي او منهيات خلګو خپل تجارت ګرځولي دي نو څنګه به يو څوک په داسي حالاتو کښې په اطمينان او يقين سره د فتنې څخه محفوظه وي مګر دا چې الله جَلَّ جَلَالُهُ وغواړي هغه بيا جلا خبره ده .

نو جواب د مسئلې دادى : چې دغه د نن سبا پر طرز او طريقه باندي چې کوم پروګرامونه د موسيقۍ روان دي اوله خو د شريعت د نګاه څخه دغه موسيقي اوريدل او بيا دغه په نورو خلګو باندي اوريدل دا دواړه کبيره ګناهونه دي چې انسان يې د ارتکاب د وجي څخه فاسق ګرځي . او بيا نور ودغه ګناه ته اشاعت او عام والى ورکول چې د نامحرمو ښځو سره اړيکي بسته کول د هغوى سره پر ټليفون باندي په ناز او نخرو سره خبري کول . او بيا د فسق او نن سبا بد نامه ميني په نامه باندي د هغوى څخه شعرونه اوريدل يا خپله شعرونه په اورول يا يو اوبل ته موسيقي ډالۍ کول دا هغه څه دي چې د اسلام د مقدس دين د احکامو په رڼا کښې حرام عمل بلل سوى دى .

تر څه وخته چې ودغه ناروا او حرامو اعمالو ته د خاتمې ټکى نه يې ايښوول سوى تر هغه وخته پوري د اسلامي ټولني ترقي او پيش رفت به هم داسي صفر وي چې تنزل به راروان وي د اخلاقو کمزوري به ورځ په ورځ ډيريږي او يو وخت به بيا په مستقبل

کښې داسي راځي چي مسلمان به بيا فقط په نامه د مسلمان وي خپل اسلامي کلتور او عنانات کوم چي پر حياء او پاک لمنۍ باندي مشتمل دي هغه به ځيني هېر وي او بيا به ملامتي هم پر موږ باندي ويل کيږي چي زموږ پلرونو او نيکه ګانو موږ ته په ميراث کښې دغه د حيا څخه ليري او بېزاره کلتور په ميراث کښې راپرېښوولی.

خلاصه دا چي او ريدونکي او اوروونکي د دغه پروګرامونو دواړه طرفه د الله جل جلاله له طرفه څخه په دې باندي مکلفه دي چي داسي اعمال او اقوال د دوی څخه صادر نه سي چي هغه د الله جل جلاله د ناراضۍ سبب وګرځي او د قيامت په ورځ بيا د خپل دغه کړنو د وجي څخه د الله جل جلاله په حضور کښې شرمنده وي. الله جل جلاله دي د پوره عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

او بله دا چي احتياط هم په دغه کښې دی چي هرشخص بايد مطلق د فتنې د اسبابو څخه اجتناب او پرهيز وکړي. او حديث شريف هم دی چي نبي کريم ﷺ فرمايي تاسي د تهمت د ځايونو څخه ځانونه وساتی.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : ولا يظن من لا فطنة عنده أنا إذا قلنا صوت المرأة عورة أنا نريد بذلك كلامها، لأن ذلك ليس بصحيح، فإذا نجيز الكلام مع النساء للأجانب ومحاورتهن عند الحاجة إلى ذلك، ولا نجيز لهن رفع أصواتهن ولا تمطيطها ولا تليينها وتقطيعها لما في ذلك من استمالة الرجال إليهن وتحريك الشهوات منهم، ومن هذا لم يجز أن تؤذن المرأة. اهـ. قلت: ويشير إلى هذا تعبير النوازل بالنغمة

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ١ ص ٤٠٦ مطلب في ستر العورة مكتبه شامله /فتاوى محموديه ج ١٩ ص ١٩٣ باب الحجاب مكتبة الفاروق كراچي /احكام القرآن دمفتي محمد شفيع رحمة الله عليه ج ٣ص ٤٦٧ / ٤٨٢)

اسلام وښځي ته پر څو کلنۍ باندي دحجاب اوپردې امر ورکوي ؟

سوال ۱۶ : پوښتنه دا ده چي په دين اسلام کښې وښځي ته د کوم عمر څخه د پردې او حجاب حکم ورکول کيږي ؟.

جواب : کله چي انجلۍ دغه حال ته ورسیږي چي په دې کښې داسي ماده پیدا سي چي د نارینه طرف ته یې خواهش پیدا سي یا د نارینه خواهش د دې طرف ته پیدا سي نو د شریعت د نګاه څخه نور دا د پردې قابله ده او باید بیا ټول عمر پرده وکړي .

هیڅکله بیا دې ته اجازه نسته چي د نارینه وو په مخکښې په بې پرده ګۍ سره وګرځي .

البته فقهاوو دغه د ستر او د حجاب کولو اندازه د کلونو په اعتبار سره نهه کاله لیکلي ده چي کله انجلۍ د نهه کلونو سوله نور به دا پرده کوي ځکه چي دغه نهه کاله وښځي ته د حیض د راتللو نیټه ده او دا خبره هم ښکاره ده چي کله ښځه وحیض ته ورسیږي نو شهوت او خواهشات هم ورته پیدا کیږي .

وفي تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق : (وَبِهَا حَتَّى تَحِيضَ) أَيْ الْأُمُّ وَالْجَدَّةُ أَحَقُّ بِالْجَارِيَةِ حَتَّى تَحِيضَ ....وَفِي نَوَادِرِ هِشَامٍ عَنْ مُحَمَّدٍ إذَا بَلَغَتْ حَدَّ الشَّهْوَةِ فَالْأَبُ أَحَقُّ بِهَا، وَهَذَا صَحِيحٌ لِمَا ذَكَرْنَا مِنْ الْحَاجَةِ إلَى الصِّيَانَةِ، وَبِهِ يُفْتَى فِي زَمَانِنَا لِكَثْرَةِ الْفُسَّاقِ، وَإِذَا بَلَغَتْ إحْدَى عَشْرَةَ سَنَةً فَقَدْ بَلَغَتْ حَدَّ الشَّهْوَةِ فِي قَوْلِهِم وَقَدَّرَهُ أَبُو اللَّيْثِ بِتِسْعِ سِنِينَ، وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى .

(تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ۳ ص ۲۹۶ كتاب الطلاق باب الحضانة مكتبه اشرفيه / الهداية ج ۲ ص ۴۱۴ باب الحضانة مكتبه حنفيه / فتاوی محموديه ج ۱۹ ص ۱۶۹ باب الحجاب / البحر الرائق ج ۴ ص ۲۸۸ كتاب الطلاق باب الحضانة / فتاوی عصر للشيخ الدكتور وهبة الزهيلي ص ۳۹/ الموسوعة الفقهية ج ۱۷ ص ۷ باب الحجاب / دښځو اصلاح : تاليف حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه ص ۵۱۶)

ایا زړې او سپین سري ښځي ته هم دستر او پردې حکم سته ؟

سوال ۱۷ : د پردې حکم په قرآن کریم کي د ښځو لپاره مهم او لازم بلل سوی دی زما پوښتنه دا ده چي د هري ښځي لپاره دا حکم لازم دی که د ځواني او د زړې فرق سته مثلا یوه ښځه د اویا کلونو ده یا د اتیا کلونو د داسي ښځو لپاره عمومًا شریعت څنګه حکم کوي ؟

جواب : په قرآن کریم کښې د سورة النور (۶۰) ایت دی (والقواعد من النساء)

قواعد هغه سپین سرو او بوډیو ښځو ته ویل کیږي چي نه د واده طمع او شوق او نه یې هم اراده لري، او نه د ښایست او زینت سره د کوره راوځي د داسي ښځو لپاره د مخ لڅول و بیګانه خلګو ته یا د هغو په مخ کي په لڅ مخ سره راتلل جواز لري خو پر ده بیا هم د دوی په حق کي افضل او ښه کار دی.

الْقَوَاعِدُ: الْعُجَّزُ اللَّوَاتِي قَعَدْنَ عَنِ التَّصَرُّفِ مِنَ السِّنِّ، وَقَعَدْنَ عَنِ الْوَلَدِ وَالْمَحِيضِ، هَذَا قَوْلُ أَكْثَرِ الْعُلَمَاءِ. قَالَ رَبِيعَةُ: هِيَ الَّتِي إِذَا رَأَيْتَهَا تَسْتَقْذِرُهَا مِنْ كِبَرِهَا. وَقَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ: اللَّاتِي قَعَدْنَ عَنِ الْوَلَدِ، وَلَيْسَ ذَلِكَ بِمُسْتَقِيمٍ، لِأَنَّ الْمَرْأَةَ تَقْعُدُ عَنِ الْوَلَدِ وَفِيهَا مُسْتَمْتَعٌ، قَالَهُ الْمَهْدَوِيُّ. الثَّالِثَةُ- قَوْلُهُ تَعَالَى: (فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُناحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجاتٍ بِزِينَةٍ) إِنَّمَا خُصَّ الْقَوَاعِدُ بِذَلِكَ لِانْصِرَافِ الْأَنْفُسِ عَنْهُنَّ، إذ لا يذهب لِلرِّجَالِ فِيهِنَّ، فَأُبِيحَ لَهُنَّ مَا لَمْ يُبَحْ لِغَيْرِهِنَّ، وَأُزِيلَ عَنْهُمْ كُلْفَةُ التَّحَفُّظِ الْمُتْعِبِ لَهُنَّ. الرَّابِعَةُ- قَرَأَ ابْنُ مَسْعُودٍ وَأُبَيٌّ وَابْنُ عَبَّاسٍ:" أَنْ يَضَعْنَ مِنْ ثِيَابِهِنَّ" بِزِيَادَةِ" مِنْ" قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَهُوَ الْجِلْبَابُ. وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَيْضًا:" مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ" وَالْعَرَبُ تَقُولُ: امْرَأَةٌ وَاضِعٌ، لِلَّتِي كَبِرَتْ فَوَضَعَتْ خِمَارَهَا. وَقَالَ قَوْمٌ: الْكَبِيرَةُ الَّتِي أَيِسَتْ مِنَ النِّكَاحِ، لَوْ بَدَا شَعْرُهَا فَلَا بَأْسَ، فَعَلَى هَذَا يَجُوزُ لَهَا وَضْعُ الْخِمَارِ. وَالصَّحِيحُ أَنَّهَا كَالشَّابَّةِ فِي التَّسَتُّرِ، إِلَّا أَنَّ الْكَبِيرَةَ تَضَعُ الْجِلْبَابَ الَّذِي يَكُونُ فَوْقَ الدِّرْعِ وَالْخِمَارِ، قَالَهُ ابْنُ مَسْعُودٍ وَابْنُ جُبَيْرٍ وَغَيْرُهُمَا.

وفی التفسیر المظهري : فلا یجوز لها کشف ظهرها وبطنها وما تحت سرتها لکن جاز لها کشف رأسها ووجهها وذراعیها ونحو ذلك غَيْرَ مُتَبَرِّجاتٍ بِزِينَةٍ

(تفسیر القرطبي ج ۱۲ ص ۳۰۹ سورة النور مکتبه شامله / التفسیر المظهري ج ۶ ص ۵۵۹ سورة النور مکتبه شامله / احکام القرآن للجصاص سورة الاحزاب ۵۹ ج ۳ ص ۵۴۹ / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۱۷۰ باب الحجاب)

ښځي درادیو دلاري څخه دنارینه علماوو بیانونه هم اوریدلي سي او پوښتني هم کولای سي .

سوال ۱۸ : ایا ښځو ته شریعت د دې خبري اجازه ورکوي چي د راډیو دلاري څخه د نارینه علماء کرامو تقاریر او وعظ واوري یا یوه دیني او ضروري پوښتنه

دیو نارینه عالم څخه وکړي لکه دتعلیم الاسلام رادیو یا بله دیني او علمي رادیو چي علماء کرام تقریرونه او وعظ په کښې کوي اویانور داسي د دیني مسائلو او علومو پروګرامونه چي خپروونکي يې نارینه وي .

جواب : دصحیح بخاري شریف حدیث دی حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت کوي چي ښځو نبي کریم صلی الله ته عرض وکړی چي یا رسول الله نارینه پر موږ باندي نسبت ستا وعظ او نصیحت ته غالبه دي (څنګه چي تاسي نارینه صحابه کرامو ته نصیحت او وعظ کوی) موږ ته هم داسي یوه ورځ که مقرره سي څو مره به ښه وي هغه وو چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددوی سره وعده وکړه چي یوه ورځ به زه تاسي ته بیان او وعظ کوم کله چي هغه ورځ راغله نبي کریم صلی الله علیه وسلم دوی ته راغلی او نصیحت او وعظ يې ورته وکړی الخ....... نور حدیث هم پاته دی .

فقهاء کرامو او محدثینو ددغه حدیث شریف درویه څخه دا استدلال کړی دی چي ښځي ته په شریعت کښې دا رواه ده چي د نارینه شخص او عالم څخه دیني او علمي بیان واوري او دلا څه کوې بلکي ښځه د نارینه عالم څخه ددیني او ضروري حکم په باره کښې پوښتنه لاهم کوی سي او دا دښځي په حق کښې کومه دملامتی خبره نه ده بلکي ددنن سبا دناپوهي او لاعلمی په دور کښې دښځو په حق کښې دراډیو څخه دیني بیانات او ومواعظ اوریدل یو قسم مفید لاهم دي .

البته دنورو خرافاتو اوریدل یا په هغوی کښې دتلیفوني اړیکو دلاري څخه شرکت کول شرعا ممنوع او حرام دي .

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قالت النساء للنبي صلى الله عليه وسلم: غلبنا عليك الرجال، فاجعل لنا يوما من نفسك، فوعدهن يوما لقيهن فيه، فوعظهن وأمرهن، فكان فيما قال لهن: «ما منكن امرأة تقدم ثلاثة من ولدها، إلا كان لها حجابا من النار» فقالت امرأة: واثنتين؟ فقال: «واثنتين»

لما قال العلامة المحدث أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي في فتح الباري شرح صحيح البخاري :عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِنَحْوِ هَذِهِ الْقِصَّةِ فَقَالَ مَوْعِدُكُنَّ بَيْتُ فُلَانَةَ فَأَتَاهُنَّ فَحَدَّثَهُنَّ قَوْلُهُ وَأَمَرَهُنَّ أَيْ بِالصَّدَقَةِ

وقال العلامة المحدث أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: ٨٥٥هـ) في عمدة القاري شرح صحيح البخاري: بَيَان استنباط الْأَحْكَام: الأول: فِيهِ سُؤال النِّسَاء عَن أَمر دينهن وَجَوَاز كلامهن مَعَ الرِّجَال فِي ذَلِك، وَفِيمَا لَهُنَّ الْحَاجة إِلَيْهِ.

(صحيح البخاري كتاب العلم باب هل يجعل للنساء يوم علي حدة في العلم / فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر العسقلاني ج ١ ص ١٩٦ باب هل يجعل للنساء يوم علي حدة في العلم مكتبه شامله/ عمدة القاري شرح صحيح البخاري باب هل يجعل للنساء يوم علي حدة في العلم ج ٢ ص ١٣٣ مكتبه شامله / فتاوی محموديه ج ۴ ص ٢۶۴ باب التبليغ / فتاوی عثماني ج ١ ص ٢۴٢ باب التبليغ)

په کوز ده او واده کښې د ښځو بدلي ويل د دريي سره څنګه دي ؟

سوال ١٩: زموږ په علاقه کښې ښځي د کوزدي او واده پرموقع باندي بدلي وايي د دريي په وهلو سره اياد ښځود ريه او بدلي د خوشحالۍ په مراسمو کښې جوازلري که يا ؟

جواب: د واده او نکاح پروخت او موقع باندي دريه وهل رواه ده شرعًا چي بڼګولې نه وي پکښې ساده دريه به وي.او د ښځو بدلي ويل په دوه شرطه رواه دي : **اول شرط** :دادی چي د دغه ښځو اواز د غير محرم او بيګانه خلګو وغوږوته ونه رسيږي ځکه چي د ښځي اواز هم د فتنې په وخت کي عورت دی . **دوهم شرط** : دادی چي په بدلو کښې به يې فحش مضمون او ناروا ه کلام نه وي بلکي رواه او جائز کلام به وي مفتي اعظم هند حضرت مفتي کفايت الله صاحب رحمه الله تعالی دغه سوال ته دغه جواب ويلی دی.

وعن عائشة قالت: قال رسول الله – صلى الله عليه وسلم –: «أعلنوا هذا النكاح واجعلوه في المساجد واضربوا عليه بالدفوف» . رواه الترمذي قال: هذا حديث غريب.

وعن محمد بن حاطب الجمحي عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " فصل ما بين الحلال والحرام: الصوت والدف في النكاح ". رواه أحمد والترمذي والنسائي وابن ماجه.
وعن عائشة قالت: كانت عندي جارية من الأنصار زوجتها فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «يا عائشة ألا تغنين؟ فإن هذا الحي من الأنصار يحبون الغناء» . رواه ابن حبان في صحيحه

وقال العلامة الملاعلى القاري رحمه الله تعالى فى مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح :
وقال الفقهاء المراد بالدف ما لا جلاجل له كذا ذكره ابن الهمام

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۵ ص ۲۰۷۲ باب إعلان النكاح والخطبة والشرط مكتبه شامله /)ترمذي شريف ج ۲ص ۲۱۰ / كفايت المفتي ج ۹ ص ۲۰۰ كتاب الحظر والاباحة دارالاشاعت چاپ / صحيح ابن حبان / فتح القدير وغيره)

باب اللباس والزينة

ډډايي (نېکټايي) استعمال شرعا رواه دی که یا ؟

سوال ۱ : ډډايي **استعمالول** شرعا رواه دی که یا ؟ خصوصا بیا هغه وخت چي په کوم مکتب او پوهنتون یا حکومتي اداره کي ډډايي (نېکټايي) تړل د مکتب او پوهنتون دادارې د خوا څخه ضروري هم وي او پر نه تړلو يې څه سزا او تنقید مقرر وي په داسي صورت کي فقهاء کرام د ډډايي (نېکټايي) په اړه څه حکم بیان کړی دی ؟

جواب : فتاوی محمودیه چي د حضرت مولانا مفتي محمود حسن ګنګوهي رحمه الله تعالی فتاوی ده کوم چي شخص چي د خپلي زمانې د بزرګانو اشخاصو څخه وو او د دارالعلوم دیوبند مفتي هم وو د هغې فتاوی تخریج د جامعې فاروقيې مفتیانو حضراتو کړی دی د هغه تخریج سره چي مفتیانو حضراتو کوم تعلیق کړی دی د دغه مسئلې په اړه باندي موږ د هغه خلاصه درته بیانوو .

ډډايي (نېکټايي) استعمال که څه هم په مسلمانانو کي عام سوی دی مګر د دې باوجود د انګریزي لباس حصه ګڼل کیږي . او که چیري انګریزي لباس تصور هم نه کړل سي خو بیا هم د فساقو او فجارو لباس خو په هر حال کي دی لهذا د تشبه

بالفساق دوجي څخه ممنوع ګڼل کیږي . دوهمه خبره داده چي اهل صلاح او نیکان خلګ دالباس خوښوي هم نه ځکه چي دالباس دعلماوو او صلحاوو دلباسه څخه خلاف دی . دریمه خبره داده چي د دې څخه علاوه په ټایې کي یوه خرابي دا هم ده چي عیسایان دغه ټایي (نیکټایي) دخپلي عقیدې (صلیب عیسی علیه السلام) یعني دحضرت عیسی علیه السلام ددار کولو او زړولو طرف ته اشاره په کوي کومه عقیده چي دقرآني ایاتونو څخه خلاف عقیده ده . لهذا په ټایي (نیکټایي) او دهغې په استعمال کي دتشبه بالکفار سره سره دعیسایانو دمذهبي یادګار او مذهبي شعار دوجي څخه دهغې اغوستل او استعمالول شرعا منع دي .

البته که چیري دکومي ادارې د طرفه څخه دهغې داغوستلو پابندي وي او پر نه اغوستلو یې سزا او تنقید مقرر وي یا یو بل مشکل رامنځ ته کېدونکی وي په داسي صورت کي پر اغوستونکي باندي ګناه نسته بلکي پر هغه اداري یا حکومت باندي کومي اداري چي دغه ضابطه او قانون مقرر کړی دی پر هغوی باندي ګناه ده . والله اعلم

لما قال العلامة علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى: ١٠١٤هـ) فی مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (وَعَنْهُ) : أَيْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ (قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ) : أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ، أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ. (فَهُوَ مِنْهُمْ) : أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ. قَالَ الطِّيبِيُّ: هَذَا عَامٌّ فِي الْخَلْقِ وَالْخُلُقِ وَالشِّعَارِ، وَلِمَا كَانَ الشِّعَارُ أَظْهَرُ فِي التَّشَبُّهِ ذُكِرَ فِي هَذَا الْبَابِ. قُلْتُ: بَلِ الشِّعَارُ هُوَ الْمُرَادُ بِالتَّشَبُّهِ لَا غَيْرُ، فَإِنَّ الْخُلُقَ الصُّورِيَّ لَا يُتَصَوَّرُ فِيهِ التَّشَبُّهُ، وَالْخُلُقَ الْمَعْنَوِيَّ لَا يُقَالُ فِيهِ التَّشَبُّهُ، بَلْ هُوَ التَّخَلُّقُ، هَذَا وَقَدْ حَكَى حِكَايَةً غَرِيبَةً وَلَطِيفَةً عَجِيبَةً، وَهِيَ أَنَّهُ لَمَّا أَغْرَقَ اللَّهُ – سُبْحَانَهُ – فِرْعَوْنَ وَآلَهُ لَمْ يُغْرِقْ مَسْخَرَتَهُ الَّذِي كَانَ يُحَاكِي سَيِّدَنَا مُوسَى – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – فِي لُبْسِهِ وَكَلَامِهِ وَمَقَالَاتِهِ، فَيَضْحَكُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ مِنْ حَرَكَاتِهِ وَسَكَنَاتِهِ ; فَتَضَرَّعَ مُوسَى إِلَى رَبِّهِ: يَا رَبِّ! هَذَا كَانَ يُؤْذِي أَكْثَرَ مِنْ بَقِيَّةِ آلِ فِرْعَوْنَ. فَقَالَ الرَّبُّ تَعَالَى: مَا أَغْرَقْنَاهُ ; فَإِنَّهُ

كَانَ لَابِسًا مِثْلَ لِبَاسِكَ، وَالْحَبِيبُ لَا يُعَذِّبُ مَنْ كَانَ عَلَى صُورَةِ الْحَبِيبِ، فَانْظُرْ مَنْ كَانَ مُتَشَبِّهًا بِأَهْلِ الْحَقِّ عَلَى قَصْدِ الْبَاطِلِ حَصَلَ لَهُ نَجَاةٌ صُورِيَّةٌ، وَرُبَّمَا أَدَّتْ إِلَى النَّجَاةِ الْمَعْنَوِيَّةِ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَتَشَبَّهُ بِأَنْبِيَائِهِ وَأَوْلِيَائِهِ عَلَى قَصْدِ التَّشَرُّفِ وَالتَّعْظِيمِ، وَغَرَضِ الْمُشَابِهَةِ الصُّورِيَّةِ عَلَى وَجْهِ التَّكْرِيمِ؟ ، وَقَدْ بَسَطَ أَنْوَاعَ التَّشَبُّهِ بِالْمَعَارِفِ فِي تَرْجَمَةِ عَوَارِفِ الْمَعَارِفِ. (رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ) .

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۷ ص ۲۷۸۷ كتاب اللباس مكتبه شامله بيروت چاپ / شرح فقه اكبر ص ۲۲۸ / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۲۸۹ باب اللباس / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۶ ص ۳۷۱ باب اللباس)

ښځولره دسر ويښته يعني پيكي يا دشادطرف ويښته پرې كول جايز دي كه يا ؟

سوال ۲ : ايا ښځي ته په شريعت كښې دزينت او ښايست په خاطر دسر دويښتو دپرې كولو اجازه سته كه يا ؟

ځواب : په شريعت كښې ښځو ته دسر ويښته يعني پيكى يا كوڅى پرې كول كه دمخ وي كه دشاه وي مطلقا ناروا او ناجائز عمل دى دا داسي ناروا عمل دى لكه څنګه چي نارينه ته ږيره خريل ناروا ده . وجه يي داد چي په دې كښې مشابهت دكفارو دښځو سره راځي ځكه چي جديد پيشن دنن سبا دكفارو دښځو هم دغه دى چي دوى ويښته په مختلفو طريقو سره پرې كوي . او بل دا چي په دي كښې يو قسم مشابهت دنارينه وو سره هم راځي او پردې دواړو طريقو باندي ډيري سختي سزاوي په احاديثو كښې راغلي دي . نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي دا الله جل جلاله لعنت دي پرهغه ښځو باندي وي كومي چي په وضع قطع او لباس وغيره كښې مشابهت دنرو سره اختيار وي او دا الله جل جلاله لعنت دي پر هغه نارينه وو باندي وي كوم چي په وضع قطع او لباس وغيره كښې مشابهت دښځو سره اختيار وي .البته ښځولره دحج په موسم كښې دسر ويښته دګوتو دسرونو په اندازه پرې كول ددې حكم څخه مستثنى دي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :قَطَعَتْ شَعْرَ رَأْسِهَا أَثِمَتْ وَلُعِنَتْ زَادَ فِي الْبَزَّازِيَّةِ وَإِنْ بِإِذْنِ الزَّوْجِ لِأَنَّهُ لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي

مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ، وَلِذَا يَحْرُمُ عَلَى الرَّجُلِ قَطْعُ لِحْيَتِهِ، وَالْمَعْنَى الْمُؤَثِّرُ التَّشَبُّهُ بِالرِّجَالِ اهـ : فی الاشباه احکام الانثی قوله : وتمنع من حلق راسها ای حلق رأ سها الی قوله : والظاهر ان المراد بحلق رأسها ازالته سوآء کان بحلق او قص او نتف او نورة فلیحرر والمراد بعدم الجواز کراهة التحریم لما فی مفتاح السعادة . ولوحلقت فان فعلت ذلک تشبها بالرجال فهو مکروه لانها ملعونة اه : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ . وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَعَنَ اللَّهُ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ والمتشبِّهات من النِّسَاء بِالرِّجَالِ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيّ

(ردالمحتار علي الدرالختار ج ۶ ص ۴۰۷ بیروت مکتبه دارالفکر / امدادالفتاوی ج ۴ ص ۲۲۷ اردو / امدادالاحکام ج ۴ ص ۳۵۴ / مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۱۲۷۱ بیروت چاپ حقانیه ج ۲ ص ۲۴۸)

په وسمه (تور رنګ) باندي دږيري تورولو حکم.

سوال ۳ :یو کس سپین ږیری دی او دی خپله ږیره په تو رنګ سره وهي او س پو ښتنه داده چي په تور رنګ سره وښنته تورول جائز دی که یا؟

جواب :سپين وښتيان خصوصاً ږيري ته د تور خضاب (تور رنګ) دورکولو په اړه دفقهاء کرامو له عامو روايتونو څخه دممانعت طرف غالب معلوميږي او تور رنګ مکروه تحريمي دی البته دمجاهد لپاره په دې نيت ږيره توره ول چي پر دښمن يې رعب ولويږي او داسي دامام ابو يوسف رحمه الله په نزد هغه کس ته هم دږيري تورول جائز دي کوم چا چي نوی واده کړی وي او ښځه يې ځوانه وي . خو دا قول چي دواده په اړه دی مرجوح قول دی راجح دادی چي تورول يې حرامه ده .

لما قال الملا علی القاري رحمه الله تعالی فی مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح : ذَهَبَ أَكْثَرُ الْعُلَمَاءِ إِلَى كَرَاهَةِ الْخِضَابِ بِالسَّوَادِ، وَجَنَحَ النَّوَوِيُّ إِلَى أَنَّهَا كَرَاهَةُ تَحْرِيمٍ، وَأَنَّ مِنَ الْعُلَمَاءِ مَنْ رَخَّصَ فِيهِ فِي الْجِهَادِ وَلَمْ يُرَخِّصْ فِي غَيْرِهِ،

(وقال علامة ابن عابدين) (قَوْلُهُ وَيُكْرَهُ بِالسَّوَادِ) أَيْ لِغَيْرِ الْحَرْبِ.

قَالَ فِي الذَّخِيرَةِ: أَمَّا الْخِضَابُ بِالسَّوَادِ لِلْغَزْوِ، لِيَكُونَ أَهْيَبَ فِي عَيْنِ الْعَدُوِّ فَهُوَ مَحْمُودٌ بِالِاتِّفَاقِ وَإِنْ لِيُزَيِّنَ نَفْسَهُ لِلنِّسَاءِ فَمَكْرُوهٌ، وَعَلَيْهِ عَامَّةُ الْمَشَايِخِ، وَبَعْضُهُمْ جَوَّزَهُ بِلَا كَرَاهَةٍ رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ قَالَ: كَمَا يُعْجِبُنِي أَنْ تَتَزَيَّنَ لِي يُعْجِبُهَا أَنْ أَتَزَيَّنَ لَهَا

(مرقات المفاتيح شرح مشكات المصابيح ج ٨ ص ٣٠٤ باب الترجل رشيديه / ردالمحتار ج ٦ ص ٤٢٢ فصل في البيع سعيد چاپ / فتاوی عالمگيريه ج ٥ ص ٣٥٩ الباب العشرون في الزينة رشيديه / فتاوی حقانيه ج ٢ ص ٢٠٦ باب الباس / فتاوی محموديه ج ١٩ ص ٤٥٥ باب خصال الفطرة)

دښځي دپاره دسر ويښته په نكروزو سره كول .

سوال ۴ : ايا په دين اسلام كښې وښځو ته دا اجازه وركول سوېده چي خپل سر په نكروزو سره سور كړي كه يا ؟

جواب : دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه مذهب دا احاديثو په رڼا كښې دا دی چي دښځي او نر دپاره ويښته په نكروزو يا په كتم ،يا وسمه، پاڼو سره سره كول ياژړ كول مستحب عمل دی . او تورول دسرو ښځي ته او تورول دږيري او سر ونارينه ته ناروا او حرام دي . اوپاته سوه دا خبره چي نن سبا په بازار كښې مختلف رنګونه دسر يا دږيري درنګ كېدو دپاره خرڅيږي دهغو په باره كښې دشريعت فيصله داده : كه چيري دغه رنګ ويښته تک تور كړي نو دهغو استعمال صرف دا نه چې حرام دی بلكي دحديث شريف درويه څخه دلعنت باعث او دجنت څخه دمحرومی سبب دی . البته هغه رنګ چي ويښته خو تک تور نه كړي بلكي سور مائل وسياه ته كړي نو دهغه رنګ استعمال بېله كراهته رواه دی په دې شرط چي حرام شيان نه وي په كښې او كه حرام شيان په كښې وه نو دهغو استعمال مطلقا ناروا دی كه ويښته تور كړي او كه يې تور نه كړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (اخْتَضَبَ لِأَجْلِ التَّزَيُّنِ لِلنِّسَاءِ وَالْجَوَارِي جَازَ) فِي الْأَصَحِّ وَيُكْرَهُ بِالسَّوَادِ وَقِيلَ لَا وَمَرَّ فِي الْخَطَرِ

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : وَمَذْهَبُنَا أَنَّ الصَّبْغَ بِالْحِنَّاءِ وَالْوَسْمَةِ حَسَنٌ كَمَا فِي الْخَانِيَّةِ قَالَ النَّوَوِيُّ: وَمَذْهَبُنَا اسْتِحْبَابُ

خِضَابِ الشَّيْبِ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ بِصُفْرَةٍ أَوْ حُمْرَةٍ وَتَحْرِيمُ خِضَابِهِ بِالسَّوَادِ عَلَى الْأَصَحِّ لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «غَيِّرُوا هَذَا الشَّيْبَ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ» اهـ

لما قال العلامة علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى: ۱۰۱۴هـ) فی مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح :قَالَ النَّوَوِيُّ فِي الْخِضَابِ أَقْوَالٌ، وَأَصَحُّهَا أَنَّ خِضَابَ الشَّيْبِ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ يُسْتَحَبُّ وَبِالسَّوَادِ حَرَامٌ، وَقَدْ سَبَقَ عَنِ الْإِمَامِ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ قَالَ فِي مُوَطَّئِهِ: لَا نَرَى بِالْخِضَابِ بِالْوَسْمَةِ وَالْحِنَّاءِ وَالصُّفْرَةِ بَأْسًا، وَإِنْ تَرَكَهُ أَبْيَضَ فَلَا بَأْسَ بِهِ، كُلُّ ذَلِكَ حَسَنٌ،

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۶ص ۷۵۶ مسائل شتي بيروت چاپ / البحرالرائق شرح كنزالدقائق ج۸ ص ۱۸۳ / مرقاة المفاتيح ج۷ ص ۲۸۱۷ باب الترجل بيروت چاپ / احكام تجميل النسآء ص ۲۱۸ / دخضاب شرعي حكم رسالة /صحيح مسلم ج ۳ ص ۱۶۶۳ باب في صبغ الشعر مكتبه شامله /سنن ابي داود ج ۴ ص ۸۵ باب في الخضاب مكتبه شامله/سنن النسائي ج ۸ ص ۱۳۸ باب نهي عن الخضاب با السواد مكتبه شامله)

ځيني ښځي دفېشن او سينګار دپاره يو قسم رنګ پر نوکانو باندي موږي دا شرعا څنګه دی ؟

سوال۵: ځيني ښځي د فېشن او سينګار لپاره يو قسم سور رنګ پر نوکانو موږي چي د ناخن پالش يا د نوکانو رنګ ورته وايي او دغه رنګ پر نوکانو باندي د پوستکي يا د خور په شکل مښلي پو ښتنه دا ده چي د دغه رنګ سره غسل او اودس صحيح دی که يا ؟

جواب: د نوکانو پر برابر نن سبا دوه قسمه فېشن په ښځو کي عام او رواج ګرځېدلی دی (۱) يو د نوکانو غټول (۲) دوهم د نوکانو رنګول، د نوکانو په غټولو يا اوږدولو سره لا سونه د انسان بالکل د درنده په شان معلومېږي يا ګندګي په کښي جمع کېږي او همدا شان جراثيم مکروبونه ځيني پيدا کېږي چي سبب د مختلفو امراضو د ايجاد ګرځي حديث شريف کښي راځي چي لس شيان د فطرت انساني څخه دي يو د هغو څخه د نوکانو پريکول دي غټول يې د انساني فطرت خلاف عمل او د اغيارو تقليد دی چي پرهېز ځيني په کار دی.

دوهم مرض د نوکانو رنګول دي يو خو په دغه رنګ کي د ناپاکو اشياؤ ګډوالی او آميزش دی او بل دا چي دغه رنګ اوبه منع کوي و نوک ته د رسېدو څخه تر څه وخته چي صاف نه سي نه اودس ورسره روا دی او هم نه غسل.

عن عائشة، قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم " عشر من الفطرة: قص الشارب، وإعفاء اللحية، والسواك، والاستنشاق بالماء، وقص الأظفار، وغسل البراجم، ونتف الإبط، وحلق العانة، وانتقاص الماء - يعني الاستنجاء بالماء - "، قال زكريا: قال مصعب: ونسيت العاشرة إلا أن تكون «المضمضة.

ولو انضمت الأصابع أو طال الظفر - فغطى الأنملة أو كان فيه ما يمنع الماء كعجين - وجب غسل ما تحته.

(سنن ابي داود ج ۱ ص ۴ ۱ باب السواک من الفطرة / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۴ /نورالايضاح ص ۳۱ / جديد فقهي مسائل ص ۱۹۳ /ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۳ ص ۱۵۰ دنوکانو رنګ / احکام تجميل النساء ص ۲۲۰، ۲۲۱)

دکالو وغاړي ته کالر ورکول رواه دی که يا ؟

سوال ۶: دکالو وغاړي ته کالر ورکول رواه دی که يا ؟ او که نه دی رواه ګناه يي دچا پرغاړه ده ؟

جواب: حضرت مولانا محمديوسف لدهيانوي شهيد رحمه الله تعالی په خپل فتاوی ستاسي مسائل او دهغوی حل کي ليکلي دي چي قميص ته کالر ورکول دانګريزانو شعار او علامت دی مسلمانانو ته پکارده چي ددغه علامت او تشبه څخه پرهيز وکړي.

اوکرته [يعني ترخزي] کالي جوړول سنت دي. دلباس لپاره شريعت دري قيده اوشرطونه مقررکړي دي. **اول** داچي په لباس کښي به نمواونمائش او فضول خرچي نه وي. **دوهم**: داچي دکفارواو فساقو سره به مشابهت نه وي په کښي. **دريم**: داچي دنارينه وو لباس به دښځو دلباس سره او دښځو دلباس به دنارينه وو دلباس سره مشابهت نه لري. نو هرکله چي کالر لګول دکالو دمالک په

فرمائش او غوښتنه او دخياط په جوړولو سره وجود ته راځي نو ګناه يې د دواړو پر غاړه ده .

عَن أم سَلمَة قَالَتْ: كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَمِيصَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد

وعن ابن عمر رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ. .... و قال الملا على القارى رحمه الله تعالى فى المرقت شرح المشكوة قوله عليه السلام :(مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ) : أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ، أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ. (فَهُوَ مِنْهُمْ) : أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ .... وفى فتح الملهم شرح مسلم : المبدء الثالث : ان اللباس الذى يتشبه به الانسان باقوام كفرة لايجوز لبسه لمسلم اذا قصد بذالک التشبه بهم .

(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ٢ ص ٢٧٨٢ بيروت چاپ مكتبه شامله / مشكوة المصابيح ج ٢ ص ١٢۴٣ مكتبه شامله بيروت چاپ/ ستاسي مسائل او دهغه حل ج ٨ص ٣٧٠ باب اللباس / تكمله فتح الملهم شرح مسلم ج ۴ ص ٨٨ كتاب اللباس مكتبه دارالعلوم كراچي / صحيح البخاري ج ٢ ص ٨۴٧ باب المتشبهين بالنساء والمتشبهات بالرجال)

غاړي اوګنډونه جوړول رواه دي که يا ؟

سوال ۷ : نن سبا مختلف فيشنونه رواج سوي دي خصوصا خلګ غاړي او ګنډونه جوړوي او بيا ډير مصرف هم په کوي پر يوې غاړي باندي په زرهاوو روپی مصرف راځي ايا داسي غاړي اوګنډونه جوړول رواه دي که يا ؟

جواب : دلباس لپاره شريعت درې قيده او شرطونه مقرر کړي دي . **اول :** داچي په لباس کښي به نمواونمائش (يعني خلکو ته ښوول او داچي زما لباس نو دهرچا تر لباس ښايسته دی) او فضول خرچي يعني اسراف نه به نه وي په کښې . **دوهم :** داچي دکفارو او فساقو سره به مشابهت نه وي په کښي . **دريم :** داچي دنارينه وو لباس به دښځو دلباس سره او دښځو دلباس به دنارينه وو دلباس سره مشابهت نه لري . دغه دشريعت بيان کړل سوي اصول دي نو کوم لباس چي پر دغه اصولو باندي

برابر وي هغه لباس رواه دی او کوم لباس چي پر دغه اصولو باندي نه وي برابر هغه ناروا ه دی . نورنو هر سړی خپله عقلمند دی خپله دي فیصله وکړي چي زما لباس پر دغه اصولو باندي برابر دی که یا ؟ که برابر وو خو رواه دی او که نه وو برابر نو منع دی .

(ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۷ ص ۱۶۶ : فتاوی مفتي محمود رح ج ۱۰ ص ۳۱۳)

دنارینه د پاره دسپینو زرو ګوتمي په لاس کول رواه ده که یا ؟

سوال ۸ : ایا نارینه لره په شریعت کښي دګوتمی په ګوته کولو اجازه سته که یا ؟

جواب :فقهاء کرامو لیکلي دي چي دقاضي او حاکم څخه پرته نورخلګ هم دسپینو زرو ګوتمی استعمالولای سي لیکن بهتره داده چي پرته له ضرورته څخه دي څوک نه استعمالوي او داستعمال په صورت کښي باید دښایست او تکبر دنیت څخه پرهیزوکړل سي ، **اوبل** دا چي په اندازه به دیوه مثقال[۴۵ ، ۴ ګرام] وي، **دوهم** دا چي دراسته لاس په خچنه ګوته به وي . اوپاته سوه دسروزرو ګوتمی هغه دنارینه دپاره حرامه ده او داوسپني یاژړو ګوتمی دهغې استعمالول مکروه دي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وان تختم بالفضة قالوا ان قصد به يكره وان قصد به الختم ونحوه لايكره ....ولا يتحلى الرجل بالذهب وفضة مطلقاً الا بخاتم ..... منها اى الفضة ....ولايزيده على مثقال ....

[ردالمحتار مع الدرالمختار كتاب الحظر والاباحة فصل في اللبس ج ۶ص ۳۵۸ / ۳۶۱ /البحرالرائق ج ۸ ص ۳۴۸ / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۳۳۹ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۱۱]

سینټ (پشاري عطر) او فرفیوم استعمالول شرعا رواه دي که یا ؟

سوال ۹ : نن سبا ځیني خلګ وایي چي په سینټو یعني پشارو عطرو کښي الکحل (چي دشرابو یو قسم دی) ګډ دي نو آیا دداسي عطرو استعمالول رواه دي که یا ؟

جواب : کوم الکحل چي دانګورو یا دخرما وو او یا دمنقی څخه تیار سوي وي او هغه مسکر اونشه راویستونکي وي او یا ددغه شیانو دشرابو څخه جوړ سوي وي هغه ناپاکه اوحرام دي . او دهغوی استعمال داخلي او خارجي په هیڅ

صورت کښي رواه او جائز نه دي . او کوم الکحل چي دمذکوره اشیاوو څخه علاوه مثلا دآلو دمیوې څخه یا دپیټرولو او دګني وغیره د، رس او جوس څخه جوړ سوي وي . یا دهغوی دشرابو څخه جوړ سوي او تیار سوي وي هغه ناپاکه نه دي . او دهغوی استعمال په طور دتلذذ او خوند حرام دی البته په طور ددوا داخلي او فرفیوم او سینټ وغیره په خارجي توګه استعمالولای سی .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :اربعة انواع : الاول نبيذ التمر والذبيب ان طبخ ادنى طبخة) يحل شربه وان اشتدّ وهذا اذا شرب منه بلا لهو وطرب فلو شرب للهو فقليله وكثيره حرام . ومايسكر .... الثالث نبيذالعسل والتين والشعير والذرة :يحل سوآء طبخ اولا : بلا لهو وطرب .... اذا قصد به استمرآء الطعام والتداوى والتقوى على طاعة الله تعالى ولو للهو لايحل اجماعا .

وفى المبسوط للسرخسى: وهذه الاشربة ليست فى معنى الخمر من كل وجه بدليل حكم الحدود حكم النجاسة .

نو دالکحل څخه دتیار سوو اشیاوو داستعمال حکم پر دغه خبره باندي موقوف دی چي الکحل د څه شي څخه تیار سوي دي او څه شی په کښي شامل دی : زموږ دعلماوو تحقیق تر ننه پوري تر دې ځایه دی چي نن سبا عموما کیمیاوي الکحل په فرفیوم او سینټ او فشاري عطرو کښي استعمالیږي نه داخرما او انګورو یا دکشمشو الکحل ځکه چي هغه ډیر ګران او قیمتي دي . لهذا دغه موجوده فرفیوم او فشاري عطر چي نن سبا په متوسط قیمت ترلاسه کیږي ددې په استعمال کښي خاص حرج نسته . والله اعلم

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۶ ص ۴۵۲ كتاب الاشربة مكتبه شامله بيروت چاپ / فتاوى اشرفيه ص ۶۵ / المبسوط للسرخسي ج ۵ ۱ص ۲۴)

ښځولره دسر ویښته یعني پیکي یا دشادطرف ویښته پرې کول جایز دي که یا ؟

سوال ۱۰ : ایا ښځي ته په شریعت کښي دزینت او ښایست په خاطر دسر دویښتو دپرې کولو اجازه سته که یا ؟

جواب : په شریعت کښې ښځو ته د سر ویښته یعني پیکی یا کوڅې پرې کول که د مخ وي که د شاه وي مطلقا ناروا او ناجائز عمل دی دا داسي ناروا عمل دی لکه څنګه چي نارینه ته ږیره خریل ناروا ده . وجه یي دا د چي په دې کښې مشابهت د کفارو د ښځو سره راځي ځکه چي جدید پیشن د نن سبا د کفارو د ښځو هم دغه دی چي د وی ویښته په مختلفو طریقو سره پرې کوي . او بل دا چي په دې کښې یو قسم مشابهت د نارینه وو سره هم راځي او پر دې دواړو طریقو باندې ډیرې سختې سزاوې په احادیثو کښې راغلي دي . نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي دا الله جل جلاله لعنت دې پر هغه ښځو باندې وي کومې چي په وضع قطع او لباس وغیره کښې مشابهت د نرو سره اختیاروي او دا الله جل جلاله لعنت دې پر هغه نارینه وو باندې وي کوم چي په وضع قطع او لباس وغیره کښې مشابهت د ښځو سره اختیاروي .البته ښځو لره د حج په موسم کښې د سر ویښته د ګوتو د سرونو په اندازه پرې کول د دې حکم څخه مستثنی دي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :قَطَعَتْ شَعْرَ رَأْسِهَا أَثِمَتْ وَلُعِنَتْ زَادَ فِي الْبَزَّازِيَّةِ وَإِنْ بِإِذْنِ الزَّوْجِ لِأَنَّهُ لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ، وَلِذَا يَحْرُمُ عَلَى الرَّجُلِ قَطْعُ لِحْيَتِهِ، وَالْمَعْنَى الْمُؤَثِّرُ التَّشَبُّهُ بِالرِّجَالِ اھ : فی الاشباه احكام الانثى قوله : وتمنع من حلق راسها ای حلق رأ سها الی قوله : والظاهر ان المراد بحلق رأسها ازالته سوآء كان بحلق او قص او نتف او نورة فليحرر والمراد بعدم الجواز كراهة التحريم لما فی مفتاح السعادة . ولوحلقت فان فعلت ذلک تشبها بالرجال فهو مكروه لانها ملعونة اه : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ . وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَعَنَ اللَّهُ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ والمتشبِّهات من النِّسَاء بِالرِّجَالِ» . رَوَاهُ الْبُخَارِيّ

(ردالمحتار علي الدرالختار ج۶ ص ۴۰۷ بیروت مکتبه دارالفکر / امدادالفتاوی ج ۴ ص ۲۲۷ اردو / امدادالاحکام ج۴ ص ۳۵۴ / مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۱۲۷۱ بیروت چاپ حقانیه ج ۲ ص ۲۴۸)

د ښځو لپاره د سپینو جامو اغوستلو حکم .

سوال ۱۱ : ایا په شریعت کښې وښځې ته دسپینو جامو داغوستلو جواز سته که یا ؟

جواب : دلباس لپاره شریعت درې قیده او شرطونه مقرر کړي دي . **اول** داچې په لباس کښې به نمو او نمائش او فضول خرچي نه وي . **دوهم** : داچې دکفارو او فساقو سره به مشابهت نه وي په کښې . **دریم :** داچې دنارینه وو لباس به دښځو دلباس سره او دښځو دلباس به دنارینه وو دلباس سره مشابهت نه لري نو په اسلامي شریعت کښې دښځو دپاره دکوم خاص رنګ کالو په اغوستلو کښې کومه پابندي نسته ، خو بیا هم دداسې لباس داغوستلو څخه ځان ساتنه ضروري ده چې له مخې یې دنارینه سره مشابهت پیدا کیږي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَكُرِهَ لُبْسُ الْمُعَصْفَرِ وَالْمُزَعْفَرِ الْأَحْمَرِ وَالْأَصْفَرِ لِلرِّجَالِ) مُفَادُهُ أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ (وَلَا بَأْسَ بِسَائِرِ الْأَلْوَانِ) وَفِي الْمُجْتَبَى وَالْقُهُسْتَانِيِّ وَشَرْحِ النُّقَايَةِ لِأَبِي الْمَكَارِمِ: لَا بَأْسَ بِلُبْسِ الثَّوْبِ الْأَحْمَرِ اهـ.

وقال العلامة السيد الطحطاوى رحمه الله تعالى : (قوله والمزعفر والاحمر والاصفر) يعني المزعفر بقسميه مكروه وامااالاصفر من غير الزعفران فلاكراهية فيه وَلَا بَأْسَ بِسَائِرِ الْأَلْوَانِ من الابيض والازرق والاشقر الخ .....

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۶ ص ۳۵۸ كتاب الحظر والاباحة فصل في اللبس / طحطاوى حاشية الدرالمختار ج ۴ ص ۱۸۰ كتاب الكراهية فصل في اللباس / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۲۰۳)

دښځې دپاره دسر ویښته په نکروزو سره کول .

سوال ۱۲ : ایا په دین اسلام کښې وښځو ته دا اجازه ورکول سوېده چې خپل سر په نکروزو سره سور کړي که یا ؟

جواب : دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه مذهب داحادیثو په رڼا کښې دادی چې دښځې او نر دپاره ویښته په نکروزو یا په **کتم** ،یا **وسمه**، پاڼو سره سره کول یاژړ کول مستحب عمل دی . او تورول دسرو ښځې ته او تورول دږیرې او سر و نارینه ته ناروا او حرام دي . او پاته سوه داخبره چې نن سبا په بازار کښې مختلف رنګونه

دسریا دږیري د رنګ کېدو د پاره خرخېږي دهغو په باره کښې د شریعت فیصله داده : که چیري دغه رنګ وېښته تک تور کړي نو دهغو استعمال صرف دا نه چې حرام دی بلکي دحدیث شریف درویه څخه دلعنت باعث او دجنت څخه دمحرومی سبب دی . البته هغه رنګ چي وېښته خو تک تور نه کړي بلکي سور مائل وسیاه ته کړي نو دهغه رنګ استعمال بېله کراهته رواه دی په دې شرط چي حرام شیان نه وي په کښې او که حرام شیان په کښې وه نو دهغو استعمال مطلقا ناروا دی که وېښته تور کړي او که یې تور نه کړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(اخْتَضَبَ لِأَجْلِ التَّزَيُّنِ لِلنِّسَاءِ وَالْجَوَارِي جَازَ) فِي الْأَصَحِّ وَيُكْرَهُ بِالسَّوَادِ وَقِيلَ لَا وَمَرَّ فِي الْخَطَرِ

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَمَذْهَبُنَا أَنَّ الصَّبْغَ بِالْحِنَّاءِ وَالْوَسْمَةِ حَسَنٌ كَمَا فِي الْخَانِيَّةِ قَالَ النَّوَوِيُّ: وَمَذْهَبُنَا اسْتِحْبَابُ خِضَابِ الشَّيْبِ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ بِصُفْرَةٍ أَوْ حُمْرَةٍ وَتَحْرِيمُ خِضَابِهِ بِالسَّوَادِ عَلَى الْأَصَحِّ لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «غَيِّرُوا هَذَا الشَّيْبَ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ» اهـ

وقال ملاعلى القارى رحمه الله تعالى : قَالَ النَّوَوِيُّ فِي الْخِضَابِ أَقْوَالٌ، وَأَصَحُّهَا أَنَّ خِضَابَ الشَّيْبِ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ يُسْتَحَبُّ وَبِالسَّوَادِ حَرَامٌ، وَقَدْ سَبَقَ عَنِ الْإِمَامِ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ قَالَ فِي مُوَطَّئِهِ: لَا نَرَى بِالْخِضَابِ بِالْوَسْمَةِ وَالْحِنَّاءِ وَالصُّفْرَةِ بَأْسًا، وَإِنْ تَرَكَهُ أَبْيَضَ فَلَا بَأْسَ بِهِ، كُلُّ ذَلِكَ حَسَنٌ،

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۶ ص ۷۵۶ مسائل شتي بیروت چاپ / البحرالرائق شرح کنزالدقائق ج۸ ص ۱۸۳ / مرقاة المفاتیح ج۷ ص ۲۸۱۷ باب الترجل بیروت چاپ / احکام تجمیل النسآء ص ۲۱۸ / دخضاب شرعي حکم رسالة)

دبار خوګانو او تر شونډو لاندي ویښته اخیستل څنګه دي ؟

سوال ۱۳ : دمخ څخه تر ږیري ماسوا دزائدو ویښتیا نو لیري کول شرعا څنګه دي ؟

جواب : دږیري دحدودو څخه پرته دمخ دزائدو ویښتیانو په لیري کولو کښې شرعا څه قباحت او بدوالی نسته خو بیا هم دومره مبالغه کول نه ده پکار چي دمُخنّث سره

يې مشابهت راسي ، او د شونډانو څخه لاندي ويښته دوه قسمه دي يو قسم هغه ويښته دي چي په پښتو کښې ورته (بزګر) وايي او په عربي کښې ورته (عنفقه) وايي دا دېيري په حکم کښې دي ، اخيستل او غټچي کول يې جايز نه دي . او دوهم قسم هغه ويښته دي چي د دغه بزګر پر دوو بغلو باندي دي چي په عربي کښې ورته (فنيکين) وايي د دې اخيستلو ته هم د فقهي شريفي کتابونو بدعت ويلي دي چي د دې اخيستل هم درست او رواه نه دي . والله اعلم .

وفی الفتاوی الهندیة : وَلَا يَحْلِقُ شَعْرَ حَلْقِهِ وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – لَا بَأْسَ بِذَلِكَ وَلَا بَأْسَ بِأَخْذِ الْحَاجِبِينَ وَشَعْرَ وَجْهِهِ مَا لَمْ يَتَشَبَّهْ بِالْمُخَنَّثِ كَذَا فِي الْيَنَابِيعِ. وَنَتْفُ الْفَنِيكَيْنِ بِدْعَةٌ وَهُمَا جَانِبَا الْعَنْفَقَةِ وَهِيَ شَعْرُ الشَّفَةِ السُّفْلَى كَذَا فِي الْغَرَائِبِ.

وقال العلامة ابن عابدين فی ردالمحتار :وَفِي التَّتَارْخَانِيَّة عَنْ الْمُضْمَرَاتِ: وَلَا بَأْسَ بِأَخْذِ الْحَاجِبَيْنِ وَشَعْرِ وَجْهِهِ مَا لَمْ يُشْبِهْ الْمُخَنَّثَ اهـ وَمِثْلُهُ فِي الْمُجْتَبَى تَأَمَّلْ

(الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۵۸ بیروت چاپ / ردالمحتار ج ۶ ص ۴۰۷ کتاب الحظر والاباحة فصل في البيع / فتاوی حقانية ج ۲ ص ۲۵۰ باب المسائل المتفرقة)

د کفارو په شان اوږول ويښته جوړول .

سوال ۱۴ : نن سبا د سر د ويښتو د جوړوولو مختلف قسمونه او ډيزاينونه وجود ته راغلي دي يوه ته انګريزي ويښته وايي بل ته (تيري نام) ويښته او داسي نور قسمونه چي د مخ خواته يې ويښته زيات پرې ايښي وي او د شا خواته کم . يا يې د څټ خوا او ځيني بغلونه خريلي وي او د مخ خوا يې پرې ايښې وي ايا د شريعت د نګاه څخه پر دغه طريقه باندي ويښته جوړول جواز لري که يا ؟

جواب : نبي کريم صلی الله عليه وسلم به داسي ويښته پرېښوول چي کله به د غوږونو تر نيمايي پوري رسېدل او کله به د غوږونو تر نرمکيو پوري رسېدل . او کله چي به تر دې هم زيات سول نو تر اوږو پوري به رسېدل . او يو واري نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل ويښته د حج پر موقع باندي خريلي هم دي . او همدا شان د حضرت علي رضي الله عنه او څه نورو صحابه کرامو څخه هم د سر خريل ثابت دي . نو ځکه سنت

طريقه داده چي يا دسر ټول وېښتان وخرييل سي او يا دي پرېښوول سي ، او يا دي يو رقم برابر په غچي سره سم کړل سي .

دسر څه ويښتيان کمول او کوچني کول او څه پرېښوول لکه چي نن سبا رواج دي او خلګ ورته انګريزي وېښتيان وايي داسي وېښته جوړول ناروا او دشريعت او سنت څخه مخالف کار دی. په دې سره دنصاراوو فساقو او فجارو سره مشابهت پيدا کيږي کوم چي په اسلامي شريعت کښې ممنوع دی. دحضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم له (قزع) څخه منع کړېده او قزع داده چي دسر دڅه حصې وېښتيان وخرييل سي او څه حصه پرېښوول سي . په بخاري شريف کښې دقزع تفسير داسي سوی دی : دسر په مخکنۍ حصه کښې وېښتيان پرېښوول او دسر دورستنۍ حصې وېښتيان خريل . په يو بل حديث شريف کښې دي چي يو ځل نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو ماشوم وليدی چي دهغه دسر ديو څه حصې څخه وېښتيان خريل سوي وه او پر يو څه حصې باندي پرېښوول سوي وه نبي کريم صلی الله عليه وسلم دداسي کولو څخه منع وکړله او وې فرمايل : که يې چيري خريل غواړی نو پوره يې وروخروی او که وېښتيان پرېښوول غواړی نو بيا ټوله وېښتيان ورپرېږدی.

دعلامه زندوي رحمة الله عليه څخه په روضه کښې منقول دي چي دسردوېښتيانو دپرېښوولو په سلسله کښې سنت طريقه داده چي يا خودي ټول وېښتيان پرېښوول سي او يا دي ټول وخريل سي . خلاصه دا چي انګريزي وېښتيان يو مکروه او حرام عمل دی ځکه چي په دې کښې دکفارو سره يو قسم مشابهت راځي او دهغه څخه په حديث شريف کښې منع راغلې ده .

(الفتاوى الهندية ج ۶ ص ۲۳۸ الباب التاسع عشر في الختان كتاب الكراهية / ردالمحتار مع الدارالمختار ج ۵ ص ۳۵۹ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع / مشكواة المصابيح ص ۳۷۵/ ۳۸۰ باب الترجل / كتاب اللباس / مالابدمنه ص ۱۳۱ / كفايت المفتي ج ۹ ص ۱۷۰ / بخاري شريف ج ۲ ص ۸۷۷ باب القزع / فتاوى رحيميه ج ۱۰ ص ۱۲۷ / ابوداود شريف ج ۲ ص ۲۲۴)

دکالو دجوړوولو څخه وروسته چي کوم ټوکر پاته سي نو خياط يې اخلي .

سوال ۱۵ : بعضي خیاطان داسي یو عادت لري چي کله دیو کس کالي ورجوړ کړي نو دهغه کالو څخه چي کوم ټوکر پاته سي هغه دځان سره کښېږدي هغه دکالو وخاوند ته نه ورواپس کوي ایا آدا په غلا کښې راځي که یا ؟

جواب : ښکاره خبره ده چي بېله اجازې دیو چا مال اخیستل دا په غلا کښې راځي او غلا یو حرام او ناروا عمل دی، هغه نو بیا فرق نه لري که دکافر څخه وي او که دمسلمان څخه وي باید خیاط دغه پاته سوی ټوکر وهغه دټوکر وخاوند ته ورواپس کړي او ځان دآخروي تاوانه څخه خلاص کړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (هِيَ) لُغَةً أَخْذُ الشَّيْءِ مِنْ الْغَيْرِ خُفْيَةً، وَتَسْمِيَةُ الْمَسْرُوقَ سَرِقَةً مَجَازٌ. وَشَرْعًا بِاعْتِبَارِ الْحُرْمَةِ أَخْذُهُ كَذَلِكَ بِغَيْرِ حَقٍّ نِصَابًا كَانَ أَمْ لَا. وَعَن أبي حرَّة الرقاشِي عَن عَمه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم: «أَلَا تَظْلِمُوا أَلَا لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَان وَالدَّارَقُطْنِيّ فِي الْمُجْتَبى .

(مشكواة المصابيح كتاب البيوع باب الغصب والعارية الفصل الثاني ص ۲۵۵ قديمي / الدرالمختار كتاب السرقة ج ۴ ص ۲ سعيد چاپ /فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۳۳۶ باب اللباس مكتبه فاروقيه كراچي / سورة المائدة ايت ۳۸)

بارچاکي کالي جوړول یا اوږدې غاړې ورکول دښځو دپاره شرعا څنګه دی ؟

سوال ۱۶ : نن سبا په ښځو کښې بارچاکي کالي جوړول یو قسم فېشن ګرځېدلی دی او حال دا چي ددغه بارچاکي کالو په اغوستلو کښې دښځي ستر هم خوندي نه وي او یو قسم مشابهت یې دغیرمسلم ښځو سره هم وي نو ایا ښځي ته په اسلام کښې دبارچاکي کالو جوړولو روا ایښت سته که یا؟ او ځیني کالي بیا داسي دي چي دښځي سینه او غاړه په کښې معلومیږي .

جواب : . دلباس لپاره شریعت درې قیده او شرطونه مقرر کړي دي . **اول** دا چي په لباس کښي به نمو او نمائش او فضول خرچي نه وي . **دوهم** : دا چي دکفارو او فساقو سره به مشابهت نه وي په کښي . **دریم :** دا چي دنارینه وو لباس به دښځو دلباس سره او دښځو دلباس به دنارینه وو دلباس سره مشابهت نه لري .لهذا کوم

لباس چي پردغه اصولو باندي برابر وي دهغه اغوستل رواه دي او کوم چي نه وي برابر هغه نه دي رواه .

نو هرکله چي په بارچاکي کالو کښي دغه شرطونه دشریعت نیستي دي یعني نه ستر پوره په کښي لحاظ کیږي ، او اکثره دغه بارچاکي کالي تنگ هم وي چي دښځي داعضاوو انعکاس هم په کښې راځي او دغه تنگوالی یې ښځي یو قسم شواو فېشن هم بولي ، او بل طرف ته په دې جامو کښې مشابهت دنرو دجامو سره هم راځي اوبل داچي دغه فیشن دغیر مسلمینو دښځو څخه رانقل سوی دمسلمانانو ومعاشرې ته راغلی دی نو ددغه مفاسدو پربنا دنن سبا موجوده بارچاکي کالي اغوستل په شریعت کښې جائز نه دي .که څه هم په کور کښې نامحرمه شخص نه وي ځکه چي مشابهت مشابهت دی .

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّهُ لَعَنَ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ، وَالْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ» سنن ابی داود باب لباس النسآء ج ۲ ص ۶۰ بیروت

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المُتَشَبِّهَاتِ بِالرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ وَالمُتَشَبِّهِينَ بِالنِّسَاءِ مِنَ الرِّجَالِ» : «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» الترمذی ج۵ ص ۱۰۵

(سنن ابي داود باب لباس النسآء ج ۲ ص ۶۰ بیروت چاپ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۷ص ۱۶۶ / فتاوی مفتي محمود ج ۱۰ ص ۳۱۳ باب الحظر والاباحة / سنن الترمذی ج۵ ص ۱۰۵ بیروت)

دښځو دپاره اوږده نوکان پرېښوول څنگه دي ؟

سوال ۱۷ : نن سبا دلویو لویو نوکانو دپرېښوولو رواج دی خصوصا په ښځو کښې دډول او سینگار په توگه ښځي خپل نوکان پرېږدي نو ایا داسي کول شرعا جواز لري که یا ؟

جواب : شریعت مقدسه دنوکانو او داسي نورو پرې کول دفطرت (طبیعت) په امورو کښې داخل گڼلي دي . او دپرې کولو دپاره یې وخت او اندازه هم مقرره کړېده . یعني په هفتې کښې یو ځل دنوکانو پرې کول مستحب دي . او ترڅلوېښتو ورځو یې پرېښوول جائز دی . لیکن ددې څخه زیات پرېښوول مکروه دي چي نتیجه یې

آخرکار دانسان په ګناه کښې مبتلا کېدل دي . نود دې دپاره دښځو او سړو دپاره دفیشن (ډول او سینګار) په توګه دنوکانو اوږدول مکروه دي . اوبل طرف ته کتابونو راوړي دي چي : دنوکانو اوږدول درزق او روزۍ دتنګۍ سبب هم ګرځي نو لازمه ده چي ددې عمل څخه هم اجتناب وسي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَيُسْتَحَبُّ قَلْمُ أَظَافِيرِهِ) إلَّا لِمُجَاهِدٍ فِي دَارِ الْحَرْبِ فَيُسْتَحَبُّ تَوْفِيرُ شَارِبِهِ وَأَظْفَارِهِ (يَوْمَ الْجُمُعَةِ) وَكَوْنُهُ بَعْدَ الصَّلَاةِ أَفْضَلَ إلَّا إذَا أَخَّرَهُ إلَيْهِ تَأْخِيرًا فَاحِشًا فَيُكْرَهُ لِأَنَّ مَنْ كَانَ ظُفْرُهُ طَوِيلًا كَانَ رِزْقُهُ ضَيِّقًا وَفِي الْحَدِيثِ «مَنْ قَلَّمَ أَظَافِيرَهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَعَاذَهُ اللَّهُ مِنْ الْبَلَايَا إلَى الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى وَزِيَادَةِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ» دُرَرٌ وَعَنْهُ .... والاربعون الابعد .... ولاعذر فيما وراء الاربعين .

(تنوير الابصار مع شرحه الدرالمختار ج ۵ ص ۲۸۷ کتاب الحظر والاباحة فصل في النظر والمس / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۵۷ کتاب الكراهية الباب التاسع عشر في الختان والخصاء / فتاوى قاضيخان علي هامش الهندية ج ۲ ص ۴۱۱ کتاب الحظر والاباحة فصل في الختان / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۱۲ باب اللباس)

دمخ اوتو کول .

سوال ۱۸ : ځیني کسان نن سبا دفیشن په ډول سره خپل مخونه اوتو کوي خصوصا ښځي بیا دغه فعل ډیر تر سره کوي . چي ددې اوتو په ذریعه سره دمخ ګونجي او کتونه هوا ریږي ایا ددین اسلام دنګاه څخه داسي کول رواه دي که یا ؟

جواب : حضرت مولانا عبد الرحیم راجپوري رحمة الله علیه په فتاوی رحیمیه کښې ودغه سوال ته داسي جواب ویلی دی : داهسي فضول خرچي اوچټي کار دی بلکي یو قسم چم او فریب ودوکه هم ده خپل اصلي رنګ پټول دي او دمصنوعي حسن نمایش او ښکاره کول دي . ددې قسم کارونو څخه ځان ساتل پکار دي .ښځه کولای سي چي خپل خاوند ته په ساده او پخوانۍ طریقې سره زیب او زینت او سینګار وکړي بلکي مطلوب لا هم دی چي باید وسي . کوم چي په فیشن کښې داخل نه وي

او له فجارو سره مشابهت هم په کښې رانه سي او اطباوو هم ويلي دي چې د طب د نګاه څخه هم دغه تجميلي عمليات تاواني او نقصاني شی دی .

عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: «لعن الله الواشمات والمستوشمات، والمتنمصات والمتفلجات للحسن، المغيرات خلق الله» ما لي لا ألعن من لعنه رسول الله صلى الله عليه وسلم، وهو في كتاب الله

(صحيح البخاري ج ۷ ص ۱۶۶ باب الموصولة مکتبه شامله / الصحيح لمسلم ج ۳ ص ۱۶۷۸ مکتبه شامله / سنن ابي داود ج ۴ ۷۷ مکتبه شامله / فتاوی رحيميه ج ۱۰ ص ۱۹۱ / دښځې عصري سينګار او خطرونه ص ۴۰)

دشريعت مخالف کالي جوړول او دهغوی ګناه .

سوال ۱۹ : د شريعت مخالف کالي جوړول څومره ګناه لري او پر خياط باندي ګناه شته که يا ؟

جواب : دين اسلام د لباس پر برابر يو څه شرطونه لګولي دي . **اول :** دا چې د نارينه لباس به دوريښمو څخه نه وي جوړ . **دوهم :** دا چې د کفارو او فساقو د لباس سره به مشابه لباس نه وي . **دريم :** دا چې پايڅي به تر بجلکو کښته نه وي . **څلورم :** دا چې د ښځو د لباس سره به مشابه لباس نه وي .

او د ښځو د لباس پر برابر بيا شريعت دغه قيدونه لګولي دي . **اول :** تنګ به نه وي . **دوهم :** دا چې نازک به نه وي . **دريم :** دا چې لنډ به نه وي . **څلورم :** د کفارو او فساقو د جامو سره به مشابه لباس نه وي . **پنځم :** دا چې د نر د جامو سره به مشابهت نه لري .

او خياط هم په دغه ګناه کښې پوره ورسره شريک دی .

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا، لَا تَشَبَّهُوا بِاليَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى، فَإِنَّ تَسْلِيمَ اليَهُودِ الإِشَارَةُ بِالأَصَابِعِ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الإِشَارَةُ بِالأَكُفِّ» :

(سنن ابي داود ج ۴ ص ۴۴ باب في لبس الشهرة / سنن الترمذی ج ۵ ص ۵۶ بیروت چاپ مکتبه شامله / جواهر الاحکام ص ۳۰۲ باب الحلال والحرام / کفایت المفتي ج ۹ ص ۱۶۸ / فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۱۸۷ باب الزینة واللباس)

بې له ضرورته چې ښځې خپل غوږنه درې څلور ځایه سوري کوي .

سوال ۲۰ : نن سبا یو رواج دزینت او فېشن دغه په ښځو کښې راروان دی چې غوږونه سوري کوي پوښتنه داده چې ایا دښځې دپاره دغوږونو سوري کول رواه دي که یا ؟ .

جواب : په فتاوی عالمګیري کښې لیکلي دي چې غوږونه سوري کول دانجونو دپاره رواه دي ځکه چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې انجونو غوږونه سوري کوله او چا پر دې عمل باندي رد یا انکار نه دی کړی .

وفی الفتاوی الهندية : وَلَا بَأْسَ بِثَقْبِ آذَانِ النِّسْوَانِ كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ. وَلَا بَأْسَ بِثَقْبِ آذَانِ الْأَطْفَالِ مِنْ الْبَنَاتِ لِأَنَّهُمْ كَانُوا يَفْعَلُونَ ذَلِكَ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ – مِنْ غَيْرِ إنْكَارٍ كَذَا فِي الْكُبْرَى.

(الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۵۷ الْبَابُ التَّاسِعَ عَشَرَ فِي الْخِتَانِ وَالْخِصَاءِ وَحَلْقِ الْمَرْأَةِ شَعْرَهَا ووصلها شعر غَيْرِهَا / جدید فقهي مسائل ص ۱۳۳ / فتاوی اللکنوی ص ۴۸۰ / احسن المسائل ص ۱۳۵ مسائل شتي)

تور رنګ جامه د نارینه لپاره شرعًا څنګه ده او حال دا چې شیعه ګان یې د ماتم لپاره اغوندي؟

سوال ۲۱ : د تور رنګ او تو کر څخه جامه او کالي جوړول جواز لري که یا او حال دا چې اهل تشیع دا د ماتم او غم لپاره استعمالوي که یې څوک د دغه غرض او مقصد څخه بغیر فقط د لباس په نیت استعمال کړي شرعًا روا ایښت لري که یا؟

جواب : تور رنګ جامه په نیت د ماتم او غم اغوستل شرعًا منع او ناروا ده ځکه چې دا د روافضو او اهل تشیع شعار او خاص نښه ده او که دیو چا اظهار د ماتم او غم

مقصود نه وي فقط يې د لباس په نيت اغوندي بياد نورو جامو په شان رواه ده شرعًا حرج نه لري .

لما فی تنویر الابصار مع الدرالمختار : وکره لبس المعصفر والمزعفر الاحمر والاصفر للرجال ولاباس بساير الالوان .

(تنوير الابصار مع الدر جلد ۶ ص ۲۵۸ فصل في اللبس مكتبه شامله / كفايت المفتي جلد ۹ ص ۱۵۹ كتاب الحظر والاباحة دارالاشاعت چاپ)

بې ضرورته و غاښوته دسرو زرو پوښونه ورکول .

سوال ۲۲ : که چيري ديو شخص غاښونه جوړ او تيار وي دی فقط دزينت او ښايست په غرض باندي وخپلو غاښونو ته دسرو زرو داسي خول او پوښ ورکړي چي دوه يا درې دانې غاښونه تر وريو پوري پټ کړي ، يا يو کس بېله ضرورته دسروزرو غاښ کښيږدي . ايا بېله کوم ضرورته وغاښونو ته دسرو زرو پوښ ورکول يا دسرو زرو غاښونه ايښوول رواه دي که يا ؟ او که يې چيري دا پوښ ورکړی نو لمونځ او اودس يې صحت لري که يا ؟

جواب : نارينه ته دا رواه ده چي وخپلو غاښونو ته ديو خرابۍ يا مريضۍ دوجي څخه د سرو زرو پوښ ورکړي ، او يا دسرو زرو غاښ کښيږدي . البته دزينت او ښايست دپاره کوم ته چي بېله ضرورته ويل کيږي دسرو زرو پوښ ورکول يا دسرو زرو غاښ ايښوول مکروه دی . خو دلمانځه او اوداسه او غسل دصحت څخه منع نه راولي ځکه چي په داسي صورت کښې هغه پوښ ددغه غاښ ديو جز لازم حيثيت پيدا کوي . او همدا شان دغه غاښ ددغي ورئ سره دجز لازم حيثيت پيدا کوي .

وفی التنویر مع الدر المختار (وَلَا يَشُدُّ سِنَّهُ) الْمُتَحَرِّكَ (بِذَهَبٍ بَلْ بِفِضَّةٍ) وَجَوَّزَهُمَا مُحَمَّدٌ .

(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۶ ص ۳۶۲ فصل في اللبس مكتبه شامله / الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۳۶ / كفايت المفتي ج۹ ص ۱۵۷ كتاب الحظر والاباحة / فتاوى عصر ص ۱۱۴ / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۳۴۶ باب استعمال الذهب والفضة / فتاوى رحيميه ج ۱۰ ص ۱۸۸)

دمعيوبې ښځي دپاره بارچاکي کالي اغوستل .

سوال ۲۳ : زه معیوبه ښځه یم ولاړېدای نه سم ناسته ناسته یم اودس وغیره په ګیردیو کالو کښې راته تکلیف وي . ایا ماته بارچاکي کالي اغوستل رواه دي که یا ؟ .

جواب : . دلباس لپاره شریعت درې قیده اوشرطونه مقررکړي دي . **اول** داچي په لباس کښي به نمواونمائش او فضول خرچي نه وي . **دوهم** : داچي دکفاروا و فساقو سره به مشابهت نه وي په کښي . **دریم :** داچي دنارینه وو لباس به دښځو دلباس سره او دښځو دلباس به دنارینه وو دلباس سره مشابهت نه لري .لهذا کوم لباس چي پردغه اصولو باندي برابر وي دهغه اغوستل رواه دي او کوم چي نه وي برابر هغه نه دي رواه .

نو هرکله چي په بارچاکي کالو کښې دغه شرطونه دشریعت نیستي دي یعني نه ستر پوره په کښي لحاظ کیږي ، او اکثره دغه بارچاکي کالي تنګ هم وي چي دښځي داعضاوو انعکاس هم په کښې راځي او دغه تنګوالی یې ښځي یو قسم شواو فېشن هم بولي ، او بل طرف ته په دې جامو کښې مشابهت دنرو دجامو سره هم راځي اوبل داچي دغه فیشن دغیر مسلمینو دښځو څخه رانقل سوی دمسلمانانو ومعاشرې ته راغلی دی نو ددغه مفاسدو پربنا دنن سبا موجوده بارچاکي کالي اغوستل په شریعت کښې جائز نه دي . دغه مور یا خور دي کوشش وکړي چي دبلي جاېزي ذرېعې دلاري څخه دغه مشکل حل کړي . والله اعلم

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّهُ لَعَنَ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ، وَالْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ» سنن ابی داود باب لباس النسآء ج ۲ ص ۶۰ بیروت عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّهَاتِ بِالرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهِينَ بِالنِّسَاءِ مِنَ الرِّجَالِ» : «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» الترمذی ج۵ ص ۱۰۵

[ستاسي مسائل اودهغه حل ج ۷ص ۱۶۶ / فتاوی مفتي محمود ج ۱۰ ص ۳۱۳ باب الحظر والاباحة / الترمذی ج۵ ص ۱۰۵ بیروت / سنن ابي داود باب لباس النسآء ج ۲ ص ۶۰ بیروت]

درنجو دلګولو طریقه شرعا څنګه ده ؟

سوال ۲۴: رانجه څه وخت لګیږي او دلګولو طریقه یې شرعا څنګه ده ؛د

جواب : شریعت مطهره د رانجو په سترګه لګولو دپاره وخت نه دی متعین کړی لیکن تر خوب او بیدېدو مخکې زیاته فائده او ګټه لري، بله طریقه دا ده چې درې سلائي (لرګي) په راسته سترګي کي ووهل سي او درې په چپه سترګي کښې او شروع دراسته سترګي څخه وسي .

عن ابن عباس،رضي الله عنهما أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «اكتحلوا بالإثمد فإنه يجلو البصر. وينبت الشعر» ، وزعم أن النبي صلى الله عليه وسلم كانت له مكحلة يكتحل بها كل ليلة ثلاثة في هذه، وثلاثة في هذه وفي الباب عن جابر، وابن عمر.

وعن ابن عباس رضي الله عنهما (قالَ كَانَ النبي يَكتَحِلُ قَبل اَن ينَام بِالاثمد ثَلاثًا فِي كُل عَين)

(شمائل الترمذي ص ۳۴/ سنن الترمذي شریف ج ۴ ص ۲۳۴ باب الاکتحال مکتبه شامله / احسن الفتاوی ج ۹ ص ۷۴ مسائل شتي / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۳۴۳)

دخټ وېښتان خریل روادي که یا ؟

سوال ۲۵ : دخټ وېښتان یعني ترغوږولاندي حصې وېښته خریل جایزدي که یا او که مکروه دي؟.

جواب: غاړه او خټ جلا جلا عضوه ده دسر ترحد ودوداحصه لاندي ده لهذا دخټ وېښته دسرد وېښتو دکوچني کولو سره خریل روادي اوصرف دغاړي او خټ وېښته خریل اوسرپرېښودل شرعا فقهاؤ منع او مکروه بللي دي .

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

وفى مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح : (وَعَنْهُ) : أَيْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ (قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ) : أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ، أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ. (فَهُوَ مِنْهُمْ) : أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ. قَالَ الطِّيبِيُّ: هَذَا عَامٌّ فِي الْخَلْقِ وَالْخُلُقِ وَالشِّعَارِ.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وكراهة التشبه باهل البدع مقررة عندنا .

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٨ ص ١٥٥ كتاب اللباس مكتبه رشيديه / ردالمحتار علي الدرالمختار كتاب الخنثي مسائل شتي ج٦ ص ٧٥٣ مكتبه شامله / الفتاوى الهندية ج٥ ص ٣٥٧ / فتاوى محموديه ج١٩ ص ٤٣٦ باب خصال الفطرة)

دسپینو وربښتو کښل روادی اوکه یا ؟

سوال۲۶: که دیو ځوان سرې په سرکي دزکام او نزلې دوجي څخه درې څلور سپین وېښته پیدا سي نو ددغو سپینو وېښتو کښل جایز دي که یا ؟

جواب: دعیب دختمولو او زایلولو لپاره سپین وېښته کښل روادي او تروخت مخکي مخکي وېښتان سپینیدل عیب دی لهذا ددغو وېښتو کښل روا دي .

لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : ولا باس بنتف الشيب ، قال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : لاباس بنتف الشيب وقيده فى البزازية بان لايكون على وجه التزيين .

وقال العلامة المؤلف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: ٨٥٥هـ) فى البناية شرح الهداية ولا بأس بنتف الشيب

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج٥ ص ٢٨٨ فصل في البيع مكتبه شامله / احسن الفتاوى ج٨ ص ١٨٣ باب متفرقات الحظر والاباحة / البناية شرح الهداية ج٤ ص ٧٣ السواک الصائم)

دپزي او غوږونو سوري کول جواز لري که یا ؟

سوال۲۷ : دپزي او غوږونو سوري کول دښځي د زینت لپاره شرعاً ثبوت او جواز لري که یا ؟

جواب : دغوږ سوري کول شرعاً جواز او رواوالی لري لیکن دپزي سوری کول جواز نه لري ځکه چي دانسان په مخ کي دزینت ځای یو قسم ګډوډي او عیب پیدا کوي یعني دانسان مخ بد شکله کوي .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : قوله (والطفل) ظاهره أن المراد به الذكر مع أن ثقب الأذن لتعليق القرط وهو من زينة النساء فلا يحل للذكور

والذي في عامة ا لكتب وقدمناه عن التاترخانية لا بأس بثقب أذن الطفل من البنات وزاد في الحاوي القدسي ولا يجوز ثقب آذان البنين فالصواب إسقاط الواو

(ردالمحتار ج ۵ ص ۲۹۸ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۸ ص ۳۷۵ مکتبه رشیدیه / فتاوی الهندية ج ۵ ص ۳۵۷ مکتبه رشیدیه / فتاوی اللکهنوي ص ۴۸۰ / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۳۷۰ اردو)

آیالنګوټې ته دوې شملې ورکول سنت دي؟

سوال۲۸: اکثره تبلیغیان حضرات چي موږ وینو شاته یې دوې شملې ورکړي وي یوه اوږده او بله یو څه لنډه آیا دغه دوې شملې ورکول لنګوټې ته سنت د رسول صلي الله علیه وسلم دي که دابله کومه نوې طریقه ده؟

جواب: شاته دوې شملې لنګوټې ته ورکول دادواړي په سنت او حدیث سره ثابتي دي.

(عن عمرو بن حريث رضي الله عنه قال رسول الله صلي الله عليه وسلم علي المنبر وعليه عمامة سوداءقدارخيْ طرفيها بين كتفيه .

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۳ ص ۴۵۴ باب الخطبة والصلوة / مشكاة المصابيح ج ۱ ص ۱۲۳ /زادالعماد ص ۱۳۵ ج ۱ / احسن الفتاوي ج ۹ ص ۵۱ مسائل شتي / شرح النووي علي مسلم ج ۱ ص ۴۴۰ مکتبه شامله / مسلم شریف ج ۱ ص ۴۴۰)

دخلورویا پنځو کالو په انجلۍ دنارینه کالي اغوستل څنګه دي ؟

سوال ۲۹ : دڅلورویا پنځو کالو په انجلۍ دنارینه کالي اغوستل څنګه دي ؟

جواب : که څه هم دڅلورویا پنځو کالو ماشومان شرعا داحکامو مکلف نه دي خو البته یوه خبره دلته سته هغه داچي کله په هلک باندي دانجلۍ او په انجلۍ باندي دهلک جامې واغوستل سي یو قسم اشتباه خلګو ته پیدا کیږي چي پر نارینه باندي دښځي او پر ښځي باندي دنارینه ګمان کوي . او دایو قسم چم هم دی یعني څوک قصدا او ارادة په شک کي اچول دي لهذا پرهیز ځیني کول په کار دي . او بل داچي

یو قسم مشابهت هم د نارینه په ښځینه پوري راځي او د ښځینه ده په نارینه پوري راځي که چیري داسي وسي نو ګناه به یې دلویانو په غاړه وي لکه څنګه چي په فتاوی عالمګیري کښې چي یې هم داسي راوړي دي . ښه به دا وي چي هلک ته دهلک کالي وراپه تن سي او انجلۍ ته دانجلۍ کالي وراپه تن سي ځکه چي وضع دشي به په خپل محل کښې راسي او دا بعینه عدل دی . والله اعلم .

وفی الفتاوی الهندیة : وَمَا يُكْرَهُ لِلرِّجَالِ لُبْسُهُ يُكْرَهُ لِلْغِلْمَانِ وَالصِّبْيَانِ؛ لِأَنَّ النَّصَّ حَرَّمَ الذَّهَبَ وَالْحَرِيرَ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِهِ بِلَا قَيْدِ الْبُلُوغِ وَالْحُرِّيَّةِ، وَالْأَثِمُ عَلَى مَنْ أَلْبَسَهُمْ؛ لِأَنَّا أُمِرْنَا بِحِفْظِهِمْ، كَذَا فِي التُّمُرْتَاشِيِّ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا، وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ يَبِيعُ طَعَامًا، فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ فَإِذَا هُوَ مَغْشُوشٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ غَشَّ»

(الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۳۱ کتاب الکراهیة ، الباب التاسع في اللبس مایکره من ذلک وما لایکره / صحیح مسلم شریف ج ۱ ص ۹۹ باب النهي عن الغش بیروت چاپ / سنن ابن ماجة ۲ ص ۷۴۹ بیروت چاپ مکتبه شامله / مسند ابن ابي شیبة ج ۲ ص ۲۳۳ بیروت چاپ /مصنف ابن ابي شیبة ج ۴ ص ۵۶۳ بیروت چاپ)

ښځو ته دسر دمخ دخوا یا د سر شا طرف وېښتیان کوچني کول .

سوال ۳۰ : د ښځو دپاره د سر د مخکني طرف یا د سر د شا طرف وېښتیان کوچني کول رواه دي که یا ؟ ځیني وختونه دیوې ښځي وېښتیان ډېر اوږده یا ګڼ وي نو داسي ښځي ته وېښته پرې کول شرعا رواه دي که یا ؟ .

جواب : ګڼ او اوږده وېښتیان د ښځو او انجونو دپاره د زینت باعث او خلقتي اسباب دي . په اسمانونو کښې یو څه فرشتې داسي دي چي هغوئ داسي تسبیح وایي . (سبحان من زین الرجال باللحی وزین النسآء بالذوآئب)

ژباړه : پاک دی هغه ذات کوم چي نارینه په ږیرو سره ښایسته کړي دي او ښځي یې په کوڅیو او پښتیو سره ښایسته کړي دي . لهذا د ښځو دپاره وېښته کوچني کول

شرعا منع دي. حضرت مولانا مفتي عبدالرحیم راجپوري رحمة الله علیه په فتاوی رحیمیه کښې لیکلي دي: البته که دومره اوږده وه چي تر صلوینو (کوناټو) (دناستي تر ځای) هم را کښته سول نو هغه لاندي او زړیدلي وښته پرېکول رواه دي. خو دا به ډېر شاذ او نادر وي. والله اعلم بالصواب.

وفی الفتاوی الهندیة :ولو حلقت المرأة رأسها فإن فعلت لوجع أصابها لا بأس به وإن فعلت ذلك تشبها بالرجل فهو مكروه كذا في الكبرى.

(فتاوی رحیمیه ج ١٠ ص ١٢٠ کتاب الحظر والاباحة اردو / روح البیان ج ١ ص ٢٢٢ بحواله رحیمیه / ردالمحتار علي الدرالختار ج ۶ ص ۴٠٧ بیروت مکتبه دارالفکر / امدادالفتاوی ج ۴ ص ٢٢٧ اردو / امدادالاحکام ج ۴ ص ٣۵۴ / مشکوة المصابیح ج ٢ ص ١٢٧١ بیروت چاپ / حقانیه ج ٢ ص ٢۴٨)

ښځولره ورځي نری کول رواه دی که یا ؟

سوال ٣١ : نن سبا په ښځو کښې دفېشن او سینګار دلحاظه څخه دغه یو عادت راروان دی چي خپلي ورځي نری کوي او جوړوي يې. پوښتنه دا ده چي ورځي نری کول یا جوړول د شریعت دنګاه څخه رواه دي که یا ؟

جواب : نن سبا چي په ښځو کښې دفېشن او سینګار دپاره کوم دغه عادت راروان دی چي ورځي نری کوي دا شرعا رواه او جائز کار نه دی. البته فقهاوو لیکلي دي که چیري دیوې ښځي وېښته بد معلوم‌ېدل هغه نو بیا که دورځو وي یا دمخ دبلي حصې وي مثلا د ډېر غټوالي دوجي څخه رازړېدلي وه بیا نو دهغو دصفا کولو او جوړولو ګنجایش او رواه والی شرعا سته

لما فی صحیح مسلم : عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: «لَعَنَ اللهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ، وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ، وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللهِ. ولماقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی فی ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَالنَّامِصَةُ إلَخْ) ذَكَرَهُ فِي الِاخْتِيَارِ أَيْضًا وَفِي الْمُغْرِبِ.

النَّمْصُ: نَتْفُ الشَّعْرِ وَمِنْهُ الْمِنْمَاصُ الْمِنْقَاشُ اهـ وَلَعَلَّهُ مَحْمُولٌ عَلَى مَا إذَا فَعَلَتْهُ لِتَتَزَيَّنَ لِلْأَجَانِبِ، وَإِلَّا فَلَوْ كَانَ فِي وَجْهِهَا شَعْرٌ يَنْفِرُ زَوْجُهَا عَنْهَا بِسَبَبِهِ، فَفِي تَحْرِيمِ إزَالَتِهِ بُعْدٌ،

لِأَنَّ الزِّينَةَ لِلنِّسَاءِ مَطْلُوبَةٌ لِلتَّحْسِينِ، إِلَّا أَنْ يُحْمَلَ عَلَى مَا لَا ضَرُورَةَ إِلَيْهِ لِمَا فِي نَتْفِهِ بِالْمِنْمَاصِ مِنْ الْإِيذَاءِ. وَفِي تَبْيِينِ الْمَحَارِمِ إِزَالَةُ الشَّعْرِ مِنْ الْوَجْهِ حَرَامٌ إِلَّا إِذَا نَبَتَ لِلْمَرْأَةِ لِحْيَةٌ أَوْ شَوَارِبُ فَلَا تَحْرُمُ إِزَالَتُهُ بَلْ تُسْتَحَبُّ اهـ، وَفِي التَّتَارْخَانِيَّة عَنْ الْمُضْمَرَاتِ: وَلَا بَأْسَ بِأَخْذِ الْحَاجِبَيْنِ وَشَعْرِ وَجْهِهِ مَا لَمْ يُشْبِهْ الْمُخَنَّثَ اهـ وَمِثْلُهُ فِي الْمُجْتَبَى تَأَمَّلْ

(صحيح مسلم شريف ج ۳ ص ۱۶۷۸ بَابُ تَحْرِيمِ فعلِ الْوَاصِلَةِ وَالْمُسْتَوْصِلَةِ وَالْوَاشِمَةِ وَالْمُسْتَوْشِمَةِ وَالنَّامِصَةِ وَالْمُتَنَمِّصَةِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ وَالْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ / الدر المختار مع رد المحتار ج ۶ ص ۳۷۳ فصل في النظر والمس / فتاوى عباد الرحمن ج ۵ ص ۱۷۵ كتاب الحظر والاباحة / الموسوعة الفقهية ج ۱۴ ص ۸۱ فصل في التنمص / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۳۲۱)

دنارينه دپاره لاسونه سره کول رواه دي که يا ؟

سوال ۳۲: آيا نارينه ته دا روا دی چي خپل لاسونه په نوکروزو سره کړي لکه ښځي چي يې سره کوي او که يا؟.

جواب: لاسونه سره کول د ښځو لپاره سنت دي او د نارينه وو لپاره مکروه دي ليکن په وخت کي د ضرورت مثلا هغه د کار او روزانې کسان چي لاسونه او پښې يې درد لري يا چاودلي وي يا نازک سوي وي په هغه صورت کښې بيا کراهيت هم نه لري. ليکن د زينت او ښايست لپاره مکروه دي ځکه چي مشابهت د ښځو سره راځي او هغه په شريعت کښې منع دی.

لما فی الفتاوی الهندية : ولا ينبغي أن يخضب يدي الصبي الذكر ورجله إلا عند الحاجة ويجوز ذلك للنساء كذا في الينابيع...... وفی مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح لملا علی القاری رحمه الله تعالی : وَأَمَّا خَضْبُ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ، فَيُسْتَحَبُّ فِي حَقِّ النِّسَاءِ وَيَحْرُمُ فِي حَقِّ الرِّجَالِ إِلَّا لِلتَّدَاوِي.

(الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۵۹ الباب العشرون في الزينة واتخاذ الخادم للخدمة مكتبه رشيديه / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۲۸۲۸ كتاب اللباس باب الترجل مكتبه شامله بيروت چاپ / فتاوى اللكنوي ص ۴۹۲ فتح الباري ج ۶ ص ۶۱۸ / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۴۵۶ باب خصال الفطرة / ردالمحتار علي صدر الدر المختار ج ۵ ص ۲۹۹ مكتبه رشيديه / فتاوى قاضي خان علي هامش الهندية ج ۲ ص ۴۱۲ مكتبه رشيديه / احكام تجميل النساء ۱۷۶ دار احياء اللغة العربية)

ایا دښځي دپاره خولۍ یا رخچینه پر سر کول رواه ده که یا ؟

سوال ۳۳ : زموږ په ځینو وطنونو او بعضي علاقو کښې دغه یو قسم رواج او عنعنه روانه ده چي ښځي هم دنارینه وود رخچینو او خولیو په شان خولۍ او رخچیني پر سر کوي . پوښتنه داده چي دښځي دپاره په شریعت کښې خولۍ یا رخچینه پر سر کول رواه ده که یا ؟.

جواب : داوسني دور علماؤ او مفتیانو حضراتو دښځي دپاره دخولۍ او رخچینو دپرسر کولو په باره کښې داتفصیل بیان کړی دی : چي یو هغه قسم خولۍ دي چي خاص دنارینه وو دپاره وضع سوي او جوړي سوي دي دکومو مقصد چي علاقایي او وطني شناخت ښکاره کول دي لکه پېښوري خولۍ یا بلوڅي خولۍ یا سندي خولۍ . داهغه خولۍ دي چي دنارینه وو دپاره وضع سوي او جوړي سوي دي داقسم خولۍ چي دنارینه وو دپاره جوړي سوي وي دښځو دپاره پر سر کول نه دي رواه . ځکه چي ددې قسم خولیو مقصد فقط فېشن یا ریاکاري وي .

همداشان هغه خولۍ او رخچیني چي دنارینه وو دعبادت وغیره دپاره وي یا یې په عام وختونو کښې نارینه پر سرکوي هغه نو بیاچي دهر ملک جوړ ي وي دښځو دپاره یې پر سر کول نه دي رواه ځکه چي په دې کښې یو قسم مشابهت دښځو دنارینه وو سره راځي او ددغه مشابهت پر ممانعت بې شمېره احادیث مبارکه راغلي دي . یو قسم رخچیني بیا هغه دي چي ځیني سپین سري ښځي یې د وېښتیانو دحفاظت دپاره استعمالوي نو په دغه نېت سره یې فقهاؤ داستعمال جواز ورکړی دی . البته که چیري دفېشن او سینګار دپاره وي نو بیا یې استعمالول نه دی رواه که څه هم د ویښتیانو حفاظت په کښې راځي . خلاصه دا چي فقهاء کرامو دځوانانو او پېغلانو ښځو دپاره دخولۍ پر سر کول نه دي رواه کړي . فقط دسپین سرو ښځو دپاره یې په نېت دحفاظت دوېښتو جواز راغلی دی . والله اعلم بالصواب .

عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: «لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم المتشبهين من الرجال بالنساء، والمتشبهات من النساء بالرجال. صحيح البخاري .

(صحيح البخاري ج ۷ ص ۱۵۹ مکتبه شامله بيروت چاپ / سنن ابن ماجة ج ۱ ص ۶۱۴ مکتبه شامله بيروت چاپ /مسند ابن الجعد ج ۱ ص ۱۵۰ مکتبه شامله بيروت چاپ / دښځو دزينت اولباس شرعي احکام ص ۱۲۵ بيت العلوم کراچي /دښځو دلباس او ځان جوړوني شرعي مسائل ص ۶۸ / مسند احمد ابن حنبل ج ۵ ص ۲۴۳ مکتبه شامله بيروت چاپ)

دبدن پر اعضاوو باندي دستنو په ذريعه سره شنه خالونه لګول رواه دي که يا ؟

سوال ۳۴ : پوښتنه داده چي دبدن پر حصو باندي شنه خالونه لګول رواه دي که يا ؟ يعني دستنو په ذريعه سره پر مخ باندي يا دبدن پر بلي کومي حصې باندي شنه خالونه لګول رواه دي که يا ؟

جواب : په قاموس الفقه کتاب چي دمولانا سيف الله خالد رحماني دامت برکاته تصنيف دی په هغه کښې ليکلي دي چي دتيري او قديم زمانې ښځه دښځو ددغه خالونو وهلو فېشن رارواڼ دی . يعني دستنو په ذريعه سره دجسم په يوه حصه کښې باريک او کوچني سوربان جوړول بيا پر هغه باندي رانجه يا يو بل رنګداره شی لګول بيا نو دهغه ښځه وروسته پر هغه ځای باندي توريا بل رنګ ټکي او نقطې راپورته کيږي او وروسته بيا هغه ځای شين کيږي . دغه ښځو به دغه کار په حسن او ښايست کښې دزياتوالي باعث بولی. نن سبا هم په ځيني قبائلو او قومونو کښې دغه رواج او رسم سته .

دشريعت دنګاه ښځه دغه فعل حرام او ناروا ه دی نبي کريم صلى الله عليه وسلم پر داسي ښځو باندي چي خپل پر بدن باندي (دستنو په ذريعه) شنه خالونه لګوي يا يې دبل پر بدن باندي ورلګوي لعنت ويلی دی . البته طبي او صحي ضرورت بيا ځان ته خبره ده .

عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لعن الله الواصلة والمستوصلة، والواشمة والمستوشمة. رواه البخاري .

(صحيح البخاري ج ۷ ص ۱۶۵ باب الوصل في الشعر مکتبه شامله بيروت چاپ / صحيح مسلم شريف ج ۳ ص ۱۶۷۶ مکتبه شامله بيروت چاپ /سنن ابي داود ج ۴ ص ۷۷ مکتبه شامله بيروت چاپ /

سنن الترمذی ج ۴ ص ۲۳۶ مکتبه شامله بیروت چاپ / قاموس الفقه ج ۵ ۲۶۸ زمزم پبلشر کراچي)

ښځه دمخ څخه تورټپونه لیري کولای سي که یا ؟

سوال ۳۵ : که چیري دیوې ښځي په مخ کي تور ټپونه یا لکه (تو سري) وي نو دغي ښځي ته دا جواز لري چي دغه ټپونه یالکه ددوا په ذریعه لیري کړي که یا ؟

جواب : زموږ د حنفي فقهي په کتابونو کي راغلي دي چي دیو شخص لپاره دمخ دزائدو وېښتیانو لیري کول جواز لري تر څو چي يې دمخنث سره مشابهت رانه سي مخنث هغه چاته ویل کیږي چي دمخ وېښتیان ددې لپاره کاږي چي ځان کشر ښکاره کړي اوبدکاري ورسره وسي . ددغو خبرو څخه دا معلومیږي چي داسي داني یا ټپونه چي په مخ کي عیب پیدا کوي دهغو لیري کول جواز لري والله اعلم .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَلَا بَأْسَ بِأَخْذِ الْحَاجِبَيْنِ وَشَعْرِ وَجْهِهِ مَا لَمْ يُشْبِهْ الْمُخَنَّثَ تَتَارْخَانِيَّةٌ

(دالمحتار ج ۵ ص ۲۸۸ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۸ ص ۳۷۵ مکتبه رشیدیه / الفتاوی التاتارخانية ج ۱۸ ص ۲۱۱ مکتبه فاروقیه / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۵۰ پښتو)

دښځو لپاره کم ډول کالي شرعي بلل کیږي ؟

سوال ۳۶ : ښځه باید دشریعت په رڼا کي څه ډول کالي واغوندي ؟

جواب : دلباس لپاره شریعت درې قیده اوشرطونه مقرر کړي دي . **اول** دا چي په لباس کښي به نمو او نمائش او فضول خرچي نه وي . **دوهم** : دا چي دکفارو او فساقو سره به مشابهت نه وي په کښي . **دریم** : دا چي دنارینه وو لباس به دښځو دلباس سره او دښځو دلباس به دنارینه وو دلباس سره مشابهت نه لري نو په اسلامي شریعت کښې دښځو دپاره دکوم خاص رنګ او خاص شکل کالو په اغوستلو کښې کومه پابندي نسته ، خو بیا هم دداسي لباس دا غوستلو څخه ځان ساتنه ضروري ده چي له مخي يې دنارینه سره مشابهت پیدا کیږي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَكُرِهَ لُبْسُ الْمُعَصْفَرِ وَالْمُزَعْفَرِ الْأَحْمَرِ وَالْأَصْفَرِ لِلرِّجَالِ) مُفَادُهُ أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ (وَلَا بَأْسَ

بِسَائِرِ الْأَلْوَانِ) وَفِي الْمُجْتَبَى وَالْقُهُسْتَانِيِّ وَشَرْحِ النُّقَايَةِ لِأَبِي الْمَكَارِمِ: لَا بَأْسَ بِلُبْسِ الثَّوْبِ الْأَحْمَرِ اهـ.

وقال العلامة السيد الطحطاوی رحمه الله تعالى : (قوله والمزعفر والاحمر والاصفر) يعني المزعفر بقسميه مكروه واماالاصفر من غير الزعفران فلاكراهية فيه وَلَا بَأْسَ بِسَائِرِ الْأَلْوَانِ من الابيض والازرق والاشقر الخ .....

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج۶ ص ۳۵۸ كتاب الحظر والاباحة فصل في اللبس / طحطاوی حاشية الدرالمختار ج ۴ ص ۱۸۰ كتاب الكراهية فصل في اللباس / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۰۳)

دسروزرو غاښ اينبوول رواه دی که يا ؟

سوال ۳۷ : ديو کس دمخ غاښونه وتلي دي ايا دی دسروزو غاښ اينبوولی سي که يا ؟

جواب : دغه مسئله دفقهاء کرامو ترمينځ اختلافي راغلې ده ځيني فرمايي چي دسروزرو غاښ اينبوول رواه دی او ځيني بيا وايي چي نه دی رواه . حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي رحمه الله فرمايي چي دايبنوولو جواز او ګنجائش يې سته او په نه ايبنوولو کښې احتياط دی .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فی ردالمحتار : وفي التتارخانية وعلى هذا الاختلاف إذا جدع أنفه أو أذنه أو سقط سنه، فأراد أن يتخذ سنا آخر فعند الإمام يتخذ وذلك من الفضة فقط، وعند محمد من الذهب أيضا اهـ .

(ردالمحتار علي الدرالمختار كتاب الحظر والاباحة ، قبيل فصل في النظر والمس ج۶ ص ۳۶۲ مكتبه شامله / خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۳۷۰ / البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج۸ ص ۳۵۰ / مجمع الانهر ج ۴ ص ۱۹۶ / فتاوی محموديه ج ۱۹ ص ۳۴۹ بای استعمال الذهب والفضة / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۰۴)

داسي بُرش استعمالول چي د خنزير ويښته په کښي استعمال وي

سوال ۳۸: د خارج ملکونو څخه یو قسم ګران برسونه راځي چي د غاښونو دصفایي لپاره استعمالیږي په دغه برسانو کښې که د خنزیر ویښته وي استعمال یې رواه دی که یا؟

جواب: داسي برس استعمالول چي د خنزیر ویښته په کښې موجود وي شرعًا ناروا ه دی مسلمانان باید اجتناب ځني وکړي.

لما فی الفتاوی الهندية : قال أبو حنيفة – رحمه الله تعالى – ولا ينتفع من الخنزير بجلده ولا غيره إلا الشعر للأساكفة وقال أبو يوسف – رحمه الله تعالى – يكره الانتفاع أيضا بالشعر وقول أبي حنيفة – رحمه الله تعالى – أظهر كذا في المحيط.

(الفتاوي الهنديه ج ۵ ص ۳۵۴ الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات مکتبه رشیدیه / کفایت المفتي جلد ۹ ص ۶۳ کتاب الحظر والاباحة اردو / جواهرالاحکام ص ۳۳۰)

د ږیري تورول شرعًا څنګه دي؟

نکریزي **سوال ۳۹:** نن سبا ځني کسان خپلو ږیرو او سرونو ته تور رنګونه یا توري دهغه د رنګ لپاره استعمالوي پو ښتنه داده چي سرا و ږیره په تور رنګ یا تورو نکروزو سره تورول شرعًا رواه دي که یا؟

جواب: نن سبا چي کوم تک تور رنګونه د خارج ملکونو څخه راځي او ویښتیان تک تور وي په دغه رنګ سره ږیره تورول او سر تورول مکروه تحریمي دی او د حدیث شریف د نګاه څخه دغه کار باعث د لعنت او د جنت څخه د محرومۍ سبب ګرځي او په سرونو کروزو سره که څه هم یو څه د تور رنګ خواته مایل هم وي ږیره سره کول د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضي الله عنهم سنت طریقه ده. سپین ویښته په تور رنګ یا تورو نکروزو سره تورول علماؤو او فقهاؤو ددې درې صورته ذکر کړي دي **اول صورت**: د غازي او مجاهد لپاره په وخت د غزاء کښې په دغه تور رنګ سره ږیره او سر تورول چي پر دښمن باندې ددې ډار او خوف اورعب ولویږي رواه لاڅه کوې بلکه ښه کار دی **دوهم صورت**: سرا و ږیري ته تور رنګ ددې لپاره ورکول چي یو ښوک په خطا باسي مثلا سپین ږیري ځان ځوان ښکاره کوي دیوي ځواني ښځي د نکاح لپاره یا یوه ښځه زړه وي سر تور کړي چي ځوان په خطاء

باسي او نکاح ورسره وکړي دغه صورت په اتفاق د ټولو فقهاؤو حرام او ناروا ده دی
دریم صورت : یو سړی سر او ږیره د دې لپاره تور وي چې خپله ښځه د ځان څخه خوشحاله کړي یعني ځان ښایسته کوي په دې کښې د علماؤو او فقهاؤو اختلاف دی د جمهورو علماؤو مذهب دادی چې دغه صورت هم مکروه تحریمي دي په شرح عقود رسم المفتي کښې یې فتوي د جمهورو پر مذهب او قول ذکر کړېده.

وفى الفتاوى الهندية : اتفق المشايخ رحمهم الله تعالى أن الخضاب في حق الرجال بالحمرة سنة وأنه من سيماء المسلمين وعلاماتهم وأما الخضاب بالسواد فمن فعل ذلك من الغزاة ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود منه، اتفق عليه المشايخ رحمهم الله تعالى ومن فعل ذلك ليزين نفسه للنساء وليحبب نفسه إليهن فذلك مكروه وعليه عامة المشايخ وبعضهم جوز ذلك من غير كراهة وروي عن أبي يوسف – رحمه الله تعالى – أنه قال كما يعجبني أن تتزين لي يعجبها أن أتزين لها كذا في الذخيرة..... وعن الإمام أن الخضاب حسن لكن بالحناء والكتم والوسمة وأراد به اللحية وشعر الرأس والخضاب في غير حال الحرب لا بأس به في الأصح كذا في الوجيز للكردري.

ردالمحتار جلد ۵ ص ۲۹۹ ص ۵۳۳/ بذالمجهود جلد ۴ ص ۸۰ /اشعة اللمعات جلد ۳ ص ۴۱۰ / الجوهرة النيرة جلد ۲ ص ۳۶۱/الفتاوي هنديه جلد ۵ ص ۳۵۹ الباب العشرون في الزينة واتخاذ الخادم للخدمة مكتبه رشيديه / قاضيخان جلد ۳ ص ۴۱۲/كفايت المفتي جلد ۱۲ ص ۳۴۱ باب ما يتعلق بالخضاب والحناء اردو /البزازية جلد ۴ ص ۳۷۷/مرقات المفاتيح جلد ۸ ص ۲۳۳ عمدة القاري جلد ۲۲ ص ۱۵/خلاصة الفتاوي جلد ۴ ص ۳۵۰ / جواهر الفقه جلد ۲ ص ۴۳۰/فتاوي رحيمية جلد ۷ ص ۱۴۶ نظام الفتاوي جلد ۱ ص ۳۵۳/فتاوي حقانية جلد ۲ ص ۲۰۶ / امداد الفتاوي جلد ۴ ص ۲۱۸/فتاوي ديو بند جلد ۳ ص ۱۱۸ / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۴۵۴ / المحيط البرهاني ج۶ ص ۱۲۲)

د ښایست په خاطر و غاښونه د سروزورو پوښونه ورکول مکروه دی البته لمونځ او اودس یه صحیح دی.

سوال ۴۰ : که یو کس بې له ضرورته فقط د حسن او ښایست په خاطر و خپلو غاښونو ته د سروزرو پوښونه ورکړي غسل او اودس یې صحیح دی که یا؟
جواب: شرعًا وغاښونو ته دیو خرابۍ او نقص دوجې څخه د سروزرو پوښ او خول

ورکول رواه دی او فقط د ښایست لپاره ورکول مکروه دی البته وغسل او اودس ته تاوان نه کوي که د ضرورت د وجې يې پوښ ورکړې وي او که بې ضرورته ځکه چې دغه پوښ بیا دیو جز لازم حیثیت لري

لما فى الدرالمختار مع ردالمحتار :ولا يشد سنه المتحرك (بذهب بل بفضة) وجوزهما محمد وفي ردالمحتار : (قوله وجوزهما محمد) أي جوز الذهب والفضة أي جوز الشد بهما

الدرالمختار مع ردالمحتار فصل في اللبس جلد ۶ ص ۳۶۲ مكتبه شامله / كفايت المفتي جلد ۹ ص ۱۵۷ كتاب الحظر والاباحة / جواهر الاحكام ص ۳۲۹)

د نارینه لپاره سور رنګ جامه رواه ده که یا؟

سوال ۴۱: د نارینه لپاره سور رنګ جامه شرعًا رواه ده که یا؟

جواب: د نارینه لپاره د سور رنګ د جامې په استعمالولو کښې د علماؤ او فقهاؤ اختلاف دی مګر راجح او قوي قول دا دی چې د سره رنګ جامه د نارینه لپاره بیله کوم قیده رواه ده البته په زعفران او کسم قسم خوشبوداره رنګونو نه وي رنګ کړل سوې.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وفي المجتبى والقهستاني وشرح النقاية لأبي المكارم: لا بأس بلبس الثوب الأحمر اهـ.

وفى الفتاوى الهندية :وعن ابي حينفه لاباس بالصبغ الاحمر والاسود كذافي فتاوي قاضيخان .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۶ص ۳۵۸ فصل في اللبس مكتبه شامله /الفتاوى الهندية جلد ۵ ص ۳۳۲ كتاب الكراهية باب اللبس // كفايت المفتي جلد ۹ ص ۱۵۷ كتاب الحظر والاباحة دارالاشاعت چاپ)

دسر سور کول جواز لري که یا ؟

سوال ۴۲: ایا د نارینه یا ښځینه لپاره دسر سور کول جواز لري که یا ؟

جواب : دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه مذهب دا احادیثو په رڼا کښې دا دی چې دښځې او نر دپاره ویښته په نکروزو یا په کتم ،یا وسمه، پاڼو سره سره کول یاژړ کول مستحب عمل دی . او تورول د سرو ښځې ته او تورول د ږیرې او سر

ونارينه ته ناروا او حرام دي. او پاته سوه دا خبره چي نن سبا په بازار کښې مختلف رنګونه د سر يا د ږيري د رنګ کېدو د پاره خرڅيږي د هغو په باره کښې د شريعت فيصله داده: که چيري د غه رنګ وېښته تک تور کړي نو د هغو استعمال صرف دانه چې حرام دی بلکي د حديث شريف د رويه څخه د لعنت باعث او د جنت څخه د محرومی سبب دی. البته هغه رنګ چي وېښته خو تک تور نه کړي بلکي سور مائل وسياه ته کړي نو د هغه رنګ استعمال بېله کراهته روا دی په دې شرط چي حرام شيان نه وي په کښې او که حرام شيان په کښې وه نو د هغو استعمال مطلقا ناروا دی که وېښته تور کړي او که يې تور نه کړي.

قال العلامة الحصفكي فى الدرالمختار: (اخْتَضَبَ لِأَجْلِ التَّزَيُّنِ لِلنِّسَاءِ وَالْجَوَارِي جَازَ) فِي الْأَصَحِّ وَيُكْرَهُ بِالسَّوَادِ وَقِيلَ لَا وَمَرَّ فِي الْخَطَرِ

وقال العلامة ابن عابدين: وَمَذْهَبُنَا أَنَّ الصَّبْغَ بِالْحِنَّاءِ وَالْوَسْمَةِ حَسَنٌ كَمَا فِي الْخَانِيَّةِ قَالَ النَّوَوِيُّ: وَمَذْهَبُنَا اسْتِحْبَابُ خِضَابِ الشَّيْبِ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ بِصُفْرَةٍ أَوْ حُمْرَةٍ وَتَحْرِيمُ خِضَابِهِ بِالسَّوَادِ عَلَى الْأَصَحِّ لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «غَيِّرُوا هَذَا الشَّيْبَ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ» اهـ

وقال ملاعلى القارى: قَالَ النَّوَوِيُّ فِي الْخِضَابِ أَقْوَالٌ، وَأَصَحُّهَا أَنَّ خِضَابَ الشَّيْبِ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ يُسْتَحَبُّ وَبِالسَّوَادِ حَرَامٌ، وَقَدْ سَبَقَ عَنِ الْإِمَامِ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ قَالَ فِي مُوَطَّئِهِ: لَا نَرَى بِالْخِضَابِ بِالْوَسْمَةِ وَالْحِنَّاءِ وَالصُّفْرَةِ بَأْسًا، وَإِنْ تَرَكَهُ أَبْيَضَ فَلَا بَأْسَ بِهِ، كُلُّ ذَلِكَ حَسَنٌ،

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۶ ص ۷۵۶ مسائل شتي بيروت چاپ / البحرالرائق شرح كنزالدقائق ج۸ ص ۱۸۳ / مرقاة المفاتيح ج۷ ص ۲۸۱۷ باب الترجل بيروت چاپ / احكام تجميل النسآء ص ۲۱۸ / دخضاب شرعي حكم رسالة /صحيح مسلم ج ۳ ص ۱۶۶۳ باب في صبغ الشعر مكتبه شامله /سنن ابي داود ج ۴ ص ۸۵ باب في الخضاب مكتبه شامله/سنن النسائي ج ۸ ص ۱۳۸ باب نهي عن الخضاب با السواد مكتبه شامله)

بې له ضرورته چي ښځي خپل دواړه غوږونه دوه ځايه سوري کوي.

سوال ۴۳ : نن سبا یو رواج د زینت او فېشن دغه په ښځو کښې را روان دی چې غوږونه سوري کوي پو ښتنه داده چې ایا د ښځې د پاره د غوږونو سوري کول رواه دي که یا ؟.

جواب : په فتاوی عالمګیري کښې لیکلي دي چې غوږونه سوري کول د انجونو د پاره رواه دي ځکه چې د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې انجونو غوږونه سوري کوله او چا پر دې عمل باندې رد یا انکار نه دی کړی .

وفی الفتاوی الهندية : وَلَا بَأْسَ بِثَقْبِ آذَانِ النِّسْوَانِ كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ. وَلَا بَأْسَ بِثَقْبِ آذَانِ الْأَطْفَالِ مِنْ الْبَنَاتِ لِأَنَّهُمْ كَانُوا يَفْعَلُونَ ذَلِكَ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ – مِنْ غَيْرِ إنْكَارٍ كَذَا فِي الْكُبْرَى.

(الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۳۵۷ الْبَابُ التَّاسِعَ عَشَرَ فِي الْخِتَانِ وَالْخِصَاءِ وَحَلْقِ الْمَرْأَةِ شَعْرَهَا ووصلها شعر غَيْرِهَا / جدید فقهي مسائل ص ۱۳۳ /۱ فتاوی اللکنوی ص ۴۸۰ / احسن المسائل ص ۱۳۵ مسائل شتي)

باب الاسماء

دعبدالمحمد دنوم ایښوولو حکم.

سوال ۱ : دعبدالنبي او عبدالمحمد نومان ایښوول شرعاً جائز دي که یا ؟

جواب : د عبدالنبي او عبدالمحمد نومان ایښوول شرعاً منعه دي ځکه چې که چیري د عبدالنبي او عبدالمحمد څخه مراد بنده او مخلوق وي نو دا بیا ښکاره شرک دی او که چیري مجازي معنی یې مراد وي چې هغه تابعداري ده نو که څه هم شرک نه دی خو د شرک د پیدا کولو وهم ور سره دی نو په کوم شي کښې چې د شرک د پیدا کولو وهم وي نو هغه خپله شرعاً جائز نه دی نو د دې وجهې څخه باید د دا سې نومانو چې هغه نژدې کېدونکي وشرک ته وي اجتناب او پرهېز وسي .

(کماقال القاري رحمه الله) وَرَوَى الْحَاكِمُ فِي الْكُنَى، وَالطَّبَرَانِيُّ عَنْ أَبِي زُهَيْرٍ الثَّقَفِيِّ مَرْفُوعًا " إِذَا سَمَّيْتُمْ فَعَبِّدُوا " أَيِ: انْسِبُوا عُبُودِيَّتَهُمْ إِلَى أَسْمَاءِ اللَّهِ، فَيَشْمَلُ عَبْدَ الرَّحِيمِ، وَعَبْدَ

الْمَلِكِ وَغَيْرَهُمَا. وَلَا يَجُوزُ نَحْوُ عَبْدِ الْحَارِثِ وَلَا عَبْدِ النَّبِيِّ، وَلَا عِبْرَةُ بِمَا شَاعَ فِيمَا بَيْنَ النَّاسِ.(مرقات)

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله فی ردالمحتار علی الدرالمختار : أَقُولُ: وَيُؤْخَذُ مِنْ قَوْلِهِ وَلَا عَبْدَ فُلَانٍ مَنْعُ التَّسْمِيَةِ بِعَبْدِ النَّبِيِّ وَنَقَلَ الْمُنَاوِيُّ عَنْ الدَّمِيرِيِّ أَنَّهُ قِيلَ بِالْجَوَازِ بِقَصْدِ التَّشْرِيفِ بِالنِّسْبَةِ، وَالْأَكْثَرُ عَلَى الْمَنْعِ خَشْيَةَ اعْتِقَادِ حَقِيقَةِ الْعُبُودِيَّةِ كَمَا لَا يَجُوزُ عَبْدُ الدَّارِ

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۸ ص ۳ ۵۱ کتاب الاداب رشيديه / ردالمحتار ج ۶ ص ۴۱۸ فصل في البيع سعيد چاپ / السعاية ج ۲ ص ۱۶۴ کتاب الصلوة باب صفة الصلوة مطلب نهي العوام عن تسميتهم اطفالهم بعبدالسبحان سهيل اکېډمي /احکام القرآن للجصاص ج ۱ ص ۱۹ / فتاوی محموديه ج ۱۹ ص ۳۸۲ باب الاسماء / کفايت المفتي ج ۱۲ ص ۴۲۳ باب الاسماء / ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۸ ص ۲۷۱ / کتاب الفتاوی للمفتي ګل حسن ج ۱ ص ۲۲۲)

زمري ته په ملا زمري اخند ويل

سوال ۲: زما نوم زمری دی خو ځيني خلک په دغه خاطر چي زه کله ودوی ته جماعت ورکوم ماته ملا زمری اخند وايي ايا په داسي ويلو کښي خو به ماته يا دوی ته څه اخروي تاوان نه وي ؟

جواب: عموماً زموږ په ټولنه او ماحول کښي لفظ د ملا صاب د عزت او احترام دپاره خلک استعمالوي نو بنآءً علی هذا که چيري ددغه کسانو نيت هم عزت او احترام وي نو زمري ته ملا زمری اخند ويل ګناه او حرج نه لري ، او خدانخواسته که ددوی نيت دد ې څخه استهزآء او پسخند وي نو دا بيا سخته او لو ګناه ده والله اعلم لقوله تعالی فی القرآن الکريم : وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (۱۱) سورة الحجرات

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيَعْرِفْ شَرَفَ كَبِيرِنَا» حَدَّثَنَا هَنَّادٌ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: «وَيَعْرِفْ حَقَّ كَبِيرِنَا»رواه الترمذی

(سنن الترمذی ج ۴ ص ۳۲۲ باب ما جاء في رحمة الصبيان مكتبه شامله / سنن ابي داود ۴ ص ۲۸۶ باب في الرحمة مكتبه شامله / معارف القرآن ج ۹ ص ۱۴۳ پاره ۲۶)

د خراب يا سم نامه بدلول جائز دي که يا ؟

سوال ۳ : کله چي پر يوه کس باندي نوم کښيښوول سو نو بيا د هغه نوم بدلول جائز دي که يا ؟ او که چيري بدل سو نو بيا په دغه دوهم نامه سره د هغه هلک يا ، ا انجلی دنکاح عقد درست دی که يا ؟

جواب : امام بيهقي رحمة الله عليه په خپل کتاب شُعَبُ الايمان کښې يو حديث شريف نقل کړی دی . چي نبي کريم صلي الله عليه فرمايلي دي : چي د کوم شخص په کور کښي ماشوم پيدا سو يعني د چا چي اولاد پيدا سو نو هغه ته پکار دي چي د هغه نوم ښه اوښايسته کښيږدي او بيا هغه ته نيک او ښه آداب وروښيي (يعني هغه ته د شريعت احکام او آداب او دژوند بهترني طريقې وروښيي د پاره د دې چي هغه په دنيا او آخرت کښې کاميابه او سر لوړی وي) او کله چي بالغه سو نو هغه ته دي نکاح وروکړي . نو ښه نوم ايښوول هغه شي دی چي پر پوره ژوند او زندګي باندي ډير ښه اثرات مرتب کوي . او بدنوم ايښوول يا په بد نامه چاته ويل د شريعت د نګاه څخه د ايوه لويه ګناه هم ده او داد مور او پلار کوتاهي هم ده د اولاد په حق کښې چي بايد جبيره يې وسي . الله جل جلا له دي د عمل توفيق رانصيب کړي آمين .

رابه سو دپوښتني وجواب ته : جواب دادی چي کوم نوم خلاف شرع وي نو د هغه نامه بدلول په حديث شريف سره ثابت دي او بايد بدل هم سي او ښه نوم پر کښيښوول سي چي موافق د شريعت سره وي . او کوم نوم چي موافق د شريعت سره وي نو د هغه نوم بدلول ثابت نه دي او نه هم بدلول پکار دي . او پاته سوه چي کله نوم پر يو چا کښيښوول سو نو بيا په هغه نامه سره د نکاح صحت او نور چي کوم معاملات يا عقود دي هغه ټوله په هغه نامه سره درست او صحيح دي .

وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَابْنِ عَبَّاسٍ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «من وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَلْيُحْسِنِ اسْمَهُ وَأَدَبَهُ فَإِذَا بَلَغَ فَلْيُزَوِّجْهُ فَإِنْ بَلَغَ وَلَمْ يُزَوِّجْهُ فَأَصَابَ إِثْمًا فَإِنَّمَا إثمه على أَبِيه» رواه البيهقي فی شعب الایمان

عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: غَيَّرَ اسْمَ عَاصِيَةَ، وَقَالَ: «أَنْتِ جَمِيلَةٌ» . سنن ابی داود .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: " أَنَّ زَيْنَبَ، كَانَ اسْمُهَا بَرَّةَ فَقِيلَ: تُزَكِّي نَفْسَهَا، فَسَمَّاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ " وَلَفْظُ الْحَدِيثِ لِهَؤُلَاءِ دُونَ ابْنِ بَشَّارٍ: رواه مسلم

(فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۳۸۹ باب الاسمآء / ج ۳ ص ۱۶۸۷ / باب استحباب تغيير الاسم القبيح . بيروت / سنن ابي داود ج ۴ ص ۲۸۸ / كتاب الادب باب في تغيير الاسم بيروت / مشكوة المصابيح كتاب النكاح باب الولي في النكاح الفل الثالث ج ۲ ص ۲۷۱)

خیاطان پر کالو باندي دخپل شهرت دپاره خپل نومان لیکي .

سوال ۴ : ځيني خياطان پر جوړوسوو کالو باندي خپل نوم مثلا د (عبدالله) یاد (محمد) یا د (احمد) په نامه باندي دخپلي خياطۍ دشهرت دپاره ليکي . نو پوښتنه داده چي دغه نومان ليکل پر دغه کالو باندي ليکل رواه دي که یا ؟

جواب :(مفتي اعظم افغانستان حضرت مولانا الحاج مولوي عبدالعلي ديو بندي رحمة الله عليه) په خپلو مسائلو کښې ددغه سوال جواب ته داسي فرمايلي دي چي خلاصه يې داده :چي دغه نومونه پر دغه کالو باندي ليکل شرعا درست او رواه کار نه دی . ځکه چي په دې سره ددغه نومونو بې قدري کیږي هغه داسي چي دغه کس ددغه نومونو سره وتشناب ته ځي او دغه کالي چي کله وکاږي هلته يې دنورو مستعملو او خيرنو کالو سره ايږدي او کله کله خولا داسي هم پيښه سي چي ښځي دغه کالي او دکوچنيانو ناپاکه کالي دمينځلو دپاره ماشين ته يو ځای وراچوي او دې ته ورته نور داسي دادب څخه ليري هغه طريقې تر سره کیږي چي دهغو جواز شرعا نسته. نو بايد خياطان صاحبان ددغه عمل څخه په کلکه باندي پرهيز وکړي او

داسي نه چي خپل دغه حلال کسب او روزي خدا نخواسته په دغه ذريعه سره سبب دحرامو او ناروا ونه ګرځوي .

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: جَاءَ نَاسٌ مِنَ الْأَعْرَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمِ الصُّوفُ فَرَأَى سُوءَ حَالِهِمْ قَدْ أَصَابَتْهُمْ حَاجَةٌ، فَحَثَّ النَّاسَ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَأَبْطَئُوا عَنْهُ حَتَّى رُئِيَ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ. قَالَ: ثُمَّ إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ جَاءَ بِصُرَّةٍ مِنْ وَرِقٍ، ثُمَّ جَاءَ آخَرُ، ثُمَّ تَتَابَعُوا حَتَّى عُرِفَ السُّرُورُ فِي وَجْهِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً، فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ، كُتِبَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا، وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ، وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً، فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ، كُتِبَ عَلَيْهِ مِثْلُ وِزْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا، وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ.

(صحيح مسلم ج ۴ حديث شماره (۲۰ ۵۹) بيروت چاپ / سنن ابن ماجة ج ۱ ص ۷۵ بيروت چاپ / دخلاصون لاره دحضرات مولوی صاب مسائل)

پرويز نوم ايښوول څنګه دی ؟

سوال ۵ : پرويز نوم ايښوول څنګه دی دو مره مي فقط اوريدلي دي چي دا ښه نوم نه دی د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د دښمن نوم ؤ څه معلومات که را کړئ مهرباني به مو وي؟.

جواب: پرويز د ايران د هغه با چا نوم دی چي کله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم خط مبارک ده ته ورسيدی ده ظالم دغه خط او نوم د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ځيري کړی د کبره او غروره څخه او په دا نژدې وخت کښې پرويز د هغه کس نوم ؤ چي مطلق د حديثو څخه منکر ؤ نور خپله فکر پکار دی چي داسي نوم ايښودل څنګه کار دی؟ لهذا داسي نوم ايښوول نه دی پکار او که دچا نوم وي هغه دي بدل کړل سي

أن عبد الله بن عباس أخبره : أن رسول الله صلى الله عليه و سلم بعث بكتابه إلى كسرى فأمره أن يدفعه إلى عظيم البحرين يدفعه عظيم البحرين إلى كسرى فلما قرأه كسرى مزقه فحسبت أن ابن المسيب قال فدعا عليهم رسول الله صلى الله عليه و سلم (أن يمزقوا كل

ممزق) رواه البخاري

أن عبد الله بن عبد الله بن عباس أخبره أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث بكتابه إلى كسرى وأمره أن يدفعه إلى عظيم البحرين فدفعه عظيم البحرين إلى كسرى فلما قرأه كسرى مزقه

(صحيح البخاري ج ۲ ص ۱۰۷۹ قديمي سنن النسائي ج ۵ ص ۲۶۶ مكتبه شامله فتح الباري ج ۱۳ ص ۳۰۰ مكتبه رشيديه / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۸ ص ۲۶۹ اردو)

آیا پر ماشومانو دانبیاء کرامو نومونه ایښوول صحیح دی

سوال۶ :آیا پر پیدا سوي ماشوم باندي دانبیاء کرامو علیهم الصلوة والسلام نومونه ایښودل جواز لري که یا ؟

جواب : بالکل جایز دي لیکن هر کله چي پر اولاد باندي دانبیاء کرامو علیهم الصلوة والسلام نومان کښېښودل سي نو بیا هم هغه نومانو ته بد ویل او پر هغو باندي لعنت ویل او هغه نوم بد استعمالول او بنکنځل ورته کول ناروا کار دی ځکه چي په ځیني روایتونو کي راځي چي عجموته نه ده رواه چي پر خپل اولاد دالله پاک جل جلاله نومان کښېږدي ځکه چي عجم دنومانو سپکاوي کوي.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ رحمه الله تعالى قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَسَمَّوْا بِاسْمِي، وَلَا تَكَنَّوْا بِكُنْيَتِي .

(فتاوى اللكنوي ص ۴۰۷ مايتعلق بتعظيم اسم الله / صحيح مسلم شريف ج ۲ ص ۲۰۶ كتاب الادب / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۲۷۰ باب الاسماء / سنن ابي داود ج ۲ ص ۶۷۶)

ایا حارث نوم ایښوول صحیح دی که یا ؟

سوال۷ : زما دزوی نوم حارث دی او مادحارث دنامه پر برابر اوربدلي دي چي دادشیطان نوم دی ایا داخبره حقیقت لري که یا ؟

جواب : حارث صحیح او درست نوم دی دحارث معنی ده په عربي کښې بزګر یا کښت کوونکی او محنت کوونکی ددغه نامه وبدلولو ته هیڅ ضرورت نسته شرعاً .

دا ځکه چي د متعدد صحابه کرامو رضي الله عنهم نومونه په حارث سره مسمی وه لکه حارث ابن انس، حارث بن خزیمة وغیره.

عن أبي وهب الجشمیرحمه الله تعالی وکانت له صحبة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «تسموا بأسماء الأنبیاء، وأحب الأسماء إلی الله عبد الله، وعبد الرحمن، وأصدقها حارث، وهمام، وأقبحها حرب ومرة.

(ابوداود شریف ج ۲ ص ۳۲۰ باب في تغییر الأسماء / کنز العمال ج ۱۶ ص ۴۲۰ / مسند احمد حنبل ج ۴ ص ۲۴۵ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۲۶۵ باب الاسماء)

عبدالرحمان ته رحمان ویل څنګه دي

سوال ۸: عبدالرحمن عبدالرزاق مثلاً داسي نومان زموږ په خواکي رواج دي چي عبدالرحمن ته رحمان وایي او عبدالرزاق ته رازق وائي او دانومان خو دالله پاک جل جلاله دي ایا شرعا په داسي نامه سره څوک رابلل ګناه لري که یا؟

جواب: حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي شهید رحمه الله تعالی په خپل کتاب ستاسي مسائل او دهغه حل کي لیکلي دي: دادعبد لفظ لیري کول په رحمان او رازق سره خالي یو چاته اوازکول ډیره سخته ګناه ده.

دالله پاک جل جلاله دوه قسمه نومونه دي په شریعت کي یو قسم نومونه دالله پاک هغه دي چي دبنده لپاره هغه نوم ایښودل صحیح او روا نه دي لکه رحمان، خالق، رازق، دغسي نومان دالله پاک څخه ماسوا بل چاته انتخابول او استعمالول سخته ګناه ده لکه دیوچا نوم چي عبدالله وي ته عبد ابسته کړي او الله ورته وایي همداسي عبدالرحمن ته رحمان صاحب عبدالخالق ته خالق ویل ګناه ده.

دوهم قسم هغه نومونه دي چي دهغو استعمال بندګانوته هم روا دی لکه الله پاک په قرآن کریم کي نبي کریم صل الله علیه وسلم ته روف رحیم ویلي دي دداسي نومونو استعمال تریوه حده پوري دبندګانو دپاره رواه دي.

وفي الفتاوى الهندية :والتسمية باسم يوجد في كتاب الله تعالى كالعلي والكبير والرشيد والبديع جائزة لأنه من الأسماء المشتركة ويراد في حق العباد غير ما يراد في حق الله تعالى كذا في السراجية.

(الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۶۲ الباب الثاني والعشرون في تسمية الأولاد وكناهم والعقيقة / شرح الفقه الاكبر ص ۱۹۳ / ستاسي مسايل او دهغه حل ۸ ص ۲۶۸ / الدرالمختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۹۶ / امدادالمفتين ص ۸۵۳)

پر داسي فرشونو باندي ناسته او ولاړه کول چي اسلامي نومونه پر ليکلي وي .

سوال ۹ : ځيني خلک خصوصا په وطنونو کښې دبورې يا د ورجو يا دکود کيمياوي (امبارو) دګونيو او بوريو څخه ټاټونه او دناستې پاستې دپاره فرشونه جوړوي يعني ډيري ګونۍ سره وګنډي بيا پر هغو باندي ناسته پاسته او بيدېدل کوي . او حال دا چي پر هغو ګونيو يا پر دغه فرشونو باندي په پښتو يا بله ژبه سره اسلامي نومونه هم ليکلي وي لکه احمد يا محمود وغيره . ايا پر داسي فرشونو باندي ناسته ولاړه کول شرعا رواه ده که يا ؟ .

جواب : حضرت مولانا عبدالحی لکنوي رحمة الله عليه په خپل مشهوره فتاوى. فتاوى لکنوي کښې دسي ليکلي دي : داسي فرش چي په هغوى کښې دالله جل جلاله نومونه (اسلامي نومونه) ليکلي وي پر هغوى باندي ناسته ولاړه کول او هغوى هوارول او په استعمال کښې راوستل شرعا منع دي ځکه چي په دې کښې دالله جل جلاله يا دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دنومونو بې عزتي او بې حرمتي راځي .

فتاوى سراجيه کښې ليکلي دي : چي هغه مصلى (جاى نماز) چي په هغه کښې دالله جل جلاله نومونه ليکلي وي ، يا تسبيحاتي په کښې ليکلي وي ، يا دقرآن کريم سورتونه او اياتونه په کښې ليکلي وي هغه بايد استعمال نه سي . او زموږ په تيرو بزرګانو کښې ويوه بزرګ ته يوچا يوه مصلى چي سره پيچلې او کت وه تحفه کړه . کله چي دابزرګ هغه مصلى خلاصه کړه نو چي ويې کتل دالله جل جلاله نومونه او

سورتونه او ایاتونه په کښې لیکلي وه . نو یې حکم وکړی چي دادي په یوه ښه لفافه او پوښ کښې ونیچل سي او لوړه دي په عزت سره کښېښوول سي .
داتوله قولونه او حکایت ددې خبري راهنمایې ورکوي چي دداسي شیانو سره باید یو مسلمان داحتیاط او دقت معامله وکړي دلاوبالی او لاپرواهی څخه اجتناب وکړي .

فاذا کتب اسم الله تعالی علی البساط یکره بسطه والقعود علیه لان فیه ابتذال اسمآء الله تعالی .

(فتاوی اللکنوي ص ۴۰۴ باب مایتعلق بتعظیم اسم الله واسم حبیب الله وانبیاء الله والصحابة والتابعین ومایتعلق به / الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۵۸ /فتاوی سراجیه / مطالب المومنین)

نبي الله نوم ایښوول څنګه دی ؟

سوال ۱۰ : پر یو چا باندي د نبي الله نوم ایښوول شرعا رواه دی که یا ؟

جواب : نبي دعربي ژبي لفظ دی د (نَبَأَ) څخه جوړ دی د نَبَأَ معنی په عربي ژبه کښې دلوړوالي او ښکاره والي راځي او دخبر ورکولو په معنی هم راځي . او نبي دشریعت په اصطلاح کښې هغه چاته ویل کیږي چي دالله جل جلاله له طرفه ومخلوق ته خبرورکوونکی وي . او دنبوت معنی دالله جل جلاله او دهغه دذوي العقول مخلوق تر مېنځ سفارت کولو راځي .

لهذا نبي الله دهغه نومانو څخه نه دی چي دکومو استعمال شرعا منع وي البته خو دیو قسم دعوې جانب او طرف ضرورا و خامخا په کښې سته نو ددې وجي څخه ددغه نوم بدلول پکار دي پرځای یې داسي نوم ایښوول پکار دي کوم چي دهر قسم اشتباه او شک یا دعوې څخه پاک او مبرأ وي . زموږ ناقصه مشوره داده چي دنبي الله پر ځای باندي رفیع الله نوم انتخاب سي ډیر ښه به وي . والله اعلم بالصواب .

(نبأ)

الشَّيْء نبئا ونبوءا ارْتَفع وَظهر وَمن أَرض إِلَى أَرض أُخْرَى خرج مِنْهَا إِلَيْهَا وعَلى الْقَوْم طلع عَلَيْهِم وهجم وَيُقَال نبأ نبئا ونبأة صات صَوتا خَفِيفا ونبأ الرجل نبأ أخبر (أنبأه) الْخَبَر وبالخبر أخبرهُ (نابأه) منابأة أنبأ كل مِنْهُمَا صَاحبه وَالْقَوْم ترك جوارهم وتباعد عَنْهُ (نبأه)

الْخَبَر وبالخبر خَبره وَيُقَال نبأت زيدا عمرا خَارِجا أعلمت(تنبأ) ادّعى النبوءة وبالأمر أخبر بِهِ قبل وقته (محدثة)

(استنبأ) الرجل استخبره والنبأ بحث عَنه (النبأ) الْخَبَر (ج) أنباء (النبأة) الصَّوْت لَيْسَ بالشديد وَلَا بالمسترسل يُقَال سَمِعت نبأة والنشز فِي الأَرْض (النبوءة) سفارة بَين الله عز وَجل وَبَين ذَوي الْعُقُول لإزاحة عللها (وتبدل الْهمزَة واوا وتدغم فَيُقَال النُّبُوَّة) والإخبار عَن الشَّيْء قبل وقته حزرا وتخمينا (محدثة) (النبيء) الْمخبر عَن الله عز وَجل (وتبدل الْهمزَة يَاء وتدغم فَيُقَال النَّبِي) (ج) أَنْبيَاء وأنباء ونبآء وَالْمَكَان الْمُرْتَفع الناشز المحدودب

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحَبُّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى عَبْدُ اللَّهِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ»

(المعجم الوسيط ص ۹۰۱ النبأة / فتاوى عثماني ج ۱ ص ۲۸۳ كتاب الذكر والدعاء والتعويذات / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۳۸۳ / سنن ابي داود ج ۲ ص ۳۲۸ كتاب الاداب باب في تغيير الاسماء

محمدنبي نوم ايښودل جواز لري که يا ؟

سوال ۱۱: ايا پريو کوچني باندي محمد نبي نوم ايښودل روا کاردی که يا ؟

جواب: محمد نبي نوم ايښودل مشکل نه لري البته دعبدالنبي ، عبدالرسول ، عبدالحبيب ، عبدالمحمد ، او عبدالاحمد ، عبد القاسم ، عبد الحارث ، عبدالسخي ، عبدالمناف غوندي نومونه ايښودل منع دي والله اعلم .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : أَقُولُ: وَيُؤْخَذُ مِنْ قَوْلِهِ وَلَا عَبْدَ فُلَانٍ مَنْعُ التَّسْمِيَةِ بِعَبْدِ النَّبِيِّ وَنَقَلَ الْمُنَاوِيُّ عَنْ الدَّمِيرِيِّ أَنَّهُ قِيلَ بِالْجَوَازِ بِقَصْدِ التَّشْرِيفِ بِالنِّسْبَةِ، وَالْأَكْثَرُ عَلَى الْمَنْعِ خَشْيَةَ اعْتِقَادِ حَقِيقَةِ الْعُبُودِيَّةِ كَمَا لَا يَجُوزُ عَبْدُ الدَّارِ اهـ. وَمِنْ قَوْلِهِ وَلَا بِمَا فِيهِ تَزْكِيَةٌ الْمَنْعُ عَنْ نَحْوِ مُحْيِي الدِّينِ وَشَمْسِ الدِّينِ مَعَ مَا فِيهِ مِنْ الْكَذِبِ وَأَلَّفَ بَعْضُ الْمَالِكِيَّةِ فِي الْمَنْعِ مِنْهُ مُؤَلَّفًا وَصَرَّحَ بِهِ الْقُرْطُبِيُّ فِي شَرْحِ الْأَسْمَاءِ الْحُسْنَى وَأَنْشَدَ بَعْضُهُمْ فَقَالَ:

(ردالمحتار ج ۵ ص ۲۹۶ مکتبه رشيديه / فتاوى اللكهنوي ص ۴۲۴ مکتبه حبيبيه / کفايت المفتي ج ۱۲ ص ۴۲۳ اردو / جامع الفتاوى ج ۳ ص ۲۴۴ اردو / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۸ ص ۲۷۱ اردو)

باب خصال الفطرة

دسرويښتيان چي وخيژي بايد څه په وکړم ؟

سوال ۱ : دسريا ږيري په ږمنځولو سره اکثره وختونه ويښته خيژي نو اوس پوښتنه داده چي په دغه ختلي ويښتيانو باندي بايد څه وکړم ؟

جواب : که چيري ديو چا دسريا ږيري ويښتيان وخيږي ياهم يو څوک سروخريي يانوکان واخلي نو ترټولو ښه طريقه داده چي په مځکه کي پټ کړل سي دچټلۍ اومرداري په ځای کي يې غورځول مکروه کاردی ځکه چي دادانسان دبدن اجزاوي دي بايد احترام يې وسي والله اعلم .

لماقال ابن عابدين شامي رحمه الله فی ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَيُسْتَحَبُّ قَلْمُ أَظَافِيرِهِ) وَقَلْمُهَا بِالْأَسْنَانِ مَكْرُوهٌ يُورِثُ الْبَرَصَ ، فَإِذَا قَلَّمَ أَظْفَارَهُ أَوْ جَزَّ شَعْرَهُ يَنْبَغِي أَنْ يَدْفِنَهُ فَإِنْ رَمَى بِهِ فَلَا بَأْسَ وَإِنْ أَلْقَاهُ فِي الْكَنِيفِ أَوْ فِي الْمُغْتَسَلِ كُرِهَ لِأَنَّهُ يُورِثُ دَاءً خَانِيَّةٌ وَيُدْفَنُ أَرْبَعَةٌ الظُّفْرُ وَالشَّعْرُ وَخِرْقَةُ الْحَيْضِ وَالدَّمُ عَتَّابِيَّةٌ

وفي مجمع الانهر : وينبغي أن يدفنه وإن ألقاه فلا بأس به ويكره إلقاؤه في الكنيف والمغتسل

(ردالمحتارج ۵ ص ۲۸۷ مکتبة الرشيديه / مجمع الانهر ج ۴ ص ۲۲۶ مکتبة الحرمين الشريفين / فتاوی رحيميه ج ۱۰ ص ۱۰۵ اردو / الفتاوی الهنديه ج ۵ ص ۳۵۸ مکتبه رشيديه / حاشية طحطاوي علي الدرمختار ج ۴ ص ۲۰۲ مکتبه رشيديه)

دجنابت په حالت کښي دنوکانو او وربښتانو پرېکولو حکم.

سوال ۲ : دجنابت په حالت کښي دنوکانو دپرېکولو او دوېښتيانو دخريلو څه حکم دی ايا جائز دي که يا ؟

جواب : دجنابت په حالت کښي ټوله جسم په ظاهري توګه سره دنجاست ښکارسوی وي نو ددي لپاره دټول جسم پربمينځل فرض دي په داسي حالت کښي دوېښتيانو او نوکانو پرېکول مکروه دي فقهاء کرامو مطلقاً دکراهيت ذکر کړی دی ليکن دقرائنو داعتباره داکراهيت تنزيهي ثرګنديږي

لمل في الهندية :حَلْقُ الشَّعْرِ حَالَةَ الْجَنَابَةِ مَكْرُوهٌ وَكَذَا قَصُّ الْأَظَافِيرِ كَذَا فِي الْغَرَائِبِ.
قَالَ الامام الغزالي رحمه الله فِي الْإِحْيَاءِ: لَا يَنْبَغِي أَنْ يُقَلِّمَ أَوْ يَحْلِقَ أَوْ يَسْتَحِدَّ (يحلق العانة) أَوْ يُخْرِجَ دَمًا أَوْ يُبِينَ مِنْ نَفْسِهِ جُزْءًا وَهُوَ جُنُبٌ، إِذْ يُرَدُّ إِلَيْهِ سَائِرُ أَجْزَائِهِ فِي الْآخِرَةِ فَيَعُودُ جُنُبًا، وَيُقَالُ: إِنَّ كُلَّ شَعْرَةٍ تُطَالِبُ بِجَنَابَتِهَا.

(الفتاوى الهندية :ج ۵ ص ۳۵۸ الباب التاسع عشر في الختان مكتبه رشيديه/ مغني المحتاج ج ۱ ص ۲۲۲ باب الغسل مكتبه شامله بيروت/ ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۳ ص ۱۱۸ باب الغسل / فتاوی دارالعلوم زکریا ج ۱ ص ۵۵۶ کتاب الطهارة/ فتاوی محمودیه ج ۵ ص ۱۱۵ باب الغسل/ امدادالفتاوی ج ۱ ص ۲۸ باب الغسل مکتبه دارالعلوم کراچي/ فتاوی رحیمیه ج ۳ ص ۱۸۸ باب الغسل)

غیری ضروري وېښته لکه دبغل یازیري ناف وېښته څومره وخت لري ؟

سوال ۳ :غیر ضروري وېښته مثلاً دبغل او زیري ناف وېښته څو ورځي پس باید صفا سي؟

جواب : غیر ضروري وېښته هره هفته صفا کول مستحب کار دی او تر څلو ېښتو ورځو پوري ځنډول جواز لري او وروسته تر څلوېښتو ورځوېپا مکروه عمل دی .
وفى الفتاوى الهندية : الأفضل أن يقلم أظفاره ويحفي شاربه ويحلق عانته وينظف بدنه بالاغتسال في كل أسبوع مرة فإن لم يفعل ففي كل خمسة عشر يوما ولا يعذر في تركه وراء الأربعين فالأسبوع هو الأفضل والخمسة عشر الأوسط والأربعون

(الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۵۷ (الباب التاسع عشر في الختان والخصاء وقلم الأظفار وقص الشارب وحلق الرأس وحلق المرأة شعرها ووصلها شعر غيرها/ الدر المختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۸۸ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۴۹ باب المسائل المتفرقة / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۴۴۸)

که دیوچا نوکان دګوتو تر سرو تیروي ډوډۍ په خوړل

سوال ۴ :که دیوچا نوکان دګوتو ترسرو تیروي په هغه لاسونو سره ډوډۍ خوړل رواه ده ؟

جواب : نوکان دومره غټ پرېښوول چي دګوتو تر سرو تیر سي دامکروه کار دی علماؤ لیکلي دي دچا چي نوکان ډیر اوږده وي نو رزق به یې تنګ وي ښه طریقه یې دپرې کولو داده که نروي که ښځه په هفته کي دجمعي په ورځ خپل نوکان واخلي. که

هغه نه وي نو دي پنځلس ورځې فاصله وركړي دا هم افضله طريقه ده بيا څه ترڅلويښتو ورځو پورې او تر څلويښت ورځې زيات پرېښوول ګناه ده.

وفی الفتاوی الهندية : الأفضل أن يقلم أظفاره ويحفي شاربه ويحلق عانته وينظف بدنه بالاغتسال في كل أسبوع مرة فإن لم يفعل ففي كل خمسة عشر يوما ولا يعذر في تركه وراء الأربعين فالأسبوع هو الأفضل والخمسة عشر الأوسط والأربعون الأبعد ولا عذر فيما وراء الأربعين ويستحق الوعيد كذا في القنية.

(الفتاوی الهندية ج۵ ص ۲۸۷ (الباب التاسع عشر في الختان والخصاء وقلم الأظفار وقص الشارب وحلق الرأس وحلق المرأة شعرها ووصلها شعر غيرها / الدر المختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۸۷ / فتاوی قاضي خان علي هامش الهندية ج ۳ ص ۴۱۱ / فتاوس حقانيه ج ۲ ص ۲۱۲)

دښځې ږيره او بريتونه چې راسي كښل يې ګناه لري كه يا ؟

سوال ۵ : كه چيرې د ښځې پر مخ باندې ږيره يا بريتونه راشنه سي نو د دغه وېښتيانو كښل رواه دي كه ګناه لري ؟

جواب : خاتم الفقهاء علامه ابن عابدين شامي رحمه الله تعالى په ردالمحتار كښې په حواله د تبيين المحارم كتاب ليكلي دي : كه چيرې د ښځې ږيره يا بريتونه راشنه سي نو د دغه وېښتيانو كښل حرام لا څه كوي بلكې مستحب دي . والله اعلم .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فی ردالمحتار : وَفِي تَبْيِينِ الْمَحَارِمِ إزَالَةُ الشَّعْرِ مِنْ الْوَجْهِ حَرَامٌ إلَّا إذَا نَبَتَ لِلْمَرْأَةِ لِحْيَةٌ أَوْ شَوَارِبُ فَلَا تَحْرُمُ إزَالَتُهُ بَلْ تُسْتَحَبُّ اه.

(ردالمحتار ج۶ ص ۳۷۳ كتاب الحظر والاباحة فصل النظر والمس بيروت چاپ / مرقاة المفاتيح كتاب الطهارة باب السواك الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۹ ج ۲ ص ۹۱ مكتبه رشيديه / بذل المجهود ج ۱ ص ۳۳ باب السواك من الفطرة مكتبه امداديه ملتان / احسن الفتاوی كتاب الحظر والاباحة ج۸ ص ۷۵ سعيد چاپ اردو / فتاوی محموديه ج ۱۹ ص ۴۲۲ باب خصال الفطرة)

د دبر (مقعدي) وېښتيان خريل څنګه دي؟

سوال ۶: د انسان تر نامه لاندې چې كوم وېښتيان دي د هغه د خريلو اندازه څو مره ده يعني د كم ځاى څخه تر كم ځايه پورې خريل كيږي او د دبر (مقعدي) وېښتيان خريل شرعاً جائز دي كه يا ؟ بعضې كسان وائي چې د مخرج نجاست يعني د مقعدي د شا او خوا وېښتان خريل هم لازمي دي ايا په دې هكله يو حديث شريف سته كه يا ؟

جواب: دنامه څخه شروع بیاد خصیتینو (خایو) ترلاندي پوري اودورنوتر ېخوپوري داوېښتېان خریل ضروري دي دامکان ترحده پوري . پاته سو دمخرج نجاست دشااوخوا وېښتانوپه خریلوکي دحدیث موجودیت په هرجُزي حکم کښي دحدیث ذکرکول ضروري نه دي فقهاءکرامودهغووېښتانوخریل ضروري بللي دي کم چي په نجاست دلړل کېدو خطره وي اودعلامة ابن شریح رحمه الله تعالی په روایت کښي هم صراحتاً داذکر سوي دي چي دمقعدي وېښتان خریل مستحب دي

کماقال الملا علی القاری رحمه الله فی مرقات المفاتیح شرح مشکاة المصابیح زَادَ ابْنُ شُرَيْحٍ: وَحَلْقَةُ الدُّبُرِ، فَجَعَلَ الْعَانَةَ مَنْبَتَ الشَّعْرِ مُطْلَقًا. .... وَالْإِزَالَةُ شَامِلَةٌ لِقَصِّ الْأَظْفَارِ وَالشَّارِبِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ أَوْ نَتْفِهَا أَوْ اسْتِعْمَالِ النُّورَةِ وَكَذَا نَتْفُ الْإِبْطِ، وَالْعَانَةُ الشَّعْرِ الْقَرِيبِ مِنْ فَرْجِ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ وَمِثْلُهَا شَعْرُ الدُّبُرِ بَلْ هُوَ أَوْلَى بِالْإِزَالَةِ لِئَلَّا يَتَعَلَّقَ بِهِ شَيْءٌ مِنْ الْخَارِجِ عِنْدَ الِاسْتِنْجَاءِ بِالْحَجَر

(ردالمحتارج ۲ص ۴۸۱ [فصل في الاحرام وصفةالمفرد]مکتبه شامله/ مرقات المفاتیح شرح مشکات المصابیح ج ۸ ص ۲۰۹ ؛ ۲۱۰ کتاب اللباس باب الترجل الفصل الاول رشیدیه/ فتاوی عباد الرحمن ج ۵ ص ۲۷۷ کتاب الحظر والاباحة / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۴۴۶ باب خصال الفطرة/شرح النووي علي المسلم ج ۳ ص ۱۴۸ مکتبه شامله/حاشیةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۵۲۷ رشیدیه/فتح الباري لابن حجر ج ۱۰ ص ۳۴۳ مکتبه شامله/الفتاوي العالمگیریه ج ۵ ص ۳۵۷ ؛ ۳۵۸ کتاب الکراهیة الباب التاسع عشر رشیدیه)

دږیري شرعي اندازه دشریعت مطهره دنظره څخه څومره مقرره سوې ده ؟

سوال ۷ : پوښتنه داده چي دږیري شرعي اندازه دشریعت مطهره دنظره څخه څومره مقرره سوې ده ؟

جواب : ږیره دانبیآء علیهم السلام سنت قدیمه دی او ددین اسلام دشعائرو څخه ګڼل کیږي دفقهآء کرامو دتحقیقاتو په رڼا کي دږیري پرېښوول واجب دي او اندازیې یو موټی دی ددې څخه کمه پرېښوول دسنتو څخه خلاف عمل دی .

لما قال العلامة علی بن سلطان محمد القاري رحمه الله تعالی فی مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح : وَفِي الْإِحْيَاءِ قَدِ اخْتَلَفُوا فِيمَا طَالَ مِنَ اللِّحْيَةِ، فَقِيلَ: إِنْ قَبَضَ الرَّجُلُ

عَلَى لِحْيَتِهِ وَأَخَذَ مَا تَحْتَ الْقُبْضَةِ فَلَا بَأْسَ بِهِ، وَقَدْ فَعَلَهُ ابْنُ عُمَرَ وَجَمَاعَةٌ مِنَ التَّابِعِينَ، وَاسْتَحْسَنَهُ الشَّعْبِيُّ، وَابْنُ سِيرِينَ .

وفي ردالمحتار على الدرالمختار : (قوله والسنة فيها القبضة) وهو أن يقبض الرجل لحيته فما زاد منها على قبضة قطعه كذا ذكره محمد في كتاب الآثار عن الإمام، قال وبه أخذ. محيط اهـ

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج۵ ص ۲۸۸ فصل في البيع / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۷ ص ۲۸۲۲ مكتبه شامله / امدادالفتاوی ج ۴ ص ۲۲۳ / احسن الفتاوی ج ۹ ص ۵۵ فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۵۱ / احسن الفتاوی ج ۹ ص ۵۵ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۳۰۷)

ايا دبريتو خريل سنت دي ؟

سوال۸: ايا دبريتو خريل سنت دي كه بدعت او كه يې كوچني كول سنت دي ؟

جواب : د درمختار د عبارت څخه معلوميږي چې د بريتو خريل بدعت دي او يو قول داهم راغلی دی چې خريل يې سنت دي . او كوم فعل چې د سنت او بدعت ترمينځ راسي ترک او پريښوول يې اولی کار دی . والله اعلم

لما قال العلام الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : حلق الشارب بدعة وقيل سنة واختلف في المسنون في الشارب هل هو القص أو الحلق؟ والمذهب عند بعض المتأخرين من مشايخنا أنه القص. قال في البدائع: وهو الصحيح وقال الطحاوي:القص حسن والحلق أحسن وهو قول علمائنا الثلاثة نهرقال في الفتح وتفسير القص أن ينقص حتى ينتقص عن الإطار وهو بكسر الهمزة: ملتقى الجلدة واللحم من الشفة،وكلام صاحب الهداية على أن يحاذيه. اهـ

(الدرالمختار علي هامس ردالمحتار ج ۶ ص ۴۰۷ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع مكتبه شامله / ردالمحتار ج ۲ ص ۵۵۰ كتاب الحج باب الجنايات سعيد / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۴۹ / فتاوى اللكنوي ص ۴۹۱ / جامع الفتاوی ج ۳ ص ۲۰۵ / الهداية ج ۱ ص ۲۴۹ / فتاوی محموديه ج ۱۹ ص ۴۲۳)

باب الصلوة على رسول الله والتعويذات

هغه کوم سورت دی چي دهر مرض دپاره شفا دی .

سوال ۱ : په قرآن کریم کښې هغه کوم سورت دی چي دهر مرض دپاره شفا دی ؟ .

جواب : په قرآن کریم کښې هغه سورت چي دهر قسم مریضۍ دپاره شفا دی هغه سورت فاتحه ده . ځکه چي په حدیث شریف کښې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چي سورت فاتحه دهر قسم مریضۍ دپاره شفا ده . هغه نو بیا برابره ده که تعویذ ځیني جوړ سي په غاړه کړل سي یا پر اوبو باندي دم کړل سي بیا په مریض باندي هغه اوبه وچیښل سي . یا پر مریض باندي ددې په ذریعه سره دم وکړل سي .

وأمّ الكتاب، والسبع المثاني، لأنها تثنى في كل ركعة، والقرآن العظيم، لتضمنها جميع علوم القرآن ومقاصده الأساسية، والشفاء لقوله صلّى الله عليه وسلم: «فاتحة الكتاب شفاء من كل سم ، والرّقية لقوله صلّى الله عليه وسلّم لمن رقى بها سيد الحي: «ما أدراك أنها رقية ،والأساس، لقول ابن عباس:وأساس الكتب: القرآن، وأساس القرآن و رواه الدارمي عن عبد الملك بن عمير، بلفظ: «في فاتحة الكتاب شفاء من كل داء»

(التفسير المنير ج ۱ ص ۵۶ سورة الفاتحه مكتبه حبيبيه / تفسير الثعلبي ج ۱ ص ۱۲۸ بيروت چاپ / تفسير الرازي ج ۱ ص ۱۵۹ بيروت چاپ / تفسير القرطبي ج ۱ ص ۱۱۲ بيروت چاپ / تفسير ابن كثير ج ۱ ص ۱۰۱ بيروت چاپ)

دتلاوت څخه مخکښي ددرود ویلو حکم.

سوال ۲ : ځیني کسان چي کله تلاوت شروع کوي نو درود شریف وایي او بیا چي کله تلاوت ختم کړي نو بیا درود شریف وایي اوس پوښتنه داده چي دتلاوت څخه مخکي او وروسته درود شریف ویل ثابت دي که یا ؟

جواب : ددرود شریف لپاره یو مشخص وخت نسته بلکي په هر وخت کښې ددرود شریف ویل باعث داجر او ثواب دي خو ځیني وختونه داسي سته چي په هغه وختونو کښې ددرود شریف ویل تر نورو وختو ډېر ثواب لري چي په هغه وختونو کښې یو دادی چي کله یو کس تلاوت ختم کړي نو بیا دي درود شریف ووایي البته خاص

دتلاوت په سر کي درود ويل او ددغه درود ثبوت زموږ دپوره کوشش سره سره بيا هم دفقهي شريفي په کتابو کي موجود نه سو.

تُسْتَحَبُّ الصَّلاَةُ عَلَيْهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَارِجَ الصَّلاَةِ فِي كُل الأْوْقَاتِ، وَتَتَأَكَّدُ فِي مَوَاطِنَ مِنْهَا: يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَتُهَا، وَعِنْدَ الصَّبَاحِ، وَعِنْدَ الْمَسَاءِ، وَعِنْدَ دُخُول الْمَسْجِدِ، وَالْخُرُوجِ مِنْهُ، وَعِنْدَ قَبْرِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَ إِجَابَةِ الْمُؤَذِّنِ، وَعِنْدَ الدُّعَاءِ، وَبَعْدَهُ وَعِنْدَ السَّعْيِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَعِنْدَ اجْتِمَاعِ الْقَوْمِ، وَتَفَرُّقِهِمْ، وَعِنْدَ ذِكْرِ اسْمِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَ الْفَرَاغِ مِنَ التَّلْبِيَةِ، وَعِنْدَ اسْتِلاَمِ الْحَجَرِ، وَعِنْدَ الْقِيَامِ مِنَ النَّوْمِ، وَعَقِبَ خَتْمِ الْقُرْآنِ،

(الموسوعة الفقهية ج ۲۷ ص ۲۳۷ مكتبه حقانيه/ردالمحتار ج ۱ ص ۳۸۳ مطلب نص العلماء علي استحباب الصلوة علي النبي ﷺ)

دنبي کريم ﷺ دنامه مبارک سره درود شريف ويل کوم حيثيت لري؟

سوال ۳: دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دنوم مبارک په اورېدو سره درود شريف ويل فرض دى که واجب دى که سنت دى؟

جواب: فقهاء کرامو ليکلي دي چي په ټول عمر کي يو ځل پر نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندي درود شريف ويل فرض دى، او ددې څخه وروسته بيا دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دنوم مبارک په اورېدو سره هر ځل پر نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندي درود شريف ويل واجب دى داځکه چي دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دنوم مبارک اورېدل او بيا درود شريف نه ويل پر دې باندي ډېري سزاګاني په احاديث مبارکه وو کي راغلي دي او همدغه قول امام طحاوي رحمه الله تعالى اختيار کړى دى، البته دامام کرخي رحمه الله تعالى په نزد بيا که چيري په يوه مجلس کي څو واره دنبي کريم صلى الله عليه وسلم نوم مبارک ذکر سي نو هر وار درود شريف ويل ورسره واجب نه دى بلکي يو ځل ويل واجب دى. والله اعلم بالصواب.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وهي اى الصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم فرض) عملا مرة واحدة اتفاقا في العمر . وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على الدرالمختار : قلنا بفرضيتها لأجل العمل بالأمر القطعي الثبوت والدلالة، فهي فرض علما وعملا لا عملا فقط كالوتر.

... لما قال العلامة الحكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار ايضا (واختلف) الطحاوي والكرخي (في وجوبها) على السامع والذاكر (كلما ذكر) – صلى الله عليه وسلم – (والمختار) عند الطحاوي (تكراره) أي الوجوب (كلما ذكر) ولو اتحد المجلس في الأصح .... وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على الدرالمختار ايضا : كن صحح في الكافي وجوب الصلاة مرة في كل مجلس .... وهو كمن سمع اسمه – عليه الصلاة والسلام – مرارا لم تلزمه الصلاة إلا مرة في الصحيح لأن تكرار اسمه – صلى الله عليه وسلم – لحفظ سنته التي بها قوام الشريعة، فلو وجبت الصلاة بكل مرة لأفضى إلى الحرج، غير أنه يندب تكرار الصلاة

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۱۵ باب صفة الصلوة ، آداب الصلوة مكتبه شامله ، ج ۱ ص ۵۱۶ / البحر الرائق آخر باب صفة الصلوة ج ۱ ص ۵۷۳ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۳ ص ۱۳۳ باب البدعات والرسوم مكتبة الفاروق اردو)

دقرآن مجيد اياتونه او دعاوي ليكل په مريض باندي چيښل .

سوال ۴ : ځيني كسان نن سبا دكينسر يا دسرطان په مريضۍ اخته كسانو ته ټوله قرآن كريم ورليكي او بيا يې اوبو ته اچوي په دغه ناجوړو كسانو باندي يې چيښي ايا دشريعت دنګاه څخه ددغه عمل اجازه شته كه يا .

جواب : دقرآن كريم داياتونو او احاديث مباركه وو څخه تعويذ جوړول ياپر اوبو او بل پاك شي باندي دم كول او هغه بيا چيښل جائز او رواه عمل دى خپله يې هم چيښل رواه دي او په بل باندي يې هم چيښل رواه دي . په خيرالقرون (دصحابه

کرامو او تابعینو او تبع تابعینو په زمانه) کښې د بزرګانو دغه معمولات او مجربات نقل سوي دي شرعا کوم مشکل او حرج په دې کښې نسته .
نوټ : یوه خبره چې دلته د ذکر کولو قابله ده هغه دا ده چې دغه ټوله دیرش سېپاري قرآن کریم په رنګ باندې لیکل او بیا ټوله رنګ دا و بو سره چیښل دغه یوه داسې مسئله ده چې په دې کښې د ډاکټرانو سره هم باید مشوره وسي ځکه چې د نن سبا د قلمونو په رنګونو کښې ځیني کیمیاوي او زهرجن مواد ګډ دي چې کله کله د انسان وصحت ته ډیر سخت ضرر رسوي داسې نه وي چې د فائدې پر ځای یې تاوان زیات سي او موږ په شریعت کښې ځیني داسې مسائل هم لرو چې په هغه مسائلو کښې شریعت دیو ماهر او دیندار یوه مسلمان ډاکټر وخبري ته اعتبار ورکوي والله اعلم بالصواب .
عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا عَسُرَ عَلَى الْمَرْأَةِ وَلَدُهَا، أَخَذَ إِنَاءً لَطِيفًا يَكْتُبُ فِيهِ {كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ} [الأحقاف:٣٥] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، وَ {كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا} [النازعات: ٤٦] ، وَ {لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِأُولِي الْأَلْبَابِ} [يوسف: ١١١] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، ثُمَّ يُغْسَلُ، وَيَسْقِي الْمَرْأَةَ مِنْهُ، وَيَنْضَحُ عَلَى بَطْنِهَا وَفَرْجِهَا . الحديث
(فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۵۲۳ / عمل الیوم والیلة المعروف بابن السني ص ۵۷۶ بیروت چاپ ، باب ماتعوذ به المرأة التي تطلق . / شرح الخرپوتي علي القصیدة البردة ص ۱۴۶)

دیو چا د طبیعت د نرمولو دپاره تعویذ کول .

سوال ۵ : که چیري یو کس په بل کس باندې مثلا ښځه په خاوند باندې یا زوی په پلار باندې یا یو دوست په بل دوست باندې داسې تعویذ وکړي چې د طبیعت سختي یې په نرمی بدله سي یا د کورني جنګ او جنجاله څخه لاس واخلي ایا داسې تعویذ کول شرعا روا ایښت لري که یا ؟

جواب : که چیري یو خاوند پر ښځي باندې یا پلار پر زوی باندې خدانخواسته ظلم کوي او د هغوی جائز حقوق نه اداء کوي او یا د هغوی څخه بې ځایه نفرت کوي نو په داسې صورت کښې د شریعت په حدودو کښې د نننه هر قسم تدابیر د دوی د دغه نا

جائز عمل د ختمولو د پاره کول روا ده دي هغه که تعویذ وي، یا کوم څابښت وي یا یو بل څه روا او جائز تدبیروي شرعا د دغه تدابیرو د اختیارولو څخه منع نه ده راغلې. البته جادو یا منتر او کوډي په دغه کسانو باندي کول او د دوی اختیارات په دغه جادو یا کوډو سره سلب کول دا طریقې بیا شرعا ناروا ده دي.

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وَفِيهِ أَنَّهُ وَرَدَ فِي الْحَدِيثِ النَّهْيُ عَنْ التُّوَلَةِ بِوَزْنِ عِنَبَةٍ: وَهِيَ مَا يُفْعَلُ لِيُحَبِّبَ الْمَرْأَةَ إلَى زَوْجِهَا. اهـ.

(امدادالمفتین ج ۲ ص ۲۱۹ ردالمحتار ج ۱ ص ۳۳ / ج ۵ ص ۲۵۷ دررالحکام شرح غرر الاحکام ج ۱ ص ۳۱۹ مکتبه شامله / امدادالفتاوی ج ۴ ص ۸۶ اردو / تعلیم الاحکام ص ۲۸۶)

تعویذ او څابښت په شریعت کښې ثبوت لري که یا؟

سوال۶: زمونږ په معاشره کي نن د تعویذ او د څابښت راکړه ورکړه ډېره ده د شریعت د نظره څخه د تعویذ او د څابښت څه اثر او ثبوت سته که یا ؟

جواب: د تعویذ ثبوت د شریعت له نظره د احادیثو په رڼا کي سته او د تعویذ اثر چي دی هغه هم په حکم د الله جل جلاله سره دی، محدثینو او علماؤ د تعویذ د جواز لپاره دري شرطونه مقرر کړي دي.

۱ : د یو جائز مقصد لپاره به وي د ناجائز او ناروا کار لپاره به نه وي.

۲ : د هغه تعویذ الفاظ به کفري او شرکي نه وي مفهوم او معنی به یې معلومه او درسته وي.

۳ : دا تعویذ به موثر بالذات نه بولي بلکه حکم به د الله جل جلاله بولي، خو یو چاته د ضرر او تاوان رسولو لپاره تعویذ ونه او کوډي کول دا په حکم کي د جادو دي دا فعل حرام او سخته ګناه ده.

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْفَزَعِ كَلِمَاتٍ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَشَرِّعِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو يُعَلِّمُهُنَّ مَنْ عَقَلَ مِنْ بَنِيهِ وَمَنْ لَمْ يَعْقِلْ كَتَبَهُ فَأَعْلَقَهُ عَلَيْهِ.

(رواه ابي داؤد)

ولما في فتح الباري : وقد أجمع العلماء على جواز الرقي عند اجتماع ثلاثة شروط أن

يكون بكلام الله تعالى أو بأسمائه وصفاته وباللسان العربي أو بما يعرف معناه من غيره وأن يعتقد أن الرقية لا تؤثر بذاتها بل بذات الله تعالى .

(سنن ابي داؤد ج ١ ص ٥٤٣ / مشكوة المصابيح ص ٣٨٨ قديمي كتب خانه / فتح الباري ج ١٠ ص ١٩٥ بيروت چاپ / مرقاة المفاتيح ج ٨ ص ٣٠٣ مكتبه رشيديه / ردالمحتار ج ٥ ص ٢٥٦ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ٢٠ ص ٦٤ اردو / فتاوى حقانيه ج ٢ ص ١٩٦ جديد كتب خانه / امداد الاحكام ج ١ ص ٣٢٩ اردو / فتاوى بينات ج ٢ ص ١٤٩ اردو / فتاوى فريديه ج ١ ص ٤٠٥ اردو / ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ٢ ص ٤٩٥ اردو)

دخاوند دمحبت لپاره تعويذ کول

سوال ۷ : يوه ښځه داسي تعويذ په خپل خاوند کوي چي دخپل خاوند محبت د دې سره زيات سي او دغير شرعي اجنبي ښځو دغير مشروع تعلقاتو څخه راوګرځي داسي تعويذ کول روادی که يا ؟

جواب : که چيري يو خاوند پر خپلي ښځي باندي ظلم کوي او دخپلي ښځي حقوق نه اداء کوي دڅه غير شرعي تعلقاتو دوجي څخه يا دبل مشکل دوجي څخه نو بيا دمحبت داسي تعويذ کول روادی خو په دې شرط چي دميړه څخه غلام جوړول مقصد په کښې نه وي او په نېک مصلح با عمله عالم باندي چي په هغه تعويذ کي به جنتر منتر (جادو او کوډي) نه وي او په خپل خاوند باندي جادو کول يا دهغه اختيارات سلب کول قطعا روانه دي .

عن عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جده، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يعلمهم من الفزع كلمات: «أعوذ بكلمات الله التامة، من غضبه وشر عباده، ومن همزات الشياطين وأن يحضرون» وكان عبد الله بن عمر يعلمهن من عقل من بنيه، ومن لم يعقل كتبه فأعلقه عليه

(سنن ابي داود باب كيف الرقي ج ٤ ص ١٢ مكتبه شامله / ردالمحتار ج ٥ ص ٢٥٧ كتاب الحظر والاباحة ، فصل في اللبس / امداد المفتين ص ٩١٢ / امداد الفتاوى ج ٤ ص ٨٦ / درر الحكام شرح غرر الاحكام ج ١ ص ٣١٩ / فتاوى حقانيه ج ٢ ص ١٩٧)

په درود شريف کښې دمحمد صلي الله عليه وسلم لفظ (مُحَمَّدٍ) ويل کيږي که (مُحَمَّد) ويل کيږي ؟

سوال۸ : په درود شریف کښې د محمد صلی الله علیه وسلم لفظ (مُحَمَّدٍ) ویل کیږي که (مُحَمَّد) ویل کیږي ؟.

جواب : د وصل (چي روان يي ونه دريږي) په صورت کښې (مُحَمَدٍ) ويل کيږي په دوه زيره سره . او د فصل (چي وقف وکړي ودريږي) په صورت کښې (مُحَمَد) په سکون (وړغندي) د دال سره ويل کيږي .

لما فى التمهيد فى علم التجويد : القسم الثالث: إدغامهما في حروف (يومن) إدغاماً غير مستكمل التشديد لبقاء الغنة، وهي بعض الحرف، نحو قوله: {مكني} ، {من نعمة} ، {حطة نغفر} ، {من واق} ، {غشاوة ولهم} ، {من ماء} ، {ماءً مباركاً} ، {فمن يعمل} ، {وبرق يجعلون} . ولما في غاية المريد: والسكون المحض هو السكون الخالص الذي لا حركة فيه، وهو الأصل في الوقف، وإلى هذا يشير الإمام ابن الجزري في الطَّيِّبَة

(جمال القرآن ص ۵۳ / ۷۶ / فوائد مكيه ص ۵۶ / غاية المريدفي علم التجويدص ۱۸۱/ التمهيدفي علم التجويد ص۱۵۶)

د هندوانو او سیکانو څخه جادو یا تعویذ ونه اخیستل .

سوال ۹ : زموږ د ټولني څه بې علمه کسان داسي دي چي د هندوانو او سیکانو څخه د مختلفو مقاصدو د پاره جادو یا تعویذونه اخلي او بیا یې په غاړه کوي پوښتنه داده چي د غیر مسلم قوم څخه جادو یا تعویذونه اخیستل رواه دي که یا ؟

جواب : جادو کول په شریعت کښې حرام دی هغه که مسلمان کوي که یې کافر کوي که چیري په دغه جادو کښې د اسلام د عقیدې خلاف څه شی وي نو فقهاوو لیکلي دي چي دا کفر دی . او پاته سوه د تعویذ خبره په فتاوي محمودیه کښې حضرت مولانا مفتي محمود حسن رحمه الله تعالی لیکلي دي چي د غیر مسلم قوم څخه تعویذ دم وغیره اخیستل نه دي پکار ځکه چي ځني وختونه د دوی په لیکلو تعویذو او منتر وغیره کښې د شرک خبري وي چي د هغوی تعظیم او پر هغوی باندي عقیده لرل کفر دی .

وفى شرح الفقه الاكبر : فان كان فى ذلک اى السحر ردمالزمه فى شرط الايمان فهو كفر والا فلا فلو فعل ما فيه هلاک انسان او مرضه او تفريق بينه وبين امراته فهو غير منكر

لشئ من شرائط الایمان لایکفر لکنه یکون فاسقا ساعیا فی الارض بالفساد فیقتل الساحر والساحرة لان علة القتل السعی فی الارض بالفساد . انتهی . وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی فی ردالمحتار : وَعُلِمَ بِهِ وَبِمَا نَقَلْنَاهُ عَنْ الْخَانِيَّةِ أَنَّهُ لَا يَكْفُرُ بِمُجَرَّدِ عَمَلِ السِّحْرِ مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ اعْتِقَادٌ أَوْ عَمَلُ مَا هُوَ مُكَفِّرٌ، وَلِذَا نَقَلَ فِي [تَبْيِينِ الْمَحَارِمِ] عَنْ الْإِمَامِ أَبِي مَنْصُورٍ أَنَّ الْقَوْلَ بِأَنَّهُ كُفْرٌ عَلَى الْإِطْلَاقِ خَطَأٌ وَيَجِبُ الْبَحْثُ عَنْ حَقِيقَتِهِ، فَإِنْ كَانَ فِي ذَلِكَ رَدُّ مَا لَزِمَ فِي شَرْطِ الْإِيمَانِ فَهُوَ كُفْرٌ وَإِلَّا فَلَا.

(شرح الفقه الاکبر لملا علي القاري رحمه الله تعالي ص ۱۴۵ قدیمي کتابخانه / ردالمحتار علي صدرالدرالمختار ج ۴ ص ۲۴۱ مطلب توبة الیاس مقبولة دون ایمان الیاس / فتاوی محمودیه ج ۲۰ ص ۶۱ باب مایتعلق بالسحر والعوذة مکتبه فاروقیه / کفایت المفتي جج ۱۲ ص ۴۸۰ مایتعلق بالسحر مکتبه فاروقیه)

په یوې ښځې باندي داسي تعویذ کول چي نکاح کولو ته راضي سي .

سوال ۱۰ : په یوې ښځي باندي داسي تعویذ کول چي هغه نکاح کولو ته اماده سي رواه دی که یا ؟

جواب : حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالی په امدادالفتاوی کي لیکلي دي چي عملیات او تعویذات په اعتبار داثر پر دوه قسمه دي یو هغه قسم تعویذونه او عملیات دي چي پر هغه عمل وسي نو هغه شخص چي تا دغه عمل پر کړی دی یا دي تعویذ په کړی دی مسخر او مغلوب المحبته او مغلوب العقله سي یعني لیونی او سرګردانه سي داسي عمل یا تعویذ دداسي کار دپاره نه دی رواه چي هغه شرعا واجب نه وي لکه دیو معلوم شخص سره نکاح کول چي هغه شرعا واجب نه ده .

دوهم قسم هغه عملیات او تعویذات دي چي دهغوی په ذریعه سره دغه مطلوبه شخص دهغه مقصود طرف ته فقط متوجه او مائله سي بې له دغه چي هغه مغلوب

العقله سي نو بیاهغه شخص په ښه هو ښیاری، سره د خپل ځان دپاره هغه مصلحت تجویز کړي د دا سي کار د پاره بیا داسي تعویذ رواه دی.

(امدادالفتاوی ج ۴ ص ۸۹ باب التعویذات والاعمال / فتاوی محمودیه ج ۲۰ ص ۸۹ باب مایتعلق بالسحر والعوذة)

تعویذ په غاړه یا په لاس او بازو پسي زړول رواه دي که یا ؟

سوال ۱۱ : په غاړه یا په لاس او بازو پسي تعویذ زړول شرعًا رواه کار دی که یا ؟ ځني کسان د دي څخ منع کوي؟

جواب : که چیري دغه تعویذ په جایز او رواه کلماتو سره لیکل سوی وي مثلاً د قرآن کریم ایاتو نه یا د احادیثو دعا ګاني په کښېښ وي نو بیا په غاړه کول یا په لاس او بازو پسي زړول رواه دي

عن عمر وبن شعيب عن ابيه جده أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يعلمهم من الفزع كلمات: «أعوذ بكلمات الله التامة، من غضبه وشر عباده، ومن همزات الشياطين وأن يحضرون» وكان عبد الله بن عمر يعلمهن من عقل من بنيه، ومن لم يعقل كتبه فأعلقه عليه

(سنن ابي داود ج ۴ ص ۱۲ باب کیف الرقي مکتبه شامله / فتاوي فریدیه جلد ۱ ص ۶۰۶ مسائل شتي)

ددریې دوهلو سره درود شریف ویل څنګه دی شرعًا؟

سوال ۱۲ : یو کس دریه وهي او بیا د دریي د وهلو سره درود شریف هم ورسره وایي په بغل کښېښ او په ترنم سره یې وایي ایا درود شریف د دریي د وهلو سره رواه دی که یا ؟

جواب: د دریې د وهلو سره شرعًا د درود شریف ویل جایز نه دی دا کار ناروا ه دی مسلمانانو ته پکار ده چي د سروز او د دریې سره د الله جل جلاله حمد د رسول صلی الله علیه وسلم نعتونه درود شریف په داسي حال کي چي دلهو اولعب حالت دی و نه وایي

[قال الله تعالي فی القرآن الکریم : قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ أَيا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الأَسْمَاءُ الْحُسْنٰى.

(سورة بني اسرائيل ايت (۱۱۰) پاره ۱۵ / كفايت المفتي جلد ۹ ص ۶۲ كتاب الحظر والاباحة)

دتجارت او کاروبار دترقۍ دپاره تعویذ کول شرعا رواه دی که یا ؟

سوال ۱۳ : دتجارت او کاروبار دترقۍ دپاره تعویذ کول شرعا رواه دی که یا ؟

جواب : تجارت او کاروبار چي پر شرعي طريقه برابر وي يو رواه او جائز عمل دی جائز لاځه بلکي شرعا يو مطلوب عمل دی او درواه او جائز مقصد دپاره تعویذ کول شرعا رواه دی کوم حرج نه لري او د تعویذ ثبوت درواه او جائزو مقاصدو دپاره د شريعت له نظره د احاديثو په رڼا کي ستهاو د تعويذ اثر چي دی هغه هم په حکم د الله جل جلاله سره دی، محدثينو او علماؤ د تعويذ د جواز لپاره دري شرطونه مقرر کړي دي. **۱**: د يو جائز مقصد لپاره به وي د ناجائز او ناروا کار لپاره به نه وي. **۲**:د هغه تعويذ الفاظ به کفري او شرکي نه وي مفهوم او معنی به يې معلومه او درسته وي. **۳**:دا تعويذ به موثر بالذات نه بولي بلکه حکم به د الله جل جلاله بولي، خو يو چاته د ضرر او تاوان رسولو لپاره تعويذونه او کوډي کول دا په حکم کي د جادو دي دا فعل حرام او سخته ګناه ده.

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْفَزَعِ كَلِمَاتٍ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَشَرِّعِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو يُعَلِّمُهُنَّ مَنْ عَقَلَ مِنْ بَنِيهِ وَمَنْ لَمْ يَعْقِلْ كَتَبَهُ فَأَعْلَقَهُ عَلَيْهِ.

(رواه ابي داؤد)

ولما في فتح الباري : وقد أجمع العلماء على جواز الرقي عند اجتماع ثلاثة شروط أن يكون بكلام الله تعالى أو بأسمائه وصفاته وباللسان العربي أو بما يعرف معناه من غيره وأن يعتقد أن الرقية لا تؤثر بذاتها بل بذات الله تعالى.

(سنن ابي داؤد ج ۱ ص ۵۴۳ / مشكوة المصابيح ص ۳۸۸ قديمي كتب خانه / فتح الباري ج ۱۰ ص ۱۹۵ بيروت چاپ / مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۰۳ مكتبه رشيديه / ردالمحتار ج ۵ ص ۲۵۶ مكتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ۲۰ ص ۶۴ اردو / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۱۹۶ جديد كتب خانه / امداد الاحكام ج ۱ ص ۳۲۹ اردو / فتاوی بينات ج ۲ ص ۱۴۹ اردو / فتاوی فريديه ج ۱ ص ۴۰۵ اردو / اپ كي مسائل ج ۲ ص ۴۹۵ اردو)

باب التصـــاویر

تلویزون کتل شرعا رواه دی که یا ؟

سوال ۱: تلویزون کتل شرعا رواه دی که یا حال دا دی چې په تلویزون کې فحش فلمونه او ډرامې او د اجنبي او بیګانه ښځو انظورونه او ګانا او موزیک وغیره غوندې خرافات موجود دي .

جواب : حقاني علماوو او د وخت مستندو متقیانو مفتیانو حضراتو د ټي وي په باره کې د شریعت مطهره د فیصلې د اسې وضاحت کړی دی : په کور کې ټي وي او تلویزون ایښوول یو د اسې لعنت دی چې د مرګ څخه وروسته هم د انسان تعقیب دل نه پریږدي د دې لعنت علاج دا دی چې انسان توبه وباسي او د غه ناسور او د خرافاتو خزانه د کوره څخه وباسي . علماء کرامو او بزرګانو لیکلي دي چې څنګه ماحول جوړ وي په هغه ماحول او ټولنه کې داوسیدونکو انسانانو اخلاق به هم د هغه ماحول تابع وي . مطلب دا چې که ماحول دیني او اسلامي وو نو د هغه ماحول اوسیدونکي به هم د دین طرف ته مایله او پر دین به برابر وي . او که چیرې یو ماحول غلط او بیکاره وي نو د هغه ماحول اوسیدونکي به هم د د غه ماحول فاسد اخلاق را خپلوي او پر هغه به ځي . لهذا د کور د مشر دیني او اسلامي دنده او وظیفه دا ده چې خپل کور د ټي وي او تلویزون د مضر اثراتو او منفي اخلاقو د خرابیو څخه خلاص کړي .

د شریعت حکم دا دی چې د خپلې ښځې څخه علاوه دیوې اجنبي ښځې مخ ته کتل نه دي رواه دا خو لا څه کوې چې د فلم او تصویرونو په ذریعه سره یو شوک د هغې ټوله جسم او بدن ګوري ، او بیا د دې تصویرونو مقصد او غرض د نفساني هوس تسکین او د بد اخلاقیو ترغیب او تشویق دی چې دا ښکاره خبره ده چې د انارواه کلتور او عنعنه د اسلام د مزاج او مذاق څخه بالکل مغایر دی بلکې دا خو د انسانیت او د انسان جانب ته چې د الله جل جلاله له طرفه کوم شرم او حیا ورکړل سوې ده د هغه شرم او حیا څخه هم خلاف ده .

وفي فتح الملهم : اما التلفزيون فلا شک في حرمة استعمالها بالنظر الى ما يشتملان عليه من المنكرات الكثيرة من الخلاعة والمجون ، والكشف عن النساء المتبرجات او العاريات ، ومماالى ذلک من اسباب الفسوق .

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : قوله (وكره كل لهو) أي كل لعب وعبث فالثلاث بمعنى واحد كما في شرح التأويلات والإطلاق شامل لنفس الفعل واستماعه كالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الأوتار من الطنبور والبربط والرباب والقانون والمزمار والصنج والبوق فإنها كلها مكروهة لأنها زي الكفار واستماع ضرب الدف والمزمار وغير ذلك حرام

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج۵ ص ۲۷۹ مکتبه رشيديه / بخاري شريف ج ۲ ص ۸۰۸ باب عذاب المصورين يوم القيمة / البحر الرائق ج۵ ص ۳۷۹ کتاب الكراهية فصل في البيع مکتبه رشيديه / فتح الملهم ج ۱۰ ص ۱۴۲ دار احياء التراث العربي کتاب اللباس والزينة باب تحريم تصوير صورة الحيوان / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۲۲۲ باب التصاوير / ستاسي مسائل ج۸ ص ۴۴۰ باب التصاوير / کتاب الفتاوی ج ۶ ص ۱۷۳ الحلال والحرام فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۵۲۳ باب التصاوير / جامع الفتاوى ج ۴ ص ۲۲ اردو)

دقصص القرآن په نامه فلم جوړول او کتل جائز دي که يا؟

سوال ۲ : څه فرمايي علماء کرام دلاندينۍ مسئلې په باره کي چي يو فلم دقصص القرآن په نامه باندي جاري سويدی چي په هغه کي مختلف قرآني واقعات دفلم په طور باندي پېش سويدي مثلاً دبني اسرائلو دذبح واقعه دفرعون دغرقېدو واقعه او دبني اسرائلو دوتلو واقعه او په فلم کي يې حضرت موسی عليه السلام نه دی ښوولی خو دحضرت موسی عليه السلام په شکل يې بل کس ښوولی دی چي احکام وبني اسرائلوته رسوي او س پوښتنه داده چي دداسي فلم کتل شرعاً جواز لري که يا ؟

جواب: دقرآن کريم دواقعاتو مصور فلم جوړول او کتل او ښوول هيڅکله جائز نه دی بلکي دقرآن کريم دبې حرمتۍ په وجه په دې عمل کي دسختي سزا خطره ده او ددې فلم دخطرې ډېر وجوهات دي چي په هغو کي يو څو په لاندي ډول دي (۱) قرآن کريم

چي د کوم عظمت او جلال او بزرګۍ لایق او حامل دی دهغو غوښتنه داده چي هغه مضامین د قرآن کریم په الفاظو کښي په پوره ادب او احترام سره ولوستل سي یا واورېدل سي نه د تلوېزون پر مخ د دې برعکس کسب کاره اداکاران او فلم جوړونکي لره دا هیڅکله روا نه ده چي د مقدس قرآن شخصیات چي اکثره دهغو انبیاء کرام صلوات الله علیهم اجمعین دي په مصنوعي شکل کښي پېش کړي د قرآن کریم دبیان سوو واقعاتو مصنوعي او پر تکلفه نقل کول داد قرآني ایاتونو دلوبي اوتماشې جوړولو سره برابر او مترادف دی او د قرآن کریم دلوبي اوتماشې جوړول په قطعي ایات سره حرام دي الله جل جلاله فرمایي

(وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا)الانعام (۷۰)

ژباړه (او پرېږده هغه کسان چي جوړ کړی یې دی دین خپل لوبه او تماشه.)

(۲) هیڅ یو فلم د روح لرونکو او جانداره تصویرونو څخه نه دی خالي او د روح لرونکو شیانو تصویرونه او عکسونه جوړول؛ کتل؛ او ښوول شرعاً حرام دي لهذا قراني مضامین په داسي ذرائعو سره پېش کول ډېرو احادیثو په رڼا کښي ناجائز دی صرف حرام نه بلکي د قران کریم د توهین او بې عزتۍ مترادف دي (۳) د واقعاتو فلم تر هغه وخته نه مکمل کېږي تر څو چي د ښځو کردار نه وي او په دغه فلم کي هم د ښځو کردار موجود دی او د ښځو بې حجابه د نارینه مخ ته راتلل یا د هغو تصویرونه بلاضرورته و نامحرمو خلکو ته ښوول د قرآن او احادیثو په رڼا کښي بالکل حرام او ناروا عمل دی او ناروا کار د قرآن کریم د مضامینو دبیانولو لپاره ذریعه جوړول نه صرف حرام بلکه د قرآن کریم د بې عزتۍ سره برابر عمل دی العیاذ با الله.

(۴) کله چي یوې رشتیا واقعې او قصې ته د فلم شکل ورکړه سي نو په هغه قصې کښي بیا د فلم جوړونکي د فرضي تخیلاتو ګډون د امکانه څخه خالي نه دی ځکه چي دا رشتیا قصه ده او د دې ګډون څخه بغیر هیڅ یو فلم نه سي جوړېدای دغه فلم جوړونکی به د فلم جوړولو لپاره د واقعاتو خلاء او خالیګاه په خپل فرضي خیالاتو سره ډکوي که نور هیڅ نه وي د دغه اشخاصو شکل؛ صورت؛ شباهت؛ دهغوی تعداد؛ دهغوی د ناستي ولاړي انداز؛ دهغوی د شا

او خوا دماحول پس منظر؛عبادات؛او فضائل لازماً دخپل قیاسي او جوړ سوو مفروضاتو پر بنیاد پیش کوي او په فلم کښي داټولي خبري دقرآن کریم څخه نسي جلا کېدلای نو لهذا دی به هم دغه خپل قیاسات دقرآن کریم طرفته منسوبه کوي او دا یو قسم دمعنوي تحریف سره مشابه دی او دوی کله کله ډېر شیان داسرائلي ي او ضعیفه روایاتو څخه را اخلي سره دخپل فرضي تخیلاتو چي دقرآن کریم دواقعاتو سره یې شامل کړیدي او ناخبره خلګوته بیا دقرآن کریم دقصو په نامه ددوی دخبرتیا لپاره دغه څه په فلم کي ښوول کیږي دغه ناخبره خلګ بیا په دغه فلم کښي دقرآن او غیر قرآن تمیز او جلا والی نه سي کولای او هغوی بیا دغه ټوله مجموعې ته قرآن وایي او دا یوه درنه او سنګینه غلطي ده چي غیر قرآن ته انسان قرآن وایي او ددې ذمه داري او دګناه بوج پر هغه کسانو دی چي یادا فلمونه جوړه وي او یا یې خلګوته دخپل تلوېزوني خپرونو دلاري ښکاره کوي (۵) دفلم اصلي منشاء تعلیم او تبلیغ نه وي بلکي دطبیعت دتفریح ؛لوبي؛او تماشې څخه لذت او خوند حاصلول وي لهذا دغه فلم لره کتونکي په اصل کي دطبیعت دتفریح په غرض دغه فلم ته ګوري نه دعلم عبرت یا دنصیحت حاصلولو لپاره ددې خبري واضح او ښکاره دلیل دا دی که دغه مضامین او قصې یو عالم په خپل اصلي صورت کښي دوعظ او پند لپاره بیانوي نو ډېر کم خلګ به په هغه کښي شریک سي او وابه یې وري دابه ډېر لږوي او دقرآني مضامینو او قصو او رېدل یا اورول چي دهغه مقصد لوبي او تفریح جوړول وي ناروا عمل دی بلکي دقرآن کریم دواقعاتو اصل مقصد عبرت اخیستل دي البته که ددې په ضمن کښي څه تنشیط او تفریح حاصله سي نو دا بېله خبره ده خو لوبه او تفریح اصل ګرځول او همدا اصلي مقصد جوړول هیڅ کله جائز نه دی خلاصه دا چي دپورتنیو ذکر سوو وجوهاتو او ورسره نورو مفاسدو پیش نظر داسي فلم جوړول ؛کتل ؛او ښوول ټوله ناروا اعمال دي مسلمانانو ته پکار ده چي ددغه ناروا عمل څخه په کلکه پرهېز وکړي او دحکومت دا ذمه داري ده چي دداسي فلم دښودلو څخه هغه ښوونکي شبکې په کلکه منع کړي او دتل لپاره پر داسي ناروا او توهین آمیزو اُمورو باندي سخته پابندي ولګوي والله سبحانه اعلم

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الإثْمِ وَالْعُدْوَانِ

(قال العلامة ابن كثير رحمه الله) يَأْمُرُ تَعَالَى عِبَادَهُ الْمُؤْمِنِينَ بِالْمُعَاوَنَةِ عَلَى فِعْلِ الْخَيْرَاتِ، وَهُوَ الْبِرُّ، وَتَرْكِ الْمُنْكِرَاتِ وَهُوَ التَّقْوَى، وَيَنْهَاهُمْ عَنِ التناصر على الباطل. (ابن كثير)

عَنْ مُسْلِمٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ مَسْرُوقٍ، فِي دَارِ يَسَارِ بْنِ نُمَيْرٍ، فَرَأَى فِي صُفَّتِهِ تَمَاثِيلَ، فَقَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ القِيَامَةِ المُصَوِّرُونَ» متفق عليه

(قال العلامة النووي رحمه الله) قَالَ أَصْحَابُنَا وَغَيْرُهُمْ مِنَ الْعُلَمَاءِ تَصْوِيرُ صُورَةِ الْحَيَوَانِ حَرَامٌ شَدِيدُ التَّحْرِيمِ وَهُوَ مِنَ الْكَبَائِرِ لِأَنَّهُ مُتَوَعَّدٌ عَلَيْهِ بِهَذَا الْوَعِيدِ الشَّدِيدِ الْمَذْكُورِ فِي الْأَحَادِيثِ وَسَوَاءٌ صَنَعَهُ بِمَا يُمْتَهَنُ أَوْ بِغَيْرِهِ فَصَنْعَتُهُ حَرَامٌ بِكُلِّ حَالٍ لِأَنَّ فِيهِ مُضَاهَاةً لِخَلْقِ اللَّهِ تَعَالَى وَسَوَاءٌ مَا كَانَ فى ثوب أو بساط أودرهم أَوْ دِينَارٍ أَوْ فَلْسٍ أَوْ إِنَاءٍ أَوْ حَائِطٍ أَوْ غَيْرِهَا..... ولافرق فى هذا كله بين ماله ظل ومالاظل لَهُ هَذَا تَلْخِيصُ مَذْهَبِنَا فِي الْمَسْأَلَةِ وَبِمَعْنَاهُ قَالَ جَمَاهِيرِ الْعُلَمَاءِ مِنَ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ وَهُوَ مَذْهَبُ الثَّوْرِيِّ وَمَالِكٍ وَأَبِي حَنِيفَةَ وَغَيْرِهِمْ

(وَفِي التَّوْضِيح قَالَ أَصْحَابنَا وَغَيرهم تَصْوِير صُورَة الْحَيَوَان حرَام أَشد التَّحْرِيم وَهُوَ من الْكَبَائِر وَسَوَاء صنعه لما يمتهن أَو لغيره فَحَرَام بِكُل حَال لِأَن فِيهِ مضاهاة لخلق الله.... وَبِمَعْنَاهُ قَالَ جمَاعَة الْعلمَاء مَالك وَالثَّوْري وَأَبُو حنيفَة وَغَيرهم

(تفسير ابن كثير ج ٢ ص ١٠ سورة المائدة مكتبه رياض/صحيح البخاري ج ٧ ص ١٦٧ باب عذاب المصورين يوم القيمة بيروت/صحيح مسلم ج ٣ ص ١٦٧٠ باب لاتدخل الملئكة فيه كلب بيروت/سنن النسائي ج ٨ ص ٢١٦ باب ذكر اشدالناس عذابا بيروت/ المعجم الاوسط ج ٦ ص ١٣٧ بيروت /المعجم الصغير للطبراني ج ٢ ص ٢٠٧ بيروت /شرح النووي علي صحيح مسلم ج ٢ ص ١٩٩ باب تحريم تصوير قديمي چاپ/عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج ٢٢ ص ١١٠ باب عذاب المصورين يوم القيمة مكتبه دارالكتب العلمية بيروت/ردالمحتار ج ٦ ص ٣٦٠ فصل في اللبس سعيد چاپ/فتاوى قاضي خان علي هامش الهندية ج ٢ ص ٣٣٧ كتاب السير رشيديه/فتاوى عالمگيريه ج ٢ ص ٢٧٠ كتاب السير الباب التاسع في احكام المرتدين رشيديه/مشكوة المصابيح ج ٢ ص ٣٨٥ باب التصاوير قديمي چاپ/احسن الفتاوى ج ٨ ص ١٧٣

كتاب الحظروالاباحة/فتاوى محموديه ج ١٩ ص ٥٢١ باب الصور والملاهي/كفايت المفتي ج ١٣ ص ٨٣ باب الغناء والملاهي والات الموسقي/ستاسو مسائل اودهغوى- حل ج ٨ ص ٤٣٢ /فتاوى بينات ج ٤ ص ٤٣٦ / فتاوى عثماني ج ١ ص ١٨٤)

دمرغانو رسمونه او تصويرونه جوړول .

سوال ٣ : دمرغانو يا ژوندي شيانو تصويرونه جوړول په شريعت كښې څه حكم لري ؟

جواب : دروح او سا لرونكو دتصويرونو اخيستل او جوړول دخداوندي تخليق دشبيه دجوړولو سره برابر دي كوم چي ګناه كبيره ده په شريعت مقدسه كښې دژوندي شيانوتصويرونه جوړول او خرڅول او اخيستل دا ټوله حرام او نا جائز دي او ددې كسب او آمدني يعني هغه حاصله سوې ګټه هم حرامه ده .

عَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قالت إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَيُقَالُ لَهُمْ: أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ " وَقَالَ: «إِنَّ البَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لاَ تَدْخُلُهُ المَلاَئِكَةُ .

عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ، قَالَ: رَأَيْتُ أَبِي اشْتَرَى عَبْدًا حَجَّامًا، فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ وَثَمَنِ الدَّمِ، وَنَهَى عَنِ الوَاشِمَةِ وَالمَوْشُومَةِ، وَآكِلِ الرِّبَا وَمُوكِلِهِ، وَلَعَنَ المُصَوِّرَ.

(الصحيح البخاري ج ٢ ص ٨٨١ باب من يدخل بيتا فيه صورة / الصحيح المسلم ج ٢ ص ٢٠١ باب تحريم تصوير صورة الحيوان / مشكوة المصابيح ج ٢ ص ٣٨٥ باب التصاوير الفصل الاول / فتاوى حقانيه ج ٢ ص ٢١٩ باب التصاوير)

تصويرونه اخيستل او فيلمبرداري كول شرعا نارواه دي .

سوال ٤ : مورږ اوريدلي دي چي تصويرونه او عكسونه خو په شريعت كښې نارواه دي ايا فيلمبرداري كول هم په شريعت كښې منع ده كه رواه ده ؟

جواب : دډيجيټل نظام په ذريعه سره چي كوم تصويرونه يا فيلميبرداري دكمپيوټر پر اسكرين يا دټي وي او تلويزون پر اسكرين باندي رابښكاره او ښكاره او ښكاره او څرګنديږي يا په ډسک او سي ډي كښې محفوظه كيږي دا د حرام او نارواه تصاويرو په حكم كښې شامل او داخل دي داځكه چي دتصاويرو دحرمت چي كومي څلور وجوهاتي دي يوه

نه یوه وجه په دوی کښې ضرور بضرور موجود وي . هغه څلور وجوهاتي د تصویر او فیلمبرداری د حرمت په لاندي ډول دي . **اول** :یوه وجه یې داده چي دا ذریعه او وسیله د بت پرستی ده ځکه چي بنیاد او اساس د بت پرستی د هم دغه تصاویرو څخه شروع سوی دی که چیري یو څوک دیني معلومات ولري .

دوهم : بله وجه یې داده چي په دي کښې د الله جل جلاله د خلقت سره مشابهت راځي او دا کار او تشبیه منع ده . **دریم** : بله وجه یې داده چي فرشتې د داسي تصاویرو سره بغض لري او د اسي کورته فرشتې نه داخلیږي په کوم کي چي تصویرونه وي .

څلورم : او بله وجه یې چي دا د دنیا د هغه زخارفو او زینت څخه دي چي انسان د الله جل جلاله د ذکر او د آخرت دیاد څخه په غفلت کښې اچوي او د مومن شان تر دې اوچت او لوړ دی چي په داسي لایعني شیانو باندي مصروفه او اخته سي .

(**نوټ** : البته د ضرورت مواقع او مواضع د دې حکم څخه مستثنی دي لکه تذکره ، او ویزا ، او پاسپورټ وغیره دې ته علماوو د ضرورت په خاطر جواز ورکړی دی)

حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ، دَارًا بِالْمَدِينَةِ، فَرَأَى أَعْلاَهَا مُصَوِّرًا يُصَوِّرُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِي، فَلْيَخْلُقُوا حَبَّةً، وَلْيَخْلُقُوا ذَرَّةً. عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِي، فَلْيَخْلُقُوا ذَرَّةً أَوْ لِيَخْلُقُوا حَبَّةً أَوْ شَعِيرَةً .

حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ مُسْلِمٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ مَسْرُوقٍ، فِي دَارِ يَسَارِ بْنِ نُمَيْرٍ، فَرَأَى فِي صُفَّتِهِ تَمَاثِيلَ، فَقَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ القِيَامَةِ المُصَوِّرُونَ»

(صحیح البخاری ج ۷ ص ۱۶۷ باب نقض الصور /احکام القرآن ج ۳ ص ۵۱۷ / صحیح مسلم ج ۲ ص ۱۹۹ قدیمي کتب خانه / ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۰ حاشیة الطحطاوي علي الدر المختار ج ۱ ص ۲۷۳ / امدادالمفتین ج ۲ ص ۹۹۶ مکتبه دارالاشاعت / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۸ مکتبه رشیدیه/ ډیجیټل کیمره او دهغې تصویر : رساله مفتي سید نجم الحسن صاحب دامت برکاتهم العالیة)

تصویرونه او عکسونه جوړول او اخیستل .

سوال۵ : بعضي خلک عکسونه اخلي او يا په قلم باندې د ذی روح شي تصوير جوړه وي ايا شرعا تصوير جوړه ول يا اخيستل روا دي که يا ؟

جواب: د روح او ساه اخیستونکي شي د تصویرونو اخيستل د خداوندي تخلیق (یعني د الله جل جلاله د مخلوق د جوړولو سره مشابهت لري) د شبیه د جوړولو سره برابر دی، کوم چي ګناه کبيره ده د دې لپاره د روح لرونکو شیانو د تصویر جوړول او اخيستل شرعا حرام او ناجائز عمل دی .

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَيُقَالُ لَهُمْ: أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ " وَقَالَ: «إِنَّ البَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لاَ تَدْخُلُهُ المَلاَئِكَةُ»

(فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۱۹/ صحیح البخاري ج ۷ ص ۱۶۹ بیروت / صحیح مسلم ج ۲ ص ۲۰۱/ مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۳۸۵)

په تصوير داره لوښي کي خوراک کول

سوال۶: نن سبا بازارونو ته داسي لوښي او سامان د خوراک او چيښاک لکه ترموز چاينکه او غابونه راغلي دي چي پر هغو باندي دژوندي او ذي روح شيانو لکه يا دانسانانو يا د حيوانانو تصويرونه دي د دغو لوښو استعمال شرعاً روا دی که يا ؟

جواب: علامه دکتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالی په خپله مختصره فتاوی فتاوي عصر کي ليکلي دي چي د داسي لوښو او سامانونو چي د ذی روح شي تصويرونه ورباندي وي د دې شيانو استعمال مکروه دی.

وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللَّهِ المصوِّرون .

ولما فی ردالمحتار للعلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : وَظَاهِرُ كَلَامِ النَّوَوِيِّ فِي شَرْحِ مُسْلِمٍ الْإِجْمَاعُ عَلَى تَحْرِيمِ تَصْوِيرِ الْحَيَوَانِ، وَقَالَ: وَسَوَاءٌ صَنَعَهُ لِمَا يُمْتَهَنُ أَوْ لِغَيْرِهِ، فَصَنْعَتُهُ حَرَامٌ بِكُلِّ حَالٍ لِأَنَّ فِيهِ مُضَاهَاةً لِخَلْقِ اللَّهِ تَعَالَى، وَسَوَاءٌ كَانَ فِي ثَوْبٍ أَوْ بِسَاطٍ أَوْ دِرْهَمٍ وَإِنَاءٍ وَحَائِطٍ وَغَيْرِهَا اهـ فَيَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ حَرَامًا لَا مَكْرُوهًا إنْ ثَبَتَ الْإِجْمَاعُ أَوْ قَطْعِيَّةُ الدَّلِيلِ بِتَوَاتُرِهِ اهـ كَلَامُ الْبَحْرِ مُلَخَّصًا.

(فتاوی عصر ۱۸۹ /ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۷ باب مکروهات الصلوة / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷ باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها طبعع سعید / مشکاة المصابیح ج ۲ ص ۱۲۷۴ باب التصاویر بیروت چاپ / صحیح البخاري ج ۲ ص ۴۰۴ / ۴۰۵ باب عذاب المصورین یوم القیمة طبع رحمانیه / فتاوی عبادالرحمن ج۵ ص ۲۲۱ کتاب الحظر والاباحة)

داهموشخصیتونوعکسونه ځړول په دفاترو او شرکتونوکي

سوال ۷ : په ډیرو ممالکو کي ترتیب داسي راروان دی چي په حکومتي ادارو کي په مکتبو کي په شفاخانو کي په محکمو کي داهمو شخصیاتو تصویرونه او عکسونه یې ځړولي وي او مستقل هلته موجود دي دغه عکسونه زړول د اسلامي نقطې له نظره څخه روا ښښت لري که یا ؟

جواب: د محترمو او نامتو اشخاصو عکسونه زړول په کورو او ادارو کي دا یو قسم مغربي تهذیب دي اسلام د داسي عمل نفي کوي او په کلکه یې غندي تصویر سازي او تصویرپرستي دواړه په اسلام کي ناروا او ممنوع کڼل سوي ډي .

وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللَّهِ المصوِّرون .

ولما فی ردالمحتار للعلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : وَظَاهِرُ كَلَامِ النَّوَوِيِّ فِي شَرْحِ مُسْلِمٍ الْإِجْمَاعُ عَلَى تَحْرِيمِ تَصْوِيرِ الْحَيَوَانِ، وَقَالَ: وَسَوَاءٌ صَنَعَهُ لِمَا يُمْتَهَنُ أَوْ لِغَيْرِهِ، فَصَنْعَتُهُ حَرَامٌ بِكُلِّ حَالٍ لِأَنَّ فِيهِ مُضَاهَاةً لِخَلْقِ اللَّهِ تَعَالَى، وَسَوَاءٌ كَانَ فِي ثَوْبٍ أَوْ بِسَاطٍ أَوْ دِرْهَمٍ وَإِنَاءٍ وَحَائِطٍ وَغَيْرِهَا اهـ فَيَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ حَرَامًا لَا مَكْرُوهًا إنْ ثَبَتَ الْإِجْمَاعُ أَوْ قَطْعِيَّةُ الدَّلِيلِ بِتَوَاتُرِهِ اهـ كَلَامُ الْبَحْرِ مُلَخَّصًا.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۷ باب مکروهات الصلوة / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷ باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها طبعع سعید / مشکاة المصابیح ج ۲ ص ۱۲۷۴ باب التصاویر بیروت چاپ / صحیح البخاري ج ۲ ص ۴۰۴ / ۴۰۵ باب عذاب المصورین یوم القیمة طبع رحمانیه / فتاوی عبادالرحمن ج۵ ص ۲۲۱ کتاب الحظر والاباحة)

دشهید انو دعکسونو څخه فیلم جوړول رواه دی که یا ؟

سوال ۸ : د شهید دعکسونو څخه فیلم جوړول شرعا رواه دی که یا ؟ نن سبا ځیني کسان د شهیدانو عکسونه واخلي او بیا نو رشیان لکه نعت ، یا شعر ،یاغزل ورسره

یو ځای کړي او بیا یې خلک ګوري پوښتنه داده چې داسې تصویرونه او عکسونه اخیستل او بیا فیلم ځیني جوړول شرعا رواه دي که یا ؟

جواب : په شریعت مطهره کښې د ذي روح شي تصویر او عکس جوړول مطلقا حرام دی هغه که د شهید وي او که د غیر شهید وي . لهذا د داسې عکسونو او تصویرونو اخیستونکي او فیلم جوړوونکي او وروسته بیا د غه عکسونو او فیلمونو لره کتونکي دواړه سخت ګناهګاره دي . دواړو ته به د عذاب او د لعنت پوره پوره حصه د قیامت په ورځ ورکول کیږي . او لیري نه ده چې د الله پاک جل جلاله عذاب د ګناهونو په ارتکاب سره په دنیا کښې هم انسان ووینې .

وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللَّهِ المصوِّرون .

ولما فی ردالمحتار للعلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : وَظَاهِرُ كَلَامِ النَّوَوِيِّ فِي شَرْحِ مُسْلِمٍ الْإِجْمَاعُ عَلَى تَحْرِيمِ تَصْوِيرِ الْحَيَوَانِ، وَقَالَ: وَسَوَاءٌ صَنَعَهُ لِمَا يُمْتَهَنُ أَوْ لِغَيْرِهِ، فَصَنْعَتُهُ حَرَامٌ بِكُلِّ حَالٍ لِأَنَّ فِيهِ مُضَاهَاةً لِخَلْقِ اللَّهِ تَعَالَى، وَسَوَاءٌ كَانَ فِي ثَوْبٍ أَوْ بِسَاطٍ أَوْ دِرْهَمٍ وَإِنَاءٍ وَحَائِطٍ وَغَيْرِهَا اهـ فَيَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ حَرَامًا لَا مَكْرُوهًا إنْ ثَبَتَ الْإِجْمَاعُ أَوْ قَطْعِيَّةُ الدَّلِيلِ بِتَوَاتُرِهِ اهـ كَلَامُ الْبَحْرِ مُلَخَّصًا.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۷ باب مکروهات الصلوة / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷ باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها طبع سعید / مشکاة المصابیح ج ۲ ص ۱۲۷۴ باب التصاویر بیروت چاپ / صحیح البخاري ج ۲ ص ۴۰۴ / ۴۰۵ باب عذاب المصورین یوم القیمة طبع رحمانیه / فتاوی عبادالرحمن ج۵ ص ۲۲۱ کتاب الحظر والاباحة)

ایا د ټیلیفون یا ډیجیټل کیمرې په ذریعه اخیستل سوي عکسونه هم حرام دي؟

سوال ۱۰ : په اوسني نوي دور کښې نوي الات ایجاد سول چې یو د هغوی څخه ټیلیفون دي یا ډیجیټل کیمرې دي ایا د ټیلیفون په ذریعه عکسونه اخیستل یا د کیمرې په ذریعه تصویرونه اخیستل شرعًا رواه دي که یا؟

جواب: د ټیلیفون په ذریعه یا د ډیجیټل کیمرې په ذریعه یا د فوټوګراف په ذریعه سره چې کوم تصویرونه د ذي روح شیانو اخیستل کیږي دا شرعًا حرام او ناجایز او نارواه دي

او فقهاء کرامو دا تصویر او عکسونه بللي دي بلکه د اعلی درجې کامل تصویرونه دي او پر دغه تصویر باندې د تصویر د حرمت احکام جاري کیږي.

نوټ: که چاته د دغه مسئلې تفصیلي دلائل پکار وي نو اوس یونوی کتاب په نامه : (د ډیجیټل کېمرې د تصویر حرمت) چاپ سوی دی په کوم کښي چي د مصر هندوستان او پاکستان د محققینو علماؤ او مفتیانو فتاواوې د دغه تصویرونو پر حرمت موجود دي دي هغه دې وګوري اطمینان به یه حاصل سي.

لما قال العلامةالمؤلف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: ٨٥٥هـ) فى عمدة القاري شرح صحيح البخاري :

وَفِي التَّوْضِيح قَالَ أَصْحَابنَا وَغيرهم تَصْوِير صُورَة الْحَيَوَان حرَام أَشد التَّحْرِيم وَهُوَ من الْكَبَائِر وَسَوَاء صنعه لما يمتهن أَو لغيره فَحَرَام بِكُل حَال لِأَن فِيهِ مضاهاة لخلق الله وَسَوَاء كَانَ فِي ثوب أَو بِسَاط أَو دِينَار أَو دِرْهَم أَو فلس أَو إِنَاء أَو حَائِط وَأما مَا لَيْسَ فِيهِ صُورَة حَيَوَان كالشجر وَنَحْوه فَلَيْسَ بِحرَام وَسَوَاء كَانَ فِي هَذَا كُله مَا لَهُ ظلّ وَمَا لَا ظلّ لَهُ وَبِمَعْنَاهُ قَالَ جمَاعَة الْعلمَاء مَالك وَالثَّوْري وَأَبُو حنيفَة وَغَيرهم .

(عمدة القاري شرح صحيح البخاري كتاب اللباس ، باب عذاب المصورين يوم القيامة ج ٢٢ ص ١١٠ بيروت چاپ / كفايت المفتي جلد ١٣ ص ٣٢ باب التصاوير / ردالمحتار كتاب الصلاة ، باب ما يفسد الصلاة ومايكره فيها ج ١ ص ٦٤٧ مكتبه شامله / شرح النووي علي صحيح مسلم ، كتاب اللباس والزينة ، باب تحريم صورة الحيوان ج ٢ ص ١٩٩ قديمي چاپ / مفصل او مدلل فتوي دډيجيټل كيمري د تصويرو پر حرمت ص ٢٠)

په اخباراتو او مجلو کښي موجود تصویرونه څنګه دي؟

سوال ١٠: د نن سبا په اخباراتو کښې او په مختلفو مجلو کښې تصویرونه عکسونه او فوټوګان وي د انسانانو او حیوانانو او بیا هغه اخبارونه او مجلې په کور یا کوټه کښې پرتې وي د دغه اخبارو ساتل په کور کښي شرعًا څنګه دي؟

جواب: د مسلمان لپاره تصویرونه او عکسونه په کور کښي ایښوول او ګلان او ګروپان پرزړول جایز او رواه نه دي پاته سوه د اخبار او مجلې حکم خبره داده چي فوټو او تصویرونه قصدا په مکان ، کور او کوټه کښي ایښوول حرام دي او بیله

قصده که په يوه اخبار يا کتاب کښي پاته سي نو د احرام نه دي مګر مکروه بيا هم دي.

لما قال العلامةالمؤلف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: ٨٥٥هـ) فى عمدة القاري شرح صحيح البخاري :

وَفِي التَّوْضِيح قَالَ أَصْحَابنَا وَغَيرهم تَصْوِير صُورَة الْحَيَوَان حرَام أَشد التَّحْرِيم وَهُوَ من الْكَبَائِر وَسَوَاء صنعه لما يمتهن أَو لغيره فَحَرَام بِكُل حَال لِأَن فِيهِ مضاهاة لخلق الله وَسَوَاء كَانَ فِي ثوب أَو بِسَاط أَو دِينَار أَو دِرْهَم أَو فلس أَو إِنَاء أَو حَائِط وَأما مَا لَيْسَ فِيهِ صُورَة حَيَوَان كالشجر وَنَحْوه فَلَيْسَ بِحرَام وَسَوَاء كَانَ فِي هَذَا كُله مَا لَهُ ظلّ وَمَا لَا ظلّ لَهُ وَبِمَعْنَاهُ قَالَ جمَاعَة الْعلمَاء مَالك وَالثَّوْرِي وَأَبُو حنيفَة وَغَيرهم .

(عمدة القاري شرح صحيح البخاري كتاب اللباس ، باب عذاب المصورين يوم القيامة ج ٢٢ ص ١١٠ بيروت چاپ كفايت المفتي جلد ١٣ ص ٤٠ باب التصاوير / ردالمحتار كتاب الصلاة ، باب ما يفسد الصلاة ومايكره فيهاج ١ ص ٦٤٧ مكتبه شامله / شرح النووي علي صحيح مسلم ، كتا ب اللباس والزينة ، باب تحريم صورة الحيوان ج ٢ ص ١٩٩ قديمي چاپ / كفايت المفتي جلد ٩ ص ٢٣٨)

باب الموسيقي

شعر او شاعري داسلام دنظره څخه څنګه ده ؟

سوال ١ : شعر او شاعري د اسلام د نظره کوم مقام لري . يعني شعر ويل ښه کار دی که بد کار دی .

جواب : حافظ ابن حجر رحمة الله عليه په فتح الباري شرح بخاري کښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه مرفوع روايت نقل کړی دی : چي شعر يو داسي کلام دی که يې مضمون ښه او مفيد وي نو ښه شعر دی ، او که يې مضمون بد يا د ګناه وي نو بد شعر دی . په تفسير قرطبي کښې علامه قرطبي رحمه الله نقل کړي دي چي د مدينې منورې لس فقهاو و کم چي په خپل علم او فضل کښې معروف او مشهور دي . په دوی کښې عبيد الله ابن عتبه بن مسعود رضي الله عنه مشهور او قادر الکلام شاعر وو . او بيا علامه قرطبي رحمه الله ليکلي دي چي ابو عمر رحمة الله عليه

فرمايلي دي چي پرښو مضامينو باندي مشتملو اشعاروته په عالمانو او فاضلانو کي ځوک بد نه سي ويلای ، ځکه چي په مشرانو صحابه کرامو کښې کم چي د دين پيشوايان وه په دوی کښې يو هم داسي نه وو چي يا يې خپله اشعار نه وي ويلي يا يې د نورو اشعار ويلي يا اورېدلي نه وي او يا يې خوښ کړي نه وي .

خلاصه دا چي د الله جل جلاله حمد او ثنا ، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پر نعت او اوصاف جميله وو اخلاق عاليه باندي مشتمل شعرونه ويل ښه کار دی . همدا شان د عقل او دانش او علم و حکمت د اشعارو ويلو اجازه شرعا سته . د دې څخه علاوه د فسق او فجور او د ادنن سبا په نامه د ميني او عشق مجازي شعر او شاعري کول فضول او لايعني کار دی ناروا عمل دی . د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی که ديو چا نس او خېټه د نوونو او زووبونو څخه ډکه سي دا ښه دی تر دې چي د ده سينه د شعرونو څخه ډکه وي .

وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ(سورة الشعرآء) ايت (۲۲۴) وفی التفسير المظهر ي : وروی عن ابی سعيد الخدري قال بينا نحن نسير مع رسول الله صلی الله عليه وسلم بالعرج إذ عرض شاعر ينشد فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم خذوا الشيطان او أمسكوا الشيطان لان يمتلی جوف رجل قيحا خير له من ان يمتلی شعرا عن ابن مسعود قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم هلك المتنطعون قالها ثلاثا. رواه مسلم

روی البغوي فی شرح السنة والمعالم عن كعب بن مالك انه قال للنبی صلی الله عليه وسلم ان الله تعالی قد انزل فی الشعر ما انزل قال النبي صلی الله عليه وسلم ان المؤمن يجاهد بسيفه ولسانه والّذی نفسی بيده لكانّما ترمونهم به نضح النبل. وفی الاستيعاب لابن عبد البر انه قال يا رسول الله ماذا تری فی الشعر قال ان المؤمن يجاهد بسيفه ولسانه وروی البغوي عن انس ان النبي صلی الله عليه وسلم دخل مكة فی عمرة القضاء وابن رواحة يمشی بين يدی رسول الله صلی الله تعالی عليه وسلم وفی حرم الله يقول الشعر فقال النبي صلی الله عليه وسلم خل عنه يا عمر فلمی اسرع فيهم من نضح النبل وفی الصحيحين عن البراء بن عازب قال قال النبي صلی الله عليه وسلم يوم قريظة لحسان بن ثابت اهج

المشركين فان جبرئيل معك- وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول لحسان أجب عنى اللهم أيده بروح القدس- وروى مسلم عن عائشة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اهجوا قريشا فانه أشد عليهم من رشق النبل. وروى عنها ايضا قالت سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول لحسان ان روح القدس لا يزال يؤيدك ما نافحت عن الله ورسوله وقالت سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول هجاهم حسان فشفا وأشفي.

(الفسير المظهر ي ج ۷ ص ۹۲ سورة الشعراء بيروت چاپ / تفسير ابن كثير ج ۶ ص ۱۷۱ سورة الشعراء بيروت چاپ / تفسير القرطبي ج ۱۳ ص ۱۴۵ سورة الشعراء بيروت چاپ/ تفسير معارف القرآن ج ۷ پاره ۱۹ ص ۹۹ مكتبه حبيبيه / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۴۸۹ باب الحلال والحرام)

نعتونه او درود شریف د دریې او ډولک سره وهل رواه دي که یا ؟

سوال ۲ : نن سبا ځیني داسي نعتونه او اوازونه تر غوږو کیږي چي ځیني نعت خوانانو درود شریف او نعتونه د دریو او ډولک سره ویلي دي لکه د طالب جان په نامه یو نعت خوان دی هغه نعتونه د دریې او ډولک سره وایي . پوښتنه داده چي درود شریف یا نعت د دریې سره ول رواه دي که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو داشی په سختۍ سره منع کړی دی، یعني درود شریف یا نعتونه د دریې او ډول وډولک سره ویل دد ې ویل هم منع دي او اوریدل یې هم منع دي هر څوک چي وي .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : وَفِي الْمُلْتَقَى وَعَنْ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ كَرِهَ رَفْعَ الصَّوْتِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَالْجِنَازَةِ وَالزَّحْفِ وَالتَّذْكِيرِ، فَمَا ظَنُّك بِهِ عِنْدَ الْغِنَاءِ الَّذِي يُسَمُّونَهُ وَجْدًا وَمَحَبَّةً فَإِنَّهُ مَكْرُوهٌ لَا أَصْلَ لَهُ فِي الدِّينِ. قَالَ الشَّارِحُ: زَادَ فِي الْجَوْهَرَةِ: وَمَا يَفْعَلُهُ مُتَصَوِّفَةُ زَمَانِنَا حَرَامٌ لَا يَجُوزُ الْقَصْدُ وَالْجُلُوسُ إلَيْهِ وَمَنْ قَبْلَهُمْ لَمْ يَفْعَلْ كَذَلِكَ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ج ۶ ص ۳۹۸ سعيد چاپ / مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر ،کتاب الکراهية فصل في المتفرقات ج ۴ ص ۲۱۹ مکتبه غفاريه کوټه / الاختيار لتعليل المختار کتاب الکراهية فصل ج ۴ ص ۱۹۱، ۱۹۲ دارالکتب العلمية بيروت چاپ / کفايت المفتي ج ۲ ص ۱۹۶ باب الصلاة والسلام)

دموټريار کښې ترسيټ لاندې په اسپيکر کښي قران کريم چالانه وي پرهغه سيټ باندي کښېناستل جائزدي که يا؟

سوال ۳: بعضي موټروانان و موټرته د قرآن کريم پيټه وروا چوي او اسپيکران يې د موټر ترسيټ لاندي نصب کړي وي او خلک هم پرسيټ باندي ناست وي او س پوښتنه داده چي د قرآن کريم تلاوت د موټر ترسيټ لاندي شروع وي او خلک سربېره ورباندي ناست وي ايا دا جائز دی که يا ؟

جواب: د سوال د جوابېدو څخه مخکي په دې پوهېدل پکار دي چي د ټيپ څخه د قرآن کريم اورېدل جائز دي که يا په دې هکله د علماء کرامو مختلفي نظريې او اقوال دي (مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله تعالی ؛شيخ الاسلام حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب؛مفتي اعظم هندوستان حضرت مولانا مفتي کفايت الله صاحب؛او حضرت مولانا خالد سيف الله رحماني صاحب) دغه مفتيان حضرات فرمايي چي په ټيپ او راډيو کښي د قرآن کريم ويل جائز او اورېدل يې باعث د اجر او ثواب دي د دې علماؤ دليل دا دی چي ديو چا وغوږو ته د الله ﷻ کلام پاک ورسېږي او ده توجه ورته وکړل نو الله پاک ﷻ به ضرور و دغه کس ته ثواب ورکوي او بل طرفته بيا (فقيه الامت حضرت مولانا مفتي محمود حسن ګنګوهي رحمه الله بيا فرمايي چي په ټيپ يا راډيو کښي د قرآن کريم تلاوت کول جائز نه دی ځکه چي په ټيپ او راډيو کښي غزلي او سروزونه ويل کيږي نو د داسي سروزو او غزلو په آله کښي د قرآن کريم تلاوت کول د قراني آدابو څخه خلاف عمل دی نو ځنګه چي يې تلاوت جائز نه سو نو پر اورېدلو يې هم ثواب نسته او حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوي رحمه الله) هم ليکلي دي چي په ټيپ يا راډيو کښي تلاوت کول جائزنه دی ځکه چي راډيو او ټيپ په اکثره وختو کښي د غزلو او سروزو لپاره استعماليږي او سروز شرعاً حرام دی نو د حرامو شيانو په آله

کښې قران کریم ویل بې ادبي ده او ددې ښه واضح او ښکاره مثال دادی، چې په یوه لوښي کښې یو کس خوراک کوي خو بیا په هغه لوښي کښې نجاست او مرداري هم اچوي او که چیري یو څوک په ټیپ کښې اذان ثبت کړي او بیا داذان پروخت دا ټیپ واسپیکر ته کښېږدي نو نه ودې ته اذان ویل کیږي او نه هم په دې سره داذان سنت اداکیږي نو معلومه سوه چې په ټیپ کښې کوم تلاوت کیږي نه هغه صحیح تلاوت دی، او نه هم په هغه سره دقرآن کریم حق اداکیږي نو خلاصه دا سوه که چیري دقرآن کریم تلاوت په ټیپ کښې جائزوي او او رېدل یې ثواب ولري نو بیا پرداسې سیټ یا چوکۍ باندې کښېنستل دقرآني ادابو څخه خلاف دی، چې تر هغه لاندې دقرآن تلاوت کیږي والله اعلم با الصواب

لما قال العلامة علاؤالدين الكاساني رحمه الله تعالى فَيُنْظَرُ إلَى أَهْلِيَّةِ التَّالِي وَأَهْلِيَّتِهِ بِالتَّمْيِيزِ وَقَدْ وُجِدَ فَوُجِدَ سَمَاعُ تِلَاوَةٍ صَحِيحَةٍ فَتَجِبُ السَّجْدَةُ بِخِلَافِ السَّمَاعِ مِنْ الْبَبْغَاءِ وَالصَّدَى فَإِنَّ ذَلِكَ لَيْسَ بِتِلَاوَةٍ وَكَذَا إذَا سَمِعَ مِنْ الْمَجْنُونِ؛ لِأَنَّ ذَلِكَ لَيْسَ بِتِلَاوَةٍ صَحِيحَةٍ لِعَدَمِ أَهْلِيَّتِهِ لِانْعِدَامِ التَّمْيِيزِ.

قراةالقرآن على ضرب الدف والقضيب كفرا لاستخفافه وأدب القرآن ألايقرأ في مثل هذه المجالس والمجلس الذي اجتمعوافيه للغناءوالرقص لايقرأ فيه القرآن كما لايقرأفي البيع والكنائس؛لأنه مجمع الشيطان؛(البزازية)

عن عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ»

(جامع الترمذي ج ۲ ص ۱۱۹ باب ماجاء في من قرأ حرفاً من القرآن ماله من الاجر سعيد چاپ / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۸۶ کتاب الصلوة سعید چاپ/ردالمحتار ج ۶ ص ۵۶ : ۵۷ کتاب الاجارة سعید چاپ/ فتاوی تنقیح الحامدیة ج ۲ ص ۱۳۸ کتاب الاجارة مکتبه امدادیه/البزازیة علي هامش الفتاوی العالمگیریة ج ۶ ص ۳۳۸ رشیدیه/ خلاصةالفتاوی ج ۴ ص ۳۸۸ الجنس الثامن رشیدیه/شرح فقه الاکبر ص ۱۶۷ فصل في القرأة والصلوة قدیمي چاپ/البحر الرائق ج ۵ ص ۲۰۵ باب احکام المرتدین رشیدیه/ فتاوی محمودیه ج ۳ ص ۵۴۸ باب مایتعلق با القرآن/کفایت

المفتي ج ۲ ص ۵۰۱ باب اداب القرآن/فتاوی عثماني ج ۱ ص ۱۹۵ / ستاسو مسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۴۸۰ / جدید فقهي مسائل ص ۷۲ / آلآة جدیدة ص ۱۳۸)

چک چکي وهل رواه عمل دی که یا ؟

سوال ۴ : د چک چکو وهل په شریعت کښي رواه عمل بلل سوی دی او که نارواه ؟

جواب : د چک چکو د وهلو جواز او عدم جواز شرعاً په معتبرو اغراضو پوري اړه لري: هغه داسي که چیري د چک چکو وهل دیوه معتبر حاجت او غرض دپاره وي لکه دیو چا څخه دکور یا د کوټې د ننوتلو اجازه اخیستل ، یا دیو چا دخبرولو دپاره وي ، اویا لکه چي د شعر او شاعری د صنعت د ښایست دپاره وي ، او یا یوه مورو غواړي چي دخپل ماشوم سره لوبي او ساتیری وکړي نو د دغه اغراضو دپاره شریعت د چک چکو د وهلو اجازه ورکړې ده .

او که چیري د غیر حاجت دپاره وي نو بیا ځیني علماء فرمایي چي دا حرام عمل دی او ځیني بیا فرمایي چي مکروه عمل دی او وجه یې دا بیان کړېده : چي دا د لهو او لعب دقبیله څخه دي اوپه دې کښي مشابهت دی د اهل جاهلیت دعبادت سره چي دوی به د کعبې شریفي سره کوی ، اویا مشابهت دی د ښځو سره ځکه چي په لمانځه کښي کله څه مشکل امام ته پیښ سي نو ښځي به خپل لاس نه یو پر بل سره وهي . په **الموسوعة الفقهية** کتاب کښي د دغي مسئلې حکم داسي لیکلې دی چي بیان سو خو بیا هم په دې مسئله کښي که نورو علماوو ته رجوع کول پکار دي .

التَّصْفِيقُ فِي غَيْرِ الصَّلاَةِ وَالْخُطْبَةِ:التَّصْفِيقُ فِي غَيْرِ الصَّلاَةِ وَالْخُطْبَةِ جَائِزٌ إِذَا كَانَ لِحَاجَةٍ مُعْتَبَرَةٍ كَالاِسْتِئْذَانِ وَالتَّنْبِيهِ، أَوْ تَحْسِينِ صِنَاعَةِ الإِْنْشَادِ، أَوْ مُلاَعَبَةِ النِّسَاءِ لأَِطْفَالِهِنَّ. أَمَّا إِذَا كَانَ لِغَيْرِ حَاجَةٍ، فَقَدْ صَرَّحَ بَعْضُ الْفُقَهَاءِ بِحُرْمَتِهِ، وَبَعْضُهُمْ بِكَرَاهَتِهِ. وَقَالُوا: إِنَّهُ مِنَ اللَّهْوِ الْبَاطِلِ، أَوْ مِنَ التَّشَبُّهِ بِعِبَادَةِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ عِنْدَ الْبَيْتِ كَمَا قَال تَعَالَى: {وَمَا كَانَ صَلاَتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلاَّ مُكَاءً وَتَصْدِيَةً} . أَوْ هُوَ مِنَ التَّشَبُّهِ بِالنِّسَاءِ، لِمَا جَاءَ فِي الْحَدِيثِ مِنِ اخْتِصَاصِ النِّسَاءِ بِالتَّصْفِيقِ إِذَا نَابَ الإِْمَامَ شَيْءٌ فِي الصَّلاَةِ، فِي حِينِ أَنَّ التَّسْبِيحَ لِلرِّجَال.

و لا يخفى ما في هذه الاستدلالات من المآخذ، لأن كونه من اللهو الباطل معناه أنه لا ثواب له وليس كل ما خلا من الثواب حراما، ولأن التشبه بعبادة أهل الجاهلية لم يبق له وجود. وذم التصفيق في الآية إنما هو لكونه عند البيت (في المسجد الحرام ولكونهم جعلوه صلاتهم ، ولان التشبه بالنسآء فى التصفيق انما يحصل اذا صفق الرجل فى الصلاة لسهوالامام او نحوه بدلا من التسبيح المشروع فى حقه .(اللجنة)

(تحفة الأحوذي ۵ / ۲۶۶ / ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۵ ص ۲۷۹ مکتبه حبيبيه / الموسوعة الفقهية ج ۱۲ ص ۸۲)

د موبايل ټليفون دزنګ او ګنټي حکم .

سوال۵: زه ديو سائل په حيث درې پوښتني لرم دهري پوښتني جلا جلا جواب غواړم .

اوله پوښتنه داده : پر موبائل ټليفون باندي څه قسم رنګ برابرول پکار دی ؟

دوهمه پوښتنه داده : که چيري دلمانځه په دوران کښې موبائل ټليفون ته رنګ راسي نو په داسي صورت کښې څه کول پکار دي ؟

دريمه پوښتنه داده : چي نن سبا خلګ پر موبائل ټليفون باندي دقرآن کريم يو آيت ، يا دالله اکبر الفاظ يا دعا او اذکاروالفاظ او اواز سبتوي او برابروي ددې شرعا څه حکم دی ؟

جواب : دسروزاو موسيقي جمله او ټوله اقسام دقرآن کريم او احاديثو درويه څخه ناروا او حرام دي . عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي : چي دلهو او لعب يعني موسيقي او سروز اواز په زړه کښې داسي نفاق راپيدا کوي څنګه چي اوبه کښت او وابنه راشنه کوي او لويوي . نو داولي پوښتني جواب دادی چي : ديو مسلمان دپاره په حيث دمسلمان دموبائل ټليفون په استعمال کښې ددغه موبائل ټليفون ساده او سيدا رنګ برابرول او سبتول پکار دي . اودهيڅ قسم سروز موسيقي اوموزيک منحوس او بې برکته اوازلګول او برابرول نه دی پکار او نه هم رواه دی .

ددوهمي پوښتني جواب : دادی چي کله يو څوک مسجدته دلمانځه دپاره رائي نو دي ومسجد ته تر داخليدو مخکي مخکي خپل موبائل ټليفون بند کړي . او يا دي

کم ترکمه دهغه اواز بند کړي او دغه کار دې دخپل روزمره ژوند عادت جوړ کړي .
لیکن که چیري په تقاضایي بشریت سره دده څخه دموبائل ټلیفون بندول هیر سول او دلمانځه په دوران کښې ړنګ ورته راغي نو دې دغه لمونځ کوونکی ددغه ټلیفون یو بټن ووهي او هغه دې بند کړي . که چیري موبائل په راسته جیب کښې وي نو دې په راسته لاس بند کړي ، او که په چپه جیب کښې وي نو دې په چپه لاس سره بند کړي . په دغه شان عمل کولو سره نه عمل کثیر لازمیږي او نه هم لمونځ فاسدیږي .
البته که چا ټلیفون دجیبه څخه راوکښی بیا یې بند کړی یا بار بار ړنګونه ورته راتلله او ده بار بار ټلیفون بندوی نو که چیري په یوه رکن کښې دغه دبندوولو عمل درې واره تکرار سو نو دبعضي فقهاوو په نزد دغه کار عمل کثیر دی لمونځ یې فاسد دی . (مثلا په ولاړه کښې چي یو رکن دی درې واره ټلیفون بند کړي) .
ددریمي پوښتني جواب دادی : څنګه چي دالله جل جلاله پاک ذات بزرګ او عظیم دی همداشان دهغه صفات هم بزرګ اوعظیم دي دالله جل جلاله په عظمت او مدح کښې مشغول اوسیدل هم یو قابل تعریف فعل دی . همداشان دالله جل جلاله ټوله نومونه او اسمونه که ذاتي وي او صفاتي وي ددې ټولو عزت او احترام کول دهر مسلمان پر ذمه باندي واجب دی . په قرآن کریم کښې دالله جل جلاله ارشاد او خطاب دی ونبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چي (ته دوی یعني کفارو ته ووایه تاسي الله جل جلاله راوبولی یا رحمن راوبولی په کوم نامه چي تاسو دی رابولی نو الله جل جلاله لره نیک او ښایسته نومونه دي) (سورة الاسراء ١١١) بل ځای دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی (چي خبردار دالله جل جلاله په یاد سره زړونه سکون او ارام اخلي)(سورة الرعد ٢٨) .
ددې څخه معلومه سوه چي دالله جل جلاله نومونه صرف دهغه دذات دیاد دپاره او دهغه دبزرګی دبیانولو دپاره اخیستل او یادول درست دي نه دبل دنیوي غرض دپاره .
سوال کوونکي چي کومه پوښتنه کړېده : چي عوام یا ځیني کسان نن سبا په دانسته یا نادانسته ډول سره د موبائل ټلیفون پر ړنګ باندي دالله اکبر ، یا دالله جل جلاله

یو نوم مبارک دهغه دنومونو څخه یا دقرآن کریم یوآیت سبتوي او برابروي ، او بیا دړنګ دراتللو په وخت کښې دالله اکبر یا دقرآن کریم دتلاوت غوندي یو قسم آواز راوزي نوجواب دادی چې دشریعت مقدسه درویه څخه داسې استعمال ناروا او حرام دی.

ځکه چې په دې کښې دالله جل جلاله دمبارک نوم په ذریعه سره ویو چاته اطلاع او خبر وورکول لازمیږي کومه چې غټه ګناه ده. دالله جل جلاله د نوم یا کلام مبارک داسې استعمالول دهغه دذات دعظمت سره په ټکر کښې راځي.

فقهاکرامو لیکلي دي که چیري یو کس خلګو ته دخپل راتګ دخبرورکولو دپاره (یا الله) ووایې چې هغه دی فلانی راغی نو داسې کول مکروه دي. یا یو چوکیدار (لااله الا الله) ووایې او دده مقصد ددې څخه داوي چې زه ویښ یم بیداره یم نو داسې کول هم مکروه دي. او که چیري دالله دلفظ څخه ذکر هم مقصود وي او خبرورکول مقصود وي نو هلته بیا دغالب اوډیروالي اعتبار کیږي چې کوم صورت ډیر غالبه دی هم هغه ته به اعتبار ورکول کیږي او حکم به باندې جاري کیږي. والله اعلم بالصواب.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَ) يُفْسِدُهَا (كُلُّ عَمَلٍ كَثِيرٍ) لَيْسَ مِنْ أَعْمَالِهَا وَلَا لِإِصْلَاحِهَا،وَفِيهِ أَقْوَالٌ خَمْسَةٌ أَصَحُّهَا (مَا لَا يَشُكُّ) بِسَبَبِهِ (النَّاظِرُ) مِنْ بَعِيدٍ (فِي فَاعِلِهِ أَنَّهُ لَيْسَ فِيهَا)

الْقَوْلُ الثَّانِي أَنَّ مَا يُعْمَلُ عَادَةً بِالْيَدَيْنِ كَثِيرٌ وَإِنْ عُمِلَ بِوَاحِدَةٍ كَالتَّعْمِيمِ وَشَدِّ السَّرَاوِيلِ وَمَا عُمِلَ بِوَاحِدَةٍ قَلِيلٌ وَإِنْ عُمِلَ بِهِمَا كَحَلِّ السَّرَاوِيلِ وَلُبْسِ الْقَلَنْسُوَةِ وَنَزْعِهَا إلَّا إذَا تَكَرَّرَ ثَلَاثًا مُتَوَالِيَةً ......قال فى شرح المنية ..... وَالظَّاهِرُ أَنَّ ثَانِيَهُمَا لَيْسَ خَارِجًا عَنْ الْأَوَّلِ، لِأَنَّ مَا يُقَامُ بِالْيَدَيْنِ عَادَةً يَغْلِبُ ظَنُّ النَّاظِرِ أَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّلَاةِ،

وايضا قال ....وَقَدْ كَرِهُوا وَاَللَّهُ أَعْلَمُ وَنَحْوَهُ ... وقال ابن عابدين فى ردالمحتارتحت قوله : (قَوْلُهُ لِإِعْلَامِ خَتْمِ الدَّرْسِ)لِإِعْلَامِ خَتْمِ الدَّرْسِ حِينَ يُقَرَّرُ أَمَّا إذَا لَمْ يَكُنْ إعْلَامًا بِانْتِهَائِهِ لَا يُكْرَهُ، لِأَنَّهُ ذِكْرٌ فِيهِ وَتَفْوِيضٌ بِخِلَافِ الْأَوَّلِ، فَإِنَّهُ اسْتَعْمَلَهُ آلَةً

لِلْإِعْلَامِ وَنَحْوِهِ إذَا قَالَ الدَّاخِلُ: يَا اللَّهُ مَثَلًا لِيُعْلِمَ الْجُلَّاسَ بِمَجِيئِهِ لِيُهَيِّئُوا لَهُ مَحَلًّا، وَيُوَقِّرُوهُ وَإِذَا قَالَ الْحَارِسُ: لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ وَنَحْوَهُ لِيُعْلَمَ بِاسْتِيقَاظِهِ، فَلَمْ يَكُنْ الْمَقْصُودُ الذِّكْرَ أَمَّا إذَا اجْتَمَعَ الْقَصْدَانِ يُعْتَبَرُ الْغَالِبُ كَمَا اُعْتُبِرَ فِي نَظَائِرِهِ اهـ ط.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۴۳۱ کتاب الحظر والاباحة قبیل کتاب احیآء الموات / ج ۱ ص ۶۲۴ باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها / مشکوة المصابیح ج ۱ ص ۲ کتاب الایمان الفصل الاول / فتاوی بینات ج ۲ ص ۴۰۴ کتاب الصلوة / فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۵۰۲ مسائل شتي / جواهر الاحکام ۳۲۱ کتاب الحظر والاباحة / فتاوی هادیه ج ۲ ص ۴۳۷ / دموبائل ټلیفون احکام او مسائل رسالة)

بې له سازه او موسیقي څخه اشعار او نظمونه په ترنم کښې اوریدل ؟

سوال ۶ : که چیري یو څوک اشعار او نظمونه بې له سروزه او سازه څخه او بې له موسیقۍ څخه اوري شرعاً يې جواز او روا ایښت سته که یا ؟

جواب : ښه اشعار او نظمونه د ترنم سره اوریدل شرعا جایز دي خو په درو شرطونو سره . **اول شرط** : هغه ویونکی د دغه نظمونو او اشعارو په پېشه ور او کسب کاره ، فاسق او بې ږیري هلک نه وي او ښځه به هم نه وي او په دغه مجلس کښې به یو بې ږیري هلک او یا ښځه هم نه وي . **دوهم شرط** : د دغه اشعارو مضمون به د شریعت سره په ټکر او مخالفت کښې واقع نه وي . **دریم شرط** : د موسیقۍ او ساز آلات به نه وي ورسره .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالدرالمختار :

أَقُولُ: وَفِي شَهَادَاتِ فَتْحِ الْقَدِيرِ بَعْدَ كَلَامٍ عَرَفْنَا مِنْ هَذَا أَنَّ التَّغَنِّيَ الْمُحَرَّمَ مَا كَانَ فِي اللَّفْظِ مَا لَا يَحِلُّ كَصِفَةِ الذُّكُورِ وَالْمَرْأَةِ الْمُعَيَّنَةِ الْحَيَّةِ وَوَصْفِ الْخَمْرِ الْمُهَيِّجِ إلَيْهَا وَالْحَانَاتِ وَالْهِجَاءِ لِمُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ إذَا أَرَادَ الْمُتَكَلِّمُ هِجَاءَهُ لَا إذَا أَرَادَ إنْشَادَهُ لِلِاسْتِشْهَادِ بِهِ أَوْ لِيَعْلَمَ فَصَاحَتَهُ وَبَلَاغَتَهُ، وَكَانَ فِيهِ وَصْفُ امْرَأَةٍ لَيْسَتْ كَذَلِكَ أَوْ الزَّهْرِيَّاتُ الْمُتَضَمِّنَةُ وَصْفَ الرَّيَاحِينِ وَالْأَزْهَارِ وَالْمِيَاهِ فَلَا وَجْهَ لِمَنْعِهِ عَلَى هَذَا، نَعَمْ إذَا قِيلَ ذَلِكَ عَلَى الْمَلَاهِي امْتَنَعَ وَإِنْ كَانَ مَوَاعِظَ وَحِكَمًا لِلْآلَاتِ نَفْسِهَا لَا لِذَلِكَ التَّغَنِّي اهـ مُلَخَّصًا وَتَمَامُهُ فِيهِ فَرَاجِعْهُ،

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۳۴۹ کتاب الحظر والاباحة / الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۳۴۳ / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۸ ص ۴۱۹ موسيقي او ډانس)

موټروانان دسفر په دوران کښې موسيقي ږغوي او موږ نه يو په راضي ګناهکاره ځوک دی ؟

سوال ۷ : ځيني وختونه دسفر په دوران کښې بعضي موټروانان دموسيقۍ فيتې ټيپ ته وراچوي او حال دادی چي زموږ خوښه هم نه وي او زور هم نه سو ورسره کولای ځکه چي زموږ ږغ پر دغه برابر ځوک نه اوري او س پوښتنه داده چي په داسي (مُبتلی بِهِ)صورت کښې ګناه دچا په غاړه ده ؟

جواب : دنن سبا دفتنو ځخه په ډک دور کښې ددينداری دکمۍ او داخلاقو دکمزوری نتيجه دا راووتل چي کوم ناروااه او حرام فعل يا عمل چي په معاشره او ټولنه کښې عام سي هغه ته خلګ دحلال او رواه په نظر ګوري . او تعجب خو دادی چي يوه زمانه هغه وه چي کوم شخص به دموسيقي پيشه او کسب اختياره کړی هغه ته به ډم يا دلاک ويل کيدی او خلګو به هغه ته په ښه نګاه سره نه کتل ليکن نن سبا چي ځوک دغه حرام او نارواه کسباختياره کړي هغه ته هنرمند يا فنکاره ويل کيږي او دغه کسب ته دفن او ثقافت غوندي معزز القاب ورکول کيږي . او ستم ظريفي او کمزري خو لانوره دغه ده چي کوم عالم دين يا ديني او روحاني پيشواه ددغه حرامو او ناروااه افعالو خلاف خپل اواز پورته کوي هغه ته خلګ تنګ نظره او رجعت پسنده وايي او حال دادی چي دسروز او موسيقي متعلق دنبي کريم صلی الله عليه وسلم مبارک ارشادات په لاندي ډول دي : **اول :** دحضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ځخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم دسروز او موسيقۍ دويلو او اوريدلو ځخه منع کړې ده . (**الزواجر عن اقتراف الکبائر ص ۲۷۲**) .

دوهم : دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه ځخه روايت دي چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : چي دسروز او موسيقی محبت په زړه کښې داسي نفاق (

منافقت) راپورته کوي او وده ورکوي څنګه چي په اوبو سره سبزي راپورته کيږي او وده کوي . (**الدرالمنثور ج ۵ ص ۱۵۹ / مشکوة شريف ص ۴۱۱**)

دريم : د حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل : په دغه امت کښې به خلګ په مځکه کښې ننوزي او د خلګو شکلونه به مسخ (خراب) سي او د اسمان څخه به د کاڼو داوريدلو واقعات راسي. پر دغه ارشاد مبارک باندي يو کس پوښتنه وکړه چي يا رسول الله دا واقعاتي به کله راښکاره سي ؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل کله چي د سروزا او موسيقي ويونکو ښځو او دباجو او طبلو رواج عام سي (خلګ به يې هيڅ عار او عيب نه بولي او ګناه نه بولي) او شراب په کثرت سره وچيښل سي . **ترمذی شريف ج ۲ ص ۴۴**

د دغه ذکر سوو احاديثو څخه د سروزا او موسيقي حراموالی صفا او ښکاره ثابت دی او بل طرف ته دامت څلور سره حق مذاهب پر دې متفق دي چي سروزا او موسيقي ويل او اوريدل يو ناروا عمل دی او د انساني فطرت د صحيح تقاضاوو د فهرست څخه وتلی دی . الله جل جلاله دي موږ او تاسو ټولو ته خصوصا د نن سبا د خبري رسنيو کارکوونکو ته د کومو چي اکثره يا ځيني پروګرامونه د دغه ناسور او ضد شريعت او فطرت و انسانيت ويروس څخه ډک دي د کامل او مکمل اجتناب او توبې کولو توفيق رانصيب کړي .

رابه سو د سوال جواب ته کوم موټروانان چي دغه سروزا اوري او تاسي يې منع هم وکړه او دوی خبره ونه منل نو ګناه د دغه سروزا او موسيقی د چلولو پر هغوی باندي ده الله جل جلاله د نيتونو مالک دی تاسي خپل غاړي خلاصي کړې اميد الله جل جلاله ته سته چي ستاسي مواخذه به ونه کړي . او که غواړې چي تر دغه لا هم يو ګام بل مخ ته واخلې نو دا يوه قرباني ورکړه د هغه موټره څخه کښته سه په بل موټر کښې خپل سفر وکړه بيا به په آينده کښې هغه موټروان ته هم د خپل د غه بداخلاقی يو څه درک ورمعلوم سي .

وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ: أُنْزِلَتْ هذه الآية: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ} فِي الْغِنَاءِ وَالْمَزَامِيرِ. .... عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ بَيْعُ الْمُغَنِّيَاتِ وَلَا شِرَاؤُهُنَّ، وَأَكْلُ أَثْمَانِهِنَّ حَرَامٌ، وَفِيهِنَّ أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيَّ: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ}

أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ» ..... الْغِنَاءُ رُقْيَةُ الزِّنَا، وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ..... وَعَن جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : أَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مَكْرُوهٌ عِنْدَ عُلَمَائِنَا. وَاحْتَجَّ بِقَوْلِهِ تَعَالَى – {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ} [لقمان:٦]– الْآيَةَ جَاءَ فِي التَّفْسِيرِ: أَنَّ الْمُرَادَ الْغِنَاءُ .... وَإِنْ كَانَ سَمَاعَ غِنَاءٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِإِجْمَاعِ الْعُلَمَاءِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۷۹ مکتبه رشیدیه / روح المعاني ج۲۰ ص ۱۰۲ / تفسیر ابن کثیر ج۳ ص ۴۶۸ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۴۱۳ / جامع معمر بن راشد ج ۱۱ ص ۴ مکتبه شامله / (ترمذی شریف ج ۲ ص ۴۴ / الدرالمنثور ج۵ ص ۱۵۹ / مشکوة شریف ص ۴۱۱ /الزواجر عن اقتراف الکبائر ص ۲۷۲ / فتاوی بینات ج۴ ص ۴۲۵)

موسیقۍ یوچاته ډالۍ کول (یعني په یوچاباندي اورېدل) څنګه ده ؟

سوال ۸ : نن سبا چي د رسنیو یعني راډیو یا تلویزون دلاري څخه چي کوم پروګرامونه خپرېږي ځیني په دغه پروګرامونو کښې داسي دي چي خلک پر ټلیفون باندي اړیکي ورسره نیسي او بیا یو بل ته سندري او غزلي ډالۍ کوي دشریعت دنګاه څخه سندره یاګانه یو چاته ډالۍ کول څنګه ده ؟

جواب : په قرآن کریم کښې دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی :

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (۲) سورة المائدة . (ژباړه) تاسي یو دبل سره کومک وکړۍ دخیر او نیکۍ په

کارونو کښې او کومک مه کوی یو دبل سره دګناه او ظلم وزیاتي په کارونو کښې که مو چیري دغه کومک دشرا و بدی په کارونو کښې کوی نو پوه سی چي الله جل جلاله ډیره سخته سزا ورکوونکی ذات دی . موسیقي خپله اوریدل یا په بل چا باندي اورول چي تاسي ورته ډالی وایاست دادواړه کبیره ګناهونه دي او پر ګناه باندي دیوچا سره کومک کول دي اوددې عمل څخه په قرآن کریم کښې په قطعي او یقیني آیت سره منع راغلې ده . کوم کسان چي دغه دموسیقی پروګرام په رسنیو کښې پر مخ بیایي هغه خپله هم دکبیره ګناه مرتکب دي او کوم څوک چي زنګونه ورته وهي او بیا یې خپله داوریدلو غوښتنه کوي او یایې په بل چا باندي اوري هغه هم ددغي غټې ګناه مرتکب دی .الله جل جلاله دي موږ ته په حقه لاره بسې دتللو توفیق رانصیب کړي .

دنن سبا دفتنو څخه په ډک دور کښې ددینداری دکمی او داخلاقو دکمزوری نتیجه دا راووتل چي کوم نارواه او حرام فعل یا عمل چي په معاشره او ټولنه کښې عام سي هغه ته خلګ دحلال او رواه په نظر ګوري . او تعجب خو دادی چي یوه زمانه هغه وه چي کوم شخص به دموسیقي پیشه او کسب اختیاره کړی هغه ته به ډم یا دلاک ویل کیدی او خلګو به هغه ته په ښه نګاه سره نه کتل لیکن نن سبا چي څوک دغه حرام او نارواه کسب

اختیاره کړي هغه ته هنرمند یا فنکاره ویل کیږي او دغه کسب ته دفن او ثقافت غوندي معزز القاب ورکول کیږي . او ستم ظریفي او کمزري خو لانوره دغه ده چي کوم عالم دین یا دیني او روحاني پیشواه ددغه حرامو او نارواه افعالو خلاف خپل اواز پورته کوي هغه ته خلګ تنګ نظره او رجعت پسنده وایي .

او حال دادی چي دسروزاو موسیقي متعلق دنبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارک ارشادات په لاندي ډول دي : **اول** : دحضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم دسروز او موسیقی دویلو او اوریدلو څخه منع کړې ده . (**الزواجر عن اقتراف الکبائر ص ۲۷۲**) .

دوهم : د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دي چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : چي د سروز او موسيقی محبت په زړه کښې داسي نفاق (منافقت) راپورته کوي او وده ورکوي څنګه چي په اوبو سره سبزي راپورته کيږي او وده کوي . (**الدرالمنثور ج ۵ ص ۱۵۹ / مشکوة شريف ص ۴۱۱**)

دريم : د حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل : په دغه امت کښې به خلک په مځکه کښې ننوزي او د خلګو شکلونه به مسخ (خراب) سي او د اسمان څخه به د کاڼو داورېدلو واقعات راسي. پر دغه ارشاد مبارک باندي يو کس پوښتنه وکړه چي يارسول الله دا واقعاتي به کله رابنکاره سي ؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل کله چي د سروز او موسيقي ويونکو ښځو او دباجو او طبلو رواج عام سي (خلک به يې هيڅ عار او عيب نه بولي او ګناه نه بولي) او شراب په کثرت سره وچيښل سي . **ترمذی شريف ج ۲ ص ۴۴**

د دغه ذکر سوو احاديثو څخه د سروز او موسيقي حراموالی صفا او ښکاره ثابت دی او بل طرف ته دامت ټولو سره حق مذاهب پر دې متفق دي چي سروز او موسيقي ويل او اورېدل يو ناروا عمل دی او د انساني فطرت د صحيح تقاضاوو د فهرست څخه وتلی دی . الله جل جلاله دي موږ او تاسو ټولو ته خصوصا د نن سبا د خبري رسنيو کارکوونکو ته د کومو چي اکثره يا ځيني پروګرامونه د دغه ناسور او ضد شريعت او فطرت و انسانيت ويروس څخه ډک دي د کامل او مکمل اجتناب او توبې کولو توفيق رانصيب کړي

وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ: أُنْزِلَتْ هذه الآية: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ} فِي الْغِنَاءِ وَالْمَزَامِيرِ. .... عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ بَيْعُ الْمُغَنِّيَاتِ وَلَا شِرَاؤُهُنَّ، وَأَكْلُ أَثْمَانِهِنَّ حَرَامٌ، وَفِيهِنَّ أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيَّ: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ}

أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ» ..... الْغِنَاءُ رُقْيَةُ الزِّنَا، وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ..... وَعَن جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : أَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مَكْرُوهٌ عِنْدَ عُلَمَائِنَا. وَاحْتَجَّ بِقَوْلِهِ تَعَالَى – {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ} [لقمان:٦]– الْآيَةَ جَاءَ فِي التَّفْسِيرِ: أَنَّ الْمُرَادَ الْغِنَاءُ .... وَإِنْ كَانَ سَمَاعَ غِنَاءٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِإِجْمَاعِ الْعُلَمَاءِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۷۹ مکتبه رشیدیه / روح المعاني ج۲۰ ص ۱۰۲ / تفسیر ابن کثیر ج۳ ص ۴۶۸ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۴۱۳ / جامع معمر بن راشد ج ۱۱ ص ۴ مکتبه شامله / (ترمذی شریف ج ۲ ص ۴۴ / الدرالمنثور ج۵ ص ۱۵۹ / مشکوة شریف ص ۴۱۱ /الزواجر عن اقتراف الکبائر ص ۲۷۲ / فتاوی بینات ج۴ ص ۴۲۵)

ایا سروز او موسیقي دروح غذا ده ؟

سوال ۹: آیا دغه خبره درسته ده چي موسیقي او ساز اوربدل د روح غذا ده؟ (۲) موږ چي کله د رقص او ډانس او موسیقي لپاره د فحاشي او بې حیائۍ لفظ استعمال کړو نو ځیني کسان یې بده بولي چي دا خو طبیعت راسته کېدل دي کوم مشکل په شریعت کي نه لري. (۳) او ځیني کسان وائې که رقص او ډانس د ورزش په نیت وسي روا دی؟ د دې درو سوالونو جواب که راکړئ مننه به مو وي ؟

جواب: (۱) موسیقي د روح غذا ده مګر د شیطاني روح غذا ده نه دانساني روح د انساني روح غذا ذکر الهی دی. (۲) رقص او ډانس ګناه کبیره ده بالکل په فحاشي کي داخله ده. (۳) دغه کسان په حقیقت کي نفس غولولي او په دوکه کي اچولي دي چي دوی وائې رقص د ورزش په نیت روا دی دا داسي دی لکه شراب چي د شربتو په نامه یو څوک چیښي او بیا وایي دا رواه دي.

وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ: أُنْزِلَتْ هذه الآية: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ} فِي الْغِنَاءِ وَالْمَزَامِيرِ. .... عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحُلُّ بَيْعُ الْمُغَنِّيَاتِ وَلَا شِرَاؤُهُنَّ، وَأَكْلُ أَثْمَانِهِنَّ حَرَامٌ، وَفِيهِنَّ أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيَّ: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ}

أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ» ..... الْغِنَاءُ رُقْيَةُ الزِّنَا، وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ..... وَعَن جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : أَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مَكْرُوهٌ عِنْدَ عُلَمَائِنَا. وَاحْتَجَّ بِقَوْلِهِ تَعَالَى - {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ} [لقمان:٦]- الْآيَةَ جَاءَ فِي التَّفْسِيرِ: أَنَّ الْمُرَادَ الْغِنَاءُ .... وَإِنْ كَانَ سَمَاعَ غِنَاءٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِإِجْمَاعِ الْعُلَمَاءِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۷۹ مکتبه رشیدیه / روح المعاني ج۲۰ ص ۱۰۲ / تفسیر ابن کثیر ج ۳ ص ۴۶۸ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۴۱۳ / جامع معمر بن راشد ج ۱۱ ص ۴ مکتبه شامله / (ترمذی شریف ج ۲ ص ۴۴ / الدرالمنثور ج۵ ص ۱۵۹ / مشکوة شریف ص ۴۱۱ /الزواجر عن اقتراف الکبائر ص ۲۷۲ / فتاوی بینات ج ۴ ص ۴۲۵)

دساز او سروز فیتې خرڅول روادي که یا

سوال۱۰ : (۱) دساز او سروز فیتي او کیسټونه خرڅول شرعاً څه حکم لري؟
(۲)هغه پیسې او عائد چي ددغه تجارت څخه ترلاسه کیږي حلالي دي که یا؟
(۳)او داسي فیته فروش ته دوکان په کرایه ورکول روا دی که یا؟

جواب : دساز او سروز فیتې خرڅول شرعاً ناروا دي ځکه چي په اسلام کي سازو موسیقي او سروز او ربدل چي په غناء معازف مزامیر سره یې تعبیر کیږي په ایاتونو او صحیح احادیثو سره ناروا دي او بل دا چي دغه فیتې یا سروز او ګانې سبب دفسق او دفساد دمعاشرې دخرابۍ او دنوي نسل یا ځوان نسل دخرابۍ ګرځي. ددغه فیتو دتجارت مال حرام دیی حدیث شریف دی

همداشان دوکان په کرایه وداسي کس ته ورکول هم شرعاً جواز نه لري ځکه چي دایوقسم کومک دی ددغه مالک ددغه کرایه دار سره دګناه او فسق په کار

کيد شريعت له نظره داسي کس ته توصيه او حکم دادی چي الله جل جلاله ته توبه وباسي او هغه سروز او سازونه چي په دغه فيتو کي دي هغه دي صفا کړي روا او جايز شيان دي په کښي ثبت کړي.

وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ: أُنْزِلَتْ هذه الآية: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ} فِي الْغِنَاءِ وَالْمَزَامِيرِ. .... عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ بَيْعُ الْمُغَنِّيَاتِ وَلَا شِرَاؤُهُنَّ، وَأَكْلُ أَثْمَانِهِنَّ حَرَامٌ، وَفِيهِنَّ أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيّ: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ}

أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ» ..... الْغِنَاءُ رُقْيَةُ الزِّنَا، وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ..... وَعَن جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : أَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مَكْرُوهٌ عِنْدَ عُلَمَائِنَا. وَاحْتَجَّ بِقَوْلِهِ تَعَالَى – {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ} [لقمان:٦]– الْآيَةَ جَاءَ فِي التَّفْسِيرِ: أَنَّ الْمُرَادَ الْغِنَاءُ .... وَإِنْ كَانَ سَمَاعَ غِنَاءٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِإِجْمَاعِ الْعُلَمَاءِ

ان الله اذاحرم شی ءً حرم ثمنه) رواهابوداؤد واحمد. .... (ولاتعاونوا على الاثم والعدوان)

(الدر المختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۷۹ مکتبه رشيديه / روح المعاني ج۲۰ ص ۱۰۲ / تفسير ابن کثير ج ۳ ص ۴۶۸ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۴۱۳ / جامع معمر بن راشد ج ۱۱ ص ۴ مکتبه شامله / (ترمذی شريف ج ۲ ص ۴۴ / الدرالمنثور ج۵ ص ۱۵۹ / مشکوة شريف ص ۴۱۱ /الزواجر عن اقتراف الکبائر ص ۲۷۲ / فتاوی بينات ج ۴ ص ۴۲۵ / فتاوی علماء البلدالحرام ۱۵۶۶

آياموسيقي دروح غذاء ده

سوال ۱۱ :داوسني معاشري او زماني ځيني کسان خاص بياځوان نسل په دغه مفکوره اونظردی چي موسيقی اوسروزدروح غذاء ده داسلام دپاک دين اوشريعت دنګاه څخه دغه خبره سمه ده او که نه ده ؟

جواب: دین اسلام یو اصل او قانون لري دخپلو اصولو او قوانینو څخه هغه اصل دادی چې انساني تقاضاوې او خواهشات ځیني فطري او خلقتي دي چې دذات او فطرت څخه الله پاک په انسان کښې ایښې دي ، او ځیني غیر فطري تقاضاوي او خواهشات دي چې دشیطان او دنفس دغلبې دوجې وي ، اکثریت خلګ ددغه دوو قسمو تقاضاوو ترمابین فرق نه سي کولای یا یې نه کوي الله پاک جل جلاله چې دانساني تقاضاؤ خالق او پیداکوونکی دی هغه ذات دانساني تقاضاؤ او خواهشاتو دتسکین او ارام لپاره پوره اسامان پیداکړی دی او دغیرفطري تقاضاؤ دتکمیل څخه یې انسان منع کړی دی ، ښه کلام او بهتره اشعار او نعتونه ویل او اورېدل تریوه حده پوري دانساني فطرت جایز او روا تقاضاده اسلام دداسي کلام او اشعارو او حمد او نعتو اجازه ورکړې ده ،لیکن ساز او سروز دموسیقي آلات وغیره داد غیر فطري تقاضاؤ څخه دي
اسلام دداسي تقاضاؤ او خواهشاتو څخه منع کوي ، پاته سوه داخبره چې موسیقي دروح غذا ده دا خبره صحیح ده دشیطاني روح غذاده دانساني روح غذا نه ده دانساني روح غذا ذکر الهي دی.
دموسیقي او سروز حرمت په قرآن کریم او په احادیث مبارکه وو سره ثابت دی او دشریعت دنګاه څخه سروز او موسیقي اورېدل او هغه خپل کسب او پیشه جوړول کبیره ګناه ده څوک چې کبیره ګناه داسي په جرات سره کوي دهغې مرتکب ته اوبیا دې کبیره ګناه ته دروح غذاء ویل فاسق ویل کیږي ،دشریعت دنګاه څخه په حقیقت کښې دشیطان او دنفس دهوکه او خطاء ایستل دي دا داسي سو لکه یو څوک چې شرابو ته دشربت نوم ورکړي ،او لکه ځیني کسان چې رقص او ډانس ته بدني سپورټ او ورزش نوم ورکوي شیطان چې په انسان یو ناروا عمل وکړي نو بیا یې دخلاصون طریقي هم ورښیي اودا په حقیقت کښې خلاصون نه دی بلکه ودام ته دهلاکت ورپوري وهل دي.
حدیث شریف کښې راځي (الغناء ینبت النفاق في القلب کماینبت الماء البقل)
(الدرالمنثور ج ۵ ص ۱۵۹)

او ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چي نبي کريم صل الله عليه وسلم وفرمايل دموسيقي او سروز مينه او محبت په زړه کښي داسي نفاق يعني منافقت پيدا کوي لکه چي په اوبو سره وابنه ژر ژر شنه کيږي او بيا ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چي نبي کريم صل الله عليه وسلم وفرمايل دموسيقي او سروز مينه او محبت په زړه کښي داسي نفاق يعني منافقت پيدا کوي لکه چي په اوبو سره وابنه ژر ژر شنه کيږي او غټيږي او په بل حديث شريف کښي راځي دعمران بن حصين رض څخه روايت دي چي نبي کريم صل الله عليه وسلم وفرمايل په دغه اُمت کښي هم په مځکه ننوتل او شکلونو خرابيدل او دډبرو او کاڼو دباران واقعاتي او عذابونه راتلونکي دي يو صحابي عرض وکړی چي يا رسول الله دغه عذا بونه به کله وي ده مبارک وفرمايل چي دري شيان چي کله په اُمت کښي عام شي داعذابونه به راځي (۱) دغزلو او موسيقي او ګانو ويونکي ښځي به ميدان ته راوځي هيڅ شرم او عار به نه ورته دريږي او دابه ډيري سي.

(۲) او دباجو او طبلو وهلو به عام رواج سي په هره کوزده او واده کښي به دا شيان عام سي. (۳) او دشرابو چيښل به ډير سي نو بيا دغه عذابونه راځي.

آخري خبره

نن سبا دغه دفتنو په دور کښي ديني او خلاقي انحطاط او کمزوري دغه حال ته رسيدلې ده چي کمه ناروا او ناروا عمل په معاشره کښي عام سي خلګ بيا هغه حلال بولي يو زمانه هغه وه چي کوم شخص به دډول او سورنا او دموسيقي کسب او پيشه اختياره کړه هغه ته به ډم يا دلاک ويل کيدی او په علاقه او معاشره کښي به خلګو هغه ته په بده او دحقارت په نګاه کتل، ليکن نن که هغه کسب او پيشه اختياره وي هغه ته هنر مند او فنکار ويل کيږي او دغه فن ته دثقافت نوم ورکول کيږي، او غټ مشکل او ستم ظريفي خودا ده چي کله علماء او صلحاء ددغه ناروا خلاف خبره دقرآن او حديث څخه راپورته کوي هغه ته خلګ تنګ نظره او رجعت پسنده وايي.

په قرآن کريم کښي الله جل جلا له فرمايي :

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ (٦)﴾ (سورة لقمان آيت نمبر ٦پ نمبر٢١)

ترجمه :ځيني د خلکو څخه هغه دي چي رانيسي عبث خبري چي بي لاري کړي خلګ دالله جل جلاله دلاري څخه بي له پوهني اونيسي دغه لاره د دين په ټوکو او مسخرو سره او دغه کسانو ته عذاب سته دذلت.

(۱)عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه دري واره قسم واخستی چي د خدای جل جلاله په ذات مي دي قسم وي چي دعبث خبرو څخه مراد دسروز او موسيقي اوريدل دي .

(۲)دعبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه هم دغه شان روايت راغلی دی .

(۳)قاسم بن محمد رحمه الله تعالی فرمايلي دي سروز او موسيقي يو باطل او عبث او بيهوده عمل دی او هر باطل به په اور کښي وي.

(۴)امام مجاهد رحمه الله تعالی فرمايي دلهو الحديث څخه مراد موسيقي ته غوږ نيول دي او هغه ورته ناروا او بيهوده شيان دي

احاديث مبارکه دموسيقي دحراموالي او بدوالي په شان کښي ډير زيات دي ، که چا ته ددغي مسئلي تفصيل نور هم په کار وي نودي دي تفسير قرطبي ته رجوع وکړي يو حديث شريف صرف دنمونې په ډول تاسي کتلای سی

ابوموسی اشعري رضي الله عنه فرمايی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چا چي په دنيا کښي دموسيقي سره مينه او هغه يې اوريدل دقيامت په ورځ به دروحانيونو اوازونه وانه وري صحابه کرامو پوښتنه وکړه روحانيان څوک دي نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل دجنت قاريان او هلته دقرآن کريم تلاوت کوونکي.

وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ: أُنْزِلَتْ هذه الآية: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ} فِي الْغِنَاءِ وَالْمَزَامِيرِ. .... عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحُلُّ بَيْعُ الْمُغَنِّيَاتِ وَلَا شِرَاؤُهُنَّ، وَأَكْلُ أَثْمَانِهِنَّ حَرَامٌ، وَفِيهِنَّ أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيّ: {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ}

أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ» ..... الْغِنَاءُ رُقْيَةُ الزِّنَا، وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ..... وَعَن جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الْإِيمَان»

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : أَنَّ كُلَّ ذَلِكَ مَكْرُوهٌ عِنْدَ عُلَمَائِنَا. وَاحْتَجَّ بِقَوْلِهِ تَعَالَى – {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ} [لقمان:٦]– الْآيَةَ جَاءَ فِي التَّفْسِيرِ: أَنَّ الْمُرَادَ الْغِنَاءُ .... وَإِنْ كَانَ سَمَاعَ غِنَاءٍ فَهُوَ حَرَامٌ بِإِجْمَاعِ الْعُلَمَاءِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج۵ ص ۲۷۹ مکتبه رشيديه / روح المعاني ج۲۰ ص ۱۰۲ / تفسير ابن كثير ج۳ ص ۴۶۸ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۸ ص ۴۱۳ / جامع معمر بن راشد ج ۱۱ ص ۴ مکتبه شامله / (ترمذی شریف ج ۲ ص ۴۴ / الدرالمنثور ج۵ ص ۱۵۹ / مشکوة شريف ص ۴۱۱ /الزواجر عن اقتراف الكبائر ص ۲۷۲ / فتاوى بينات ج ۴ ص ۴۲۵)

دښځي دپاره دنن سبا شعر او شاعري رواه ده که یا ؟

سوال ۱۲ : دښځي دپاره دنن سبا دفتنو څخه په ډک ماحول کښې شعر او شاعري کول رواه ده که یا ؟

جواب :ښه اشعار او نظمونه دترنم سره اوريدل شرعا جايز دي خو په درو شرطونو سره . **اول شرط** : هغه ويونکی ددغه نظمونو او اشعارو به پيشه ورا و کسب کاره ، فاسق اوبې ږيري هلک نه وي او ښځه به هم نه وي او په دغه مجلس کښې به يوبې ږيري هلک او يا ښځه هم نه وي . **دوهم شرط** : ددغه اشعارو مضمون به دشريعت سره په ټکرا و مخالفت کښې واقع نه وي . **دريم شرط** : دموسيقی او سازآلات به نه وي ورسره .

او داخبره ترلمر سپينه ده چي کومي ښځي نن سبا شعر او شاعري کوي اکثره به داسي وي چي خامخا به درسنيو سره اړيکي نيسي په کوم کښې چي ددغي ښځي د غير محرم نارينه سره به ددې خبري کيږي چي داخبري سبب دفتنې دي او يا به دنارينه شاعرانو سره په داسي مخلوط يعني دنر او ښځو څخه ګډ جوړ محافلو او مجالسو کښې شرکت کوي په کومو کښې چي دشرعي پردې مراعات نه کيږي او په

داسي مجالسو كښې د ښځي دپاره د غير محرم كسانو سره شركت كول شرعا ناروا دى.
فقهاء كرامو ليكلي دي چي كوم رواه كار سبب د ناروا كار جوړيږي هغه رواه كار هم ناروا كيږي. او دا خو لا بله مسئله ده چي د ښځي او از عورت دى كه نه دى؟ لهذا د ښځو دپاره د نن سبا شعر او شاعري كول نه ده رواه لكه څنګه چي د شعر د جواز په شرطونو كښې دا شرط بيان سو چي ښځه به نه وي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :عَرَّفَ الْقُهُسْتَانِيُّ الْغِنَاءَ بِأَنَّهُ تَرْدِيدُ الصَّوْتِ بِالْأَلْحَانِ فِي الشِّعْرِ مَعَ انْضِمَامِ التَّصْفِيقِ الْمُنَاسِبِ لَهَا قَالَ فَإِنْ فُقِدَ قَيْدٌ مِنْ هَذِهِ الثَّلَاثَةِ لَمْ يَتَحَقَّقْ الْغِنَاءُ اه قَالَ فِي الدُّرِّ الْمُنْتَقَى: وَقَدْ تُعُقِّبَ بِأَنَّ تَعْرِيفَهُ هَكَذَا لَمْ يُعْرَفْ فِي كُتُبِنَا فَتَدَبَّرْ اه. أَقُولُ: وَفِي شَهَادَاتِ فَتْحِ الْقَدِيرِ بَعْدَ كَلَامٍ عَرَفْنَا مِنْ هَذَا أَنَّ التَّغَنِّيَ الْمُحَرَّمَ مَا كَانَ فِي اللَّفْظِ مَا لَا يَحِلُّ كَصِفَةِ الذُّكُورِ وَالْمَرْأَةِ الْمُعَيَّنَةِ الْحَيَّةِ وَوَصْفِ الْخَمْرِ الْمُهَيِّجِ إلَيْهَا وَالْحَانَاتِ وَالْهِجَاءِ لِمُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ إذَا أَرَادَ الْمُتَكَلِّمُ هِجَاءَهُ لَا إذَا أَرَادَ إنْشَادَهُ لِلِاسْتِشْهَادِ بِهِ أَوْ لِيَعْلَمَ فَصَاحَتَهُ وَبَلَاغَتَهُ، وَكَانَ فِيهِ وَصْفُ امْرَأَةٍ لَيْسَتْ كَذَلِكَ أَوْ الزَّهْرِيَّاتُ الْمُتَضَمِّنَةُ وَصْفَ الرَّيَاحِينِ وَالْأَزْهَارِ وَالْمِيَاهِ فَلَا وَجْهَ لِمَنْعِهِ عَلَى هَذَا، نَعَمْ إذَا قِيلَ ذَلِكَ عَلَى الْمَلَاهِي امْتَنَعَ وَإِنْ كَانَ مَوَاعِظَ وَحِكَمًا لِلْآلَاتِ نَفْسِهَا لَا لِذَلِكَ التَّغَنِّي اه مُلَخَّصًا وَتَمَامُهُ فِيهِ فَرَاجِعْهُ،

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۳۴۹ كتاب الحظر والاباحة / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۴۳ / ستاسي مسائل او دهغوى حل ج ۸ ص ۴۱۹ موسيقي او ډانس)

دراډيو استعمال شرعا رواه دى كه يا؟ اوپرراډيو باندي دقران كريم تلاوت اوريدل جواز لري كه يا؟

سوال ۱۳: راډيو په كور كښي ايښوول او اوريدل شرعا روا ايښت لري كه يا حال دا چي سروزهم ډيرپه كښي دى او دراډيو په ذريعه دقران كريم دتلاوت اوريدل څنګه دي؟

جواب: راډيو هغه وخت په كور كښي ساتل او لګول رواه ده چي په هغه كښي فقط خبرونه او مباح اورواه او اصلاحي بيانات او تقريرونه واوريدل سي. سروزاو

او سندري او ناجایز تقریرونه باید په وانه وریدل سي او د قرآن کریم تلاوت د راډیو په ذریعه اوریدل شرعًا رواه دی. دپوره تفصیل دپاره کفایت المفتي دحضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله تعالی فتاوی کتلای سی۔

کفایت المفتي جلد ۹ ص ۲۱۸ کتاب الحظر والاباحة دارالاشاعت چاپ / حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله تعالي مفتي اعظم هند)

باب الملاهي والالعاب

په چکه ، یا کرم بورډ ، یا شطرنج باندي لوبي کول .

سوال ۱ : نن سبا خلګ په مختلفو لوبو او لهواتو باندي اخته لیدل کیږي چي ځیني دهغوی څخه چکه ، کرم بورډ ، یا شطرنج دی . پوښتنه داده چي په دغه شیانو سره لوبي کول او وخت پر تېرول شرعا رواه دی که یا ؟ .

جواب : فقهاء کرامو په دغه باره کښې څه قواعد او اصول مقرر کړي دي چي په لاندي ډول دي : هغه کارونه چي په هغوی کښې نه ددنیا فایده وي او نه دآخرت بلکي برعکس د وخت او دولت دضائع کېدل هم په کښې وي لکه کرم بورډ یا چکه وغیره . په دې شیانو کښې نه دصحت ګټه سته او نه هم ددنیا او نه هم دآخرت نو په داسي بې معنی او بې ضرورته کارونو کښې خپل ګران او قیمتي وخت ضائع کول دهوښیارۍ خبره نه ده . او شریعت مقدسه دداسي لهو او لعب څخه منع فرمایلې ده . او بل اصل دادی چي هر هغه ساتیری چي په هغه کښې بدني ورزش وي او یا ذهني ورزش وي او خومار او شرط ورباندي نه کښېښوول سي او نه هم په دیني واجباتو او لازماتو کښې کوتاهي په کښې راسي لکه جماعت پر قضا کول یا بې ستري په کښې راتلل او یا فسق په کښې کول لکه ښکنځل یا جنجال وغیره . که دغه نقصانات نه وي بیاه هغه لوبي رواه دي . خو چکه یا کرم بورډ شطرنج هر هغه شیان دي چي په هغوی کښې نه بدني ورزش سته لکه په ګین کولو کښې چي سته یا په کراټې کولو کښې چي سته او نه هم ذهني ورزش په کښې سته لکه په درې ګاټې یا کتار او اتلس ګاټې نامي ساتیریو کښې چي سته . ددغه اصولو په نظر کښې نیولو سره ددغه ذکر سوو (شطرنج ، چکه ، کرم بورډ) لوبو کولو څخه پرهېز پکار دی .

لما قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى : وَفِي الْمُحِيطِ: وَيُكْرَهُ اللَّعِبُ بِالشِّطْرَنْجِ وَالنَّرْدِ وَالْأَرْبَعَةَ عَشَرَ لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «كُلُّ لَعِبٍ حَرَامٌ إلَّا مُلَاعَبَةَ الرَّجُلِ زَوْجَتَهُ وَقَوْسَهُ وَفَرَسَهُ» لِأَنَّهُ يَصُدُّ عَنْ الْجَمْعِ وَالْجَمَاعَاتِ وَسَبَبٌ لِلْوُقُوعِ فِي فَوَاحِشِ الْكَلَامِ وَغَيْرِهِ **(البحر الرائق ج ٨ ص ٢١٥ كتاب الكراهية مكتبه شامله بيروت چاپ / الدر المختار مع رد المحتار ج ۶ ص ۳۹۴ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع / بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۲۸ كتاب الاستحسان / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۲۴ باب الملاهي / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۴۰۸ / مسائل رفعت قاسمي ج ۲ ص ۱۵۱ مكتبة العلم اردو / كفايت المفتي ج ۱۳ ص ۹۶ اردو)**

دفټبال او والي بال يا کرکټ لوبي دشريعت دنظره څخه رواه دي که يا ؟

سوال ۲: زموږ د ټولني په ځوانانو کښي نن سبا د فټبال او والي بال او کرکټ وغيره د لوبو وبا عامه سوې ده هر کس او ځوان خپل قيمتي وخت په دغه لوبو باندي ضايع کوي او بيا پر هر ميدان او هره کوڅه کښي دغه لوبي تر سره کېږي، پوښتنه داده چي غه مذکوره لوبي پر دغه طريقه باندي د شريعت دنګاه څخه رواه دی که يا ؟

جواب: د يوې لوبي د جواز او روا والي لپاره فقهاء کرامو د شريعت مطهر په رڼا کښې ه يو څه شرطونه بيان کړي دي **(۱) اول شرط :** دا دی چي مقصد به د دغې لوبې څخه مطلق بدني او ذهني ورزش او تفريح وي خپله به دغه لوبه مستقل مقصد نه وي. **(۲) دوهم شرط** :دا دی چي دغه لوبه به فی نفسه روا هم وي او په دغه لوبه کښي به نا جائز او نا روا امور او کارونه نه وي لکه فوچ او فحش ويل او ښکنځل کول وغيره . **(۳) دريم شرط :** دا دی چي د دغې لوبي د وجي به په شرعي فرايضو کښي کوتاهي او غفلت نه راځي لکه د لمانځه قضاء کېدل . **(۴) څلورم شرط :** دا دی چي خمار به نه وي باندي **(۵) پنځم شرط :** دا دی چي لڅېدل د عورت به نه وي په کښې **(۶) شرط :** دا دی چي شرکت د ښځو به نه وي په کښې **(۷) اووم شرط :** دا دی چي د همېش لپاره به دغه لوبي خپل شغل نه جوړ وي . اوس که چيري موږ نن سبا دغه معيار او شرائط مخ ته کښيږدو نو اکثره لوبي نا جايزه او غلطي په نظر راځي. دا ځکه چي زموږ په ټولنه کښې د لوبو ځيني شوقي ځوانانو ته لوبه نن سبا يوه داسي محبوبه مشغله او وظيفه جوړه سوې ده چي د لوبي پر برابر نه شرعي او ديني فرايضو ته توجه ورکوي او نه د تعليم

طرف ته توجه کوي او نه د کور د کارونو او چار و طرف ته توجه ورکوي او د ژوند مقصد يې بس دغه لوبه جوړه کړې ده. او داخولا څه کوې چې پښې يې تر ورونونو پورې لڅې او ښکاره وي کوم چې شرعا عورت دي.

حضرت مولانا مفتي کفايت الله صاحب رحمه الله تعالى په کفايت المفتي فتاوی کښې ليکلي دي: چې دلوبو او ورزش مختلفې طريقې دي چې ځيني په هغوی کښې داسې دي چې ديو خاص قوم کافرانو سره خاص او مخصوصې دي لکه کرکټ او فټبال، هاکي وغيره چې د دغه لوبو په کولو سره ديو رپيانو کفارو سره يو قسم مشابهت راځي نو د دغه مشابهت د وجې څخه دغه لوبې کول مکروه دي. ده ليکلي دي خو بيا هم په دغه شيانو کښې د شغل او مصروفيت د وجې څخه په لمانځه يا بل امر شرعي کښې چې نقصان رانه سي نو صرف د تشبه د وجې څخه به کراهت لازم سي خو حرام ورته نه سو ويلای.

لما قال العلامة عبد الرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده, يعرف بداماد أفندي (المتوفى: ١٠٧٨هـ) فی مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر : تَجُوزُ الْمُسَابِقَةُ بِالسِّهَامِ وَالْخَيْلِ وَالْحَمِيرِ وَالْإِبِلِ وَالْأَقْدَامِ) لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «لَا سَبَقَ إلَّا فِي خُفٍّ أَوْ نَصْلٍ أَوْ حَافِرٍ» وَالْمُرَادُ بِالْخُفِّ الْإِبِلُ وَبِالنَّصْلِ الرَّمْيُ وَبِالْحَافِرِ الْفَرَسُ وَالْبَغْلُ. وَفِي الْحَدِيثِ «سَابَقَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ – فَسَبَقَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –» وَلِأَنَّهُ يُحْتَاجُ إلَيْهِ فِي الْجِهَادِ لِلْكَرِّ وَالْفَرِّ وَكُلُّ مَا هُوَ مِنْ أَسْبَابِ الْجِهَادِ فَتَعَلُّمُهُ مَنْدُوبٌ إلَيْهِ سَعْيًا فِي إقَامَةِ هَذِهِ الْفَرِيضَةِ .

(مجمع الأنهر في شرح ملتقي الأبحرج ٢ ص ٤٤٩ باب المتفرقات / الفتاوى الهندية كتاب الكراهية ، الباب السادس في المسابقة ج ٥ ص ٣٢٤ رشيديه / فتاوى السراجية كتاب الحظر والاباحة ص ٧٦ سعيد چاپ / ابوداود كتاب اللباس باب في لبس الشهرة ج ٢ ص ٢٠٣ مكتبه رحمانيه / تكملة فتح الملهم كتاب الشعر حكم الالعاب في الشريعة ج ٤ ص ٤٣٦ دارالعلوم كراچي / احكام القرآن باب الناهي عن الملاهي ج ٣ ص ١٩٤ ، ١٩٥ ، ٢٠١ ادارة القرآن كراچي / مرقاة المفاتيح كتاب اللباس الفصل الثاني ج ٨ ص ١٥٥ رشيديه / كفايت المفتي ج ١٣ ص ١٠٣ باب الالعاب مكتبه

فارقیه کراچي / الدر المختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۲۶۸ رشیدیه / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۴۰۶ باب اللعب واللهو / عزیز الفتاوی ج ۱ ص ۷۱۳ فتتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۲۶ / بدرالفتاوی ج ۱ ص ۴۰۴)

په لوبو یا دورزش په کلب کښې دورنونو دبربنډولو او لڅولو حکم .

سوال ۳ : په ځینې لوبو کښې لکه تمرین کېدي بدني ښکلا ورزش وغیره کښې ځیني خلک خپل ورنونه لڅوي چي نور خلک یې هم ویني او سترګي باندي لګیږي . پوښتنه داده چي دورنونو لڅول شرعا رواه دي که یا ؟ .

جواب : دنارینه یعني سړي دنامه څخه نیولې تر زنګنونو پوري دبدن برخه عورت دی چي پټول یې شرعا لازم دي . او لڅول او ښکاره کول یې ګناه ده . نوددې دپاره دلوبو په وخت کښې سړی باید دبدن دهمدې برخي دپټولو ته خاصه پاملرنه وکړي . لما قال العلامة شیخ الاسلام ابوبکر بن علی الحداد الیمنی رحمه الله تعالی : قَوْلُهُ (وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ الرَّجُلِ جَمِيعَ بَدَنِهِ إلَّا مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ وَرُكْبَتِهِ) «لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – لِعَلِيٍّ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – لَا تَنْظُرْ إلَى فَخِذِ حَيٍّ وَلَا مَيِّتٍ.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ، وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.وقال الملاعلی القاری رحمه الله تعالی : :وَفِيهِ بَيَانُ تَحْرِيمِ النَّظَرِ إِلَى مَا لَا يَجُوزُ. وَعَوْرَةُ الرَّجُلِ مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ وَرُكْبَتَيْهِ .

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۶ ص ۳۶۴ تا ۳۶۶ کتاب الکراهیة فصل في البیع / الجوهرة النیرة ج ۲ ص ۳۸۵ باب الحظر والاباحة / مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج ۶ ص ۱۹۵ باب النظر الي المرءة المخطوبة وبیان العورات / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۲۶ باب الملاهي)

په چکه ، یا کرم بورډ ، یا شطرنج باندي لوبي کول .

سوال ۴ : نن سبا خلک په مختلفو لوبو او لهواتو باندي اخته لیدل کیږي چي ځیني دهغوی څخه چکه، کرم بورډ، یا شطرنج دی. پوښتنه داده چي په دغه شیانو سره لوبي کول او وخت پر تېرول شرعا رواه دی که یا؟.

جواب : فقهاء کرامو په دغه باره کښې څه قواعد او اصول مقرر کړي دي چي په لاندي ډول دي: هغه کارونه چي په هغوی کښې نه ددنیا فایده وي او نه دآخرت بلکي برعکس دوخت او دولت دضائع کېدل هم په کښې وي لکه کرم بورډ یا چکه وغیره. په دې شیانو کښې نه دصحت ګټه سته او نه هم ددنیا او نه هم دآخرت نو په داسي بې معنی او بې ضرورته کارونو کښې خپل ګران او قیمتي وخت ضائع کول دهوښیاری خبره نه ده. او شریعت مقدسه دداسي لهو او لعب څخه منع فرمایلې ده. او بل اصل دادی چي هر هغه ساتیری چي په هغه کښې بدني ورزش وي او یا ذهني ورزش وي او قیمار او شرط وړ باندي نه کښېښوول سي او نه هم په دیني واجباتو او لازماتو کښې کوتاهي په کښې راسي لکه جماعت پر قضا کول یا بې ستري په کښې راتلل او یا فسق په کښې کول لکه ښکنځل یا جنجال وغیره. که دغه نقصانات نه وي بیاه هغه لوبي رواه دي. خو چکه یا کرم بورډ شطرنج هر هغه شیان دي چي په هغوی کښې نه بدني ورزش سته لکه په ګین کولو کښې چي سته یا په کراټې کولو کښې چي سته او نه هم ذهني ورزش په کښې سته لکه په دري ګاټي یا کتار او اتلس ګاټي نامي ساتیریو کښې چي سته. ددغه اصولو په نظر کښې نیولو سره ددغه ذکر سوو (شطرنج، چکه، کرم بورډ) لوبو کولو څخه پرهېز پکار دی.

لما قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى : وَفِي الْمُحِيطِ: وَيُكْرَهُ اللَّعِبُ بِالشِّطْرَنْجِ وَالنَّرْدِ وَالْأَرْبَعَةَ عَشَرَ لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «كُلُّ لَعِبٍ حَرَامٌ إلَّا مُلَاعَبَةَ الرَّجُلِ زَوْجَتَهُ وَقَوْسَهُ وَفَرَسَهُ» لِأَنَّهُ يَصُدُّ عَنْ الْجَمْعِ وَالْجَمَاعَاتِ وَسَبَبٌ لِلْوُقُوعِ فِي فَوَاحِشِ الْكَلَامِ وَغَيْرِهِ

(البحر الرائق ج ۸ ص ۲۱۵ کتاب الکراهية مکتبه شامله بیروت چاپ / الدر المختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۳۹۴ کتاب الحظر والاباحة فصل في البيع / بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۲۸ کتاب الاستحسان / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۲۴ باب الملاهي / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۴۰۸ / مسائل رفعت قاسمي ج ۲ ص ۱۵۱ مکتبة العلم اردو / کفایت المفتي ج ۱۳ ص ۱۹۶ اردو)

دفټبال او والي بال یا کرکټ لوبي دشریعت دنظره څخه رواه دي که یا ؟

سوال ۵: زموږ دټولني په ځوانانو کښي نن سبا د فټبال او والي بال او کرکټ وغیره د لوبو وبا عامه سوې ده هر کس او ځوان خپل قیمتي وخت په دغه لوبو باندي ضایع کوي او بیا پر هر میدان او هره کوڅه کښي دغه لوبي تر سره کېږي، پوښتنه داده چي غه مذکوره لوبي پر دغه طریقه باندي دشریعت دنګاه څخه رواه دی که یا ؟

جواب: د یوې لوبي د جواز او روا والي لپاره فقهاء کرامو دشریعت مطهر په رڼا کښې ه یو څه شرطونه بیان کړي دي (۱) **اول شرط** : دا دی چي مقصد به د دغې لوبې څخه مطلق بدني او ذهني ورزش او تفریح وي خپله به دغه لوبه مستقل مقصد نه وي. (۲) **دوهم شرط** :دا دی چي دغه لوبه به فی نفسه روا هم وي او په دغه لوبه کښي به نا جائز او نا روا امور او کارونه نه وي لکه فوچ او فحش ویل او ښکنځل کول وغیره. (۳) **دریم شرط** : دا دی چي د دغې لوبي د وجي به په شرعي فرایضو کښي کوتاهي او غفلت نه راځي لکه د لمانځه قضاء کېدل. (۴) **څلورم شرط** : دادی چي خمار به نه وي باندي (۵) **پنځم شرط** : دادی چي لڅېدل دعورت به نه وي په کښې (۶) **شرط** : دادی چي شرکت دښځو به نه وي په کښې (۷) **اووم شرط** : دادی چي دهمېش لپاره به دغه لوبي خپل شغل نه جوړوي.

اوس که چیري موږ نن سبا دغه معیار او شرائط مخ ته کښېږدونو اکثره کیلونه او لوبي نا جایزه او غلطي په نظر راځي. دا ځکه چي زموږ په ټولنه کښې د لوبو ځیني شوقي ځوانانو ته لوبه نن سبا یوه داسي محبوبه مشغله او وظیفه جوړه سوې ده چي دلوبي پر برابر نه شرعي او دیني فرایضو ته توجه ورکوي او نه د تعلیم طرف ته توجه کوي او نه د کور د کارونو او چار وطرف ته توجه ورکوي او د ژوند مقصد یې بس دغه لوبه جوړه کړې ده.او دا خولاڅه کوې چي پښې یې تر ورونونو پوري لڅي او ښکاره وي کوم چي شرعا عورت دي.

حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله تعالی په کفایت المفتي فتاوی کښې لیکلي دي : چي دلوبو او ورزش مختلفي طریقي دي چي ځیني په هغوی کښې داسي دي چي دیو خاص قوم کافرانو سره خاص او مخصوصي دي لکه کرکټ او فټبال،

هاکي وغیره چي د دغه لوبو په کولو سره دیورپیانو کفارو سره یو قسم مشابهت راځي نو د دغه مشابهت د وجي څخه دغه لوبي کول مکروه دي. ده لیکلي دي خو بیا هم په دغه شپانو کښې د شغل او مصروفیت د وجي څخه په لمانځه یا بل امر شرعي کښې چي نقصان رانه سي نو صرف د تشبه د وجي څخه به کراهت لازم سي خو حرام ورته نه سو ویلای.

لما قال العلامة عبد الرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده, يعرف بداماد أفندي (المتوفى: ١٠٧٨هـ) فى مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر : تَجُوزُ الْمُسَابِقَةُ بِالسِّهَامِ وَالْخَيْلِ وَالْحَمِيرِ وَالْإِبِلِ وَالْأَقْدَامِ) لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – «لَا سَبَقَ إلَّا فِي خُفٍّ أَوْ نَصْلٍ أَوْ حَافِرٍ» وَالْمُرَادُ بِالْخُفِّ الْإِبِلُ وَبِالنَّصْلِ الرَّمْيُ وَبِالْحَافِرِ الْفَرَسُ وَالْبَغْلُ. وَفِي الْحَدِيثِ «سَابَقَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ – فَسَبَقَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –» وَلِأَنَّهُ يُحْتَاجُ إلَيْهِ فِي الْجِهَادِ لِلْكَرِّ وَالْفَرِّ وَكُلُّ مَا هُوَ مِنْ أَسْبَابِ الْجِهَادِ فَتَعَلُّمُهُ مَنْدُوبٌ إلَيْهِ سَعْيًا فِي إقَامَةِ هَذِهِ الْفَرِيضَةِ .

(مجمع الأنهر في شرح ملتقي الأبحرج ٢ ص ٤٤٩ باب المتفرقات / الفتاوى الهندية كتاب الكراهية ، الباب السادس في المسابقة ج٥ ص ٣٢٤ رشيديه / فتاوى السراجية كتاب الحظر والاباحة ص ٧٦ سعيد چاپ /ابوداود كتاب اللباس باب في لبس الشهرة ج ٢ ص ٢٠٣ مكتبه رحمانيه / تكملة فتح الملهم كتاب الشعر حكم الالعاب في الشريعة ج ٤ ص ٤٣٦ دارالعلوم كراچي / احكام القرآن باب الناهي عن الملاهي ج ٣ ص ١٩٤ ، ١٩٥ ، ٢٠١ ادارة القرآن كراچي / مرقاة المفاتيح كتاب اللباس الفصل الثاني ج ٨ ص ١٥٥ رشيديه / كفايت المفتي ج ١٣ ص ١٠٣ باب الالعاب مكتبه فارقيه كراچي / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ٥ ص ٢٦٨ رشيديه / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ٨ ص ٤٠٦ باب اللعب واللهو / عزيز الفتاوى ج ١ ص ٧١٣ فتتاوى حقانيه ج ٢ ص ٢٢٦ / بدرالفتاوى ج ١ ص ٤٠٤)

دفټبال او کرکټ لوبه په شریعت کي رواه ده که یا ؟

سوال ۶ : د فټبال او کرکټ لوبي په شریعت مطهره کي رواه دي که یا ؟

جواب : دیوې لوبي د جواز د پاره شریعت درې شرطونه مقرر کړي دي . اول : دا چي د لوبي څخه به مقصود محض ورزش یا تفریح وي خپله به دغه لوبه مستقل مقصد نه

ګرځول کیږي . دوهم : دغه لوبه بذات خود جائزه او رواه هم وي او په دغه لوبه کي به یوه ناجائزه خبره نه وي . دریم : د دغه لوبي څخه به په شرعي فرائضو په اداء کولو کي کوم غفلت او سستي نه راځي .

دغه شرائط او معیار که چیري مخي ته کښېږدو نو ډېری لوبي او کهیلونه ناجائزه او غلطه په نظر راځي او زموږ دلوبو شوقي ځوانانو ته نن سبا لوبه یوه داسي محبوبه مشغله ګرځېدلې ده چي د دغې په مقابله کي نه دوی ته د دیني فرائضو خیال وي نه د تعلیم خیال وي او نه د کور او کورنۍ د کارونو ورته احساس وي او تعجب خو دادی چي د سرکانو او کوڅو څخه یې د فټبال میدانونه جوړ کړي وي . او داسي ذوق ورته پیدا سوی دی لکه العیاذ بالله چي د دوی تخلیق د دغي لوبي د پاره سوی وي . نو داسي لوبو ته به څوک جائز او رواه لوبي وو ایي .

نو که چیري دغه شرائط پرځای سي بیا به په دغه لوبو کي خاص مشکل نه وي البته په او سني وخت کي چي موږ ګورو دغه شرائط نه پرځای کیږي .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قوله بالأقدام) متعلق بعد أي جعلوها بالأقدام وما عطف عليه قال ط: ولا أدري وجه ذكر هذه العبارة غير أنها أوهمت أن القواعد تقتضيها، وليس كذلك، بل قواعد المذهب تقتضي أن غالب هذه من اللهو المحرم كالصولجان وما بعده اهـ ملخصا.أقول: قدمنا عن القهستاني جواز اللعب بالصولجان وهو الكرة للفروسية وفي جواز المسابقة بالطير عندنا نظر وكذا في جواز معرفة ما في اليد واللعب بالخاتم فإنه لهو مجرد وأما المسابقة بالبقر والسفن والسباحة فظاهر كلامهم الجواز ورمي البندق والحجر كالرمي بالسهم، وأما إشالة الحجر باليد وما بعده، فالظاهر أنه إن قصد به التمرن والتقوي على الشجاعة لا بأس به

(ردالمحتار ج ۵ ص ۲۸۶ مکتبه رشیدیه / صحیح المسلم ج ۱ ص ۲۹۱ قدیمي چاپ / عزیزالفتاوی ص ۷۱۳ اردو / اپ کي مسائل ج ۸ ص ۴۰۶ اردو / بدرالفتاوی ص ۴۰۴ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۲۶ پښتو)

باب المعاملات مع الكفار

داهل ذمه کافرانوسره دراکړې ورکړې حکم.

سوال ۱: موږيو کتاب مطالعه کوی چي په هغه کتاب کښي يې ديوه ايات تفسير داسي کړی وو چي دکفارو سره تعلق ساتل حرام دي اوس دپوښتني خبره داده چي زموږ په علاقه کښي اهل ذمه هندوان اوسيږي او موږ کله ناکله راکړه ورکړه ورسره کوو اوددوی دمريضانو وپوښتني ته ورځو ايا شرعاً دا جائزدي که يا؟

جواب: دکوم ايات ترجمه چي تاسو په تفسير کښي مطالعه کړېده دهغه مطلب دادی چي دمسلمانانو محبت اودوستي کول دکفارو سره اويا دمسلمانانوپه خلاف دکفاروسره يوځای کېدل اومحبت ورسره کول ناجائز اوحرام دی او دامطلب يې نه دی چي مطلقاً دکفارو سره معامله کول حرام دی دشريعت مقدسه اسلاميه داحکم نه دی چي هيڅ معامله دي داهل ذمه سره نه کيږي بلکي ددوی سره بيع؛ اوشرآء داهل ذمه هندووانوسره جائزه ده بلکي دکافر همسايه سره دهمسايه توب پر بنا باندي تحفه ورکول يا تحفه ځيني قبلول هم جائزدي دنبي کريم ﷺ په کورکښي يوه بزه حلاله سوه نو پر همسايګانو باندي يې تقسيم کړل کله چي نبي کريم ﷺ کورته راغی نوپوښتنه يې وکړه ايا زموږ ويهودي همسايګانوته مو غوښي ورواستولې: ايازموږ ويهودي همسايګانو ته مو غوښي ورواستولې: اوخپله نبي کريم ﷺ ديوه کافر سره بيع اوشرآء کړېده او دهغوی تحفې يې قبولي کړېدي خلاصه دجواب داده چي دکفارو سره ددوی ددين اومذهب پربنا ددوی سره دوستي او محبت کول ناروا او حرام دی اومحضي ددوی سره يوځای والی، سکونت اودهمسايه توب په طوريا دتمدني اومعاشرتي ضرورتونو په وجه ددوی سره خبري اتري کول يا ددوی سره بيع او شرآء کول: تحفه ورکول يا تحفه ځيني قبلول داټوله شيان جائز اومباح دي

عَنْ مُجَاهِدٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو ذُبِحَتْ لَهُ شَاةٌ فِي أَهْلِهِ، فَلَمَّا جَاءَ قَالَ: أَهْدَيْتُمْ لِجَارِنَا الْيَهُودِيِّ؟ أَهْدَيْتُمْ لِجَارِنَا الْيَهُودِيِّ؟

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرَى طَعَامًا مِنْ يَهُودِيٍّ إِلَى أَجَلٍ، وَرَهَنَهُ دِرْعًا مِنْ حَدِيدٍ»

(وقال العلامة حصكفي رحمه الله) (فَإِنْ حَاصَرْنَاهُمْ دَعَوْنَاهُمْ إلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَسْلَمُوا) فَبِهَا (وَإِلَّا فَإِلَى الْجِزْيَةِ.... فَإِنْ قَبِلُوا ذَلِكَ فَلَهُمْ مَا لَنَا) مِنْ الْإِنْصَافِ (وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَيْنَا) مِنْ الِانْتِصَافِ(الدرالمختار)

(وقال ابن عابدين) قَوْلُهُ فَلَهُمْ مَا لَنَا مِنْ الْإِنْصَافِ إلَخْ) أَيْ الْمُعَامَلَةِ بِالْعَدْلِ وَالْقِسْطِ

(وفي الهندية) لَا بَأْسَ بِأَنْ يَكُونَ بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالذِّمِّيِّ مُعَامَلَةٌ إذَا كَانَ مِمَّا لَا بُدَّ مِنْهُ كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ.

(فتاوی عالمگیریه ج ۵ ص ۳۴۸ کتاب الکراهیة رشیدیه/الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۱۲۸ کتاب الجهاد سعید چاپ / صحیح البخاري ج ۱ ص ۲۷۷ کتاب البیوع قدیمي چاپ / جامع الترمذي ج ۲ ص ۱۶ کتاب البر والصلة سعید چاپ / سنن ابي داود ج ۲ ص ۲۷۱ کتاب الدیات مکتبه امدادیه ملتان/ فتح الباري شرح صحیح البخاري ج ۷ ص ۶۳۴ کتاب المغازي قدیمي چاپ / کفایت المفتي ج ۱۳ ص ۱۳۸ باب المعاملات مع الکفار/ فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۵۴۵ باب الموالات مع الکفار والفسقة / فتاوی عبادالرحمن ج ۵ ص ۲۶۹ کتاب الحظر والاباحة/ فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۴۱۱ کتاب الجهاد)

دهندوانو او سیکانو سره سودا کول .

سوال ۲ : دهندوانو او سیکانو سره سودا (رانیول او خرڅول) کول رواه ده که یا ؟

جواب : دهندوانو او سیکانو یعني غیر مسلم قوم سره درانیولو او خرڅولو او قرض ورکولو او راکولو معامله شرعا رواه ده . په دې شرط چي دغه هندوان او سیکان به مرتد نه وي .

لما فی صحیح البخاري : عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ مُشْرِكٌ مُشْعَانٌّ طَوِيلٌ بِغَنَمٍ يَسُوقُهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بَيْعًا أَمْ عَطِيَّةً؟ - أَوْ قَالَ: - أَمْ هِبَةً "، قَالَ: لاَ، بَلْ بَيْعٌ، فَاشْتَرَى مِنْهُ شَاةً .

ولما فی الفتاوی الهندیة : لَا بَأْسَ بِأَنْ يَكُونَ بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالذِّمِّيِّ مُعَامَلَةٌ إذَا كَانَ مِمَّا لَا بُدَّ مِنْهُ كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ.

(صحيح البخاري ج ۳ ص ۸۰ مکتبه شامله بيروت چاپ بَابُ الشِّرَاءِ وَالبَيْعِ مَعَ المُشْرِكِينَ وَأَهْلِ الحَرْبِ / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۴۸ کتاب الکراهية الباب الرابع عشر في اهل الذمة والاحكام اللتي تعود اليهم مکتبه رشيديه / البحر الرائق کتاب الکراهية ج ۸ ص ۳۷۴ رشيديه / احکام القرآن للتهانوي آل عمران ج ۲ ص ۱۱ دارالعلوم کراچي / کفايت المفتي ج ۱۳ ص ۱۴۳ باب المعاملات مع الکفار / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۷ ص ۸۴ باب المعاملات مع الکفار)

متفرقات الحظر والاباحة

دپيريانو او جناتو سوځل رواه دي که يا؟

سوال ۱: که چيري پر يوه ماشوم يا ښځه باندي دپيري دښکاره کېدو اثرات وي نو بيا هغه تعويذګر يا عامل راولاړيږي هغه پيرى سوځي پوښتنه داده چي دپيري سوځل شرعا رواه دي که يا؟

جواب: که چيري ددغه پيري دشړلو دپاره نورو تدابيرو او کوششونو هيڅ فائده او نتيجه نه ورکوله او دی په خپله هم نه تلی نو يې سوځل درست دي بهتره داده چي په دغه تعويذ کي داسي وليکل سي (که نه ځې نو ودي سوځل سې).

(امدادالفتاوى ج ۴ ص ۸۸ باب التعويذات والاعمال / فتاوى محموديه ج ۲۰ ص ۳۲ باب مايتعلق بالجنات)

دښځي شيدې پاکي دي که يا؟

سوال ۲: دښځي دتيو څخه چي کومي شيدې راځي پاکي دي که يا او که چيري کالي په ولړل سي لمونځ ورسره صحيح کيږي که يا؟

جواب: دښځي شيدي پاکي دي هيڅ مشکل نه لري که چيري په دغه شيدو باندي کالي ولړل سي لمونځ ببله کوم مشکله ورسره روادی والله اعلم.

لما في الموسوعة الفقهية: لَبَنُ الآْدَمِيِّ الْحَيِّ طَاهِرٌ بِاتِّفَاقٍ، سَوَاءٌ أَكَانَ مِنَ امْرَأَةٍ أَمْ مِنْ رَجُلٍ إِذْ لاَ يَلِيقُ بِكَرَامَتِهِ أَنْ يَكُونَ مَنْشَؤُهُ نَجِسًا. أَمَّا لَبَنُ الآْدَمِيِّ الْمَيِّتِ فَهُوَ طَاهِرٌ عِنْدَ

الْحَنَفِيَّةِ وَالشَّافِعِيَّةِ وَهُوَ الظَّاهِرُ مِنْ مَذْهَبِ الْحَنَابِلَةِ، لِأَنَّ اللَّبَنَ لاَ يَنْجُسُ بِالْمَوْتِ بَل هُوَ طَاهِرٌ بَعْدَ الْمَوْتِ .

(الموسوعة الفقهية ج ۳۵ ص ۱۹۸ مكتبه حقانية / المحيط البرهاني ج ۱ ص ۱۳۱ مكتبه شامله / البحرالرائق ج ۸ ص ۱۸۲ / قاموس الفقه ج ۴ ص ۵۷۹ اردو)

پر داسي فرشونو باندي ناسته او ولاړه کول چي اسلامي نومونه پر ليکلي وي .

سوال ۳ : ځيني خلک خصوصا په وطنونو کښې دبورې يا د ورجو يا دکود کيمياوي (امبارو) دګونيو او بوريو ټخه ټاټونه او دناستي پاستي دپاره فرشونه جوړوي يعني ډيري ګونۍ سره وګنډي بيا پر هغو باندي ناسته پاسته او بيدېدل کوي ،او حال دا چي پر هغو ګونيو يا پر دغه فرشونو باندي په پښتو يا بله ژبه سره اسلامي نومونه هم ليکلي وي لکه احمد يا محمود وغيره،ايا پر داسي فرشونو باندي ناسته ولاړه کول شرعا رواه ده که يا ؟ .

جواب : حضرت مولانا عبدالحی لکنوي رحمة الله عليه په خپل مشهوره فتاوی. فتاوی لکنوي کښې دسي ليکلي دي : داسي فرش چي په هغوی کښې دالله جل جلاله نومونه (اسلامي نومونه) ليکلي وي پر هغوی باندي ناسته ولاړه کول او هغوی هوارول او په استعمال کښې راوستل شرعا منع دي ځکه چي په دې کښې دالله جل جلاله يا دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دنومونو بې عزتي او بې حرمتي رائحي .

فتاوی سراجيه کښې ليکلي دي : چي هغه مصلی چي په هغه کښې دالله جل جلاله نومونه ليکلي وي ، يا تسبيحاتي په کښې ليکلي وي ، يا دقرآن کريم سورتونه او اياتونه په کښې ليکلي وي هغه بايد استعمال نه سي ، او زموږ په تيرو بزرګانو کښې ويوه بزرګ ته يو چا يوه مصلی چي سره پيچلې او کت وه تحفه کړه کله چي دابزرګ هغه مصلی خلاصه کړه نو چي ويې کتل دالله جل جلاله نومونه او سورتونه او اياتونه په کښې ليکلي وه نو يې حکم ورکړی چي دادي په يوه ښه لفافه او پوښ کښې وپيچل سي او لوړه دي په عزت سره کښېښوول سي .

داټوله قولونه او حکایت دد ې خبري راهنمايي ورکوي چي دداسي شيانو سره بايد يو مسلمان داحتياط او دقت معامله وکړي او دلاوبالۍ او لاپرواهۍ څخه دي اجتناب وکړي .

فاذا كتب اسم الله تعالى على البساط يكره بسطه والقعود عليه لان فيه ابتذال اسمآء الله تعالى .

(فتاوی اللكنوي ص ۴۰۴ باب مايتعلق بتعظيم اسم الله واسم حبيب الله وانبياء الله والصحابة والتابعين ومايتعلق به / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۵۸ /فتاوی سراجيه / مطالب المومنين)

په وريځو کښي چي ږغونه او رڼاوي وي دي دادڅه شي ږغونه دی.

سوال ۴ :کله چي وريځ پيدا سي نو بيا په دې وريځ کښي ږغونه او رڼاوي کيږي چي په اصطلاح ورته (تالنده او بريښنا يا پيلبو) وايي نو اوس پوښتنه داده چي دا ږغونه او رڼاوي دڅه شي دي او ولي کيږي ؟

جواب :په تفاسيرو کښي يې دنبي کريم ﷺ او يهودانو هغه بحث او مناظره را اخيستې ده کوم چي ددغه سوال جواب پکښي سوی دی چي هغه مناظره داده چي يهودان ونبي کريم ﷺ ته راغله او عرض يې وکړی چي ای ابوالقاسم صلی الله عليه وسلم دغه رعد څه شی دی ؟

نبي کريم ﷺ په جواب کښي ورته وفرمايل چي داد الله ﷻ دفرشتو څخه يوه ملکه ده چي په لاس کښي يې داورغمچينه ده چي وريځي په شړي وهغه ځای ته کوم چي الله ﷻ امر کړی وي بيا يهودانو عرض وکړی چي دغه اواز دڅه شي دی چي موږ يې دباران په وخت کښي اورو؟

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چي دا اواز دهمدې ملکي دی کوم چي الله پاک ﷻ پر وريځو او باران مقرره کړېده :نومعلومه سوه چي هغه ږغ چي موږ يې په اصطلاح تالنده بولو هغه دهغه ملکي کومه چي الله پاک جل جلاله پر وريځو مقرره کړېده دهغې دتسبيح اواز دی او کومه رڼا چي دباران اوريدلو په وخت کښي ښکاره سي چي په اصطلاح موږ ورته بريښنا يا پيلبو وايو دا دهمدې ملکي دغمچيني رڼا ده چي په ډېر سرعت او تېزۍ سره وريځي يوې او بلي خواته شړي والله اعلم بالصواب

(قال الله سبحانه وتعالى)هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ (١٢) وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ (سورةالرعد)

(قال العلامة آلوسي رحمه الله) عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما أن اليهود سألوا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا: أخبرنا ما هذا الرعد؟ فقال عليه الصلاة والسلام: ملك من ملائكة الله تعالى موكل بالسحاب بيديه مخراق من نار يزجر به السحاب يسوقه حيث أمره الله تعالى قالوا: فما هذا الصوت الذي نسمع؟ قال عليه الصلاة والسلام: صوته فقالوا: صدقت،

(وفي الاستذكار) وَرُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ الرَّعْدُ مَلَكٌ وَالْبَرْقُ مَخَارِقُ مِنْ حَدِيدٍ

(تفسير روح المعاني ج ۱۳ ص ۱۴۸ سورةالرعد مكتبه حقانيه/تفسير معارف القرآن ج ۵ ص ۹۶ پاره ۱۳ مكتبه حبيبيه/ عزيزالتفاسير ج ۶ ص ۴۰۱ سورةالرعد مكتبه دارالكنوز علمية/ جامع الترمذي ج ۵ ص ۲۹۴ باب ومن سورةالرعد مكتبه شامله بېروت/ الاستذكار ج ۸ ص ۵۸۸ باب القول اذاسمت الرعد مكتبه شامله بېروت/ مسند امام احمد ج ۴ ص ۲۸۵ حديث عبدالله بن عباس مكتبه شامله بېروت)

ايادګناهكاره سړي په وجه پرمحلې او كلي باندې آفتونه راځي ؟

سوال ۵ :دبعضي كسانو څخه موږ اوريدلي دي چي باران بندېدل؛او داسي نور آفتونه راتلل داد ګناهونو په وجه كيږي اوس پوښتنه داده چي ديوه كس ګناهونه كول پر كلي او محله باندي اثر كوي كه يا؟

جواب :ګناهونه دالله تبارك وتعالى جل شانله دقهر او غصې سبب جوړيږي نو كله چي يو كس ګناهونه كوي او خلك يې نه ځيني راګرځوي نو الله پاك ﷻ به پرداټوله محله باندي خپل رحمت بند كړي كله چي دالله ﷻ رحمت بند سي نو قهر به يې راځي او نبي كريم ﷺ په يوه حديث شريف كښي فرمايي چي يو كس به مړسي دغه كس به ددنيا دټوله افتونو څخه بيغمه سي او بل كس به مړسي ددنيا ټوله شيان به دده دشر او فساده څخه بيغمه سي اوپر ګناهكاره كس باندي حيوانات هم لعنت وايي

ځکه چي باران بندېدل دده د ګناهونو په وجه سره وي نو لهذا کله چي په يوه ټولنه کښي ګناهونه کيږي الله پاک ﷻ به پرهغه ټولنه او جامعه باندي قسم قسم تکليفونه او عذابونه راولي.

عَنْ أَبِي قَتَادَةَ بْنِ رِبْعِيٍّ الأَنْصَارِيِّ، أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرَّ عَلَيْهِ بِجِنَازَةٍ، فَقَالَ: «مُسْتَرِيحٌ وَمُسْتَرَاحٌ مِنْهُ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا المُسْتَرِيحُ وَالمُسْتَرَاحُ مِنْهُ؟ قَالَ: «العَبْدُ المُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَأَذَاهَا إِلَى رَحْمَةِ اللَّهِ، وَالعَبْدُ الفَاجِرُ يَسْتَرِيحُ مِنْهُ العِبَادُ وَالبِلاَدُ، وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ»

وقال الملا علي القاري رحمه الله)أَيْ: مَا مَعْنَاهَا أَوْ مَا بِمَعْنَى مَنْ. (فَقَالَ: " الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ) أَيْ: يَجِدُ الرَّاحَةَ بِالْمَوْتِ. (مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا) أَيْ: تَعَبِهَا بِالْأَعْمَالِ التَّكْلِيفِيَّةِ وَالْأَحْوَالِ الْكَوْنِيَّةِ التَّقْدِيرِيَّةِ. (وَأَذَاهَا) أَيْ: مِنَ الْحَرِّ وَالْبَرْدِ، أَوْ أَذَى أَهْلِهَا. (إِلَى رَحْمَةِ اللَّهِ) أَيْ: ذَاهِبًا وَاصِلًا إِلَيْهَا، وَمِنْ ثَمَّ قَالَ مَسْرُوقٌ: مَا غَبَطْتُ شَيْئًا بِشَيْءٍ كَمُؤْمِنٍ فِي لَحْدِهِ ; أَمِنَ مِنْ عَذَابِ اللَّهِ، وَاسْتَرَاحَ مِنَ الدُّنْيَا. قَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ: أُحِبُّ الْمَوْتَ اشْتِيَاقًا إِلَى رَبِّي، وَأُحِبُّ الْمَرَضَ تَكْفِيرًا لِخَطِيئَتِي، وَأُحِبُّ الْفَقْرَ تَوَاضُعًا لِرَبِّي. (وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ) وَهُوَ أَعَمُّ مِنَ الْكَافِرِ. (يَسْتَرِيحُ مِنْهُ) أَيْ: مِنْ شَرِّهِ. (الْعِبَادُ) مِنْ جِهَةِ أَنَّهُ حِينَ فَعَلَ مُنْكَرًا إِنْ مَنَعُوهُ آذَاهُمْ وَعَادَاهُمْ إِنْ سَكَتُوا عَنْهُ، أَضَرَّ بِدِينِهِمْ وَدُنْيَاهُمْ. (وَالْبِلَادُ) مِنَ الْعِمَارَاتِ وَالْفَلَوَاتِ. (وَالشَّجَرُ) أَيِ: النَّبَاتَاتُ. (وَالدَّوَابُّ) أَيِ: الْحَيَوَانَاتُ. قَالَ الطِّيبِيُّ: اسْتَرَاحَ الْبِلَادُ وَالْأَشْجَارُ ; لِأَنَّ اللَّهَ تَعَالَى بِفَقْدِهِ يُرْسِلُ السَّمَاءَ مِدْرَارًا، وَيُحْيِي بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَا حَبَسَ لِشُؤْمِهِ الْأَمْطَارَ. وَفِي حَدِيثِ أَنَسٍ: «أَنَّ الْحُبَارَى لَتَمُوتُ هَزْلًا بِذَنْبِ ابْنِ آدَمَ» ، وَخَصَّ الْحُبَارَى ; لِأَنَّهُ أَبْعَدُ الطَّيْرِ نُجْعَةً أَيْ: طَلَبًا لِلرِّزْقِ، وَإِنَّمَا تُذْبَحُ بِالْبَصْرَةِ، وَتُوجَدُ فِي حَوْصَلَتِهَا الْحَبَّةُ الْخَضْرَاءِ، وَبَيْنَ الْبَصْرَةِ وَبَيْنَ مَنَابِتِهَا مَسِيرَةُ أَيَّامٍ، وَجَاءَ أَنَّ الْحَيَوَانَاتِ تَلْعَنُ الْمُذْنِبِينَ بِسَبَبِ حَبْسِ الْقَطْرِ عَنْهَا بِذُنُوبِهِمْ.

(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج ۳ ص ۱۱۵۸ باب تمني الموت وذكره بيروت چاپ/ صحيح البخاري ج ۸ ص ۱۰۷ باب سكرات الموت مكتبه شامله بيروت/ صحيح مسلم ج ۲ ص ۶۵۶ باب ماجآء في مستريح والمستراح منه مكتبه شامله بيروت/ سنن النسائي ج ۴ ص ۴۸ باب استراحة

المؤمن بالموت مکتبه شامله بیروت / مسند امام احمد ج ۳۷ ص ۲۲۲ مکتبه شامله بیروت / مشکوة المصابیح ج ۱ ص ۵۰۳ باب تمني الموت وذکره مکتبه شامله بیروت / عمدة القاري شرح صحیح البخاري ج ۲۳ ص ۹۶ باب سکرات الموت مکتبه شامله بیروت)

دښځي پر ځټ باندي چي ویښتان شنه وي دادبوني دراتگ علامه ده ؟

سوال ۶ : موږ اوریدلي دي چي که چیري دیوې ښځي پرځټ باندي ویښته راشنه وي نو دادې علامه ده چي پر هغې ښځي باندي بن راځي دا خبره رشتیا او حقیقت لري که یا ؟

جواب : دانسان دبدن ویښته خپله دانسان خلقتي شی دی داد انسان په اختیار کښې نه دي چي یا دي ډیروي اویا دي لږ وي او یا دي نه وي دا خبره دشریعت دنګاه څخه هیڅ اصل او حقیقت نه لري فقط دښځو ترمینځ مشهوره سوېده او دا فقط توهمات دي انسان پرېشانه کوي بل خاص حقیقت نه لري انسان ته پکار دي چي دالله جل جلاله پر مقدراتو باندي صفا عقیده او یقین ولري چي هر څه دالله جل جلاله له طرفه مقدر دي څه چي هغه ذات کوي کیږي به او څه چي هغه دفع کوي هغه به دفعه کیږي .

حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مِينَاءَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ المَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ .

(مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۳۹۱ باب الفال والطیرة الفصل الاول قدیمي / صحیح مسلم کتاب الطب والرقي ،باب لاعدوی ولاطیرة ولاهامة ج ۲ ص ۲۳۰ قدیمي / صحیح البخاری کتاب الطب باب لاعدوی ج ۲ ص ۸۵۹ قدیمي / فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۲۳۱ مایتعلق بالسعادة والنحوسة)

خط په چپه لاس باندي لیکل .

سوال ۷ : ایا په چپه لاس باندي خط لیکل ګناه لري ؟

جواب : دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی : چي الله جل جلاله راسته طرف په هرشي کښې خوښوي تردې چي دڅپلی په پښو کولو او دسر په ږمونځو ولو کښې لا هم راسته طرف خوښوي . ددې حدیث شریف څخه داثابتیږي چي خط یا بل داسي ښه فعل باید په راسته لاس سره ترسره سي . که دیو چاعادت دچپه لاس دلیکلو وي نو کوشش کول پکار ده چي دغه عادت ختم کړل سي او هغه کار په راسته لاس ترسره سي . او که چیري دیو چا داسي عادت جوړ سوی وو چي

او س د هغه ختميدل مشکل دي نو بيا هم ناجائز او ناروا ه شرعا نه ورته ويل کيږي ځکه چي په حديث شريف کښې داسي الفاظ راغلي دي چي د دغه کس په وسه وي او که يې په وسه نه وه نو بيا مشکل نه لري .البته خلاف مستحب ورته ويلی سو .

عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَامُنَ فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى فِي التَّرَجُّلِ وَالِانْتِعَالِ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَذَكَرَتْ: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُحِبُّ التَّيَامُنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي طُهُورِهِ وَنَعْلِهِ وَتَرَجُّلِهِ» قَالَ شُعْبَةُ: ثُمَّ سَمِعْتُ الْأَشْعَثَ بِوَاسِطَ يَقُولُ: يُحِبُّ التَّيَامُنَ، فَذَكَرَ شَأْنَهُ كُلَّهُ، ثُمَّ سَمِعْتُهُ بِالْكُوفَةِ يَقُولُ: يُحِبُّ التَّيَامُنَ مَا اسْتَطَاعَ .

(الهداية ج ۱ ص ۳۳ سنن الطهارة مكتبه حنفيه / صحيح ابن حبان ج ۱۲ ص ۲۷۱ بيروت چاپ / المجتبي من السنن ، السنن الصغرى للنسائي ج ۸ ص ۱۸۵ / صحيح ابن خزيمة ج ۱ ص ۹۱ بيروت چاپ)

ايا ورجي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دتندي خوله ده ؟

سوال ۸ : نن سبا په عوامو کښې دغه خبره مشهوره ده چي ورجي دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دتندي خوله ده . ايا دغه خبره حقيقت لري که يا ؟ .

جواب : موږ چي کوم تفتيش او تلاش کړی دی دغه خبره مو ديو معتمد کتاب په حواله او سند سره نه ده پيدا کړې هغه څوک چي دا وايې هغه يې بايد ثبوت هم پيش کړي ،او بل طرف ته دا خبره ځکه صحت نه لري چي د حضرت عيسی عليه السلام په زمانه کښې چي داسمان څخه کوم دسترخوان د حضرت عيسی عليه السلام د دعا په برکت سره فرشتو راکښته کړی نو تفاسيرو دا خبره را اخيستې ده چي په هغه کښې ورجي هم وي او حال دا چي په هغه وخت کښې نبي کريم صلی الله عليه وسلم دنيا ته لا نه وو راغلی، نو بيا دا څنګه کيدای سي چي دا د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دتندي خوله ده ،او بله خبره دا چي په دې شيانو کښې خاص تحقيق کول هم ضروري نه دی ځکه چي نه يې په دنيا کښې څوک زيات تفتيش کوي او نه هم په قبر او آخرت کښې د دې په باره کښې پوښتنه کيږي .

وَأخرج عبد بن حميد وَابْن جرير وَابْن الْمُنْذر وَابْن أبي حَاتِم وَابْن الْأَنْبَارِي فِي كتاب الأضداد وَأَبُو الشَّيْخ عَن عَطِيَّة الْعَوْفِيّ قَالَ: الْمَائِدَة سَمَكَة فِيهَا من طعم كل طَعَام . وَأخرج ابْن أبي حَاتِم وَأَبُو الشَّيْخ عَن عِكْرِمَة أَن الْخبز الَّذِي أنزل مَعَ الْمَائِدَة كَانَ من أرز . فقد أخرج ابن جرير، وابن المنذر، وابن أبي حاتم عن عمار بن ياسر موقوفا ومرفوعا. والوقف أصح قال: أنزلت المائدة من السماء خبزا ولحما وأمروا أن لا يخونوا ولا يدخروا لغد فخانوا وادخروا فمسخوا قردة وخنازير وكان الخبز من أرز على ما روي عن عكرمة.

(التفسير الدرالمنثور ج ۳ ص ۲۳۶ الباب ۱۱۲ بيروت چاپ/ التفسير روح المعاني للعلامة آلالوسي ج ۴ ص ۶۰ بيروت چاپ)

يوڅوک وايي زه فلاني شي مريض کړم .

سوال ۹ : بعضي کسان دغه عادت لري چي کله دخوراک يا چيښاک شی سم پر ونه لګيږي نو بيا وايي چي زه دغه فلانکي شي مريض کړم ايا داسي ويل دشريعت دنګاه څخه رواه دي که يا ؟.

جواب : دهر مسلمان عقيده دقرآن کريم دايا تونو او دنبي کريم صلی الله عليه وسلم داحاديث مبارکه وو اود امت او مذهب دعلماوو او فقهاوو داقوالو په رڼا کښې داده چي په دنيا کښې هيڅ شی هم دالله جل جلاله بې ارادې څخه نه کيږي هرڅه دالله جل جلاله په ارده سره کيږي که نفع ده که ضرر دی، که صحت دی، که ناجوړي ده که فقر دی، که غنا ده .

او هرکله چي دادنيا دارالاسباب ده نو کله کله بنده ګان داسبابو په درجه کښې ديو شي نسبت يو سبب ته کوي چي مطلب يې دادی، چي دغه کارخو په حقيقت کښې دالله جل جلاله په اراده سره وسو البته سبب يې دغه خوراک يا چيښاک سو او هغه سبب ګرځوونکی هم په حقيقت کښې الله جل جلاله دی. نو که يو څوک دغه وايې چي زه فلانکي شي مريض کړم او دده عقيده داوي چي ظاهري او مجازي سبب دغه شی جوړ سو شرعا کوم مشکل نه لري . او که دده عقيده داوي چي دغه شی زما دمريضی حقيقي سبب دی، نو بيا خو دايو قسم شرک دی، چي قطعا يې اجازه نسته بلکي يوه غټه ګناه ده . او زموږ ګمان هم پر مسلمانانو باندي دادی، چي داسي

عقیده به نه لري ځکه چي داسي عقیده د مسلمان د شان سره نه ښایي . خو بیا هم که ونه ویل سي ښه به وي صفا دي وو ایي چي مریض یم یا ناجوړي یم ، یا مي صحت خراب دی، نه پوهیږم چي سبب به یې څه وي . والله اعلم

الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ (٧٨) وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ (٧٩) وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ (٨٠) وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ (٨١) وَالَّذِي أَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ (٨٢) (سورة الشعرآء) قلْ مَنْ ذَا الَّذِي يَعْصِمُكُمْ مِنَ اللَّهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا (١٧) (سورة الاحزاب)

دحمام دکاروبار څخه لاس ته راغلي روپي او ګټه حلاله ده که یا؟

سوال ۱۰ : دحمام دکاروبار څخه لاس ته راغلي روپي او ګټه حلاله ده که حرامه ؟ او حال دا چي په ځینو حمامونو کښې ږیري هم خریل کیږي او بیا په بدل کښې پیسې ځیني اخیستل کیږي .

جواب : حمامونه پر دوه قسمه دي یو قسم هغه حمامونه دي چي سلمانی نسته په کښې بس فقط خلک ورځي خپل غسل کوي بیرته راوزي نو ددې حما م دکاروبار څخه چي کومه ګټه لاس ته راځي که د شریعت د اصولو سره برابره وه نو حلاله ده یعني دچم او خم څخه خالي معامله وه .

دوهم قسم هغه حمامونه دي چي ږیري هم په کښې خریل کیږي او دسرونو ویښته هم په کښې د شریعت خلاف طریقې سره کوچني کیږي نو دداسي کاروبار څخه راغلې ګټه شرعا حرامه ده ځکه چي ږیره خریل په شریعت کښې حرام عمل دی او دحرام عمل څخه چي کومه ګټه لاس ته راسي نو هغه ګټه هم حرامه ده .

وفى الدرالمختار : فَإِذَا ثَبَتَ كَرَاهَةُ لُبْسِهَا لِلتَّخَتُّمِ ثَبَتَ كَرَاهَةُ بَيْعِهَا وَصِيَغِهَا لِمَا فِيهِ مِنْ الْإِعَانَةِ عَلَى مَا لَا يَجُوزُ وَكُلُّ مَا أَدَّى إلَى مَا لَا يَجُوزُ لَا يَجُوزُ وَتَمَامُهُ فِي شَرْحِ الْوَهْبَانِيَّةِ

وفی تبیین الحقائق : لایجوز علی الغناء والنوح والملاهی لان المعصیة لایتصور استحقاقها بالعقد فلا یجب علیه الاجر......... وان اعطاه الاجروقبضه لایحل له ویجب علیه رده علی صاحبه .

تبیین الحقائق ج ۶ ص ۱۱۹ کتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة بیروت / الدر المختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۳۶۰ فصل في اللبس کتاب الحظر والاباحة سعید چاپ / حاشیة الشلبي علي هامش التبیین للزیلعي ج ۷ ص ۱۰۸ کتاب الاشربة دارالکتب العلمیة بیروت لبنان / مجمع الانهر ج ۲ ص ۵۳۰ فصل في الاکل کتاب الکراهیة داراحیاء التراث العربي بیروت / فتاوی محمودیه ج ۱۹ ص ۴۲۷ باب خصال الفطرة)

دموټر او موټرسایکل بې حده زغلول سخته ګناه ده .

سوال ۱۱ : که چیري یو کس موټر یا موټرسایکل بې حده زغلوي او بیا غوزار سي خپله خوږ سي یا بل څوک خوږ کړي نو ایا دی په دغه فعل سره ګناهګاره دی که یا ؟

.

جواب : په قرآن کریم کښې د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی : وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا (۲۹) سورة النساء) او بل ځای بیا داسې ارشاد مبارک دی: وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ... (۱۹۵) سورة البقرة) یعني خپل ځانونه مه قتلوئ ځکه چي الله جل جلاله پر تاسي باندي ډیر زیات مهربان دی . او په خپلو لاسونو باندي ځانونه په هلاکت کښې مه اچوی ،او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی : چي په اسلام کښې نه خپل ځان ته ضرر او نقصان رسول سته او نه بل چاته ضرر او نقصان رسول رواه دي، او دا هم حدیث شریف دی چي نبي کریم صلی الله علیّ وسلم فرمایي : کامل مومن یا مسلمان هغه کس دی چي نور مسلمانان د ده د لاس او ژبي د شره څخه په امن کښې وي . دا ده اسلام عمومي حکمونه دي چي په هر ځای او هر محل کښې جاري کیږي نو د دغه ارشاداتو په رڼا کښې که چیري د موټرانو او وساېلو دنن سبا وزغستا او زغلولو ته فکر وکړو چي ډیری کسان د موټر چلولو

جواز هم نه لري او نه هم مسلکي تجربه لري . نو دا خبره به تر لمر ښکاره معلومه سي
چي په دغه زغستا او زغلولو کښې هم خپل ځان ته نقصان رسول دي او هم بل
مسلمان ورور ته لهذا دغه عمل د شریعت او عقل دواړو د نګا څخه ناروا او ناجائز
عمل دی داسي کسانو ته باید د قانون په چوکاټ کښې سزا ورکول سي ځکه چي هم
ځان ته او هم بل ته نقصان رسوي .
وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ... (١٩٥) سورة البقرة) وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ
بِكُمْ رَحِيمًا (٢٩) سورة النساء) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ، قَضَى أَنْ لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ . عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالمُهَاجِرُ مَنْ
هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْه .

(سنن دار قطني ج ۴ ص ۱۴۶ / ابن ماجة كتاب الاحكام ص ۱۷۰ باب من بني في حقه / صحيح البخاری ج ۱ ص ۱۱ / الفتاوی القاسميه ص ۲۰۹ مكتبه قاسميه / الفقه الحنفي ص ۱۷۴)

دنن سبا عشق مجازي يا په بله اصطلاح مينه کول .

سوال ۱۲ : مینه کول د څنګه ده ؟ او دنن سبا مروج غیر مشروع تعلقات د انجونو یا
کشرانو هلکانو سره ساتل شرعا څنګه دي ؟.

جواب : دا یو داسي لنډ او مبهم سوال دی چي هیڅ مطلب یې ښکاره نه معلومېږي
چي د سوال کوونکي د مینې څخه د چاسره مینه مراد ده ؟ که چیري د دغه سوال
د مینې څخه د الله جل جلاله او دهغه د رسول صلی الله علیه وسلم مینه او محبت مراد
وي خو دا یو داسې شی دی چي په شریعت کښې مطلوب دی او د انسان دژوند
اصلي مقصد هم د خپل رب جل جلاله او دهغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره مینه
او محبت او دهغوی خبره منل دي .
او که چیري د سوال کوونکي مقصد د دغه مینې څخه دنن سبا مجازي مینه مراد وي
چي په حقیقت کښې مینه هم نه ده بلکه یو مجازي او جعلي قسم عشق دی . او موږ نه
پوهیږو چي پر دغه مجازي عشق باندي یې د مینې نوم کوم نادان شخص ایښی دی ؟نو

بیا د سوال جواب ډېر مفصل راځي خو موږ به کوشش وکړو چي خپل تر وسه او طاقته یې په مختصر او لنډو الفاظو درته پېش کړو .

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمة الله علیه لیکلي دي : چي د غیر محرم ښځي یا نارینه (ښایسته) سره یو قسم تعلقات جوړول هغه نو که هغه ته په کتلو سره وي ، یا د هغه دزړه د خوشحالولو د پاره په یوازي والي او تنهایي کښې خبري کول وي ، یا په خلوت کښې د هغه سره کښېناستل ، یا د هغه دزړه د خوشحالولو د پاره خپل لباس ښایسته کول او خپل خبري نازکي او نرمي جوړول او داسي نور او نور . حقیقت دادی چي د دغه تعلق څخه چي کومي کومي خرابیاني راپیدا کیږي او انسان د کومو مصیبتونو سره مخ کیږي دا هغه څه دي چي حکیم الامت رحمة الله علیه فرمایي چي زه یې د کاغذ پر مخ باندي دلیکلو او راوړلو څخه عاجزه یم (او کومو کسانو چي دغه دریاب ته ځان اچولی دی هغوی ته به ښه معلومه هم وي) .

خلاصه دا چي عشق مجازي یو قسم عذاب الهي دی څنګه چي په دوږخ کښې انسان د مرګ او ژوند تر مېنځ پریشانه وي نه مري او نه رغیږي همدا شان د بد نظری (نارینه او ښځي لره یو بل ته کتل) څخه وروسته چي کله انسان په عشق مجازي کښې مبتلا سي نو بې اوره کباب او سوزي همدا شان د خوب غوندي اعلی نعمته څخه محرومي د دغه باب اوله جائزه او تحفه ده ،دین او دنیا دواړه په کښې تباه کیږي او آخر کار په لیونتون او مرستون کښې دده میلمیستیا وي ،که چیري دلیونتون او مرستون داوسیدونکو مردم شماري وسي نو نوي فیصده به د عشق مجازي مریضان وي چي اکثره یې دټي وي او تلویزون ، وي سي آر ،سینما ، او غیر اخلاقي ناولونو یا دنن سبا دهندي یا انګریزي ډرامو دکتلو څخه وریبښه وي (او داچي موږ لینتون یا مرستون نه لرو هغه بیا بله خبره ده) .

تر بد نظری (نارینه او ښځي لره یو بل ته کتل) وروسته چي کله انسان په عشق مجازي باندي مبتلا سي نو کله کله د ګناه نوبت هم راځي بیا نو په داسي صورت کښې فاعل او مفعول دواړه دهمېشه د پاره ذلیله او شرمنده وي او هیڅکله بیا یو او

بل ته د شرم دلاسه کتلای هم نه سي ،څنګه چي یو مشفق او مهربانه پلار دا غواړي چي زما زوی دي په عزت سره ووسیږي او دیو بد فعلۍ په ذریعه دي ذلیله نه سي همدا شان الله جل جلاله دا غواړي چي زما بنده دي دیو ذلیل فعل دوجي څخه رسوا او سپک نه وي او په تقوی سره دي دعزت ژوند او زندګي تر سره کړي پر حلالو باندي اکتفاء وکړي او دحرامو څخه اجتناب وکړي ، او تاسي ته دا ښه معلوه ده چي په دغه عشق مجازي کښې عشق کوونکي په اول قدم کښې په بد نظرۍ کښې مبتلا سي او بد نظري هغه ناروا عمل دی چي په حدیث شریف کښې یې صراحةً او ښکاره منع راغلې ده او پر کوونکي باندي یې لعنت راغلی دي . نبي کریم صلی الله علیه فرمایي دا الله جل جلاله لعنت دي وي پر هغه کس باندي چي نامحرمو ښځو ته ګوري او دا الله جل جلاله لعنت دي پر هغه ښځي باندي وي چي د نامحرمو کسانو مخ ته راځي او ځان دهغوی دنظر ښه ګرځوي ، نور خپله سر خلاص کړئ چي دا ښرا دیو عام بنده ښراه نه ده بلکي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم ښرا ده چي په قبولیت کښې یې یوه ذره شک هم نسته او داخبره هم موږ او تاسي ته ښه معلومه ده چي دغه عشق مجازي یا مینه بېله بد نظرۍ او رفتار وګفتار څخه ناممکنه ده .

خبري ډیریږي دټولو خلاصه دا ده چي دغه دنن سبا مینه چي یا دبل دانجونو سره کیږي یا دکشرانو هلکانو سره کیږي دا یوه ګناه نه ده بلکي دډیرو ګناهونو مجموعه ده داسي ګناهونه چي ددنیا او دآخرت دتاوانونو سبب او ذریعه ګرځي ، ددنیا تاوان یې دادی چي ښایسته ځواني او صحت او ښه فکر و مفکوره دلاسه ورکول کیږي انسان لېوتنوب ته نژدې کیږي او دآخرت تاوانونه یې هغه دي چي الله جل جلاله او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم ناراضه او خفه وي ،په یو څه بې ادبانه انداز به دادرته ووایم چي فقط دیو څو ورځو دځوانۍ بخار دی کله چي دا بخار کښته سي نه بیا مینه وي او نه هم محبت بلکي د یو ناروا غرض دسرته د رسوولو دپاره یو څو ناکامي هڅي دي .

ددې معاشرتي ناسور علاج څه دی ؟

ددې روحاني ناجوړۍ څخه د ځان او اولاد او ملګرو د ساتلو ښه علاج دادی چې صحبت او ناسته پاسته وتعلقات د بدو خلګو سره ختم سي د نیکانو صحبت او ملګرتیا اختیاره سي ، او د پلار ذمه داري د اولاد دپاره که نارینه وي که ښځینه وي داده چې کله بلوغ ته ورسیږي نور یې د کوزدې او واده غم و خوړل سي ځنډ په کښې رانه سي ، الله جل جلاله دې موږ او تاسو ټولو ته د الله جل جلاله او دهغه د رسول حقیقي او اصلي مینه و محبت رانصیب کړي آمین .

که څوک غواړي په دغه باره کښې زموږ د دیوبند د علماوو او اکابرینو نصیحتونه او خبري وګوري نو د حضرت مولانا شا حکیم اختر صاب رحمه الله تعالی یوه رساله په نامه د (بدنظري او عشق مجازي او دهغه تباکاریاني) دا رساله دې وګوري چې زړه ته به یې ډیر سکون او اطمینان حاصل سي .

قال العلامة آلوسي رحمه الله تعالى : إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِما يَصْنَعُونَ لا يخفى عليه شيء مما يصدر عنهم من الأفاعيل التي من جملتها إجالة النظر واستعمال سائر الحواس وتحريك الجوارح وما يقصدون بذلك فليكونوا على حذر منه عز وجل في كل ما يأتون وما يذرون .

وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَعَنَ اللَّهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ .

(مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۹۳۶ بَاب النّظر إِلَي المخطوبة وَبَيَان العورات الفصل الثالث بیروت چاپ / تفسیر روح المعاني سورة النور آیت ۳۰ / ج ۹ ص ۳۳۴ بیروت چاپ مکتبه شامله / دبد نظرۍ او عشق مجازي تباه کاریاني رساله مولانا شا حکیم اختر صاب / تفسیر ابن کثیر ج ۲ ص ۵۹۸ سورة النور مکتبه شامله بیروت چاپ)

په کوزده او واده کي پر ذوم باندي خوږه خواني کول

سوال ۱۳ : زموږ په معاشره کښې یو عادت او رواج دا دی چې پس له ټړلو د نکاح په وخت کي د کوزدې یا پسله مراسمو د واده د زوم قریبان پر زوم باندي خوږې او شیریني پاشي او یا دغه خوږې د دسملو نو سره راوړي ایا دغه طریقه خوبه په ناروا رسمونو کي نه راځي؟

جواب : په فتاوی سراجیه کي لیکلي دي چې شرعا خاص مشکل او حرج نه لري .

لاباس به کما في السراجيه،

(نفع المفتي والسايل تاليف اللكنوي رحمه الله تعالي ج ۱ ص ۴۸۴)

ایا د کور یا د کنبت او کروندې دساتنې دپاره سپي درول او ساتل رواه دی ؟

سوال ۱۴: موږ او ربډلي دي چې په کوم کور کي سپی وي هغه کور ته ملائکې یا فرښتې نه راځي لیکن موږ مجبوره یو د حالاتو څخه د خپل کور د ساتني لپاره مو سپی درولی دی آیا موږ په دغه کار سره د خدای جل جلاله په نزد مجرمان یو که یا ؟

جواب: په حدیث شریف کښې راځي چې داسي کور ته د رحمت ملکي او فرښتې نه راځي په کوم کور کي چې سپی وي یا عکسونه وي .

د ممنوعه سپي څخه مراد هغه سپی دی چې د شوق او خوند یاد جنګ لپاره یې پر کور ساتي لیکن (کلب صید ، کلب ماشية، کلب الحراسة) یعني د ښکار سپی، د رمې د ساتلو سپی، د کور د حفاظت سپی ځیني مستثنی او وتلي دي داسي سپی که وي نو بیا هم د رحمت فرښتې راځي کورته شرعًا دداسي سپي پالل روا ښبت لري .

عَن أبي طَلْحَة رضي الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا تصاوير.

وفى الفتاوى الهندية : وفي الأجناس لا ينبغي أن يتخذ كلبا إلا أن يخاف من اللصوص أو غيرهم .... ويجب أن يعلم بأن اقتناء الكلب لأجل الحرس جائز شرعا وكذلك اقتناؤه للاصطياد مباح وكذلك اقتناؤه لحفظ الزرع والماشية جائز كذا في الذخيرة.

(مشكاة المفاتيح ص ۳۸۵ كتاب اللباس باب التصاوير الفصل الاول قديمي چاپخانه / الفتاوى الهندية كتاب الكراهية ج۵ ص ۳۶۱ مكتبه رشيديه / بذل المجهود ج۵ ص ۶۸ كتاب اللباس باب التصاوير قديمي چاپ خانه / فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۴۷۱ باب الصورة والاخلاص / فتاوى رحيميه ج۱۰ ص ۲۸۰)

ایا پر تعمیر او سرای پیسې خرڅول اسراف دی ؟

سوال ۱۵: د ترمذي شریف حدیث دی چې (النفقة كلها في سبيل الله الا البناء فلا خير فيه) ژباړه: ټوله خرڅ د انسان د الله جل جلاله په لاره کي شمېرل کیږي ماسوا د هغه

پیسو او دولت څخه چي پر تعمیر او د کور په جوړولو کي یې انسان مصرفوي په دې کښې هېڅ خیر نسته دا حدیث خو مطلق دی حالانکه کله کله د تعمیر او د کور و جوړلو ته سخت ضرورت وي که چیري پر هر قسم تعمیر او کور جوړولو پیسې خرڅول ګناه وي دا خو موږ ته وله په اخته یو او زموږ چاره یې څه؟

جواب: د حدیث مطلب دا دی تر حاجت او ضرورت زیات تعمیر جوړول او بلا ضرورت زیب وزینت هغه ته ورکول چي د اخرت څخه د غافله کېدو سبب جوړ سي په داسي تعمیر جوړولو کي خیر نسته، او که د ضرورت لپاره وي بیا خو هېڅ ګناه نسته.

حضرت مفتي شفیع صاحب رحمه الله تعالی هم په معارف القرآن کي فرمایي : بغیر دضرورت څخه مکان او تعمیر جوړول شرعا بد او مذموم عمل دی .

قال الله تعالى فى القرآن الكريم : أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ (١٢٨) سورة الشعراء

(فتاوی رشیدیه ص ۱۶۷ / مسائل معارف القرآن ص ۱۹۰ / معارف القرآن ج ۱ پ ۱۹ ص ۸۱ مکتبه حبیبیه)

له سهار تر ماښامه ددنیا په غم سرګردانه وي او آخرت یې هیر وي ؟

سوال ۱۶ : یو انسان د سهاره څخه تر ماښامه پوري د دنیا په ګټلو او راټولو مصروفه وي دین او آخرت ته یې چنداني توجه نه وي داسي ګټه او کسب روا دی که یا؟

جواب: د دنیا او مال په ګټلو کي په دومره اندازه مصروفه کېدل چي د الله جل جلاله په حقوقو او د بنده په حقوقو کي خلل راسي، او پر جسماني او دماغي صحت باندي اثرات پرېوزي دا جائز نه دی د دین او آخرت د اعمالو پورا نګراني باید وسي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ (٩) سورة المنافقون .

(التفسیر المنیر ج ۱۴ ص ۶۱۱ / التفسیر القرطبي ج ۱۸ ص ۱۱۶ / التفسیر المظهري ج ۹ ص ۳۰۸ ، ۳۰۹ / معارف القرآن ج ۱۰ پ ۲۸ ص ۱۴۹ مکتبه حبیبیه / احسن الفتاوی ج ۸ ص ۹۳)

ایا پر بغلونو باندي لاسونه ایښوول ښه کار دی ؟

سوال ۱۷: ایا رشتیا پر خپلو بغلونو باندي لاسونه ایښوول د شریعت له نظره ناخوښه کار دی؟

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چي لاسونه پر خپلو بغلونو تکیه کول کول او دا د ځان عادت جوړول مکروه کار دی په عربي کي دې ته تخصر وایې د لمانځه د باندي او دننه په دواړو کي کراهیت لري.

لما فی الفتاوی الهندية : ويكره أن يضع يده على خاصرته كذا في فتاوى قاضي خان ويكره التخصر أيضا خارج الصلاة كذا في الزاهدي .

(ان الشيطان لما اخرج من الجنة اختصر فذلك يكره وفي الحميدى معنى النهي فيه انه راحة اهل النار وفى الروضة ان اهل النار لما ضربوا صنعوا ايديهم على الخاصرة.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۰۶ مکتبه رشیدیه / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۷۵ / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۶ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۵۰۴ مکتبه رشیدیه / فتاوی اللکنوي ص ۴۸۵)

دمرغانو او چوغوکو ساتل په قفس کي څنګه دي؟

سوال ۱۸: د شریعت مقدسه دنظره څخه مرغان او چوغوکي د ښایست په خاطر روزل او په قفس کي بندول همدا شان په باغ وحش کښي حیوانات د انساني تفریح په خاطر په پنجرو کښي بندول او دغه شان د شوق لپاره حلال مرغان په قفس کښې ساتل دریز او اوازونو لپاره څنګه دي؟

جواب: روا او حلال مرغان روزل او ساتل او پالل پر کور باندي شرعاً روا ایښت لري په دې شرط چي چي جنګوي به یي نه او په دې شرط چي د خوراک او چیښاک انتظام به یې کوې او په دې شرط چي بل کوم خاص تکلیف او ازار به هم نه ورته رسول کیږي امام بخاري رحمه الله تعالی په کتاب اداب المفرد کښي یو روایت ذکر کړی دی چي ځیني صحابه کرامو رضي الله عنهم به مرغان پالل والله اعلم.

«عَنْ أَنَسٍ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: إِنْ كَانَ النَّبِيُّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – لَيُخَالِطُنَا حَتَّى يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ: " يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟ " كَانَ لَهُ نُغَيْرٌ يَلْعَبُ بِهِ فَمَاتَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وفی مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح : وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ: فِيهِ فَوَائِدُ، مِنْهَا:............: وَإِنَّهُ لَا بَأْسَ أَنْ يُعْطَى الصَّبِيُّ الطَّيْرَ لِيَلْعَبَ بِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُعَذِّبَهُ.

(مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۴۱۶ باب المزاح / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۹ ص ۱۰۷ / التعليق الصبيح ج ۵ ص ۲۰۲ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۵ ص ۵۰۸ باب احكام الطيور)

ايا چارزانو کښېنستل روادي ؟

سوال ۱۹ : ايا چارزانو کښېنستل رواه دي شرعا که يا ؟

جواب : که چيري چارزانو ناسته يو څوک دکبر او لويې دوجې څخه کوي نو خو مکروه ده او که يې داکښېنستل مطلقا عادت وي دکبر او لويې نيت نه لري نو بيا رواده .

عن جابر بن سمرة، قال: «كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا صلى الفجر تربع في مجلسه حتى تطلع الشمس حسناء .

(سنن ابي داود ج ۴ ص ۲۶۳ باب في الرجل يجلس متربعا / مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۵۰۶ ، ۵۱۹ / شرح النووي علي المسلم ج ۱۴ ص ۷۸ / فيض القدير ج ۵ ص ۱۴۶ / فتاوى اللكنوي ص ۴۸۲)

دداسي سپيانو وژل چي خلګ ځيني په تکليف وي .

سوال ۲۰ : موږ دمازداو و او موټرانو په استهاپ کښې دوکانونه لرو په دغه ساحه کښې دغه بې مالکه او بې خاونده سپي ډېر زيات دي په خلګو او موټرانو پسې زغلي هم او غاپي هم او ډېر زيات هم دي خلاصه دا چي خلګ ځيني په تکليف دي پو ښتنه دا ده چي ددغه سپيانو وژل موږ ته رواه دي که يا ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي چي سپي او پيشي په عامو حالاتو کښې يې وژل نه دي رواه ، ليکن که ددوی دوجي څخه يو چاته تکليف او نقصان رسېدی نو په داسي وخت کې بياد هغوی وژل رواه دي ،البته په وژلو کښې داسي طريقه بايد اختياره سي چي ژر او په تلواره سره يې روح وخيژي او زيات تکليف ورته ونه رسيږي .

لما فی تنويرالابصار مع الدرالمختار : (وجاز قتل ما يضر منها ككلب عقور وهرة تضر ويذبحها ای الهرة ذبحا ولايضر بها لانه لايفيد ولايحرقها .

ولما فی الفتاوی الهندية : قَرْيَةٌ فِيهَا كِلَابٌ كَثِيرَةٌ وَلِأَهْلِ الْقَرْيَةِ مِنْهَا ضَرَرٌ يُؤْمَرُ أَرْبَابُ الْكِلَابِ أَنْ يَقْتُلُوا الْكِلَابَ فَإِنْ أَبَوْا رُفِعَ الْأَمْرُ إلَى الْقَاضِي حَتَّى يُلْزِمَهُمْ ذَلِكَ كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ.

(تنویر الابصار مع االدرالمختار ج ۱۰ ص ۴۸۲ طبع امدادیه / الفتاوی الهندیة ج۵ ص ۳۶۰ طبع رشیدیه / البحرالرائق ج ۴ ص ۲۰۰ طبع ایچ ایم سعید / ردالمحتار ج ۲ ص ۵۷۰ کتاب الحج باب الجنایات سعید چاپ / فتاوی محمودیه ج ۱۸ ص ۲۸۲ باب الانتفاع بالحیوانات طبع جامعه فاروقیه /فتاوی عبادالرحمان ج ۵ ص ۲۹۸ کتاب الحظر والاباحة مکتبه دارالافتاء والتحقیق)

لڅ سر او لڅي پښې ګرځېدل رواه دي که یا ؟

سوال ۲۱ : لڅ سر او لڅي پښې ګرځېدل او اوسېدل رواه دي که یا ؟

جواب : خولۍ ، لنګوټه او چمپل او څپلۍ په پښه کول سنت کار دی او هغه وضع او قطع چي د سنت طریقې څخه مخالفه وي د هغې په بدوالي کي هیڅ شک او شبه نسته نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر دواړو کارونو یعني پټ سر او پټو پښو باندي پابندي او مواظبت کړی دی . اولڅ سر ګرځېدل او عادت جوړول نن سبا د فساقو او فجارو شعار او عادت دی نو ډېر قباحت په کښې دی او همداشان لباس د الله جل جلاله یو لوی نعمت دی چي زینت هم دی او دیخ او ګرمۍ څخه د حفاظت سبب هم دی او د نعمت ترک کول او پرېښوول د نعمت ناشکري بلل کیږي .

(احسن الفتاوی ج۸ ص ۱۸۲ متفرقات الحظر والاباحة)

غیر سید کس ځان ته سید وایي داسي کول رواه دي ؟

سوال ۲۲ : که چیري یو غیر سید کس را ولاړ سي ځان ته سید وایي ایا داسي کول د شریعت د نګاه څخه رواه دي که یا ؟ یعني خپل نسب بدلول او بل لوړ یا کښته نسب ته د ځان نسبت کول .

جواب : كه چيري في الواقع دغه كس د نسب په اعتبار سره سيد نه وي او بيا هم ځان ته سيد وايي او پر دغه كار باندي مصر هم وي نو داسي شخص ګناهګاره دی په حديث شريف كي پر داسي كسانو باندي لعنت راغلی دی او دداسي عادت ته څخه اجتناب كول لازمي دي .

لما ذكر العلامة سلطان محمد القاري رحمه الله تعالى فى مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح : مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ أَوْ تَوَلَّى غَيْرَ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صرف وَلَا عدل .... (وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: " مَنِ ادَّعَى) : أَيِ انْتَسَبَ (إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ) ، أَيِ: الْمَعْرُوفِ (أَوْ تَوَلَّى غَيْرَ مَوَالِيهِ) : هَذَا الْعَطْفُ يُؤَيِّدُ مَنْ فَسَّرَ الْمُوَالَاةَ بِوَلَاءِ الْعِتَاقَةِ (فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ)

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۵ ص ۱۸۷۱ باب حرم المدينة / مشكاة المصابيح ج ۱ ص ۲۳۹ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۸ ص ۲۸۰ / فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۳ ص ۲۳۵ / صحيح البخاري ج ۲ ص ۶۱۹ مكتبه شامله)

كتاب الفرائض

دشهيد دكالو حكم.

سوال ۱ : يو كس شهيد سو او نور مال يې پر وارثانو تقسيم سو صرف كالي يې پاته دي او س پوښتنه داده چي ايا دغه كالي يې يو چا ته وركړو او كه يې پر وارثانو تقسيم كړو ؟

جواب: د چا په ملكيت كښي چي څو مره شيان هم وي د هغه له مرګ څخه وروسته ټول دهغه تركه شمارل كيږي كه د مرحوم جايداد وي يا نقدي روپۍ وي يا كور وي يا د كور سامان وي په دغو ټولو شيانو كښي به ميراث جاري كيږي او پر وارثانو به وېشل كيږي .

(لما قال العلامة الزيلعي رحمه الله في تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق : وَالْمُرَادُ مِنْ التَّرِكَةِ مَا تَرَكَهُ الْمَيِّتُ خَالِيًا عَنْ تَعَلُّقِ حَقِّ الْغَيْرِ بِعَيْنِهِ،

(تبيين الحقائق ج ۶ ص ۲۲۹ كتاب الفرائض بيروت چاپ/ الفتاوى الهندية ج ۶ ص ۴۴۷ كتاب الفرائض مكتبه رشيديه/ الشريفه شرح سراجي ص ۳ كتاب الفرائض مكتبه حقانيه/ البحرالرائق ج ۸ ص ۵۵۷ كتاب الفرائض بيروت چاپ مكتبه شامله/ قرةعين الاخيار لتكمله ردالمحتار ج ۷ ص ۳۵۰ كتاب الفرائض بيروت چاپ مكتبه شامله/ فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۴۷۰ كتاب الفرائض)

دڅلورو ښځو دمېړه په ترکه کښي شرعي حصه.

سوال ۲ : ديوه سړي څلور ښځي دي او دهغه دوفات وروسته څلو واړه ژوندۍ دي نوايا هري يوې ته به له پاته سوي مال څخه اتمه(۸) ورکول کيږي او که دټولو په ګډه سره اتمه حصه وي چي پر هغوی به برابره وېشل کيږي ؟

جواب : اسلام داولاد په موجودوالي کښي دښځي لپاره اتمه حصه مقرره کړېده خواه که يوه وي او که ډيري ،او که چيري يې اولادونه درلودل نو دهغي لپاره څلورمه حصه مقرره ده نو ځکه په صورت مسئله کښي به دمرحوم دټوله جايداد څخه په يو ې اتمه حصه کي دهغو څلور واړه ښځو حق دی او دا به پر دوی باندي برابر وېشل کيږي اوباقي نور مال به دمرحوم پراولادونو اونورو وارثانو باندي تقسيمږي .

لما قال العلامة السجاوندي رحمه الله فى السراجي :اما للزوجات فحالتان الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد وولدالابن وان سفل والثمن مع الولد وولدالابن وان سفل

(السراجي)

(وفى الهندية) وَلِلزَّوْجَةِ الرُّبُعُ عِنْدَ عَدَمِهِمَا وَالثُّمُنُ مَعَ أَحَدِهِمَا، وَالزَّوْجَاتُ وَالْوَاحِدَةُ يَشْتَرِكْنَ فِي الرُّبُعِ وَالثُّمُنِ وَعَلَيْهِ الْإِجْمَاعُ،

(السراجي ص ۷ ،۸ باب معرفة الفروض مكتبه رحمانيه/ فتاوى عالمگيريه ج ۶ ص ۴۵۰ الباب الثاني في ذوي الفروض رشيديه / الاختيار لتعليل المختار ج ۵ ص ۸۶۰ كتاب الفرائض بيروت/ فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۴۷۳ كتاب الفرائض)

يو وار وارثانو تقسيم سره وکړی اوس بيا دعوه کوي دماتولو .

سوال ۳ : که چيري يو وار دوارثانو په مينځ کښې تقسيم وسي او اوس بيا يو وارث دعوه کوي چي دا تقسيم دي مات سي نو ايا قاضي به يې فيصله اوري که يا ؟

جواب : خلاصه دا چي که چيري يو وار دوارثانو تر مينځ تقسيم وسي او بيا وروسته په وارثانو کښې يو کس راولاړ سي دعوه وکړي نو شرعا به يې قاضي دعوه نه اوري

البته که چیري دیو چا سره ظلم او زیاتی سوی وي نو خو بیا د قاضي دروازه دهر مظلوم پر طرف باندي خلاصه ده .

ولو تقا سم الورثة التركة ثم ادعى احدهم انها ملكه واراد نقض القسمة لاتسمع دعواه

(القضاة والمفتين ص ۵۵ / جامع الفوائد ص ۲۴۳ / فتاوی هادیه ج ۲ ص ۱۸۲)

پلار خپل په ژوند کښې وخپلو اولادونو ته وېش او تقسیم وروکړی .

سوال ۴ : که چیري یو پلار را ولاړسي خپل په ژوند کښې وخپلو اولادونو ته تقسیم وروکړي او هغه وېشل سوی شی په قبضه کښې هم ورکړي نو بیا دغه اولادونه دپلار په ژوند کښې یاد پلار تر مرګ وروسته یو دبل په حق کښې حصه لري که یا ؟

جواب : که چیري یو پلار خپل په ژوند کښې دتندرستۍ او جوړالي په حالت کښې خپل اولادونو یعني لوڼو او زامنو ته کوم شی ورتقسیم کړي یعني ورته هبه او بخښنه یې کړي او خپله قبضه ختمه کړي ددوی قبضه پر ولګوي نو دغه شی بیا ددغه اولادونو ملکیت ګرځي . هغه نو که زباني هبه وي او که لیکلې هبه وي فرق نه کوي هغه شی بیا په آینده کښې میراث او ترکه نه بلل کیږي او نه هم په دغه هبه کړل سوو شیانو کښې بل وارث حق لري ، او اختیار هم پلار ته دی چي چاته لږ ورکوي او چاته ډیره ورکوي ، البته که چیري پلار په دغه تقسیم سره دیو وارث دمحرومه کولو یا هغه ته دتاوان درسولو نیت وکړي نو په دې باندي بیا پلار ګناهګاره دی ځکه پلار ته پکار ده چي ټولو اولادونو ته برابري برابري حصې ورکړي دهلک او انجلۍ دحصې فرق دي نه کوي ،ځکه چي دهلک او انجلۍ دحصې فرق په میراث کښې راغلی دی او دا میراث نه دی هبه او بخښنه ده .

یلزم ان یکون الموهوب مال الواهب فلو وهب واحد مال غیره بلا اذنه لاتصح الهبة ای لاتنعقد لاستحالة تملیک مالیس بمملوک للواهب .... لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالى فی الدرالمختار على هامش ردالمحتار : وتتم الهبة بالقبض الکامل .....

(شرح المجلة لسلیم رستم باز رقم المادة ۸۵۷ ج ۱ ص ۴۷۱ کتاب الهبة الباب الثالث في احکام الهبة / مکتبه حنفیه کوئټه / الفتاوی الهندیة کتاب الهبة الباب الاول الخ ج ۴ ص ۳۷۴ مکتبه

رشيديه / الدرالمنتقي علي هامش مجمع الانهر كتاب الهبة ج ۳ ص ۴۹ مكتبه غفاريه كوئټه /فتاوى محموديه ج ۲۴ ص ۶۲ كتاب الهبة)

دلوڼو دميراث څخه دمحرومه كولو حكم .

سوال ۵ : په ځينو علاقو كښې دغه يو قسم رواج راروان دی چې دپلار په تركه او ميراث كښې لوڼو ته حصه نه وركول كيږي ايا داسي كول شرعا رواه دي كه يا ؟

جواب : دپلار تر مرګ وروسته لكه څنګه چې زامن دهغه په ميراث كښې دميراث حقداره دي همداسي لوڼي هم په ميراث او تركه كښې شرعا حق لري او داحق هغوی ته اسلام وركړی دی نو ځكه ددې شرعي حق څخه ددوی محرومه كول ناجائز او نارواه عمل دی الله جل جلاله دي زموږ او تاسو ټولو ته په هر معامله كښې دعدل او انصاف توفيق رانصيب كړي آمين .

لما قال العلامة طاهر ابن عبد الرشيد البخاري رحمه الله تعالى فى خلاصة الفتاوى : ولو وهب جميع ماله لابنه جاز فى القضاء وهو اثم نص عن محمد هكذا فى العيون .

(خلاصة الفتاوى ج۴ ص ۴۰۰ كتاب الهبة قبل الفصل الاول / فتاوى قاضيخان علي هامش الهندية ج۳ ص ۲۷۹ فصل في هبة الولد لولده / الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۹۱ الباب السادس في الهبة للصغير / فتاوى حقانيه ج ۵ ص ۴۶۸ كتاب الفرائض)

ايا ليوني زوی هم دپلار په ميراث كي حق لري ؟

سوال ۶ : يو كس مړ سو تر شا يې اولاد ونه پرېښوول كور داره يو په هغو كښې ليونی دی آيا دغه ليونی زوی هم د پلار په ميراث كښې حق لري كه يا ؟

(۲) او دغه ليونی چې مړ سي د ده ښځه د ده په مال كښې د ميراث وړلو حق لري كه يا ؟

جواب : هغه موانع چې انسان د ميراث وړلو څخه محرومه كوي (۱) مثلا كفر، مريی توب، اختلاف دارين ، اختلاف دينين ، په هغو كښې ليونتوب نه دی راغلی ،لهذا حسب قانون شريعت ليونی كس د خپل مرحوم پلار د ماله څخه د ميراث حصه وړای سي. (۲) همدارنګه ليونی كه مړ سو ښځه يې هم د ده د ماله څخه ميراث وړای سي .

. وفی السراجي ؛الموانع من الارث اربعة : الرق ، والقتل ، واختلاف الدارين ، واختلاف الدينين

وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَطَعَ مِيرَاثَ وَارِثِهِ قَطَعَ اللَّهُ مِيرَاثَهُ مِنَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ .

(السراجي ص ۵ / مشكاة المصابيح ج ۱ ص ۲۲۶ الفصل الثالث / التعليق الصبيح ج ۳ ص ۵۰۲ ، ۵۰۳ / مرقاة المفاتيح ج ۶ ص ۲۳۶ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۷ ص ۴۲۲ احكام الميراث / فتاوی محموديه ج ۲۰ ص ۲۵۷ كتاب الفرائض)

يو كس په خپل ژوند كي اولادونو ته مال ورتقسيم كړی.

سوال ۷ : يو كس په خپل ژوند كي ټوله مال او جائيداد پر خپلو اولادونو باندي د شرعي حصو موافق تقسيم كړی ليكن ښځي ته يې حصه ورنه كړه اوس د دغي ښځي لپاره څه حكم دی دا به چيري ژوند تيروي او حال دا چي سراي او تعمير يې د اولادنو په حصه كي راغلی دی.

جواب : اوله خبره قابل غور داده چي په ژوند كي يو كس خپل مال او جائيداد تقسيموي دغه تقسيم ته شرعاً د ميراث تقسيم نه وايې بلكه دا بخښنه او هبه ده .

د وهمه خبره داده چي دغه كس ګناهګاره او مجرم دی د الله پاک جل جلاله په نزد چي و اولادونو ته يې حصه وركړه او ښځه يې پريښودل او دا خبره چي ځيني اولادونو ته زياته په هبه كي وركول ځينو ته كمه وركول دا خپل تفصيل لري.

(۱) صورت : ځيني اولادونو ته يې زياته حصه ځكه وركړه چي دهغه نورو سره ضد او تعصب لري او هغو ته ضرر رسول مقصود وي د پلار دغه صورت مكروه او حرام دی

(۲)صورت : كه چيري دهغه نورو اولادونو سره ضد او تعصب او نيت د اضرار نه لري صرف د پيرزويني له وجي وبعضي اولادونو ته ډيره حصه وركوي وجه ترجيح نسته دغه صورت مكروه تنزيهي دی.

(۳)صورت : چي ځيني اولادونو ته د ديندارۍ او خدمت ګذارۍ او په ديني خدماتو كي د مصروفيت له وجي څخه زياته حصه وركول مستحب او ښه كار دی.

(۴)**صورت** : بې دینه اولادنافرمانه اولادته تر ګذارې زیات مال او دنیا ورکول نه دي پکار بلکه هغه محرومه کول او هغه زیات مال په دیني امورو کې مصرف کول ښه کار دی .

(۵)**صورت** : په زامنو او لوڼو کې برابرې په هبه او بخښنه کې مستحب کار دی .

وفى الفتاوى الهندية : ولو وهب رجل شيئا لأولاده في الصحة وأراد تفضيل البعض على البعض في ذلك لا رواية لهذا في الأصل عن أصحابنا، وروي عن أبي حنيفة – رحمه الله تعالى – أنه لا بأس به إذا كان التفضيل لزيادة فضل له في الدين، وإن كانا سواء يكره وروى المعلى عن أبي يوسف – رحمه الله تعالى – أنه لا بأس به إذا لم يقصد به الإضرار، وإن قصد به الإضرار سوى بينهم يعطي الابنة مثل ما يعطي للابن وعليه الفتوى هكذا في فتاوى قاضي خان وهو المختار، كذا في الظهيرية.

(الفتاوى الهندية ج ۴ ص ۳۹۱ الباب السادس في الهبة للصغير مكتبه شامله / البحر الرآئق ج ۷ ص ۴۹۰ / بزازية علي هامش الهندية ج ۶ ص ۳۳۷ / فتاوى محموديه ج ۲۰ ص ۱۴۷ / احسن الفتاوى ج ۹ ص ۳۱۰ / خلاصة الفتاوى ج ۴ ص ۴۰۰)

یو کس مړ سو تر شایي یو میرېزی ورور او دسکه ورور زوی (وراره) پاته سوه میراث دچا حق دی ؟

سوال ۸ : یو کس مړ سو تر شا يې په ورثه وو کښې فقط یو میرېزی ورور پاته سو او بل يې دسکه ورور زوی پاته سو چې ددغه مړي سکه وراره کیږي یو ښتنه داده چې دغه دواړه کسان ددغه مړي دمیراث حقداره دي او که فقط یو دی هغه بل نه دی ؟

جواب : په ذکر سوي صورت کښې چې کله دغه کس مړ سو او دغه دوه وارثان يې تر شا پرېښوول یو میرېزی ورور او بل دسکه ورور زوی چې دمړي او میت وراره کیږي دمیراث حقداره فقط دغه میرېزی ورور دی هغه دسکه ورور زوی يې دمیراث څخه محروم دی . دا ځکه چې میراث دعلم یوه قاعده او اصل دادی چې تر څه وخته دمړي ورور موجود وي هغه نو که سکنی ورور وي او که میرېزی ورور وي د ورور تر اولاد

مقدم دی نو ځکه دورور اولاد د مړي دورور په موجودوالي کښې میراث نه سي وړلای لهذا د ټوله مال حقداره یې هغه میرېزی وروردی .

لما قال العلامة الشيخ سراج الدين محمد بن عبد الرشيد السجاوندي الحنفي رفع الله تعالى درجاته : اما العصبة بنفسه فكل ذكر لاتدخل فى نسبته الى الميت انثى وهم اربعة اصناف جزء الميت واصله وجزء ابيه الخ .... فالاقرب يرجحون بقرب الدرجة اعنى اولهم بالميراث جزء الميت .... ثم جزء ابيه اى الاخوة .

ولما قال العلامة محمد بن صالح بن محمد العثيمين (المتوفى: ١٤٢١هـ) فى تسهيل الفرائض : ولو هلك عن أخ لأب، وابن أخ شقيق: فالمال للأخ؛ لأنه أقرب منزلة ولم نعتبر قوة الثاني؛ لأن قرب المنزلة مقدم على القوة.

(السراجي في الميراث ص ١٤ باب العصبات مكتبه حبيبيه / تسهيل الفرائض لمحد بن صالح العثيمين ج ١ ص ٥٩ باب العصبة مكتبه شامله / تلخيص فقه الفرائض ج ١ ص ٣٤ مكتبه شامله /الفرائض للشيخ الفاضل العربي عبد الكريم بن محمد بن عبد العزيز اللاحم ج ١ ص ٦٧ باب العصبة مكتبه شامله)

یو کس مړ سو تر شایې یوه ښځه او لوڼي او خور پرېښووله خور یې حق لري که یا؟

سوال ٩ : که چیري یو کس مړ سي او تر شا یوه ښځه او لوڼي او یوه خور پرېږدي وروسته یې بیا میراث خواره هغه ښځه او لوڼي ځیني بوزي فقط خور یې تر شا پاته سي د غه خور د دغه ورور په میراث کښې حق لري که یا ؟

جواب : د دغه کس د مال اتمه حصه د دغه مړي د ښځي کیږي او دوې دریمې یې د لوڼو کیږي او پاته مال یې د خور کیږي . لهذا خور یې حقداره ده .

اما للزوجات فحالتان : الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد وولد الابن وان سفل والثمن مع الولد او ولد الابن وان سفل .

واما لبنات الصلب فاحوال ثلث : النصف للواحدة والثلثان للاثنين فصاعدة .

ولهن (الاخوات) الباقى مع البنات او بنات الابن لقوله عليه السلام اجعلوا الاخوات مع البنات عصبة .

ترث الزوجة من زوجها الربع: إن لم يكن له فرع وارث. وترث الثمن: إن كان له فرع وارث منها أو من غيرها، ولا فرق بين أن تكون الزوجة واحدة أو أكثر، فلا يزيد الفرض بزيادتهن؛ لقوله تعالى: {وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم} . "النساء: من الآية فلو هلك امرؤٌ عن زوجة وأب: فللزوجة الربع لعدم الفرع الوارث والباقي للأب.

(السراجي ص ۷ ، ۸ فصل في النساء مكتبه حبيبيه / تسهيل الفرائض محمد بن صالح بن محمد العثيمين (المتوفي: ۱۴۲۱ھ) ج ۱ ص ۲۶ مكتبه شامله)

پلار وصیت کړی دی چي زما دمرګ څخه وروسته دي زما میراث پر اولادونو برابر تقسیم سي .

سوال ۱۰ : یو کس داسي وصیت وکړی چي زه کله مړ سوم نو زما مال دي زما پر اولادونو لوڼو اوزامنو باندي برابر تقسیم سي دزوی او لور په حصو کښې دي تفاوت اوفرق نه کیږي . پوښتنه داده چي پر دغه طریقه باندي وصیت کول رواه دی که یا ؟

جواب : دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی حضرت ابو امامة رضي الله عنه فرمایي چي ما دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل د وفرمایل الله جل جلاله دهر حق خاوند ته دهغه حق ورکړی دی نور د مړي او مورِث وصیت و وارث لره باطل دی . لهذا ددغه حدیث شریف درویه څخه پلار ته دا نه دی رواه چي خپل اولادونو یعني لوڼو او زامنو ته دمیراث دبرابري او مساوات دتقسیم وصیت وکړي دا ځکه چي دغه اولادونه دده وارثان دي او خپلو وراثانو ته وصیت کول نه دی رواه او بل دا چي الله جل جلاله چي کومي حصې ودوی ته ورکړي دي چي هغه دزوی حصه دوه چنده ده دلور تر حصې دی راولاړیږي دهغو دباطلولو کوشش کوي کوم چي شرعا ممنوع او ناروه کوشش دی .

که دی پر خپلو لوڼو باندي تر زامنو ډېر مهربانه او مشفق وي نو دي په خپل ژوند کښې ورته یو څه دارایي او مال ورته هبه او بخښنه کړي او قبضه دي باندي ورته ورکړي

عن شرحبيل بن مسلم سمعت أبا أمامة، سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «إن الله قد أعطى كل ذي حق حقه فلا وصية لوارث»

(سنن أبي داود أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِستاني (المتوفي: ٢٧٥هـ) ج ٣ ص ١١٤ باب ما جآء في الوصية للوارث مكتبه شامله / سنن الترمذی ج ۴ ص ۴۳۳ باب ما جآء لا وصية للوارث مكتبه شامله / سنن النسائي ج ۶ ص ٢۴٧ باب ابطال الوصية للوارث مكتبه شامله / سنن ابن ماجة ج ٢ ص ٩٠٥ مكتبه شامله)

ايا خپل اولادونه دميراث څخه محرومه کول رواه دي ؟

سوال ١١ : اکثره وختونه پلار داولاده څخه ناراضه سي نو خپل اولاد دميراثه څخه محرومه کړي او دا وصيت په ژوند کي وکړي چي زما فلانی زوی زما دمرګه وروسته زما په جايداد کي هيڅ حق نه لري ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دی چي يو شرعي وارث دميراثه څخه محرومه کول حرام او ناجائز عمل دی او شرعا قابل قبول هم نه دی او دغه محروم سوي اولادونه د دغه مورث تر مرګ وروسته مستقل وارثان ګڼل کيږي .

(يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ . سورة النساء آيت نمبر ١١)

عن أنس بن مالك قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من فرض من ميراث وارثه، قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة . وفي احكام القرآن للتهانوي رحمه الله تعالى : وكل من وقف على جور فى الوصية من جهة الخطا او العمد ردها الى العدل .... او اوصى بحرمان احد من الورثة من الميراث ونحوه .

(احكام القرآن للشيخ ظفر احمد التهانوي ج ١ ص ١۶٣ ادارة القرآن والعلوم الاسلامية / سنن ابن ماجة ص ١٩۴ / مشكاة المصابيح ج ١ ص ٢۶۶ / احكام القرآن للجصاص ج ٢ ص ١٣۶ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ٧ ص ٣٩۶ باب تقسيم الوراثة)

دمور دمرګ وروسته اولادونه کولای سي چي حق يې دوړونو څخه راجلا کړي .

سوال ١٢ : که چيري يوه ښځه خپل حق چي د پلار په ترکه او ميراث کي يي لري دخه مناسبت او شرم په خاطر لکه په پښتني ماحول کي چي دغه رواجونه نن سبا موجود دي په خپل ژوند کي طلب نه کړي د دې ښځي دمرګ څخه وروسته يې اولادونه بيا دغه حق اخيستلای سي که يا ؟

جواب : که چیري دغه ښځي دغه خپل حق په خپله خوښه ودې خپلو ورونو ته نه وي بخښلی او هم یې نه وي پر خرخ کړی نو په داسي صورت کي بیا اولادونه حق لري چي دخپلي مور حق دخپلو ما ماګانو څخه واخلي دا ځکه چي فقهاء کرامو دارث موانع کوم شپان ذکر کړي دي هغه په دغه صورت او مسئله کي نه دي موجود .

لما قال العلامة الشيخ سراج الدين محمد ابن عبدالرشيد السجاوندي الحنفي رحمه الله تعالى في السراجي :موانع الإرث اربعة : اختلاف الدينين ، والرق، والقتل، اختلاف الدراين .

(السراجي في الميراث ص ۱۱ موانع الارث فصل في موانع الارث مكتبة البشرى / تسهيل الفرائض ج ۱ ص ۲۸ موانع الارث / تلخيص فقه الفرائض ج ۱ ص ۱۰ موانع الارث)

دمؤلف نور تصنیفونه

١ : تفسیر دیوبندي پښتو دوه ټوکه .
٢ : تعلیم الاحکام لافادة العوام یو ټوک .
٣ : جواهر الاحکام یو ټوک .
۴ : اسلامي تحفه یو ټوک .
۵ : زاد الطلاب شرح ارشاد الصرف یو ټوک .
۶ : ښه ماشوم : ادبونه یو ټوک .
٧ : دماشومانو دیني تعلیمات یو ټوک .
٨ : دحج لارښود : مناسک یو ټوک .
٩ : دمفرت تحفه یو ټوک .
١٠ : دقربانۍ مسئلې یو ټوک .
١١ : فتاوی رحمانیه درې ټوکه .